

کشف الباری
عما فی
صحیح البخاری
جلد ۱۶
تصنیف
حضرت مولانا سلیم اللہ خان

کشف الباری

عمافی

صحیح البخاری

تالیف ← صدر وفاق المدارس مولانا سلیم الله خان شیخ الحدیث

جامعه فاروقیه کراچۍ

کتاب الوضوء

جلد ⑯

خصوصیات

- ← داحادیثو تخریج
- ← د تعلیقات بخاری تخریج
- ← داسماء الرجال مختصر تعارف
- ← د گرانو لغاتو لغوی صرفی اونحوی حل
- ← ماقبل باب سره د ربط پوره تحقیق
- ← دشرحی دهرې خبرې لاندې په حاشیه کښې حواله
- ← د ترجمة الباب مقصد بیانولو کښې پوره تحقیق
- ← د مختلفو مذاهبو تحقیقی بیان اوبیا د مذهب حنفی ترجیح
- ← د حدیث اطراف خودل

خورونکی: ← فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور

موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵ .... ۰۳۱۵۹۵۹۵۷۱۷

دکتاب نوم:- کشف الباری عما فی صحیح البخاری

شارح:- صدروفاق المدارس مولاناسلیم الله خان

شیخ الحدیث جامعه فاروقیه کراچۍ

د ملاویدو پتې د فیصل کتب خانه پېښور څخه علاوه

- رحیمی کتب خانه خوست -- ۰۷۹۹۱۶۱۳۱۳
- اسلامی کتب خانه خوست--
- دیوبند کتب خانه خوست-- ۰۷۹۹۸۸۶۶۸۰
- روغانیول کتب خانه جلال آباد
- دعوت کتب خانه جلال آباد-- ۰۷۷۶۰۹۷۹۶۵
- رشیدیه جدید کتب خانه کابل
- انتشارات نعمانیه کابل
- انتشارات علامه تفتازانی کابل ۰۷۷۷۴۹۰۵۰۰--
- قدرت کتب خانه کابل --
- واحدی کتب خانه خوست
- صداقت کتب خانه کابل-- ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷
- مکتبة القرآن والسنة کابل
- مکتبه صدیقیه غزنی
- مکتبه فریدیه خوست
- مسلم کتب خانه جلال اباد-- ۰۷۷۶۰۰۶۴۱۶
- غزنوی کتب خانه غزنی -- ۰۷۴۸۵۷۵۱۹۹

خورونکی: ⬅ فیصل کتب خانه محله جنګی پېښور

موبائل:- ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵........۰۳۱۵۹۵۹۵۷۱۷

فهرست مضامين

شميره	مضمون	صفحه

④ كتاب الوضوء

① بَاب مَا جَاءَ فِي الْوُضُوءِ

② بَابُ لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ بِغَيْرِ طُهُورٍ

شمیره	مضمون	صفحه

④ باب لَا يَتَوَضَّأُ مِنَ الشَّكِّ حَتّٰى يَسْتَيْقِنَ

⑤ بَاب: التَّخْفِيفِ فِي الْوُضُوءِ

شمیره	مضمون	صفحه

⑥ بَاب: إِسْبَاغِ الْوُضُوءِ

۹ باب: مَا يَقُولُ عِنْدَ الْخَلَاءِ

شميره	مضمون	صفحه

شمیره	مضمون	صفحه

فهرس اسماء المترجم لهم فی المجلد الخامس من کشف الباری علی ترتیب حروف الهجاء

شمیره	مضمون	صفحه

فہرست

﴿ بسم الله الرحمن الرحيم ﴾

غرض د مرتب

﴿ الحمد لله رب العالمين، والعاقبة للمتقين، والصلاة والسلام على سيدنا محمد النبى الامين، وعلى اله وصحابته وتابعيهم ومن تبعهم باحسان الى يوم الدين. اللهم لك الحمد لا احصى ثناء عليك، انت كما اثنيت على نفسك، اللهم ما اصبح بى من نعمة او باحد من خلقك، فمنك وحدك لا شريك لك، اللهم لك الحمد ولك الشكر. اللهم لك الحمد كماينبغى لجلال وجهك وعظيم سلطانك ﴾

د الله پاك ډير كرم او بې انتهاء فضل او احسان دې چه هغه خپل بې وسه بنده ته د كشف البارى د يو نوى جلد د ترتيب او تحقيق او تكميل توفيق ورکړو.

په دې جلد کښې هم الحمد لله هم هغه ټول التزامات کړې شوې دى کوم چه په مخکښې چهاپ شوې جلدونو کښې زمونږ مخې ته وو، چونکه کتاب الوضوء دې او د فقهى مباحثو غلبه شروع شوې ده په دې وجه تفصيلات هم زيات دى او د حواله جات په اعتبار سره هم د ډير توسع نه كار اخستلې شوې دې.

د فقهى مذاهب او د هغې د دلائل په سلسله کښې حتى الامكان دا التزام کړې شوې دې چه د هر امام د مذهب په حواله جات کښې هم د هغوى د معتبر كتابونو حواله وركړې شى، خو كله كله د نورو كتابونو حواله هم وركړې شوې ده نو هغه هم د موثوق مصادر نه وركړې شوې ده.

الحمد لله! د دې جلد په پوره كار باندې هم صاحب تقرير شيخ الحديث حضرت مولانا سليم الله خان صاحب دامت بركاتهم پوره نظر تير کړې دې.

خو په هر يو كار کښې، خاص طور د تحقيق او علم په سلسله کښې دا دعوى نه شى كيدې چه په دې کښې هيڅ غلطى، خامى يا كمې نه دې پاتې شوې، په دې وجه اهل علم ته خواست دې چه څه قسم غلطى يا خامى هم هغوى ته په نظر راشى نو ضرور دې مونږ ته خبر راکړى، هم دغه شان كه د كتاب په ظاهرى يا معنوى ښكلا کښې د اضافې دپاره څه تجويز وى نو هغه دې هم ضرور پيش کړى، مونږ ته به انشاء الله د غور او فكر كولو نه پس په قبلولو او د خپلې خامې او كوتاهې په اصلاح كولو کښې هيڅ تامل نه وى.

هسې خو په كشف البارى باندې كار ډير په تيزئ سره شروع دې او په اهل علم کښې چه كوم مقبوليت دې كتاب ته حاصل دې هغه د نمر نه زيات روښانه دې خو د ټولو انتهائى خواهش دې چه دا كتاب د شيخ محترم دامت بركاتهم په ژوند باندې د تكميل د مراحل نه تيريدو سره د طباعت په كالو باندې ډولى شى.

دعا اوكړئ چه الله پاك دحضرت شيخ صاحب په عمر کښې د عافيت تامه سره بركات وركړى او د دې كار د پوره كولو اسان توفيق راکړى.

د دې جلد د تكميل په سلسله کښې زه عاجز. د عزيز گرامى مولانا حبيب زكريا صاحب (استاذ جامعه فاروقيه كراچى)، عزيزم مفتى مبارك على صاحب (استاذ جامعه فاروقيه كراچى)، او د عزيزم مولوى عطاء الله رفيع سلمهم الله تعالى شكر گزار يم چه دې حضراتو راسره

د كمپوزنګ او پروف ريډنګ په سلسله کښ انتهائى تعاون اوکړو، الله پاك دې ورته بهترين جزاء خير ورکړى

په اخر کښ دعا کوم چه الله پاك دې دا عمل د شيخ مدّظلّهم، ما عاجز، زما د مور او پلار، استاذانو او ټولو متعلقينو او ملګرو دپاره د نجات ذريعه او د اخرت ذخيره جوړه کړى او دې عمل ته دې قبول عام ورکړى. آمين

وكتبه: نور البشر محمد نور الحق

استاذ الحديث وعلومه بالجامعة الفاروقية كراچى

ومدير معهد عثمان بن عفان رضي الله عنه

....

يو وضاحت:

په دې تقرير کښ مونږ چه د صحيح بخارى کومه نسخه د متن په طور استعمال کړې ده په هغې باندې ډاکټر مصطفى ديب البغا تحقيقى کار کړې دې ډاکټر مصطفى ديب په احاديثو باندې د نمبر لګولو سره سره د احاديث د مواضع متکرره ښودلو التزام هم کړې دې. که يو حديث روستو راتلونکې دې نو د حديث په اخر کښ په نمبرو سره د هغې ښودنه کوى چه په دې نمبر باندې دا حديث راروان دې، او که حديث تير شوې وى نو د نمبر نه مخکښ (ر) لګوى، يعنى د هغه نمبر طرف ته دې رجوع اوکړې شى.

★★★★★★★★★★

﴿بسم الله الرحمن الرحیم﴾

④ کتاب الوضوء

ترتیب کتب : امام بخاری رحمه الله د ټولو نه اول ایمانیات ذکر کړل، ځکه چه هیڅ عمل او فعل بغیر د ایمان نه مقبول نه دې. د هغې نه روستو ئې د کتاب العلم ذکر کړې دې، د هغې د مخکښې کولو وجه دا ده چه د علم نه روستو عمل صحیح کیږی، په دې وجه د علم احکام، د هغې مصالح، فضائل او آداب ئې بیان کړل، د هغې نه روستو ئې بیا احکام بیان کړې دی.

په احکاماتو کښې د ټولو نه مقدم عبادات دی او په عباداتو کښې د ټولو نه اهم مونځ دې، په دې وجه ئې هغه د ټولو نه مخکښې ذکر کړو، چونکه د مانځه دپاره طهارت شرط دې او په طهارت کښې اودس او د غسل ډیر مسائل دی او بیا طهارت شرط دې، صلاة مشروط دې او شرط په مشروط باندې مقدم وی، په دې وجه مؤلف رحمه الله د کتاب العلم نه پس د طهارت بحثونه راوړې دی. (۱)

د نسخو اختلاف : بیا دلته په بعض نسخو کښې عنوان کتاب الوضوء دې او په بعض نسخو کښې کتاب الطهارة دې. علامه عینی او شیخ الاسلام زکریا انصاری رحمهما الله د کتاب الطهارة والا نسخې ته أنسب وئیلې ده.(۲)

د دې وجه دا ده چه امام بخاری رحمه الله د اودس مسائل او د هغې د ابواب د لاندې د استنجاء مسائل هم ذکر کړې دی که د اودس عنوان واخستلې شی نو استنجاء په اودس کښې نه شی داخلولې، مګر دا چه دا په اودس کښې تبعا داخل اومنلې شی.

او که د طهارة عنوان اومنلې شی نو بیا د هیڅ قسم توجیه ضرورت نه پاتې کیږی، ځکه چه اودس یو قسم طهارت دې. هم دغه شان استنجاء هم یو قسم طهارت دې. یو طهارت من الاحداث دې او بل طهارت من الاخباث والانجاس دې.

خو راجح دا معلومیږی چه دلته د کتاب الوضوء والا نسخه اصح ده، ځکه چه امام بخاری رحمه الله وړاندې د کتاب الغسل، کتاب التیمم، کتاب الحیض وغیره تراجم منعقد کړې دی، که دلته د طهارت عنوان وې نو وړاندې ټول عنوانات به په هغې کښې داخل وې، د مستقل کتاب عنوان راوړلو سره د هغې د شروع کولو څه ضرورت وو؟

پاتې شو د استنجاء مسائل، نو مؤلف د قدماء په طرز باندې د اودس او استنجاء مسائل یو ځائې ذکر کړې دی، ځکه چه په دې دواړو کښې تلازم شان دې، انسان اول عام طور استنجاء کوی او د هغې نه روستو اودس کوی او چونکه د استنجاء نه فورا پس اودس کول وی، په دې وجه د اودس د اوبو د حصول التزام د مخکښې نه کوی، په دې وجه حضرات قدماء د اودس سره د استنجاء مسائل هم تبعا ذکر کوی. والله اعلم

---

۱) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۲۵
۲) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۲۵، وتحفة الباری ج ۱ ص ۱۴۸

د لفظ (وضوء) تحقيق: دا لفظ د (وضاءة) نه مشتق دې، (وَضُؤَ، يوضُؤُ، وَضَاءةً) معنى ئې ده حسن او نظافت. (۱)

لفظ (وُضُوْ) د واؤ په ضمې سره، د مصدر په طور استعماليږى او د واؤ په فتحې سره ئې په هغه اوبو باندې اطلاق كيږى چه په كومو باندې اودس كولې شى.

بعض حضراتو (وَضُوْ) بالفتح ته هم مصدر وئيلې دې او وئيلې ئې دى چه دا هم د (قبول) او (ولوع) په شان بفتح الفاء دې او درې واړه مصادر دى.

ابو عمرو بن العلاء خو د (وُضُوْ) بضم الواو انكار كوى، پس امام اصمعى رحمه الله د هغه نه تپوس اوكړو چه (ما الوضوء بالفتح؟) يعنى د (وضوْ) بفتح الواؤ څه معنى ده؟ نو هغوى جواب وركړو چه (الماء الذى يتوضاء به) يعنى په كومو اوبو سره چه اودس كولې شى هغې ته (وَضُوْ) وئيلې شى.

او چه كله ئې د هغوى نه تپوس اوكړو چه (فالوضوء بالضم؟) يعنى (وُضُوْ) بضم الواؤ څه څيز دې؟ نو هغوى اوفرمائيل چه (لا اعرفه) يعنى زه بضم الواؤ نه پيژنم.

او امام اخفش رحمه الله د الله پاك د ارشاد (وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ) په تفسير كښې فرمائى:

(الوَقُودُ بالفتح الحَطَبُ والوُقُود بالضم الاتّقادُ وهو المصدر قال ومثل ذلك الوَضُوْءُ وهو الماء والوُضُوْءُ وهو المصدر ثم قال وزعموا أنهما لغتان بمعنى واحد يقال الوَقُودُ والوُقُودُ يجوز أن يُعْنَى بهما الحَطَبُ ويجوز أن يُعنى بهما المصدر)

ترجمه: (وَقود) په فتح د واؤ سره د سيزلو لرګى ته وئيلې شى، او (وُقود) په ضم د واؤ سره سوزيدلو ته وئيلې شى كوم چه مصدر دې. هم دغه شان (وَضُوْ) (بفتح الواؤ) اوبو ته وئيلې شى او (وُضُوْ) (بضم الواؤ) مصدر دې. هم دغه شان هغه فرمائى چه بعض خلقو وئيلې دى چه دا په يوه معنى كښې دوه لغتونه دى، پس د (وَقود) او (وُقود) دواړو اطلاق كولو سره د دواړو نه د سيزلو لرګې هم مراد اخستلې شى او دا هم ممكن ده چه دواړه مصدر اومنلې شى. (۲)

علامه عينى رحمه الله فرمائى چه په (وضوْ) كښې درې لغات دى:

يو دا چه (بضم الواؤ اسم للفعل، وبفتحها اسم للماء الذى يتوضاء به) يعنى د واؤ په ضمې سره د مصدر په معنى دې او په فتحې سره هغه اوبو ته وئيلې شى په كومو باندې چه اودس كولې

۱) مختار الصحاح ص ۷۷۶
۲) اوګورئ: لسان العرب ج ۱۵ ص ۳۲۲، مادة: وضء وتاج العروس ج ۱ ص ۴۹، ۴۹۱)، مادة: وضاء

شي. دا تول مشهور لغات دي او ابن الانباري رحمه الله د اكثر اهل لغت نه هم دا خبره نقل كړې ده.

بل لغت دي ﴿ بفتح الواؤ فيهما ﴾ يعنى دواړه په معنى كښې د واؤ په فتحې سره اولوستلې شي، دا د ډيرو حضراتو قول دې، چه په هغوى كښې خليل بن احمد هم دې او د هغوى وينا ده چه د واؤ په ضمې سره خو معروف هم نه دې.

دريم لغت كوم چه يو غريب قول دې كوم چه صاحب د مطالع نقل كړې دې چه په دواړو كښې به ئې د واؤ په ضمې سره لولو. (١)

① بَابُ مَا جَاءَ فِي الْوُضُوءِ

وَقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى: إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ﴾ ﴿ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللّٰهِ وَبَيَّنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ فَرْضَ الْوُضُوءِ مَرَّةً مَرَّةً وَتَوَضَّأَ أَيْضًا مَرَّتَيْنِ وَثَلَاثًا وَلَمْ يَزِدْ عَلَى ثَلَاثٍ وَكَرِهَ أَهْلُ الْعِلْمِ الْإِسْرَافَ فِيهِ وَأَنْ يُجَاوِزُوا فِعْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ﴾

د علامه دیامطی رحمه الله په اصل كښې ﴿ باب ما جاء فى الوضوء وقول الله عزوجل ﴾ واقع دې.

د كريمه په روايت كښې ﴿ باب فى الوضوء وقوله عزوجل ﴾ راغلې دې.

د اصيلى په روايت كښې ﴿ كتاب الوضوء، باب ما جاء فى قول الله عزوجل ﴾ راغلې دې. (٢)

په شروع كښې د ايت مباركه راوړلو وجه : امام بخارى رحمه الله دا آيت كريمه بالكل په شروع كښې په دې وجه ذكر كړې دې چه دا اودس د احكاماتو اصل او بنياد دې او د امام بخارى رحمه الله عادت دا دې چه د مسائلو د اثبات دپاره د ټولو نه اول قران كريم لره پيش كوى، ګويا دې خبرې طرف ته اشاره كوى چه اصل مسئله د قران كريم نه ثابت ده او د هغې توضيحات او تفصيلات په احاديثو كښې راغلې دى. دلته امام بخارى رحمه الله هم ددې خبرې لحاظ ساتلې دې.

اصل او قاعده دا ده چه ترجمه په منزله د دعوى سره وى او آيت او روايت د هغې دليل وى او دليل د مدلول نه پس، حجت د دعوى نه پس راځى، خو مؤلف رحمه الله د آيت كريمه په اصالت باندې نظر كولو سره هغه په شروع كښې اوليكلو.

او دا هم وئيلې كيدې شى چه په بخارى شريف كښې د ﴿ كتاب الوضوء ﴾ عنوان دې، په دې عنوان كښې مصنف رحمه الله ګويا دا دعوى اوكړه چه اودس يو حكم شرعى دې، دا ئې د آيت كريمه په ذريعه مدلل كړو او آيت ئې روستو راوړو.

د ايت كريمه جامعيت : ابن العربى رحمه الله چه د دې آيت كريمه د لاندې د كومو مباحثو ذكر كړې دې د هغې تعداد دوه پنځوس دې. (٣)

---

١) عمدة القارى ج ٢ ص ٢٢٥

٢) اوګورئ: عمدة القارى ج ٢ ص ٢٢٥، وفتح البارى ج ١ ص ٢٣٢

٣) اوګورئ: احكام القران لابن العربى ج ٢ صفحه ٥٥٧ تا ٥٨٥

ابن العربي رحمه الله فرمائي چه بعض علماء كرام فرمائي چه د دې آيت كريمه نه زر مسائل مستنبط كيږي، هم دغه شان فرمائي چه زمونږ اصحاب مدينة الاسلام (بغداد) كښې راجمع شو او د دې آيت كريمه نه ئې مسائل راويستل شروع كړل نواته سوه مسئلې ئې ترې راويستلې.(۱)

د آيت كريمه په مفهوم كښې د علماء كرامو اختلاف : دلته امام بخاري رحمه الله چه د ﴿ ما جاء في الوضوء وقول الله تعالى ... ﴾ راوړلو سره د آيت كريمه په معنى كښې چه كوم اختلاف دې هغې ته اشاره كړې ده.

حاصل د هغې دا دې چه د آيت كريمه اطلاق دې خبرې لره كيدل پكار وو چه كوم انسان هم د مانځه دپاره اودريږي نو د هغه په ذمه باندې اودس واجب دې پس د بعض ظاهريه هم دا مسلك بيانولې شي. (۲)

بعض علماء كرامو د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما نه هم دغه شان نقل كړې دې. پس د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما په باره كښې روايت دې چه كله د هغوى مخكښې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا عمل ذكر كړې شو چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د هر مانځه دپاره د اودس حكم وركړې وو، برابره خبره ده كه د اودس په حالت كښې وي او كه نه وي، بيا چه كله هغوى ته دا عمل گران شو نو د هر مانځه په موقع ئې د مسواك حكم وركړو. نو سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما چونكه په اول كښې دا گڼړله چه زه به دا اول عمل په دوام سره اوكړې شم، په دې وجه به هغوى د هيڅ مانځه دپاره تازه اودس كول نه پريخودل.(۳)

هم دغه شان خبره دحضرات خلفاء راشدين رضي الله عنهم نه هم نقل كولې شي.(٤)

خو حقيقت دا دې چه كومو صحابه كرام رضي الله عنهم د هر مانځه دپاره د اودس اهتمام كړې وو هغه په دې وجه باندې نه وو چه كه د انسان اودس وي يا نه وي، په هرحال كښې اودس واجب دې، بلكه دې حضرات په اولى، اعلى او اكمل باندې عمل كولو. (۵)

او ظاهره دا ده چه په صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې د هر مانځه دپاره د اودس د واجب كيدو قائل څوك هم نه وو او دا څنگه كيدې شي چه هر كله د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په يو اودس سره څو څو مونځونه كول منقول دي!

پس په صحيح بخاري كښې د سيدنا سويد بن النعمان رضي الله عنه روايت دې چه!

---

۱) احكام القران ج ۲ ص ۵۵۸

۲) عمدة القاري ج۲ ص ۲۳۰، اوجزالمسالک ج۱ ص ۳۶۵، كتاب الطهارة، باب وضوء النائم اذا قام الى الصلاة

۳) اوگورئ: سنن ابى داؤد كتاب الطهارة باب السواک رقم ٤٨

٤) اوگورئ عمدة القاري ج ۲ ص ۲۳۱

۵) پس د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما نه ابو عظيف هذيلي تپوس اوكړو : ﴿ الوضوء عند كل صلاة؟ ﴾ نو هغوى اوفرمائيل ﴿ ليست بسنة، ان كان لكاف وضوئي لصلاة الصبح صلواتي كلها ما لم احدث، ولكني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: من توضاء على طهر كتب الله له بذلک عشر حسنات، ففي ذلک رغبت يا ابن اخي. شرح معاني الاثار ج ۱ ص ۸۷ مع نثر الازهار، كتاب الطهارة، باب الوضوء هل يجب لكل صلاة ام لا؟

﴿أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَامَ خَيْبَرَ حَتَّى إِذَا كَانُوا بِالصَّهْبَاءِ - وَهِيَ أَدْنَى خَيْبَرَ - فَصَلَّى الْعَصْرَ ثُمَّ دَعَا بِالأَزْوَادِ فَلَمْ يُؤْتَ إِلاَّ بِالسَّوِيقِ فَأَمَرَ بِهِ فَثُرِّيَ فَأَكَلَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم وَأَكَلْنَا ثُمَّ قَامَ إِلَى الْمَغْرِبِ فَمَضْمَضَ وَمَضْمَضْنَا ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ﴾(۱)

يعنى : رسول اللهﷺ د خيبر په كال باندې اوتلو ، چه كله مقام صهباء ته اورسيدو كوم چه خيبر ته نژدې دې نو رسول اللهﷺ د مازيگر مونځ اوكړو چه رسول اللهﷺ د خوراك طلب اوكړو نو هغوى ته صرف ستوان پيش كړې شو هغه لوندولو سره رسول اللهﷺ هم اوخوړل او مونږ هم، بيا رسول اللهﷺ د ماښام د مانځه دپاره پاسيدو خوله مباركه ئې كنگال كړه او مونږ هم خوله كنگال كړه، مونځ ئې اوكړو او اودس ئې اونكړو

هم دغه شان امام مسلم رحمه الله وغيره د سيدنا بريده رضي الله عنه د حديث تخريج فرمائيلې دې چه په هغې كښې ذكر دى چه رسول اللهﷺ د فتح مكه په ورځ باندې ټول مونځونه په يو اودس سره ادا فرمائيلې وو.(۲)

د سيدنا انس رضي الله عنه نه هم روايت دې : ﴿يجزئ احدنا الوضوء مالم يحدث﴾(۳)

يعنى ترڅو چه بې اودسى نه وى راغلې تر هغې پورې زمونږ دپاره يو اودس هم كافى دې.

بهر حال چه كله دا معلومه شوه چه آيت كريمه په خپل ظاهر باندې نه دې او د هر مانځه دپاره اودس فرض نه دې نو په دې آيت كريمه كښې به د توجيه پيش كولو ضرورت راځي.

پس علماء كرامو مختلف توجيهات كړې دى د ټولو نه مشهوره توجيه دا ده چه دلته تقدير د كلام دې : ﴿اذا قمتم الى الصلاة وانتم محدثون يا اذا قمتم الى الصلاة محدثين﴾(٤)

يعنى : كله چه تاسو مانځه ته په داسې حال كښې پاسئ چه تاسو د حدث په حالت كښې يئ.

امام نووى رحمه الله د قاضى عياض رحمه الله نه نقل كولو سره ليكى :

﴿وعلى هذا اجمع اهل الفتوى بعد ذلك، ولم يبق بينهم فيه خلاف﴾(۵)

يعنى : په دې باندې د ټولو اهل فتوى اتفاق راغلو او د هغوى ترمينځه هيڅ اختلاف پاتې نه شو.

امام دارمى رحمه الله هم دا خبره اختيار كړې ده او هغوى په دليل كښې د سيدنا بريده رضي الله عنه حديث

---

۱) صحيح البخارى ج ۱ ص ۳٤، كتاب الوضوء، باب من مضمض من السويق ولم يتوضاء رقم (۲۰۹)

۲) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب جواز الصلوات كلها بوضوء واحد، رقم ٦٤۲، وسنن ابى داؤد، كتاب الطهارة، باب الرجل يصلى الصلوات بوضوء واحد، رقم ۱۷۲، وسنن النسائى كتاب الطهارة باب الوضوء لكل صلاة رقم ۱۳۳،وجامع الترمذى، ابواب الطهارة، باب ما جاء انه يصلى الصلوات بوضوء واحد، رقم (٦۱)، وسنن ابن ماجه كتاب الطهارة باب الوضوء لكل صلاة والصلوات كلها بوضوء واحد رقم ۵۱۰.

۳) صحيح البخارى ج ۱ ص ۳٤، كتاب الوضوء، باب الوضوء من غير حدث رقم: ۲۱٤

٤) عمدة القارى ج ۲ ص ۲۳۰

۵) شرح النووى على صحيح مسلم ج ۱ ص ۱۱۹، كتاب الطهارة، باب وجوب الطهارة للصلاة.

پيش کړې دي چه رسول الله ﷺ به د هر مانځه دپاره اودس فرمائيلو چه کله د فتح مکه ورځ راغله نو ټولو مونځونه ئې په يو اودس سره ادا کړل او مسح على الخفين ئې هم اوفرمائيله، په دې موقع باندې سيدنا عمر رضي الله عنه عرض اوکړو، تاسو نن داسې کار اوکړو په کوم باندې چه ما تاسو د دې نه مخکښې نه يئ ليدلې؟ رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو اې عمره! ما عمدا داسې کړې دى. (۱)

امام دارمى رحمه الله فرمائى : ﴿ فدل فعل رسول الله ﷺ ان معنى قول الله تعالى ﴿ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ ﴾ (الاية) لكل محدث، ليس للطاهر ﴾ (۲)

يعنى : د رسول الله ﷺ د فعل نه دا خبره معلوميږى چه د الله پاك ارشاد ﴿ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ ﴾ د هر محدث سره دې د طاهر سره نه دې.

هم دغه شان هغوى فرمائى : ﴿ ومنه قول النبى صلى الله عليه وسلم لا وضوء الا من حدث ﴾ (۳)

يعنى : د رسول الله ﷺ ارشاد ﴿ لا وضوء الا من حدث ﴾ تعلق هم دې سره دې.

امام مالك رحمه الله وغيره د امام زيد بن اسلم رحمه الله نه نقل کړې دى چه د دې معنى ده : ﴿ اذا قمتم من النوم ﴾ (٤)

امام نسائى رحمه الله هم دې طرف ته اشاره کړې ده، پس هغوى په سنن نسائى کښې ترجمه منعقد کړې ده ﴿ باب فى قول الله عزوجل ﴿ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ ﴾ ﴾ د هغې د لاندې ئې د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه حديث ﴿ إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي وَضُوئِهِ حَتّٰى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِى أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ ﴾ (۵) يعنى : رسول الله ﷺ فرمائى چه کله په تاسو کښې څوك د خوب نه پاسى نو خپل لاس دې د اودس په اوبو کښې نه وردننه کوى ترڅو پورې چه ئې هغه درې کرته وينځلې نه وى ځکه چه په تاسو کښې چاته هم نه ده معلومه چه د هغه لاس چرته شپه تيره کړې ده، تخريج فرمائيلې دې ګويا امام نسائى رحمه الله دې خبرې طرف ته اشاره اوفرمائيله چه دا آيت کريمه په مستقيظ من النوم باندې محمول دې.

د بعض علماء کرامو رائې دا ده چه د محدث په حق کښې دا حکم ايجابى دې او د غير محدث په حق کښې دا حکم استحبابى دې. (۶)

---

۱) اوګورئ : سنن الدارمى ج ۱ ص ۱۷۶، کتاب الطهارة باب قوله تعالى ﴿ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ (رقم ۶۵۹)

۲) ايضا

۳) ايضا

٤) اوګورئ : موطاء امام مالك (مع شرحه اوجز المسالك ج ۱ ص ۳۶٤)، کتاب الطهارة، باب وضوء النائم اذا قام الى الصلاة.

۵) سنن النسائى، کتاب الطهارة، باب تاويل قوله عزوجل : اذا قمتم الى الصلاة ... رقم ۱.

۶) اوګورئ : فتح البارى ج ۱ ص ۲۳۲، وتفسير ابن کثير ج ۲ ص ۲۱

خو علامه سيد محمودي آلوسي رحمه الله صاحب روح المعانی دا خبره رد کړې ده (١) هم دغه شان د احنافو د اصولو مطابق خو دا قول دې ګران، ځکه چه د یو لفظ نه په یو وخت کښې دوه معانی مراد اخستل د احنافو په نزد جائز نه دی.(٢)

د بعض حضراتو رائې دا ده چه په شروع کښې د هر مانځه دپاره اودس کول فرض وو، د هغې نه روستو منسوخ شو. (٣)

امام طحاوی رحمه الله احتمالا دا توجیه کړې ده، پس هغوی فرمائی.

﴿وقد يجوز ايضا ان يكون كان يفعل ذلك وهو واجب، ثم نسخ﴾(٤)

یعنی دا احتمال هم دې چه رسول الله ﷺ به د هر مانځه دپاره هغه وخت اودس کولو چه داسې کول واجب وو، بیا دا حکم منسوخ شو.

د دې تائید د سیدنا عبدالله بن حنظله رضی الله عنه د روایت نه کیږی. ﴿أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم أُمِرَ بِالْوُضُوءِ لِكُلِّ صَلَاةٍ طَاهِرًا وَغَيْرَ طَاهِرٍ فَلَمَّا شَقَّ ذٰلِكَ عَلَيْهِ أُمِرَ بِالسِّوَاكِ لِكُلِّ صَلَاةٍ﴾(٥)

یعنی: رسول الله ﷺ ته د هر مانځه دپاره د اودس کولو حکم ورکړې شوې وو، که د مخکښې نه به ئې اودس وو او که به نه وو. چه کله په هغوی باندې دا عمل ګران شو نو د هر مانځه دپاره ورته د مسواك حکم اوکړې شو.

خو امام نووی رحمه الله د دې قول نقل کولو نه پس لیکلې دی چه ﴿وهذا القول ضعيف﴾(٦) یعنی د وجوب قول اختیارولو سره د هغې د منسوخ منلو بالکل ضرورت نشته، بلکه دا چه سورة مائده د نزول په اعتبار سره بالکل د اخر زمانې په سورتونو کښې دې، ظاهره دا ده چه په دې کښې نسخ نه ده واقع شوې. (٧) په دې وجه دا قول ضعیف دې.

بعض علماء کرام فرمائی چه په اصل کښې رسول الله ﷺ به په شروع کښې مونځ، اذکار او تلاوت د ټولو دپاره اودس کولو، تردې چه د سلام د جواب ورکولو دپاره به ئې هم اودس یا تیمم کولو، الله پاك د اودس آیت کریمه نازولو سره دا عموم ختم کړو او دا ئې اوخودل چه صرف د مانځه دپاره اودس واجب دې، د ذکر او سلام وغیره دپاره اودس واجب نه دې.

پس په معجم کبیر د امام طبرانی رحمه الله کښې روایت دې، کوم چه د سیدنا علقمه بن الفغواء رضی الله عنه نه نقل دې چه! ﴿كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَهْرَاقَ الْمَاءَ فَنُكَلِّمُهُ فَلَا يُكَلِّمُنَا،

---

١) اوګورئ: روح المعانی ج ٦ ص ٦٩

٢) اؤګورئ: مسلم الثبوت بشرحه فواتح الرحموت ج ١ ص ١٦٥ تا ١٦٧

٣) شرح النووی علی صحیح مسلم ج ١ ص ١١٩، کتاب الطهارة، باب وجوب الطهارة للصلاة.

٤) اوګورئ شرح معانی الاثار مع نثر الازهار ج ١ ص ٨٧، کتاب الطهارة، باب : الوضوء هل یجب لکل صلاة ام لا ؟

٥) السنن لابی داؤد، کتاب الطهارة، باب السواك رقم ٤٨، وشرح معانی الاثار مع نثر الازهار ١١/٨٨.

٦) شرح النووی علی صحیح مسلم ج ١ ص ١٣٥، کتاب الطهارة، باب جواز الصلوات کلها بوضوء واحد.

٧) اوګورئ: تفسیر البیضاوی مع شرحه للشیخ زاده ج ٢ ص ٩٦، سورة المائده

وَنُسَلِّمُ عَلَيْهِ فَلَا يَرُدُّ عَلَيْنَا حَتَّى يَأْتِيَ مَنْزِلَهُ فَيَتَوَضَّأَ وُضُوْءَهُ لِلصَّلَاةِ قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ نُكَلِّمُكَ فَلَا تُكَلِّمُنَا، وَنُسَلِّمُ عَلَيْكَ فَلَا تَرُدُّ عَلَيْنَا؟، قَالَ: "حَتَّى نَزَلَتْ آيَةُ الرُّخْصَةِ "يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ" [المائدة آية ٦]﴾(١)

يعنى: رسول الله ﷺ چه به کله د قضاء حاجت نه فارغ شو نو مونږ به د هغه سره خبرې کولې، خو هغوی به خبرې نه کولې، ترڅو چه به ئې کور ته راتلو سره اودس نه وو کړې، مونږ عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! دا څه خبره ده چه مونږ تاسو سره خبرې کوو؟ او تاسو جواب نه راکوئ او مونږ تاسو ته سلام اوکړو او تاسو د سلام جواب نه راکوئ! تردې چه د رخصت آیت کریمه ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ﴾ نازل شو.

خو دا روایت ضعیف دې (٢)، ځکه چه د جابر جعفی په طریق سره نقل دې او جابر جعفی صرف ضعیف نه دې بلکه متهم بالکذب هم دې.

امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی: ﴿ما رأيت احدا اكذب من جابر الجعفى﴾(٣)

يعنى: ما د جابر جعفی نه لوئې دروغژن نه دې لیدلې.

د امام ابوحنیفه رحمه الله دا کلام امام ترمذی رحمه الله نقل کړې دې، خو د هندوستان او پاکستان په عام نسخو کښې نشته، خو د مصر په مطبوعه نسخو کښې شته. **والله تعالى اعلم**

اودس لره واجبونکې څه څيز دې؟: د علماء کرامو په دې کښې اختلاف دې!

د شوافع قول دا دې چه د اودس واجبونکې حدث دې. دویم قول ئې دا دې چه د اودس واجبونکې ﴿قيام الى الصلاة﴾ دې. دریم قول ئې دا دې چه د حدث او ﴿قيام الى الصلاة﴾ دواړو مجموعه ئې واجبونکې دې

امام نووی رحمه الله هم دې قول ته د شوافع رحمهم الله په نزد راجح وئیلې ده. (٤)

د حافظ ابن حجر رحمه الله د صنیع نه معلومیږی چه هغوی ﴿قيام الى الصلاة﴾ ته ترجیح ورکوی. (٥)

پس هغوی د دې په تائید کښې د سیدنا ابن عباس رضي الله عنهما حدیث نقل کړې دې کوم چه اصحاب السنن روایت کړې دې.

---

١) المعجم الكبير للطبرانى ج ٦ ص ١٨، ومجمع الزوائد ج ١ ص ٢٧٦، كتاب الطهارة، باب قراءة الجنب رقم ١٥١٠. واحكام القران للجصاص ج ٢ ص ٣٢٩.

٢) قال الهيثمى رحمه الله وفيه جابر الجعفى وهو ضعيف، مجمع الزوائد ج ١ ص ٢٧٦، كتاب الطهارة باب قراءة الجنب.

٣) كتاب العلل (اخر جامع الترمذى، نسخة احمد شاكر وصاحبيه) ج ٥ ص ٧٤١، وشرح علل الترمذى لابن رجب ج ١ ص ٦٩ (بتحقيق نور الدين عتر)

٤) د تفصيل دپاره اوګورئ: شرح النووى على صحيح مسلم ج ١ ص ١١٩، كتاب الطهارة، باب وجوب الطهارة للصلاة، وعمدة القارى ج ٢ ص ٢٣١، وفتح البارى ج ١ ص ٢٣٢، والمجموع ج ١ ص ٤٦٦.

٥) فتح البارى ج ١ ص ٢٣٢

﴿ خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ فَقُرِّبَ إِلَيْهِ طَعَامٌ فَقَالُوا أَلَا نَأْتِيكَ بِوَضُوءٍ قَالَ: إِنَّمَا أُمِرْتُ بِالْوُضُوءِ إِذَا قُمْتُ إِلَى الصَّلَاةِ ﴾(۱)

یعنی: رسول الله ﷺ د بیت الخلاء نه راوتلو او د هغوی مخکښ خوراك کیخودلې شو، صحابه کرامو ؓ تپوس اوکړوچه ایا مونږ تاسوته د اودس دپاره اوبه راوړو! رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ماته خود اودس حکم هغه وخت راکړې شوې دې چه کله زه مانځه ته اودریږم.

د حافظ ابن حجر ؒ په اختیار کړې قول باندې دا شکال واردیږی چه د دې نه دا لازمیږی چه کله هم انسان د مانځه دپاره اودریږی نو اودس به کوی، حال دا چه د جمهور علماء کرامو په نزد په هر قائم الی الصلاة باندې اودس فرض نه دې.

د دې جواب دا ورکړې کیدې شی چه د آیت کریمه تقاضه خو هم دا ده چه د هر مانځه دپاره اودس ضروری وی، خو د آیت کریمه تعلق د محدث سره دې، ځکه چه په متوضی کښ یو مانع موجود دې، کوم چه په هغه باندې دا حکم عائد کیدو ته نه پریږدی، هغه مانع د هغه متوضی زائل الحدث کیدل دی، ځکه چه د اودس حکم دحدث د ازالې د وجې نه دې. والله اعلم

خو د دې جواب حاصل بیا دا راوتلو چه اصل سبب خو ئې حدث دې. والله اعلم

په احنافو کښ صاحب محیط ؒ فرمائی چه د اودس سبب موجب ﴿ ارادة الصلاة بشرط الحدث﴾ دې. (۲)

د دې معنی دا هم کیدې شی چه د دواړو مجموعه وی او دا هم کیدې شی چه اصل سبب خو ﴿ارادة الصلاة﴾ دې حدث د هغې شرط دې.

په احنافو کښ بعض اقامة الصلاة لره سبب موجب منلې دې او بعض ارادة الصلاة لره

علامه قاسم بن قطلوبغا ؒ فرمائی: ﴿ سبب وجوب الطهارة وجوب الصلاة او ارادة مالایحل الابها ﴾ او بعض احنافو د نجاست حکمیه په صورت کښ حدث لره او د نجاست حقیقیه په صورت کښ خبث لره موجب وضوء ګڼړلې دې.

خو راجح قول هغه دې کوم چه صاحب محیط وغیره ذکر کړې دې چه د دې موجب ارادة الصلاة بشرط الحدث دې. (۳)

د آیت کریمه نه په اودس کښ د اشتراط نیت استنباط: په آیت کریمه کښ ﴿إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوا﴾ نه علماء کرامو دا استنباط کړې دې چه په اودس کښ نیت شرط دې.

---

۱) سنن النسائي، كتاب الطهارة، باب الوضوء لكل صلاة رقم ۱۳۲، وسنن ابی داؤد كتاب الاطعمة، باب فی غسل اليدين عند الطعام رقم (۳۷٦۰) وجامع الترمذی، ابواب الاطعمة باب فی ترک الوضوء قبل الطعام، رقم ۱۸٤۷.

۲) اوګورئ: عمدة القاری ج ۲ ص ۲۳۱

۳) د تفصیل دپاره اوګورئ: عمدة القاری ج ۲ ص ۲۳۱، والبحر الرائق ج ۱ ص ۸، ۹، ورد المحتار مع الدر المختار ج ۱ ص ٦۲ و٦۳

د استدلال حاصل دا دي چه ﴿إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا﴾ معنى ده ﴿ اذا اردتم القيام الى الصلاة فتوضؤا لاجلها ﴾ يعنى كله چه تاسو د مانځه په ارادې سره پاسيږئ نو د مانځه دپاره اودس كوئ او دا هم داسې ده لكه چه وئيلې شى ﴿ اذا رايت الامير فقم، اى نقم لاجله ﴾ يعنى چه ك له ته امير وينې نو پاسيږه. يعنى د امير دپاره اودريږه (١)

د احنافو د طرف نه جواب دا دې چه دلته ﴿ اذا ﴾ يا خو ظرفيه ده يا شرطيه، كه ظرفيه وى نو د مستدل استدلال نه صحيح كيږى ځكه چه په دې صورت كښ به معنى دا شى چه ﴿ فى وقت القيام الى الصلاة يجب عليكم الوضوء ﴾

او كه شرطيه وى نو د دې نه زيات نه دا معنى معلوميږى چه جزا په شرط باندې په نفس الامر كښ مرتب ده چه كله هم مونځ كولې شى نو په طهارت او اودس سره به كولې شى، خاص د هغې لحاظ ساتل ضرورى نه دى كوم چه مستدل ذكر كړې دې، پس كه مخكښ نه ئې اودس وى نو د ﴿ قيام الى الصلاة ﴾ دپاره اودس ضرورى نه دې. (٢)

د اشتراط نيت فى الوضوء په سلسله كښ د قاضى ابن العربى رحمه الله تقرير : خو قاضى ابن العربى مالكى رحمه الله په دې سلسله كښ د بعض شوافعو ترديد كړې دې چا چه دا وئيلې دى چه آيت كريمه د نيت په وجوب باندې دلالت نه كوى

د هغوى د ترديد حاصل دا دې چه ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوْا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ ﴾ شرط او جزا دى او دا د شيږو حالو نه خالى نه دى، يا خو به د جزا د شرط سره بالكل تعلق نه وى يا به وى-

د تعلق كيدو په صورت كښ د پنځو قسمونو احتمال دې.

يا به ئې تعلق د صلاة سره وى، يا قيام الى الصلاة سره، يا حدث سره، يا درې واړو سره، يا په درې واړو كښ د يو غير معين سره

اول احتمال خو بالكل صحيح نه دې، ځكه چه د شرط او جزاء ترمينځه ربط خو يو بديهى امر دې بيا د ربط په صورتونو كښ أخرى خلور منفى دى، لهذا اولنې صورت به ثابت وى.

د دې تقرير داسې دې چه د اودس تعلق د حدث سره نه شى كيدې، ځكه چه حدث خو ناقض دې نه موجب.

او د ﴿ قيام الى الصلاة ﴾ سره هم نه شى كيدې، ځكه چه اودس د قيام الى الصلاة سره نه جمع كيږى ځكه چه د ﴿ اذا قمتم ﴾ معنى ده ﴿ اذا اردتم القيام ﴾ نو قيام د اودس نه مخكښ موندلې شى نو بيا به اودس د قيام دپاره ولې او ځنګه وى؟

او د حدث او ﴿ قيام الى الصلاة ﴾ سره ربط نه شى كيدې نو د درې واړو د مجموعې سره هم نه شى كيدې.

---

١ ، اوګورئ فتح البارى: ج١ ص٢٣٢

٢) اوګورئ: السعاية ج ١ ص ٣٠

هم دغه شان د يو سره لاعلى التعيين تعلق مفيد نه دي، په دې وجه دا احتمال هم صرف عقلي پاتې شو. لهذا اول احتمال يعنى د صلاة سره ئې تعلق ثابت شو او هم دا د حديث نه هم ثابت دي، پس رسول اللهﷺ فرمائي: ﴿ لا تقبل صلاة بغير طهور ﴾(۱) معلومه شوه چه د طهارت د صلاة سره تعلق دې.(۲)

د قاضی ابن العربی د تقرير مناقشه: د قاضي ابن العربي رحمه الله په تقرير کښې مونږ مناقشه کولې شو چه قاضي صاحب چه کوم د﴿حدث﴾ سره د تعلق نه کيدو کوم ذکر کړې دې هغه ئې صرف يو جهت طرف ته نظر کولو سره وئيلې دی چه حدث خو ناقض دې نه موجب. حال دا چه په حدث کښې يو طرف دناقض کيدو دې هم دغه شان پکښې يو جهت د موجب کيدو هم موجود دې، ځکه چه حدث د وضوء سابق دپاره ناقض دې او د وضوء لاحق دپاره موجب دې. او اوس شاته اصل مسئله تيره شوې ده چه د اودس سبب موجب څه دې.

قوله: فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ: د غسل معنى ده ﴿ ايصال الماء على المغسول ﴾ يا ﴿ امرار الماء على المغسول ﴾ يعنى مغسول ته اوبه رسول، يا په مغسول باندې اوبه بهيول.(۳)

د غسل په شرعی معنی کښې د علماء کرامو اختلاف: د غسل په شرعي معنى کښې د علماء کرامو درې اقوال دی، جمهور علماء کرام فرمائي: مغسول ته داسې اوبه رسول چه د هغې نه کم از کم يوه قطره ضرور اوبهيږى. هم دا د امام ابوحنيفه او امام محمد رحمهما الله قول دې.

② امام ابو يوسف رحمه الله فرمائي ﴿ هو مجرد بل المحل بالماء، سال او لم يسل ﴾ يعنى. محل لره صرف لمد کول او موندلې شي. که اوبه بهيږى يا اونه بهيږى

③ امام مالک رحمه الله فرمائي ﴿ امرار الماء وذلك الموضع بيده ﴾ يعنى اوبه بهيولو سره هغه محل لره په لاس سره مږل هم ضروری دی. (٤)

دمالکيانو دلائل اودهغې تضعيف: قاضی ابن العربی رحمه الله د مالکيانو درې دلائل ذکر کړې دی. اول دليل خو د هغوی په زعم کښې دا دې چه په لغت کښې د غسل په معنى کښې د لاس استعمالول داخل دی، ځکه چه د امرار يد نه بغير غسل ته صب الماء خو وئيلې شي. د غسل اطلاق په هغې باندې نه کيږی.

---

۱) صحيح مسلم، کتاب الطهارة، باب وجوب الطهارة للصلاة، رقم ۵۳۵، ۵۳۶، وسنن النسائی، کتاب الطهارة، باب فرض الوضوء رقم ۱۳۹، وسنن ابی داؤد کتاب الطهارة باب فرض الوضوء رقم (۵۹)، وجامع الترمذی، ابواب الطهارة، باب ما جاء لا تقبل صلاة بغير طهور، رقم (۱) وسنن ابن ماجه، کتاب الطهارة، باب لايقبل الله صلاة بغير طهور، رقم (۲۷۱ – ۲۷٤)

۲) احکام القران لابن العربی ج ۲ ص ۲٦٤، ۲٦۵)

۳) (تفصيل دپاره اوګورئ: الاستذکار ج ۱ ص ۳۰۷، باب العمل فی غسل الجنابة)

٤) د مذاهب د تفصيل دپاره اوګورئ: احکام القران للجصاص ج ۲ ص ۳۳۲ والبحر الرائق ج ۱ ص ۱۱.

خو د هغوی دا دلیل ضعیف دې ځکه چه په لغت کښې د غسل دپاره استعمال ید او دلك باليد ثابت نه دې.

پس ابن عبد البر رحمه الله فرمائی: ﴿فدل هذا كله على أن الغسل فى لسان العرب يكون مرة بالفرك ومرة بالصب والإفاضة كل ذلك يسمى غسلا فى اللغة العربية وقد حكى عن بعض العرب غسلتنى السماء يعنى بما انصب عليه من الماء﴾ (۱)

یعنی د غسل اطلاق په عربئ ژبه کښې کله خو په دې باندې کیږی چه مږلو سره یو څیز وینځلې شی او کله په دې باندې کیږی چه په هغې باندې اوبه واچولې شی او اوبهیولې شی، د بعض اهل عرب قول هم دې چه ﴿غسلتنى السماء﴾ یعنی د باران اوبو زه وینځلم.

دویم دلیل هغوی دا پیش کړې دې چه الله پاك فرمائی ﴿حتى تغتسلوا﴾ (۲) جنبی انسان ته الله پاك د غسل حکم ورکړې دې او غسل بغیر د لاس د استعمال نه ممکن نه دې، ځکه چه الله پاك د انسان په بدن باندې غوړوالې پیدا کړې دې، چه د هغې د وجې نه اوبه پوره بدن ته نه رسیږی، بدن د خپل غوړوالی د وجې نه اوبه لرې کوی، لهذا په ټول بدن باندې د اوبو رسولو دپاره د لاس خوزول ضروری دی.

خو دا دلیل هم ضعیف دې، ځکه چه د لاس خوزول د غسل دپاره ضروری نه شو، بلکه د تکمیل غسل دپاره ضروری شو، دا څه ضروری ده چه کوم څیز د تکمیل دپاره شرط وی هغه به د اصل دپاره هم شرط وی، او دا هم مونږ على وجه التنزل وایو ګینې د تکمیل دپاره هم ضروری نه دې، پس یو انسان په دریاب کښې اودریږی، د هغې اوبه روانې دی، په هغې سره ټول بدن لوند شی دغه شان مقصود حاصل شی.

هم دغه شان باران شروع شی، یو سړې راشی او هغې ته اودریږی، په باران باندې ئې ټول بدن لوند شی دغه شان مقصود حاصل شی.

قاضی ابن العربی رحمه الله دریم دلیل دا پیش کړو چه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې یو ماشوم راوستلې شو او هغه په رسول الله ﷺ باندې متیازې اوکړې، په حدیث کښې دی ﴿فدعا بماء، فاتبعه بوله، ولم يغسله﴾ (۳) یعنی اوبه ئې راطلب کړې او په متیازو باندې ئې وارولې او هغه ئې او نه وینځلې. معلومه شوه چه اوبه اچول غسل نه دې بلکه ﴿دلك﴾ ضروری دې، ګینې که صرف په اوبو اچولو سره غسل متحقق کیدې نو د هغې نه پس به په ﴿لم يغسله﴾ سره د ﴿غسل﴾ نفی ولې کیده؟

ددې جواب دادې چه ﴿لم يغسله﴾ نه د ﴿غسل مخصوص﴾ نفی کړې شوې ده او هغه ﴿غسل بالمبالغة﴾

---

۱) الاستذكار ج ۱ ص ۳۰۷، باب العمل فى غسل الجنابة.

۲) النساء: ٤٣

۳) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب حكم بول الطفل الرضيع، وكيفية غسله، رقم (۲٦۲)

دي، پس په مسلم کښې هم په دې حديث کښې ﴿ولم يغسله غسلا﴾ دې. (۱)
په مصدر سره تاكيد راوړل ددې خبرې دليل دې چه دمخصوص قسم ﴿غسل﴾ نفي مقصود ده.(۲) والله اعلم

قوله: وُجُوهَكُمْ: دا د ﴿وجه﴾ جمع ده چه د هغې معنى ده مخ.

﴿فاغسلوا وجوهكم﴾ کښې ﴿وجوه﴾ جمع ده او ﴿كم﴾ هم د جمعې ضمير دې او قاعده دا ده چه كله جمع د جمع سره مقابله كولو باندې راوړلې شى نو د مقابلة الآحاد بالآحاد فائده حاصليږى (۳) چه د هغې مطلب دا دې چه هر انسان دې خپل مخ وينځى.
كه د يو انسان دوه مخونه وى نو امام نووى رحمه الله فرمائى چه د دواړو وينځل واجب دى. (٤)
مولانا عبدالحئ لكهنوى رحمه الله فرمائى كه يو مخ اصلى دې او دويم غير اصلى، د اصلى وينځل فرض دى او كه دواړه اصلى وى، په دواړو کښې د اصل كيدو اثار موجود وى، مثلا په دواړو سره خوراك څكاك كوى نو احتياط په دې کښې دې چه دواړه دې وينځلې شى. (۵)

د وجه تحديد: د ﴿وجه﴾ يا مخ حد په اوږدوالى باندې عام طور د سر د ويښتو د راختلو د ځائې نه تر د زنې د اخره پورې دې او په پلن والى باندې د يو غوږ د پوستكى نه د بل غوږ د پوستكى پورې دې. (۶)

قوله: وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ: او خپل لاسونه (وينځئ) تر د څنګلو پورې.

مرافق: د مرفق (بكسر الميم وفتح الفاء يا بفتح الميم وكسر الفاء) جمع ده، څنګل ته وئيلې شى، دا د رفق نه ماخوذ دې، چه د هغې معنى نرمى ده، په څنګل سره كارونه کښې سهولت وى، په دې وجه ورته مرفق وئيلې شى. (۷)
څنګل به وينځلې شى يا نه؟: په دې مسئله کښې اختلاف دې.
جمهور علماء كرام فرمائى چه د مرافق وينځل فرض دى، او ابوبكر بن داؤد ظاهرى، ابن

---

۱) صحيح مسلم كتاب الطهارة، باب حكم بول الطفل الرضيع، وكيفية غسله. رقم ۶۶۷
۲) اوګورئ فتح الملهم ج ۱ ص ٤۵۰، ٤۵۱. كتاب الطهارة، باب حكم بول الطفل الرضيع، وكيفية غسله.
۳) السعاية ج ۱ ص ۳۲، المبحث التاسع والعشرون
٤) المجموع ج ۱ ص ۳۸۲
۵) السعاية ج ۱ ص ۳۲، المبحث التاسع والعشرون
۶) وهومن قصاص الشعر الى اسفل الذقن، والى شحمتى الاذن ... انظر كنزالدقائق مع بحرالرائق ج۱ ص ۱۱
۷) قال ابن الفارس رحمه الله تعالى : الراء والفاء والقاف أصلٌ واحدٌ يدلُّ على موافقة ومقاربة بلا عنف. فالرِّفق: خلاف العنف... هذا هو الأصل ثم يشتقّ منه كلُّ شيء يدعو إلى راحة وموافقة. والمرفقُ(۱) مَرفق الإنسان؛ لأنه يستريح فى الاتّكاء عليه. يقال ارتَفَق الرّجلُ: إذا اتّكأ على مَرفقه فى جلوسه... ويقال فيه مَرْفِق ومِرْفَق، حكاهما ثعلب. معجم مقاييس اللغة ج ۲ ص ٤۱۸، مادة : رفق

حزم او زفر بن الهذيل رحمه الله فرمائى چه فرض نه دى، د امام مالك رحمه الله نه هم يو روايت داسې منقول دې او دويم روايت ئې د جمهور مطابق دې. (١)

د ظاهريه وغيره دليل : د ظاهريه او امام زفر رحمهم الله دليل مشهور اصول دې ﴿ الغاية لاتدخل تحت المغيا ﴾ يعنى غاية په مغيا (د كوم څيز دپاره چه مغيا بيان كړې شوې وى)، د لاندې داخل نه وى. (٢)

په نورو الفاظو كښې دا وئيلې شو چه چونكه په ﴿ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ ﴾ كښې د ﴿ الى ﴾ په ذريعه د ﴿ غسل يد ﴾ غاية بيان كړې شوې دې او غايت يعنى مرفق به د غسل يد په حكم كښې داخل وى يا به نه وى؟ په دې كښې ادله متعارض دى، پس په بعض ځايونو كښې يقينى غايت په مغيا كښې داخل نه وى لكه ﴿ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ ﴾(٣)

او په بعض مقاماتو كښې غايت يقينى طور په مغيا كښې داخل ګڼړلې شى. لكه وئيلې شى ﴿بعتك هذا المكان من هنا الى هناك ﴾ يعنى ما په تا باندې دا كور در خرڅ كړو د دې ځائې نه تر هغه ځائې پورې. په دې مثال كښې غايت يقينا په مغيا كښې داخله ده.

په آيت وضوء ﴿ وايديكم الى المرافق ﴾ كښې چونكه دواړه احتمالات دى، په دې وجه به د شك په بنياد څنګل په مغسول كښې داخله نه وى. (٤)

هم ددې نه بعض حضراتو داسې تعبير هم كړې دې چه په آيت وضوء كښې ﴿ وايديكم الى المرافق ﴾ وئيلو سره يد مغسول منلې شوې دې، د هغې حد د ﴿ ماقبل المرفق ﴾ پورې خو يقينى دې خو د ﴿ مرفق ﴾ په مغسول كښې داخليدل مشكوك دى، لهذا متيقن به فرض منلې شى، مشكوك به فرض نه منلې كيږى. (٥)

د جمهور د طرف نه د دې جواب دا دې چه د دې قاعدې ﴿ الغاية لا تدخل تحت المغيا ﴾ نه استدلال كول صحيح نه دى ځكه چه دا متفق عليه مسئله نه ده. بلكه د غايت په مغيا كښې داخليدل او نه داخليدل په قرائن او دلائل باندې موقوف دى، كه قرينه په دخول باندې دلالت كوى نو داخل به ګڼړلې شى، ګينې داخل به نه ګڼړلې كيږى.

اوګورئ يو سړې وائى ﴿قرات القران من اوله الى اخره ﴾ نو په دې كښې غايت داخل منلې شى هم

١) د مذاهبو د تفصيل دپاره اوګورئ : السعاية ج ١ ص ٥٦، والمغنى لابن قدامة ج ١ ص ٨٥، والمجموع شرح المهذب ج ١ ص ٢٨٥، ونيل الاوطار ج ١ ص ١٦٨، ابواب صفة الوضوء، باب ٥٩، المضمضة والاستنشاق، والمحلى لابن حزم ج ١ ص ٢٩٧.

٢) اوګورئ : السعايه ج ١ ص ٥٦، ٥٧

٣) البقرة ١٨٧

٤) اوګورئ : السعايه ج ١ ص ٥٦ و ٥٧

٥) پورته حواله

دغه شان د الله پاك ارشاد دي ﴿ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ ﴾ (١) دلته غايت په مغيا كښې داخل نه شي منلي.
اوس بعض علماء كرامو د دې دپاره قاعده بيان كړې ده. هغوى فرمائى چه كه غايت د مابعد غايت د جنس نه وى نو غايت به په مغيا كښې داخل وى لكه ﴿ قرأت القرآن من اوله الى اخره ﴾او كه د هغې د جنس نه نهٔ وى نو داخل به نه وى لكه ﴿ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ ﴾كښې. (٢)
هرچه د ظاهريه وغيره دا استدلال دې چه ماقبل المرفق يقينى او د مرفق دخول په دې كښې مشكوك دې، په دې وجه به مرفق مغسول نه وى، پس د دې جواب دا دې چه مرفق دلته مشكوك نه دې، بلكه د هغې دخول يقينى دې، ځكه چه غايت كه د صدر كلام د جنس نه وى نو هغه يقينا په مغيا كښې داخل وى. (٣)
د دې نه علاوه په عباداتو كښې په احوط باندې عمل كول اولى وى، نه د هغې په مقابله كښې په متيقن باندې عمل كول. (٤)
د جمهورو د طرف نه دا جواب هم كړې شوې دې هغه دا چه دا غايت ﴿ غاية الاسقاط ﴾ دې. اصل كښې الله فرمائيلي دى ﴿ وَأَيْدِيَكُمْ ﴾ د دې نه دا معلوميږي چه د ټول لاس. يعنى د ګوتو د سوكو نه تر د اوګو او ترخونو پورې وينځل ضرورى دى، ځكه چه لفظ د يد د ﴿ انامل ﴾نه تر د مناكب پورې وئيلې شى، د هغې نه روستو چه ئې كله ﴿ إِلَى الْمَرَافِقِ ﴾ اوفرمائيلو نو مابعد الغايه د غسل د حكم نه خارج شو او باقى اندام د غسل د لاندې راغلل، اوس معنى دا شوه چه تاسو خپل لاسونه د څنګلو پورې وينځئ، خو ما وراء المرفق يعنى كوم چه د مرفق نه وړاندې دې د هغې د وينځلو ضرورت نشته. (٥)
قاضى ابن العربى رحمه الله دا توجيه د قاضى عبدالوهاب مالكى رحمه الله نه نقل كړې ده او فرمائى چه ما دا توجيه د هغوى نه علاوه چا سره هم نه ده ليدلې. (٦)
خو حقيقت دا دې چه دا توجيه د قاضى عبدالوهاب استاذ قاضى ابو الحسن ابن القصار نه هم منقول ده. د قاضى عبدالوهاب وفات په ٤٢٢ هجرى كښې شوې دې (٧) او د قاضى ابو الحسن بن القصار وفات په ٣٩٧هجرى كښې شوې دې (٨)

---

١) البقرة : ١٨٧
٢) اوګورئ : السعايه ج ١ ص ٥٧، واحكام القران لابن العربى ج ٢ ص ٥٦٧
٣) اوګورئ : السعاية ج ١ ص ٥٧
٤) پورته حواله
٥) اوګورئ : الهداية للمرغينانى ج ١ ص ١٦، ١٧، كتاب الطهارات وشرح الوقاية مع شرحه السعايه ج ١ ص ٦٨، ٦٩
٦) اوګورئ : احكام القران ج ٢ ص ٥٦٧
٧) اوګورئ : وفيات الاعيان ج ٢ ص ٢٢٢، ترجمة القاضى عبد الوهاب المالكى.
٨) سير اعلام النبلاء ج ١٧ ص ١٠٨

هم دغه شان په علماء احناف كښ صاحب هدايه، صاحب كشف البزدوى او صاحب كافى وغيره دا توجيه كړې ده. (١)

په جمهورو كښ بعض دا جواب هم كړې دې چه دلته ﴿ الى ﴾ د ﴿ مع ﴾ په معنى كښ دې (٢) لكه د الله پاك ارشاد دې ﴿ وَلَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَهُمْ إِلَىٰٓ أَمْوَٰلِكُمْ ﴾(٣) يعنى د هغوى مالونه د خپل مال سره مه خورئ. په دې كښ ﴿ الى ﴾ د ﴿ مع ﴾ په معنى كښ دې. (٤)

بعض وائى چه دلته ﴿ الى ﴾ د غايت په معنى كښ دې، خو مرفق چونكه د ﴿ يد ﴾ حصه ده، په دې وجه به دا د مغسول د لاندې داخل وى، خو د هغې نه وړاندې د لاس نه تر اوږې پورې حصه به د اجماع د وجې نه خارج شى. (٥)

د جمهورو استدلال د بعض احاديثو نه هم دې. پس امام دار قطنى رحمه الله د سيدنا جابر رضى الله عنه نه روايت نقل كړې دې. ﴿ كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا توضاء ادار الماء على مرفقيه ﴾(٦)

خو دا حديث ضعيف دې، په دې كښ يو راوى عبدالله بن محمد بن عقيل دې او هغه ضعيف دې. (٧)

امام دارقطنى رحمه الله فرمائى : ﴿ ابن عقيل ليس بالقوى ﴾(٨)

بيا د هغوى نه روايت كونكې د هغوى نمسې القاسم بن محمد بن عبدالله بن محمد بن عقيل دې. دې هم ضعيف دې (٩)

---

١) اوګورئ: السعايه ج ١ ص ٦٧

٢) المجموع شرح المهذب ج ١ ص ٣٨٦، واحكام القران لابن العربى ج ٢ ص ٥٦٧، والمغنى لابن قدامة ج ١ ص ٨٥.

٣) النساء : ٢

٤) مختار الصحاح ص ٢٤، وانظر الكشاف للزمخشرى ج ١ ص ٤٦٥

٥) المجموع شرح المهذب ج ١ ص ٣٨٦

٦) سنن الدارقطنى ج ١ ص ٨٣، كتاب الطهارة باب وضوء رسول الله صلى الله عليه وسلم رقم : ١٥

٧) قال ابن سعد : منكر الحديث، وقال احمد بن حنبل : منكر الحديث، وقال ابن معين : لا يحتج بحديثه، وقال مرة : ضعيف الحديث، وقال النسائى : ضعيف، قال يعقوب وابن عقيل صدوق، وفى حديثه ضعف شديد جدا. قال الترمذى : صدوق وقد تكلم فيه بعض اهل العلم من قبل حفظه. وسمعت محمدا بن اسماعيل يقول : كان احمد بن حبل واسحاق بن ابراهيم، والحميدى يحتجون بحديث ابن عقيل، قال محمد بن اسماعيل : وهو مقارب الحديث. وقال ابن عدى : روى عنه جماعة من المعروفين الثقات وهو خير من ابن سمعان، ويكتب حديثه. انظر تهذيب الكمال ج ١٦ ص ٨٠ - ٨٤، والكامل فى ضعفاء الرجال ج ٤ ص ١٢٧ - ١٢٩، ومختصر الكامل للمقريزى : ٣٦٢ و ٣٦٣.

٨) سنن الدارقطنى ج ١ ص ٨٣، كتاب الطهارة باب وضوء رسول الله صلى الله عليه وسلم، رقم ١٥

٩) امام ابن حبان اګر چه په كتاب الثقات كښ ذكر كړې دې خو امام احمد رحمه الله فرمائى ﴿ ليس بشئ ﴾، امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى ﴿ كان متروك الحديث ﴾ ..... (بقيه بر صفحه آئنده.....

امام دارقطنی رحمه الله د سیدنا عثمان رضی الله عنه نه د اودس طریقه نقل کړې ده، په هغې کښې دی ﴿ویدیه الی المرفقین حتی مس اطراف العضدین﴾ (۱) حافظ ابن حجر رحمه الله د دې سند ته حسن وئیلې دې. (۲)

هم دغه شان امام طبرانی او امام بزار رحمهما الله د سیدنا وائل بن حجر رضی الله عنه نه د صفة الوضوء په باره کښې حدیث نقل کړې دې. په هغې کښې دی ﴿ثم ادخل یمینه فی الاناء فغسل بها ذراعه الیمنی، حتی جاوز المرفق ثلاثا، ثم غسل یساره بیمینه، حتی جاوز المرفق ثلاثا﴾ (۳)

امام طحاوی رحمه الله او امام طبرانی رحمه الله د ﴿ثعلبة بن عباد عن ابیه﴾ په طریق سره مرفوعا نقل کړې دی: ﴿غسل ذراعیه حتی یسیل الماء علی مرفقیه﴾ (٤)

حافظ رحمه الله فرمائی ﴿هذه الاحادیث یقوی بعضها بعضا﴾ (۵) یعنی دا احادیث د یو بل دپاره د تقویت باعث دی.

امام نووی رحمه الله په صحیح مسلم کښې د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه د حدیث نه استدلال کړې دې، هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اودس صفت لره عملا اوښودلو، چه په هغې کښې دی ﴿ثم غسل یده الیمنی حتی اشرع فی العضد، ثم یده الیسری حتی اشرع فی العضد﴾ (٦)

امام نووی رحمه الله فرمائی د دې حدیث نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مرفقین لره وینځل ثابت شو، دهغوی

.....بقیه از صفحه گذشته)... امام ابو زرعه رحمه الله فرمائی: ﴿احادیثه منکرة، وهو ضعیف الحدیث﴾ امام بخاری رحمه الله فرمائی: ﴿عنده مناکیر﴾ او ابن عدی رحمه الله فرمائی: ﴿روی عن جده احادیث غیر محفوظة﴾ اوګورئ: الثقات لابن حبان ج ۷ ص ۳۴۸، وکتاب الجرح والتعدیل لابن ابی حاتم ج ۷ ص ۱۶۰، رقم ۱۲۲۲۲، ٦۷۸، ولسان المیزان ج ٦ ص ۳۸۰، رقم ٦۱۳۰، والکامل ج ٦ ص ۳۵.

۱) سنن الدارقطنی ج ۱ ص ۸۳، کتاب الطهارة، باب وضوء رسول الله صلی الله علیه وسلم رقم ۱۷

۲) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲۹۲، کتاب الوضوء، باب مسح الراس کله.

۳) المعجم الکبیر للطبرانی ج ۲۲ ص ۵۰، ومسند البزار ج ۱۰ ص ۳۵۵، ومجمع الزوائد ج ۱ ص ۲۳۲، کتاب الطهارة، باب ما جاء فی الوضوء، ج ۲ ص ۱۳٤، کتاب الصلاة باب صفة الصلاة والتکبیر فیها رقم ۲۸۰۵، وکشف الاستار ج ۱ ص ۱٤۰، کتاب الطهارة، باب صفة الوضوء رقم ۲٦۸، قال الهیثمی: رواه الطبرانی فی الکبیر والبزار وفیه سعید بن عبدالجبار، قال النسائی: لیس بالقوی وذکره ابن حبان فی الثقات، وفی سند البزار والطبرانی محمد بن حجر وهو ضعیف.

٤) مجمع الزوائد ج ۱ ص ۲۲٤، کتاب الطهارة، باب فضل الوضوء، وشرح معانی الاثار للطحاوی مع نثر الازهار ج ۱ ص ۷۵، کتاب الطهارة، باب فرض الرجلین فی وضوء الصلاة. قال الهیثمی: رواه الطبرانی فی الکبیر. ورواه باسناد اخر فقال ﴿عن ثعلبه بن عمارة﴾ وقال هکذا رواه اسحاق الدیری عن عبدالرزاق ووهم فی اسمه. والصواب ثعلبه بن عباد. ورجاله موثقون.

۵) فتح الباری ج ۱ ص ۲۹۲، کتاب الوضوء، باب مسح الراس کله

٦) صحیح مسلم، کتاب الطهارة، باب استحباب اطالة الغرة والتحجیل فی الوضوء رقم ۵۷۹.

د فعل د وضوء د مامور به بیان دي، د رسول اللهﷺ نه کله هم د دې ترک ثابت نه دې. (۱)

قوله: وَامۡسَحُوۡا بِرُءُوۡسِكُمۡ: یعنی په خپلو سرونو باندې مسح کوئ.

د مسح لغوی او اصطلاحی معنی: په لغت کښې مسح ﴿ امرار الشئ علی الشئ بسطا ﴾(۲) ته وئیلې شي، یو څیز لره په بل څیز باندې په نرمئ سره راښکل یا تیرول.

د شریعت په اصطلاح کښې د دې لغوی معنی لحاظ خو ضرور ساتلې شي، د دې سره سره د اله مسح د لوندیدلو د قید لحاظ هم ساتلې شي او دا هم ضروری ده چه هغه اله به د انسانی بدن نه وی، لهذا د شریعت په اصطلاح کښې به مسح وئیلې شي: ﴿ امرار الید المبتلة العفو ﴾ یعنی د لوند لاس په اندام باندې راښکل. (۳)

ابن العربیرحمه الله فرمائی چه مسح اله ممسوح بها (یعنی د څه په ذریعه چه مسح کولې شي) ته اوبو رسولو، او غسل مغسول ته اوبه رسولو ته وئیلې شي. (٤)

حاصل دا چه په مسح کښې اوبه اله ممسوح بها ته رسولې شي او بیا هغه په ممسوح باندې راښکلې شي او په غسل کښې اوبه مغسول ته رسولې شي.

د سر په مسح کښې فرض مقدار څه دې؟: د مسح فرضیت خو د قران کریم نه ثابت دې، ددې په فرضیت کښې د چا اختلاف نشته، خو په فرض مقدار کښې اختلاف دې. (۵)

د امام شافعیرحمه الله اقوال: د امام شافعیرحمه الله په مذهب کښې دوه اقوال دی.

د هغوی مشهور قول کوم چه د هغوی نه منصوص دې هغه دا دې چه ﴿ ادنیٰ مایطلق علیه اسم المسح ﴾ فرض دې. لهذا څه مخصوص مقدار مقرر نه دې، تردې چه د هغوی په نزد که یو سړې د یو ویښته په بعض حصه باندې هم مسح اوکړي نو هم کافی ده.

په شوافع کښې ابو العباس بن القاص او ابو الحسن بن خیران وائی چه کم از کم په درې ویښتو باندې مسح ضروری ده. (٦)

د امام احمد بن حنبلرحمه الله اقوال: د امام احمدرحمه الله نه یو قول دا منقول دې چه د پوره سر مسح کول ضروری دی. دویم قول د هغوی نه دا نقل دې چه د بعض سر مسح کافی ده.

خو امام ابن قدامهرحمه الله فرمائی چه د امام احمدرحمه الله نه چه منقول دی هغه دا دی چه د سړي دپاره خو استیعاب ضروری دې او د زنانه دپاره د سر په وړاندې حصه باندې مسح کول کافی دی. (۷)

---

۱) شرح المهذب ج ۱ ص ۳۸۷
۲) معجم مقاییس اللغة ج ۵ ص ۳۲۲
۳) اوګورئ: السعایة ج ۲ ص ۷٤
٤) احکام القران لابن العربی ج ۲ ص ٦٦٧
۵) اوګورئ: المغنی لابن قدامة ج ۱ ص ۸٦
٦) اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ۱ ص ۳۹۸
۷) اوګورئ: المغنی لابن قدامة ج ۱ ص ۸٦، ۸۷

د امام مالک رحمہ اللہ اقوال : د مالکیانو نه په دې سلسله کښې شپږ اقوال منقول دی.
ابن مسلمه رحمہ اللہ فرمائی چه د دوه ثلث مسح کافی ده.
اشهب او ابوالفرج وائی چه د یو ثلث مسح کافی ده.
د اشهب نه یو بل قول منقول دې چه د مقدم راس مسح کافی ده.
خپله د امام مالک رحمہ اللہ نه نقل دی چه د پوره سر استیعاب ضروی دې.
یو قول ترې دا هم نقل دې چه ﴿ادنی مایطلق علیه اسم المسح﴾ کافی دې.
شپږم قول دا دې چه د سر استیعاب فرض دې، خو که معمولی حصه پاتې شی نو مسح به اوشی. (۱)

د امام ابوحنیفه رحمہ اللہ اقوال : د امام ابوحنیفه رحمہ اللہ درې اقوال دی.
یو دا چه د ربع الراس مسح فرض ده.
دویم دا چه د مقدار ناصیه مسح فرض ده.
دریم دا چه د درې ګوتو په مقدار باندې مسح کول فرض دی. (۲)
خو دا حقیقی اختلاف نه دې بلکه د یوې معنې مختلف عنوانات او د یو معنې مختلف تعبیرونه دی.
د حضرات علماء کرام او مجتهدینو د دې مختلفو اقوالودلائل ابن العربی او علامه عبد الحی لکهنوی رحمہ اللہ په تفصیل سره بیان کړی دی، هغې ته دې مراجعت اوکړې شی. (۳)

قوله: ﴿وارجلکم الی الکعبین﴾ : او خپلې خپې د ګیټو سره وینځې.

کعب څه ته وئیلې شی؟ ﴿کعب﴾ وئیلې شی ﴿العظم الناتی الذی ینتهی الیه عظم الساق﴾ یعنی هغه راپورته شوې هډوکې چرته چه د پنډۍ هډوکې ختم شوې وی، دې ته کعبین په دې وجه وئیلې شی چه دا دوه جدا جدا بهر راوتلې هډوکی وی.

د کعب په باره کښې د شیعه ګانو اختلاف او د هغې تردید : شیعه ګان وائی چه د کعب نه مراد هغه هډوکې دې کوم چه د قدم په ظاهر باندې وی خو دا قول صحیح نه دې.

اول: خوپه دې وجه چه دا قول اهل لغت ددې په خلاف باندې اتفاق دې، پس صاحب **المغرب** علامه مطرزی، صاحب **القاموس المحیط** علامه مجدالدین فیروزابادی اوصاحب الصحاح علامه جوهری رحمہم اللہ وغیره د کعب هم هغه تعریف لیکلې دې کوم چه مونږ پورته ذکر کړو، او اصمعی رحمہ اللہ نه د دې خبرې انکار نقل کړې شوې دې چه د کعب اطلاق د وسط قدم دپاسه هم کیږی. (۴)

---

۱) اوګورئ احکام القران لابن العربی ج ۲ ص ۵۶۸، وعمدة القاری ج ۲ ص ۲۳۵
۲) اوګورئ عمدة القاری ج ۲ ص ۲۳۵
۳) احکام القران لابن العربی ج ۲ ص ۵۶۹- ۵۷۲، والسعایة ج ۱ ص ۷۸- ۹۹
۴) المغرب ج ۲ ص ۲۲۲، والقاموس المحیط ص ۱۲۱و وصحاح اللغة ج ۱ ص ۲۱۳، وتاج العروس ج ۲ ص ۳۷۴، والنهایة فی غریب الحدیث ج ۲ ص ۵۴۴، مختار الصحاح ص ۵۷۲.

دويم : په صحيح مسلم وغيره كښې د سيدنا عثمان رضي الله عنه روايت دې: ﴿ انه غسل رجله اليمنى الى الكعبين ثم اليسرى كذلك ﴾ (١) رسول الله ﷺ خپله ښئ خپه د ګيټو سره وينځله.
امام نووى رحمه الله فرمائي چه په دې حديث كښې د هرې خپې دپاره د كعبين اثبات دې، په دې سره د روافضو خبره بالكل لغو كيږى. (٢)
هم دغه شان د سيدنا نعمان بن بشير رضي الله عنه حديث دې : ﴿ فرأيت الرجل يلزق منكبه بمنكب صاحبه، وركبته بركبة صاحبه، وكعبه بكعبه ﴾ (٣)
يعنى : ما اوليدل چه يو سړى به خپله اوګه د بل د اوګې سره او خپله ګيټئ به ئې د بل د ګيټئ سره برابروله.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دا حديث د دې خبرې واضح دليل دې چه د كعب نه مراد ګيټئ دى ګينې نورې معنې خو دلته نه دى ممكن. (٤)
هم دغه شان د طارق بن عبد الله رضي الله عنه روايت دې :
﴿ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سُوقِ ذِي الْمَجَازِ وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ ، وَهُوَ يَقُولُ : يَا أَيُّهَا النَّاسُ قُولُوا لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ تُفْلِحُوا ، وَرَجُلٌ يَتْبَعُهُ يَرْمِيهِ بِالْحِجَارَةِ ، وَقَدْ أَدْمَى عُرْقُوبَيْهِ وَكَعْبَيْهِ ، وَهُوَ يَقُولُ : يَا أَيُّهَا النَّاسُ ، لاَ تُطِيعُوهُ ، فَإِنَّهُ كَذَّابٌ ، فَقُلْتُ : مَنْ هَذَا ؟ قِيلَ : هَذَا غُلاَمُ بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ . قُلْتُ : فَمَنْ هَذَا الَّذِي يَتْبَعُهُ يَرْمِيهِ بِالْحِجَارَةِ ؟ قَالَ : هَذَا عَبْدُ الْعُزَّى أَبُو لَهَبٍ ﴾ (٥)
يعنى : ما رسول الله ﷺ د ذوالمجاز په بازار كښې اوليدو، هغوى د سور رنګ (يوه برګه) جبه اغوستلې وه او وئيل ئې : اې خلقو! اوايئ ﴿ لا اله الا الله ﴾ اوايئ تاسو به كامياب شئ. يو

١) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب صفة الوضوء وكماله رقم ٥٣٨.
٢) اوګورئ شرح النووى على صحيح مسلم ج ١ ص ١٢٠، كتاب الطهارة باب صفة الوضوء وكماله.
٣) قال البخارى فى صحيحه ج ١ ص ١٠٠، كتاب الاذان، باب الزاق المنكب بالمنكب، والقدم بالقدم فى الصف، تعليقا ..... وقال النعمان بن بشير : رايت الرجل منا يلزق كعبه بكعب صاحبه. وانظر السنن لابى داؤد، كتاب الصلاة، باب تسوية الصفوف، رقم : ٦٦٢
٤) فتح البارى ج ٢ ص ٢١١، كتاب الاذان، باب الزاق المنكب بالمنكب والقدم بالقدم فى الصف.
٥) موارد الظمآن الى زوائد ابن حبان ص ٤٠٦، كتاب المغازى والسير، باب دعاء النبى ﷺ الناس الى الاسلام وما لقيه، رقم ١٦٨٣، وقد اخرجه الحاكم فى المستدرک ج ٢ ص ٦١٢، كتاب التاريخ، باب : يد المعطى العليا وابد بمن تعول، وابن ابى شيبة فى مصنفه ج ٢٠ ص ٢٤٢، كتاب المغازى، باب فى اذى قريش للنبى ﷺ وما لقى منهم، رقم ٣٧٧٢٠، وابو نعيم فى معرفة الصحابة ج ٣ ص ٧٧، ترجمة : طارق بن عبدالله المحاربى الكوفى رضي الله عنه رقم ٣٩٥٥، والدارقطنى فى سننه ج ٣ ص ٤٤، ٤٥، كتاب البيوع، رقم ١٨٦، وابن حجر فى المطالب العالية ج ١ ص ٣٩٤، ٣٩٥، كتاب البيوع، باب ما اذى المشركون به النبى ﷺ ونبانه على امره. رقم ٤٢٧٧. والبيهقى فى سننه الكبرى ج ١ ص ٨٦، كتاب الطهارة، باب الدليل على ان الكعبين هما الناتيان في جانبى القدم و ج ٢ ص ٢١، كتاب البيوع، باب جواز السلم الحال.

سرې په هغوی پسې شاته شاته روان وو چه په کانړو باندې ئې ویشتلو، د رسول الله ﷺ پوندې او ګیټې په وینو باندې ککړې شوې وې، هغه سړی به دا آواز کولو اې خلقو! د دې سړی خبره او نه منئ دا دروغژن دې، ما تپوس اوکړو دا څوك دې؟ خلقو اووې چه دا د بنی عبدالمطلب هلك دې او د بل سړی باره کښې مې تپوس اوکړو چه دا څوك دې نو وې وئیل چه د عبدالعزی ابو لهب دې.

علامه عینی رحمه الله فرمائی دا دې خبرې دلیل دې چه کعب هغه بهر راوتلې هډوکې دې کوم چه د قدم په طرف باندې وی ځکه چه کله تلونکې سړې د روستو نه په کانړی باندې ویشتلې شی نو د خپې وړاندې حصه باندې به نه لګی. (١)

هم دغه شان د سیدنا ابو سعید خدری رضي الله عنه حدیث دې:

﴿ ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: إِزْرَةُ الْمُسْلِمِ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ، وَلاَ حَرَجَ - أَوْ لاَ جُنَاحَ - فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَعْبَيْنِ، مَا كَانَ أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ فَهُوَ فِي النَّارِ ﴾ (٢) یعنی: د مسلمان پینسې تر نیمې پنډئ پورې وی، بیا د نیمې پنډئ او د دواړو ګیټو ترمینځه هم څه باك نشته، خو که د ګیټو نه ښکته شی نو هغه به جهنم ته ځی.

هم دغه شان رسول الله ﷺ سیدنا جابر بن سلیم رضي الله عنه ته اوفرمائیل: ﴿ وَارْفَعْ إِزَارَكَ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ، فَإِنْ أَبَيْتَ فَإِلَى الْكَعْبَيْنِ ﴾ (٣) یعنی: خپل پرتوګ د نصف ساق پورې اوچت ساته، که د دې نه انکار کوې نو بس د ګیټو پورې ساته.

امام نووی رحمه الله فرمائی چه د دې دواړو احادیثو نه صراحة معلومیږی چه د کعبین نه مراد د پنډئ نه لاندې هډوکې دې نه د ظهر قدم راوتلې هډوکې.(٤)

دریم: د عربیت د قاعدې په لحاظ سره به هم دلته د ﴿ کعبین ﴾ نه مراد ګیټئ وی، نه د ظهر قدم راوتلې هډوکې، ځکه چه چرته مقابلة الجمع بالجمع راځی هلته افراد لره په افرادو باندې تقسیم کوی لکه چه وئیلې شی ﴿ رکبوا دوابهم ﴾ د دې مطلب دا دې چه په خلقو کښې هر هر فرد په خپله سورلئ باندې سور شو

د دې په خلاف که مقابلة الجمع بالمثنی وی نو بیا د انقسام الاحاد علی الاحاد فائده نه حاصلیږی، بلکه هلته د تثنیه مقابله د هر هر فرد سره وی، لکه چه که اوئیلې شی ﴿ لبسوا ثوبین ﴾ نو مطلب به دا وی چه هر هر فرد دوه دوه کپړې واغوستلې.

چه هر کله په دې خبره پوهه شوې نو اوس په آیت وضوء کښې سوچ اوکړئ الله پاك دلته د

---

١) البنایة ج ١ ص ٧٠، کتاب الطهارة

٢) السنن لابی داؤد، کتاب اللباس، باب قدر موضع الازار، رقم: ٤٠٩٣

٣) السنن لابی داؤد، کتاب اللباس، باب ما جاء فی اسبال الازار، رقم: ٤٠٨٤

٤) تهذیب الاسماء واللغات ج ٤ ص ١١٦ ماده کعب)

جمعي الفاظ استعمال كړي دي پس ﴿ وجوه ﴾، ﴿ رؤوس ﴾، ﴿ ايدی ﴾ او ﴿ مرافق ﴾ جمع دی، لهذا دلته به د قاعدې مطابق انقسام الاحاد على الاحاد وی او مطلب به دا وی چه هر سړې دې خپل مخ وينځی، خپل لاس دې د څنګلو سره وينحی او د خپل سر مسح دې اوکړی، د دې نه معلومه شوه چه د مخ غسل فرض دې، هم دغه شان غسل يد واحدة مع المرفق الواحد فرض دې هم دغه شان د هر يو په خپل خپل سر باندې مسح کول فرض دی. هم دغه شان د مرفق مقابله چه د ايدی سره کړې شوې ده، د دې تقاضا دا ده چه په هر لاس کښې يو مرفق دې، او حال دا چه الله پاك د كعب بيان كولو سره د تثنيه صيغه استعمال كړه او مخكښې اسلوب ئې پريخودلو، لهذا دلته به دانقسام الاحاد على الاحاد په ځائې ﴿ مقابلة المثنى بكل فرد فرد من افراد الجمع ﴾ لحاظ ساتلي شی. ددې نه دا خبره په فهم كښې راغله چه په هره خپه كښې دوه كعب دی. او روافض چه څه ته كعب وائی په هغې كښې دتثنيه څه ګنجائش نشته. (۱) والله اعلم

ايا د امام محمد رحمه الله په نزد د كعب نه مراد د ظهر قدم والا لوړ هډوكې دې؟ بعض حضراتو د شيعه ګانو قول چه د كعب نه مراد د ظهر قدم والا لوړ هډوكې دې د دې نسبت د امام محمد رحمه الله طرف ته كړې دې. (۲)

خو دا نسبت اول خو الی غير محله دې، ځكه چه اصل كښې د امام محمد رحمه الله نه د محرِم په سلسله كښې نقل دی چه ﴿ اذا لم يجد النعلين فيقطع خفيه اسفل من الكعبين ﴾ يعنی چه كله نعلين نه وی نو خفين دې د كعبين نه لاندې پرې كولو سره استعمال كړی. دې بيان سره هغوی په خپل لاس سره د موضع قطع طرف ته اشاره اوكړه، دا خبره د هغوی شاګرد هشام رازی د طهارت په باب كښې نقل كړې ده. (۳)

بل به تاسو ته د دې تفصيل نه معلومه شوې وی چه دا نقل هم محتمل شان دې، ځكه چه امام محمد رحمه الله د موضع قطع طرف ته اشاره كولو سره ځنګه چه د كعبين نه لاندې لاس كيخودلو. هغه شان ئې د ظهر قدم والا راپورته شوی هډوكی طرف ته اشاره اوكړه، حال دا چه په دې هډوكی باندې د كعب اطلاق مقصود نه وو.

خپې به وينځلې شی كه مسح به پرې كولې شی؟ د علماء كرامو د مذهب تنقيح: خپې به وينځلې شی كه مسح به پرې كولې شی؟ په دې كښې څلور مذاهب دی؛

① اولنې مذهب د ائمه اربعه او جمهور اهل سنت والجماعة دې چه خپې به وينځلې شی.

② دويم مذهب د شيعه ګانو د فرقه اماميه دې چه د خپو وظيفه مسح ده نه غسل.

③ دريم مذهب د امام حسن بصری، محمد بن جرير طبری او ابو علی جبائی معتزلی دې چه

---

۱) السعاية فی كشف ما فی شرح الوقاية ج ۱ ص ۷۱

۲) قال فی شرح الوقاية (مع السعاية ج ۱ ص ۶۹) : ثم الكعب فی رواية هشام عن محمد هو المفصل الذی فی وسط القدم. عند معقد الشراك. لكن الاصح نها العظم الناتی الذی ينتهی اليه عظم الساق.

۳) اوګورئ: السعاية ج ۱ ص ۶۹

د غسل او مسح ترمينځه ورته اختيار دي.

④ څلورم مذهب د اهل ظاهر دې چه غسل او مسح دواړه واجب دی. (۱)

حافظ ابن القيم رحمه الله فرمائی چه دلته چه د تخيير بن الغسل والمسح په قائلين کښې د کوم ابن جرير ذکر کړې شوې دې د هغه نه مراد مشهور معروف امام ابن جرير نه دې بلکه دا يو شيعه مصنف دې، د مشهور محمد بن جرير د نوم او د پلار د نوم سره د اشتراك د وجې نه اشتباه پيدا شوه. هغوی فرمائی چه ما د دې شيعه ابن جرير ډېر کتابونه کتلې دی کوم چه په اصول او فروع کښې د مذهب شيعه سره متعلق دی. (۲)

د حافظ ابن حجر رحمه الله هم دا رائې معلوميږی، هم دغه شان علامه آلوسی رحمه الله هم دغه رجحان ظاهر کړې دې، د دې حضراتو د تصريح مطابق دا شيعه مصنف د امام ابن جرير طبری رحمه الله سره په نوم، د پلار په نوم او کنيت، نسبت او اکثر تصنيفات کښې يو شان دې، خو د نيکۀ په نوم سره دواړو کښې فرق راځی چه د اهل سنت د امام نوم محمد بن جرير بن يزيد طبری دې، او د هغه شيعه نوم محمد بن جرير بن رستم طبری دې. (۳)

خو حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائی چه د ابن جرير رحمه الله د مسلك په باره کښې بعض خلق وائی چه هغوی د احاديثو د وجې نه غسل رجلين ته واجب وئيلې دی او د قران کريم د آيت کريمه د وجې نه ئې مسح رجلين ته واجب وئيلې دی، نو دا د هغوی تحقيقی مذهب نه دې، د هغوی په تفسير کښې د هغوی د کلام کتلو نه معلوميږی چه په ﴿ رجلين ﴾ کښې د وجوب دلك قائل دی او هغوی د ﴿ دلك ﴾ نه په مسح سره تعبير کړې دې. والله اعلم

هم دغه شان حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائی چه ما د هغوی په کلام کښې غور اوکړو نو معلومه شوه چه هغوی د قراءت نصب او قراءت جر دواړو قراتونو ترمينځه د جمع او تطبيق راوستلو کوشش کړې دې، ګويا د جر قراءت ئې په مسح باندې محمول کړو او هغه د هغوی په نزد ﴿ دلك ﴾ دې او د نصب قراءت ئې په غسل باندې محمول کړې دې دغه شان ئې دواړه قراتونه جمع کړل

اګر چه امام ابن القيم رحمه الله د معروف ابن جرير انکار کړې دې او حافظ ابن کثير رحمه الله د ابن

---

۱) اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ۱ ص ۴۱۷، وعمدة القاری ج ۲ ص ۲۳۸، کتاب الوضوء، باب ما جاء فی الوضوء، وقول الله تعالی ﴿إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ﴾

۲) اوګورئ: تهذيب سنن ابی داؤد لابن القيم ج ۱ ص ۹۸، کتاب الطهارة، باب صفة وضوء النبی صلی الله عليه وسلم قال البنوری رحمه الله : وما قاله ابن القيم فغير متجه فان عبارة ابن جرير فيه ايهام لذلک، وقد کشف ابن کثير فی تفسيره عن الامر، وبين وجه النسبة اليه وما يوهم کلامه، ثم بين غرضه، فليراجع من المائدة وقد فهم القاضی ابوبکر ايضا من کلام ابن جرير هذا التخيير بين الغسل والمسح، کما قاله فی العارضة واحکام القران له،وکذلک غيرواحد من الاعلام،معارف السنن ج ۱ ص ۱۸۶، ابواب الطهارة باب ما جاء: ويل للاعقاب من النار.

۳) اوګورئ: لسان الميزان: ۲۶، ترجمة محمد بن جرير الطبری . رقم: (۶۵۷۹)، و: ۲۹۱۷، ترجمة محمد بن جرير بن رستم الطبری، رقم: (۶۵۸۰)، او اوګورئ: روح المعانی : ۷۸۱۶

جریر د مسلك په سلسله کښې تاویل کړې دې، خو ډیرو حضراتو د ابن جریر د عبارت هم دا مطلب اخستلې دې چه هغه د تخییر بین الغسل والمسح قائل دې. پس ابن العربی رحمه الله په احکام القران او عارضة الاحوذی کښې د دې تصریح کړې ده. (۱)

حاصل دا چه د اهل سنت والجماعة په نزد په خپې وینځلې شی، مسح جائز نه ده، او د روافض په نزد به په خپو مسح کولې شی او وینځلې به نه شی.

د دواړو ډلو دلائل به انشاء الله وړاندې په تفصیل سره راځی.

اودس چرته فرض شوې دې؟: بعض علماء کرام فرمائی چه اودس په مدینه منوره کښې مشروع شوې دې. پس د ابن الجهم مالکی رحمه الله وینا ده چه د هجرت نه مخکښې اودس کول بس مستحب وو، او امام ابن حزم رحمه الله جزما وئیلې دی چه اودس په مدینه منوره کښې مشروع شوې دې

آیت وضوء چونکه مدنی دې په دې وجه د دې آیت کریمه نه هغه خلقو استدلال کړې دې کوم چه وائی چه اودس د ټولو نه مخکښې په مدینه منوره کښې فرض شوې دې. (۲)

خو د دې نه مخکښې د دې کیفیت څه وو؟ ابن عبدالبر رحمه الله د اهل سیر په دې باندې اتفاق نقل کړې دې چه په رسول الله ﷺ باندې غسل جنابت د مانځه په شان په مکه کښې فرض شوې وو او په دې خبره هم اتفاق دې چه رسول الله ﷺ کله هم یو مونځ بغیر د اودس نه نه دې کړې، هم دغه شان هغوی فرمائی چه دا خبره د یو عالم نه هم پټه نه ده. (۳)

امام حاکم رحمه الله په مستدرك کښې فرمائی چه اهل سنت ته په دې خبره باندې د دلیل پیش کولو ضرورت دې چه د آیت مائده د نزول نه مخکښې هم اودس مشروع وو. (٤)

امام حاکم رحمه الله په دې سلسله کښې د سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما روایت نقل کړې دې:

﴿ دَخَلَتْ فَاطِمَةُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ تَبْكِي، فَقَالَ: يَا بُنَيَّةُ، مَا يُبْكِيكِ؟ قَالَتْ: يَا أَبَتِ مَالِي لَا أَبْكِي وَهَؤُلَاءِ الْمَلَأُ مِنْ قُرَيْشٍ فِي الْحِجْرِ يَتَعَاقَدُونَ بِاللَّاتِ وَالْعُزَّى وَمَنَاةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرَى لَوْ قَدْ رَأَوْكَ لَقَامُوا إِلَيْكَ فَيَقْتُلُونَكَ، وَلَيْسَ مِنْهُمْ رَجُلٌ إِلَّا وَقَدْ عَرَفَ نَصِيبَهُ مِنْ دَمِكَ، فَقَالَ: يَا بُنَيَّةُ، ائْتِنِي بِوَضُوءٍ فَتَوَضَّأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ ﴾ (۵)

یعنی: سیده فاطمه رضی الله عنها رسول الله ﷺ ته په ژړا باندې راغله، رسول الله ﷺ ترې تپوس اوکړو نو هغې عرض اوکړو چه زه به ولې نه ژاړم، حال دا دې چه د قریشو سرداران په حطیم کښې ولاړ په لات منات او عزی باندې قسم خوړلو سره عهد کوی چه کله هغوی تاسو وینی

---

۱) اوګورئ: معارف السنن ج ۱ ص ۱۸۶. اوګورئ: احکام القران لابن العربی: ج ۲ ص ۵۷۷، المسالة الجادیة والاربعون، وعارضة الاحوذی ج ۱ ص ۵۸، ابواب الطهارة، باب ما جاء: ویل للاعقاب من النار.

۲) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۲ - ۲۳۳

۳) اوګورئ: الاستذکار ج ۱ ص ۳۵۱، کتاب الطهارة، باب التیمم.

٤) المستدرک للحاکم ج ۱ ص ۱۶۳، کتاب الطهارة

۵) المستدرک للحاکم ج ۱ ص ۱۶۳، کتاب الطهارة

نو ستاسو د مقابلې دپاره به اودريږي او تاسو به قتل کړي. په هغوی کښې د هر يو سړي دا خواهش دې چه ستاسو په وينه کښې ورته ضرور څه حصه ملاؤ شي. رسول الله ﷺ اوفرمائيل: اې لورې! ماته د اودس دپاره اوبه راوړه، رسول الله ﷺ اودس اوفرمائيلو او د مسجد طرف ته اوتلو.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه په دې حديث سره به د هغه خلقو رد خو اوشي کوم چه د هجرة نه مخکښې د اودس د وجود نه هم انکار کوي خو د دې نه د اودس وجوب نه شي ثابت کيدې. (١).

ابن الجهم مالکی او ابن حزم باندې د يو بل روايت نه هم رد کيږي کوم چه ابن لهيعه په مغازي کښې د ﴿عن ابی الاسود يتيم عروة عن عروة﴾ په طريق سره مرسلا نقل کړې دې.

﴿ان جبريل علم النبی ﷺ الوضوء عند نزوله عليه بالوحی﴾ (٢)

يعني: سيدنا جبرائيل عليه السلام رسول الله ﷺ ته هغه وخت اودس ښودلې وو چه کله هغه وحی راوړلو سره نازل شوې وو

دا روايت امام احمد رحمه الله د ابن لهيعه په طريقه سره ﴿عن الزهری عن عروة عن اسامة بن زيد عن ابيه﴾ په سند سره موصولا تخريج کړې دې. (٣)

هم دغه شان امام احمد او د هغوی ځوئی عبدالله رحمه الله د ﴿الهيثم بن خارجة عن رشدين بن سعد عن عقيل عن الزهری عن اسامة بن زيد عن النبی ﷺ﴾ په سند سره حديث نقل کړې دې ﴿ان جبريل لما نزل على النبی ﷺ فعلمه الوضوء﴾ (٤) په دې کښې د سيدنا زيد بن حارثه رضی الله عنه ذکر نشته. په دې طريق کښې رشدين بن سعد ضعيف راوی دې. (٥)

امام ابن ماجه رحمه الله هم په خپل سنن کښې دا حديث ﴿حسان بن عبدالله، حدثنا ابن لهيعة، عن عقيل، عن الزهری، عن عروة قال حدثنا اسامة بن زيد، عن ابيه زيد بن حارثة﴾ په طريق سره تخريج کړې دې. (٦) په دې کښې هم د ابن لهيعة واسطه موجود ده.

---

١) فتح الباری ج ١ ص ٢٣٣.
٢) فتح الباری ج ١ ص ٢٣٣
٣) اوګورئ: مسند احمد ج ٤ ص ١٦١، رقم ١٧٦١٩، حديث زيد بن حارثه رضی الله عنه
٤) مسند احمد ج ٥ ص ٢٠٣، رقم ٢٢١١٤، حديث اسامة بن زيد، حب رسول الله ﷺ
٥) قال الهيثمی فی مجمع الزوائد ج ١ ص ٢٤٢، كتاب الطهارة، باب نضح الفرج بعد الوضوء، وفيه رشدين بن سعد، وثقه هيثم بن خارجه واحمد بن حنبل فی رواية وضعفه اخرون. قال الحافظ فی تقريب التهذيب ص ٢١٠و رقم ١٩٤٢ : ضعيف، رجح ابو حاتم عليه ابن لهيعة، وقال ابن يونس كان صالحا فی دينه، فادركته غفلة الصالحين فخلط فی الحديث.
٦) سنن ابن ماجة، كتاب الطهارة، باب ما جاء فی النضح بعد الوضوء رقم ٤٦٢.
تنبيه: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائيلې دی: واخرجه ابن ماجة من رواية رشدين بن سعد..(بقيه برصفحه آئنده..

خو امام طبرانی رحمه الله په المعجم الاوسط کښې د ﴿ سعید بن شرحبیل قال : حدثنا اللیث بن سعد، عن عقیل عن ابن شهاب، عن عروة عن اسامة بن زید عن ابیه زید بن حارثة ﴾ په طریق سره حدیث ذکر کړې دې، په دې کښې نه خو رشدین بن سعد دې او نه ابن لهیعة. (۱)

خو امام طبرانی رحمه الله فرمائی ﴿ لم یروا هذا الحدیث عن اللیث الا سعید بن شرحبیل، والمشهور من حدیث ابن لهیعة ﴾(۲) یعنی : دې حدیث لره د لیث نه نقل کونکې سعید بن شرحبیل دې، خو دا حدیث د ابن لهیعة په طریق سره مشهور دې.

هم دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : ﴿ ولو ثبت لکان علی شرط الصحیح ولکن المعروف روایة ابن لهیعة ﴾(۳) یعنی : که دا طریق ثابت شی نو دا حدیث به د صحیح د شرط مطابق شی خو دا روایت د ابن لهیعة نه معروف دې.

ایا د وخت د داخلیدو نه مخکښې اودس صحیح دې ؟ بعض حضراتو د آیت کریمه ﴿ اذا قمتم الی الصلاة فاغسلوا ﴾ نه په دې باندې استدلال کړې دې چه اودس صرف د وخت د داخلیدو نه پس صحیح دې. د وخت د داخلیدو نه مخکښې صحیح نه دې. (٤)

خو جمهور فرمائی چه د وخت د داخلیدو نه مخکښې اودس بالکل صحیح دې.

هر چه د آیت کریمه نه د استدلال تعلق دې نو هغه په دې وجه صحیح نه دې چه په دې آیت کریمه کښې صلاة د فرض سره نه دې مقید کړې شوې بلکه د امت په اتفاق سره د صلاة نه هر قسم مونځونه مراد دی که فرض وی او که نفل وی، لهذا چه کله نوافل د وخت سره مقید نه دی نو اودس هم د هغې سره نه شی مقید کیدلې. (۵)

د دې نه علاوه په دې خبره باندې د ټولو اتفاق دې چه مونځ په اول وخت کښې یعنی د وخت د داخلیدو سره ادا کول جائز دی او په اول وخت کښې ادا کول ئې صرف په هغه صورت کښې ممکن دی چه کله اودس د وخت د داخلیدو نه مخکښې کړې شوې وی. (۶)

هم دغه شان د جمعې په فضائلو کښې د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه حدیث نقل دې!

.....بقیه از صفحه گذشته)... عن عقیل، عن الزهری نحوه لکن لم یذکر زید بن حارثة فی السند. فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۳. خو په ظاهر کښې حافظ رحمه الله د تسامح سره مخ شوې دې. ځکه چه ابن ماجه د رشدین بن سعد والا طریق نه دې ذکر کړې. بلکه هغوی د ابن لهیعه په طریق سره حدیث ذکر کړې دې. لکه چه پورته په متن کښې د سیاق نه معلومه ده. د رشدین والا طریق امام احمد رحمه الله نقل کړې دې. چه د هغې پورته ذکر راغلې دې. والله اعلم

۱) المعجم الاوسط للطبرانی ج ٤ ص ۱۷٤، رقم الحدیث ۳۹۰۱

۲) پورته حواله

۳) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۳

٤) اوګورئ : المحلی لابن حزم ج ۱ ص ۷٤، کتاب الطهارة، الوضوء قبل الوقت مسالة ۱۱۲

٥) پورته حواله

٦) پورته حواله

﴿ مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غُسْلَ الْجَنَابَةِ ثُمَّ رَاحَ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الْخَامِسَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً فَإِذَا خَرَجَ الإِمَامُ حَضَرَتِ الْمَلاَئِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ ﴾ (اللفظ للبخاری)(۱) **يعنی** : څوك چه د جمعې په ورځ باندې د غسل جنابة په شان غسل اوکړی او بیا د جمعې دپاره لاړ شی نو ګویا هغه یو اوښ قربانی کړو، څوك چه په دویم ساعت کښې لاړ شی نو ګویا هغه د غوا قربانی ورکړه، څوك چه په دریم ساعت کښې لاړ شی نو هغه ته په د ښکرو والا ګډ قربانی کولو ثواب ملاویږی، څوك چه په څلورم ساعت کښې لاړ شی نو هغه ته به د چرګې د صدقه کولو ثواب ملاویږی، او څوك چه په پنځم ساعت کښې لاړ شی نو هغه ته په د اګۍ د صدقه کولو ثواب ملاویږی، بیا چه کله امام (د خطبې دپاره) راوځی نو ملائك هم ذکر او خطبه اوری.

ظاهره دا ده چه د جمعې دپاره حاضرین د وخت نه مخکښې ځی او ذکر شوې ثواب حاصلوی.(۲)

قوله: قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ وَبَيَّنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ فَرْضَ الْوُضُوءِ مَرَّةً مَرَّةً وَتَوَضَّأَ أَيْضًا مَرَّتَيْنِ وَثَلاَثًا: امام بخاری رحمه الله فرمائی چه رسول الله ﷺ بیان اوفرمائیلو چه په اودس کښې د اودس د اندامونو یو یو کرت وینځل فرض دی، رسول الله ﷺ دوه دوه کرته او درې درې کرته هم وینځلي دی.

د ذکر شوې عبارت غرض : د امام بخاری رحمه الله په دې عبارت سره غرض دا دې چه په آیت مبارکه کښې ﴿ فاغسلوا ﴾ د امر صیغه ده او د امر په ذریعه دا مطالبه کولې شی چه هغه مامور به ته د حقیقت جامه واغوندی، په هغې کښې د ﴿ مرة ﴾ قید نه وی، نه موجب تکرار وی او نه د تکرار احتمال لری، چونکه امر صرف د ایجاد حقیقت د طلب دپاره راځی په دې وجه د آیت کریمه نه دا یوه خبره هم نه ثابتیږی، خو د رسول الله ﷺ د سنت نه به د دې شرح او تفسیر معلومیږی.

امام بخاری رحمه الله د دې مطابق فرمائی چه رسول الله ﷺ په خپل فعل سره دا بیان اوکړو چه یو یو کرت وینځل فرض دی د دې نه علاوه سنت. (۳)

---

۱) صحيح البخاری ج ۱ ص ۱۲۱و كتاب الجمعة، باب فضل الجمعة، رقم ۸۸۱ وصحيح مسلم، كتاب الجمعة، باب الطيب والسواك يوم الجمعة، رقم ۱۹۶۴، وسنن النسائی، كتاب الجمعة، باب وقت الجمعة، رقم ۱۳۸۹، وسنن ابی داؤد، كتاب الطهارة، باب فی الغسل يوم الجمعة، رقم ۳۵۱، وجامع الترمذی، ابواب الجمعة، باب ما جاء فی التبكير يوم الجمعة، رقم ۴۹۹، ومسند احمد ج ۲ ص ۴۶۰، رقم ۹۹۲۸.

۲) د تفصيل دپاره اوګورئ : المحلى لابن حزم ج ۱ ص ۷۴- ۷۶، كتاب الطهارة، الوضوء قبل الوقت، مسالة ۱۱۲.

۳) اوګورئ : فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۳

پس امام بخاري رحمه الله ﴿ وبين النبي ﷺ ان فرض الوضوء مرة مرة ﴾ د تعليق په صورت كښې ذكر كړې دې. وړاندې هغوى باب قائم كړې دې، ﴿ باب الوضوء مرة مرة ﴾ او د هغې د لاندې ئې د ابن عباس رضي الله عنهما مرفوع حديث نقل كړې دې ﴿ توضاء النبي ﷺ مرة مرة ﴾ (١)

هم دغه شان ئې باب قائم فرمائيلې دې ﴿ باب الوضوء مرتين مرتين ﴾ او د هغې د لاندې ئې د سيدنا عبدالله بن زيد رضي الله عنه حديث نقل كړې دې. ﴿ ان النبي ﷺ توضاء مرتين مرتين ﴾ (٢)

هم دغه شان ئې د هغې نه روستو باب قائم كړې دې ﴿ باب الوضوء ثلاثا ثلاثا ﴾ او د هغې د لاندې ئې د سيدنا عثمان رضي الله عنه تفصيلي حديث بيان كړې دې، چه په هغې كښې هغوى درې درې كرته د اودس اندامونه وينځلې دى او فرمائى چه رسول الله ﷺ هم دغه شان اودس كولو سره د دې فضيلت بيان اوفرمائيلو. (٣) والله اعلم

امر د تكرار تقاضه كوى يا نه؟ د علماء اصول په دې خبره كښې اختلاف دې چه ايا امر د تكرار تقاضه كوى يا نه؟

د احنافو اوحنابله په نزد امرمطلق د تكرار تقاضه نه كوى او نه پكښې د تكرار احتمال شته. ابن بدران. رازى. امدى. ابن الحاجب او بيضاوى رحمهم الله هم دا قول اختيار كړې دې، د علامه ابن السبكى رحمه الله د رائې مطابق د اكثر شوافع هم دا مذهب دې.

قاضى عبدالوهاب د اكثر مالكيانو او ابو اسحاق شيرازى د اكثر شوافع مذهب دا نقل كړې دې چه امر په مرة واحدة باندې دلالت كوى او په هغې كښې د تكرار احتمال دې.

ابو حامد اسفرائينى، ابو اسحاق شيرازى نه علاوه د فقهاء او متكلمينو د يو جماعت رائې دا ده چه امر په تكرار باندې دلالت كوى.

او د يو جماعت په نزد په دې كښې توقف لازم دې، لهذا امر د مرة واحدة دپاره وضع كړې شوې دې يا پكښې د تكرار احتمال دې يا په دې باندې مكررا عمل لازم دې، د دې ټولو امورو نه به توقف كولې شى. (٤)

قوله: وَلَمْ يَزِدْ عَلَى ثَلَاثٍ: رسول الله ﷺ په درې كرته وينځلو باندې اضافه نه ده فرمائيلې.

بلكه په درې كرتو باندې اضافه كولو نه حديث كښې منع راغلې ده، د سيدنا عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما حديث په ابوداؤد شريف كښې دې:

---

١) صحيح البخارى ج ١ ص ٢٧، رقم ١٥٧

٢) صحيح البخارى ج ١ ص ٢٧، رقم ١٥٨

٣) صحيح البخارى ج ١ ص ٢٧، ٢٨، رقم ١٥٩

٤) د مسئلې د تفصيل دپاره اوګورئ: التقرير والتحبير ج ١ ص ٣٧١ – ٣٧٥، وفواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت ج ١ ص ٤٠٦ – ٤١١، وكشف الاسرار ج ١ ص ١٨٤- ١٩٩، والفصول فى الاصول ج ٢ ص ١٣٣- ١٤٤، والاحكام للامدى ج ٢ ص ١٧٣- ١٨٠، واصول الفقه الاسلامى ج ١ ص ٢٢٤ - ٢٢٦

﴿ أَنَّ رَجُلاً أَتَى النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ الطُّهُورُ فَدَعَا بِمَاءٍ فِي إِنَاءٍ فَغَسَلَ كَفَّيْهِ ثَلَاثًا ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ غَسَلَ ذِرَاعَيْهِ ثَلَاثًا ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ فَأَدْخَلَ إِصْبَعَيْهِ السَّبَّاحَتَيْنِ فِي أُذُنَيْهِ وَمَسَحَ بِإِبْهَامَيْهِ عَلَى ظَاهِرِ أُذُنَيْهِ وَبِالسَّبَّاحَتَيْنِ بَاطِنَ أُذُنَيْهِ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ ثَلَاثًا ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ: هٰكَذَا الْوُضُوْءُ فَمَنْ زَادَ عَلَى هٰذَا أَوْ نَقَصَ فَقَدْ أَسَاءَ وَظَلَمَ ﴾ (١)

یعنی یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو یا رسول الله ﷺ د اودس طریقه څه ده؟ رسول الله ﷺ په یو لوښی کښې اوبه راطلب کړې، خپل لاسونه مبارک ئې درې کرته وینځل، بیا ئې خپل مخ مبارک درې کرته وینځلو. بیا ئې خپل لاسونه درې کرته وینځلو بیا ئې په خپل سر مبارك باندې مسح اوکړه، د خپل شهادت ګوتې ئې په غوږونو مبارکو کښې دننه کړې، د غوږونو پورته حصه ئې په خپلو غټو ګوتو باندې او دننه حصه ئې د شهادت په ګوتو سره مسح کړهو بیا ئې دواړه خپې درې درې کرته وینځلې، د دې نه پس ئې اوفرمائیل چه اودس به داسې کولې شی، څوك چه په دې باندې زیادت کوی یا په دې کښې کمې کوی نو هغه بد کوی او ظلم کوی.

دا حدیث د ﴿ عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ﴾ په سند سره نقل دې، په دې سند باندې اګر چه محدثینو کافی کلام کړې دې، خو اکثر حضرات دا سند تسلیم کوی او حجت ئې منی، پس حافظ ابن حجر رحمه الله د دې حدیث په باره کښې فرمائی ﴿ اسناده جید ﴾(٢)

خو امام مسلم رحمه الله دا حدیث د ﴿ عمرو بن شعیب ﴾ د منکر روایاتو نه شمارلې دې. (٣) ځکه چه د رسول الله ﷺ نه د درې نه کم، یعنی یو کرت او دوه کرته وینځلو باندې اکتفاء هم ثابت ده. بیا رسول الله ﷺ د هغې فاعل ته مسئ او ظالم څنګه وئیلې شی؟

غالبا د امام مسلم رحمه الله مقصد پوره حدیث لره منکر شمارل نه دی بلکه په دې کښې د ﴿ او نقص ﴾ الفاظو زیادت لره منکر شمارل دی، ځکه چه دا حدیث امام نسائی، امام ابن ماجه او امام احمد رحمهم الله هم نقل کړې دې او په دې کښې د ﴿ او نقص ﴾ الفاظ نشته. (٤)

اګر چه شارحینو د ﴿ او نقص ﴾ تاویل او توجیهات (٥) بیان کړې دی، خو اصل وجه هم دا ده چه دا د راوی وهم دې.

---

١) السنن لابی داؤد، کتاب الطهارة، باب الوضوء ثلاثا ثلاثا رقم ١٣٥.
٢) فتح الباری ج ١ ص ٢٣٣
٣) پورته حواله
٤) اوګورئ: سنن النسائی، کتاب الطهارة باب الاعتداء فی الوضوء، رقم ١٤٠، وسنن ابن ماجة کتاب الطهارة، باب ما جاء فی القصد وکراهة التعدی فیه، رقم ٤٢٢، ومسند احمد ج ٢ ص ١٨٠، مسند عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما رقم ٦٦٨٤.
٥) د دې تاویلات او توجیهات د پاره اوګورئ: عون المعبود ج ١ ص ٢٢٧ تا ٢٢٩، کتاب الطهارة، باب الوضوء ثلاثا ثلاثا، وبذل المجهود ج ١، ص ٥٩٧، بتحقیق وتعلیق الدکتور تقی الدین الندوی.

د اودس اندامونو لره د درې کرتو نه زيات وينځلو حکم: امام احمد رحمه الله فرمائي:

﴿لايزيد على الثلاث الارجل مبتلى﴾(۱) يعني: د درې کرته نه زيات اندامونو لره وينځلو والا په د وسوسې په بيمارئ کښې اخته سړې وي.

امام عبد الله بن المبارك رحمه الله فرمائي: ﴿لا آمن من ازداد على الثلاث ان يأثم﴾(۲)

يعني ځوك چه د درې کرتو نه زيات اندامونو لره وينځي ماته د هغه د ګناهګاريدو ويره ده.

امام نووی رحمه الله د شوافع درې وجوه ذکر کړې دی. ① زيادت على الثلاث حرام دې.

② زيادت على الثلاث نه حرام دې او نه مکروه دې، خو خلاف اولى دې.

③ زيادت على الثلاث مکروه تنزيهى دې.

امام نووی رحمه الله هم دې اخرى قول ته ترجيح ورکړې ده او فرمائي: ﴿وهو الصحيح، بل الصواب، تكره كراهة تنزيه، فهذا هو الموفق للاحاديث، وبه قطع جماهير الاصحاب﴾(۳)

يعني: هم دا خبره صحيح ده، بلکه حقه خبره ده چه کراهت تنزيهى دې، د احاديثو موافق هم دا قول دې او اکثر اصحاب هم دې ته قطعى وئيلې ده.

د احنافو په نزد د زيادة على الثلاث حکم څه دې؟: په خلاصه او تاتارخانيه کښې دی چه ﴿لو زاد على الثلاث فهو بدعة﴾(٤) يعني زيادة على الثلاث بدعة دې.

علامه شامى رحمه الله د مختلف اقوالو نقل کولو نه پس فرمائي: ﴿ويمكن التوفيق بما قدمناه من أنه إذا فعل ذلك مرة لا يكره ما لم يعتقده سنة وإن اعتاده وأصر عليه يكره وإن اعتقد سنية الثلاث إلا إذا كان لغرض صحيح﴾(۵)

يعني: که د درې کرتو نه زيات وينځل يو کرت مونډلې شوې وى نو ترڅو چه هغه سنت نه ګڼړی هيڅ کراهت نشته او که هم دغه شان په اضافې کولو باندې عادت شوې وى او په دې عمل باندې اصرار کوى نو بيا په هر صورت مکروه دې، اګر چه د درې کرته د سنت کيدو عقيده ئې هم وى، مګر دا چه د يو غرض صحيح د لاندې داسې کوى نو بيا کراهت نشته.

حافظ ابن حجر رحمه الله ليکلې دی: ﴿حكى الدارمى عن قوم ان الزيادة على الثلاث تبطل الوضوء كالزيادة فى الصلاة﴾(٦)

---

۱) المغنى لابن قدامة ج ۱ ص ۹۵ رقم ۱۸۵

۲) پورته حواله

۳) المجموع ج ۱ ص ٤۳۹

٤) انظر الفتاوى التاتارخانيه ج ۱ ص ۲۲۳، کتاب الطهارة، الفصل الاول، رقم ۱۰٤، والسعاية ج ۱ ص ۱۳۲، تحت قوله: وتثليث الغسل، البحث السابع.

۵) رد المحتار ج ۱ ص ۸۹ و تحت شرح قوله: وحديث فقد تعدى ...

٦) فتح البارى ج ۱ ص ۲۳٤

يعنى : څنګه چه په مانځه كښې اضافي كولو سره مونځ فاسد كيږي، هم دغه شان په اودس كښې هم د درې كرتو نه زيات اضافي كولو سره اودس ماتيږي.

قوله: وَكَرِهَ أَهْلُ الْعِلْمِ الْإِسْرَافَ فِيهِ وَأَنْ يُجَاوِزُوا فِعْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: **ترجمه** : اهل علم په اودس كښې اسراف مكروه ګڼړلې دې او دا چه د رسول الله ﷺ د فعل نه تجاوز اوكړې شي.

د زيادة على الثلاث حكم خو مخكښې تير شو، دلته مصنف رحمه الله د اسراف فى الماء مسئلې ته اشاره كړې ده.

اسراف فى الماء : دا مسئله مختلف فيها ده، په دې كښې دوه اقوال دى.

صاحب بحر او صاحب د در مختار خو ورته مكروه تحريمى وائى (۱)، او د علامه شامى رحمه الله رائې دا ده چه دا كار مكروه تنزيهى دې. (۲)

خودا اختلاف په ماء مباح اوماء مملوك كښې دې، كه وقف اوبه وى نو بالاتفاق حرام دې.(۳)

د شوافع هم دوه قوله دى، د هغوى راجح او مشهور قول دا دې چه مكروه تنزيهى دې، خو د هغوى نه بغوى او متولى وائى چه اسراف حرام دې. (٤)

حنابله هم د اسراف فى الماء د كراهت تصريح كړې ده، پس ابن قدامه رحمه الله فرمائى :

«ويكره الاسراف فى الماء والزيادة الكثيرة فيه»(۵)

يعنى : په اوبو كښې اسراف او زيادت كثيره مكروه دې.

د سيدنا عبدالله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما نه روايت دې چه :

«أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِسَعْدٍ وَهُوَ يَتَوَضَّأُ، فَقَالَ: مَا هَذَا السَّرَفُ؟ فَقَالَ: أَفِي الْوُضُوءِ إِسْرَافٌ؟ قَالَ: نَعَمْ، وَإِنْ كُنْتَ عَلَى نَهَرٍ جَارٍ»(۶)

---

۱) انظر : البحر الرائق ج ۱ ص ۲۹، سنن الوضوء. قال فى الدر : ومكروهه (والاسراف) ومنه الزيادة على الثلاث (فيه) تحريما .... قال الشامى : قوله تحريما الخ : نقل ذلک فى الحلبة عن بعض المتاخرين من الشافعية. وتبعه عليه فى البحر وغيره... انظر رد المحتار ج ۱ ص ۹۷، ۹۸.

۲) اوګورئ: رد المحتار ج ۱ ص ۹۸

۳) قال فى الدر ج ۱ ص ۹۷، ۹۸ : وأما الموقوف على من يتطهر به ومنه ماء المدارس فحرام. قال فى رد المحتار ج ۱ ص ۹۸ : قوله (فحرام) لأن الزيادة غير مأذون بها لأنه إنما يوقف ويساق لمن يتوضأ الوضوء الشرعى ولم يقصد إباحتها لغير ذلک حلية. وينبغى تقييده بماء ليس بجار كالذى فى الصهريج أو حوض أو نحو إبريق أما الجارى كماء مدارس دمشق وجوامعها فهو من المباح كماء النهر كما أفاده الرحمتى.

٤) المجموع ج ۲ ص ۱۹۰

۵) المغنى لابن قدامة ج ۱ ص ۱٤۲. فصل : وان زاد على المد فى الوضوء والصاع فى الغسل جاز.

۶) سنن ابن ماجة. كتاب الطهارة. باب ما جاء فى القصد فى الوضوء وكراهية التعدى فيه. رقم ٤۲۵. هم دغه شان اوګورئ. مسند احمد ج ۲ ص ۲۲۱، مسند عبدالله بن عمرو رقم (۷۰۶۵)

يعنى : رسول الله ﷺ په سيدنا سعد رضي الله عنه باندې ورتير شو، هغوى اودس كولو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل دا څنګه اسراف دې؟ سعد رضي الله عنه عرض اوكړو ايا په اودس كښې هم اسراف وى؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل : اګر چه ته په جارى نهر باندې اودس ولې نه کوې.

د سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې : «رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلاً يَتَوَضَّأُ، فَقَالَ : لاَ تُسْرِفْ، لاَ تُسْرِفْ»(۱) يعنى : رسول الله ﷺ يو سړې په اودس كولو باندې اوليدو، وې فرمائيل چه اسراف مه كوه، اسراف مه كوه، والله سبحانه وتعالى اعلم

د اودس په اندامونو كښې د تثليث فى الغسل حكم د اودس په اندامونو كښې درې كرته د وينځلو حكم وركولې شى. په دې كښې د فرض او سنت په تعيين كښې اختلاف دې.

يو قول دا دې چه يو كرت وينځل فرض دى، دويم كرت وينځل سنت دى، او دريم كرت وينځل د هغې د تكميل دپاره دى.

يو قول دا دې چه اول كرت وينځل خو فرض دى، باقى دواړه كرته سنت دى.

يو قول دا دې چه دويم كرت وينځل سنت دى او دريم كرت نفل دى.

يو قول د دې برعكس دې چه دويم كرت وينځل نفل او دريم كرت وينځل سنت دى.

د ابوبكر الاسكاف رحمه الله نه نقل دى چه درې واړه كرته وينځل فرض دى.

علامه ابن الهمام رحمه الله په فتح القدير كښې ليكلې دى چه «الحق هو ان مجموع الثانية والثالثة سنة واحدة» يعنى دويم كرت او دريم كرت د دواړو مجموعه سنت ده. هم دا خبره صاحب بحر اختيار كړې ده

صاحب د السراج الوهاج فرمائى چه اول كرت خو وينځل فرض دى او دويم او دريم كرت وينځل ئې سنت مؤكده دى. (۲) والله اعلم

ايا تثليث سنت نه دې؟ : علامه ابن العربى رحمه الله په احكام القران كښې ذكر كړې دى چه د امام مالك رحمه الله په نزد تثليث فى نفسه مسنون نه دې، بلكه دا تثليث د استيعاب په غرض سره مشروع دى. هم دا وجه ده چه امام مالك رحمه الله يو عدد ته هم مسنون نه دې وئيلې. (۳) خو د ابن العربى رحمه الله دا قول قابل تسليم نه دې، ځكه چه اول خو جمهور علماء هم دا فرمائى چه نفس تثليث فى الغسل مسنون دې.

ددې نه علاوه په حديث شريف كښې چه هر كله دا وضاحت دې چه رسول الله ﷺ د اودس اندامونه يو يو كرت هم وينځلې دى نو ظاهره هم دا ده چه دا اودس به استيعاب سره وى، ځكه چه كه د وينښته برابر ځائې هم اوچ پاتې شوې وى نو اودس نه كيږى او په دې سره به مونځ صحيح نه وى.

---

۱) سنن ابن ماجة، كتاب الطهارة، باب ما جاء فى القصد فى الوضوء وكراهية التعدى فيه رقم ۴۲۴.
۲) اوګورئ: السعاية ج ۱ ص ۱۳۱، البحث الخامس
۳) اوګورئ: احكام القران لابن العربى ج ۲ ص ۵۸۲، المسالة الثامنة والاربعون

بیا په مضمضمه او استنشاق کښې بالاتفاق تثلیث مستحب دې، حال دا چه په مضمضه او استنشاق کښې په یوکرت استیعاب حاصلیدل یقیني دي، که تثلیث فی نفسه خپله یو امر مستحب او مستحسن بالذات نه وي نو دلته به تثلیث ولې وي. (۱)

۲ بَاب لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ بِغَيْرِ طُهُورٍ

د مخکښې باب سره مناسبت : امام بخاری رحمه الله د مخکښې باب ﴿ باب ما جاء فی الوضوء ﴾ نه د اودس فرضیت ثابت کړې وواو په دې باب کښې دا بیانوی چه اودس د مانځه دپاره شرط دې او په دې کښې د چا هیڅ اختلاف نشته.

د ترجمة الباب مقصد : هم د دې ځائې نه د ترجمة الباب مقصد هم واضح شو چه امام بخاری رحمه الله د ذکر شوی باب نه د اودس فرضیت یا د اودس شرطیت ثابتول غواړی. (۲)

د حدیث شریف نه د ترجمة الباب انعقاد : دلته امام بخاری رحمه الله د یو حدیث ټکړه د ترجمة الباب په طور ذکر کړې ده، کومه چه امام مسلم، امام ترمذی او امام ابن ماجه رحمهم الله د سیدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما او امام ابوداؤد، امام نسائی او ابن ماجه رحمهم الله د سیدنا اسامه بن عمیر هذلی رضي الله عنه نه نقل کړې ده. (۳)

د هغې یوه ټکړه خو دلته امام بخاری رحمه الله ذکر کړې ده ﴿ لا تقبل صلاة بغير طهور ﴾ او دویمه ټکړه ﴿ لایقبل الله صدقة من غلول ﴾ ئې په کتاب الزکاة کښې نقل کړې ده. (٤)

او دا خبره د امام بخاری رحمه الله د اصول مطرده نه ده چه هغه د ترجمة الباب په طور کله لفظ حدیث هم راوړی، چه د هغې مطلب دا وی چه حدیث فی نفسه ثابت دې، اګر چه د امام بخاری رحمه الله د شرط مطابق نه دې. (۵)

﴿ لا تقبل صلاة بغير طهور ﴾ قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه دا حدیث د وجوب طهارت په سلسله کښې نص دې. د فرض مونځ دپاره د دې په وجوب کښې هیڅ اختلاف نشته. (۶)

خو ابو عبدالله ابی رحمه الله په دې باندې اشکال کړې دې چه په حدیث کښې اودس د قبول دپاره شرط دې او قبول اخص دې د صحت په مقابله کښې او کوم چه د اخص دپاره شرط وی نو ضروری نه ده چه هغه دې د اعم دپاره هم شرط وی، دلته قبول اخص دې، ځکه چه د دې

---

۱) اوګورئ : فضل الباری ج ۲ ص ۲۰۷

۲) اوګورئ: الکنز المتواری فی معادن لامع الدراری وصحیح البخاری ج ۳ ص ۸

۳) اوګورئ : صحیح مسلم، کتاب الطهارة، باب وجوب الطهارة للصلاة، رقم ۵۳۵، وجامع الترمذی، فاتحة کتاب الطهارة، باب ما جاء : لا تقبل صلاة بغير طهور رقم ۱، وسنن ابن ماجة، کتاب الطهارة، باب لا يقبل الله صلاة بغير طهور، رقم ۲۷۲، هم دغه شان اوګورئ : سنن النسائی، کتاب الطهارة، باب فرض الوضوء، رقم ۱۳۹، وسنن ابن ماجة، کتاب الطهارة، باب لا يقبل الله صلاة بغير طهور، رقم ۲۷۱.

٤) اوګورئ : صحیح البخاری ج ۱ ص ۲۵، رقم الباب ۲ و ج ۱ ص ۱۸۹، رقم الباب ۷.

۵) اوګورئ : مقدمة لامع الدراری (الکنز المتواری) ج ۱ ص ۳۵۱

۶) اوګورئ : اکمال المعلم ج ۲ ص ۱۰

معنى ده: حصول الثواب على الفعل او "صحت" اعم دې، ځكه چه ددې معنى ده: ﴿ وقوع الفعل مطابقا للامر﴾ لهذا هر مقبول صحيح دې، دغه شان د دې برعكس د هر صحيح مقبول كيدل ضرورى نه دى، دلته د شرط طهارت د انتفاء سره چه د كوم څيز نفى كيږى هغه قبول دې صحت نه دې او چه هر كله صحت منتفى شوې نه دې نو د حديث نه به په وجوب طهارت باندې استدلال هم صحيح نه وى. (١)

د دې اشكال جواب دا دې چه د لفظ قبول حقيقى او اصل معنى ده ﴿ ثمرة وقوع الطاعة مجزئة رافعة لما فى الذمة ﴾ يعنى داسې اطاعت كوم چه كافى وى او د ذمه نه انسان برى كړى، په هغې چه كومه ثمره مرتب كيږى هغې ته قبول وئيلې شى او د طاعت كافى كيدل او د هغې رافع للذمة كيدل په دې خبره باندې موقوف دى چه هغه شرائط او اركان لره جامع وى، د طاعت شرائط او اركان لره جامع كيدل د هغې د موجب كافى كيدو مظنه دې، بل طرف ته صحت مظنه قبول دې. نو چونكه صحت مظنه قبول دې او قبول په صحت باندې مرتب كيږى. په دې وجه قبول وئيلو سره دلته د صحت معنى مراد اخستلې شوې ده. (٢)

حاصل د دې دا دې چه: د قبول دوه قسمونه دى.

يو دا چه ﴿ ان يكون الشئ مستجمعا للاركان والشرائط ﴾ يعنى د يو څيز ټولو اركانو او شرطونو لره جامع كيدل. صحت او اجزاء د هغې مترادف دى هم دې ته قبول اجابت وئيلې شى. (٣)

دويم دا چه ﴿ كون الشئ يترتب عليه من وقوعه عند الله جل ذكره، موقع الرضاء، ويترتب عليه الثواب والدرجات ﴾ يعنى د يو څيز د الله پاك په نزد د هغه د رضا په مقام باندې واقع كيدل، په څه باندې چه ثواب او د درجاتو اوچتولې مرتب وى.

دا دويمه مرتبه د اولې مرتبې نه روستو ده. هم دې ته قبول اثابت وئيلې شى. (٤)

لفظ قبول د شارع په نطق كښې د دواړه قسم معانى دپاره مستعمل شوې دې، پس د سيده عائشه رضي الله عنها مرفوع روايت دې ﴿ لايقبل الله صلاة حائض الا بخمار(٥) ﴾

---

١) اوګورئ: اكمال المعلم ج ٢ ص ٧

٢) فتح البارى ج ١ ص ٢٣٥

٣) انظر: تعليقات الشيخ الكاندهلوى رحمه الله تعالى على بذل المجهود ج ١ ص ٣٥٨، كتاب الطهارة، باب فرض الوضوء

٤) د تفصيل دپاره اوګورئ: معارف السنن ج ١ ص ٢٩، ٣٠، ابواب الطهارة، باب ما جاء: لا تقبل صلاة بغير طهور ... هم دغه شان اوګورئ: تعليقات شيخ الحديث رحمه الله عليه على بذل المجهود. ج ١ ص ٣٥٨، كتاب الطهارة، باب فرض الوضوء.

٥) سنن ابى داؤد، كتاب الصلوة، باب: المراة تصلى بغيرخمار، رقم(٦٤١)، وسنن الترمذى أبواب الصلاة، باب ما جاء لاتقبل صلاة المراة الحائض الا بخمار، رقم (٣٧٧)، وسنن ابن ماجه، كتاب الطهارة، باب: اذا حاضت الجارية لم تصلّ الا بخمار. رقم (٦٥٥)، ومسند احمد ١٥٠١٦، رقم: (٢٥٦٨٢).

يعنى الله پاك د بالغې زنانه مونځ بغير د لوئې څادر نه نۀ قبلوى. دلته قبول په معنى د صحت دې.

هم دغه شان د رسول الله ﷺ ارشاد دې ﴿ من اتى عرافا فسأله عن شئ لم تقبل له صلاة اربعين ليلة ﴾(١) يعنى څوك چه يو نجومى ته لاړ شي او د هغه نه تپوس اوكړى نو د هغه د څلويښتو ورځو مونځونه نه قبليږى.

دلته د ﴿ قبول ﴾ نه مراد د دې معنى اخص ده، په دې معنى كښې د سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ارشاد دې ﴿ لان تقبل لى صلاة واحدة احب الى من جميع الدنيا ﴾(٢) يعنى كه زما يو مونځ هم د قبول درجه بيا مومى زما په نزد دا د ټولې دنيا نه غوره دې.

دلته اختلاف دا دې چه د قبول حقيقى معنى څه ده؟ حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه د قبول حقيقى معنى هغه ده كومه چه د ﴿ عراف ﴾ والا حديث كښې تيره شوه او په ﴿ لا تقبل صلاة بغير طهور ﴾ كښې معنى مجازى ده او په دې حديث كښې معنى مجازى مراد ده. (٣)

او علامه شبير احمد عثمانى رحمه الله د دې برعكس په ترجمة الباب والا حديث كښې قبول په معنى حقيقى او د عراف والا حديث كښې قبول په معنى مجازى باندې د مراد كيدو قائل دې. (٤)

د قبول حقيقى معنى څه ده؟ او مجازى څه ده؟ د دې خبرې نه قطع نظر كولو سره دا خبره متعين ده چه دلته بالاجماع قبول اجابت مراد دې (٥)، چه د هغې مطلب دا دې چه بغير د اودس نه به مونځ نه صحيح كيږى. والله اعلم

قوله: بغير طهور: طهور په ضمې د طاء سره حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى:

---

١) صحيح مسلم، كتاب السلام، باب تحريم الكهانة واتيان الكهان، رقم ٥٨٢١، ومسند احمد ج ٤ ص ٦٨، حديث بعض ازواج النبى ﷺ ١٦٧٥٥، و ج ٥ ص ٣٨٠، رقم ٢٣٦١٠

٢) انظر : فتح البارى ج ١ ص ٢٣٥، هذا ولم اجد هذا الاثر فى المرجع التى عندنا عن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما بهذا اللفظ. نعم قد اخرج ابن عساكر بسنده. قال دخل سائل الى ابن عمر. فقال لابنه : اعطه دينارا، فاعطاه، فلما انصرف قال ابنه : تقبل الله منک يا ابتاه! فقال : لو علمت ان الله تقبل منى سجدة واحدة او صدقة درهم لم يكن غائب احب الى من الموت، تدرى ممن يتقبل الله؟ انما يتقبل الله من المتقين. انظر الدر المنثور ج ٢ ص ٢٧٤.

وقد اخرج ابن ابى حاتم بسنده عن ابى الدرداء رضى الله عنه قوله : لان استيقن ان الله قد تقبل منى صلاة واحدة احب الى من الدنيا وما فيها، ان الله يقول : انما يتقبل الله من المتقين. انظر : تفسير ابن كثير ج ١ ص ٤٣، والدر المنثور ج ٢ ص ٢٧٣، ٢٧٤

٣) اوګورئ: فتح البارى ج ١ ص ٢٣٥

٤) فتح الملهم ج ١ ص ٥٨٧، ٥٨٨، كتاب الطهارة، باب وجوب الطهارة للصلاة.

٥) اوګورئ: تعليقات شيخ الحديث على بذل المجهود ج ١ ص ٣٥٨

﴿ والمراد به ما هو اعم من الوضوء والغسل ﴾(١) يعنى د طهور نه عمومى معنى مراد ده، اودس هم ممكن دي او غسل هم، گويا دا بيانول مقصود دى چه كه حدث اصغر وى نو د هغې ازاله او كه حدث اكبر وى نو د هغې ازاله د مانځه دپاره ضرورى ده، د يو حدث په موجودګئ كښې هم مونځ صحيح نه دې.

علامه شبير عثمانى رحمه الله نور هم په عموم سره فرمائى : ﴿ والمراد به ما هو اعم من الوضوء والغسل والتيمم ﴾ (٢) يعنى د طهور نه عام مراد دې، كه اودس وى يا غسل وى يا تيمم وى، په دې كښې به د يو نه بغير هم مونځ مقبول او صحيح نه وى. والله اعلم

١٣٥ : ﴿ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْحَنْظَلِيُّ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ (٣) يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ مَنْ أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ قَالَ رَجُلٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ مَا الْحَدَثُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ فُسَاءٌ أَوْ ضُرَاطٌ ﴾(٦٥٥٤)

رجال الحديث

① **اسحاق بن ابراهيم حنظلى** : دا مشهور محدث او فقيه اسحاق بن راهويه رحمه الله دې. د هغوى حالات په كتاب العلم كښې د ﴿ باب فضل من علم وعلم ﴾ لاندې تير شوې دى. (٤)

② **عبدالرزاق** : دا امام ابوبكر عبدالرزاق بن همام صنعانى رحمه الله دې، د هغوى حالات په كتاب الايمان ﴿ باب الصلاة من الايمان ﴾ د لاندې تير شوې دى. (٥)

③ **معمر** : دا امام معمر بن راشد ازدى رحمه الله دې، د هغوى مختصر حالات په ﴿ بدء الوحى ﴾ د شپږم حديث د لاندې (٦) او په لږ شان تفصيل سره په كتاب العلم ﴿ باب كتابة العلم ﴾ د لاندې تير شوې دى. (٧)

---

١) فتح البارى ج ١ ص ٢٣٤

٢) فتح الملهم ج ١ ص ٥٨٩

٣) قوله : ابا هريرة رضى الله عنه الحدث : اخرجه البخارى ايضا فى صحيحه ج ٢ ص ١٠٢٨، كتاب الحيل، باب فى الصلاة رقم ٦٩٥٤، ومسلم فى صحيحه، كتاب الطهارة باب وجوب الطهارة للصلاة، رقم ٥٣٧، وابوداؤد فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب فرض الوضوء، رقم (٦٠) والترمذى فى جامعه، ابواب الطهارة، باب ما جاء فى الوضوء من الريح، رقم (٧٦) واحمد فى مسنده ج ٢ ص ٢٠٨، رقم ٨٠٦٤، وج ٢ ص ٣١٨، رقم ٨٢٠٦، وعبدالرزاق فى مصنفه ج ١ ص ١٣٩، كتاب الطهارة، باب الوضوء من الحدث، رقم (٥٣٠)

٤) كشف البارى ج ٣ ص ٤٢٨

٥) كشف البارى ج ٢ ص ٤٢١

٦) كشف البارى: ١/ ٤٦٥ و٤٦٦.

٧) كشف البارى ج ٤ ص ٣٢١

④ **همام بن منبه**: دا همام بن منبه بن كامل بن سيج يمانى صنعانى ابناوى رحمه الله دي. د هغوى حالات په كتاب الايمان ﴿باب الصلاة من الايمان﴾ د لاندې (١) او بيا كتاب العلم ﴿باب كتابة العلم﴾ د لاندې تير شوې دى. (٢)

⑤ **سيدنا ابوهريره** رضي الله عنه: د ابوهريره رضي الله عنه تفصيلى حالات په كتاب الايمان ﴿باب امور الايمان﴾ د لاندې تير شوې دى. (٣)

قوله: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ مَنْ أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ: **ترجمه**: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائى: چه چاته بې اودسى اورسيږى نو د هغه مونځ نه قبليږى ترڅو پورې چه ئې اودس نه وى کړې.

دلته ﴿لاتقبل﴾ په صيغه دمجهول راغلې دې اوپه كتاب الحيل كښ ﴿لايقبل﴾ راغلې دې.(٤)

د دې حديث نه معلومه شوه چه بغير د اودس نه مونځ نه قبليږى، خو دلته دې دا خبره هم په ذهن كښ اوساتلې شى چه اودس د مانځه د صحت په شرطونو كښ يو شرط دې، لهذا د مانځه دصحيح کيدو دپاره داودس اوطهارت سره د نورشرطونو پوره کيدل هم ضرورى دى.

د جنازې د مانځه دپاره طهارت: په حديث شريف كښ چه دا راغلې دى چه بغير د اودس نه مونځ نه قبليږى، د فرائضو په باره كښ خو اتفاق دې، خو د جنازې د مانځه دپاره هم اودس شرط دې يا نه؟ په دې كښ لږ شان اختلاف دې.

د جمهور علماء كرامو په نزد د طهارت شرط د هر قسمه مونځونو دپاره دې، كه فرائض وى يا د جنازې مونځ وى يا د اخترونو مونځ وى.

خو د امام شعبى او محمد بن جرير طبرى رحمهما الله نه منقول دى چه هغوى د جنازې د مانځه دپازه اودس نه شرط كوى. (٥)

---

١) كشف البارى ج ٢ ص ٤٢٨
٢) كشف البارى ج ٤ ص ٣١٧
٣) كشف البارى ج ١ ص ٦٥٩
٤) اوګورئ: صحيح البخارى ج ٢ ص ١٠٢٨، كتاب الحيل، باب فى الصلاة رقم ٦٩٥٤
٥) قال ابن رشد رحمه الله: فاتفق المسلمون على أن الطهارة شرط من شروط الصلاة لمكان هذا وإن كانوا اختلفواهل هى شرط من شروط الصحة أومن شروط الوجوب ولم يختلفواأن ذلك شرط فى جميع الصلوات إلا فى صلاة الجنازة وفى السجودأعنى سجود التلاوة فإن فيه خلافا شاذا. والسبب فى ذلك الاحتمال العارض فى انطلاق اسم الصلاة على الصلاة على الجنائز وعلى السجود فمن ذهب إلى أن اسم الصلاة ينطلق على صلاة الجنائزوعلى السجودنفسه وهم الجمهوراشترط هذه الطهارة فيهما ومن ذهب إلى أنه لاينطلق عليهما إذ كانت صلاة الجنائز ليس فيها ركوع ولا سجود وكان السجود أيضا ليس فيه قيام ولا ركوع لم يشترط هذه الطهارة فيهما. بداية المجتهد ج ١ ص ٤١، الباب الخامس فى معرفة الافعال التى تشترط هذه الطهارة فى فعلها.

دا حضرات فرمائی چه د دې دپاره طهارت په دې وجه شرط نه دې ځکه چه هغه صلاة نه دې بلکه د مړي دپاره دعا او استغفار دی.

جمهور علماء ارشاد فرمائی چه صلاة الجنازه صلاة دې او د دې دليل دا دې چه رسول الله ﷺ په دې باندې د صلاة اطلاق کړې دې. بله دا چه په دې کښې د صلاة خصائص موندلې شی، پس په دې کښې تکبير تحريمه دې، تسليم دې، قيام دې، استقبال قبله دې، بس صرف رکوع او سجود پکښې نه موندلې کيږی چه يو جاهل په دې غلطئ کښې اخته نه شی چه دا د مړي اطاعت او عبادت کولې شی، او د بعض علماء کرامو په نزد خو پکښې قراءت هم ضروری دې. (۱)

د سجده تلاوت دپاره طهارت : د سجده تلاوت دپاره د جمهورو په نزد طهارت شرط دې.

امام ابن ابی شيبه رحمه الله په صحيح سند سره د امام شعبی رحمه الله (۲) او په حسن سند سره د عبدالرحمن سلمي رحمه الله نه نقل کړی دی چه طهارت شرط نه دې. (۳)

هم دا خبره د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما نه منقول ده، پس امام بخاری رحمه الله په ﴿ابواب سجود القران﴾ کښې ليکلې دی : ﴿كان ابن عمر يسجد على غير الوضوء﴾ (٤) صرف د ابو محمد اصيلی په نسخه کښې ﴿على وضوء﴾ واقع شوې دې، خو دا نسخه مرجوح ده. (۵)

امام ابن ابی شيبه رحمه الله د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما نه نقل کړی دی چه هغوی به په سفر کښې وو، په لاره کښې به کوز شو متيازې به ئې اوکړې، بيا به ئې په سورلئ باندې سوريدو سره کلام پاک

---

۱) اختلف الناس فى القراءة فى صلاة الجنازة، فقال مالك وابوحنيفة : ليس فيها قراءة انما هو الدعاء، وقال الشافعي : يقراء بعد التكبيرة الاولى بفاتحة الكتاب. وبه قال احمد وداؤد. بداية المجتهد ج ١ ص ٢٣٥، الباب الخامس فى الصلاة على الجنازة، الفصل الاول فى صفة صلاة الجنازة، المسالة الثانية.

۲) حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ زَكَرِيَّا، عَنِ الشَّعْبِيِّ، قَالَ : فِي الرَّجُلِ يَقْرَأُ السَّجْدَةَ وَهُوَ عَلَى غَيْرِ وُضُوءٍ، قَالَ : يَسْجُدُ حَيْثُ كَانَ وَجْهُهُ. المصنف لابن ابى شيبة ج ٣ ص ٤١٠، كتاب الصلاة، باب فى الرجل يسمع السجدة، وهو على غير وضوء، رقم (٤٣٥٧)

۳) قال الحافظ رحمه الله فى فتح البارى ج ٢ ص ٥٥٤، كتاب سجود القران، باب سجود المسلمين مع المشركين : لم يوافق ابن عمر أحد على جواز السجود بلا وضوء إلا الشعبى أخرجه ابن أبى شيبة عنه بسند صحيح وأخرجه أيضا بسند حسن عن أبى عبد الرحمن السلمى أنه كان يقرأ السجدة ثم يسلم. (قال محققه كذا فى الاميرية والمخطوطة، ولعل الصواب، ثم يسجد ... بدل ... ثم يسلم ...... وهو على غير وضوء، الى غير القبلة وهو يمشى، يومى ايماء.

قلت : لم اجد فى المصنف لابن ابى شيبة شيئا عن ابى عبدالرحمن فيما رجعت اليه، نعم وجدت عنده : عن ابى عبدالرحمن قال : كان يقراء السجدة وهو على غير القبلة، وهو يمشى فيؤمى براسه، ثم يسلم.

انظر : المصنف ج ٣ ص ٤١١، كتاب الصلاة، باب الرجل يقراء السجدة وهو على غير القبلة، رقم ٤٣٦٠، و لسس هناك رواية ثبت فيها عن ابى عبدالرحمن السلمى انه كان يقراء السجدة وهوعلى غيروضوء. والله اعلم

٤) صحيح البخارى ج ١ ص ١٤٦، كتاب سجود القران، باب سجود المسلمين مع المشركين.

٥) اوګورئ فتح البارى ج ٢ ص ٥٥٣، كتاب سجود القران، باب سجود المسلمين مع المشركين.

لوستلو او چه كله به آيت سجده راغلو نو سجده به ئې كوله. (١)

خو امام بيهقى رحمه الله د سيدنا ابن عمر رضى الله عنهما نه نقل كړې دى چه : ﴿لايسجد الرجل الا هو طاهر﴾(٢) دا په ظاهره كښې په حدث اكبر يا اختيار باندې محمول دې او ابن ابى شيبه چه كوم نقل كړې دې هغه په حدث اصغر يا حالت اضطرار باندې محمول دې.

حاصل دا چه سيدنا ابن عمر رضى الله عنهما به د سجده تلاوت دپاره اودس كول ضرورى نه ګڼړلو.

جمهور علماء كرام فرمائى چه هر كله د مانځه دپاره اودس شرط دې نو د سجدې دپاره به خو په طريقه اولى شرط وى، ځكه چه سجده خو د مانځه ډير اهم ركن دې، رسول الله ﷺ فرمائى : ﴿اقرب مايكون العبد من ربه وهو ساجد﴾(٣)

خو د نورو حضراتو د طرف نه علامه ابن تيميه رحمه الله وغيره فرمائى چه كه د مانځه دپاره شرط دې نو د دې نه دا ځنګه لازمه شوه چه د بعض صلاة يعنى د سجده تلاوت دپاره هم شرط وى، كيدې شى چه د كل دپاره خو شرط وى خو د جزء دپاره شرط نه وى. (٤)

د دې دليل دا دې چه په صحيح بخارى كښې دى!

﴿أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجَدَ بِالنَّجْمِ وَسَجَدَ مَعَهُ الْمُسْلِمُونَ وَالْمُشْرِكُونَ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ﴾(٥)

يعنى رسول الله ﷺ د سورة نجم آيت سجده تلاوت كړو او سجده ئې اوكړه، رسول الله ﷺ سره ټولو مسلمانانو، مشركانو او جن او انس سجده اوكړه.

د دې نه داسې استدلال كړې شوې دې چه دا ډيره بعيده ده چه دا ټول حضرات دې په اودس كښې وې، هم دغه شان د ابن عمر رضى الله عنهما روايت دې چه :

﴿كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ عَلَيْنَا السُّورَةَ فِيهَا السَّجْدَةُ فَيَسْجُدُ وَنَسْجُدُ حَتَّى مَا يَجِدُ أَحَدُنَا مَوْضِعَ جَبْهَتِهِ﴾(٦)

يعنى رسول الله ﷺ به مونږ ته د سجدې والا يو آيت كريمه تلاوت فرمائيلو سره سجده كوله نو هغوى سره به مونږ هم سجده كوله، تردې چه كله به داسې كيدل چه په مونږ كښې به

١) المصنف لابن ابى شيبة ج ٣ ص ٤٠٩، كتاب الصلاة، باب فى الرجل يسمع السجدة وهو على غير وضوء رقم ٤٣٥٤.

٢) السنن الكبرى للبيهقى ج ١ ص ٩١، كتاب الطهارة، باب استحباب الطهر للذكر والقراءة، و جزء ٢ ص ٣٢٥، كتاب الصلاة، باب لا يسجد الا طاهرا.

٣) صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب ما يقال فى الركوع والسجود، رقم ١٠٨٣، وسنن النسائى، كتاب الصلاة، باب اقرب ما يكون العبد من الله عزوجل، رقم ١١٣٨، وسنن ابى داؤد، كتاب الصلاة، باب فى الدعاء فى الركوع والسجود، رقم ٨٧٥.

٤) اوګورئ : مجموع الفتاوى لشيخ الاسلام ابن تيمية ج ٢١ ص ١٤١، قسم الفقه، مسالة ما تجب له الطهارتان : الغسل والوضوء.

٥) صحيح البخارى ج ١ ص ١٤٦، كتاب سجود القران، باب سجود المسلمين مع المشركين رقم ١٠٧١.

٦) صحيح البخارى ج ١ ص ١٤٦، كتاب سجود القران، باب من سجد بسجود القارى رقم ١٠٧٥

بعضو ته د تندى د كيخودلو ځائې هم نه ملاويدو.
د دې نه داسې استدلال كړې شوې دې چه د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما په باره كښې شاته تير شو چه هغوى به بغير د اودس نه سجده تلاوت كوله، چه هر كله د ابن عمر رضي الله عنهما په شان فقيه او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سنتو سره سخت محبت كونكى صحابى دا حال دې نو يقينا نورو صحابه كرامو رضي الله عنهم به هم دا لازم نه ګڼړله. (۱)
خو د جمهورو د طرف نه دا وئيلې كيدې شى چه ظاهره هم دا ده چه صحابه كرام رضي الله عنهم به په اودس كښې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مجلس كښې كيناستل، سجده تلاوت ته چه د مانځه د سجدې سره كوم مشابهت حاصل دې د هغې د وجې نه به صحابه كرام رضي الله عنهم د هغې دپاره هم د اودس اهتمام فرمائيلو، چه د هغې تائيد د ابن عمر رضي الله عنهما د اثر نه كيږى كوم چه مونږ شاته ذكر كړې دې «لايسجد الرجل الاوهوطاهر»(۲)
خپله به د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما فعل د جمهور صحابه كرامو رضي الله عنهم د فعل نه د جدا كيدو د وجې نه يو اجتهادى عمل ګڼړلې شى، چه په هغې باندې د رسول الله صلى الله عليه وسلم تقرير ثابت نه دې، په دې وجه د دې نه استدلال او احتجاج صحيح نه دې. (۳) والله اعلم

قوله: قَالَ رَجُلٌ مِنْ حَضْرَمَوْتَ: د حضرت موت يو سړى تپوس اوكړو!
د «رجل» نه مراد څوك دې؟ نوم ئې معلوم نه شو خو دومره راغلې دى چه دا يو باندچى سړې وو. (٤)

قوله: حضرموت: دا لفظ د حاء مهمله په فتحه، د ضاد معجمه په سكون، د رائى مهمله په فتحې، د ميم په فتحې او د واؤ په سكون سره دې. په اخر كښې تاء مثناة من فوق ده. (۵)
دا د عدن (يمن) په مشرق كښې د بحر العرب په غاړه باندې يوه فراخه زمكه ده، د دې نه چاپيره ډيره زياته شړه ده، دې علاقې ته احقاف وئيلې شى، هم دلته د سيدنا هود عليه السلام قبر مبارك دې. (۶)

قوله: مَا الْحَدَثُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ: اې ابوهريره رضي الله عنه حدث څه څيز دې؟

۱) د تفصيل دپاره اوګورئ: مجموع فتاوى شيخ الاسلام ابن تيمية ج ۲۱ ص ۱۳۹ – ۱٤۷، قسم الفقه، مسالة ما تجب له طهارتان الغسل والوضوء
۲) السنن الكبرى ج ۱ ص ۹۱، طبع قديم، و ج ۱ ص ۱٤۷، رقم ٤۲۷، تحقيق محمد عبد القادر عطاء، كتاب الطهارة باب استحباب الطهر للذكر والقراءة و ج ۲ ص ۳۲۵، طبع قديم، و ج ۲ ص ٤۶۱ تحقيق محمد عبد القادر عطاء، كتاب الصلاة، باب لا يسجد الا طاهرا رقم (۳۷۷۵).
۳) علامه ظفر احمد عثمانى رحمه الله په يو بل انداز سره د جمهور د مسلك ترجيح ثابت كړې ده، فليراجع اليه للتفصيل: اعلاء السنن ج ۷ ص ۲۲۵، ۲۲۶، باب سجود التلاوة وما يتعلق به.
٤) هدى السارى ۳۹۰، مطبوعه دار السلام رياض
۵) اوګورئ: المغنى: ۹۸، ومعجم البلدان ج ۲ ص ۲۶۹
۶) اوګورئ: معجم البلدان ج ۲ ص ۲۷۰

چونکه لفظ ﴿حدث﴾ يو مشترك شان لفظ دې لکه چه ﴿ريح﴾ ته وئيلې شي، دغه شان په منکر خبره باندې هم وئيلې شي، په بدعات باندې ئې هم اطلاق کيږی او نااشنا خبرې ته هم ﴿حدث﴾ وئيلې شی، په دې وجه د سائل اشتباه پيدا شوه او هغه سوال اوکړو چه د ﴿حدث﴾ نه څه مراد دی؟

قوله: قَالَ فُسَاءٌ أَوْضُرَاطٌ: ابوهريره رضي الله عنه اوفرمائيل چه دا فساء او ضراط ته وئيلې شي.

﴿فساء﴾ هغه هوا ده چه آواز ورسره نه وی، او ﴿ضراط﴾ هغه هوا ده چه آواز ورسره وی. (۱)

سيدنا ابوهريره رضي الله عنه چه د حدث کوم تعريف کړې دې دا د حدث پوره او جامع مانع تعريف نه دې، بلکه دا د تعريف بالمثال د قبيل نه دې، لکه يو سړې تپوس اوکړی چه ﴿ما الاسم؟﴾ او په جواب کښې ورته اوئيلې شي چه ﴿زيد﴾ نو د دې مطلب به دا وی چه د زيد په شان الفاظ اسماء دی. هم دغه شان دلته هم د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه مقصد هم دا دې چه د ﴿فساء﴾ او ﴿ضراط﴾ په شان څيزونه ناقض وضوء دی او حدث دی. (۲)

دا هم کيدې شی چه سيدنا ابوهريره رضي الله عنه اخف لره ذکر کولو سره په اغلظ باندې استدلال کړې وی او د هغې طرف ته ئې اشاره فرمائيلې وی. (۳)

حاصل دا چه ﴿فساء﴾ او ﴿ضراط﴾ چه هر کله ناقض الوضوء دی نو کوم چه د هغې نه اغلظ (يعنی واړه او لوئې بول) دی هغه بدرجه اولی ناقض دی.

علامه ابن بطال رحمه الله فرمائی چه اصل کښې داسې معلوميږی چه سائل د هغه احداث متعلق تپوس کړې وو کوم چه عادة په مانځه کښې واقع کيږی، او په مانځه کښې اکثر د ﴿فساء﴾ او ﴿ضراط﴾ تحقق کيږی، په دې وجه ئې د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه تذکره اوفرمائيله. (٤)

بعض علماء کرام فرمائی کيدې شی چه سيدنا ابوهريره رضي الله عنه ته دا معلومه وه چه دا سړې د نورو احداثو نه واقف دې، په دې وجه ئې هغه بيان نه کړل، خو دا خبره بعيده ده. (۵)

بعض حضرات فرمائی چه سيدنا ابوهريره رضي الله عنه د هغه احداث ذکر کړې دې کوم چه کثير الوقوع دی. (٦) والله اعلم

---

۱) اوګورئ: عمدة القاری ج ۲ ص ۲٤٤
۲) عمدة القاری ج ۲ ص ۲٤۵
۳) پورته حواله او فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۵
٤) شرح صحيح البخاری لابن بطال ج ۱ ص ۲۱۸
۵) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۵
٦) عمدة القاری ج ۲ ص ۲٤۵

٣ بَاب فَضْلِ الْوُضُوءِ وَالْغُرُّ الْمُحَجَّلُونَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ

اکثر روايات کښې ﴿ الغرالمحجلون ﴾ مرفوع راغلې دې، په دې صورت کښې يا خو به دا وئيلې شي چه دلته اعراب حکائی دې، پس په صحيح مسلم کښې روايت دې. ﴿ انتم الغرالمحجلون ﴾(١) په دې صورت کښې به مطلب دا وی دا باب د اودس د فضيلت په باره کښې دې او دا باب د اودس د آثارو نه د سپينو تندو والا حضراتو د فضيلت په باره کښې دې.

يا ﴿ الغرالمحجلون ﴾ مبتدا ده او ﴿ مفضلون على غيرهم ﴾ يا د دې په شان بل تقدير به ورله خبر جوړوو. (٢) دريم صورت دا دې چه ﴿ الغرالمحجلون ﴾ مبتدا ده او ﴿ من اثار الوضوء ﴾ خبر دې. (٣)

د بعض شارحينو قول علامه عينی رحمه الله نقل کړې دې چه د ﴿ الغرالمحجلون ﴾ تعلق د ماقبل سره نه دې، ځکه چه دا د ترجمة الباب د لاندې داخل نه دی. (٤)

علامه عينی رحمه الله د داسې حضراتو ترديد کړې دې او فرمائی چه دا نه صرف په ترجمة الباب کښې داخل دی بلکه په ترجمة الباب باندې صراحة دلالت کونکې هم دا لفظ دې، ځکه چه د حديث مطابقت هم د دې سره دې. (٥)

خو د مستملی په روايت کښې ﴿ والغرالمحجلون ﴾ دې، په دې صورت کښې به د دې عطف په ﴿الوضوء﴾ باندې وی او مطلب واضح دې ﴿ باب فضل الوضوء وفضل الغرالمحجلين الخ ﴾(٦)

او اصيلی خو په خپل روايت کښې دا صراحة ذکر کړې دې يعنی ﴿ باب فضل الوضوء وفضل الغر المحجلين ﴾(٧)

د مخکښې باب سره مناسبت : مناسبت ئې واضح دې چه په مخکښې باب کښې دا بيان کړې شوې وو چه مونځ د اودس نه بغير نه قبليږی، په دې باب کښې ئې فضيلت بيانولې شی چه په هغې باندې قبوليت مرتب کيږی او د کوم په ذريعه چه د دې امت ته په نورو امتونو باندې فضيلت ورکولې شی. (٨)

د ترجمة الباب مقصد : د ترجمة الباب نه د امام بخاری رحمه الله غرض هم واضح دې چه په دې باب سره هغوی د اودس فضيلت بيانول غواړی.

---

١) صحيح مسلم، کتاب الطهارة، باب استحباب اطالة الغرة والتحجيل فی الوضوء رقم ٥٧٩.
٢) شرح الکرمانی ج ٢ ص ١٧١
٣) پورته حواله
٤) عمدة القاری ج ٢ ص ٢٤٦
٥) پورته حواله
٦) فتح الباری ج ١ ص ٢٣٥، وعمدة القاری ج ٢ ص ٢٤٦
٧) پورته حواله
٨) عمدة القاری ج ٢ ص ٢٤٦

﴿١٣٦ : حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ خَالِدٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلَالٍ عَنْ نُعَيْمٍ الْمُجْمِرِ قَالَ رَقِيتُ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ (١) عَلَى ظَهْرِ الْمَسْجِدِ فَتَوَضَّأَ فَقَالَ إِنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ﴾

رجال الحديث

① **يحيى بن بكير** : دا ابو زكريا يحيى بن عبدالله بن بكير قرشي مخزومي مصرى رحمه الله دي، د هغوى تذكره د ﴿بدء الوحى﴾ د دريم حديث د لاندې تيره شوې ده. (٢)

② **الليث** : دا امام ليث بن سعد بن عبدالرحمن فهمي مصرى رحمه الله دې، د هغوى حالات هم په ﴿بدء الوحى﴾ كښې د دريم حديث د لاندې تير شوې دى. (٣)

③ **خالد** : دا خالد بن يزيد جمحي اسكندراني مصرى رحمه الله دې، د هغوى كنيت ابو عبدالرحيم دې. (٤)

هغه د سعيد بن ابى هلال، سليمان بن راشد، عطاء بن ابى رباح، عقبه بن نافع، مثنى بن الصباح، محمد بن مسلم بن شهاب الزهرى رحمهم الله وغيره نه روايت كوى

هغوى نه په روايت كونكو كښې ليث بن سعد، حيوة بن شريح، بكر بن مضر، عبدالله بن لهيعة او مفضل بن فضاله رحمهم الله وغيره حضرات دى. (٥)

امام ابوزرعة، امام نسائى، امام عجلى او يعقوب بن سفيان رحمهم الله فرمائى : ﴿ثقة﴾(٦)

امام ابو حاتم رحمه الله فرمائى ﴿لابأس به﴾ (٧)

امام احمد رحمه الله فرمائى : ﴿ثقة﴾(٨)

---

١) قوله : (ابى هريرة رضى الله عنه الحديث : اخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب الطهارة باب استحباب اطالة الغرة والتحجيل فى الوضوء، رقم ٥٨٠، واحمد فى مسنده ج ٢ ص ٣٣٤، رقم ٨٣٩٤، و ج ٢ ص ٤٠٠ رقم ٩١٨٤، و ج ٢ ص ٥٢٤، رقم ١٠٧٨٨.

٢) كشف البارى ج ١ ص ٣٢٣

٣) كشف البارى ج ١ ص ٣٢٤

٤) تهذيب الكمال ج ٨ ص ٢٠٨، ٢٠٩

٥) د شيوخ او تلامذة د تفصيل دپاره اوګورئ : تهذيب الكمال ج ٨ ص ٢٠٩

٦) اوګورئ : تهذيب الكمال ج ٨ ص ٢١٠، واكمال تهذيب الكمال ج ٤ ص ١٦٤، ١٦٥، التهذيب التهذيب ١٢٩\٣

٧) الجرح والتعديل ج ٣ ص ٣٥٢، رقم (١٦١٩ و ٣٩١٢)

٨) موسوعة اقوال الامام احمد فى رجال الحديث وعلله : ج ١ ص ٣٣٦، رقم ٦٩١و نقلا عن سوالات ابى داؤد رقم ٢٥٤

امام دارقطني رحمه الله فرمائي : ﴿ثقة اثبت منه، يعني يزيد بن سنان﴾ (۱)

حافظ ذهبي رحمه الله فرمائي : ﴿فقيه ثقة﴾ (۲)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي : ﴿فقيه ثقة﴾ (۳)

ابو سعيد بن يونس رحمه الله فرمائي : ﴿كان خالد فقيها مفتيا﴾ (٤)
ابن حبان رحمه الله هغه په كتاب الثقات كښ ذكر كړې دې. (۵)
په ۱۳۹ هجري كښ ئې په اسكندريه كښ وفات اوشو. (۶) رحمه الله رحمة واسعة

⑦ **سعيد بن ابی هلال** : دا ابو العلاء سعيد بن ابی هلال ليثي مصري مولی عروة بن شييم ليثي رحمه الله دې، وئيلې شي چه دې په اصل كښ د مدينې منورې وو، د هغوی د والد ابو هلال نوم مرزوق وو. (۷)
هغه د سيدنا انس بن مالك او سيدنا جابر بن عبد الله رضي الله عنهما نه مرسلا روايت كوي.
د هغوی نه علاوه د زيد بن اسلم، ربيعه بن ابی عبدالرحمن، ابو حازم سلمه بن دينار، عمرو بن مسلم، عون بن عبدالله، قتاده، امام زهري، نافع مولی ابن عمر، يحيی بن سعيد انصاري او نعيم المجمر رحمهم الله وغيره ډيرو حضراتو نه روايت كوي.
د هغوی نه په روايت كونكو كښ سعيد مقبري (دا د هغوی نه مشر دې) خالد بن يزيد مصري، عمرو بن الحارث، هشام بن سعد الليث بن سعد، يحيی بن ايوب او يزيد بن ابی حبيب رحمهم الله وغيره دي. (۸)

محمد بن سعد رحمه الله فرمائي : ﴿كان ثقة ان شاء الله﴾ (۹)

امام عجلي رحمه الله فرمائي : ﴿ثقة﴾ (۱۰)
امام ابن حزيمه، ابن عبدالبر، امام دار قطني، خطيب بغدادي او امام بيهقي رحمهم الله د هغوی توثيق كړې دې. (۱۱)

---

۱) العلل الواردة في احاديث النبويه ج ۶ ص ۱٤۰، س : ۱۰۳۲
۲) الكاشف ج ۱ ص ۳۷۰، رقم ۱۳۶۷
۳) تقريب التهذيب ص ۱۹۱، رقم ۱۶۹۱
٤) تهذيب الكمال ج ۸ ص ۲۰۹
۵) كتاب الثقات ج ۶ ص ۲۶۵
۶) تعليقات تهذيب الكمال : ۲۱۰/۸، نقلاً عن المعرفة والتاريخ ليعقوب بن سفيان ۱۲۰/۱۱ و ۱۲۱
۷) اوګورئ : تهذيب الكمال ج ۱۱ ص ۹٤، وتهذيب التهذيب ج ٤ ص ۹۵
۸) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ : تهذيب الكمال ج ۱۱ ص ۹۵، ۹۶، وتهذيب التهذيب ج ٤ ص ۹٤، ۹۵
۹) الطبقات الكبری ج ۷ ص ۵۱٤
۱۰) معرفة الثقات للعجلي ج ۱ ص ٤۰۶، رقم ۶۲۰، واكمال تهذيب الكمال ج ۵ ص ۳۶۵، رقم ۲۰۵۲.
۱۱) پورته حواله

ابن خلفون رحمه الله هغوی په خپل کتاب الثقات کښ ذکر کړې دی او لیکلې ئې دی: ﴿کان رجلا صالحا﴾ (۱)
ابن حبان رحمه الله هغوی لره په خپل کتاب الثقات کښ ذکر کړې دی. (۲)
امام ابو حاتم رحمه الله فرمائی: ﴿لاباس به﴾ (۳) ساجی رحمه الله فرمائی: ﴿صدوق﴾ (٤)
خو امام احمد رحمه الله فرمائی: ﴿ما ادری ای شئ فی حدیثه، یخلط فی الاحادیث﴾ (۵) یعنی ما ته معلومه نه ده چه د هغه په احادیثو کښ څه خبره ده، هغوی په احادیثو کښ خلط کوی.
هم دغه شان امام ابو زرعه رازی رحمه الله فرمائی: ﴿خالد بن یزید المصری وسعید بن ابی هلال صدوقان، وربما وقع فی قلبی من حسن حدیثهما﴾ (۶)
یعنی: خالد بن یزید مصری او سعید بن ابی هلال صدوق دی، زما په زړه کښ د دوی دواړو د احادیثو د حسن کیدو په باره کښ شك راځی.
امام ابو حاتم رحمه الله فرمائی: ﴿اخاف ان یکون بعضها مراسیل عن ابن ابی فروة وابن سمعان﴾ (۷)
یعنی ماته د دې خبرې ویره ده چه د هغوی بعض روایات مرسل دی کوم چه د ابن ابی فروه او ابن سمعان نه روایت دی.
ابن رجب رحمه الله ددې تشریح کولو سره فرمائی: ﴿أنه عرض حدیثهما علی حدیث ابن أبی فروة وابن سمعان فوجده یشبهه ولا یشبه حدیث الثقات الذین یحدثان منهم فخاف (أبو زرعة) أن یکونا أخذا حدیث ابن أبی فروة وابن سمعان دلساه عن شیوخهما﴾ (۸)
یعنی: ابو جاتم رحمه الله د خالد بن یزید او سعید بن ابی هلال رحمهما الله د بعض احادیثو د ابن ابی فروة او ابن سمعان د احادیثو سره موازنه اوکړه نو محسوس شوه چه دا احادیث هم د ابن ابی فروه او د ابن سمعان د احادیثو په شان دی او هغه ئې د هغه ثقاتو د احادیثو په شان بیا نه موندل د کومو نه چه دا دواړه عام طور روایت کوی، په دې وجه ابو حاتم رحمه الله سره ویره پیدا شوه چه خالد بن یزید او سعید بن ابی هلال رحمهما الله به د ابن ابی فروه او ابن سمعان

۱) پورته حواله
۲) الثقات لابن حبان ج ۶ ص ۳۷٤و رقم ۸۱۶۵
۳) الجرح والتعدیل ج ٤ ص ۷۱، رقم (۳۰۱/۵٤۲۰)
٤) اکمال تهذیب الکمال ج ۵ ص ۳۶۵
۵) پورته حواله
۶) سؤالات البرذعی لابی زرعة الرازی ص ۱۰۶، رقم ۸۰، والجامع فی الجرح والتعدیل ج ۱ ص ۳۱۲، رقم ۱۵۵۸و نقلا عن السؤالات البرذعی لابی زرعة ۳۶۱.
۷) شرح علل الترمذی لابن رجب ج ۲ ص ۷۶۷
۸) شرح علل الترمذی لابن رجب ج ۲ ص ۷۶۸

احاديث اخستلې وى او د هغوى د واسطه ذكر كولو نه بغير به ئې د هغوى د شيوخو نه روايت كړې وى. (۱)

خو حقيقت دا دې چه سعيد بن ابى هلال رحمه الله مطلقا ثقه راوى دې، د هغوى نه د اصول ستة مصنفينو احتجاج كړې دې. (۲)

د امام احمد، امام ابوزرعه او ابو حاتم رحمهم الله مقصد مطلقا د هغوى تضعيف نه دې، بلكه په بعض رواياتو كښې د علل خفيه ښودنه مقصود ده، داسې خلط خو عام طور د ثقاتو په روايتونو كښې موندلې شى، څومره ډير ثقه راويان دى چه د هغوى په يو نه يو حديث كښې څه خفى علت راوځى، بلكه د علل خفيه اصل ميدان روايات الثقات دې، په داسې قسم كلام كښې مطلقا د هغوى تضعيف نه كيږى.

علامه ابن حزم رحمه الله ورته «ليس بالقوى» وئيلې دې. (۳) كيدې شى چه هغوى د امام احمد رحمه الله وغيره د كلام نه متاثر كيدو سره وئيلې وى خو د هغوى په مطلق تضعيف كښې د هغوى څوك سلف موجود نه دې. (٤)

پس حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى: «**ثقة معروف، حديثه فى الكتب الستة، قال ابن حزم وحده: ليس بالقوى**» (۵)

يعنى دا معروف ثقه راوى دې چه په كتب سته كښې ئې احاديث موجود دى، صرف ابن حزم ځانله دا وئيلې دى چه دې قوى نه دې.

هم دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى: «**لم ار لابن حزم فى تضعيفه سلفا**» (۶) يعنى ماته د هغوى د تضعيف په سلسله كښې د ابن حزم څوك سلف نه دې ملاؤ شوې.

هم دغه شان فرمائى: «**فضعف سعيد بن ابى هلال مطلقا، ولم يصب فى ذلك**» (۷)

يعنى هغه (ابن حزم رحمه الله) د سعيد بن ابى هلال مطلقا تضعيفا كړې دې او دا عمل ئې صحيح نه دې.

---

۱) قال الدكتور نور الدين عتر حفظه الله فى تعليقاته على شرح علل الترمذى لابن رجب ج ۲ ص ۷۶۸: فى هذا القول نظر فخالد وسعيد ثقتان باطلاق، لم يوصف احدهما بتدليس، ولم تعرج المراجع على هذا القول، ولعله ورد فى بعض يسير مما غلط فيه سعيد. فظن به ذلك الظن، والله اعلم

۲) انظر هدى السارى ص ۵۷۷

۳) اوګورئ: المحلى ج ۲ ص ۲۶۹، حكم الركعتين بعد العصر

٤) د المحلى محشى ليكى: سعيد ثقة، وثقه ابن سعد والعجلى وابن خزيمة والدارقطنى والخطيب والبيهقى وابن عبدالبر وغيرهم، قال احمد: ما ادرى اى شئ فى حديثه يخلط فى الاحاديث، وما هذا بكاف فى تضعيفه مع قول من وثقه. تعليقات على المحلى ج ۲ ص ۲۶۹.

۵) ميزان الاعتدال ج ۲ ص ۱۶۲، رقم ۳۲۹۰

۶) تقريب التهذيب ص ۲۴۲، رقم ۲۴۱۰

۷) هدى السارى ص ۵۷۷

د سعيد بن ابى هلال رحمه الله پيدائش په مصر كښې په ٧٠ هجرى كښې شوې دې، په مدينه منوره كښې لوئې شوې دې او په اخرى عمر كښې مصر ته لاړو. (١)
د وفات په باره كښې ئې د ١٣٠هـ، ١٣٣هـ، ١٣٥هـ او ١٤٩هـ مختلف اقوال منقول دى. (٢)
رحمه الله رحمة واسعة

⑤ **نعيم المجمر** : دا نعيم (بالتصغير) بن عبدالله المُجْمِر المدنى رحمه الله دې. ابو عبدالله ئې كنيت دې. (٣)

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه ئې خصوصى طور استفاده كړې ده، تقريبا شل كاله هغوى سره وو (٤)، د هغوى نه علاوه دې د سيدنا انس، سيدنا جابر، سيدنا عبدالله بن عمر او سيدنا ربيعه بن كعب الاسلمى رضي الله عنهم وغيره نه روايت كوى.

د دوى نه په روايت كونكو كښې سعيد بن ابى هلال، مالك بن انس، بكير بن عبدالله الاشج، ثور بن زيد، عمارة بن غزيه، فليح بن سليمان، محمد بن عجلان او د نعيم خپل خوئې محمد بن نعيم المجمر رحمهم الله وغيره حضرات دى. (٥)

امام يحيى بن معين، امام ابوحاتم، امام محمد بن سعد، امام نسائى او امام دارقطنى رحمهم الله فرمائى ﴿ثقة﴾(٦)

امام ابن حبان رحمه الله هغه په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې. (٧)

مجمر د باب افعال او باب تفعيل نه د اسم فاعل صيغه ده (٨)، لوګې كولو والا ته وئيلې شى، دا د هغه لقب دې كه د هغه د والد صاحب؟ ابن حبان رحمه الله فرمائى چه دا د هغه د والد لقب وو: ﴿لان اباه كان ياخذ المجمرة قدام عمر بن الخطاب رضي الله عنه اذا خرج الى الصلاة فى شهر رمضان﴾(٩)
يعنى د هغوى پلار به د رمضان په مياشت كښې چه به عمر فاروق رضي الله عنه د مانځه دپاره راوتلو نو د هغوى نه به ئې وړاندې وړاندې خوشبويه لوګې كونكې لوښې اوړلو.

---

١) اوګورئ: تهذيب الكمال ج ١١ ص ٩٦
٢) اوګورئ: تهذيب الكمال ج ١١ ص ٩٦، واكمال تهذيب الكمال ج ٥ ص ٣٦٤، ٣٦٥، ومشاهير علماء الامصار ج ١ ص ٣٠١، رقم ١٥٢٥
٣) اوګورئ: تهذيب الكمال ج ٢٩ ص ٤٨٧، ٤٨٨، تهذيب التهذيب ج ٩ ص ٢٣٤، وتهذيب التهذيب ج ١٠ ص ٣٦٥
٤) پورته حواله
٥) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال ج ٢٩ ص ٤٨٨، ٤٨٩
٦) اوګورئ: تهذيب الكمال ج ٢٩ ص ٤٨٩، والجرح والتعديل ج ٨ ص ٥٢٥، رقم ٢١٠٦/١٥٤١٣، وطبقات ابن سعد ج ٥ ص ٣٠٩، وسنن الدارمى ج ١ ص ٣٠٦.
٧) الثقات لابن حبان ج ٥ ص ٤٧٦
٨) شرح النووى ج ١ ص ١٢٦، كتاب الطهارة، باب استحباب اطالة الغرة والتحجيل فى الوضوء.
٩) الثقات لابن حبان ج ٥ ص ٤٧٦

هم دغه شان علامه مغلطائى رحمه الله د تاريخ اربل حوالې سره نقل كړى دى چه مجمر د نعيم والد عبدالله دې، اګر چه نعيم په دې لقب سره مشهور شو، عبدالله بن د سيدنا عمر رضي الله عنه په منبر باندې د كيناستلو په موقع باندې مسجد ته خوشبويه لوګې وركولو. (١)

هم دغه شان امام نووى رحمه الله فرمائى : ﴿المجمر صفة عبد الله، ويطلق على ابنه نعيم مجازا﴾(٢)
او د حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عينى رحمه الله دا وينا ده چه د مجمر لقب د نعيم دپاره مجازى منلو ته ضرورت نشته، ځكه چه د خپل پلار عبدالله په شان به نعيم هم مسجد كښې خوشبوئى لوګې كوله، پس د ابراهيم حربى رحمه الله نه جزما منقول دى : ﴿بان نعيما كان يباشر ذلك﴾ يعنى نعيم به خپله هم دا كار كولو. (٣)

هم دغه شان علامه عينى رحمه الله فرمائى : ﴿نقل ذلك عن جماعة﴾(٤) يعنى د يو جماعت نه دا خبره منقول ده. حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى : ﴿عاش الى قريب سنة عشرين ومائة﴾(٥)

يعنى ١٢٠ هـ ته نزدې نزدې ژوندې وو. رحمه الله رحمة واسعة.

⑥ **سيدنا ابوهريره رضي الله عنه** : د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه حالات په كتاب الايمان كښې د باب امور الايمان د لاندې تير شوې دى.(٦)

قوله: رَقِيتُ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ عَلَى ظَهْرِ الْمَسْجِدِ: نعيم مجمر فرمائى چه زه د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه سره د مسجد چهت ته اوختلم

د دې نه معلومه شوه چه د مسجد چهت ته ختل جائز دى. (٧)

قوله: فَتَوَضَّأَ: ابوهريره رضي الله عنه اودس اوكړو.

د كشميهنى په نسخه كښې د ﴿فتوضاء﴾ په ځائې ﴿يوما﴾ راغلې دې، دا تصحيف دې. (٨)

اسماعيلى وغيره د دې حديث استخراج كړې دې، په هغې كښې د ﴿توضاء﴾ او ﴿ثم توضاء﴾ الفاظ دى. (٩)

---

١) اكمال تهذيب الكمال ج ١٢ ص ٧٠
٢) شرح النووى على صحيح مسلم ج ١ ص ١٢٦، كتاب الطهارة، باب استحباب اطالة الغرة والتحجيل فى الوضوء.
٣) فتح البارى ج ١ ص ٢٣٥، وعمدة القارى ج ٢ ص ٢٤٦
٤) عمدة القارى ج ٢ ص ٢٤٦
٥) سير اعلام النبلاء ج ٥ ص ٢٢٧
٦) كشف البارى: ٦٥٩/١
٧) (عمدة القارى ج ٢ ص ٢٥٠)
٨) اوګورئ: عمدة القارى ج ٢ ص ٢٤٧ وفتح البارى ٢٣٥/١
٩) پورته حواله جات

خو د اسماعيلى په روايت كښې دا اضافه هم ده : ﴿ فغسل وجهه ويديه، فرفع فى عضديه، وغسل رجليه فرفع فى ساقيه ﴾(۱) امام مسلم رحمه الله هم تقريبا دې تفصيل سره روايت ذكر كړې دې. (۲) بلكه امام مسلم رحمه الله چه د ﴿ عمارة بن غزية عن نعيم المجمر ﴾ په طريق سره كوم حديث نقل كړې دې، په هغې كښې دا هم دى چه سيدنا ابوهريره رضي الله عنه اودس كولو سره دا هم اوفرمائيل ﴿ هكذا رايت رسول الله صلى الله عليه وسلم يتوضاء ﴾(۳) د دې نه معلومه شوه چه دا حديث مرفوع دې، چه ددې نه د دې خبرې ترديد كيږى چه دغه شان اسباغ د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه رائې ده او روايت ثابت نه دې، او حقيقت دا دې چه دا د هغوى رائې هم ده او د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه مرفوعا هم ثابت دې. (٤)

په مسجد كښې اودس كول : په دې حديث كښې دى چه سيدنا ابوهريره رضي الله عنه د مسجد په چهت باندې اودس اوكړو او د مسجد حد د تحت الثرى نه تر عنان السماء پورې دې. (۵) د دې نه دا خبره مستنبط كړې شوې ده چه په مسجد كښې اودس كول جائز دى.

پس امام ابن المنذر رحمه الله ليكلې دى : ﴿ اباح كل من يحفظ عنه العلم الوضوء فى المسجد، الا ان يبله، ويتاذى به الناس فانه يكره ﴾(٦)

يعنى ټولو اصحاب علم په مسجد كښې اودس كولو ته مباح وئيلې دى او! كه د مسجد فرش لره تر كړى او خلقو ته د هغې نه تكليف رسيږى نو دا مكروه دى.

ابن بطال مالكى رحمه الله فرمائى : ﴿ وفيه : جواز الوضوء على ظهر المسجد، وهو من باب الوضوء فى المسجد، وقد كرهه قوم وأجازه الأكثر، وإنما ذلك تنزيه للمسجد، كما ينزه عن البصاق والنخامة، وحرمة أعلى المسجد، كحرمة داخله، وممن أجاز الوضوء فى المسجد : ابن عباس، وابن عمر، وعطاء، والنخعى، وطاوس، وهو قول ابن القاسم صاحب مالك، وأكثر العلماء ﴾(۷)

يعنى د دې حديث نه د مسجد په چهت باندې د اودس كولو جواز معلوميږى او دا د وضوء فى المسجد په معنى كښې دې، بعض حضراتو دې ته مكروه وئيلې دى، خو اكثرو حضراتو

---

۱) فتح البارى ج ۱ ص ۲۳۵
۲) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب استحباب اطالة الغرة والتحجيل فى الوضوء رقم ۵۸۰.
۳) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب استحباب اطالة الغرة والتحجيل فى الوضوء رقم ۵۸۹.
٤) فتح البارى ج ۱ ص ۲۳۶
۵) قال فى الدر المختار : وكره تحريما الوطء فوقه والبول والتغوط، لانه مسجد الى عنان السماء، قال الشامى فى رد المحتار : وكذا الى تحت الثرى، انظر رد المحتار مع الدر المختار ج ۱ ص ٤٨۵
٦) اوګورئ : المجموع شرح المهذب ج ۲ ص ۱۷٤، فصل فى المساجد واحكامها، وطرح التثريب ج ۱ ص ۳۱٦، كتاب الطهارة باب غسل النجاسة، الحديث الثالث عشر، الفائدة الرابعة عشرة.
۷) شرح صحيح البخارى لابن بطال ج ۱ ص ۲۲۲

د دې اجازت ورکړې دې، خو دا حضرات هم مسجد لره پاك او صفا ساتل ضروري ګنړي، ځنګه چه مسجد لره د تهوك او بلغم وغيره نه پاك صفا ساتل ضروري ګنړي، د مسجد د پاسه حصه هم دغه شان ده ځنګه چه د مسجد دننه حصه ده، کومو حضراتو چه په مسجد کښې د اودس کولو اجازت ورکړې دې په هغوی کښې ابن عباس، ابن عمر رضي الله عنهما نه علاوه، نخغی، طاؤس رحمهم الله دی، هم دا د امام مالك رحمه الله د شاګرد ابن القاسم او اکثر علماء کرامو قول دې.

وضوء في المسجد لره مکروه ګنړلو والا کښې ابن سيرين رحمه الله دې، هم دا د امام مالك او سحنون رحمهما الله قول دې. (١)

امام نووی رحمه الله فرمائی : ﴿ يجوز الوضوء في المسجد إذا لم يؤذ بمائه وممن صرح بجواز الوضوء في المسجد ويسقط الماء على ترابه صاحبا الشامل والتتمة ﴾(٢)

يعنی په جمات کښې اودس کول جائز دی، که د اودس اوبه سره تکليف نه رسيږی، په جمات کښې د اودس په جائز کيدو او ددې په خاوره باندې د اوبو د غورزيدو د جواز تصريح صاحب د "الشامل" او صاحب د "تتمه" کړې ده.

امام نووی رحمه الله د بغوی قول ﴿ ويجوز نضح المسجد بالماء المطلق، ولا يجوز بالمستعمل لان النفس تعافه ﴾ يعنی د مسجد چهړکاؤ په ماء مطلق سره جائز دې، په مستعمل اوبو سره جائز نه دې ځکه چه د دې نه طبيعت کرکه کوی، نقل کولو سره د دې تضعيف کړې دې :

﴿ وهذا الذی قاله ضعيف والمختار الجواز بالمستعمل ايضا ﴾(٣) يعنی دا قول ضعيف دې او مختار قول دا دې چه د مستعمل اوبو په ذريعه چهړکاؤ هم جائز دې.

ابن قدامه رحمه الله فرمائی : ﴿ وهل يكره في المسجد على روايتين، ذكرهما ابن عقيل، الا ان ابن عقيل قال: ان قلنا بنجاسة الماء المستعمل في رفع الحدث، حرم ذلك في المسجد ﴾(٤)

يعنی : په مسجد کښې اودس مکروه دې يا نه دې؟ په دې کښې دواړه روايتونه دی ابن عقيل رحمه الله دا دواړه روايتونه ذکر کړې دی، خو ابن عقيل فرمائی چه که مونږ د دې خبرې قائل کيږو چه د رفع دحدث دپاره استعمال شوې اوبه نجس دی نو د هغې استعمال به په مسجد کښې حرام وی.

مرداوی رحمه الله هم دا دواړه روايتونه نقل کړی، پس هغه ليکی : ﴿ يباح الوضوء والغسل في المسجد ان لم يؤذ به احدا على الصحيح من المذهب، وحكاه ابن المنذر اجماعا، وعنه : يكره .... ﴾(٥)

---

١) پورته حواله
٢) المجموع شرح المهذب ج ٢ ص ١٧٤
٣) پورته حواله
٤) الشرح الكبير ج ٣ ص ١٢١، مع المقنع والانصاف، كتاب الصلاة، فصل فيما يكره في المسجد
٥) الانصاف للمرداوی ج ١ ص ١٦٨

یعني په مسجد کښې اودس او غسل جائز دي، په دې شرط چه چاته تکلیف او نه رسولې شي، هم دا صحیح قول دې، ابن المنذر رحمه الله په دې خبره باندې اجماع نقل کړې ده، په یو بل روایت د امام احمد رحمه الله کښې دی چه دا کار مکروه دې.
د احنافو په نزد په مسجد کښې اودس مکروه تحریمي دې، خو که په یو داسې ځائې کښې اودس اوکړې شي کوم چه د اودس دپاره مختص کړې شوې وی یا په یو لوښی وغیره کښې اوکړې شي نو بیا ګنجائش شته.

پس په در مختار کښې تصریح ده : ﴿ومن منهیاته : التوضؤ بفضل ماء المرأة، اوفی موضع نجس، لان الماء الوضوء حرمة، اوفی المسجد الافی اناء، اوفی موضع اعد لذلك﴾(۱)
یعنی د اودس د منهیات او ممنوعات نه یو دا هم ده چه د زنانه په باقی پاتې اوبو سره اودس اوکړې شی، یا په ناپاك ځائې کښې اودس اوکړې شی، وجه د دې دا ده چه د اودس د اوبو یو حرمت دې، دا د هغې منافی دې، یا په مسجد کښې اودس اوکړې شی، مګر دا چه په یو لوښی کښې یا داسې ځائې کښې اودس اوکړې شی کوم چه د دې دپاره تیار کړې شوې وی نو بیا څه باك نشته.

دلته ﴿ منهیاته ﴾ کښې چونکه مکروه تنزیهی هم شامل دې، (۲) په دې وجه علامه طحطاوی رحمه الله باقاعده تصریح کړې ده چه په مسجد کښې اودس مکروه تحریمي دې، پس هغه فرمائی: ﴿ قوله: او فی المسجد، فعله فیه مکروه تحریما، لوجوب صیانته عما یقذره، وان کان طاهرا﴾(۳) په مسجد کښې اودس کول مکروه تحریمي دی، ځکه چه مسجد د هر هغه څیز نه پاك ساتل ضروري دی کوم چه ګنده ګڼړلې شی، اګر چه پاك وی.
حاصل مذاهب : د مذاهبو حاصل دا دې چه ؛ د احنافو په نزد په مسجد کښې اودس کول مکروه تحریمي دی، خو که په یو لوښی کښې اودس اوکړې شی یا په داسې ځائې کښې کوم چه د دې کار دپاره خاص کړې شوې وی نو بیا ګنجائش شته.
هم دا امام احمد رحمه الله یو روایت دې، د امام مالك رحمه الله قول هم دا دې، تردې چه که په یو لوښی کښې وی هم د هغوی په نزد مکروه دې.
د شوافع او حنابله په نزد په مسجد کښې اودس جائز دې په دې شرط چه چاته تکلیف نه وی.(٤) والله اعلم
د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه د عمل توجیه : کوم حضرات چه په مسجد کښې اودس ته جائز وائی هغوی ته خو د هیڅ توجیه هم ضرورت نشته، خو د احنافو په نزد د هغوی دا عمل په دې

۱) الدر المختار مع رد المحتار ج ۱ ص ۹۸
۲) کما صرح به الشامی فی رد المحتار ج ۱ ص ۹۸
۳) حاشیة الطحطاوی علی الدر المختار ج ۱ ص ۷۶
٤) د تفصیل دپاره اوګورئ: الموسوعة الفقهیة الکویتیة : ۳۸٤/٤۳

باندې محمول کیدې شی چه هغوی یا خو په یو لوښی وغیره کښ اودس کړې وی، یا ئې په داسې ځائې کښې اودس کړې وی د چرته نه چه اوبه د مسجد نه بغیر د تلوث نه خارجیږی.
والله سبحانه وتعالی اعلم

قوله: فَقَالَ إِنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل!

﴿إِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ﴾ بیشکه زما امت به د قیامت په ورځ داسې حال کښ راشی چه د هغوی تندی او لاسونه په پرقیږی.

د امت معنی د جماعت راځی. (۱) دلته د امت نه مراد د حضور ﷺ منونکی دی.
مشهوره خو دا ده چه د امت دوه قسمونه دی. یو امت دعوت او بل امت اجابت. (۲)
امت دعوت خو عام دې، مسلمانان هم په دې کښ داخل دی او کافر هم، او امت اجابت د دې په مقابله کښ خاص دې، د دې اطلاق صرف په مسلمانانو باندې کیږی چا چه د رسول الله ﷺ دعوت قبول کړې دې. خو کلاباذی رحمه الله فرمائی چه د رسول الله ﷺ د امت درې قسمونه دی! یو امت اتباع دې، دویم امت اجابت دې او دریم قسم امت دعوت دې، په دې کښ هر اولنې قسم د دویم په مقابله کښ اخص دې.
امت اتباع، د عمل صالح والا حضرات دی، امت اجابت عام مسلمانان دی او په امت دعوت کښ هغه ټول شامل دی د چا طرف ته چه رسول الله ﷺ مبعوث کړې شوې وو. (۳)

دلته امت اجابت مراد دې یا امت دعوت؟: ظاهره دا ده چه دلته امت اجابت مراد دې، نه امت دعوت، وړاندې نور تفصیل راځی.

قوله: غُرًّا مُحَجَّلِينَ: دا دواړه الفاظ د ﴿يدعون﴾ د ضمیر نه دحال واقع کیدو د وجې نه منصوب دی یا دا دواړه الفاظ د مفعول ثانی کیدو د وجې نه منصوب دی. (٤)

د لفظ ﴿غر﴾ تحقیق: لفظ ﴿غر﴾ د ﴿اغر﴾ جمع ده،دا د ﴿غرة﴾ نه وتلې دې او ﴿غرة﴾ په اصل کښ هغه سپین والی ته وئیلې شی کوم چه د اس په تندی باندې وی، روستو د دې اطلاق په ښکلا او حسن او جمال، نیک نامئ او شهرت باندې شروع شو. (۵)
دلته ترې مراد هغه نور دې کوم چه به د امت محمد ﷺ په تندو باندې پرقیږی. (۶)

---

۱) الأُمَّة : (جَماعَةٌ أُرْسلَ إِلَيْهِم رَسولٌ) سواء آمَنُوا أو كَفَرُوا . وقال الليث : كلُّ قَوْمٍ نُسبوا إلى نَبيٍّ فَأُضيفُوا إِلَيْه فهم * ا أُمَّتُه . قال : وكُلّ جيلٍ من الناس هِمْ * ا أُمَّةٌ على حدَة . (و) قال غيرهُ : * ا الأُمَّة (الجيلُ من كُلِّ حَيّ . و) قيل: (الجنْس) من كُلِّ حَيَوان غير بَنى آدَمَ أُمَّةٌ على حدَة. تاج العروس : ۲۲۹/۳۱، مادة (أم م).
۲) فتح الباری ج ۱۰ ص ۲۳۱، کتاب الطب، باب السحر، وعمدة القاری ج ۲ ص ۲۴۸
۳) فتح الباری ج ۱۱ ص ٤۱۱، کتاب الرقاق، باب یدخل الجنة سبعون الفا بغیر حساب
٤) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۴۸
۵) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۶
٦) پورته حواله

﴿ محجلین ﴾ : دا د باب تفعیل نه د اسم مفعول صیغه ده، کومه چه د محجل جمع ده، دا د حجل نه ماخوذ دې، چه د هغې معنی د خلخال یعنی پازیب ده.
محجل هغه اس ته وئیلې شی چه د هغه په لاسونو او خپو کښې کم از کم درې د کونډو نه لاندې او د پنجې نه پورته سپین والې وی.
ابن سیده خو فرمائی چه د اس په څلورو وارو خپو کښې موجود سپین والی ته تحجیل وئیلې شی، او بعض نور حضرات فرمائی چه په درې خپو کښې سپین والې وی نو هغې ته تحجیل وئیلې شی. (۱)
دا د اس د ښکلا علامت دې، په دې وجه دلته د اودس د اندامونو خپو لاسونو د اودس د وجې نه د قیامت په ورځ باندې ښکلې، چمك دار او منور کیدل مراد دی. (۲)
قوله: مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ: د اودس د اثار د وجې نه، یعنی د اودس د وجې نه به ﴿غرمحجل﴾ وی، د هغوی مخ او لاسونه به پرقیږی.
ایا اودس د دې امت د خصوصیات نه دې؟: د دې حدیث نه امام حلیمی رحمه الله په دې خبره باندې استدلال کړې دې چه اودس د دې امت د خصوصیات نه دې. (۳) خو په دې باندې اشکال دا دې چه په حدیث کښې راغلې دی چه ﴿ هذا وضوئي ووضوء الانبياء قبلي ﴾(٤)
د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه دا حدیث ضعیف دې، (۵) لهذا د دې نه استدلال نه شې کیدلې او که صحیح وی نو هم په دې کښې دا احتمال دې چه اودس د مخکښې پیغمبرانو علیهم السلام دپاره خو مشروع وی او د هغوی د امتونو دپاره مشروع نه وی. (۶)
د دې نه علاوه وړاندې په بخاری شریف کښې د سیدنا ابراهیم علیه السلام قصه راروانه ده چه هغه د خپلې کور والا سیده ساره رضی الله عنها سره په یو ظالم بادشاه باندې تیر شو، هغه په زبردستئ باندې سیده ساره رضی الله عنها طلب کړه، هغې اودس اوکړو او د مانځه دپاره اودریدله. (۷)

---

۱) عمدة القاری ج ۲ ص ۲٤۷
۲) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۶
۳) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۶
٤) مسند الطيالسی ج ۱ ص ۲۶۰، مسند عبد الله بن عمر، رقم ۱۹۲٤، واخرج ابن ماجة عن ابی بن كعب بلفظ، هذا وضوئی، ووضوء المرسلین من قبلی، كتاب الطهارة، باب ما جاء فی الوضوء مرة ومرتین وثلاثا، رقم ٤۲۰. وايضا اخرج ابن ماجة عن ابن عمر هذا : هذا وضوئی ووضوء خليل الله ابراهيم عليه السلام. كتاب الطهارة، باب ما جاء فی الوضوء مرة ومرتین وثلاثا، رقم (٤۱۹)
۵) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۶، وقال ابن تيمية فی الفتاوی الكبری وحديث ابن ماجة : ووضوء الانبياء قبلی ضعيف عند اهل العلم بالحديث، لا يجوز الاحتجاج بمثله ج ٤ ص ۳۸۸، باب صفة الوضوء.
۶) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۶
۷) قال الحافظ رحمه الله فی فتح الباری ج ۶ ص ۳۹۳، فی كتاب احاديث الانبياء، باب قول الله تعالی ﴿ واتخذ الله ابراهيم خليلا ﴾ وفی رواية ابی الزناد عن الاعرج من الزيادة : ﴿ فقام اليها فقامت توضاء وتصلی ﴾

هم دغه شان د جریج راهب په قصه کښې وړاندې راروان دی چه په هغه باندې چه کله تهمت اولګولې شو نو هغه اودس اوکړو او د هغه ماشوم په سر باندې ئې لاس راښکلو سره تپوس اوکړو ﴿من ابوك؟﴾ نو هغه ماشوم جواب ورکړو چه فلانې شپونکې دې. (۱)

لهذا دا به وئیلې شی چه اودس د دې امت د خصوصیات نه نۀ دې خو د اودس اثر ﴿ غرة وتحجیل﴾ د دې امت د خصوصیات نه دې. (۲)

یو اشکال او د هغې جواب: سوال دا دې چه هر کله اودس په امم سابقه کښې هم وو نو غرة او تحجیل د دې امت سره خاص ولې کړې شو؟

د دې یو جواب خو دا دې چه ﴿ ذلك فضل الله یؤتیه من یشاء ﴾(۳) دا الله پاك اختیار دې هغه چه چا له غواړی خپل فضل ورکوی.

دویم جواب دا دې چه په دې امت کښې چه د اودس کوم عموم او شیوع دې هغه په تیرو امتونو کښې نه وو، پس د روایت نه هم دغه شان معلومیږی!

امام دارمی رحمه الله د کعب احبار رحمه الله نه نقل کړی دی: ﴿نجده مکتوبا محمد رسول الله صلی الله علیه و سلم لا فظ ولا غلیظ ولا صخاب بالأسواق ولا یجزئ بالسیئة السیئة ولکن یعفو ویغفر وأمته الحمادون یکبرون الله عزوجل علی کل نجد ویحمدونه فی کل منزلة ویتأزرون علی أنصافهم ویتوضئون علی أطرافهم ﴾ (٤)

یعنی: مونږ د رسول الله ﷺ ذکر په تورات کښې داسې بیا مومو چه رسول الله ﷺ خو نه تند خویه دې او نه د سخت طبیعت والا، نه په بازارونو کښې شور کونکې دې او نه د بدئ بدله په بدئ سره ورکوی، بلکه معافی کوی او بخښنه کوی، د رسول الله ﷺ امت ﴿ حمادون ﴾ تعریف کونکی دی، هغوی الله پاك لره په هر لوړ ځائې باندې لوئی بیانوی او په هر ښکته ځائې باندې ئې پاکی بیانوی، په نیمه پنډئ باندې لنګ تړی او خپلو اندامونو لره وینځلو سره اودس کوی...

د غره او تحجیل صفت به هر مومن ته حاصلیږی او که په دې کښې څه تخصیص شته؟: دا د غره او تحجیل صفت به هر ایمان والا ته حاصلیږی یا مخصوص حضراتو ته؟

علامه زناتی مالکی شارح د "الرسالة" د بعض علماء کرامو رائې نقل کړې ده چه دا صفت به هر امتی ته حاصل وی، ځکه چه دا د اسلام علامت خاصه ده، په دې علامت سره به د

---

۱) صحیح البخاری ج ۱ ص ۳۳۷، کتاب المظالم والغصب، باب اذا هدم حائطا فلیبن مثله، رقم (۲٤۸۲) و ج ۱ ص ٤۸۹، کتاب احادیث الانبیاء علیهم السلام، باب ﴿ واذکر فی الکتاب مریم اذا انتبذت من اهلها ﴾ رقم (۳٤۳۶)

۲) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۶

۳) المائدة : ٥٤، الحدید : ۲۱، الجمعة : ٤

٤) سنن الدارمی ج ۱ ص ۱۶، المقدمة، باب صفة النبی ﷺ فی الکتب قبله مبعثه، رقم ۵، وانظر ایضا رقم ۷ و ۸

قیامت په ورځ باندې د مسلمانانو یعنی امت محمدیه او د هغوی د غیر ترمینځه فرق کیږی. (۱)

خو د علامه ابن تیمیه رحمه الله او د علامه عینی رحمه الله رائې دا ده چه دا صفت به هر چاته نه وی حاصل بلکه صرف هغه ته به ملاویږی چه اودس کوی (۲) ځکه چه په روایت کښې دی چه ﴿غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ﴾ (۳) یعنی د اودس د اثراتو د وجې نه به د هغوی مخونه او د اودس اندامونه پرقیږی.

په مسلم شریف کښې چه کوم الفاظ راغلې دی هغه دا دی ﴿أَنْتُمُ الْغُرُّ الْمُحَجَّلُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ إِسْبَاغِ الْوُضُوءِ﴾ (٤) هم دغه شان په مسلم شریف کښې دا الفاظ هم دی: ﴿لَكُمْ سِيمَا لَيْسَتْ لِأَحَدٍ غَيْرِكُمْ تَرِدُونَ عَلَيَّ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ﴾ (۵)

د صحیح ابن حبان د روایت الفاظ دی: ﴿يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ تَعْرِفُ مَنْ لَمْ تَرَ مِنْ أُمَّتِكَ؟، قَالَ: غُرٌّ مُحَجَّلُونَ بُلْقٌ مِنْ آثَارِ الطُّهُورِ﴾ (۶)

یا رسول الله ﷺ! تاسو به قیامت کښې خپل امت څنګه پیژنئ کوم چه تاسو نه دی لیدلی؟ وې فرمائیل د اودس د اثر نه به سپین، پرقیدونکی، ابلق وی.

ایا په تندی باندې نخښبه د سجدې د وجې نه نهٔ ده؟: د دې حدیث نه خو معلومه شوه چه غره او تحجیل دواړه د اودس اثر دې، او حال دا چه په ترمذی شریف کښې یو حدیث دې ﴿امتی

---

۱) اوګورئ: عمدة القاری ج ۲ ص ۲۵۰

۲) قال ابن تیمیة رحمه الله: وَقَدْ ثَبَتَ فِي الصَّحِيحَيْنِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " { أَنَّه يَعْرِفُ أُمَّتَهُ بِأَنَّهُمْ غُرٌّ مُحَجَّلُونَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ } وَإِنَّمَا تَكُونُ الْغُرَّةُ وَالتَّحْجِيلُ لِمَنْ تَوَضَّأَ وَصَلَّى فَأَبْيَضَّ وَجْهُهُ بِالْوُضُوءِ وَابْيَضَّتْ يَدَاهُ وَرِجْلَاهُ بِالْوُضُوءِ فَصَلَّى أَغَرَّ مُحَجَّلًا. فَمَنْ لَمْ يَتَوَضَّأْ وَلَمْ يُصَلِّ لَمْ يَكُنْ أَغَرَّ وَلَا مُحَجَّلًا فَلَا يَكُونُ عَلَيْهِ سِيمَا الْمُسْلِمِينَ الَّتِي هِيَ الرنك لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ الرنك الَّذِي يُعْرَفُ بِهِ الْمُقَدَّمُ أَصْحَابَهُ. (مجموع الفتاوى شيخ الاسلام ابن تيمية ج ۳۵ ص ۱۰۷)

الرنک: شعار للملوک والامراء والاتراک والمماليک بمصر (فارسية) المعجم الوسيط ج ۱ ص ۳۷۶

وقال العينى: وهذا نقل غريب، وظاهر الاحاديث يقتضى خصوصية ذلک لمن توضا منهم، عمدة القارى ج ۲ ص ۲۵۰. یعنی د غره او تحجیل دا صفت چه د اودس او مانځه دواړو سره مقید کړې شوې دې نو دا غریب دې. ګینې د ظاهر احادیثو تقاضه خو صرف دومره ده چه دا د اودس د آثار نه دې.

۳) كما فى رواية الباب.

٤) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب استحباب اطالة الغرة والتحجيل فى الوضوء، رقم ۵۷۹

۵) پورته حواله رقم ۵۸۱

٦) صحيح ابن حبان ج ۳ ص ۳۲۳، ذكر وصف هذه الامة فى القيامة باثار وضونهم كان فى الدنيا، رقم ۱۰۴۷. و ج ۱۶ ص ۲۲۶، ذكر وصف هذه الامة فى القيامة باثار وضونهم كان فى الدنيا، رقم ۷۲۴۲، موارد الظمآن ص ۶۵، كتاب الطهارة، باب فضل الوضوء رقم ۱۴۶.

يوم القيامة غرمن السجود، محجلون من الوضوُ﴾(۱) يعنی زما د امت تندې به د سجدې د وجې نه او د هغوی د اودس د اندامونو د وجې نه پړقيږی. چه د هغې نه معلوميږی چه د تندی د پړقيدو سبب سجده ده، دغه شان په دواړو احاديثو کښې په ظاهره تعارض شان معلوميږی.
د دې جواب دا دې چه دا هيڅ د تعارض خبره نه ده، حقيقت دا دې چه په تندی باندې به ئې نور د اودس د وجې نه هم ظاهريږی او د سجدې د وجې نه هم. والله اعلم

قوله: <u>فمن استطاع منكم ان يطيل غرته فليفعل</u>: پس کوم سړې چه په تاسو کښې غره اوږدولې شی هغه دې اوږده کړی.

دلته د ﴿غرة﴾ ذکر راغلې دې، چه د هغې ظاهری مفهوم دا دې چه د مخ په وينځلو کښې زائد مقامات وينځلې شی، خو مقصود غرة او تحجيل دواړه دی، يعنی مخ او د اودس نور اندامونه او خپو وينځلو کښې (د خپل حد نه) زيادت اوکړې شی، ګويا مقصود اګر چه دواړه دی خو تغليبا صرف د ﴿غرة﴾ ذکر راغلې دې. (۲)
غرة او تحجيل دواړه مقصود دی، په دې وجه بعض حضراتو دلته اشکال کړې دې چه غرة مونث دې او تحجيل مذکر، تغليب مذکر ته حاصليدل پکار دی مونث ته نه؟

پس د دې جواب دا دې چه د ﴿غرة﴾ تعلق چونکه د تندی او مخ سره دې او هغه د اودس په اندامونو کښې د ټولو نه اشرف اندام دې، د ملاقات په وخت د ټولو نه اول په هغې باندې نظر پريوځی، په دې وجه دلته غرة لره غالب کولو سره تحجيل د هغې په ضمن کښې داخل کړې شو. (۳) د دواړو په مقصود کيدو باندې دليل د صحيح مسلم روايت دې، چه په هغې کښې ﴿فليطل غرته وتحجيله﴾ راغلې دې. (٤)
د اطاله غرة وتحجيل حکم: د شوافعو او د صحيح مذهب مطابق د حنابله په نزد اطاله غرة وتجيل مسنون دې. (۵) د احنافو په نزد د اودس د آدابو نه دې. (۶)
او د مالکيانو او د حنابله يو روايت دا دې چه اطاله غرة مندوب او مستحب نه دې، بلکه د مالکيانو په نزد دا فعل مکروه دې. (۷)

---

۱) جامع الترمذي، ابواب الصلاة، باب ما ذکر من سيما هذه الامة من اثار السجود والطهور يوم القيامة، رقم (۶۰۷)
۲) عمدة القاری ج ۲ ص ۲٤۸
۳) پورته حواله
٤) صحيح مسلم، کتاب الطهارة، باب استحباب اطالة الغرة والتحجيل فی الوضوء رقم ۵۸۹
۵) اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ۱ ص ٤۲۷، ٤۲۸، کتاب الطهارة، حکم الغرة .... والانصاف للمرداوی ج ۱ ص ۱۶۸
۶) اوګورئ: الدر المختار مع رد المحتار ج ۱ ص ۹۶
۷) اوګورئ: الانصاف ج ۱ ص ۱۶۸، والشرح الکبير للدردير ج ۱ ص ۱۰۳، فصل يذکر فيه حکم ازالة النجاسة، وحاشية الدسوقی علی الشرح الکبير ج ۱ ص ۱۰۳، فصل يذکر فيه احکام الوضوء.

د مالکیانو دلیل هغه روایت دی کوم چه امام احمد او امام ابوداؤد رحمهما الله په طریق د ﴿عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده﴾ نقل کړې دې چه رسول الله ﷺ درې درې کرته د اودس د اندامونو وینځلو نه پس اوفرمائیل: ﴿فمن زاد علی هذا او نقص فقد اساء وتعدی وظلم﴾(۱) یعنی څوك چه په دې باندې زیادت اوکړی نو هغه بد اوکړل او ظلم ئې اوکړو. چه هرکله زیادت د بدئ او ظلم موجب دې او هغه مذموم دې نو اطاله غرة وتحجیل څنګه مستحب کیدې شی؟(۲)

هر چه د حدیث الباب تعلق دې نو دې حضراتو د دې جواب دا ورکړې دې چه!

① د دې حصې په رفع کښې کلام دې، په ظاهره دا د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه د طرف نه ادراج دې، د دې وجه دا ده چه امام احمد رحمه الله دا روایت د ﴿فلیح عن نعیم﴾ په طریق سره نقل کړې دې او د دې په اخر کښې دی:

﴿فَقَالَ نُعَيْمٌ: لَا أَدْرِي قَوْلَهُ: مَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ مِنْ قَوْلِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَوْ مِنْ قَوْلِ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه﴾(۳)

یعنی: نعیم رحمه الله فرمائی چه ﴿من استطاع ان یطیل غرته فلیفعل﴾ والا جمله د رسول الله ﷺ فرمائیلې شوې ده یا د ابوهریره رضی الله عنه قول دې، دا خبره ماته نه ده معلومه.

حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دا روایت د لسو صحابه کرامو نه روایت شوې دې، په هغوی کښې د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه علاوه د چا په روایت کښې هم دا جمله نشته، بیا د ابوهریره رضی الله عنه نه دا جمله صرف نعیم روایت کویو د هغوی نه علاوه ئې بل راوی نه روایت کوی. دا ټول د مدرج کیدو علامت دې. (٤)

حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عینی رحمه الله چه دا خبره فرمائیلې ده چه دا جمله د نعیم مجمر د روایت نه سوا په بل یو طریق کښې هم نه ده راغلې نو دا خبره محل نظر ده، ځکه چه په مسند احمد کښې هم دا روایت د ﴿کعب المدنی عن ابی هریرة﴾ په طریق سره روایت شوې ده او په هغې کښې بعینه هم دا جمله ﴿مَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ﴾ راغلې ده. (۵) خو دا طریق ضعیف دې، ځکه چه په دې کښې لیث بن ابی سلیم راوی دې، کوم چه مختلط شوې وو، د هغوی د قبل الاختلاط او بعد الاختلاط والا احادیثو کښې د فرق نه کیدو د وجې نه محدثینو د هغه احادیث پریخودل، خو په سنن اربعه کښې د هغه روایتونه اخستلې شوې دی او امام

---

۱) مسند احمد ج ۲ ص ۱۸۰، رقم ۶۶۸٤، والسنن لابی داؤد بزیادة او نقص، کتاب الطهارة، باب الوضوء ثلاثا ثلاثا، رقم ۱۳۵، وسنن ابن ماجة، کتاب الطهارة، باب ما جاء فی القصد، وکراهة التعدی فیه، رقم ٤۲۲.

۲) اوګورئ: شرح صحیح البخاری لابن بطال: ۲۲۲/۱

۳) مسند احمد ج ۲ ص ۳۳٤، مسند ابی هریرة رضی الله عنه رقم ۸۳۹٤

٤) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۶، وعمدة القاری ج ۲ ص ۲٤۹

۵) اوګورئ: مسند احمد ج ۲ ص ۳۶۲، رقم ۸۷۲۶

مسلم رحمه الله مقرونا د هغه نه روایتونه اخستلې دی، او امام بخاری رحمه الله د هغه نه تعلیقا روایت کړې دې.
د هغه نه علاوه په دې روایت کښې کعب مدنی دې، چه د هغه کنیت ابو عامر دې، دا مجهول راوی دې، د هغه نه د لیث بن ابی سلیم نه علاوه چا هم روایت نه دې اخستلې. (۱)
② د دې جملې د معلول کیدو او مدرج کیدو یو دلیل دا هم دې چه کله سیدنا ابوهریره رضی الله عنه اودس کولو او هغوی لاسونه د ترخونو پورې وینځل نو د هغوی نه تپوس اوکړې شو چه دا څه دی؟ په دې باندې هغوی جواب ورکړو!
﴿ سمعت خلیلی ﷺ یقول: تبلغ الحلیة من المؤمن حیث یبلغ الوضوء ﴾(۲)
یعنی ما د خپل حبیب ﷺ نه اوریدلې دی چه ارشاد ئې اوفرمائیلو چه کومو ځایونو ته د اودس اوبه رسیږی د مومن هغه اندامونه به پړقیږی.
که د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه سره هغه نص وې نو په دې موقع باندې به ئې هغه ذکر کړې وې، د دې نه ذکر کول د دې خبرې دلیل دې چه هغه د رسول الله ﷺ نه ثابت نه دې.
③ علامه ابن تیمیه رحمه الله فرمائی چه دا ده د رسول الله ﷺ قول کیدې هم نه شی، ځکه چه د غرة تعلق د مخ سره دې او په مخ کښې اطالة ناممکن دې، ځکه چه د ټول مخ وینځل فرض دی د هغې نه وړاندې به کوم ځائې وینځی؟ (۳)
د جمهورو د طرف نه دا وئیلې کیدې شی چه د حضرات شیخین دې جملې لره د حدیث مرفوع په طور نقل کول او د څه قسم شك او شبهې اظهار نه کول په دې خبره دلیل دې چه دا د رسول الله ﷺ قول دې، بیا په مسند احمد کښې د ﴿ فلیح عن نعیم ﴾ په صرف یو طریق کښې د شك اظهار کړې شوې دې (٤) او د سعید بن ابی هلال عن نعیم په طریق کښې بغیر د څه شك او شبهې نه دا روایت نقل شوې دې. (۵)
د دې نه علاوه د کعب المدنی روایت (٦) د ضعف باوجود د متابعت دپاره صالح دې، په دې کښې هم بعینه هم دا جمله موجود ده.

---

۱) اوګورئ: تعلیقات الشیخ شعیب الارنؤوط علی مسند احمد ج ۱۳ ص ۳۵٤، رقم ۸۷٤۱. قال الحافظ فی التقریب تحت ترجمة اللیث بن ابی سلیم صدوق اختلط جدا، ولم یتمیز حدیثه فترک، ص ٤۹۵، رقم ۵٦۸۵. وقال الترمذی فی جامعه عقب اخراج حدیث کعب ابی عامر (فی المناقب، باب رسول الله ﷺ خاتم النبیین، رقم ۳٦۱٦) وکعب لیس بمعروف ولا نعلم احدا روی عنه غیر لیث بن ابی سلیم.
۲) صحیح مسلم، کتاب الطهارة، باب تبلغ الحلیة حیث یبلغ الوضوء، رقم ۵۸٦، وسنن النسائی، کتاب الطهارة، باب حلیة الوضوء، رقم ۱٤۹، وسنن النسائی الکبری، کتاب الطهارة، باب حلیة الوضوء رقم ۱٤۲
۳) اوګورئ: مجموع الفتاوی شیخ الاسلام ابن تیمیة ج ۱ ص ۲۷۹
٤) اوګورئ: مسند احمد ج ۲ ص ۳۳٤، رقم ۸۳۹٤، و ج ۲ ص ۵۲۳، رقم ۱۰۷۸۸.
۵) مسند احمد ج ۲ ص ٤۰۰، رقم ۹۱۸٤
٦) اوګورئ: مسند احمد ج ۲ ص ۳٦۲، رقم ۸۷۲٦

د اطاله غره او تحجيل استحباب ﴿ فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ ﴾ د جملې په اثبات باندې موقوف نه دې، بلکه هر کله چه دا د سيدنا ابوهريره رضی الله عنه د عمل نه او بيا په طور د روايت ثابت دې نو دومره خبره کافی ده.

پس مونږ شاته ذکر کړې دی چه په صحيح مسلم کښې ﴿ عمارة بن غزية عن نعيم المجمر عن ابي هريرة ﴾ په طريق سره نقل شوی روايت کښې دی:

﴿ رَأَيْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَتَوَضَّأُ فَغَسَلَ وَجْهَهُ فَأَسْبَغَ الْوُضُوءَ ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ الْيُمْنَى حَتَّى أَشْرَعَ فِي الْعَضُدِ ثُمَّ يَدَهُ الْيُسْرَى حَتَّى أَشْرَعَ فِي الْعَضُدِ ثُمَّ مَسَحَ رَأْسَهُ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَهُ الْيُمْنَى حَتَّى أَشْرَعَ فِي السَّاقِ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى حَتَّى أَشْرَعَ فِي السَّاقِ ثُمَّ قَالَ هَكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ـ صلى الله عليه وسلم ـ يَتَوَضَّأُ ﴾ (١)

يعنی: سيدنا ابوهريره رضی الله عنه لاسونه وينځل د څنګلو نه پورته د متو پورې او خپې ئې د ګيټو نه باره پنډو (سپينو) پورې وينځلې او وې فرمائيل چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دغه شان په اودس کولو باندې ليدلې دې.

د دې نه معلومه شوه چه د اطاله دپاره د دې مخصوص جملې د ثبوت ضرورت نشته.

د دې نه علاوه حديث مرفوع ﴿ تبلغ الحلية من المؤمن حيث يبلغ الوضوء ﴾ (٢) هم د دې اطالة په استحباب باندې دال دې.

دا حديث د ﴿ فمن استطاع منكم ﴾ والا جملې د معلول کيدو د دليل په طور پيش کول واضح نه دی، ځکه چه دا څنګه لازميدلې شی چه بعينه هم هغه جمله دوباره وئيلو سره دې جواب ورکړې شی، او حال دا چه د ﴿ تبلغ الحلية .... ﴾ نه هم دا خبره فهميږی، سيدنا ابوهريره رضی الله عنه په دې موقع باندې ﴿ تبلغ الحلية ﴾ وئيلو سره جواب ورکړو او ﴿ فمن استطاع ﴾ والا حديث ئې بيان نه کړو. ځکه چه د دواړو مفهوم يو دې.

هر چه د علامه ابن تيميه رحمه الله د انکار تعلق دې، نو وئيلې کيدې شی چه د ظاهر حديث نه خو هم دا معلوميږی چه اطاله تحجيل خو ممکن دې، خو اطاله غره ممکن نه ده، خو علامه کرمانی رحمه الله وغيره شارحينو په دې مقام باندې فرمائيلې دی چه په مخ کښې هم اطاله ممکنه ده، هغه داسې چه د تندی دپاسه د سر څه حصې ته هم اوبو اورسولې شی، هم دغه شان د مخ طرفونه او د زنې د لاندې د مرئ او سټ پورې لوند کړې شی. (٣)

مالکيانو چه د ﴿ فَمَنْ زَادَ عَلَى هَذَا أَوْ نَقَصَ فَقَدْ أَسَاءَ وَظَلَمَ ﴾ (٤) نه کوم استدلال کړې دې هغه هم فاسد دې، ځکه چه شاته مونږ د دې تاويلات ذکر کړې دی، دا حديث په عدد المرات کښې

---

١) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب استحباب اطالة الغرة والتحجيل فی الوضوء، رقم ٥٧٩
٢) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب تبلغ الحلية حيث يبلغ الوضوء، رقم ٥٨٦.
٣) اوګورئ: شرح الكرمانی ج ٢ ص ١٧٢
٤) مسند احمد ج ٢ ص ١٨٠، رقم ٦٦٨٤

په زيادت او نقص باندې محمول دې، نه په تطويل غره او تحجيل باندې. (۱)
ابن بطال رحمه الله د اطالة غرة يو بل تاويل كړې دې، هغه فرمائى چه دلته د اطاله نه مراد مواظبت او دوام دې، يعنى په اودس دې مواظبت او دوام اختيار كړې شى، دا د اندامونو د نور او د هغې د تقويت باعث دې. (۲)
خو دا تاويل هم ظاهر البطلان دې، ځكه چه د دې راوى سيدنا ابوهريره رضى الله عنه دې او هغه د اطالة معنى د مداومت او مواظبت په ځائې د اودس په اندامونو كښې اضافه ګڼړى، ﴿والراوى ادرى بمعنى ما روى﴾ (راوى ته د خپل روايت مطلب زيات معلوم وى) بيا هغوى نه صرف په دې باندې عمل اوكړو بلكه دا عمل ئې مرفوعا نقل هم كړو، په دې وجه دا تاويل بالكل صحيح نه دې. (۳)
بيا ابن بطال، قاضى عياض او ابن التين رحمه الله د علماء كرامو په دې اتفاق نقل كړې دې چه د مرفق او كعب نه پورته وينځل مستحب نه دى.
خو دا د اتفاق نقل كولو هم صحيح نه دى، ځكه چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه نقل كړې شوې دى چه هغوى به د اودس اندامونه د فرض مقدار نه زيات وينځل، د سيدنا ابوهريره رضى الله عنه عمل هم مخكښې ذكر شوې دې، هم دغه شان سيدنا عبدالله بن عمر رضى الله عنهما نه ابن ابى شيبه او ابو عبيد په حسن سند سره نقل كړې دى چه هغوى به هم داودس اندامونه وينځلو كښې اطالة فرمائيله.(٤)
بيا مخكښې د علماء حنفيه، شافعيه او حنابله فتاوى هم ذكر كړې شوې دى چه دا اطاله غرة وتحجيل مستحب دې او د اودس د آدابو نه دې، لهذا دا د اتفاق نقل كول صحيح نه دى.
حاصل دا چه اطاله غره او تحجيل د اكثر علماء او جمهورو په نزد مستحب دې، خو ابن تيميه او د هغه ملګرى صرف د يدين او رجلين د اطاله قائل دى، او په مخ كښې د اطاله هغوى قائل نه دى، او د امام مالك رحمه الله په نزد اطاله نه صرف دا چه مستحب نه ده بلكه مكروه ده. والله اعلم

څومره مقدار اطاله مستحب ده؟ : بيا چه كوم حضرات د استحباب قائل دى د هغوى اقوال دې باره كښې مختلف دى چه څومره مقدار پورې اطاله اوكړې شى؟
د احنافو، حنابله او شافعيه كښې د يو جماعت په نزد د اطاله تحجيل څه حد نه دې مقرر.(۵)
پس علامه شامى رحمه الله د ابن امير الحاج رحمه الله نه نقل كړې دى:

﴿وهل له حد؟ لم اقف فيه على شئ لاصحابنا﴾ (٦)

---

۱) عمدة القارى ج۲ ص ۲٤۹
۲) شرح صحيح البخارى لابن بطال ج ۱ ص ۲۲۲
۳) فتح البارى ج ۱ ص ۲۳۷
٤) المصنف لابن ابى شيبة ج ۱ ص ٤٢٤، كتاب الطهارة، باب فى الرجل يتبلغ بالوضوء ابطه، رقم ۶۰۹، وفتح البارى ج ۱ ص ۲۳۶، وعمدة القارى ج ۲ ص ۲٤۹
۵) اوګورئ: الموسوعة الفقهية الكويتية ج ۳۹ ص ۱۱۸، مادة منكب
٦) رد المحتار ج ۱ ص ۹۶

يعنى : د دې حد څه دې؟ په دې سلسله کښې ماته د خپلو اصحابو په کتابونو کښې هيڅ نه دی ملاؤ شوی.
هم دغه شان امام نووی رحمه الله ليکلې دی :
﴿ ثم ان جماعة منهم اطلقوا استحباب ذلك ولم يحدوا غاية الاستحباب بحد كما أطلقه المصنف رحمه الله، وقال جماعة يستحب الى نصف الساق والعضد وقال القاضي حسين وآخرون يبلغ به الابط والركبة، وقال البغوى نصف العضد فما فوقه ونصف الساق فما فوقه والله أعلم ﴾(۱)
يعنى شوافع د مافوق المرفقين والكعبين وينځلو ته مستحب وئيلې دی، بيا په هغوی کښې يو جماعت دا استحباب د يو حد سره نه دې محدود کړې بلکه مطلق ئې ساتلې دې، او يو جماعت د نصف ساق او نصف عضد قول اختيار کړې دې، قاضی حسين او نورو حضراتو د اوګو پورې، هم دغه شان د خپو د کونډو پورې مستحب کړې دی، امام بغوی رحمه الله فرمائی چه د متې د نيمې نه پورته پورې، هم دغه شان د پنډۍ د نيمې نه پورته پورې وينځل مستحب دی.
د ترجمة الباب سره مطابقت : ترجمة الباب دې : ﴿باب فضل الوضوء﴾ او په حديث شريف کښې د اودس فضيلت ذکر شوې دې په داسې طريقه چه د ﴿ اطالة الغرة والتحجيل ﴾ په نتيجه کښې چه کوم فضيلت حاصليږی هغه د زيادة على الواجب د اثراتو نه دې، چه هر کله د زيادت دا فضيلت دې نو د اصل واجب به څومره فضيلت وی. (۲) والله اعلم

★★★★★★★

④ باب لَايَتَوَضَّأُ مِنَ الشَّكِّ حَتّٰى يَسْتَيْقِنَ

دا باب د دې خبرې په بيان کښې دې چه د شك د وجې نه دې اودس نه کوی، تردې چه يقين ئې پيدا شی.
د مخکښې باب سره مناسبت : مخکښې باب د اودس د احکاماتو نه د يو حکم يعنی د اودس د فضيلت په باره کښې وو او دا باب هم د اودس د احکاماتو نه د يو حکم په باره کښې دې چه د يقينې اودس نه پس که د اودس د ماتيدو شك وی نو اودس ضروری دې يا نه دې؟ امام بخاری رحمه الله د قاعدې فقهيه مطابق اوفرمائيل چه صرف د شك په بنياد يقينی اودس نه ماتيږی. (۳)
مقصد د ترجمة الباب : د ترجمة الباب نه د امام بخاری رحمه الله مقصد واضح دې، هغوی دا بيانول غواړی چه صرف په شك سره اودس نه ماتيږی، مثلا چا که اودس اوکړو او روستو

---

۱) المجموع ج ۱ ص ۴۲۸
۲) فتح البارى ج ۱ ص ۲۳۷
۳) اوګورئ : عمدة القارى ج ۲ ص ۲۵۰

ئې شك پيدا شو چه هو اترې خارج شوې ده يا نه نو صرف د شك په بنياد به اودس نه ماتيږي.(۱)
علامه سندهى رحمه الله فرمائى چه په داسې انسان باندې اودس لازم نه دې، دا مطلب نه دې چه هغه لره اودس نه دى كول پكار، بلكه مناسب دا ده چه اودس اوكړى، خو كه د مانځه په حالت كښې داسې شك پيدا شى نو مونځ نه دى ماتول پكار، هم دا د حديث مقتضى ده. (۲)
بله دا هم ممكنه ده چه د امام بخارى رحمه الله مقصد د ذكر شوې فائدې سره سره د وضوء من اجل الشك د مسئلې طرف ته هم اشاره وى، چه په كومه كښې د امام مالك رحمه الله د جمهورو سره اختلاف دې او امام بخارى رحمه الله د هغې د ترديد دپاره دا باب قائم كړې وى. (۳)

د شک د وجې نه د اودس حکم : كه چاته د بې اودسئ يقين وى خو په دې كښې ئې شك وى چه آيا د بې اودسئ نه پس مې اودس كړې وو يا نه؟ په داسې انسان باندې بالاجماع اودس لازم دې. او كه يقينى طهارت ورته حاصل وو، د هغې نه روستو ئې په دې خبره كښې شك پيدا شو چه بې اودسه شوې دې يا نه؟نو په دې كښې اختلاف دې.
د ائمه ثلاثه، امام ابوحنيفه، امام شافعى، امام احمد او جمهور فقهاء او علماء كرامو رحمهم الله په نزد په داسې انسان باندې اودس واجب نه دې، كه دا شك په مانځه كښې دننه پيښ شوې وى يا د مانځه نه بهر.
د امام حسن بصرى رحمه الله په نزد تفصيل دا دې چه كه شك په مانځه كښې دننه پيدا شى نو اودس لازم نه دې او كه د مانځه نه بهر وى نو اودس لازم دې.
د امام مالك رحمه الله په دې مسئله كښې څو اقوال دى، يو قول خو ئې د جمهورو مطابق دې، دويم قول ئې دا دې چه كه دا شك اكثر راځى نو بيا اودس لازم نه دې او كه شك ئې اكثر نه پيدا كيږى نو بيا دې د شك سره مونځ نه كوى بلكه اودس دې اوكړى.
يو قول ئې دا دې چه شك مطلقا ناقض وضوء دې.
يو قول ئې دا دې چه په خارج الصلاة كښې ناقض دې، په داخل الصلاة كښې نه دې.
حاصل دا دې چه د جمهورو په نزد د يقينى طهارت نه پس شك فى الحدث ناقض وضوء نه دې او نه ترې اودس لازم دې.
او د امام مالك رحمه الله په نزد د هغوى د مشهور قول مطابق شك ناقض وضوء دې او د شك راتلو په صورت كښې اودس لازم دې. (٤) والله اعلم

---

۱) اوګورئ: الكنز المتوارى ج ۳ ص ۱۱
۲) حاشية السندى على صحيح البخارى ج ۱ ص ۷۲
۳) اوګورئ: الكنز المتوارى ج ۳ ص ۱۱
٤) د مذاهبو د تفصيل دپاره اوګورئ: الدر المختار مع رد المحتار ج ۱ ص ۱۱۱، والمجموع شرح المهذب ج ۲ ص ٦۳، ٦٤، والانصاف للمرداوى ج ۱ ص ۲۲۱، والمغنى لابن قدامة ج ۱ ص ۱۲٦، وعارضة الاحوذى ج ۱ ص ۱۰۰، ومختصر اختلاف العلماء ج ۱ ص ۱۵۳، ۱۵٤، رقم ٦۳، فى الشك فى الحدث والوضوء.

١٣٧: ﴿حَدَّثَنَا عَلِيٌّ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ: حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَعَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ عَنْ عَمِّهِ(١) أَنَّهُ شَكَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم الرَّجُلُ الَّذِي يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَجِدُ الشَّيْءَ فِي الصَّلَاةِ فَقَالَ: لَا يَنْفَتِلْ، أَوْلَا يَنْصَرِفْ - حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا، أَوْ يَجِدَ رِيحًا﴾ [١٧٥، ١٩٥١]

رجال الحديث

① **على** : دا امير المومنين فى الحديث امام على بن عبدالله بن جعفر بن نجيح سعدى بصرى المعروف بابن المدينى رحمه الله دي. د هغوى حالات په كتاب العلم «باب الفهم في العلم» د لاندې تير شوي دى. (٢)

② **سفيان** : دا امير المومنين فى الحديث امام سفيان بن عيينه رحمه الله ذي. د هغوى حالات په «بدء الوحى» كښ د اولنى حديث په ضمن كښ مختصرا (٣) او په كتاب العلم «باب قول المحدث حدثنا او اخبرنا وانبانا» د لاندې تفصيلا ذكر شوي دى. (٤)

③ **الزهرى** : دا امام محمد بن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله بن شهاب زهرى مدنى رحمه الله دي، د هغوى حالات په «بدء الوحى» كښ د دريم حديث د لاندې تير شوي دى. (٥)

④ **سعيد بن المسيب** : د امام التابعين، سيد الفقهاء سعيد بن المسيب قرشى مخزومى رحمه الله دي، دهغوى حالات په كتاب الايمان «باب من قال ان الايمان هو العمل» د لاندې تير شوي دى. (٦)

⑤ **عباد بن تميم** : دا عباد بن تميم بن غزيه انصارى مازنى مدنى رحمه الله دي. (٧)

دي د خپل والد تميم بن غزيه، د خپل ترهٔ عبدالله بن زيد بن عاصم، عويمر بن اشقر،

---

١) قوله (عن عمه) وهو عبدالله بن زيد بن عاصم المازنى رضى الله تعالى عنه، والحديث : اخرجه البخارى ايضا فى صحيحه، فى كتاب الوضوء، باب من لم ير الوضوء الا من المخرجين رقم ١٧٧، وفى كتاب البيوع باب من لم ير الوساوس ونحوها من الشبهات، رقم ٢٠٥٦، ومسلم فى صحيحه فى كتاب الحيض، باب الدليل على ان من تيقن الطهارة ثم شك فى الحدث فله ان يصلى بطهارته تلك، رقم ٨٠٤، والنسائى فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب الوضوء من الريح رقم ١٦٠، وابوداؤد فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب اذا شك فى الحدث، رقم ١٧٦، وابن ماجة فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب لا وضوء الا من حدث، رقم ٥١٣، واحمد فى مسنده ج ٤ ص ٣٩ و ٤٠، رقم ١٦٥٥٦، ١٦٥٦٤.

٢) كشف البارى ج ٣ ص ٢٩٧ تا ٣٠٢

٣) كشف البارى ج ١ ص ٢٣٨

٤) كشف البارى ج ٣ ص ١٠٢ تا ١٠٦

٥) كشف البارى ج ١ ص ٣٢٦

٦) كشف البارى ج ٢ ص ١٥٩ تا ١٦١

٧) تهذيب الكمال ج ١٤ ص ١٠٧، ١٠٨

ابو بشير انصارى، ابو سعيد خدرى، ابو قتاده انصارى او خپلې نيا ام عماره انصاريه رضي الله عنهم نه روايت كوى.
د هغوى نه په روايت كونكو كښې ابوبكر بن حزم، عبدالله بن ابى بكر بن حزم، عمارة بن عزية. عمرو بن يحيى بن عماره، محمد بن ابى بكر بن حزم، امام زهرى او يحيى بن سعيد انصارى رحمهم الله وغيره شامل دى. (۱)
د عباد والد محترم تيم او عبدالله دواړه رونړه دى، د يو قول مطابق په مور كښې شريك او د بل قول مطابق په پلار كښې شريك رونړه دى. (۲)
د هغوى نيا ام عماره نسيبه بنت كعب رضي الله عنها ده. (۳)
عباد رحمه الله بعض حضراتو په صحابه كرامو كښې شمار كړې دې ځكه چه ابن سعد رحمه الله د موسى بن عقبه رحمه الله نه نقل كړى دى:
﴿ قال عباد بن تميم انا يوم الخندق ابن خمس سنين، فاذكر اشياء واعيها، وكنا مع النساء في الاطام، وما كان اهل الاطام ينامون الاعقب، خوفا من بنى قريظة ان يغيروا عليهم ﴾ (٤)
يعنى : زه د غزوه خندق په موقع باندې د پنځو كالو اوم، ډير څيزونه به ما يادول او محفوظ كول به مې، مونږ د زنانو سره په قلعه ګانو كښې وو او د قلعه خلق به د شپې په نمبر نمبر اوده كيدل، ځكه چه د بنى قريظه د طرف نه د حملې كولو ويره وه.
د دې روايت په رنړا كښې دې صحابى دې، پس حافظ ذهبى رحمه الله دې په صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې شمار كړې دې.(۵)
كوم حضرات چه هغه صحابى نه ګنړى هغوى ئې تابعى ګنړى، پس ابن عبد البر رحمه الله فرمائى ﴿ وعباد بن تميم احد ثقات التابعين بالمدينة ﴾(۶) يعنى عباد بن تميم رحمه الله د مدينې منورې په ثقه تابعينو كښې يو دې.
امام عجلى رحمه الله فرمائى : ﴿ مدنى، تابعى، ثقة ﴾(۷)
ابن خلفون رحمه الله هغه په كتاب الثقات كښې ذكر كولو سره نقل كړى دى : ﴿ وثقه ابن عبد الرحيم يعنى التبان ﴾(۸)

---

۱) پورته حواله
۲) پورته حواله
۳) معانى الاخبار ج ۳ ص ۴۸
٤) الطبقات لابن سعد: ۸۱/۵
٥) اوګورئ: تجريد أسماء الصحابة: ۲۹۱/۱، رقم (۳۰۷٤)
٦) التمهيد لابن عبدالبر ج ۹ ص ۲۰۳
۷) معرفة الثقات ج ۲ ص ۱۶، رقم ۸۳٤، واكمال تهذيب الكمال لمغلطائى ج ۷ ص ۱۶٤، رقم ۲۶۸۲، وتهذيب التهذيب ج ۵ ص ۹۱
۸) اكمال تهذيب الكمال ج ۷ ص ۱۶٤، رقم ۲۶۸۲

امام محمد بن اسحاق او امام نسائى رحمهما الله فرمائى : ﴿ثقة﴾(۱)
حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى : ﴿ثقة﴾(۲)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى ﴿ثقة من الثالثة وقد قيل ان له رؤية﴾(۳)
امام ابن حبان رحمه الله په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې. (٤) رحمه الله رحمة واسعة
تنبيه : د هغوى د وفات كال د هغوى په تذكره كونكو كښې چا هم نه دې ليكلې، خو ابن سعد رحمه الله نقل كړې دې : ﴿وكان له اخوان لابيه وامه : معمر وثابت ابنا تميم، قتلا يوم الحرة فى ذى الحجة، سنة ثلاث وستين﴾ (۵) يعنى د هغه دوه حقيقى رونړه معمر او ثابت وو. دا دواړه د حره په واقعه كښې په ذوالحجة ۶۳ هـ كښې شهيد شوې وو.
د تهذيب الكمال محقق ډاكټر بشار عواد معروف حفظه الله دلته خطاء شوې دې چه د ابن سعد په حوالې سره ئې دا ليكلې دى چه : ﴿وقال ابن سعد : قتل يوم الحرة فى ذى الحجة سنة ثلاث وستين﴾(۶) والله اعلم

⑥ عمه : دا سيدنا عبدالله بن زيد بن عاصم بن كعب بن عمرو انصارى مازنى مدنى رضى الله عنه دې.(۷)
د واقدى رحمه الله د قول مطابق عبدالله بن زيد رضى الله عنه مسيلمه كذاب لره قتل كړې وو پس د هغوى د مور ام عماره رضى الله عنها نه روايت دې چه ما مسيلمه لټولو، چه او مې كتل نو زما ځوئى عبدالله مسيلمه لره قتل كولو سره خپله توره صفا كوله. (۸)
سيدنا وحشى بن حرب رضى الله عنه فرمائى چه ما خپله نيزه ويشتله او د انصارو يو سړى پړې په تورې سره حمله اوكړه نو اوس الله پاك ښه پوهيږى چه په مونږ كښې چا قتل كړو، خو په قلعه كښې يوې جينۍ چغې وهلې چه حبشى غلام مسيلمه قتل كړو. (۹)
سيدنا عبدالله بن زيد بن عاصم رضى الله عنه په غزوه بدر كښې شريك شوې وو يا نه؟ په دې كښې

---

۱) تهذيب الكمال ج ١٤ ص ١٠٩
۲) الكاشف ج ۱ ص ۵۲۹، رقم ۲۵۵۸
۳) تقريب التهذيب ص ۲۸۹، رقم ۳۱۲۳
٤) الثقات لابن حبان ج ۵ ص ١٤١
۵) الطبقات لابن سعد ج ۵ ص ۸۱
۶) تعليقات تهذيب الكمال ج ١٤ ص ١٠٩
۷) تهذيب الكمال ج ١٤ ص ۵۳۸
۸) تهذيب الكمال ج ١٤ ص ۵۳۹
۹) پورته حواله

اختلاف دي، خو دي او د هغوى مور بيبى ام عماره رضي الله عنها په غزوه احد كښې شريك وو. (۱) پس دي روايت كوى چه رسول الله ﷺ په دغه ورځ فرمائيلي وو ﴿ رحكم الله اهل البيت ﴾ (۲)
هغه د رسول الله ﷺ نه حديث روايت كوى، د هغوى نه په روايت كونكو كښې امام سعيد بن المسيب، عباد بن تميم واسع بن حبان بن منقذ، يحيى بن عمارة بن ابى حسن «دا ئې زوم دي» او ابوسفيان مولى ابى احمد رحمهم الله دى. (۳)

د واقعه حره په موقع باندې په ۶۳ هجرى كښې شهيد شوې دې. رضى الله عنه وارضاه

تنبيه: دلته په سند كښې دى ﴿ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَعَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ عَنْ عَمِّهِ ﴾ يعنى امام زهرى رحمه الله د سعيد بن المسيب رحمه الله او عباد بن تميم رحمه الله دواړو نه روايت كوى او هغوى دواړه د عباد رحمه الله د ترهٔ سيدنا عبدالله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه نه روايت كوى. ګويا د ﴿ عن عباد ﴾ عطف په ﴿ عن سعيد ﴾ باندې دې، او حال دا چه د كريمه په روايت كښې واؤ عطف ساقط كيدو سره عبارت داسې شوې دې. ﴿ عن سعيد بن المسيب عن عباد بن تميم ﴾ او د دې مطلب دا شو چه سعيد بن المسيب د عباد بن تميم نه روايت كوى، او حال دا چه د سعيد بن المسيب د عباد بن تميم نه اصلا روايت بالكل ثابت نه دې. (٤)
بيا دلته د سعيد بن المسيب رحمه الله شيخ هم سيدنا عبد الله بن زيد رضي الله عنه دې، چه د هغې تعبير په ﴿ عن عمه ﴾ سره كړې شوې دې او مطلب دا دې ﴿ عن عم الثانى ﴾ يعنى دا روايت د دويم راوى عباد د ترهٔ نه نقل دې، ګويا دواړه موصولا روايت كوى. (۵)
خو دلته يو احتمال دا هم دې چه د عباد روايت خو د عبدالله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه نه وى او موصول وى او د سعيد بن مسيب رحمه الله روايت مرسل وى. (۶)
د امام مزى رحمه الله رجحان د سعيد بن المسيب رحمه الله د طريق هم په دې سند سره د موصول كيدو دې، پس په تحفة الاشراف كښې هغوى د دې تصريح كړې ده، (۷) او د دويم احتمال تائيد د ابن ماجه د روايت نه كيږى كوم چه ﴿ ابو كريب، حدثنا المحاربى، عن معمر بن راشد، عن الزهرى، انبانا

---

۱) شهد بدرا، قاله ابن مندة، وابو نعيم وقال ابو عمر شهد احدا وغيرها، ولم يشهد بدرا، وهو الصحيح اسد الغابة ج ۳ ص ۲۵۱، رقم ۲۹۵۸، وانظر الاستيعاب بهامش الاصابة ج ۲ ص ۳۱۲، وانظر معرفة الصحابة ج ۳ ص ۱۵۰، رقم الترجمة ۱۶٤۰، وسبل الهدى والرشاد ج ٤ ص ۱۰۸.
۲) الطبقات لابن سعد ج ۸ ص ٤۱۵، ترجمة ام عمارة رضى الله عنها
۳) اوګورئ: تهذيب الكمال ج ۱٤ ص ۵۳۹
٤) اوګورئ: فتح البارى ج ۱ ص ۲۳۷
۵) پورته حواله
٦) پورته حواله
۷) پس هغوى فرمائى: ﴿ عن الزهرى عن سعيد بن المسيب وعباد بن تميم كلاهما عن عمه عبد الله بن زيد به ﴾ تحفة الاشراف ج ٤ ص ۳۳۶

سعيد بن المسيب، عن ابى سعيد الخدرى رضي الله عنه ﴾ په طريق سره روايت شوې دې. (١) ګويا دا حديث امام سعيد بن المسيب رحمه الله د ابو سعيد خدرى رضي الله عنه نه نقل کوى او حال دا چه امام بخارى رحمه الله دا مرسلا نقل کړې دې.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى د دې روايت ټول راويان اګر چه ثقات دى خو امام احمد رحمه الله دې ته منکر وئيلې دې. (٢) د دې وجه د امام احمد رحمه الله خوئى عبد الله بن احمد رحمه الله دا بيان کړې ده: ﴿ ولم نعلم ان المحاربى سمع من معمر شيئا، وبلغنا ان المحاربى كان يدلس ﴾ (٣)

يعنى مونږ ته دا علم نشته چه محاربى د معمر نه څه اوريدلې وى او مونږ ته دا خبره معلومه شوې ده چه محاربى به تدليس کولو.

د ﴿ سعيد بن المسيب عن ابى سعيد الخدرى ﴾ په طريق سره هم دا حديث امام احمد رحمه الله په ډيرو ځايونو کښې روايت کړې دې (٤) خو په هغه ټولو کښې ضعف دې. (٥)

لهذا وئيلې کيدې شى چه اګر چه د صحيح بخارى په دې حديث کښې د ارسال احتمال دې خو راجحه دا ده چه دلته دا حديث موصول دې او د عبد الله بن زيد رضي الله عنه په مسانيد کښې دې نه د ابو سعيد خدرى رضي الله عنه په مسانيد کښې. والله اعلم

يو بله تنبيه : عبد الله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه د عباد بن تميم رحمه الله تره وو، خو په دې کښې اختلاف دې چه دا ئې د پلار سره په مور کښې شريك رور وو يا پلا کښې؟

په دې باندې ځان داسې پوهه کړئ چه په دې کښې اختلاف دې چه عبد الله بن زيد او تميم رضي الله عنهما خپل مينځ کښې مور شريك رونړه وو که پلار شريك؟

حافظ ابن حجر رحمه الله په پلار کښې شريکې رور ولئ ته ترجيح ورکړې ده، پس هغوى د تميم رضي الله عنه د ترجمې د لاندې ليکى:

﴿ تميم بن زيد الانصارى، والد عباد، واخو عبد الله بن زيد بن عاصم المازنى فى قول الاكثر ﴾ (٦)

يعنى دا تميم بن زيد الانصارى د عباد والد دې او د اکثر حضرات د قول مطابق د عبد الله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه رور دې.

---

١) پوره حديث داسې دې: ﴿ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ ، حَدَّثَنَا الْمُحَارِبِيُّ ، عَنْ مَعْمَرِ بْنِ رَاشِدٍ ، عَنِ الزُّهْرِيِّ ، أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ، قَالَ : سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّشَبُّهِ فِي الصَّلَاةِ ، فَقَالَ : لَا يَنْصَرِفُ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا ، أَوْ يَجِدَ رِيحًا ﴾ سنن ابن ماجة، كتاب الطهارة وسننها، بَابُ لَا وضوءَ الا من حدث، رقم ٥١٤

٢) فتح البارى ج ١ ص ٢٣٧)

٣) اوګورئ: علل الامام احمد بن حنبل ج ٣ ص ٣٦٣ رقم ٥٥٩٧

٤) اوګورئ: مسند احمد ج ٣ ص ٩٦، رقم ١١٩٣٤، ١١٩٣٥

٥) وهذا اسناد ضعيف لضعف على بن زيد وهو ابن جدعان، وبقية رجاله ثقات، رجال الصحيح، المسند للامام احمد بتحقيق شعيب الارنؤوط واصحابه، رقم ١١٩١٢، ١١٩١٣

٦) الاصابة ج ١ ص ١٨٥

وړاندې فرمائى : ﴿ وقيل هو اخوه لامه، واما ابوه فهو غزية بن عمرو بن عطية، وبذلك جزم الدياطى، تبعا لابن سعد ﴾(۱) يعنى : وئيلې شوې دى چه تمييم د عبدالله بن زيد رضي الله عنهما په مور كښ شريك رور وو، او د هغوى پلار غزيه بن عمرو بن عطيه دې، دمياطى د ابن سعد په اتباع كښ هم په دې باندې جزم كړې دې.

حقيقت دا دې چه دا په مور كښ شريك رونړه وو، امام ابن سعد رحمه الله د دې تفصيل داسې بيان كړې دې. ﴿ وتزوج ام عمارة بنت كعب زيد بن عاصم بن عمرو بن عوف .... فولدت له عبدالله وحبيبا، صحبا النبى ﷺ، ثم خلف عليها غزية بن عمرو بن عطية، فولدت له تميما وخولة ﴾(۲)

حاصل د دې دا دې چه : د ام عماره بنت كعب رضي الله عنها سره زيد بن عاصم نكاح اوكړه، هغوى سره د هغوى ځوئى عبدالله بن زيد او حبيب بن زيد پيدا شو، دا دواړه صحابه كرام وو. بيا د زيد بن عاصم نه پس د هغې سره غزيه بن عمرو بن عطيه نكاح اوكړه او د هغې نه د هغوى اولاد تميم او خوله پيدا شو.

لهذا عبدالله بن زيد بن عاصم او تميم بن غزيه بن عمرو دواړه په مور كښ شريك شو او عبدالله بن زيد رضي الله عنه د عباد بن تميم رحمه الله ترۀ هم په دې نسبت سره دې يعنى د پلار ئې په مور كښ د شريك رور كيدو د وجې نه دې. والله اعلم

قوله: أَنَّهُ شَكَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلُ الَّذِى يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَجِدُ الشَّيْءَ فِي الصَّلَاةِ: هغوى رسول الله ﷺ ته شكايت اوكړو چه يو سړې دې چه هغه ته په مانځه كښ خيال راځى چه هغه په مانځه كښ څه محسوس كړې دى يعنى ګمان ورته راځى چه بې اودسه شوې دې.

زمونږ په دې روايت كښ ﴿ شكا ﴾ د ماضى معروف صيغه ده.(۳) ګويا ﴿ شاكى ﴾ يعنى سائل خپله راوى يعنى سيدنا عبدالله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه دې، پس د ابن خزيمه په روايت كښ تصريح موجود ده: ﴿ عن عمه عبدالله بن زيد قال : سالت رسول الله ﷺ عن الرجل يجد الشئ وهو فى الصلاة ﴾(٤)

د صحيح بخارى په بعض نسخو كښ د ﴿ شكى ﴾ مجهول صيغه هم راغلې ده، په دې صورت كښ به په ﴿ انه شكى ﴾ كښ ضمير، ضمير شان وى. (فتح البارى ج ۱ ص ۲۳۷)

په صحيح مسلم كښ په مجهول صيغې سره راغلې دې (٥)

---

۱) پورته حواله
۲) الطبقات لابن سعد : ٤۱۲/۸
۳) فتح البارى ج ۱ ص ۲۳۷
٤) صحيح ابن خزيمة ج ۱ ص ٤۷، كتاب الوضوء باب جماع ابواب الاحداث الموجبة للوضوء رقم ۲٥
٥) صحيح مسلم ج ۱ ص ۱٥۸، كتاب الحيض، باب الدليل على ان من تيقن الطهارة، ثم شک فى الحدث فله ان يصل بطهارته تلک، رقم ۸۰٤)

لکه چه امام نووی رحمه الله د دې تصریح کړې ده. (۱)

قوله: الرجل: دا مرفوع دې په دې کښې اعراب اعراب حکائی دې او پوره جمله د ﴿شکا﴾ د مفعول کیدو د وجې نه د نصب په موضع کښې ده. (۲)

قوله: یخیل: د باب تفعیل نه د واحد مذکر مضارع مجهول صیغه ده، د دې معنی د ګمان کولو راځی. (۳)

قوله: یجد الشیٔ: څه محسوس کوی، یعنی ورته محسوسیږی چه څه څیز ترې خارج شوې دې او حدث ورته لاحق شوې دې، پس د اسماعیلی په روایت کښې د دې صراحت موجود دې ﴿یخیل الیه فی صلاته انه یخرج منه شیٔ﴾ (٤)

قوله: في الصلاة: په مانځه کښې دننه محسوس کوی چه بې اودسه شوې دې.
د دې نه بعض مالکیانو استدلال کړې دې چه د عدم نقض وضوء حکم کوم چه په حدیث الباب کښې راغلې دې دا د هغه سړی دپاره دې کوم چه په مانځه کښې دننه دې، یعنی د هغه اودس به د شك د وجې نه نۀ ماتیږی، او هر چه د هغه سړی تعلق دې کوم چه د مانځه نه بهر دې، پس د هغه حکم دا دې چه د هغه اودس به د شك د وجې نه مات شی. (۵)
دې حضراتو چه په مانځه کښې د داخل او خارج ترمینځه کوم تفریق کړې دې د هغې بنیاد دا دې چه شریعت مطهره د عباداتو د باطل کولو نه منع فرمائیلې ده ﴿ولاتبطلوا اعمالکم﴾(٦) که په مانځه کښې دننه د اودس د ماتیدلو حکم اولګوو نو د دې نه به ابطال عبادت لازم شی او د مانځه په خارج کښې د نقض وضوء حکم لګولو سره د ابطال عبادت خرابی نه لازمیږی. (۷)

خو د دې حضراتو دا استدلال صحیح نه دې ځکه چه ﴿نهی عن ابطال العبادة﴾ خو د عبادت په صحت باندې موقوف دې، یعنی که د چا عبادت صحیح طریقې سره کیدو نو هغه دې باطل نه کړې شی، دلته خو تاسو د دې خبرې قائل یئ چه شك ناقض وضوء دې، که دا شك په خارج صلاة کښې ناقض وضوء دې نو په داخل صلاة کښې به هم ناقض وضوء وی، لکه چه د نورو نواقض وضوء هم دا حال دې. (۸)

هر چه په حدیث الباب کښې د ﴿فی الصلاة﴾ د قید تعلق دې نو دا قید احترازی نه دې بلکه په

---

۱) اوګورئ: شرح النووی علی صحیح مسلم ج ۱ ص ۱۵۸
۲) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۷
۳) پورته حواله
٤) پورته حواله
۵) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۷، ۲۳۸
٦) سورة محمد آیت ۳۳
۷) اوګورئ فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۸
۸) پورته حواله

مانځه کښې دننه د پیښېدونکې کیفیت واقعه اظهار دې. والله اعلم

قوله: فَقَالَ لَا يَنْفَتِلُ أَوْ لَا يَنْصَرِفُ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا: رسول الله ﷺ اوفرمائیل: هغه دې ترهغه وخته پورې د مانځه نه نۀ واپس کيږي ترڅو چه ئې اواز نه وی اوريدلې يا ئې بدبوئی نه وی محسوس کړې.

﴿لاينفتل﴾ او ﴿لاينصرف﴾ يوه معنی لری، د واپس کيدو او راګرځيدو په معنی کښې دې، بيا دلته ﴿او﴾ د شك دپاره دې او دا شك د امام بخاری د استاذ علی بن المدينی رحمه الله د طرف نه دې، ځکه چه د سفيان بن عيينه رحمه الله نه نورو راويانو بغير د شك نه ﴿لاينصرف﴾ روايت کړې دې. (فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۸)

دا لفظ مجزوم هم کيدې شی ځکه چه ﴿لا﴾ د نهی دپاره ده او مرفوع هم لوستلې کيدې شی په دې صورت کښې به ﴿لا﴾ د نفی دپاره منلې شی. (۱)

قوله: حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا: تردې چه د حدث اواز واوری يا بدبوئی محسوس کړی دلته دا د مثال په طور ذکر کړې شوې دې، اصل مقصود د تيقين حاصليدل دی اوس که يو سړی ته آواز او بدبوئی نه محسوس کيږی خو د هغه د اودس د ماتيدو يقين وی نو د هغه دپاره اودس کول ضروری دی.

د حديث الباب نه د جمهورو استدلال او د امام مالك رحمه الله تاويل حديث الباب د جمهورو د مذهب صريح دليل دې چه که د يقينی طهارت نه پس د حدث شك پيدا شی نو په دې سره اودس نه ماتيږی، برابره خبره ده که په مانځه کښې شك وی، يا ئې بهر شك وی.

او د امام مالك رحمه الله په نزد د مشهور قول مطابق د شك د وجې نه اودس ماتيږی.

امام مالك رحمه الله دا حديث په مستنکح باندې محمول کوی، د استنکاح معنی د غلبې ده، وئيلې شی ﴿استنکح النوم عينه، غلبها﴾ (۲) يعنی خوب د هغه په سترګو باندې غالب راغلو. فقهاء مالکيه دا لفظ د کثرت شك په معنی کښې استعمالوی، پس هغوی فرمائی: ﴿استنکحه الشك، ای اعتراه کثيرا﴾ (۳)

يعنی هغه ته شك په کثرت سره لاحق شو، په داسې طريقه چه شك د هغه عادت جوړ شو.

امام مالك رحمه الله فرمائی چه رسول الله ﷺ په حديث الباب کښې چه کوم سړی ته د مانځه د پريخودلو حکم کړې دې دا داسې سړې دې د چا چه د شك کولو عادت وی، ظاهره ده چه د داسې سړی دپاره که د نقض وضوء حکم نو په سخته تنګسيا کښې به پريوځی. (اوګورئ: شرح صحيح البخاری لابن بطال ج ۱ ص ۲۲۴)

---

۱) پورته حواله
۲) تاج العروس ج ۷ ص ۱۹۷، مادة نكح
۳) الموسوعة الفقهية الكويتية ج ٤ ص ۱۲۸، مادة استنكاح

مالکیان فرمائی چه د سیدنا عبدالله بن زید بن عاصم رضی الله عنه په دې حدیث کښې د ﴿ شکا الی رسول الله ﷺ ﴾ الفاظ دا خبره بیانوی چه د دې نه د کثرت شك عادت مراد دې، ځکه چه ﴿شکوی ﴾ عام طور د څه علت اوبیماریٔ دوجې نه وی.هم دغه شان په حدیث الباب کښې د ﴿یخیل﴾لفظ هم دابیان کوی چه ددې حقیقت هیڅ نه دې،ځکه چه دتخیل هیڅ حقیقت نه وی.(۱)

د امام مالک رحمه الله د تاویل جواب : خو جمهور علماء کرام فرمائی چه حدیث الباب عام دې په دې کښې د کثرت والا سړې هم داخل دې او هغه سړې هم چاته چه په کثرت سره شك نه پیدا کیږی. (۲)

او هر چه د لفظ ﴿ شکا ﴾ تعلق دې پس هغه په علت یا کثرت شك باندې دال نه دې، ځکه چه د مسلم شریف په یو روایت کښې دی، په هغې کښې د سر نه لفظ د ﴿ شکی﴾ یا ﴿ شکی﴾ شته دې نه. (۳) پس د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه په مرفوع روایت کښې دی : ﴿ إِذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ فِي بَطْنِهِ شَيْئًا فَأَشْكَلَ عَلَيْهِ أَخَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ أَمْ لَا فَلَا يَخْرُجَنَّ مِنَ الْمَسْجِدِ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا ﴾(٤)

یعنی که په تاسو کښې یو سړې په خپله خیټه کښې څه محسوس کوی، په دې وجه د هغه شك پیدا شی چه د هغه نه څه وتلې دی یا نه دی وتلی؟ نو د مسجد نه دې تر هغه وخته پورې نه اوځی چه ترڅو ئې آواز نه وی اوریدلې یا ئې بدبوئی نه وی محسوس کړې. **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم**

⑤ بَاب: التَّخْفِيفِ فِي الْوُضُوءِ

د باب سابق سره مناسبت : د دې باب د مخکښې باب سره مناسبت بالکل واضح دې چه په تیر شوی باب کښې د اودس د احکاماتو نه یو حکم بیان کړې شوې وو او په دې باب کښې هم د اودس د احکاماتو نه د یو حکم بیان دې. (۵)

د ترجمة الباب مقصد : حافظ ابن حجر، علامه عینی او علامه قسطلانی رحمهم الله فرمائی چه په دې باب سره د تخفیف فی الوضوء جواز بیانول مقصود دی. (۶)

---

۱) پورته حواله

۲) قال الطحاوی : حدیث عباد بن تمیم رضی الله عنه عن عمه : ان النبی ﷺ سئل عن الرجل یخیل الیه انه یجد الشئ فی الصلاة ؟ قال : لا ینصرف حتی یسمع صوتا او یجد ریحا. ولم یفرق بین اول مرة وبین من یعتاده ذلک ..... مختصر اختلاف العلماء ج ۱ ص ۱۵٤ رقم ٦۳

۳) اوګورئ فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۸

٤) صحیح مسلم، کتاب الحیض، باب الدلیل علی ان من تیقن الطهارة، ثم شک فی الحدث، فله ان یصلی بطهارته تلک. رقم ۸۰۵

۵) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۵٤

٦) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۹، عمدة القاری ج ۲ ص ۲۵٤، ارشاد الساری ج ۱ ص ۲۳۰

شیخ الحدیث رحمه الله فرمائی چه زما په نزد زیات اوجه دا ده چه دلته امام بخاری رحمه الله دا بیانول غواړی چه اسباغ فی الوضوء یا دلك فی الوضوء واجب نه دي.

یا داسې اوئیلي شي چه د اودس دوه مرتبې دی، یوه اقل او بل اکمل، پس د اقل طرف ته په دې باب کښې اشاره کوی او د اکمل طرف ته ئې په وړاندې باب ﴿باب اسباغ الوضوء﴾ سره اشاره کړې ده. (الکنز المتواری ج ۳ ص ۱۲)

۱۳۸: ﴿ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ عَمْرٍو قَالَ أَخْبَرَنِي كُرَيْبٌ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ[1] أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَامَ حَتَّى نَفَخَ ثُمَّ صَلَّى وَرُبَّمَا قَالَ اضْطَجَعَ حَتَّى نَفَخَ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى ثُمَّ حَدَّثَنَا بِهِ سُفْيَانُ مَرَّةً بَعْدَ مَرَّةٍ عَنْ عَمْرٍو عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بِتُّ عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُونَةَ لَيْلَةً فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ فَلَمَّا كَانَ فِي بَعْضِ اللَّيْلِ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَوَضَّأَ مِنْ شَنٍّ مُعَلَّقٍ وُضُوءًا خَفِيفًا يُخَفِّفُهُ عَمْرٌو وَيُقَلِّلُهُ وَقَامَ يُصَلِّي فَتَوَضَّأْتُ نَحْوًا مِمَّا تَوَضَّأَ ثُمَّ جِئْتُ فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ وَرُبَّمَا قَالَ سُفْيَانُ عَنْ شِمَالِهِ فَحَوَّلَنِي فَجَعَلَنِي عَنْ يَمِينِهِ ثُمَّ صَلَّى مَا شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ اضْطَجَعَ فَنَامَ حَتَّى نَفَخَ ثُمَّ أَتَاهُ الْمُنَادِي فَآذَنَهُ بِالصَّلَاةِ فَقَامَ مَعَهُ إِلَى الصَّلَاةِ فَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ قُلْنَا لِعَمْرٍو إِنَّ نَاسًا يَقُولُونَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَنَامُ عَيْنُهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ عُبَيْدَ بْنَ عُمَيْرٍ يَقُولُ رُؤْيَا الْأَنْبِيَاءِ وَحْيٌ ثُمَّ قَرَأَ: إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ ﴾ [ر: ۱۱۷]

رجال الحدیث

① **علی بن عبدالله** : دا امیر المومنین فی الحدیث علی بن عبدالله بن جعفر المعروف بابن المدینی رحمه الله دې د هغوی حالات په کتاب العلم باب الفهم فی العلم د لاندې تیر شوی دی. (۲)

② **سفیان** : دا امام سفیان بن عیینه رحمه الله دې د هغوی حالات د بدء الوحی په اولنی حدیث او کتاب العلم باب قول المحدث: حدثنا او اخبرنا او انبانا د لاندې تیر شوی دی. (۳)

③ **عمرو** : دا مشهور فقیه امام عمرو بن دینار مکی جمحی رحمه الله دې، د هغوی حالات په کتاب العلم باب کتابة العلم د لاندې تیر شوی دی. (٤)

④ **کریب**: دا ابورشدین کریب بن ابی قاسم قرشی هاشمی مولی عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دې.(۵)

---

[1]) قوله: عن ابن عباس رضی الله عنهما : هذا حدیث مبیت ابن عباس فی بیت خالته میمونة رضی الله عنها، وقد سبق تخریجه ببسط فی (٤١٣/١)، کتاب العلم، باب السمر فی العلم.

۲) کشف الباری ج ۳ ص ۲۹۷ تا ۳۰۲

۳) کشف الباری ج ۱ ص ۲۳۸، او ج ۳ ص ۱۰۲ تا ۱۰۶

٤) کشف الباری ج ٤ ص ۳۰۹ تا ۳۱۳

۵) تهذیب الکمال ج ۲٤ ص ۱۷۲

هغوى د سيدنا عثمان رضي الله عنه زمانه موندلى ده (۱) د خپل مولى سيدنا عبد الله بن عباس رضي الله عنهما، د هغوى د مور بيبى سيده ام الفضل رضي الله عنها، ام المومنين ميمونه، سيده عائشه، سيده ام سلمه، سيده ام هانى رضي الله عنهن نه روايت حديث كوى.

د هغوى نه په روايت كونكو كښې د هغوى دواړه ځامن رشدين او محمد، سليمان بن يسار، ابو سلمه بن عبد الرحمن بن عوف (دا دواړه ئې همزولى دى) شريك بن ابى نمر، محمد بن عقبه، موسى بن عقبه، ابراهيم بن عقبه، عمرو بن دينار او منصور بن المعتمر رحمهم الله وغيره حضرات دى. (۲)

امام ابن سعد رحمه الله فرمائى ﴿كان ثقة حسن الحديث﴾ (۳)

امام يحيى بن معين او امام نسائى رحمهما الله فرمائى ﴿ثقة﴾ (٤)

امام نووى رحمه الله فرمائى ﴿اتفقوا على توثيقه﴾ (۵)

حافظ ذهبى رحمه الله د هغوى د تذكرې په شروع كښې ليكى: ﴿الامام الحجة﴾ (۶) هم دغه شان فرمائى: ﴿وثقوه﴾ (۷)

امام ابن حبان رحمه الله په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې. (۸)

موسى بن عقبه رحمه الله فرمائى: ﴿وَضَعَ عِنْدَنَا كُرَيْبٌ حِمْلَ بَعِيرٍ أَوْ عِدْلَ بَعِيرٍ مِنْ كُتُبِ ابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ: فَكَانَ عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ إِذَا أَرَادَ الْكِتَابَ كَتَبَ إِلَيْهِ: ابْعَثْ إِلَيَّ بِصَحِيفَةِ كَذَا وَكَذَا. قَالَ: فَيَنْسَخُهَا، فَيَبْعَثُ إِلَيْهِ بِإِحْدَاهُمَا﴾ (۹)

يعنى امام كريب رحمه الله د سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما د علوم او احاديثو دومره لويه ذخيره مونږ ته پريخودله كومه چه په د يو اوښ د بار برابر وى، پس على بن عبد الله بن عباس رحمه الله ته چه به كله د څه كتاب ضرورت وو نو هغوى ته به ئې ليكلو چه فلانې فلانې كتاب پكار دې، هغه به مطلوب كتاب لره نقل كولو سره په دوه نسخو كښې يوه نسخه هغوى ته راوليږله.

د سليمان بن عبد الملك رحمه الله د خلافت په اخره كښې په ۹۸ھ كښې كريب بن ابى مسلم رحمه الله وفات شوې دې. رحمه الله رحمة واسعة [حواله بالا]

---

۱) پورته حواله
۲) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال ج ۲٤ ص ۱۷۲، ۱۷۳
۳) تهذيب الكمال ج ۲٤ ص ۱۷۳
٤) تاريخ الدارمى ص ۱۶۹، رقم ۶۰٤، وتهذيب الكمال ج ۲٤ ص ۱۷٤
۵) تهذيب الاسماء واللغات ج ۲ ص ۶۶
۶) سير اعلام النبلاء ج ٤ ص ٤۷۹
۷) الكاشف ج ۲ ص ۱٤۷، رقم ٤۶۵۳
۸) الثقات لابن حبان ج ۵ ص ۳۳۹
۹) الطبقات لابن سعد ج ۵ ص ۲۹۳

⑤ **ابن عباس رضی الله عنهما**: د سیدنا عبد الله بن عباس رضی الله عنهما حالات په بدء الوحی کښې د څلورم حدیث لاندې، اوهم دغه شان په کتاب الایمان، باب کفران العشیر وکفر دون کفر د لاندې تیر شوې دی.(۱)

قوله: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَامَ حَتَّى نَفَخَ ثُمَّ صَلَّى وَرُبَّمَا قَالَ اضْطَجَعَ حَتَّى نَفَخَ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى: یعنی رسول الله ﷺ اوده شو، تردې چه په خوب کښې اوخړېدلو. بیا ئې مونځ اوکړو. کله سفیان داسې اووې چه رسول الله ﷺ په ډډه اوده شو. تردې چه په خوب کښې اوخړېدلو، بیا پاسېدو او مونځ ئې اوکړو.

دلته سفیان بن عیینه رحمه الله دوه طریقو سره روایتونه کړې دی، یو ﴿ نام ﴾ ....او دویم ﴿اضطجع﴾ د دې مطلب دا نه دې چه ﴿ نام ﴾او ﴿ اضطجع ﴾دواړه مترادف دی، بلکه مطلب دا دې چه سفیان بن عیینه رحمه الله دا روایت مطولا او مختصرا دواړو طریقو سره روایت کولو، او دا روایت چه به ئې کله مطولا روایت کولو نو داسې به ئې وئیل ﴿ اضطجع فنام ﴾ یا به ئې د دې په شان لفظ استعمالولو او که مختصرا به ئې ذکر کولو نو کله به ئې ﴿ نام ﴾وئیلو او کله ﴿ اضطجع ﴾ چه کله به ئې ﴿ نام ﴾وئیلو نو د دې نه مراد به ئې دا وو چه ﴿ نام مضطجعا ﴾او چه کله به ئې ﴿اضطجع﴾وئیلو نو د دې معنی به دا وه چه ﴿ اضطجع نائما ﴾(۲)

قوله: ثُمَّ حَدَّثَنَا بِهِ سُفْيَانُ مَرَّةً بَعْدَ مَرَّةٍ عَنْ عَمْرٍو عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ:
بیا سفیان رحمه الله څو کرته حدیث بیان کړو، هغه د عمرو نه، عمرو د کریب نه، او کریب د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کوی.

علی بن المدینی رحمه الله فرمائی چه سفیان رحمه الله به دا روایت اول مختصرا روایت کولو بیا ئې مطولا روایت کول شروع کړل (۳)

قوله: قَالَ بِتُّ عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُونَةَ لَيْلَةً: سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه ما یوه شپه د خپلې ترور سیده میمونه رضی الله عنها کره اوکړه.

دا د سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما حدیث المبیت دې، شاته مونږ ذکر کړې دی (٤) چه دا د هغوی د ماشوم والی د زمانې واقعه ده، هغه وخت د هغوی عمر تقریبا لس کاله وو، کما ورد مصرحا عند احمد فی مسنده. (۵)

---

۱) اوګورئ: کشف الباری ج ۱ ص ٤٤٥، و ج ۲ ص ۲۰۵

۲) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۹، وخالفه العینی، انظر العمدة ج ۲ ص ۲۵۶

۳) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۹، وعمدة القاری ج ۲ ص ۲۵۶

٤) اوګورئ: کشف الباری ج ٤ ص ٤۲۰، کتاب العلم، باب السمر فی العلم.

۵) اوګورئ: المسند ج ۱ ص ۳٦٤، رقم ۳٤۳۷

ام المومنین سیده میمونه بنت الحارث رضی الله عنها د سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ترور ده، د ابن عباس رضی الله عنهما مور بیبی سیده ام الفضل لبابه بنت الحارث او میمونه بنت الحارث رضی الله عنهما دواړه خویندې دی. (۱)

قوله: فَقَامَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّیْلِ: پس رسول الله ﷺ دشپې پاسیدو.

په اکثر نسخو کښې ﴿ قام ﴾ په قاف سره دې، او د ابن السکن په روایت کښې ﴿ فنام ﴾ نون سره دې. (۲) قاضی عیاض رحمه الله د ابن السکن والا روایت ته صواب او صحیح وئیلې دې، د دې وجه دا ده چه وړاندې جمله ده: ﴿ فلما كان فی بعض اللیل قام النبی ﷺ ﴾ لهذا کله چه وړاندې د ﴿ قام ﴾ ذکر راروان دې نو په شروع کښې به ﴿ نام ﴾ په نون سره وی. (۳)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د ذکر شوې جملې په بنیاد باندې د ﴿ فقام ﴾ والا روایت لره جزما خطاء منل مناسب نه دی. ځکه چه د دې توجیه کیدې شی هغه دا چه په شروع کښې ﴿ فقام النبی ﷺ من اللیل ﴾ یوه مجمله جمله ده، د هغې نه روستو د هغې تفصیل بیان کړې شوې دې، ﴿ فلما كان فی بعض اللیل قام النبی ﷺ ﴾ وئیلو سره د هغې تفصیل بیان کړې شوې دې، دواړه جملې اگر چه په ظاهره کښې یو شان او مکرر ښکاری خو د اجمال او تفصیل په اعتبار سره په دواړو کښې مغایرت دې. (٤)

علامه عینی رحمه الله په ډیر شدومد سره د حافظ رحمه الله د کلام تردید کړې دې، د هغوی وینا ده چه قاضی عیاض رحمه الله چه د کوم روایت تصویب کړې دې هغه صحیح دې، دویم روایت یقینا غلط دې. دلته هیڅ قسم اجمال او تفصیل نشته. (۵) والله اعلم

قوله: فَلَمَّا كَانَ فِی بَعْضِ اللَّیْلِ قَامَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: بیا چه د شپې څه حصه تیره شوه نو رسول الله ﷺ پاسیدو

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه د ﴿ كان ﴾ په ضمیر کښې یو احتمال دا دې چه دا د رسول الله ﷺ طرف ته راجع وی. (۶) حافظ ابن حجر رحمه الله هم د هغوی اتباع کړې ده. (۷)

خو علامه عینی رحمه الله فرمائی چه غوره دا ده چه دلته تقدیر داسې وی ﴿ فلما كان بعض اللیل قام النبی ﷺ ﴾ گویا ﴿ كان ﴾ تامه دې او ﴿ بعض اللیل ﴾ د هغې فاعل دې او ﴿ قام النبی ﷺ ﴾ د

---

۱) اوګورئ: الاصابة ج ۸ ص ۲۶۶، ترجمه ام الفضل امراة العباس
۲) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۹، عمدة القاری ج ۲ ص ۲۵۵
۳) پورته حواله جات
٤) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۹
۵) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۵۵
۶) شرح الکرمانی ج ۲ ص ۱۷۶
۷) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۹

﴿لما﴾ جواب دې. (۱)

په دې صورت کښې به ﴿في﴾ زائده منل وی، علامه عینی رحمه الله فرمائی چه په دې کښې هیڅ باك نشته، پس بعض حضراتو د الله پاك ارشاد ﴿وقال ارکبوا فیها﴾(۲) لره د ﴿ارکبوها﴾ په معنی باندې اخستلې دې. (۳)

هم دغه شان هغوی فرمائی چه زمونږ د توجیه تائید د کشمهینی د روایت نه هم کیږی، چه په هغې کښې دی: ﴿فلما كان من بعض الليل﴾ او په دې کښې هیڅ شك نشته چه په دې روایت کښې ﴿من﴾ زائده دې او یو د بل په ځائې استعمالولې شی. (٤) والله سبحانه وتعالی اعلم

قوله: فَتَوَضَّأَ مِنْ شَنٍّ مُعَلَّقٍ وُضُوءًا خَفِيفًا: پس رسول الله ﷺ د یو زوړ زوړند شوی مشك نه مختصر اودس اوکړو.

شَنّ: بفتح الشين المعجمة وتشديد النون... زوړ مشك ته وئیلې شی. (۵)

دا هم د سقاء او وعاء په معنی کښې اخستلو سره مذکر استعمالولې شی او کله د ﴿قربة﴾ په معنی کښې منلو سره مؤنث استعمالولې شی. (۶) او د دې جمع شنان راځی. (۷)

قوله: يُخَفِّفُهُ عَمْرٌو وَيُقَلِّلُهُ: امام عمرو بن دینار رحمه الله به دا اودس د خفت او قلت سره موسوم کولو یعنی فرمائیل به ئې چه دا اودس خفیف او قلیل وو. (۸)

د تخفیف مقابل تثقیل دې، کوم چه د باب ﴿کیف﴾ نه دې او د تقلیل مقابل تکثیر دې کوم چه د باب ﴿کم﴾ نه دې. (۹)

ابن المنیر رحمه الله فرمائی چه د تخفیف مطلب دا دې چه زیات دلك ئې نه کولو او د تقلیل مطلب دا دې چه د یو یو کرت نه زیات ئې او نه وینځلو. د دې نه پس هغوی فرمائی چه د دې نه د دلك وجوب ثابتیږی، ځکه چه که دلك لره ختمولو سره اختصار کیدلې شوې نو

---

۱) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۵۵

۲) هود : ٤۱

۳) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۵۵

٤) پورته حواله

۵) مختار الصحاح ص ۳٤۸

۶) پس په حدیث الباب کښې دی: فتوضاء من شن معلق ... وړاندې په کتاب الوضوء باب قراءة القران بعد الحدث وغیره رقم ۱۸۳ د لاندې دی: ثم قام الی شن معلقة ...

۷) اخرج ابو داؤد فی سننه فی کتاب الاشربة باب فی صفة النبیذ، رقم ۳۷۱۰، عن عبدالله بن الدیلمی عن ابیه وفیه: وانبذوه فی الشنان ... وانظر النهایة لابن الاثیر ج ۱ ص ۸۹٤، مادة: شنن

۸) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۹

۹) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۵۶

رسول الله ﷺ به هغه هم كولو، خو رسول الله ﷺ داسې اونكړل. (۱)
خو حقيقت دا دې چه په دې كښې د دلك د وجوب هيڅ دليل نشته، ځكه چه د تخفيف معنى داسې هم حاصليدې شي چه د اودس په اندامونو باندې صرف اسالة الماء يعنى اوبه بهيولې شوې وى، دلك بالكل نه وى كړې شوى. (۲) او د تقليل مطلب دا دې چه اوبه كمې اچولې شوې وى، زياتې اوبه ئې نه دى استعمال كړې.
اوس حاصل دا شو چه د تقليل تعلق د اوبو سره دې او د تخفيف تعلق د كثرت دلك سره نه دې، بلكه د نفس اسالة الماء سره دې. والله اعلم

قوله: وَقَامَ يُصَلِّي: رسول الله ﷺ پاسيدو او مونځ ئې شروع كړو.

قوله: فَتَوَضَّأْتُ نَحْوًا مِمَّا تَوَضَّأَ: ما د رسول الله ﷺ د اودس په شان اودس اوكړو.

علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه دلته سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما ﴿ نحوا مما توضاء ﴾ اوفرمائيل او ﴿مثل ماتوضاء﴾ ئې او نه فرمائيل، وجه دا ده چه لفظ د ﴿ مثل ﴾ د مماثلت فى الأوصاف د بيانولو دپاره راځى، يعنى چه په ټولو اوصاف او كيفيات كښې ئې مشابهت وى، چونكه د رسول الله ﷺ د اودس كامل مشابهت د چا په وس كښې نه دې، په دې وجه ئې ﴿ نحوا مما توضاء ﴾ اوفرمائيل. (۳)

په دې باندې دا اعتراض راځى چه هم دا روايت وړاندې راروان دې په هغې كښې دى ﴿ فقمت فصنعت مثل ماصنع ﴾ الفاظ راغلې دى. (٤)

صحيح خبره دا ده چه لفظ ﴿ مثل ﴾ د ﴿ شبيه ﴾ او ﴿ ذات ﴾ په معنى كښې هم راځى، او د مطلقا مشابهت د بيانولو دپاره هم استعماليږى. (۵)

قوله: ثُمَّ جِئْتُ فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ: بيا زه د رسول الله ﷺ كس طرف ته اودريدم. سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما ته دا علم نه وو چه د امام ښى طرف ته اودريدل پكار دى، ځكه چه ماشوم وو. دا هم ممكنه ده چه ابن عباس رضي الله عنهما دا خيال كړې وى چه د رسول الله ﷺ نه ښى طرف ته اودريدل به د ادب خلاف وى. (۶) والله اعلم

---

۱) فتح البارى ج ۱ ص ۲۳۹، وعمدة القارى ج ۲ ص ۲۵۶
۲) پورته حوالاجات اوګورئ
۳) اوګورئ: شرح الكرمانى ج ۲ ص ۱۷۶
٤) صحيح البخارى ج ۱ ص ۳۰، كتاب الوضوء، باب قراء القران بعد الحدث وغيره
۵) اوګورئ: عمدة القارى ج ۲ ص ۲۵۶
۶) فتح الملهم ج ٤ ص ۱۸۰، كتاب صلاة المسافرين، باب صلاة النبى ﷺ ودعائه بالليل

قوله: وَرُبَّمَا قَالَ سُفْيَانُ عَنْ شِمَالِهِ: کله به سفیان رحمه الله «دعن یساره په ځائې» عن شماله فرمائیلو
دا جمله د امام ابن المدینی رحمه الله د طرف نه مدرج ده. (۱)
شِمال بکسر الشین المعجمة ... ګس لاس ته او د شمال جهت ته وئیلې شی، او شَمال بفتح الشین المعجمة ... شمالی هوا ته وئیلې شی. (۲)
قوله: فَحَوَّلَنِي فَجَعَلَنِي عَنْ يَمِينِهِ: پس رسول الله ﷺ زه خپل ښی طرف ته راواړولم.
د سلمه بن کهیل رحمه الله په روایت کښې دی: «فاخذ باذنی، فادارنی عن یمینه» (۳)
حاصل دا دې چه رسول الله ﷺ زه د ښی طرف نه ګس طرف ته راواړولم، ځکه چه د مقتدی د یو کیدو په صورت کښې هغه د امام ښی طرف ته اودریدل پکار دی، وړاندې به انشاء الله په دې سلسله کښې اختلاف راشی
قوله: ثُمَّ صَلَّى مَا شَاءَ اللَّهُ: بیا چه الله پاك ته څومره مونځ منظور وو هغه ئې اوکړو
قوله: اضْطَجَعَ فَنَامَ حَتَّى نَفَخَ: بیا رسول الله ﷺ سملاستو او اوده شو تردې چه خرړاړې ئې اوکړو
نفخ: نه مراد په خوب کښې خرړیدل دی، د خوب په حالت کښې انسان په زور زور سره ساه اخلی، د هغه د خولې نه.د ساه اخستلو او خرړیدو آواز راځی دې ته «غطیط» او «خطیط» وئیلې شی. (٤)
حافظ ابن حجر رحمه الله دې ته صوت الانف وئیلې دې، د لغت په کتابونو کښې د دې هیڅ وجود نه ملاویږی. (۵) والله اعلم
قوله: ثُمَّ أَتَاهُ الْمُنَادِي فَآذَنَهُ بِالصَّلَاةِ: بیا مؤذن راغلو او د مانځه دپاره ئې رسول الله ﷺ ته خبر ورکړو
قوله: فَقَامَ مَعَهُ إِلَى الصَّلَاةِ فَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ: رسول الله ﷺ هغه سره د مانځه دپاره پاسیدو ، رسول الله ﷺ مونځ اوکړو او اودس ئې اونکړو.
د دې نه معلومه شوه چه نوم بذات خود ناقض وضوء نه دې، ګینې رسول الله ﷺ به چه کله د خوب نه پاسیدو نو اودس به ئې کولو. بلکه نوم د مظنه حدث کیدو د وجې نه ناقض

---

۱) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۵۶
۲) المصباح المنیر ج ۱ ص ۳۲۳، مادة : ش م ل
۳) صحیح البخاری ج ۲ ص ۹۳۵، کتاب الدعوات، باب الدعاء اذا تنبه باللیل، رقم ۶۳۱۶
٤) اوګورئ : النهایة لابن الاثیر ج ۱ ص ۵۰۶، مادة خطط، و ج ۲ ص ۳۱۱ مادة غطط
۵) قاله علی القاری رحمه الله فی مرقاة المفاتیح ج ۳ ص ۲٤۰، و ۲٤۱، کتاب الصلاة، باب صلاة اللیل

وضوء دي. (۱)

قوله: قُلْنَا لِعَمْرٍو إِنَّ نَاسًا يَقُولُونَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَنَامُ عَيْنُهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ: مونږ عمرو بن دینار رحمه الله ته اووې چه خلق داسې وائی چه د رسول الله ﷺ سترګې به اودهٔ وې او زړه مبارک به ئې بیدار وو.

دا د سفیان قول دې او دا حدیث صحیح دې. (۲) پس سیده عائشه رضی الله عنها چه کله تپوس اوکړو ﴿ یا رسول الله اتنام قبل ان توتر؟ ﴾ ایا تاسو د وترو نه مخکښې اودهٔ کیږئ؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ﴿ یاعائشة! ان عینی تنامان ولاینام قلبی ﴾ (۳) یعنی اې عائشه! زما دواړه سترګې خو اودهٔ کیږی خو زما زړه نه اوده کیږی.

علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه: ﴿ انما منع النوم قلبه لیعی الوحی اذا اوحی الیه فی منامه ﴾ (٤)

یعنی: رسول الله ﷺ ته د خوب په حالت کښې دا خبره ورکړې شوې ده چه د هغه زړه بیدار وی، چه که د خوب په حالت کښې د الله پاك د طرف نه وحی راشی نو هغې لره محفوظه کړی.

ایا د خوب په حالت کښې د زړه بیداری د رسول الله ﷺ خصوصیت دې او که د ټولو انبیاء کرام علیهم السلام دا حالت دې؟ دلته په حدیث شریف کښې ﴿ ان عینی تنامان، ولاینام قلبی ﴾ (۵) نه دې دا خیال اونکړې شی چه دا صرف د رسول الله ﷺ خصوصیت دې، بلکه رسول الله ﷺ په بل روایت کښې دا واضح کړې دی چه دا خصوصیت ټولو انبیاء کرام علیهم السلام ته حاصل دې.

په حدیث اسراء کښې د سیدنا انس رضی الله عنه نه روایت دې چه: ﴿ وکذلك الانبیاء، تنام اعینهم ولاتنام قلوبهم ﴾ (٦)

رسول الله ﷺ فرمائی: ﴿ انا معشر الانبیاء تنام اعیننا ولا تنام قلوبنا ﴾ (۷)

یعنی زمونږ د انبیاء علیهم السلام خصوصیت دا دې چه زمونږ سترګې اودهٔ کیږی خو زمونږ زړونه نه اوده کیږی بلکه هغه بیدار وی.

---

۱) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۹، ورد المحتار ج ۱ ص ۱۰٤، نواقض الوضوء، والمغنی ج ۱ ص ۱۱۳، ومعالم السنن ج ۱ ص ۱٤۳، کتاب الطهارة، باب الوضوء من النوم.

۲) فتح الباری ج ۱ ص ۲۳۹، عمدة القاری ج ۲ ص ۲۵۶

۳) صحیح البخاری ج ۱ ص ۱۵٤، کتاب التهجد (الصلاة) باب قیام النبی ﷺ باللیل فی رمضان وغیره، رقم ۱۱٤۷ و ج ۱ ص ۲۶۹، کتاب صلاة التراویح (الصوم) باب فضل من قام رمضان، رقم ۲۰۱۳، و ج ۱ ص ۵۰٤، کتاب المناقب، باب کان النبی تنام عینه ولا ینام قلبه رقم ۳۵۶۹.

٤) اعلام الحدیث ج ۱ ص ۲۳۳

۵) سبق تخریجه فی التعلیقة السابقة.

٦) صحیح البخاری ج ۱ ص ۵۰٤، کتاب المناقب باب کان النبی ﷺ تنام عینه ولا ینام قلبه رقم ۳۵۷۰، و ج ۲ ص ۱۱۲۰، کتاب التوحید، باب قوله تعالی ﴿ وکلم الله موسی تکلیما ﴾ رقم ۷۵۱۷

۷) اخرجه ابن سعد فی طبقاته ج ۱ ص ۱۷۱، ذکر علامات النبوة بعد نزول الوحی علی رسول الله ﷺ

پس امام ابن عبدالبر رحمہ اللہ او امام نووی رحمہ اللہ تصریح کړې ده چه دا د ټولو انبیاء علیہم السلام مشترک خصوصیت دې. (۱)

په لیلة التعریس کښې د مونځ د قضاء کیدو وجه : اوس دلته دا سوال دې چه که د انبیاء علیہم السلام صرف سترګې اوده کیږی او زړه ئې بیدار وی نو د رسول الله ﷺ په لیلة التعریس کښې د سحر مونځ ولې قضاء شو چه هغوی ته د سحر د راختلو پته او نه لګیده، تردې چه نمر راوختلو؟

د دې ډیر جوابات ورکړې شوې دی!

① مشهور جواب دا دې چه د رؤیت تعلق د سترګو سره دې، د زړه سره نه دې په دې وجه رسول الله ﷺ ته معلومات اونشو (۲)

② دویم جواب دا دې چه د رسول الله ﷺ به دوه حالتونه وو یو حال خو دا وو چه د هغوی زړه به نه اوده کیدو، هم دا ئې اغلب حال وو، او دویم حال ئې دا وو چه کله به ئې زړه هم اوده کیدلو او دا به کله کله وو، په لیلة التعریس کښې دا دویم صورت راپیښ شو. (۳)

③ دریم جواب دا دې چه ﴿ولاینام قلبی﴾ مطلب دا دې چه د انتقاض وضوء حال پټ نه پاتې کیږی، هسې خو مطلق خوب په زړه باندې هم راځی. (٤)

④ هم دې ته نزدې څلورم جواب دا ورکړې شوې دې چه د رسول الله ﷺ خوب به د دومره استغراق والا نه وو چه حدث ورته لاحق شوې وې. (۵)

⑤ بعض علماء کرام فرمائی چه د قلب د بیداریدو مطلب دا دې چه حضرات انبیاء علیہم السلام چه کوم خوبونه وینی هغه ﴿اضغاث احلام﴾ نه وی، څنګه چه انسان د بیدارئ په حالت کښې د واقعی څیزونو مشاهده کوی، هم دغه شان انبیاء علیہم السلام ته چه کوم څیز په خوبونو کښې په نظر راځی هغه واقعات وی.

---

۱) قال ابن عبدالبر فی الاستذکار ج ۲ ص ۹۷، ۹۸ : فی کتاب صلاة اللیل، باب صلاة النبی ﷺ فی الوتر : أما قوله صلی الله علیه و سلم جوابا لها إن عینی تنامان ولا ینام قلبی فتلک من علیاء مراتب الأنبیاء صلوات الله علیهم. وقال فی التمهید ج ۵ ص ۲۰۸ : وهذا علی العموم لأنه جاء عنه صلی الله علیه وسلم: "إنا معشر الأنبیاء تنام أعیننا ولا تنام قلوبنا". ولا یجوز أن یکون مخصوصا بذلک لأنها خصلة لم یعدها فی الست التی أوتیها ولم یؤتها أحد قبله من الأنبیاء.

وقال النووی رحمہ اللہ فی شرح صحیح مسلم ج ۶ ص ۲۶۳، فی کتاب صلاة المسافرین، باب صلاة اللیل وعدد رکعات النبی ﷺ فی اللیل : قوله صلی الله علیه وسلم : (إن عینی تنامان ولا ینام قلبی) هذا من خصائص الأنبیاء صلوات الله وسلامه علیهم.

۲) اوګورئ : شرح النووی علی صحیح مسلم ج ۶ ص ۲۶۳، کتاب صلاة المسافرین. باب صلاة اللیل وعدد رکعات النبی ﷺ فی اللیل، وسبل الهدی والرشاد ج ۱۱ ص ۲۹۵

۳) پورته حواله جات

٤) سبل الهدی والرشاد ج ۱۱ ص ۲۹۵، ۲۹۶

۵) پورته حواله

⑨ بعض علماء کرامو دا جواب کړې دې چه اصل کښې په رسول الله ﷺ باندې قصدا د الله پاك د طرف نه دا خوب اچولې شوې وو، چه مونځ لره د قضاء راګرځولو طريقه معلومه شى.

⑥ بعض حضراتو وئيلې دى چه اصل کښې چه د رسول الله ﷺ نه منقول دى چه ﴿تنام عيني ولا ينام قلبي﴾ دا عام او مطلق نه دې، بلکه رسول الله ﷺ چه به کله د يو څيز خيال په زړه کښې ساتلو سره اوده کيدو نو زړه به ئې بيدار وو او که په اطمينان سره به فارغ القلب کيدو سره اوده شو نو بيا به پوره اوده کيدو.

قوله: قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ عُبَيْدَ بْنَ عُمَيْرٍ يَقُولُ : عمرو رحمه الله فرمائى چه ما د عبيد بن عمير رحمه الله نه داسې واوريدل!

عمرو بن دينار رحمه الله په تائيد کښې د عبيد بن عمير رحمه الله قول پيش کوى.

عبيد بن عمير : دا عبيد بن عمير بن قتاده بن سعد ليثى جندعى مکى رحمه الله دې، ابو عاصم د هغوى کنيت دې، د مکې مکرمې واعظ به بللې شو.(١)

امام مسلم رحمه الله فرمائى چه دې د رسول الله ﷺ په زمانه کښې پيدا شوې وو. (٢)

بعض نورحضرات فرمائى چه هغوى ته د رسول الله ﷺ د رؤيت شرف هم حاصل شوې دې.(٣)

هغه د سيدنا ابى بن کعب، عبدالله بن حبشى، عبدالله بن عباس، عبدالله بن عمر، عبدالله بن عمرو بن العاص، على بن ابى طالب، عمر بن الخطاب، ابو ذر غفارى، ابو سعيد خدرى، ابو موسى اشعرى، ابوهريره، عائشه، ام سلمه او خپل والد محترم عمير بن قتاده رضي الله عنهم نه روايت کوى.

د هغه نه په روايت کونکو کښې عبدالله بن عبيد، عطاء بن ابى رباح، ابن ابى مليکة، عمرو بن دينار، عبدالعزيز بن رفيع او ابو الزبير محمد بن مسلم رحمهم الله وغيره ډير حضرات دى. (٤)

سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائى : ﴿لله در ابن قتادة، ماذا يأتى به﴾(٥)

امام يحيى بن معين او امام ابو زرعه رحمهما الله فرمائى : ﴿ثقة﴾ (٦)

ابن سعد رحمه الله فرمائى ﴿وكان ثقة كثير الحديث﴾(٧)

---

١) تهذيب الکمال ج ١٩ ص ٢٢٣

٢) پورته حواله

٣) د امام بخارى رحمه الله طرف ته دا قول منسوب دې، اوګورئ : الاستيعاب لابن عبدالبر بهامش الاصابة ج ٢ ص ٤٤١. هم دغه شان اوګورئ اسد الغابة ج ٣ ص ٥٤٠، رقم ٣٥١٢)

او امام مغلطائى رحمه الله فرمائى ينظر فيما نقله عن البخارى، فانى لم اره، وما ذكرنا عن البخارى يرده يقينا. اكمال تهذيب الکمال ج ٩ ص ٩٧، رقم ٣٥٣١

٤) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ : تهذيب الکمال ج ١٩ ص ٢٢٤

٥) اكمال تهذيب الکمال ج ٩ ص ٩٧، رقم ٣٥٣١

٦) الجرح والتعديل ج ٥ ص ٤٧٩، رقم ٩٢٣٠، ١٨٩٦

٧) الطبقات الکبرى لابن سعد ج ٥ ص ٤٦٣

امام عجلی رحمه الله فرمائی : ﴿ مكی تابعی ثقة ... وهو من كبار التابعين ﴾ (١)
امام ابن حبان رحمه الله هغه په كتاب الثقات كښ ذكر كړې دې او ليكلې ئې دى ﴿ من افاضل اهل مكة ﴾ (٢) حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی : ﴿ وكان من ثقات التابعين وائمتهم بمكة ﴾ (٣)
هم دغه شان هغه فرمائی ﴿ وكان ثقة اماما ﴾ (٤)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : ﴿ مجمع على ثقته ﴾ (٥)
عبيد بن عمير رحمه الله به په مكه مكرمه كښ وعظ او تذكير كولو د هغوى مجلس كښ په دومره اثر وو چه د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما په شان بزرگ صحابى به د هغوى په مجلس كښ حاضريدلو. (٦)
امام عجلی رحمه الله ليكلې دى چه د هغوى په گاوند كښ يوه زنانه وه، چه هغې غير معمولى حسن لرلو، يو كرت هغې په شيشه كښ ځان ته كتلو سره خپل خاوند ته اووې چه ايا داسې هم څوك كيدې شى چه دا مخ وينى او هغه پرې مئين نه شى؟ خاوند ورته اووې! او عبيد بن عمير داسې دې چه په هغه باندې ستا دا حسن نه شى اثر انداز كيدې، هغه زنانه په هغوى باندې د ازميښت كولو دپاره د خپل خاوند نه اجازت طلب كړو او عبيد بن عمير رحمه الله ته تلو سره ئې خپل ځان د هغه د خدمت دپاره پيش كړو او دا اظهار ئې ورته اوكړو چه هغه د هغوى سره عشق كوى او ډيره ترې متاثره ده. امام عبيد بن عمير رحمه الله د دې په نتيجه كښ هغې ته ډير په اثرناك انداز كښ نصيحت اوكړو، د دې واقعې نه روستو هغه زنانه كلى طور عبادت ته متوجه شوه. د هغې خاوند به وئيل چه ما سره عبيد بن عمير دا څه اوكړل؟ دا زما ښځه به هره شپه زما دپاره ناوې كيدله او اوس ترې نه عبيد راهبه جوړه كړه. (٧)
د عبيد بن عمير رحمه الله احاديث په اصول سته كښ موجود دى. (٨)
هغه كله وفات شوې دې د يو قول مطابق د هغوى وفات د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه لږ مخكښ شوې دې. (٩) او د سيدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وفات د ٧٣ هجرى په اخره يا د ٧٤ هجرى په اولنۍ زمانه كښ شوې وو. (١٠)

---

١) معرفة الثقات ج ٢ ص ١١٨، رقم ١١٨٥، واكمال تهذيب الكمال ج ٩ ص ٩٧
٢) الثقات لابن حبان ج ٥ ص ١٣٢
٣) سير اعلام النبلاء ج ٤ ص ١٥٧
٤) تاريخ الاسلام للذهبى ج ٢ ص ٥٦٤، رقم ٦٦٥
٥) تقريب التهذيب ص ٣٧٧، رقم ٤٣٨٥
٦) تهذيب الكمال ج ١٩ ص ٢٢٤، ٢٢٥
٧) معرفة الثقات ج ٢ ص ١١٩، ١٢٠، واكمال تهذيب الكمال ج ٩ ص ٩٧
٨) تهذيب الكمال ج ١٩ ص ٢٢٥
٩) پورته حواله
١٠) تقريب التهذيب ص ٣١٥، رقم ٣٤٩٠

او د یو بل قول مطابق د هغوی وفات په ۷۴ هجری کښې شوې وو. (۱)
امام ابن حبان رحمه الله د ۶۸ هجری قول نقل کړې دې. (۲) کوم چه د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د وفات کال دې. (۳) رحمه الله تعالی رحمة واسعة، ورضی عنه وارضاه.

قوله: رُؤْيَا الْأَنْبِيَاءِ وَحْيٌ: د انبياء علیهم السلام خوب وحی وی.
یعنی د حضرات انبیاء علیهم السلام قلب په دې وجه نه اودهٔ کیږی چه په خوب کښې په هغوی باندې وحی نازلیږی او د وحی دپاره د هغه تلقی او وعی یعنی یادول ضروری وی، لهذا د هغوی زړونه بیدار ساتلې شی.

د ذکر شوی حدیث تخریج: ﴿ رؤيا الانبياء وحى ﴾ دا حدیث د ابن عباس رضی الله عنهما نه مرفوعا نقل دې، امام طبرانی په المعجم الکبیر کښې او امام حاکم رحمه الله په مستدرک کښې د دې تخریج کړې دې. (٤)

﴿ ثُمَّ قَرَأَ: إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ ﴾ (۵)
بیا عبید بن عمیر رحمه الله دا آیت کریمه تلاوت کړو چه: زه په خوب کښې وینم چه زه تا ذبح کوم.
وجه د استدلال دا ده چه که خوب وحی نه وې نو د ابراهیم علیه السلام دپاره به د سیدنا اسماعیل علیه السلام د ذبح کولو اقدام جائز نه وې او که په عالم رؤیا کښې د وحی په ذریعه اباحت نه وې نو سیدنا ابراهیم علیه السلام به د داسې اقدام دپاره تیاریدو نه، کوم چه په ظاهره کښې حرام فعل دې. په کوم کښې چه د قتل نفس سره سره قطع رحمی هم ده. (۶)

تنبیه داؤدی رحمه الله دلته دا وئیلې دی چه د عبید بن عمیر رحمه الله د قول سره د ترجمة الباب هیڅ تعلق نشته. (۷)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د ترجمة الباب د لاندې د راوړلې شوی حدیث د هر هر جزء سره د ترجمة الباب انطباق چا هم نه دې لازم کړې. د عبید بن عمیر رحمه الله د دې قول د حدیث الباب سره تعلق بالکل واضح دې او هم دا کافی ده. (۸)

---

۱) الکاشف ج ۱ ص ۶۹۱، رقم ۳۶۲۶
۲) مات قبل ابن عمر سنة ثمان وستين يقارب موته موت ابن عباس. الثقات ج ۵ ص ۱۳۲
۳) تقریب التهذیب ص ۳۰۹، رقم ۳۴۰۹
٤) المعجم الكبير ج ۱۲ ص ۵، رقم ۱۲۳۰۲، من احاديث سعيد بن جبير عن ابن عباس، قال الهيثمى فى مجمع الزوائد ج ۷ ص ۱۷۶، كتاب التعبير، باب فيما راه النبى صلى الله عليه وسلم فى المنام ... رواه الطبرانى عن شيخه عبد الله بن محمد بن ابى مريم وهو ضعيف، وباقى رجاله رجال الصحيح.
واخرجه الحاكم فى المستدرک ج ۲ ص ٤٦٨، كتاب التفسير، سورة الصافات رقم ۳۶۱۳/۷۵۰، و ج ٤ ص ٤٣٨، كتاب تعبير الرؤيا رقم ۸۱۹۷/ ۲٤
۵) الصافات: ۱۰۲
۶) اوګورئ: فتح البارى ج ۱ ص ۲۳۹، وعمدة القارى ج ۲ ص ۲۵۷، وفضل البارى ج ۲ ص ۲۱۹
۷) فتح البارى ج ۱ ص ۲۳۹، وعمدة القارى ج ۲ ص ۲۵۷
۸) پورته حواله جات

خو حديث الباب ته کتل پکار دی چه د هغې انطباق د ترجمة الباب سره څنګه دې، نو د حديث د جملې ﴿فتوضاء من شن معلق وضوءا خفيفا﴾ نه مطابقت بالکل واضح دې. والله اعلم

⑥ بَاب: إِسْبَاغِ الْوُضُوءِ

د سابقه باب سره مناسبت: په مخکښې باب کښې د اودس د تخفيف ذکر وو په دې باب کښې په ظاهره د هغې مقابل صورت ذکر دې، دغه شان په دواړو کښې مناسبت واضح کيږي. (۱)

د ترجمة الباب مقصد: بعض علماء کرام فرمائی چه يو سړې د مخکښې ترجمه الباب باب التخفيف في الوضوء نه دا وهم کولې شي چه په اودس کښې تخفيف اولی دې، نو امام بخاری رحمه الله په ذکر شوې ترجمة الباب سره دا خبره بيان کړه چه د اودس دوه قسمونه دی، يو ادنی او يو اعلی، په دې کښې ادنی خو د تخفيف صورت دې او اعلی د اسباغ صورت دې. ګويا مصنف رحمه الله د دې دواړو بابونو په ذريعه د اودس په دوه صورتونو باندې تنبيه کړې ده، په دې کښې د تخفيف والا صورت ادنی دې او د اسباغ والا صورت اعلی دې. (۲) والله اعلم

د اسباغ معنی او قسمونه: د اسباغ معنی په لغت کښې د اتمام راځی، وئيلې شی ﴿شئ سابغ، ای کامل ووافٍ﴾ هم دغه شان وئيلې شی: ﴿اسبغ الله عليه النعمة اتمها﴾ (۳)

امام شاه ولی الله دهلوی رحمه الله فرمائی چه د اسباغ څلور صورتونه دی.

① يوصورت فرض دې، هغه دا چه انسان د اودس د اندامونو استيعاب اوکړی، يعنی کوم اندامونه چه په اوبو سره وينځلې شی هغه دې پوره طريقې سره په اوبو باندې وينځی، چه هيڅ ځائې ئې باقی پاتې نه شی.

② دويم صورت مسنون دې، هغه دې تثليث.

③ دريم صورت ئې مستحب دې هغه دې اطالة الغرة والتحجيل.

④ څلورم صورت ئې د آدابونه دې او هغه دې انقاء يعنی مړلو سره خيرې وغيره صفا کول. (٤)

د ذکر شوې تعليق تخريج: حافظ ابن حجر رحمه الله او علامه عينی رحمه الله نقل کړی دی چه دا تعليق امام عبدالرزاق صنعانی رحمه الله په صحيح سند سره متصلا نقل کړې دې. (۵)

حافظ رحمه الله په تغليق التعليق کښې عبد الرزاق عن ابن جريج اخبرنی نافع مولی ابن عمر په سند سره دا الفاظ نقل کړی دی: ﴿وکان يری الوضوء السابغ الانقاء﴾ (۶)

---

۱) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۵۸
۲) اوګورئ لامع الدراری مع الکنز المتواری ج ۳ ص ۱٤
۳) اوګورئ مختار الصحاح ص ۲۸٤، س ب غ
٤) اوګورئ: رسالة شرح تراجم ابواب البخاری ص ۱۶
۵) فتح الباری ج ۱ ص ۲٤۰، وعمدة القاری ج ۲ ص ۲۵۸
۶) تغليق التعليق ج ۲ ص ۹۹

مصنف عبدالرزاق كښې مونږ ته دا الفاظ ملاؤ نه شو او نه د امام بخارى رحمه الله نقل كړې شوې الفاظ: ﴿اسباغ الوضوء الانقاء﴾

خو په مصنف عبدالرزاق كښې يو بل روايت د دې مفهوم ملاؤ شو كوم چه هم په دې سند سره روايت شوې دې

﴿ان ابن عمر كان فى توضئه ينقى رجليه، وينظف اصابع يديه مع اصابع رجليه، ويتبع ذلك حتى ينقيه﴾(۱)

يعنى سيدنا ابن عمر رضى الله عنهما به په اودس كښې خپلې خپې صفا كولې، هم دغه شان به ئې د خپلو خپو د ګوتو سزه سره د خپلو لاسونو ګوتې هم صفا كولې، دا كار به ئې مسلسل كولو، تردې چه ښه طريقې سره صفا شى.

د ذكر شوى تعليق د ذكر كولو مقصد: امام بخارى رحمه الله د سيدنا ابن عمر رضى الله عنهما د اثر نقل كولو نه پس د ﴿اسباغ﴾ تفسير كړې دې او دا ئې وئيلې دى چه د ﴿اسباغ﴾ نه مراد انقاء ده، دا معنى د ﴿تفسير الشئ بلازمه﴾ د قبيل نه ده، ځكه چه كله انسان بار بار د اودس اندامونه وينځى نو انقاء به خپله حاصله شى. (۲)

علامه سندهى رحمه الله فرمائى ﴿اسباغ الوضوء الانقاء اى: لا الاكثار من الماء﴾(۳) يعنى د مصنف رحمه الله مقصد دا دې چه اصل اسباغ انقاء او تنظيف دې، صرف په كثرت سره اوبه بهيول نه دى. والله اعلم

امام ابن المنذر رحمه الله په صحيح سند سره نقل كړى دى چه سيدنا ابن عمر رضى الله عنهما به خپلې خپې اووۀ كرته وينځلې. (٤)

غالبا د سيدنا ابن عمر رضى الله عنهما د دې عمل وجه دا وه چه د هغه حضراتو عمومى عادت د خپې ابله تلو وو، بيا به ئې په خپو كښې خيرې زيات جمع كيدلو، په دې وجه به ئې په خپو وينځلو كښې مبالغه كوله. (۵)

خو په دې باندې اشكال دا دې چه د ﴿عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده﴾ په طريق سره نقل شوى روايت كښې دى چه ﴿فمن زاد على هذا ... فقد اساء وظلم﴾(۶) لهذا سيدنا ابن عمر رضى الله عنهما به د درې كرتو نه زيات څنګه وينځلو؟

---

۱) مصنف عبد الرزاق ج ۱ ص ۲٤، كتاب الطهارة، باب غسل الرجلين، رقم ۷۳

۲) اوګورئ: فتح البارى ج ۱ ص ۲٤۰

۳) حاشية السندى على البخارى ج ۱ ص ۷۳

٤) فتح البارى ج ۱ ص ۲٤۰

۵) پورته حواله

۶) سنن النسائى، كتاب الطهارة، باب الاعتداء فى الوضوء، رقم (۱٤۰) وسنن ابن ماجة، كتاب الطهارة، باب ما جاء فى القصد وكراهة التعدى فيه. رقم (٤۲۲) و مسند احمد ج ۲ ص ۱۸۰، مسند عبدالله بن عمرو بن العاص رضى الله عنه. رقم ۶۶٤٤

د دې جواب دا کیدې شی چه هغوی ته به دا روایت نه وی رسیدلې.
دا هم ممکن ده چه د سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما رائې دا وی چه انسان تثلیث لره سنت او نه گنړی او په هغې باندې اضافه کوی نو دا محل د وعید دې او که څوک تثلیث لره د سنت گنړلو نه پس د اتقاء دپاره په کثرت سره اوبه اچوی نو د وعید هغې سره هیڅ تعلق نشته. (۱)

۱۳۹: ﴿حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ(۲) أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ دَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَرَفَةَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِالشِّعْبِ نَزَلَ فَبَالَ ثُمَّ تَوَضَّأَ وَلَمْ يُسْبِغِ الْوُضُوءَ فَقُلْتُ الصَّلَاةَ يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ الصَّلَاةُ أَمَامَكَ فَرَكِبَ فَلَمَّا جَاءَ الْمُزْدَلِفَةَ نَزَلَ فَتَوَضَّأَ فَأَسْبَغَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ ثُمَّ أَنَاخَ كُلُّ إِنْسَانٍ بَعِيرَهُ فِي مَنْزِلِهِ ثُمَّ أُقِيمَتِ الْعِشَاءُ فَصَلَّى وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا﴾[۱۷۹، ۱۵۸۴، ۱۵۸۶، ۱۵۸۸]

رجال الحدیث

① **عبدالله بن مسلمه**: دا مشهور محدث عبدالله بن مسلمه بن قعنب قعنبی حارثی بصری رحمه الله دې د هغوی حالات په کتاب الایمان، باب من الدین الفرار من الفتن ... د لاندې تیر شوې دی. (۳)

② **مالک**: دا امام دار الهجرة مالک بن انس اصبحی مدنی رحمه الله دې، د هغوی حالات په کتاب الایمان، باب من الدین الفرار من الفتن د لاندې تیر شوې دی. (٤)

---

۱) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۵۸

۲) قوله (عن اسامة بن زید) الحدیث اخرجه البخاری ایضا فی ج ۱ ص ۳۰، کتاب الوضوء باب الرجل یوضئ صاحبه، رقم ۱۸۱، وفی ج ۱ ص ۲۲۶، کتاب الحج، باب النزول بین عرفة وجمع، رقم ۱۶۶۷، ۱۶۶۹، و ج ۱ ص ۲۲۷و کتاب الحج، باب الجمع بین الصلاتین بالمزدلفة، رقم ۱۶۷۲، ومسلم فی صحیحه، فی کتاب الحج، باب استحباب ادامة الحاج التلبیة حتی یشرع فی رمی جمرة العقبة یوم النحر، رقم ۳۰۸۷، وباب الافاضة من عرفات الی المزدلفة ... رقم ۳۰۹۹- ۳۱۰۷، والنسائی فی سننه، فی کتاب المواقیت، باب کیف الجمع، رقم ۶۱۰، وفی کتاب مناسک الحج، باب رفع الیدین فی الدعاء بعرفة، رقم ۳۰۱٤، وباب فرض الوقوف بعرفة، رقم ۳۰۲۱، وباب کیف المسیر من عرفة؟ رقم ۳۰۲۶، وباب النزول بعد الدفع من عرفة، رقم ۳۰۲۷، و ۳۰۲۸، وباب الجمع بین الصلاتین بالمزدلفة، رقم ۳۰۳٤، وباب الرخصة للضعفة ان یصلوا یوم النحر الصبح بمنی، رقم ۳۰۵٤، وابوداؤد فی سننه فی کتاب المناسک باب الدفعة من عرفة، رقم ۱۹۲۱، ۱۹۲۵، وابن ماجة فی سننه فی کتاب المناسک باب الدفع من عرفة رقم ۳۰۱۷، وباب النزول بین عرفات وجمع لمن کانت له حاجة رقم ۳۰۱۹، والدارمی فی سننه، فی کتاب مناسک الحج، باب الجمع بین الصلاتین بجمع رقم ۱۸۸۸ – ۱۸۸۹)

۳) کشف الباری ج ۲ ص ۸۰

٤) پورته حواله

③ موسى بن عقبه: دا امام المغازى موسى بن عقبه بن ابى عياش قرشى اسدى مدنى رحمه الله دي. (۱)
هغوى سيدنا ابن عمر، سيدنا جابر، سيدنا انس، سيدنا سهل به سعد رضی الله عنهم ليدلي دی. (۲)
دې دام خالد رضی الله عنهما نه علاوه دعقلمه بن وقاص، ابوسلمه كريب، سالم بن عبدالله، عبدالرحمن بن هرمز الاعرج، نافع بن جبير بن مطعم، نافع مولى ابن عمر، صالح مولى التؤامه، عروه بن الزبير، عكرمه، ابن المنكدر، امام زهرى او عبدالله بن دينار رحمهم الله وغيره نه روايت كوى.
د هغوى نه بكير بن عبدالله بن الاشج، شعبه بن الحجاج، يحيى بن سعيد الانصارى، ابن جريج، امام مالك، ابراهيم بن طهمان، ابن ابى الزناد، سفيان ثورى، سفيان بن عيينه، زهير او ابو اسحاق فرزارى رحمهم الله وغيره ډير حضرات روايت كوى. (۳)

امام ابن سعد رحمه الله يو ځائې كښې فرمائيلې دى ﴿ كان ثقة، قليل الحديث ﴾ په بل ځائې كښې فرمائى: ﴿ كان ثقة، ثبتا، كثير الحديث ﴾ (٤)
د امام مالك رحمه الله نه چه به كله تپوس اوشو چه د مغازى روايات د چا معتبر دى نو هغوى به فرمائيل چه ﴿ عليكم بمغازى موسى بن عقبة فانه ثقة ﴾ (۵)
هم دغه شان د هغوى نه منقول دى چه ﴿ من كان فى كتاب موسى بن عقبة قد شهد بدرا، فقد شهدها، ومن لم يكن فى كتاب موسى، فلم يشهد بدرا ﴾ (۶)
امام احمد، امام يحيى بن معين، ابو حاتم، عجلى او نسائى رحمهم الله فرمائى: ﴿ ثقة ﴾ (۷)
ابراهيم بن طهمان رحمه الله فرمائى: ﴿ ثقة ﴾ (۸)
خو امام يحيى بن معين رحمه الله نه منقول دى چه ﴿ روايته عن نافع فيها شيء ﴾ (۹)
هم دغه شان مفضل بن غسان د امام يحيى بن معين رحمه الله نه نقل كوى:
﴿ سمعت ابن معين يضعف موسى بعض الضعف ﴾ (۱۰)

---

۱) تهذيب الكمال ج ۲۹ ص ۱۱۵، ۱۱۶
۲) پورته حواله
۳) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال ج ۲۹ ص ۱۱۶ تا ۱۱۸
٤) تهذيب الكمال ج ۲۹ ص ۱۱۸
۵) پورته حواله
٦) تهذيب الكمال ج ۲۹ ص ۱۱۹
۷) تهذيب الكمال ج ۲۹ ص ۱۲۰، والعلل ومعرفة الرجال ج ۲ ص ۳۱، وتاريخ الدارمى ص ۲۰٤، رقم ۷۵۱، والجرح والتعديل ج۸ ص۱۷۸، رقم ۱٤۰۰۱/۶۹٤، ومعرفة الثقات للعجلى ج۲ ص۳۰۵، رقم (۱۸۲۰)
۸) تهذيب التهذيب ج ۱۰ ص ۳۶۲
۹) تهذيب الكمال ج ۲۹ ص ۱۲۱
۱۰) پورته حواله

هم دغه شان ابن عبد البر رحمه الله فرمائى ﴿ وليس موسى بن عقبة فى ابن شهاب حجة اذا خالفه غيره ﴾(۱)
خو حقيقت دا دې چه امام يحيى بن معين رحمه الله د هغوى توثيق كړې دې او د هغوى توثيق مونږ شاته نقل كړې هم دې.
حافظ ذهبى رحمه الله او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه د هغوى كوم تضعيف د يحيى بن معين رحمه الله نه منقول دې هغه مطلق نه دې، بلكه د امام مالك او عبيد الله بن عمر رحمهم الله په مقابله كښې دې، پس د ابن الجنيد په روايت كښې د امام يحيى بن معين رحمه الله قول نقل كړې شوې دې: ﴿ ليس موسى بن عقبة فى نافع شئ مثل عبيد الله بن عمرو مالك ﴾(۲)
هم دا حال د ابن عبد البر رحمه الله د قول هم اوګڼئ، يعنى چه كله يو طرف ته موسى بن عقبه وى او بل طرف ته د امام مالك او عبيد الله بن عمر په شان حضرات وى او د موسى بن عقبه د طرف نه د هغوى د روايت مخالفت بيا موندلې شى نو د موسى بن عقبه روايت به مرجوح وى، مطلقا غير محتج به ګڼړل ئې صحيح نه دى.
هم داوجه ده چه د امام بخارى رحمه الله سره ټول اصحاب ستة د هغوى روايات قبول كړې دى.(۳)
بلكه په صحيح بخارى كښې د ﴿ موسى بن عقبة عن نافع ﴾ په طريق سره روايات موجود دى. (٤)
د دې نه علاوه هم ډير روايتونه د موسى بن عقبة عن نافع په طريق سره موجود دى. د موسى بن عقبه رحمه الله وفات په ۱٤۱ هجرى كښې شوې دې. (۵)

④ **كريب مولى ابن عباس** : دا ابو رشدين كريب بن ابى مسلم قرشى هاشمى رحمه الله دې. د هغوى حالت په مخكښې باب، باب التخفيف فى الوضوء لاندې تير شوې دى.

⑤ **اسامة بن زيد** رضى الله عنهما : دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم محبوب، محبوب متبنى زيد بن حارثه او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د پالنه كونكې سيده ام ايمن رضى الله عنها خوئې سيدنا اسامه بن زيد بن حارثه بن شراحيل كلبى رضى الله عنهما دې. (تهذيب الكمال ج ۲ ص ۳۳۸)
د هغه په كنيتونو كښې ډير اقوال دى، ابو محمد ، ابو زيد ، ابو يزيد ، ابو حارثه. (۶)

---

۱) الاستيعاب بهامش الاصابة ج ٤ ص ۳۰۲، تحت ترجمة رقية رضى الله عنها بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم.
۲) سؤالات ابن الجنيد ص ۳۰۹، رقم ۱۵۱، هم دغه شان اوګورئ سير اعلام النبلاء ج ۶ ص ۱۱۷، وهدى السارى ص ۶۲۹
۳) اوګورئ: هدى السارى ص ۶۲۹
٤) اوګورئ: صحيح البخارى ج ۱ ص ۷۰، كتاب الصلاة، باب المساجد التى على طرق المدينة رقم ٤٨٤، و ج ۱ ص ۷۲، كتاب الصلاة، باب بدون ترجمة، بعد الصلاة بين السوارى فى غير جماعة، رقم ۵۰۶، و ج ۱ ص ۹۱، ۹۲، كتاب الاذان، باب اذا حضر الطعام واقيمت الصلاة رقم ۶۷٤، و ج ۱ ص ۱۲۹، كتاب الصلاة، باب صلاة الخوف رجالا وركبانا رقم ۹٤۳، و ج ۱ ص ۱٤۸، كتاب تقصير الصلاة، باب صلاة التطوع على الدواب رقم ۱۰۹۵، و ج ۱ ص ۱۷۷ كتاب الجنائز، باب الصلاة على الجنائز بالمصلى والمسجد. رقم ۱۳۲۹
۵) اوګورئ: الكاشف ج ۲ ص ۳۰۶، رقم ۵۷۱۷، وسير اعلام النبلاء ج ۶ ص ۱۱۷
۶) پورته حواله

دي د رسول الله ﷺ نه علاوه د خپل والد محترم سيدنا زيد بن حارثه، سيدنا بلال او سيده ام سلمه رضي الله عنها نه روايت حديث كوى

د هغوى نه په صحابه كرام رضي الله عنهم كښې سيدنا ابوهريره او سيدنا عبدالله بن عباس رضي الله عنهما روايت كوى، د هغوى نه علاوه ترې په تابعينو كښې ابو وائل، ابو عثمان النهدى، عروة بن الزبير، ابو سلمة، ابو سعيد مقبرى، عامر بن سعد، عطاء بن ابى رباح رحمهم الله وغيره حضرات روايت حديث كوى. (۱)

د سيدنا اسامه بن زيد رضي الله عنهما فضائل او مناقب ډير دى؛ پس د هغه نه خپله روايت دې چه ﴿أَنَّهُ كَانَ يَأْخُذُهُ وَالْحَسَنَ وَيَقُولُ اللَّهُمَّ إِنِّي أُحِبُّهُمَا فَأَحِبَّهُمَا﴾(۲)

يعنى: رسول الله ﷺ به اسامه او حسن رضي الله عنهما په خپل غيږ مبارك كښې كينول او فرمائيل به ئې چه اې الله! زما دوى سره مينه ده ته هم دوى سره مينه اوكړه.

رسول الله ﷺ چه كله سيدنا اسامه بن زيد رضي الله عنهما د يوې سريه امير جوړ كړو نو خلقو كښې ګنګوسې شروع شو، رسول الله ﷺ اوفرمائيل:

﴿أَنْ تَطْعُنُوا فِي إِمَارَتِهِ فَقَدْ كُنْتُمْ تَطْعُنُونَ فِي إِمَارَةِ أَبِيهِ مِنْ قَبْلُ وَايْمُ اللَّهِ إِنْ كَانَ لَخَلِيقًا لِلْإِمَارَةِ وَإِنْ كَانَ لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ وَإِنَّ هَذَا لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ بَعْدَهُ﴾(۳).

يعنى: كه ستاسو د اسامه رضي الله عنه په امارت كښې اشكال وى نو دا څه نوې خبره نه ده، د دې نه مخكښې د هغه د پلار د امارت په باره كښې هم ستاسو اشكال وو، او حال دا دې چه قسم په الله! هغه د امارت اهل وو او هغه زما په نزد د ټولو خلقو نه زيات محبوب وو، او اوس دې (اسامه رضي الله عنه) د هغه نه پس ما ته د ټولو خلقو نه زيات محبوب دې.

د صحيح مسلم په روايت كښې په دې باندې اضافه ده: ﴿فَاسْتَوْصُوا بِهِ فَإِنَّهُ مِنْ صَالِحِيكُمْ﴾(٤) يعنى زه تاسو ته هغه سره د نيك سلوك كولو وصيت كوم، ځكه چه هغه ستاسو د نيكانو خلقو نه دې.

د رسول الله ﷺ په نزد د هغه د محبوبيت دا حال وو چه د قريش په مخزومى خاندان باندې د حد د اجراء په سلسله كښې تشويش راغلو، د چا هم همت نه كيدو چه د رسول الله ﷺ سره خبره اوكړى. ټولو سوچ اوكړو چه رسول الله ﷺ سره صرف اسامه بن زيد رضي الله عنهما خبرې كولې شى، پس هغه د رسول الله ﷺ سره خبره اوكړه، رسول الله ﷺ د حدود الله په سلسله كښې د

---

۱) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ، تهذيب الكمال ج ۲ ص ۳۳۸، ۳٤۰

۲) صحيح البخارى ج ۱ ص ۵۳۰، كتاب فضائل اصحاب النبى ﷺ، باب مناقب الحسن والحسين رضي الله عنهما، رقم ۳۷٤۷

۳) صحيح البخارى ج ۱ ص ۵۲۸، كتاب فضائل اصحاب النبى ﷺ، باب مناقب زيد بن حارثة، مولى النبى ﷺ رقم ۳۷۳۰.

٤) صحيح مسلم، كتاب فضائل الصحابة، باب من فضائل زيدبن حارثة وابنه اسامة رضى الله عنهما، رقم ۶۲۶۵

چا د خبرې منلو نه صفا انکار اوکړو. (۱)

د سیدنا ابن عمر رضي الله عنهما نه مرفوعا نقل دی چه ﴿اسامة احب الناس الی﴾(۲) یعنی زما د ټولو نه زیاته مینه د اسامه رضي الله عنه سره ده.

سیده عائشه رضي الله عنها فرمائی: ﴿لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَبْغُضَ أُسَامَةَ بَعْدَمَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَنْ كَانَ يُحِبُّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ وَرَسُولَهُ، فَلْيُحِبَّ أُسَامَةَ﴾ (۳) یعنی د رسول الله ﷺ د دې ارشاد چه څوك د الله پاك او د رسول الله ﷺ سره محبت لری هغه لره پکار دی چه د اسامه رضي الله عنه سره محبت کوی، اوریدلو نه پس د چا دپاره هیڅ ګنجائش نشته چه هغه اسامه ناخوښه اوګنړی.

د رسول الله ﷺ په اسامه بن زید رضي الله عنهما او د هغه په صلاحیتونو باندې څومره اعتماد وو د دې اندازه د دې خبرې نه اولګوئ چه په غزوه موته کښې چه کله سیدنا جعفر بن ابی طالب، سیدنا زید بن حارثه او سیدنا عبدالله بن رواحه رضي الله عنهم پرله پسې شهیدان شو، د هغوی نه روستو سیدنا خالد بن ولید رضي الله عنه جهنډه اوچته کړه نو په دې موقع باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ﴿فهلا الی رجل قتل ابوه﴾(٤)

یعنی عَلَم به هغه کس اخستلو دچا پلار چه به شهید شو.

دغه شان دې بالکل ځوان وو، صرف د اتلسو کالو وو چه رسول الله ﷺ هغه د لښکر امیر جوړ کړو (۵)، لا روان شوې هم نه وو چه رسول الله ﷺ وفات شو، په دې لښکر کښې سیدنا عمر رضي الله عنه هم د هغوی ماتحت وو. (٦)

سیدنا ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت واګې سنبهالولو سره د سیدنا اسامه رضي الله عنه لښکر د خپل منزل طرف ته اولیږلو، خو سیدنا عمر رضي الله عنه ئې د سیدنا اسامة په اجازت سره ځان ته پاتې کړو. (۷)

سیدنا عمر رضي الله عنه به چه کله هم د سیدنا اسامة رضي الله عنه سره ملاویدو نو ﴿السلام علیك یا ایها الامیر

---

۱) اوګورئ: صحیح البخاری ج ۱ ص ۵۲۸، کتاب فضائل اصحاب النبی ﷺ باب ذکر اسامة بن زید رضی الله عنهما رقم ۳۷۳۲، ۳۷۲۲

۲) المستدرک للحاکم ج ۳ ص ٦۸۹، کتاب معرفة الصحابة، باب ذکر اسامة بن زید، حب رسول الله صلی الله علیه وسلم رقم ٦۵۳۰، وقال صحیح علی شرط مسلم، ووافقه الذهبی، والمعجم الکبیر للطبرانی، ج ۱ ص ۱۵۹، رقم ۳۷۲

۳) مسند احمد ج ٦ ص ۱۵٦، ۱۵۷، رقم (۲۵۷٤۸) قال الهیثمی رواه احمد ورجاله رجال الصحیح، مجمع الزوائد ج ۹ ص ۲۸٦، کتاب المناقب، باب فی اسامة بن زید حب رسو ل الله ﷺ

٤) سیر اعلام النبلاء ج ۲ ص ۵۰۲)

۵) سیر اعلام النبلاء ج ۲ ص ۵۰۰

٦) تهذیب الاسماء واللغات ج ۱ ص ۱۱۵

۷) سیر اعلام النبلاء ج ۲ ص ۵۰۳

ورحمة الله﴾ به ئې فرمائيل او فرمائيل به ئې چه كله رسول الله ﷺ وفات شوې وو هغه وخت نه زما امير وې. (۱)

په يوه غزوه كښې سيدنا اسامه بن زيد رضي الله عنهما يو كافر اوليدو چه كافى مسلمانانو لره قتل كولو سره په منډه وو، سيدنا اسامه رضي الله عنه هغه ګير كړو، هغه د تورې ليدو سره ﴿لااله الاالله﴾ وئيلو سره د ځان د بچ كولو كوشش اوكړو، خو سيدنا اسامه رضي الله عنه هغه قتل كړو، رسول الله ﷺ په دې موقع باندې اوفرمائيل : اې اسامه! كه هغه سړې د قيامت په ورځ باندې د ﴿لا اله الا الله﴾ سره راشي نو څه به كيږى؟ سيدنا اسامه رضي الله عنه سخت پښيمانه شو، استغفار ئې اوكړو او د رسول الله ﷺ نه ئې هم د دعا او استغفار درخواست اوكړو او د بيا دپاره ئې كلكه اراده اوكړه چه كله به هم په يو مسلمان باندې لاس نه اوچتوى. (۲)

د دې نه روستو په هيڅ قسم فتنه كښې شريك نه شو، تردې چه په يوه موقع باندې سيدنا على رضي الله عنه هغوى ته اوفرمائيل او تپوس ئې ترې اوكړو چه مونږ خو تا د خپل كور د خلقو نه ګڼړو خو تا زمونږ ملګرتيا اونكړه؟ سيدنا اسامه رضي الله عنه جواب وركړو چه اې ابو الحسن! كه تاسو د زمرى يوه ژامه اونيسئ نو زه به ئې پله اونيسم، او په مرګ او ژوند كښې به ستاسو ملګرتيا كوم، خو په كومه معامله كښې چه تاسو اخته شوى يئ قسم په الله! زه هغې كښې نه شم داخليدې، پس هغه هم د سيدنا سعد بن ابى وقاص، ابن عمر، محمد بن مسلمه رضي الله عنهم په شان د مشاجرات نه جدا شوې وو. (۳)

د سيدنا اسامه بن زيد رضي الله عنهما نه تقريبا يو سل اتويشت (۱۲۸) احاديث روايت شوې دى، د هغې نه متفق عليه احاديث پنځلس دى، او په شيخين كښې هر يو په دوه دوه احاديثو كښې متفرد دى. (٤)

اسامه رضي الله عنه په ۵۴ هجرى كښې وفات شوې دې.(۵) رضى الله عنه وارضاه

قوله: أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ: كريب مولى ابن عباس رضي الله عنهما سيدنا اسامه بن زيد رضي الله عنهما نه واوريدل.

قوله: دَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عَرَفَةَ حَتَّى إِذَا كَانَ بِالشِّعْبِ نَزَلَ فَبَالَ ثُمَّ تَوَضَّأَ وَلَمْ يُسْبِغْ الْوُضُوءَ: رسول الله ﷺ د عرفات نه روان شو، تردې چه

---

۱) سير اعلام النبلاء ج ۲ ص ۵۰۱

۲) اوګورئ: صحيح البخارى ج ۲ ص ۶۱۲، كتاب المغازى، باب بعث النبى ﷺ اسامة بن زيد الى الحرقات من جهينة رقم ۴۲۶۹، وصحيح مسلم، كتاب الايمان، باب تحريم قتل الكافر بعد قوله : لا اله الا الله ...... رقم ۲۷۷ – ۲۷۹.

۳) اوګورئ: سير اعلام النبلاء ج ۲ ص ۵۰۰، ۵۰٤

٤) اوګورئ: تهذيب الاسماء واللغات ج ۱ ص ۱۱٤، خو په دې كښې دى : اتفق البخارى ومسلم منها على خمسة ... غالبا دا خمسة عشر دې، په غلطئ سره د عشر لفظ پاتې شوې دې.

۵) اوګورئ: الكاشف: ۱/ ۲۳۲ ، رقم (۲۶٤).

يوې درې ته اورسيدو نو راكوز شو او بول ئې اوكړل، بيا ئې اودس اوكړو او په اودس كښې ئې اسباغ اونكړو.

د توضاء ولم يسبغ الوضوء مطلب ؟ : رسول الله ﷺ اودس اوكړو او د اودس اسباغ ئې اونكړو، د اودس نه مراد څه دې؟ او د عدم اسباغ څه مطلب دې؟

په دې كښې د علماء كرامو ډير أقوال دى :

عيسى بن دينار او حافظ ابن عبدالبر رحمه الله خو فرمائى چه دلته د اودس نه مراد استنجاء ده.(۱) په دې صورت كښې به د ﴿لم يسبغ الوضوء﴾ مطلب دا وى چه رسول الله ﷺ د اودس اندامونه تر نه كړل.

خو په دې باندې اشكال دا دې چه چه لفظ ﴿وضوء﴾ د شريعت په اصطلاح كښې د مخصوص معنى دپاره استعماليږى بغير د يو صارف او قرينې نه د هغې د پريخودلو څه وجه نشته.

په دې وجه بعض علماء كرام فرمائى چه دلته د اودس نه مراد شرعى اودس دې، استنجاء نه ده، بس اسباغ نه ده كړې شوې، وړاندې ﴿ولم يسبغ الوضوء﴾ راغلې دې. د دې دواړو د يو ځائې كولو نه دا نتيجه راوځى چه رسول الله ﷺ ناقصه اودس اوكړو يعنى په ظاهره كښې ئې لاس خپې وينځل، حقيقة ئې بعض اندامونه وينځل او بعض نه، يا د اودس په اندامونو كښې چه د كوم استعياب ضرورت وو د هغه استعياب نه ئې كار وانخستلو. (۲)

په دې باندې دا اشكال دې چه هم دا حديث وړاندې په كتاب الحج كښې راروان دې په هغې كښې دى چه : ﴿فتوضاء وضوءا خفيفا﴾(۳) يعنى رسول الله ﷺ مختصر اودس اوكړو، د دې نه معلوميږى چه اودس پوره وو، خو مختصر وو.

هم په دې وجه ابن بطال رحمه الله فرمائى چه د ﴿توضاء ولم يسبغ الوضوء﴾ مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ اصطلاحى اودس كړې وو، خو اسباغ وضوء يعنى درې درې كرته وينځلو په ځائې ئې يو يو كرت په وينځلو باندې اكتفاء اوفرمائيله. (٤)

بعض حضراتو د ابن بطال رحمه الله د رائې په تائيد كښې د ﴿الصلاة يا رسول الله﴾ نه استدلال كړې دې چه رسول الله ﷺ چه كله اودس اوكړو نو عرض اوكړې شو چه مونځ اوكړئ، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : ﴿الصلاة امامك﴾ يعنى مونځ به وړاندې كيږى. (٥)

خو علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه كيدې شى چه د دې معنى دا وى چه يا رسول الله ﷺ!

---

۱) اوګورئ : التمهيد ج ۱۳ ص ۱۵۸، حديث اول لموسى بن عقبة والاستذكار ج ۳ ص ۶۳۳، كتاب الحج، باب صلاة المزدلفة، وفتح البارى ج ۳ ص ۵۲۰، ۵۲۱، كتاب الحج باب النزول بين عرفة وجمع.

۲) اوګورئ : التمهيد ج ۱۳ ص ۱۵۸، ۱۵۹

۳) صحيح البخارى ج ۱ ص ۲۲۶، كتاب الحج، باب النزول بين عرفة وجمع، رقم ۱۶۶۹

٤) اوګورئ : شرح صحيح البخارى لابن بطال ج ۱ ص ۲۲۷، ۲۲۸

۵) شرح الكرمانى ج ۲ ص ۱۷۹

د مانځه وخت خو شوې دې لهذا تاسو پوره اودس ولې نه کوئ؟ (۱)
خو دا خبره بعيده ده، ځکه چه د روايت مطلب د هغې د نورو الفاظو نه په فهم کښې راځي، ځکه چه دلته خو ﴿توضاء ولم يسبغ الوضوء﴾ دې او بل ځائې کښې ﴿توضاء وضوءا خفيفا﴾ دې. (۲) دا دويم الفاظ د رومبو الفاظ تشريح ده.

قوله: فَقُلْتُ الصَّلَاةَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ: ما عرض اوکړو يا رسول اللهﷺ مونځ اوکړئ.

﴿الصلاة﴾ مرفوع هم لوستلې کيدې شي، تقدير د عبارت به داسې وی ﴿حانت الصلاة﴾ يا ﴿حضرت الصلاة﴾ (۳)
دا منصوب هم لوستلې کيدې شي، يا د اغراء د وجې نه به نصب وی.(٤) تقدير د عبارت به داسې وی : ﴿الزم الصلاة﴾ يا ﴿اتم الصلاة﴾ يا عامل د نصب به محذوف وی ﴿اتريد الصلاة﴾ د دې تائيد د هغه طريق نه کيږی چه چه په هغې کښې دی ﴿يا رسول الله اتصلی؟﴾(۵)

قوله: فَقَالَ الصَّلَاةُ أَمَامَكَ: رسول اللهﷺ اوفرمائيل : مونځ به وړاندې کيږی.

﴿الصلاة﴾ مبتدا دې او ﴿امامك﴾ د دې خبر دې. (۶)
مطلب دا دې چه مونځ به وړاندې په مزدلفه کښې کيږی، د دې مونځ محل مزدلفه دې.

د عرفات نه مزدلفې ته په راتلو کښې د مانځه حکم : د عرفات نه مزدلفې ته په راتلو کښې اصل حکم کوم چه متفق عليه دې هغه دا دې چه د ماښام او ماسخوتن مونځونه جمعا مزدلفې ته راتلوسره اوکړې شی، د ماښام مونځ دې نه په عرفات کښې ادا کړې شی او نه په لاره کښې.(۷)
خو که څوك د ماښام مونځ په لاره يا په عرفات کښې ادا کړی نو د هغه مونځ به صحيح وی که فاسد؟

امام ابوحنيفه او امام احمد رحمهما الله فرمائی چه د هغه مونځ فاسد دې او د هغه په ذمه باندې اعاده واجب ده، ترڅو پورې چه سحر نه وی راختلې، د طلوع فجر نه پس به ترې اعاده ساقط شی، ګويا دا فساد فساد موقوف دې. (۸)
امام مالك رحمه الله فرمائی چه بغير د عذر نه په لاره کښې د ماښام د مونځ ادا کول صحيح نه

---

۱) پورته حواله
۲) پورته حواله ذکر شوې ده.
۳) اوګورئ : عمدة القاری ج ۲ ص ۲۵۹
٤) پورته حواله
۵) صحيح البخاری ج ۱ ص ۳۰، کتاب الوضوء، باب الرجل يوضی صاحبه، رقم ۱۸۱
۶) فتح الباری ج ۱ ص ۲٤۰
۷) اوګورئ : المغنی لابن قدامة ج ۳ ص ۲۱۳، رقم ۲۵۲۰
۸) اوګورئ : المبسوط للسرخسی ج ٤ ص ۷۱، باب الخروج الی المنی، والدر المختار مع شرحه رد المحتار ج ۲ ص ۱۹۲.

دی، که بغیر د عذر نه ئې اوکړی نو مزدلفې ته تلو سره دې د هغې اعاده اوکړی او که د چا څه عذر وی یا ئې سورلۍ ته څه عذر وی نو د شفق د غائب والی نه پس هر چرته مونځ ادا کولې شی. (۱)

امام ابویوسف، امام شافعیؒ او امام محمد رحمهم الله فرمائی چه اولی او افضل دا ده چه د ماښام مونځ دې په مزدلفه کښې ادا کړې شی، خو که څوک ئې په لاره کښې ادا کړی نو د هغه په ذمه به اعاده واجب نه وی. (۲) والله اعلم

قوله: فَرَكِبَ فَلَمَّا جَاءَ الْمُزْدَلِفَةَ نَزَلَ فَتَوَضَّأَ فَأَسْبَغَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ: بیا په سورلۍ باندې سور شو، چه کله مزدلفې ته راغلو نو راکوز شو او دوباره ئې اودس اوکړو او په اودس کښې ئې اسباغ اوکړه.

امام خطابی رحمه الله فرمائی چه د دې نه معلومیږی چه نفس اودس قربت او عبادت دې، برابره خبره ده که په مخکښې اودس سره څه مونځ کړې شوې وی یا نه وی کړې شوې. (۳)

د تجدید وضوء حکم: تجدید وضوء بالاتفاق مستحب یا مسنون دې، خو دا استحباب مطلقا نه دې بلکه په یو قید پورې مقید دې. بیا په دې کښې اختلاف دې چه هغه قید څه دې؟ په احنافو کښې د صاحب مراقی الفلاح رائې دا ده چه مجلس بدل شی. (٤)

صاحب د در مختار دا اختیار کړې دې چه د دې دارومدار په نیت باندې دې، که څوک د تجدید وضوء په نیت او قصد سره اودس کوی نو نه صرف دا چه څه کراهت پکښې نشته بلکه مندوب دې، او که بغیر د څه نیت نه اودس کوی نو کراهت دې. (۵)

ابن العماد رحمه الله د شرح مصابیح نه نقل کوی چه تجدید وضوء په هغه صورت کښې مستحب دې چه کله ئې په اودس سره یو مونځ کړې وی. (٦)

ددې تقاضه دا ده چه تبدل مجلس هم ناکافی دې بلکه په یو مونځ سره فصل ضروری دې. (۷)

خو علامه عبدالغنی ناپلسی رحمه الله فرمائی چه ﴿من توضاء علی طهر کتب له عشر حسنات﴾ یعنی څوک چه د طهارت باوجود اودس کوی د هغه دپاره لس نیکئ لیکلې شی. دا حدیث مطلق

---

۱) انظر المدونة ج ۱ ص ٤١٦، کتاب الحج الاول، رسم فیمن ادخل حجا علی حج، او عمرة علی عمرة، ومن صلی المغرب والعشاء قبل ان یاتی المزدلفة، والشرح الکبیر مع حاشیته الدسوقی علیه ج ۲ ص ۲۲۵، ۲۲۶.

۲) اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ۸ ص ۱٤۸، والمغنی لابن قدامة ج ۳ ص ۲۱٤، رقم ۲۵۲۳

۳) اوګورئ: اعلام الحدیث للخطابی ج ۱ ص ۲۳٦، وفتح الباری ج ۱ ص ۲٤۰.

٤) مراقی الفلاح مع حاشیة الطحطاوی ص ۸۲ فصل فی اوصاف الوضوء

۵) انظر: الدر المختار ج ۱ ص ۸۸ مطلب فی الوضوء علی الوضوء، قال ابن عابدین: لا باس به، وفیه اشارة الی ان ذلک مندوب، فکلمة لا باس وان کان الغالب استعمالها فیما ترکه اولی، لکنها قد تستعمل فی المندوب، کما صرح به فی البحر من الجنائز والجهاد، فافهم ... رد المحتار ج ۱ ص ۸۸

٦) رد المحتار ج ۱ ص ۸۸

۷) پورته حواله

دي، مفهوم ئي دا دي چه د مجلس يا صلاة وغيره په ذريعه باندې د فصل ... ضرورت نشته، چونكه وضوء على وضوء مشروع ده، په دې وجه به دې ته اسراف نه وايو ... دريم ياڅلورم كرت باندې د مجلس يا صلاة دفصل نه بغير اودس كوي نو دا به اسراف ... مالكيان فرمائي چه كه اول اودس ئي مرة مرة يا مرتين مرتين كړې وي، نو بيا خو بغير تخلل عبادت نه دويم اودس كولې شي او كه پوره يعنى د تثليث سره ئې اودس كړې وي نو د دوباره اودس دپاره شرط دا دې چه يو داسې اودس اوكړي كوم چه په اودس باندې موقوف وي، لكه مونځ فرض يا نفل، يا طواف، يا مس مصحف وغيره. (٢)

د شوافعو په دې سلسله كښې پنځه اقوال دي:

① كه په اول اودس باندې فرض يا نفل څه مونځ ادا كړى نو دوباره اودس مستحب دې، ګينې نه دې، دا د ټولو نه اصح قول دې.

② كه د فرض مونځ فصل وي نو دوباره اودس مستحب دې، ګينې نه دې.

③ كه په اول اودس سره ئې څه عبادت مقصوده ادا كړې وي نو اودس مستحب دې، ګينې نه دې. ④ كه په اول اودس سره ئې مونځ ادا كړې وي، يا ئې سجده تلاوت يا سجده شكر ادا كړې وي، يا ئې قران كريم راخستلو سره د هغې تلاوت كړې وي نو دوباره اودس مستحب دې ګينې نه دې.

⑤ د اودس تجديد بغير د څه عمل د فصل نه مستحب دې، خو امام نووى رحمه الله فرمائي چه دا په هغه صورت كښې ممكن دي چه كله د دواړو اودسونو ترمينځه دومره زمانه تيره شي كومه چه فاصل منلې كيدې شي، ګينې دا به د اودس د اندامونو په څلورم كرت باندې د وينځلو په حكم كښې شي او دا قول انتهائى غريب دې. (٣)

د حنابله په نزد دوه اقوال دي، يو قول چه كوم اصح دې هغه دا دې چه تجديد وضوء مستحب دې، دويم قول دا دې چه په دې كښې هيڅ فضيلت نشته. (٤)

تنبيه: حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلې دى چه رسول الله ﷺ چه د مزدلفې په شپه باندې په كومو اوبو سره اودس كړې وو هغه د زمزم وې، هم دغه شان ئې دا هم ليكلې دى چه امام عبدالله بن احمد بن حنبل رحمه الله په زيادات المسند كښې په حسن سند سره د سيدنا على رضي الله عنه حديث نقل كړې دې. په دې سره د هغه حضراتو ترديد راځى كوم چه وائي چه د زمزم اوبه سوا د څكلو نه د نورو مقصدونو دپاره نه شي استعمالولې. (٥)

حافظ رحمه الله چه د كوم روايت حواله وركړې ده په هغې كښې د عرفات نه مزدلفې ته تلو سره په لاره كښې د زمزم په اوبو سره د اودس كولو ذكر نشته، بلكه روستو ئې د رمى جمرات او

---

١) پورته حواله

٢) اوګورئ: الشرح الكبير مع حاشية الدسوقي ج ١ ص ٢٠٥، فصل في نواقض الوضوء

٣) اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ١ ص ٤٦٩، ٤٧٠

٤) اوګورئ: المغني لابن قدامة ج ١ ص ٩٦

٥) فتح البارى ج ١ ص ٢٤٠

نحر نه فارغ كيدو سره چه كله د طواف زيارت دپاره راغلل او د طواف نه پس د زمزم كوهى ته ورغلل. د هغه وخت ذكر دې چه په دې موقع باندې رسول الله ﷺ زمزم هم اوڅكلې او په هغې سره ئې اودس هم اوكړو. (١)

د زمزم په اوبو سره د اودس او د غسل كولو حكم : جمهور علماء كرام د زمزم په اوبو سره اودس او غسل جائز ګڼړى، د امام احمد رحمه الله نه اصح روايت دې چه جائز دې، د دويم روايت مطابق كراهت دې.

ملا على قارى رحمه الله فرمائى : ﴿ ويجوز الاغتسال والتوضؤ بماء زمزم، ولا يكره عند الثلاثة، خلافا لاحمد، على وجه التبرك، اى لا باس بما ذكر، الا انه ينبغى ان يستعمله على قصد التبرك بالمسح او الغسل، او التجديد فى الوضوء، ولا يستعمل الا على شئ طاهر، فلا ينبغى ان يغسل به ثوب نجس، ولا ان يغسل به جنب، ولا محدث، ولا فى مكان نجس، ويكره الاستنجاء به، وكذا ازالة النجاسة الحقيقية من ثوبه او بدنه، حتى ذكر بعض العلماء تحريم ذلك ﴾ (٢)

يعنى د زمزم په اوبو باندې د تبرك په طور د ائمه ثلاثه په نزد اودس او غسل كول جائز دى، په خلاف د امام احمد رحمه الله (د يو روايت مطابق) د هغوى په نزد كراهت دې. خو د زمزم اوبه د تبرك په قصد ، د مسح، غسل او تجديد وضوء دپاره استعمالول پكار دى. هم دغه شان دې دا په پاكو څيزونو باندې استعمال كړې شى، لهذا په دې باندې نه خو ناپاك كپړې وينځل پكار دى او نه دې پرې يو جنبى يا محدث غسل كوى. هم دغه شان دې په ناپاك ځائې كښې هم استعمال نه كړې شى.

په تنوير الابصار او الدر المختار كښې دى : ﴿ ويرفع الحدث بماء مطلق .... وماء زمزم بلا كراهة ﴾ (٣) يعنى د رفع حديث دپاره د ماء مطلق او ماء زمزم استعمالول جائز دى.

هم دغه شان ابن عابدين رحمه الله فرمائى : ﴿ قوله : يكره الاستنجاء بماء زمزم، وكذا ازالة النجاسة الحقيقية من ثوبه او بدنه، حتى ذكر العلماء تحريم ذلك ﴾ (٤)

يعنى د زمزم په اوبُو سره استنجاء كول مكروه دى، هم دغه شان د كپړې يا د بدن نه د نجاست حقيقيه د وينځلو دپاره ئې هم استعمال مكروه دې، تردې چه بعض علماء كرامو دې ته حرام وئيلې دى.

امام نووى رحمه الله فرمائى : ﴿ واما زمزم، فمذهب الجمهور كمذهبنا، انه لا يكره الوضوء والغسل به، وعن

---

١) اوګورئ مسند احمد ج ١ ص ٧٦. رقم ٥٢٤

٢) مناسك ملا على القارى، المسمى : المسلك المتقسط فى المنسك المتوسط ص ٤٩٥، باب المتفرقات، فصل ويستحب الاكثار من شرب ماء زمزم.

٣) تنوير الابصار مع شرحه الدر المختار بهامش رد المحتار ج ١ ص ١٣٢، باب المياه

٤) رد المحتار ج ٢ ص ٢٧٨. كتاب الحج

احمد رواية بكراهته ﴾(۱)

يعنى د زمزم د اوبو په باره کښې د جمهورو مذهب زمونږ د مذهب په شان دې چه د دې نه په اودس او غسل کولو کښې هيڅ کراهت نشته، خو د امام احمد رحمه الله نه يو روايت د کراهت دې.

ابن قدامه رحمه الله فرمائى : ﴿ ولايكره الوضوء والغسل بماء زمزم..... وعنه يكره ﴾(۲)

يعنى د زمزم په اوبو سره اودس او غسل مکروه نه دې. د امام احمد رحمه الله نه يو روايت د کراهت دې. د فقه مالکی کتاب مواهب الجليل کښې دى :

﴿ ان ماء زمزم يتوضأ به وتزال به النجاسة ولا خلاف فيه إلا ما روى عن ابن شعبان من أنه قال لا تزال به النجاسة تشريفاله انتهى. ونحوه للشيخ يوسف بن عمر قلت: (القائل صاحب المواهب): أما الوضوء به لمن كان طاهر الأعضاء فلا أعلم فى جوازه خلافا بل صرح باستحبابه غير واحد نقلا عن ابن حبيب وكذلك لا أعلم فى جواز الغسل به لمن كان طاهر الأعضاء خلافا بل صرح ابن حبيب أيضا باستحباب الغسل به ﴾(۳)

يعنى : د زمزم په اوبو سره اودس هم کيدلې شى او نجاستونه هم وينځلې کيدې شى، په دې کښې هيڅ اختلاف نشته، خو د ابن شعبان رحمه الله نه روايت دې، هغه فرمائى چه د زمزم په اوبو سره نجاست نه دى زائل کول پکار، دا د زمزم د اوبو اکرام دې، هم دا خبره شيخ يوسف بن عمر رحمه الله هم کړې ده. زه وائم چه د چا اودس وى، د هغه دپاره د زمزم د اوبو نه د اودس په جواز کښې د چا هم اختلاف نشته، بلکه ډير حضرات د ابن حبيب رحمه الله نه استحباب نقل کړې دې، هم دغه شان چه کوم انسان طاهر الاعضاء وى، د هغه دپاره د غسل په جواز کښې هم څه اختلاف نشته، بلکه ابن حبيب رحمه الله د داسې انسان دپاره د غسل د مستحب کيدو تصريح کړې ده.

حاصل دا چه کوم انسان طاهر الاعضاء وى، د داسې انسان دپاره د زمزم په اوبو د اودس او د غسل په جائز کيدو کښې هيڅ اختلاف نشته، بعض حضراتو د داسې سړى دپاره د استحباب تصريح کړې ده.

خو د مالکيانو رحمهم الله په نزد اصل دا ده چه د ازاله حدث وخبث هر يو دپاره د استعمال ګنجائش شته. (٤)

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فرمائى چه د زمزم په اوبو سره اودس خو کيدلې شى خو غسل کول ترې جائز نه دى. (٥)

---

۱) المجموع ج ۱ ص ۹۱

۲) المغنى لابن قدامة ج ۱ ص ۲۸

۳) مواهب الجليل شرح مختصر الخليل ج ۱ ص ٦٤، باب يرفع الحدث وحكم الخبث

٤) اوګورئ: الموسوعة الفقهية الكويتية ج ۱ ص ۹۱، مادة ابار

٥) اوګورئ : الفتاوى الكبرى ج ٥ ص ۷۵، مسالة فى المصحف العتيق اذا تمزق ما يصنع به، رقم (۱۰/۱۰۳٦) هم دغه شان اوګورئ : مجموع فتاوى شيخ الاسلام ابن تيمية ج ۱۲ ص ۲٦.

ابن تیمیه رحمه الله د سیدنا عباس رضی الله عنه د اثر نه استدلال کوی، پس د هغوی نه د زمزم د اوبو په باره کښ منقول دی چه : ﴿ لا احله لمغتسل، ولكن لشارب حل وبل ﴾ (١)
یعنی زه دا د یو غسل کونکی دپاره جائز نه گنړم، خو د څکلو دپاره حلال، مباح او شفاء ده.
جمهور د رسول الله ﷺ د واقعاتو نه استدلال کوی، پس د سیدنا علی رضی الله عنه حدیث تیر شوې دې. هم دغه شان په مسند حمیدی کښ د سیدنا وائل بن حجر رضی الله عنه روایت دې!

﴿ اتى النبى ﷺ بدلو من زمزم، فشرب، ثم توضاء ومضمض ثم مجه فى الدلو مسكا او اطيب من المسك، واستنثر خارجا من الدلو ﴾ (٢)

یعنی : رسول الله ﷺ ته د زمزم د اوبو یوه بوقه راوړلې شوه، رسول الله ﷺ د هغې نه څکل اوکړل، بیا ئې د هغې نه اودس اوکړو، او د خپلې خولې مبارکې اوبه ئې په هغې کښ واچولې، هغه د مشکو په شان یا د هغې نه هم زیاتې خوشبودارې شوې، او د بوقې نه بهر ئې په پوزه کښ اوبه واچولې او گزار ئې کړې.
هم دغه شان فاکهی رحمه الله په اخبار مکة کښ نقل کړې دی چه اهل مکة چه به کله مړی ته غسل ورکولو نو بیا به ئې د زمزم په اوبو سره دوباره غسل ورکولو. (٣)
سیده اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنهما خپل ځوئی سیدنا عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما ته د زمزم په اوبو سره غسل ورکړې وو. (٤)
په مصنف ابن ابی شیبه کښ د سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه یو اوږد حدیث روایت دې، په هغې کښ دی!

﴿ ثُمَّ أَمَرَ بِلَالًا ، فَرَقَىٰ عَلَىٰ ظَهْرِ الْكَعْبَةِ ، فَأَذَّنَ بِالصَّلَاةِ ، وَقَامَ الْمُسْلِمُونَ فَتَجَرَّدُوا فِي الْأُزُرِ ، وَأَخَذُوا الدِّلَاءَ ، وَارْتَجَزُوا عَلَىٰ زَمْزَمَ يَغْسِلُونَ الْكَعْبَةَ ، ظَهْرَهَا وَبَطْنَهَا ، فَلَمْ يَدَعُوا أَثَرًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِلَّا مَحَوْهُ ، أَوْ غَسَلُوهُ ﴾ (٥)

یعنی : رسول الله ﷺ سیدنا بلال رضی الله عنه ته حکم ورکړو، هغه د کعبې چهت ته اوختلو او اذان ئې ورکړو، ټول مسلمانان صرف ازار تړلې، په باقی بدن باندې بربنډ حالت کښ په کار اخته شو، بوقه اخستلو سره ئې د زمزم نه اوبه راوړل شروع کړل، د زمزم نه به ئې اوبه راوړلو سره

---

١) قوله حل وبل ... د حل معنی حلال او مباح ده او د لفظ بل په باره کښ وئیلې شوې دی چه دا لفظ د حل د تابع په طور استعمالولې شی، خو ائمه لغت په دې باندې اعتراض کړې دې چه د تابع په طور باندې استعمالیدونکې الفاظ په واو عطف سره نه استعمالیږی، لهذا وئیلې شی چه ﴿بل﴾ دقبیله حمیر د لغت مطابق د مباح په معنی کښ دې، یا دا ﴿ بل من مرضه وابل ﴾ نه ماخوذ دې، چه هغې معنی د شفا موندلو ده. گویا د ﴿ بل ﴾ معنی دلته شفاء ده. والله اعلم
اوگورئ : البداية والنهاية ج ٢ ص ٢٦٩، ذكر تجديد حفر زمزم. والنهاية ج ١ ص ١٥٨، مادة : بلل
٢) مسند الحميدى ج ٢ ص ١٣٦، رقم ٩١٠، حديث وائل بن حجر الحضرمى
٣) اخبار مكة للفاكهى ج ٢ ص ٤٨، ذكر غسل اهل مكة الموتى بماء زمزم لبركته وفضله رقم ١١٢٢.
٤) پورته حواله
٥) المصنف لابن ابى شيبة ج ٢٠ ص ٤٧٩، ٤٨٠، كتاب المغازى، حديث فتح مكة، رقم ٣٨٠٧٤

رجزيه اشعار وئيل، په هغه اوبو سره ئې كعبه شريفه دننه، بهر نه وينځله، د مشركانو ئې يو نخښه هم پرينخودله چه هغه ئې ختمه كړې يا وينځلې نه وى.

بعض حضرات دا وائى چه رسول الله ﷺ د زمزم اوبه ضرورة استعمال كړې وې او دا ضرورى نه ده چه كومې اوبه د ضرورت په وخت مباح وى هغه دې په غير ضرورت كښې هم مباح وى.

خو په دې خبره كښې څه خاص وزن نشته، ځكه چه دا زيات نه زيات مباركې اوبه دى او د مباركو اوبو په استعمال كښې څه باك نشته، اوګورئ! صحابه كرام رضي الله عنهم هغه اوبه كومې چه د رسول الله ﷺ د ګوتو مباركو نه وتلې هغه ئې هم استعمال كړې دى. (۱) او علماء كرامو تصريح كړې ده چه د ټولو نه افضل اوبه هغه دى كومې چه د رسول الله ﷺ د ګوتو د مينځ نه راوتلې دى تردې چه د زمزم د اوبو نه هم. (۲) د حافظ سيوطى رحمه الله شعر دې!

افضل المياه ماء قد نبع　　من اصابع النبى المتبع

يليه ماء زمزم فبالكوثر　　فنيل مصر ثم باقى الانهر (۳)

يعنى : د ټولو نه غوره اوبه هغه دى كومې چه د نبى متبع ﷺ (چه د هغه اتباع كولې شى) د ګوتو مباركو نه راوتلې دى، د هغې نه روستو د زمزم، بيا د كوثر او بيا د نيل سيند اوبه دى، د هغې نه روستو د باقى دريابونو.

هر چه د ابن تيميه رحمه الله د استدلال تعلق دې، پس امام نووى رحمه الله خو فرمائى! ﴿ ولم يصح ما ذكروه عن العباس، بل حكى عن ابيه عبد المطلب، ولو ثبت عن العباس لم يجز ترك النصوص به ﴾ (۴)

يعنى فقهاء كرام چه دا د سيدنا عباس رضي الله عنه اثر ﴿ لا احله لمغتسل، وهو لشارب حل وبل ﴾ نقل كوى. دا د هغوى نه ثابت نه دې. بلكه د هغوى د والد محترم قول دې او كه د عباس رضي الله عنه نه ثابت هم شى نو د دې اثر په وجه باندې به د نصوص پريخودل صحيح نه وى.

خو حقيقت دا دې چه دا قول نه صرف د عبدالمطلب دې، بلكه د سيدنا عباس او ابن عباس رضي الله عنهما نه هم ثابت دې، لكه چه حافظ ابن كثير رحمه الله د دې تصريح فرمائيلې ده. (۵)

---

۱) پس د سيدنا انس رضي الله عنه نه روايت دې : ﴿ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- وَحَانَتْ صَلاَةُ الْعَصْرِ فَالْتَمَسَ النَّاسُ وَضُوءًا فَلَمْ يَجِدُوهُ فَأُتِىَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِوَضُوءٍ فِى إِنَاءٍ فَوَضَعَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِى ذَلِكَ الإِنَاءِ يَدَهُ ثُمَّ أَمَرَ النَّاسَ يَتَوَضَّئُونَ مِنْهُ - قَالَ أَنَسٌ - فَرَأَيْتُ الْمَاءَ يَنْبُعُ مِنْ تَحْتِ أَصَابِعِهِ فَتَوَضَّأَ النَّاسُ حَتَّى تَوَضَّئُوا مِنْ عِنْدِ آخِرِهِمْ ﴾ موطاء امام مالك ج ۱ ص ۷۱، كتاب الطهارة، باب جامع الوضوء، رقم ۶۸

۲) قال القسطلانى والزرقانى رحمهما الله : وهو اشرف المياه على الاطلاق، كما قاله البلقينى وغيره، شرح الزرقانى على المواهب اللدنية ج ۷ ص ۳، معجزة نبع الماء الطهور من بين اصابعه.

۳) اوګورئ : شرح الزرقانى على المواهب اللدنية ج ۷ ص ۳

۴) المجموع شرح المذهب ج ۱ ص ۹۱

۵) اوګورئ : البداية والنهاية ج ۲ ص ۲۶۹، ذكر تجديد حفر زمزم.

اصل كښې كله چه عبدالمطلب د زمزم كوهی كنستلو سره تجديد اوكړو نو هغه هلته يو حوض تيار كړو، په هغې كښې به پلار او ځوئى يو ځائې كيدو سره د زمزم نه اوبه راويستلې، حاجيانو به ترې اوبه څكلې، خو د شپې به د قريشو بعض حاسدانو هغه ماتولو، سحر به بيا عبدالمطلب هغه برابرولو، چه كله دا سلسله اوږده شوه نو عبدالمطلب دعا اوكړه، په خوب كښې ورته تلقين اوشو چه دا دعا اوكړه ﴿ اللهم انى لا احلها لمغتسل، ولكن هى لشارب حل وبل ﴾ يعنى زه په دې باندې چاته د غسل كولو اجازت نه وركوم، خو د څكلو والا دپاره حلال او مباح دى.(١)

د عبدالمطلب نه روستو دا ذمه دارى د څه مودې دپاره ابو طالب سره وه. بيا داسې اوشوه چه ابو طالب يو كال په معاشى تنگسيا كښې واقع شو، هغوى د خپل رور سيدنا عباس رضي الله عنه نه د راروان د حج موسم پورې د لس زره درهم قرض واخستلو، خو چه كله راروان كال راغلو نو د ابو طالب سره هيڅ نه وو، هغوى بيا د سيدنا عباس رضي الله عنه نه د څوارلس زره قرض مطالبه اوكړه. هغوى اووې چه په دې شرط سره ئې دركوم چه كه په بل كال كښې دې ادا نه كړې شو نو د سقايه خدمت به ماته مستقلا راسپارې، چه كله بل كال راغلو نو د ابو طالب سره هيڅ نه وو، پس هغوى د سقايه خدمت سيدنا عباس رضي الله عنه ته اوسپارلو، د عباس رضي الله عنه نه پس دا خدمت سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما ته ملاؤشو، چه كله د عبدالمطلب نه پس د عباس او ابن عباس رضي الله عنهما دور راغلو نو هغوى هم په خپله زمانه كښې د عبدالمطلب شرط دوباره اولگولو. (٢)

خاص طور سيدنا عباس او ابن عباس رضي الله عنهما چه كوم شرط لگولې وو او هغه د دې وجې نه هم وو چه هلته د عورت د ښكاره كيدلو ارتكاب كيدلو او خلقو هلته په بربنډه باندې غسل كولو، د هغه خرابئ د لرې كولو دپاره هغوى هلته د غسل نه منع اوفرمائيله. (٣)

هم دغه شان دا هم ممكنه ده چه هغوى د مسجد د حرمت د وجې نه د غسل نه منع فرمائيلې وى. لكه چه د ابن ابى شيبه په روايت كښې دى: ﴿ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَا أُحِلُّهَا لِمُغْتَسِلٍ يَغْتَسِلُ فِى الْمَسْجِدِ، وَهِىَ لِشَارِبٍ وَمُتَوَضِّئٍ حِلٌّ وَبِلٌّ ﴾ (٤) يعنى زه د يو داسې غسل كونكى دپاره چه په مسجد كښې په زمزم سره غسل كوى حلال نه گنړم، خو د څكلو والا دپاره او د اودس كونكى دپاره اجازت دى.

قوله: ثُمَّ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ: بيا د ماښام د مونځ اقامت اوكړې شو او د ماښام

١) اخبار مكة للازرقى ج ١ ص ٥٥٠. ما جاء فى حفر عبدالمطلب بن هاشم زمزم.

٢) اوگورئ: البداية والنهاية ج ٢ ص ٢٦٩. ذكر تجديد حفر زمزم.

٣) اخبار مكة كښې په طريق د سفيان، زر بن حبيش رحمه الله فرمائى: ﴿ رأيت عباس بن عبد المطلب فى المسجد الحرام، وهو يطوف حول زمزم يقول: لا أحلها لمغتسل وهى لمتوضئ وشارب حل وبل. قال سفيان: يعنى لمغتسل فيها، وذلك أنه وجد رجلًا من بنى مخزوم، وقد نزع ثيابه، وقام يغتسل من حوضها عريانا ﴾ اخبار مكة للازرقى ج ١ ص ٥٧٥. باب ما جاء فى تحريم العباس زمزم للمغتسل فيها.

٤) المصنف لابن ابى شيبة ج ١ ص ٣٦٣ كتاب الطهارة، باب فى الوضوء فى المسجد، رقم ٣٨٧.

مونځ ئې ادا کړو.
قوله: ثُمَّ أَنَاخَ كُلُّ إِنْسَانٍ بَعِيرَهُ فِي مَنْزِلِهِ: بیا هر سړی په خپل خپل ځائې باندې اوښ کینولو.
علامه خطابی رحمه الله د دې نه په دې خبره باندې استدلال کړې دې چه کوم دوه مونځونه جمع کیږی چه د هغې ترمینځه په څه معمولی عمل سره خلل واقع شی نو دا د جمع دپاره مانع نه دې، په دې شرط چه د دواړو مونځونو ترمینځه کلام بیا نه موندلې شی. (۱)
خو علامه کرمانی رحمه الله په دې باندې دا اعتراض کړې دې چه په دې کښې هیڅ فرق نشته چه فصل یسیر به مانع نه وی او فصل کثیر به مانع وی، بلکه مطلقا فصل مانع جمع نه دې. هم دغه شان هغه فرمائی چه د عدم کلام چه ئې کوم شرط لګولې دې هغه هم معتبر نه دې. (۲)
د علامه کرمانی رحمه الله خبره د کلام په سلسله کښې خو صحیح کیدې شی چه په عدم کلام باندې څه دلیل نشته.
خو د فصل یسیر وکثیر د فرق قید په دې خبره مبنی کیدې شی چه د اوښانو چو کول څه اوږد کار نه دې بلکه هر سړې په یو منټ کښې خپل اوښ کینولې او پاسولې شی، کیدې شی چه امام خطابی رحمه الله هم د دې معمولی عمل نه د عدم کلام استنباط هم کړې وی.
فصل بین الصلاتین المجموعتین قاطع جمع دې یا نه دې؟: کوم دوه مونځونه چه جمع کولې شی د هغې ترمینځه فصل قاطع دې یا نه دې؟ په دې کښې اختلاف دې. احناف مطلقا قاطع منی، صاحب هدایه فرمائی: ﴿ولا يتطوع بين الصلاتين تحصيلا لمقصود الوقوف ولهذا قدم العصر على وقته فلو أنه فعل فعل مكروها وأعاد الأذان للعصر في ظاهر الرواية خلافا لما روى عن محمد رحمه الله لأن الاشتغال بالتطوع أو بعمل آخر يقطع فور الأذان الأول فيعيده للعصر﴾ (۳)
یعنی د دوه مونځونو (په عرفات کښې د ماسپخین او مازیګر) ترمینځه به هیڅ قسم نقل نه شی کولې، چه د وقوف مقصد حاصل شی، هم په دې وجه باندې عصر د خپل وخت نه مقدم کړې شوې دې، که څوک د دوه مونځونو ترمینځه نفل مونځ اوکړی نو هغه د مکروه ارتکاب اوکړو. اوس د ظاهر الروایة مطابق به د عصر دپاره د مستقل اذان اعاده کوی، د امام محمد رحمه الله په دې باندې اختلاف دې، اعاده د اذان د وجې نه دا ده چه تطوع یا په بل څه عمل کښې مشغولیت د اول اذان د اتصال د پاره قاطع دې، په دې وجه د مازیګر دپاره مستقل اذن دې.
هم دغه شان فرمائی: ﴿ولا يتطوع بينهما لأنه يخل بالجمع ولو تطوع أو تشاغل بشيء أعاد الإقامة لوقوع الفصل وكان ينبغي أن يعيد الأذان كما في الجمع الأول بعرفة إلا أنا اكتفينا بإعادة الإقامة لما روي أن النبي

---

۱) اعلام الحدیث ج ۱ ص ۲۳۵، باب اسباغ الوضوء
۲) شرح الکرمانی ج ۲ ص ۱۷۹
۳) الهدایة ج ۲ ص ۱۹٤، کتاب الحج، باب الاحرام

عليه الصلاة والسلام صلى المغرب بمزدلفة ثم تعشى ثم أفرد الإقامة للعشاء﴾ (۱)

يعنى: د دواړو مونځونو (ماښام او ماسخوتن) ترمينځه دې نفل نه کوى، ځکه چه دا د جمع دپاره مخل دې، که نفل مونځ ئې اوکړو يا ئې په يو څيز کښې مشغوليت اختيار کړو نو اوس چونکه فصل واقع شوې دې، لهٰذا د اقامت اعاده دې اوکړې، هسې کيدل خو داسې پکار وو چه څنګه په عرفات کښې د فصل د وجې نه د اذان اعاده کيږى هغه شان دلته هم اعاده کيدې، خو د ذکر شوې روايت مطابق صرف د اقامت په اعاده باندې اکتفاء اوکړې شوه.

مالکيان فصل مانع نه ګڼړى، خو مکروه ورته وائى، پس علامه دردير مالکى رحمه الله فرمائى:

﴿ ولا تنفل بينهما) أى يمنع بمعنى يكره فيما يظهر إذ لا وجه للحرمة قاله شيخنا، وكذا كل جمع يمنع فيه التنفل بين الصلاتين (ولم يمنعه) أى أن التنفل إن وقع لا يمنع الجمع﴾ (۲)

يعنى د دواړو مونځونو ترمينځه به په نفل سره فصل نه شى کولې. يعنى داسې طريقې سره د فصل کولو نه به منع کولې شى، ظاهرا د دې مطلب دا دې چه فصل کول مکروه دى، ځکه چه د حرمت څه وجه نشته، لکه زمونږ شيخ فرمائى. هم دغه شان د هر جمع بين الصلاتين په موقع باندې فصل کولو ممنوع خو دى، خو مانع عن الجمع نه دى، يعنى که څوک نفل اوکړى نو جمع بين الصلاتين نه باطل کيږى.

علامه حطاب رعينى مالکى رحمه الله فرمائى: ﴿ قال فى الذخيرة: قال مالك: ولا يتنفل بين المغرب والعشاء ليلة الجمع، ...... وإذا قلنا لا يتنفل فتنفل فلا يمنع ذلك الجمع﴾ (۳)

يعنى امام مالك رحمه الله فرمائى: د مزدلفې په شپه کښې به د ماښام او ماسخوتن ترمينځه نفل نه وى او که څوك نفل اوکړى نو دا د جمع بين الصلاتين دپاره مانع نه دې.

شوافع او حنابله د جمع تاخير په صورت کښې (لکه چه په مزدلفه کښې د ماښام او ماسخوتن ترمينځه جمع تاخير وى) فصل لره قاطع نه منى، خو د جمع تقديم په صورت کښې د شوافعو په نزد دواړه اقوال دى، خو د هغوى په نزد راجحه هم دا ده چه فصل طويل قاطع او مانع دې، د فصل يسير اعتبار نشته، بيا ئې د فصل يسير په مقدار کښې هم دوه اقوال دى، يو دا چه د اقامت په اندازه فصل يسير دې او دويم قول کوم چه راجح دې هغه دا دې چه د دې بنياد په عرف باندې دې. دحنابله په نزد هم د جمع تقديم په صورت کښې فصل طويل مانع دې اوفصل يسير معاف دې، دفصل طويل اويسير ترمينځه فرق په عرف باندې مبنى دې.(٤)

---

۱) الهداية ج ۲ ص ۲۰۲، كتاب الحج، باب الاحرام، ثم هذا الحديث المذكور قال الزيلعى عنه: غريب... وهو فى البخارى عن ابن مسعود، فذكره. انظر النصب الراية ج ۳ ص ۷۰، كتاب الحج باب الاحرام، رقم ٤٢٦٣، ٤٢٦٤

۲) الشرح الكبير لدردير مع حاشية الدسوقى ج ۱ ص ۵۸۹، باب الصلاة، فصل فى احكام صلاة السفر

۳) مواهب الجليل ج ۲ ص ۵۱۶، كتاب الصلاة، فصل فى صلاة السفر.

٤) اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ٤ ص ۳۷۵، كتاب الصلاة، باب صلاة المسافر، فرع فى مذاهب العلماء فى الجمع فى السفر، والمغنى لابن قدامة ج ۲ ص ۶۰، ۶۱

قوله: ثُمَّ أُقِيمَتِ الْعِشَاءُ فَصَلَّى وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا : بيا د ماسخوتن د مانځه دپاره اقامت اوکړې شو، رسول الله ﷺ د ماسخوتن مونځ اوکړو، د ماسخوتن او د ماښام ترمينځه ئې بل يو مونځ هم اونکړو.
شاته د مذاهب د تفصيل نه به تاسوښه پوهه شوي يئ چه د صلاتين مجموعتين ترمينځه نقل کول د چا په نزد هم صحيح نه دی.

★★★★★★

⑦ باب: غَسْلِ الْوَجْهِ بِالْيَدَيْنِ مِنْ غَرْفَةٍ وَاحِدَةٍ

د سابقه باب سره مناسبت : علامه عينی رحمه الله فرمائی چه په مخکښې باب کښې د رسول الله ﷺ د اودس وصف ذکر شوې وو، په دې باب کښې هم دې چه ابن عباس رضی الله عنهما اودس اوکړو او وې فرمائيل : ﴿هٰكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ﴾ يعنی ما رسول الله ﷺ هم دغه شان په اودس کولو باندې ليدلې دې. ګويا په دې باب کښې هم د رسول الله ﷺ د اودس کيفيت بيان کړې شوې دې. (١)
شيخ الحديث رحمه الله فرمائی چه زما په نزد دا باب، د مخکښې باب تکمله ده، ځکه چه په مخکښې باب کښې د اسباغ الوضوء ذکر وو او په دې باب کښې دا بيان کړې شوې دی چه د اسباغ وضوء دپاره د استعانت باليدين ضرورت دې. (٢)
د ترجمة الباب مقصد : حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د امام بخاری رحمه الله مقصد په دې خبره باندې تنبيه کول دی چه اغتراف باليدين شرط نه دې، هم دغه شان د حديث ﴿ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يغسل وجهه بيمينه﴾(٣) د ضعف طرف ته اشاره ده. (٤)
علامه حليمی رحمه الله د دې دواړو روايتونو مطابق تطبيق کړې دې چه د اودس په وخت په لاس کښې د اوبه اخستلو دوه صورتونه وی، يو صورت خو دا دې چه لاس په لوښی کښې غوپه کړې شی او لپه ترې ډکه کړې شی او دويم صورت دا دې چه د لوټې وغيره نه په لاس کښې اوبه اچولو سره اوکړې شی، په کوم روايت کښې چه ﴿غسل الوجه باليمين﴾ راغلې دې د هغې تعلق د دې صورت ثانيه سره دې. يعنی رسول الله ﷺ چه به کله په لوټې وغيره سره اودس کولو نو صرف يمين به ئې استعمالولو او په کوم روايت کښې چه د دواړو لاسونو د

---

١) عمدة القاری ج ٢ ص ٢٦٢
٢) الكنز المتواری ج ٣ ص ١٦
٣) اخرجه ابوداؤد فی كتاب المراسيل ص ١١١، رقم ٦ : ﴿قال حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُثْمَانَ الدِّمَشْقِيُّ أَبُو الْجَمَاهِرِ، أَنَّ سُلَيْمَانَ بْنَ بلال حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنِي شَرِيكُ بْنُ أَبِي نَمِرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى الله عليه وسلم : كَانَ يَغْسِلُ وَجْهَهُ بِيَمِينِهِ﴾ وروى ايضاً عن عطاء بن يسار مرسلاً. انظر كنز العمال ج ٩ ص ٤٥٧، رقم ٢٦٩٥٠.
٤) فتح الباری ج ١ ص ٢٤١

استعمال ذكر دي د هغې تعلق د صورت اولى يعنى اغتراف من الاناء سره دې، يعنى كله چه به رسول الله ﷺ لاس داخلولو سره اوبه اخستلې او اودس به ئې كولو هغه وخت به ئې په دواړو لاسونو سره مخ مبارك وينځلو. (١)

خو حافظ رحمه الله دې جمع او تطبيق ته بعيد وئيلې دى، ځكه چه د حديث سياق دا بيانوى چه رسول الله ﷺ په يو لاس سره اوبه واخستلې او بل لاس ئې ورسره يو ځائې كړو او مخ مبارك ئې وينځلو. (٢)

حضرت گنگوهى رحمه الله فرمائى چه د ترجمة الباب مقصد دا دې چه اوبه په يوې لپې سره واخستې شى د دې نه زياتې نه، بيا دې په دواړو لاسونو سره مخ وينځلې شى، چه اوبه ضائع نه شى او په دې وجه د يو لاس په مقابله كښې په دوه لاسونو سره وينځل زيات اسان دى (٣)

د حضرت گنگوهى رحمه الله د دې توجيه اختيارولو په صورت كښې نه خو اعتراض لازميږى كوم چه حافظ رحمه الله په حليمى رحمه الله كړې دې او نه په دواړو روايتونو كښې تعارض لازميږى، ځكه چه رسول الله ﷺ چه كله په ښى لاس سره مخ مبارك وينځلو نو غسل باليمين بيا موندلې شو، هر چه د گس لاس تعلق دې نو هغه د يمين دپاره د اوبو د حفاظت او د اسباغ على الوجه دپاره معين دې. (٤) والله اعلم

١٤٠: ﴿حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ قَالَ أَخْبَرَنَا أَبُو سَلَمَةَ الْخُزَاعِيُّ مَنْصُورُ بْنُ سَلَمَةَ قَالَ أَخْبَرَنَا ابْنُ بِلَالٍ يَعْنِي سُلَيْمَانَ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ (٥) أَنَّهُ تَوَضَّأَ فَغَسَلَ وَجْهَهُ أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ فَمَضْمَضَ بِهَا وَاسْتَنْشَقَ ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ فَجَعَلَ بِهَا هَكَذَا أَضَافَهَا إِلَى يَدِهِ الْأُخْرَى فَغَسَلَ بِهِمَا وَجْهَهُ ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ فَغَسَلَ بِهَا يَدَهُ الْيُمْنَى ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ فَغَسَلَ بِهَا يَدَهُ الْيُسْرَى ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ فَرَشَّ عَلَى رِجْلِهِ الْيُمْنَى حَتَّى غَسَلَهَا ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً أُخْرَى فَغَسَلَ بِهَا رِجْلَهُ يَعْنِي الْيُسْرَى ثُمَّ قَالَ هَكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ﴾

...

---

١) پورته حواله

٢) پورته حواله

٣) لامع الدرارى مع كنز المتوارى ج ٣ ص ١٥

٤) الكنز المتوارى فى معادن لامع الدرارى ج ٣ ص ١٥، ١٦

٥) قوله : عن ابن عباس الحديث اخرجه ابوداؤد فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب الوضوء مرتين، رقم ١٣٧، وباب الوضوء مرة مرة، رقم ١٣٨، والنسائى فى سننه فى كتاب الطهارة، باب مسح الاذنين، رقم ١٠١، وباب مسح الاذنين مع الراس، وما يستدل به على انهما من الراس، رقم ١٠٢، وابن ماجه فى سننه فى كتاب الطهارة، باب المضمضة والاستنشاق من كف واحد، رقم ٤٠٣، وباب ما جاء فى الوضوء مرة مرة، رقم ٤١١.

رجال الحديث

① **محمد بن عبدالرحيم** : دا ابو يحيى محمد بن عبدالرحيم بن ابى زهير قرشي عدوى بغدادى رحمه الله دي. د بزازى د کسب د وجې نه ورته بزاز وئيلې شى، د هغوى لقب صاعقة دي.(١)

هغه د ابو احمد الزبيرى، يونس بن محمد المؤدب، يزيد بن هارون، شبابه بن سوار، روح بن عباد، معلى بن منصور او ابو النضر رحمهم الله وغيره حضراتو نه روايت کوى.

د هغوى نه په روايت کونکو کښ امام بخارى، امام ابوداؤد، امام ترمذى، امام نسائى، ابوبکر بن ابى داؤد، يحيى بن صاعد او قاضى ابو عبدالله محاملى رحمهم الله وغيره نه علاوه ډير محدثين دى. (٢)

امام احمد، امام نسائى او ابو العباس السراج رحمهم الله فرمائى : ﴿ثقة﴾(٣)

ابن صاعد رحمه الله فرمائى : ﴿حدثنا ابويحيى الثقة الامين﴾(٤)

نصر بن احمد الکندى رحمه الله فرمائى : ﴿کان من اصحاب الحديث المامونين﴾(٥)

خطيب بغدادى رحمه الله فرمائى : ﴿وکان متقنا، ضابطا، عالما، حافظا﴾(٦)

امام ابن حبان رحمه الله هغه لره په کتاب الثقات کښ ذکر کړې دې او فرمائى : وکان صاحب حديث يحفظ﴾(٧)

حافظ مزى رحمه الله فرمائى : ﴿وکان احد الحفاظ المتقنين﴾(٨)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى : ﴿الامام الحافظ المتقن﴾(٩)

امام دارقطنى رحمه الله فرمائى : ﴿حافظ ثبت﴾(١٠)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى : ﴿ثقة حافظ﴾(١١)

---

١) اوګورئ: تهذيب الکمال ج ٢٦ ص ٥، رقم ٥٤١٧
٢) د شيوخ او تلامذه دپاره اوګورئ: تهذيب الکمال ج ٢٦ ص ٥، ٦
٣) تاريخ بغداد ج ٣ ص ١٦٧، رقم ١١٨٩
٤) پورته حواله
٥) پورته حواله
٦) تاريخ بغداد ج ٣ ص ١٦٦، رقم ١١٨٩
٧) کتاب الثقات لابن حبان ج ٩ ص ١٣٢
٨) تهذيب الکمال ج ٢٦ ص ٥
٩) سير اعلام النبلاء ج ١٢ ص ٢٩٥
١٠) تهذيب التهذيب ج ٩ ص ٣١٢
١١) تقريب التهذيب ص ٤٩٣، رقم ٦٠٩١

په ۱۸۵ هجری کښې پیدا شوې دې او په ۲۵۵ هجری کښې وفات شوې دې. (۱) رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

② ابو سلمه الخزاعي منصور بن سلمه : دا ابو سلمه منصور بن سلمه بن عبدالعزيز بن صالح الخزاعي البغدادي رحمه الله دې. (۲)

هغه د عبد العزيز بن ابى سلمه، حماد بن سلمه، مالك بن انس، ليث بن سعد، قاضى شريك، سليمان بن بلال او هشيم رحمهم الله وغيره نه روايت كوى.

د هغوى نه په روايت كونكو كښې امام احمد، محمد بن عبدالرحيم صاعقه، ابوبكر بن الصاغانى، عباس دورى، ابواميه طرسوى او احمد بى ابى خيثمه رحمهم الله نه علاوه نور هم ډير حضرات دى. (۳) امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى : ﴿ابوسلمة الخزاعي من متثبتي بغداد﴾(٤)

يعنى ابو سلمه الخزاعى رحمه الله د بغداد په مضبوطو خلقو كښې دې.

امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى : ﴿ثقة﴾(۵)

امام دار قطنى رحمه الله فرمائى : ﴿احد الثقات الحفاظ الرفعاء الذين كانوا يسئلون عن الرجال، ويؤخذ بقوله فيهم، اخذ عنه احمد بن حنبل ويحيى بن معين وغيرهما علم ذلك﴾(۶)

يعنى هغه د اوچتې درجې ثقه او حفاظو نه دې، د چا نه به چه د راويانو په باره كښې تپوس كيدلې شو او د راويانو په باره كښې د هغوى قول معتبر منلې شى، امام احمد بن حنبل او امام يحيى بن معين رحمهم الله دا فن د هغوى نه حاصل كړې وو.

امام ابن سعد رحمه الله فرمائى : ﴿وكان ثقة﴾(۷)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى : ﴿الحافظ الناقد الحجة﴾(۸)

هم دغه شان هغه فرمائى : ﴿وكان من ائمة هذا الشان، بصيرا بالرجال والعلل﴾(۹)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى : ﴿ثقة، ثبت، حافظ﴾(۱۰)

---

۱) تهذيب الكمال ج ۲۶ ص ۸

۲) تهذيب الكمال ج ۲۸ ص ۵۳۰

۳) د شيوخ او تلامذه د پاره اوګورئ : تهذيب الكمال ج ۲۸ ص ۵۳۰، ۵۳۱

٤) الجرح والتعديل لابن ابى حاتم ج ۸ ص ۲۰۰، رقم ۱٤۰۷۰/۸۶۳

۵) تاريخ بغداد ج ۱۳ ص ۷۱، رقم ۷۰۵۱

۶) تاريخ بغداد ج ۱۳ ص ۷۲، رقم ۷۰۵۱

۷) الطبقات لابن سعد ج ۷ ص ۳٤۵

۸) سير اعلام النبلاء ج ۹ ص ۵۶۰

۹) سير اعلام النبلاء ج ۹ ص ۵۶۱

۱۰) تقريب التهذيب ص ۵۷۶، رقم ۶۹۰۱

امام ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې. (۱)

د صحیح قول مطابق په ۲۱۰ هجری کښې هغه وفات شوې دې. (۲) رحمه الله تعالی رحمة واسعة.

③ **ابن بلال (سلیمان بن بلال)** : دا سیلمان بن بلال تیمی قرشی رحمه الله دې. د هغوی حالات په کتاب العلم کښې د باب طرح الامام المسالة علی صاحبه لیختبر ما عندهم من العلم ... د لاندې تیر شوې دی. (۳)

④ **زید بن اسلم** : دا زید بن اسلم قرشی عدوی مدنی رحمه الله دې. د هغوی حالات په کتاب الایمان باب کفران العشیر و کفر دون کفر د لاندې تیر شوې دی. (٤)

⑤ **عطاء بن یسار** : دا ابو محمد عطاء بن یسار هلالی مدنی رحمه الله دې، د هغوی حالات هم په کتاب الایمان، باب کفران العشیر و کفر دون کفر د لاندې تیر شوې دی. (۵)

⑥ **ابن عباس رضی الله عنهما** : دا ترجمان القران سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دې، د هغوی حالات په بدء الوحی کښې د څلورم حدیث د لاندې او په کتاب الایمان کښې د باب کفران العشیر و کفر دون کفر د لاندې تیر شوې دی. (۶)

قوله: أَنَّهُ تَوَضَّأَ فَغَسَلَ وَجْهَهُ أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ فَمَضْمَضَ بِهَا وَاسْتَنْشَقَ : سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما اودس کولو. سره مخ مبارك وینځلو ، یوه لپه اوبه ئې واخستلې، په هغې سره ئې خولهٔ کنګال کړه او په پوزه کښې ئې اوبه واچولې.

وړاندې د مضمضه په باره کښې مستقل باب راروان دې، په هغې باندې به کلام انشاء الله هم هلته کیږی.

قوله: ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ فَجَعَلَ بِهَا هَكَذَا أَضَافَهَا إِلَى يَدِهِ الْأُخْرَى فَغَسَلَ بِهَا وَجْهَهُ: بیا ئې د اوبو یوه لپه واخستله او هغه ئې داسې کړه، هغې سره ئې بل لاس یو ځائې کړو او په دواړو لاسونو سره ئې خپل مخ وینځلو.

دا مقصود بالترجمه دې، یعنی په یو لاس سره ئې اوبه واخستلې او دویم لاس ئې د هغې سره یو ځائې کړو او مخ ئې وینځلو.

قوله: ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ فَغَسَلَ بِهَا يَدَهُ الْيُمْنَى ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ فَغَسَلَ بِهَا يَدَهُ الْيُسْرَى: بیا ئې یو لپه اوبه واخستلې په هغې سره ئې خپل ښې لاس وینځلو، بیا

۱) الثقات لابن حبان ج ۹ ص ۱۷۲
۲) تقریب التهذیب ص ۵۷۶، رقم ۶۹۰۱
۳) کشف الباری ج ۳ ص ۱۳۷
٤) کشف الباری ج ۲ ص ۲۰۳
۵) کشف الباری ج ۲ ص ۲۰٤
٦) کشف الباری ج ۱ ص ٤۳۵، و ج ۲ ص ۲۰۵

ئې يوه لپه اوبه واخستلې او په هغې سره ئې ګس لاس وينځلو.

قوله: ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ: بيا ئې په خپل سر باندې مسح اوکړه.

د دې نه بعض علماء کرامو په دې خبره استدلا ل کړې دې چه د سر د مسح دپاره په لاس کښې چه کومه ترى ده هم هغه کافي ده، د مستقل اوبو اخستلو ضرورت نشته، ځکه چه په هغې کښې د نوې اوبو اخستلو ضرورت نشته.

خو په دې روايت سره په دې باندې استدلال بعيد دې ځکه چه هم دا روايت په سنن ابى داؤد کښې راغلې دې، په هغې کښې د ماء جديد د اخستلو ذکر دې: ﴿ثُمَّ قَبَضَ قَبْضَةً مِنَ الْمَاءِ، ثُمَّ نَفَضَ يَدَهُ، ثُمَّ مَسَحَ بِهَا رَأْسَهُ وَأُذُنَيْهِ﴾(١) يعنى اوبه ئې واخستلې په لاس ئې اوشيندلې او بيا ئې په هغې سره د سر او غوږونو مسح اوکړه.

د دې نه معلومه شوه چه ابن عباس رضي الله عنهما د سر د مسح دپاره مستقل اوبه اخستلې وې.

ايا د سر د مسح دپاره نوې اوبه اخستل ضرورى دى؟: خو دا مسئله مختلف فيه ده چه د سر د مسح دپاره نوې اوبه اخستل ضرورى دى يا نه دى؟

مالکيان، شوافع او حنابله رحمهم الله وائى چه د سر د مسح دپاره د نوې اوبو اخستل ضرورى دى، د لاس په تر والى سره به مسح نه کيږى. (٢)

او احناف فرمائى چه د ماء جديد اخستل مستحب دى ضرورى نه دى، پس که د لاسونو په لوندوالى سره ئې مسح اوکړه نو مسح به اوشى. (٣)

جمهور علماء کرام فرمائى چه په مسلم شريف کښې د عبدالله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه په روايت کښې راغلې دى ﴿ومسح براسه بماء غير فضل يده﴾(٤) يعنى رسول الله ﷺ د خپل سر مسح د لاس نه بچ شوې اوبو لره پريخودلو سره په نورو باندې اوکړه.

---

١) سنن ابى داؤد، کتاب الطهارة، باب الوضوء مرتين رقم ١٣٧

٢) قال الشافعي رحمه الله تعالى : ويأخذ لکل عضو منه ماء غير الماء الذى اخذ للاخر، ولو مسح راسه بفضل بلل وضوء يديه او مسح راسه ببلل لحيته لم يجزئه، ولا يجزئه الا ماء جديد. کتاب الام ج ٢ ص ١٠١، کتاب الطهارة، باب النية فى الوضوء. وقال ابن قدامة :ولان البلل الباقى فى يده مستعمل، فلا يجزئ المسح به، المغنى ج ١ ص ٨٩ وقال فى مواهب الجليل : وسئل مالک عن مسح راسه بفضل ذراعيه قال : لا احب ذلک ... قال ابن رشد : اما مسح راسه بفضل ذراعيه فلا يجوز. وليس فى قول مالک لا احب ذلک دليل على الاجزاء، لانه يقول : لا احب فما لا يجوز عنه بوجه، لان العلماء يکرهون ان يقولوا! هذا حلال وهذا حرام، فيما طريقه الاجتهاد، ويکتفون بقولهم : اکرهه، ولا احبه، ولا باس به وما اشبه هذه الالفاظ، فيکتفى بذلک عن قولهم .. (ج ١ ص ٣٣٠) کتاب الطهارة، فصل فى فرائض الوضوء.

٣) قال فى الدر المختار مع تنوير الابصار فى سياق المکروهات الوضوء، وتثليث المسح بماء جديد، اما بماء واحد فمندوب او مسنون ... ج ١ ص ٩٨. وقال الحلبى فى شرح المنية : ولو توضاء ومسح ببلة بقيت على کفيه بعد الغسل يجوز مسحه. ص ١١٠.

٤) صحيح مسلم ، کتاب الطهارة، باب آخر فى صفة الوضوء، رقم (٥٥٩).

احناف فرمائی چه هم دا حدیث : ﴿ ابن لهيعة عن حبان بن واسع عن ابيه عن عبدالله بن زيد ﴾ په طريق سره نقل دې په هغې كښې دی!

﴿ ان النبى صلى الله عليه وسلم توضاء، وانه مسح راسه بماءغير فضل يديه ﴾(۱)

يعنى رسول الله ﷺ اودس اوكړو او په باقى اوبو كومې چه د لاسونو د تر والى په صورت كښې وې په هغې باندې ئې د سر مسح اوكړه.

اولنې روايت كوم چه د عمرو بن الحارث عن حبان په طريق سره روايت شوې دې هغه سندا زيات قوى دې، هم دغه شان په دې وجه باندې هم هغې كښې قوت زيات دې چه د عبدالله بن زيد رضي الله عنه په روايت كښې هم د رسول الله ﷺ د سر د مسح دپاره د نوې اوبو اخستلو صراحت دې. (۲)

دويم روايت چه د كوم نه احناف استدلال كوى اګر چه د عمرو بن الحارث والا روايت په مقابله كښې ضعيف دې، خو د هغې شواهد موجود دى.

پس په سنن ابى داؤد كښې ﴿ عن ابن عقيل عن الربيع ﴾ په طريق سره مروى دې، ﴿ ان النبى ﷺ مسح براسه من فضل ماء كان فى يده ﴾(۳)

هم دغه شان په دارقطنى كښې هم دې طريق سره روايت راغلې دې، چه د هغې الفاظ داسې دى ﴿ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم تَوَضَّأَ وَمَسَحَ رَأْسَهُ بِبَلَلِ يَدَيْهِ ﴾ (٤)

يعنى رسول الله ﷺ اودس اوكړو او د دواړو لاسونو په لوندوالى سره ئې د سر مسح اوكړه.

د امام دارقطنى رحمه الله د يو بل روايت الفاظ داسې دى ﴿ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَأْتِينَا فَيَتَوَضَّأُ فَيَمْسَحُ رَأْسَهُ بِمَا فَضَلَ فِي يَدَيْهِ مِنَ الْمَاءِ ﴾(۵)

يعنى رسول الله ﷺ به مونږ ته تشريف راوړلو، پس اودس به ئې كولو، د رسول الله ﷺ په لاس مبارك كښې چه به كومې اوبه بچ كيدلې په هغې باندې به ئې مسح كوله.

په دې رواياتو كښې عبدالله بن محمد بن عقيل راوى دې، هغه ډيرو محدثينو حضراتو ضعيف كړې دې (۶) خو امام ترمذى، امام بخارى، امام احمد ، امام اسحاق بن راهويه او

---

۱) انظر : جامع الترمذى، ابواب الطهارة، باب ما جاء انه ياخذ لراسه ماء جديدا، تحت رقم ۳۵

۲) اوګورئ: جامع الترمذى ... پورته حواله

۳) السنن لابى داؤد، كتاب الطهارة، باب صفة وضوء النبى ﷺ رقم ۱۳۰

٤) سنن الدارقطنى ج ۱ ص ۸۷، كتاب الطهارة، باب المسح بفضل اليدين رقم ۱

۵) سنن الدارقطنى ج ۱ ص ۸۷، كتاب الطهارة، باب المسح بفضل اليدين رقم ۲، وجامع الترمذى، ابواب الطهارة، باب ما جاء ان مفتاح اصلاة الطهور.

۶) اوګورئ : تحرير تقريب التهذيب ج ۲ ص ۲۶٤، رقم ۳۵۹۲، والسنن الكبرى للبيهقى ج ۱ ص ۲۳۷، كتاب الطهارة، باب الدليل على انه ياخذ لكل عضو ماء جديدا، ولا يتطهر بالماء المستعمل.

امام حميدى رحمه الله به د هغوى نه احتجاج كولو. (۱)
څونكه د صحيح مسلم د عبدالله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه د حديث او د احنافو د مستدل حديث ترمينځه څه منافات نشته په دې وجه احنافو د دواړو احاديثو ترمينځه تطبيق كولو سره دواړه احاديث معمول به كړې دى چه د سر د مسح دپاره نوې اوبه اخستل مستحب دى او د لاسونو په لوندوالى سره مسح كول جائز دى. (۲)
او د جمهورو مستدل د هغوى په مذهب باندې صراحةً دلالت نه كوى! پس امام نووى رحمه الله فرمائى چه د دې حديث مفهوم بس صرف دومره دې چه رسول الله ﷺ د سر د مسح دپاره نوې اوبه واخستلې، د لاسونو په لوندوالى ئې اكتفاء اونكړه، د دې نه په دې خبره باندې استدلال نه شى كيدې چه د ماء مستعمل نه طهارت نه شى حاصليدې، ځكه چه په دې حديث كښې صرف دومره ذكر دى چه رسول الله ﷺ نوې اوبه استعمال كړې، د دې نه دا نه لازميږى چه نوې اوبه اخستل شرط هم وى. (۳)
هم دغه شان كه د جمهورو مذهب اختيار كړې شى نو يو حديث بالكليه پاتې كيږى، او د احنافو په نزد دواړه احاديثو باندې عمل راځى. امام بيهقى رحمه الله د احنافو په مستدل روايت كښې د تاويل كولو كوشش كړې دې چه رسول الله ﷺ د مسح دپاره اوبه باقاعده اخستلې وې، د هغې نه پس ئې څه حصه تونې كړې او په باقى اوبو ئې مسح اوكړه. (٤)
خو اول خو دا تاويل غير متبادر دې، د نورو توجيهاتو ضرورت خو هغه وخت وو چه كله دا ثابت شوې وې چه د سر دپاره نورې اوبه اخستل ضرورى او شرط دى، په دې سلسله كښې د احاديث صحيحه نه استدلا ل شوې وې، خو داسې څه دليل موجود نه دې، كوم چه په شرطيت باندې دلالت كوى او چه كوم حديث موجود دې د هغې په باره كښې د شوافعو وكيل امام نووى رحمه الله فرمائى چه هغه د شرطيت دليل نه شى جوړيدې، نو بيا د دويم مخالف روايت داسې خلاف ظاهر توجيه كولو څه ضرورت دې؟ والله اعلم

قوله: ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً مِنْ مَاءٍ فَرَشَّ عَلَى رِجْلِهِ الْيُمْنَى حَتَّى غَسَلَهَا: بيا ابن عباس رضي الله عنهما د اوبو يوه لپه واخستله او هغه ئې په ښئ خپه باندې چهركاؤ كړه، تردې چه هغه ئې وينځله.

---

۱) قال الترمذي : وعبد الله بن محمد بن عقيل هو صدوق و قد تكلم فيه بعض أهل العلم من قبل حفظه. قال أبو عيسى: و سمعت محمد بن اسماعيل يقول كان أحمد بن حنبل و اسحق بن ابراهيم و الحميدى يحتجون بحديث عبد الله بن محمد بن عقيل ... جامع الترمذي، ابواب الطهارة، باب ما جاء ان مفتاح الصلاة الطهور. رقم ۳

۲) اوګورئ: اعلاء السنن ج ۱ ص ۶۰. كتاب الطهارة، باب كفاية البلة من فضل غسل اليدين فى مسح الراس، واستحباب الماء الجديد

۳) اوګورئ: شرح النووى على صحيح مسلم ج ۳ ص ۱۱۹، كتاب الطهارة، باب فى وضوء النبى ﷺ

٤) قال البيهقي : وكانه اراد اخذ ماء جديدا فصب بعضه ومسح راسه ببلل يديه ... السنن الكبرى للبيهقى ج ۱ ص ۲۳۷، كتاب الطهارة، باب الدليل على انه يأخذ لكل عضو ماء جديدا، ولا يتطهر بالماء المستعمل.

گويا هغه په خپله خپه باندې دومره ترمكيا اوكړه چه د خپې وينځل بيا موندلې شو. په دې كښې ظاهرا اشكال دې چه د ﴿ رش ﴾ معنى د چهړكاؤ كولو او د ترمكيا كولو راځى او د ﴿غسل﴾ معنى د وينځلو ده، چه د هغې دپاره د ﴿ اسالة الماء ﴾ موندلې كيدل ضرورى دى، نو ﴿ غسل ﴾ لره د ﴿ رش ﴾ غايت څنګه منلې كيدې شى؟

د دې يو جواب خو دا وركړې كيدې شى چه په ﴿ رش ﴾ د قطرات صغار كيدل ضرورى نه دى، په دې كښې قطرات كبار هم كيدې شى، كه د اوبو څاڅكى غټ وى او په هغې سره ترمكيا اوكړې شى نو په هغې باندې اطلاق خو به د ﴿ رش ﴾ كيږى خو د ﴿ غسل ﴾ حاصليدل څه بعيد نه دى.

داسې هم وئيلې ګيدې شى چه دلته مجازا قطرات سائله ته ﴿ رش ﴾ وئيلې شوې وى.
هم دغه شان دا هم وئيلې كيدې شى چه د تكرار رش د وجې نه غسل حاصل شوې وى، كه يو كرت د اوبو څاڅكى اوكړې شى نو پوره به نه تر كيږى، خو كه بار بار پرې ترمكيا كوى نو پوره به تر شى او په دې سره به اسالة الماء هم حاصل شى. (١)

د ابوداؤد د روايت توجيه : دلته د ابوداؤد په روايت كښې دى چه ﴿ فرش على رجله اليمنى وفيها النعل، ثم مسحها بيديه : يد فوق القدم ويد تحت النعل ﴾ (٢)
يعنى ابن عباس رضي الله عنهما په خپله ښئ خپه باندې ترمكيا اوكړه، په هغې كښې نعل وو، بيا ئې هغه په خپلو دواړو لاسونو سره مسح كړه، يو لاس ئې د خپو دپاسه وو او يو لاس ئې د نعل د لاندې.

د دې روايت نه معلوميږى چه سيدنا ابن عباس رضي الله عنهما په خپو باندې ترمكيا اوكړه، په دې موقع باندې ئې يو لاس د خپې دپاسه وو او دويم د نعل د لاندې، چه د هغې نه معلوميږى چه د پوره خپې وينځل نه دى موندلې شوې.
بعض حضراتو دا په مسح على الخف باندې محمول كړې دې. (٣) خو دا تاويل صحيح نه دې څكه چه دلته د بخارى په روايت الباب او هم دغه شان د نسائى او د بيهقى په روايتونو كښې د غسل تصريح موجود ده. (٤)

---

١) قال الحافظ رحمه الله قوله : فرش : اى سكب الماء قليلا قليلا الى ان صدق عليه مسمى الغسل، قوله : حتى غسلها : صريح فى انه لم يكتف بالرش. فتح البارى ج ١ ص ٢٤١
٢) سنن ابى داؤد، كتاب الطهارة، باب فى الوضوء مرتين رقم ١٣٧
٣) قاله صاحب مرقاة الصعود ج ١ ص ١١٧ : كتاب الطهارة، باب الوضوء مرتين مرتين، ت : محمد شايب شريف و ج ١ ص ٢١٥ ت : محمد اسحاق. انظر بذل المجهود ج ١ ص ٦٠٥، كتاب الطهارة، باب فى الوضوء مرتين.
٤) اوګورئ : سنن النسائى، كتاب الطهارة، باب مسح الاذنين رقم ١٠١، وباب مسح الاذنين مع الراس ... رقم ١٠٢، والسنن الكبرى للبيهقى ج ١ ص ٥٣، كتاب الطهارة، باب غسل الوجه رقم ٢٤٣

لهذا بغیر د څه دلیل او قرینې نه په مسح باندې د، محمول کولو هیڅ جواز نشته. (۱)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دلته ﴿تحت النعل﴾ وئیلو سره مجازا ﴿تحت القدم﴾ مراد کړې شوې دې، ګینې که دا تاویل اونکړې شی نو دا روایت به شاذ منلو سره رد کولې شی، ځکه چه په دې کښې هشام بن سعد دې کوم چه د اکثر علماء کرامو په نزد ضعیف دې. (۲)
د هغه د تفرداتو نه هم استدلال نه شی کیدې پاتې لا دا چه د ثقه راویانو مخالفت اوکړی. (فتح الباری ج ۱ ص ۲۴۱)

مولانا خلیل احمد سهارنپوری رحمه الله فرمائی چه په قدم دپاسه چه کوم لاس دې په هغې باندې اصل کښې خپه وینځلې شی او د هغې په ذریعه پوره خپه مړلې شی چه پوره خپې ته اوبه اورسیږی، ګینې ظاهره ده چه په یوه لپه اوبو سره د پوره خپې استیعاب ممکن نه دې، هر چه د دویمې خپې تعلق دې کوم چه د نعل نه لاندې بیان کړې شوې دې، د هغې په غسل قدم کښې هیڅ دخل نشته، خو هغه د دې قدم د اوچتولو او اړانړه ورکولو دپاره استعمالیدو، چه په هغې سره راوی دا خیال اوکړو چه په دې سره د قدم مسح کیدله. (۳)

قوله: <u>ثُمَّ أَخَذَ غَرْفَةً أُخْرَى فَغَسَلَ بِهَا رِجْلَهُ يَعْنِي الْيُسْرَى ثُمَّ قَالَ هَكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّأُ</u>: بیا ابن عباس رضی الله عنهما په یوه لپه کښې اوبه واخستلې، او په هغې سره ئې خپله خپه یعنی ګسه خپه وینځله، بیا ئې اوفرمائیل: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم هم دغه شان په اودس کولو باندې لیدلې دې.

★★★★★★

⑧ بَابُ التَّسْمِيَةِ عَلَى كُلِّ حَالٍ وَعِنْدَ الْوِقَاعِ

په هر حال کښې او د جماع په وخت ﴿بسم الله﴾ لوستل: په دې ترجمة الباب کښې د ﴿وقاع﴾ ذکر د ﴿علی کل حال﴾ نه پس د ذکر الخاص بعد العام د قبیل نه دې، چونکه په حدیث پاک کښې د تسمیه عند الوقاع ذکر وو او مصنف سره داسې روایت نه وو چه د هغې نه ئې خپله مدعا اخذ کړې وې نو د دې روایت نه ئې ترجمه اخذ کړه چه کله د وقاع (کوم ابعد الاحوال عن الذکر دې) په وخت ذکر مندوب دې نو په باقی احوال کښې به تسمیه په طریقه اولی مندوب وی. (٤)

د مخکښې باب سره مناسبت: په ظاهره کښې دا باب دلته بې ربط دې، نه ئې د تیر باب سره مناسبت شته او نه د وړاندې باب سره، ماقبل سره د بې ربطه کیدو وجه دا ده چه تسمیه د

---

۱) بذل المجهود ج ۱ ص ۶۰۵
۲) انظر تحریر تقریب التهذیب ج ٤ ص ۳۹، رقم ۷۲۹٤
۳) بذل المجهود ج ۱ ص ۶۰۵
٤) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲٤۲، عمدة القاری ج ۲ ص ۲۶۶، وشرح تراجم ابواب البخاری للشاه ولی الله رحمه ص ۱۶، والکنز المتواری ج ۳ ص ۱۹

غسل وجه نه مقدم وي، لهذا دا اول راوړل پكار وو او د مابعد سره ئې د عدم مناسبت وجه دا ده چه وړاندې باب مايقول عند الخلاء نه د خلاء او استنجاء ابواب شروع كيږي، او د تسميه تعلق د اودس سره دې د خلا او استنجاء سره نه.

علامه كرمانى رحمه الله خو بس مختصر شان خبره كړې ده چه امام بخارى رحمه الله د ترتيب څه اهتمام او التزام نه دې كړې، ځكه چه د هغوى اصل مقصود احاديث صحيحه لره راجمع كول دى. (۱)

خو د علامه كرمانى رحمه الله دا خبره په فهم كښې نه راځى ځكه چه د وضع تراجم ابواب په سلسله كښې د امام بخارى رحمه الله زور نظر او په دې ابواب او كتابونو كښې ترتيب او مناسبت معروف او مشهور څيز دې، تردې چه ﴿ فقه البخارى فى تراجمه ﴾ مشهور شو، بيا د هغوى په كتابونو او بابونو كښې د بې ربطه كيدو اعتراض څنګه كيدې شى؟

علامه عينى رحمه الله په بعض مقاماتو كښې دا رائې ظاهر فرمائيلې ده چه د ټولو بابونو مجموعى طور د اودس سره تعلق دې، لهذا دومره مناسبت كافى دې. (۲)

او په بعض مقاماتو كښې هغوى داسې جواب كړې دې چه امام بخارى رحمه الله كتاب الوضوء شروع كولو سره شپږ ابواب "ماجاء فى الوضوء"، "لا تقبل صلاة بغير طهور"، "فضل الوضوء"، "لايتوضاء من الشك حتى يستيقن"، "التخفيف فى الوضوء" او "اسباغ الوضوء" تراجم قائم كړې دى، په دې كښې په يو كښې هم د اودس صفت او كيفيت نه دې ذكر شوې، د هغې نه پس ئې اووم باب "غسل الوجه باليدين من غرفة واحدة" قائم كړې دې، چه په هغې كښې د اودس كيفيت ذكر دې، او حال دا چه دا باب د ابواب الاستنجاء نه روستو ذكر كول پكار وو، خو هغوى دا باب دلته استطرادا او ضمنا قائم كړې دې. (۳)

حافظ ابن حجر رحمه الله د دې ابواب ترمينځه مناسبت ډير په تفصيل سره ذكر كړې دې چه د هغې خلاصه دا ده!

امام بخارى رحمه الله اول خو دا بيان كړه چه اودس فرض دې، بيا ئې دا بيان كړه چه شرط دې، بيا ئې د هغې فضيلت ذكر كړو، بيا ئې دا بيان كړه چه صرف په شك سره اودس نه واجب كيږي، بيا ئې دا بيان كړه چه په اودس كښې واجب درجه دا ده چه د اودس اندامونه تر كړې شى او كوم چه د دې نه زيات او په اسباغ كښې داخل دې هغه د فضيلت د باب نه دې او هم په دې كښې ﴿ غسل الوجه من غرفة واحدة ﴾ هم داخل دې، د هغې نه روستو ئې د تسميه ذكر اوفرمائيلو، اصل كښې په تسميه او غسل وجه كښې اقتران مطلوب دې چه د غسل وجه

---

۱) شرح الكرمانى ج ۲ ص ۱۸۳

۲) قال العينى رحمه الله : على ان المناسبة العامة موجودة بين الابواب كلها، لكونها من واد واحد، عمدة القارى ج ۲ ص ۲۶۲، باب غسل الوجه باليدين من غرفة واحدة.

۳) عمدة القارى ج ۲ ص ۲۶۶

شروع دې د تسميه نه بيا موندلې شي، په ذکر کښې د تسميه مقدم کيدو او د غسل وجه د موخر کيدو څه اثر نه پريوځی، بس متوضی چه کله هم اودس کوی هغه لره د مخ د وينځلو سره بسم الله وئيل پکار دی. دغه شان د ماقبل سره مناسبت ښکاره شو.

او د مابعد سره ئې مناسبت دا دې چه څنګه تسميه عند الوضوء مشروع ده، هم دغه شان تسميه عند الخلاء هم مشروع ده، د هغې نه روستو ئې وړاندې ابواب الخلاء منعقد کړل.(١)

حافظ ابن حجر رحمه الله مناسبت خو بيان کړو خو په دې کښې څو اشکالات دی.

اول خو دا چه هغوی چه د تير باب سره کوم جوړ بيان کړې دې په هغې کښې اشکال دا دې چه په تقديم او تاخير کښې چه هر کله څه باك نشته نو امام بخاری رحمه الله له پکار وو چه تسميه ئې په شروع کښې ذکر کړې وې.

دويمه خبره دا چه حافظ رحمه الله فرمائی چه د تسميه د غسل وجه سره اقتران مطلوب دی، دا هم قابل تسليم خبره نه ده، ځکه چه متوضی چه کله د اودس دپاره کينی نو هغه د ټولو نه اول خپل لاس نه وينځی، بلکه اول لاس وينځی، بيا خوله کنګالوی او بيا پوزه کښې اوبه اچوی اوبيا مخ وينځی اودتسميه اقتران د شروع سره کيدل پکار دی، نه د مخ وينځلو سره.

هم دغه شان هغوی چه د راروانو بابونو سره کوم مناسبت ذکر کړې دې په هغې کښې اشکال دا دې چه ستاسو تقرير به هغه وخت چليدو چه کله امام بخاری رحمه الله د تسميه علی الوضوء ذکر، عند الخلاء نه استدلال کولو سره ثابتولې، حال دا چه هغوی تسمية علی الوضوء د ذکر عند الجماع نه ثابت کړې ده، لکه چه مونږ بالکل په شروع کښې ذکر کړې دی.

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائی چه دا ټول اشکال هغه وخت راځی چه کله د تسميه نه مراد تسميه علی الوضوء وی، د امام بخاری رحمه الله مقصد تسميه علی الاستنجاء بيانول دی او د غسل الوجه باليدين ترجمه مصنف رحمه الله د باب اسباغ الوضوء د تکملې په طور ذکر کړې ده، ځکه چه په دواړو لاسونو سره ښه طريقه باندې اسباغ راځی، لهذا په طور د تکمله ئې غسل الوجه باليدين راوړلو سره دې خبرې طرف ته اشاره اوکړه چه په کومو اندامونو کښې دواړه لاسونه استعماليدې شی لکه لاس هلته دواړه استعمالول پکار دی، ځکه چه په دې کښې اسباغ اسانه ده.

بيا د مصنف رحمه الله چونکه عادت دا دې چه کله مسئله يو کرت راشی نو بيا دوباره تکرار نه کوی، نو په دې وجه چه هر کله د غسل وجه بيان اوشو نو وړاندې تلو سره چه کله ئې د اودس ابواب قائم کړل نو هلته ئې دا مسئله دوباره ذکر نه کړه، چه تکرار لازم نه شی.

حضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله په دې ترجمة الباب سره د سيدنا علی رضي الله عنه روايت مرفوعه "ستر ما بين اعين الجن وعورات بنی ادم اذا دخل احدهم الخلاء ان يقول بسم الله" (٢)

---

١) فتح الباری ج ١ ص ٢٤٣

٢) جامع الترمذی، کتاب الجمعة، باب ما ذکر من التسمية عند الخلاء، رقم ٦٠٦، وانظر سنن ابن ماجة، کتاب الطهارة، باب ما يقول الرجل اذا دخل الخلاء، رقم ٢٩٧.

طرف ته اشاره کړې ده او د هغې تقويت ئې فرمائيلې دې. (۱)
حضرت شيخ الحديث رحمه الله چه د ترجمې کوم غرض بيان کړې دې په دې باندې د بې ربطه کيدو او عدم مناسبت اشکال بالکل رفع کيږى خو يوه خبره بيا هم ذهن ته راځى او هغه دا چه تسميه عند دخول الخلاء بالاتفاق مستحب ده، او د دې په مقابله کښې تسميه د اودس په وخت کښې اهم هم ده او مختلف فيه هم. بله دا چه د محل سياق او د مسئلې اهميت خو دا غواړى چه دلته تسميه على الوضوء مراد وى، ځکه چه د بخارى ټولو شارحينو دلته تسميه على الوضوء مراد کړې ده، خپله امام بخارى رحمه الله وړاندې د تسميه على الوضوء مستقبل هيڅ باب هم نه دې تړلې.

خو وئيلې کيدې شى چه امام بخارى رحمه الله د غسل وجه باليدين ترجمه خو د تکميل اسباغ دپاره ذکر کړې وى او دا تسميه په حقيقت کښې تسميه على الوضوء ده کومه چه دغسل وجه نه مخکښې کيدل پکار وو، خو د اسباغ د مناسبت د وجې نه ئې د غسل وجه باليدين ترجمه مخکښې راوړه، د هغې نه روستو ئې د تسميه عند الخلاء باب راوړلو، هم د دې نه تسمية على الوضوء هم ثابته شوه، چونکه يو کرت دا مسئله دلته راغلې وه، په دې وجه ئې وړاندې مکرر ذکر نه کړه، ګويا تسميه کومه چه د غسل وجه نه مخکښې ده، د هغې د شهرت په وجه باندې ئې په هغې باندې اکتفاء اوکړه او په مؤخر ذکر کولو کښې ئې هيڅ اشکال پيښ نه شو. والله اعلم

د ترجمة الباب مقصد : د دې تقرير په ضمن کښې د ترجمة الباب مقصد هم څه حده پورې واضح شو.

حاصل ئې دا دې چه عام طور سره شارحينو د دې باب مقصد تسميه عند الوضوء بيان کړې دې، پس امام شاه ولى الله رحمه الله فرمائى چه چونکه د تسمية على الوضوء والا روايت د مؤلف رحمه الله د شرط مطابق نه دې، په دې وجه د تسميه على الوضوء سنت کيدل ئې د حديث الباب نه ثابت کړل، ځکه چه ﴿ وقاع ﴾ ابعد الاحوال عن ذکر الله... دې چه کله په هغې کښې تسميه مستحب ده نو په اودس کښې به په طريق اولى مستحب وى. (۲)

او حضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائى چه د دې باب مقصد تسميه عند الخلاء ده، هم په دې وجه ئې د دې نه روستو ابواب الخلاء ذکر کړې دى. (۳) والله سبحانه وتعالى اعلم

د تسميه على الوضوء حکم : د اودس په شروع کښې د بسم الله وئيلو څه حکم دې؟ په دې کښې د فقهاء کرامو اختلاف دې!

اهل ظواهر، امام اسحاق بن راهويه او د روايت مطابق امام احمد رحمه الله د تسميه د وجوب او فرضيت قائل دى.

---

۱) الکنز المتوارى ج ۳ ص ۱۶ تا ۲۰
۲) اوګورئ رساله : شرح تراجم أبواب البخارى : ص: ۱۶.
۳) الکنز المتوارى ج ۳ ص ۱۹

او د احناف، مالکیانو، شوافع او د امام احمد رحمهم الله ظاهر مذهب دا دې چه تسمیه سنت ده یا مستحب ده. (۱)
صاحب هدایه فرمائی چه اصح دا ده چه تسمیه علی الوضوء مستحب ده. (۲) او ابن الهمام رحمه الله د وجوب قائل دې. (۳)
د قائلین فرضیت دلائل او د هغې تجزیه: قائلین فرضیت د ډیرو احادیثو نه استدلال کوی!
① پس په سنن ابی داؤد وغیره کښې د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه مرفوع روایت دې: **﴿لاصلاة لمن لا وضوء له، ولا وضوء لمن لم یذکر اسم الله تعالیٰ علیه﴾** (٤)
دا روایت د "**یعقوب بن سلمة عن ابیه عن ابی هریرة**" په طریق سره روایت شوې دې. (۵)
امام حاکم رحمه الله یعقوب بن سلمه لره یعقوب بن ابی سلمه الماجشون گنړلې دې، پس هغه فرمائی: **﴿وقد احتج مسلم بیعقوب بن ابی سلمة الماجشون، واسم ابی سلمة، دینار﴾** (۶)
یعنی امام مسلم رحمه الله د یعقوب بن ابی سلمه الماجشون احادیث په طور د احتجاج او استدلال نقل کړې دی او د ابو سلمه نوم دینار دې.
خو حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی: **﴿صوابه حدثنا یعقوب بن سلمة اللیثی عن ابیه عن ابی هریرة ... واسناده فیه لین﴾** (۷)
یعنی دا یعقوب بن ابی سلمه الماجشون نه دې، بلکه یعقوب بن سلمه لیثی دې، هغه د خپل پلار نه او د هغه پلار د ابوهریره رضی الله عنه نه نقل کوی، په دې سند کښې ضعف دې.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: **﴿ادعی انه الماجشون، وصححه لذلك، والصواب انه اللیثی﴾** (۸) یعنی امام حاکم رحمه الله دا دعوی کړې ده چه دا ماجشون دې، هم په دې وجه باندې هغوی حدیث ته صحیح وئیلې دې او صحیح دا ده چه هغه لیثی دې.

---

۱) اوګورئ: حاشیة ابن عابدین ج ۱ ص ۸۹، سنن الوضوء، وحاشیة الدسوقی علی الشرح الکبیر ج ۱ ص ۱۷۱، والمجموع شرح المهذب ج ۱ ص ۳٤۶، والمغنی ج ۱ ص ۷۳، والانصاف ج ۱ ص ۱۲۸، ونیل الاوطار ج ۱ ص ۱۵۰، باب التسمیة علی الوضوء.
۲) اوګورئ: الهدایة مع شرحه فتح القدیر ج ۱ ص ۲۰
۳) فتح القدیر ج ۱ ص ۲۰، ۲۱
٤) سنن ابی داؤد، کتاب الطهارة، باب التسمیة علی الوضوء، رقم ۱۰۱، وسنن ابن ماجة، کتاب الطهارة، باب ما جاء فی التسمیة علی الوضوء، رقم ۳۹۳، ومستدرک الحاکم، ج ۱ ص ۱٤۶، کتاب الطهارة رقم ۷٤/۵۱۹.
۵) اوګورئ پورته حواله جات
۶) المستدرک ج ۱ ص ٤۶.
۷) تلخیص المستدرک ج ۱ ص ۱٤۶
۸) التلخیص الحبیر ج ۱ ص ۱۲۳، کتاب الطهارة، باب سنن الوضوء رقم ۷۰

بيا امام ترمذی رحمه الله د امام بخاری رحمه الله نه نقل کړې دی چه : ﴿ يعقوب بن سلمة مدنى، لا يعرف سماع من ابيه، ولا يعرف لابيه سماع من ابى هريرة ﴾(١)

يعنى يعقوب بن سلمه مدني راوی دي، خو نه خو د هغه د خپل پلار نه سماع معروف ده او نه د هغه د پلار د ابوهريره رضي الله عنه نه سماع معروف ده.

امام دارقطنی رحمه الله دا حديث "ايوب عن يحيى بن ابى كثير، عن ابى سلمة عن ابى هريرة رضي الله عنه" په طريق سره هم نقل کړې دي : ﴿ ماتوضاء من لم يذكر اسم الله عليه، وما صلى من لم يتوضاء ﴾(٢)

يعنى چا چه بسم الله او نه لوستله هغه اودس نه دې کړې او چا چه اودس اونکړو هغه مونځ نه دې کړې.

خو په دې طريق کښې انقطاع ده ځکه چه ايوب وائی چه ما د يحيى بن ابی کثير نه صرف يو حديث اوريدلې دې. (٣)

④ امام ترمذی رحمه الله د سعيد بن زيد رضي الله عنه نه حديث نقل کړې دې : ﴿ سمعت رسول الله ﷺ يقول: لاوضوء لمن لم يذكر اسم الله عليه ﴾(٤)

يعنى د هغه چا اودس نه کيږی چه بسم الله پرې او نه وائی.

امام ترمذی رحمه الله دامام بخاری رحمه الله نه نقل کوی : ﴿ ليس فى هذا الباب حديث احسن عندى من هٰذا ﴾(٥)

يعنى زما په نزد په دې باب کښې د ذکر شوې حديث نه غوره بل يو حديث هم نشته.

امام احمد رحمه الله فرمائی : ﴿ لا اعلم فى هذا الباب حديثا له اسناد جيد ﴾(٦)

يعنى په دې باب کښې ماته داسې حديث نه دې معلوم چه د هغې سند جيد وی.

حافظ زيلعی رحمه الله فرمائی چه امام ابن القطان رحمه الله په خپل کتاب الوهم والايهام کښې فرمائی چه په دې کښې درې مجهول الحال اشخاص دی، يو د رباح راوی نيا، د هغې نه نوم معلوم دې او نه حال. (٧) بله دا چه سوا د دې يو حديث نه چرته هم د هغې تذکره نه راځی.

---

١) علل الترمذی الکبير ص ٣٢، کتاب الطهارة، باب التسمية عند الوضوء، هم دغه شان اوګورئ : مختصر سنن ابى داؤد للمنذری ج ١ ص ٨٨، کتاب الطهارة باب فى التسمية على الوضوء.

٢) سنن الدارقطنی ج ١ ص ٧١، کتاب الطهارة باب التسمية على الوضوء رقم ٢

٣) السنن الکبرى للبيهقى ج ١ ص ٤٤، رقم ١٩٦

٤) جامع الترمذی، کتاب الطهارة، باب ما جاء فى التسمية على الوضوء رقم ٢٥، وسنن ابن ماجة، کتاب الطهارة، باب ما جاء فى التسمية على الوضوء، رقم ٣٩٢.

٥) علل الترمذی الکبير ص ٣١، ٣٢، کتاب الطهارة، باب فى التسمية عند الوضوء رقم ١٦

٦) علل الترمذی الکبير ص ٣٢، کتاب الطهارة، باب التسمية عند الوضوء، رقم ١٧

٧) قال الحافظ كذا قال ابن القطان فاما هى فقد عرف اسمها من رواية الحاكم ... (بقيه برصفحه آئنده

دويم راوی رباح دې، دا هم مجهول الحال دې، دريم ابو ثفال "بكسر الثاء المثلثة وخفة فاء"(١) دې دا هم مجهول الحال دې. (٢)
هم دا خبره ابو حاتم او ابوزرعه رحمهما الله فرمائي، پس امام ابن ابی حاتم رحمه الله چه کله د خپل والد محترم او ابو زرعه نه د دې حديث په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائيل:

﴿ ليس عندنا بذاك الصحيح، ابوثفال ورباح مجهول ﴾(٣)
يعنی زمونږ په نزد دا روايت صحيح نه دې، ځکه چه ابوثفال او رباح مجهول دی.

امام بخاری رحمه الله فرمائی: ﴿ فی حديثه نظر ﴾(٤)

هم دغه شان امام بزار رحمه الله فرمائی: ﴿ ابوثفال مشهور، ورباح وجدته لانعلمهما رويا الا هذا الحديث، ولاحدث عن رباح الا ابوثفال، فالخبر من جهة النقل لايثبت ﴾(٥)
يعنی ابو ثفال خو مشهور دې، خو رباح او دهغه د نيا نه سوا د دې حديث زمونږ د علم مطابق بل يو روايت هم نقل نه دې، هم دغه شان د رباح نه د ابوثفال نه علاوه بل چا روايت نه دې کړې، لهذا دا روايت د نقل د جهت نه ثابت نه دې.
بيا د دې روايت په سند کښې کافی اضطراب دې پس!

① وهيب او بشر بن المفضل وغيره د ﴿ عن عبدالرحمن بن حرملة، عن ابی ثفال المری، عن رباح بن عبدالرحمن، عن جدته، عن ابيها ﴾ په طريق سره روايت کړې دې.

② حفص بن ميسره، ابو معشر او اسحاق بن حازم ﴿ عن عبدالرحمن بن حرملة، عن ابی ثفال عن رباح عن جدته انها سمعت ﴾ په طريق سره نقل کړې دې، په دې طريق کښې د "جدة رباح" د والد واسطه نشته.

③ دراوردی د "ابوثفال عن رباح عن ابن ثوبان" په طريق سره مرسلا نقل کړی دی.

④ صدقه مولی آل الزبير د "ابوثفال عن ابی بکر بن حويطب" (ابوبکر بن حويطب پخپله رباح دې) په طريق سره مرسلا نقل کړې دې.

.....بقيه ازصفحه گذشته) ورواه البيهقی ايضا مصرجا باسمها، (قال البيهقی : جدة رباح هی اسماء بنت سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل، السنن الکبری ج ١ ص ٤٣، واما حالها فقد ذکرت فی الصحابة، وان لم يثبت لها صحبة، فمثلها لا يسئل عن حالها. التلخيص الخبير ج ١ ص ١٢٧.
١) المغنی فی ضبط اسماء الرجال ص ١٤
٢) نصب الراية ج ١ ص ٤ رقم ١٥ : قال البيهقی او ثفال المری يقال اسمه ثمامة بن وائل، وقيل ثمامة بن حصين، السنن الکبری ج ١ ص ١٤٣، کتاب الطهارة، باب التسمية علی الوضوء رقم ١٩٤.
٣) علل الحديث لابن ابی حاتم ج ١ ص ٥١، طبع قديم و ج ١ ص ٢٦٣، طبع جديد. رقم ١٢٩.
٤) التلخيص الحبير ج ١ ص ١٢٧، رقم ٧٠
٥) التلخيص الحبير ج ١ ص ١٢٧

امام دارقطني رحمه الله فرمائي چه په دې کښې صحيح اولنۍ طريق دې. (١)

③ امام ابن ماجه رحمه الله وغيره د ابو سعيد خدرى رضي الله عنه حديث د "كثير بن زيد، عن ربيح بن عبدالرحمن بن ابي سعيد، عن ابيه عن ابي سعيد الخدرى رضي الله عنه" په طريق سره نقل کړې دې : ﴿ ان النبي ﷺ قال: لا وضوء لمن لم يذكر اسم الله عليه ﴾(٢)

يعنى: رسول الله ﷺ اوفرمائيل څوک چه د اودس په وخت د الله پاك نوم وانه اخلى د هغه اودس نه کيږي.

امام احمد رحمه الله فرمائي: ﴿ احسن مايروى فى هذا الحديث كثير بن زيد ﴾(٣)

امام اسحاق بن راهويه رحمه الله فرمائي: ﴿ هو اصح ما فى الباب ﴾(٤)

يعنى په دې باب کښې د ټولو نه زيات صحيح هم دا حديث دې.

حافظ ابن حجر رحمه الله دې حديث ته حسن وئيلې دې. (٥)

او حال دا چه امام ترمذى رحمه الله فرمائي چه امام بخارى رحمه الله ربيح بن عبدالرحمن ته منكر الحديث وئيلې دې. (٦)

امام احمد رحمه الله د هغه په باره کښې فرمائي: ﴿ ليس بمعروف ﴾(٧)

④ امام ابن ماجه او امام حاكم وغيره د سيدنا سهل بن سعد ساعدى رضي الله عنه نه مرفوعا نقل کړې دى چه : ﴿ لا صلاة لمن لا وضوء له، ولا وضوء لمن لم يذكر اسم الله عليه، ولا صلاة لمن لا يصلى على النبى ﷺ، ولا صلاة لمن لا يحب الانصار ﴾(٨) دا روايت د "عبد المهيمن بن عباس بن سهل بن سعد الساعدى عن ابيه عن جده" په طريق سره نقل دې.

خو په دې طريق کښې عبدالمهيمن بن عباس دې، هغه ته امام بخارى رحمه الله منكر الحديث وئيلې دې، امام نسائى رحمه الله فرمائي ﴿ ليس بثقة ﴾ او امام دارقطنى رحمه الله فرمائي: ﴿ ليس بالقوى ﴾(٩)

خو د هغه متابعت د هغه رور ابى بن عباس کړې دې، کوم چه امام طبرانى رحمه الله په

---

١) اوګورئ: العلل الواردة فى الاحاديث للدارقطني ج ٤ ص ٤٣٣ تا ٤٣٥
٢) سنن ابن ماجة، كتاب الطهارة، باب ما جاء فى التسمية على الوضوء رقم ٣٩١
٣) المستدرك للحاكم ج ١ ص ١٤٧، رقم (٧٥/٥٤٠) كتاب الطهارة
٤) التلخيص الحبير ج ١ ص ١٢٥
٥) نتائج الافكار ج ١ ص ٢٢٩، باب ما يقول على وضوئه.
٦) علل الترمذى الكبير ص ٣٢، وميزان الاعتدال ج ٢ ص ٣٨، رقم ٢٧٢٧
٧) ميزان الاعتدال ج ٢ ص ٣٨، رقم ٢٧٢٧
٨) سنن ابن ماجة، كتاب الطهارة باب ما جاء فى التسمية على الوضوء، رقم ٤٠٠
٩) ميزان الاعتدال ج ٢ ص ٦٧١، رقم ٥٢٧٩

المعجم الکبیر کښې روایت کړې دې. (۱) ابی بن عباس اګر چه د بخاری په راویانو کښې دې. خو امام ابن معین رحمه الله د هغه تضعیف کړې دې او امام نسائی رحمه الله او دولابی رحمه الله فرمائی :

﴿لیس بالقوی﴾ او امام احمد رحمه الله فرمائی : ﴿منکر الحدیث﴾ (۲)

⑤ سنن ابن ماجة، مسند بزار، مصنف ابن ابی شیبه او سنن دارقطنی کښې د سیده عائشه رضی الله عنها حدیث روایت شوې دې. ﴿کان النبی ﷺ اذا توضاء فوضع یدیه فی الاناء سمی الله﴾ (۳)

یعنی رسول الله ﷺ چه به کله اودس شروع کولو نو ﴿بسم الله﴾ به ئې لوستله.
په دې حدیث کښې حارثه بن محمد نومې راوی دې او هغه ضعیف دې.

امام بزار رحمه الله فرمائی ﴿حارثة لین الحدیث﴾ (٤)

امام بخاری رحمه الله ورته "منکر الحدیث" وئیلې دې. (۵)

هم دغه شان امام ابو حاتم رحمه الله فرمائی : ﴿ضعیف الحدیث، منکر الحدیث﴾ (۶)

امام نسائی او علی بن الجنید رحمه الله فرمائی : ﴿متروك الحدیث﴾ (۷)

امام ابو زرعه رحمه الله فرمائی : ﴿واهی الحدیث﴾ (۸)

امام ابن حبان رحمه الله فرمائی : ﴿ممن کثر وهمه، وفحش خطؤه، ترکه احمد ویحیی﴾ (۹)

فرمائی چه امام احمد رحمه الله د اسحاق بن راهویه رحمه الله جامع پرانستلو، په هغې کښې اولنې حدیث د حارثه بن ابی الرجال نه وو، سخت خفه شو او وې فرمائیل : اول حدیث یکون فی الجامع عن حارثة؟ یعنی عجیبه خبره دا ده چه په دې کتاب کښې اولنې حدیث د حارثه نه نقل دې، او حال دا چه د اسحاق بن راهویه رحمه الله دعوی دا ده چه هغه په دې کتاب کښې د اصح ما فی الباب انتخاب کړې دې، او حال دا چه دا حدیث اضعف دې. (۱۰)

---

۱) المعجم الکبیر للطبرانی ج ۶ ص ۱۲۱، رقم ۵۶۹۹
۲) اوګورئ : میزان الاعتدال ج ۱ ص ۷۸ رقم ۲۷۳
۳) سنن ابن ماجة، کتاب الصلاة، باب اتمام الصلاة، رقم ۱۰۵۲، وکشف الاستار عن زوائد البزار ج ۱ ص ۱۳۷، باب التسمیة علی الوضوء رقم ۲۶۱، ومصنف ابن ابی شیبة ج ۱ص ۲۳۰، کتاب الطهارة، باب فی التسمیة فی الوضوء رقم ۱۶، وسنن الدارقطنی ج ۱ ص ٤.
٤) کشف الاستار ج ۱ ص ۱۳۷، رقم ۲۶۱
۵) التاریخ الکبیر ج ۳ ص ۹٤، رقم ۳۲۷
۶) الجرح والتعدیل ج ۳ ص ۲۷۰، رقم ۱۱۳۸/۳٤۳۱
۷) تهذیب التهذیب ج ۲ ص ۱۶۵، ۱۶۶
۸) الجرح والتعدیل ج ۳ ص ۲۷۰، رقم ۱۱۳۸/۳٤۳۱
۹) کتاب المجروحین لابن حبان ج ۱ ص ۳۳۱، رقم ۲۷۸
۱۰) تهذیب التهذیب ج ۲ ص ۱۶۶

⑥ امام طبرانى رحمه الله په خپل "المعجم الكبير" او "كتاب الدعاء" كښې، ابوبشر الدولابى رحمه الله په خپل كتاب "الاسماء والكنى" كښې او حافظ ابو نعيم رحمه الله په "معرفة الصحابة" كښې د سيدنا سبره جهنى رضى الله عنه مرفوع حديث نقل كړې دې!

﴿ الا لا صلاة الا بوضوء، ولا وضوء لمن لم يذكر اسم الله عليه، الا ولا يؤمن بالله من لا يؤمن بى، ولا يؤمن بى الا من يعرف حق الانصار ﴾(١)

يعنى بغير د اودس نه مونځ نه كيږى او څوك چه بسم الله اونه وائى د هغه اودس نه كيږى، څوك چه په ما باندې ايمان نه لرى د هغه په الله پاك ايمان نشته او څوك چه د انصارو حق نه ادا كوى د هغه په ما باندې ايمان نشته.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دا روايت ابو القاسم بغوى رحمه الله د يحيى بن عبد الله بن يزيد بن عبد الله بن انيس په واسطې سره نقل كړې دې، په دې كښې عيسى بن سبرة دې، هغه ته امام بغوى رحمه الله منكر الحديث وئيلې دې. (٢)

⑦ حافظ ابو موسى مدينى په "معرفة الصحابة" كښې هم دا حديث د ام سبره رضى الله عنها نه هم روايت كړې دې، خو حافظ رحمه الله فرمائى چه دا ضعيف دې. (٣)

⑧ امام ابن عدى رحمه الله په "الكامل" كښې د ﴿ عيسى بن عبدالله، عن ابيه، عن جده ﴾ په طريق سره د سيدنا على رضى الله عنه نه حديث نقل كړې دې.

﴿ قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا صلاة لمن لا وضوء له ولا وضوء لمن لم يذكر اسم الله عليه ﴾(٤)

د دې د سند په باره كښې امام ابن عدى رحمه الله فرمائى!

﴿ وبهذا الاسناد احاديث حدثناه ابن مهدى، ليست بمستقيمة ﴾(٥) يعنى په دې سند سره امام ابن مهدى رحمه الله مونږ ته ډير احاديث اورولې دى، دا صحيح نه دى.

امام دارقطنى رحمه الله د عيسى بن عبد الله په باره كښې فرمائى: ﴿ متروك الحديث ﴾(٦)

امام ابن حبان رحمه الله فرمائى: ﴿ يروى عن ابائه اشياء موضوعة، لا يحل الاحتجاج به، كانه كان يهم ويخطئ،

---

١) المعجم الكبير للطبرانى ج ٢٢ ص ٢٩٦، رقم ٧٥٥، وكتاب الدعاء ج ١ ص ٩٧٢، باب القول عند افتتاح الوضوء، رقم ٣٨١، وكتاب الاسماء والكنى للدولابى ج ١ ص ٣٦، ومعرفة الصحابة لابى نعيم ج ٤ ص ٤٨٦، رقم ٦٨٧٢

٢) اوګورئ: نتائج الافكار ج ١ ص ٢٣٤، باب ما يقول على وضوئه

٣) اوګورئ: التلخيص الحبير ج ١ص ١٢٨

٤) الكامل لابن عدى ج ٥ ص ٢٤٣، ترجمة عيسى بن عبدالله بن محمد بن عمر بن على بن ابى طالب

٥) پورته حواله اوګورئ

٦) لسان الميزان ج ٤ ص ٣٩٩، طبع قديم، و ج ٦ ص ٢٦٩، طبع جديد، تحقيق شيخ عبد الفتاح ابو غده رحمه الله تعالى رقم ٥٩٣٤

حتى كان يجئ بالاشياء الموضوعة عن اسلافه، فبطل الاحتجاج بما يرويه﴾(١)
يعنى دې د خپل پلار نيکه نه موضوع روايات نقل کوى، اصل کښې د وهم او د خطاء د زياتيدو د وجې نه هغه د خپلو مشرانو نه موضوع روايات راوړى، په دې وجه د هغه د رواياتو نه احتجاج کول صحيح نه دى.

او امام ابن عدى رحمه الله فرمائى: ﴿وعامة مايرويه لايتابع عليه﴾(٢)

⑨ ابو موسى المدينى رحمه الله په معرفة الصحابة کښې د ﴿عبدالملك بن حبيب الاندلسى، عن اسد بن موسى، عن حماد بن سلمة، عن ثابت﴾ په طريق سره د سيدنا انس رضي الله عنه مرفوع روايت نقل کړې دې!

﴿لا ايمان لمن لم يؤمن بى، ولا صلاة الا بوضوء، ولا وضوء لمن لم يسم الله﴾(٣)
يعنى څوك چه په ما باندې ايمان نه راوړى د هغه ايمان نشته، او بغير د اودس نه مونځ نشته او څوك چه بسم الله نه وائى د هغه اودس نشته.

په دې سند کښې د عبدالملك بن حبيب اندلسى په باره کښې حافظ رحمه الله فرمائى: ﴿شديد الضعف﴾(٤)

حاصل دا دې چه د تسميه على الوضوء د وجوب په سلسله کښې چه څومره هم روايتونه دى هغه ټول ضعيف اومتکلم فيه دى، خو په دې سلسله کښې مجموعى طور سره چونکه په ډيرو احاديثو کښې د تسميه ذکر دې، په دې وجه يو قسم قوت ضرور حاصليږى!
پس حافظ منذرى رحمه الله فرمائى:

﴿وفى الباب احاديث كثيرة، لا يسلم شئ منها من مقال، ولا شك ان الاحاديث التى وردت فيها وان كان لا يسلم شئ منها عن مقال، فانها تتعاضد بكثرة طرقها، وتكتسب قوة﴾(٥)
يعنى په دې باب کښې ډير احاديث دى، خو په هغې کښې يو حديث هم د مقال نه خالى نه دې، او په دې خبره کښې هم څه شك نشته چه په کومو احاديثو کښې چه تسميه راغلې ده، اگر چه هغه د کلام نه خالى نه دى، خو هغه د کثرت د وجې نه د يو بل د پاره د تقويت باعث دى او په هغې کښې يو قسم تقويت پيدا کيږى.

هم دغه شان حافظ رحمه الله فرمائى: ﴿والظاهران مجموع الاحاديث يحدث منها قوة تدل على ان له اصلا﴾(٦)

---

١) کتاب المجروحين ج ٢ ص ١٠٣، رقم ٧٠٧
٢) الکامل ج ٥ ص ٢٤٥
٣) التلخيص الحبير ج ١ ص ١٢٨
٤) پورته حواله، د هغوى په باره کښې تفصيلات اوګورئ: لسان الميزان ج ٤ ص ٥٩، طبع قديم، و ج ٥ ص ٢٥٥ طبع جديد، رقم ٤٩٠١
٥) الترغيب والترهيب ج ١ ص ٩٨، الترهيب من ترك التسمية على الوضوء عامدا، رقم ٣١٥
٦) التلخيص الحبير ج ١ ص ١٢٨

يعنى ظاهره دا ده چه د مجموعى احاديثو نه قوت حاصليږى او په دې خبره باندې دال دى چه د دې څه اصل ضرور شته.
د قائلين سنيت او استحباب موقف: جمهور علماء كرام كوم چه د فرضيت نه دى قائل هغوى د تسميه على الوضوء د احاديثو په سلسله كښې فرمائى چه دا احاديث يا خو قولى دى يا فعلى دى!
هر چه د فعلى احاديثو تعلق دې نو هغه په دوام باندې دال نه دى لهذا د هغې نه سنيت هم نه شى ثابتيدلې پاتې دا چه فرضيت ترې ثابت شى.
او هر چه د قولى احاديثو تعلق دې نو د هغې په سندونو كښې كلام دې، بيا دا اخبار احاد دى، چه د هغې نه په كتاب الله باندې زيادت نه شى كيدې.
د دې نه علاوه چه په كومو احاديثو كښې د «لاوضوء» الفاظ راغلي دى په هغې كښې په نفى په نفى كمال باندې محمول كولې شى، لهذا د هغې نه به زيات نه زيات سنيت ثابتيږى. (۱)
والله اعلم
د قائلين سنيت استدلال هم د دې احاديثو نه دې كوم چه مونږ په تفصيل سره پورته ذكر كړې دې، دا احاديث اگر چه متكلم فيه دى خو پورته مونږ دا بيان كړې ده چه د كثرت طرق د وجې نه په دې كښې يو قسم قوت پيدا شوې دې، لهذا تسميه سنت ده.
او د استحباب قائلين دې خبرې ته گورې چه سنت وئيلې شى «ما واظب عليه رسول الله ﷺ مع الترك احيانا» يعنى سنت به هغه عمل ته وئيلې شى چه رسول الله ﷺ پرې اكثر اوقات پابندى كړې وى اوكله كله ئې ترك كړې وى. تسميه على الوضوء د دې درجې عمل نه دې، څكه چه په دې باندې مواظبت ثابت نه دې. (۲)
خو د سنتيت قائلين وائى چه سنت چه څنگه په فعل سره ثابتيږى هم دغه شان په قول سره هم ثابتيږى. (۳) د دې نه علاوه علامه عينى رحمه الله فرمائى چه تسميه ته صرف مستحب څنگه وئيلې كيدې شى، چه هركله د تسميه په باره كښې قولى او فعلى ډير احاديث راغلي دى.؟(٤)
د امام ابن الهمام رحمه الله موقف: امام ابن الهمام رحمه الله په فتح القدير كښې د ټولو دلائلو تجزيه كولو سره ثابته كړې ده چه هر كله د تسميه احاديث په كثرت سره ثابت دى، د هغې په معارضه كښې څه نص نشته نو هغه په نفى كمال باندې ولې محمول كولې شى، براه راست پرې د وجوب اثبات ولې نه شى كيدې؟ هغوى دا خپل موقف ډير مدلل ذكر كړې دې. (۵)

---

۱) اوگورئ: شرح معانى الاثار مع نثر الازهار ج ۱ ص ۵۰، ۵۱، كتاب الطهارة، باب التسمية على الوضوء، والبناية للعينى ج ۱ ص ۱۹٤، والسعاية ج ۱ ص ۱۰۹، ۱۱۰
۲) اوگورئ: السعاية ج ۱ ص ۱۱۰، والبناية ج ۱ ص ۱۹۷
۳) اوگورئ: السعاية ج ۱ ص ۱۱۰
٤) البناية ج ۱ ص ۱۹۸
۵) اوگورئ: فتح القدير ج ۱ ص ۲۰، ۲۱

علامه عبد الحی لکهنوی رحمه الله فرمائی : ﴿ وهذا كلام حسن، ينبغي ان يعول عليه ﴾(۱)
دا یو ښه کلام دې د دې طرف ته رجوع او اعتماد کیدل پکار دی.
خو علامه شامی رحمه الله فرمائی : ﴿ كلام البحر صريح فى ان المحقق ابن الهمام من اهل الترجيح، حيث قال عنه : انه اهل للنظر فى الدليل، وحينئذ قلنا اتباعه فيما يحققه ويرجحه من الروايات او الاقوال، مالم يخرج عن المذهب، فان له اختيارات خالف فيه المذهب، فلا يتابع عليها، كما قاله تلميذه العلامة قاسم ﴾(۲)
يعنى د صاحب بحر د تصریح مطابق محقق ابن الهمام د اهل ترجیح نه دې، پس صاحب بحر فرمائی چه هغه په دلیل کښې د نظر کولو اهل دې. لهذا ابن الهمام چه کومو روایاتو او اقوالو ته ترجیح ورکړې زمونږ دپاره د هغې د اتباع ګنجائش شته، په دې شرط چه د مذهب نه خارج څه خبره نه وی، ځکه چه د هغوی بعض اختیارات او تفردات دی کوم چه د مذهب خلاف دی، په هغې کښې د هغوی اتباع نه شی کیدې، لکه چه د هغوی شاګرد قاسم بن قطلوبغا تصریح کړې ده.

۱۴۱ : ﴿ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنَا جَرِيرٌ عَنْ مَنْصُورٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ عَنْ كُرَيْبٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ (۳) يَبْلُغُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا أَتَى أَهْلَهُ قَالَ بِاسْمِ اللَّهِ اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا فَقُضِيَ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ لَمْ يَضُرَّهُ ﴾ ۳۰۹۸، ۳۱۰۹، ۴۸۷۰، ۲۰۲۵، ۲۹۲۱]

رجال الحديث

① على بن عبدالله : دا امير المومنين فى الحديث امام على بن عبد الله بن جعفر بن نجيح سعدى بصرى المعروف بابن المدينى رحمه الله دې. د هغوی حالات په کتاب العلم (باب الفهم فى العلم) د لاندې تیر شوې دی. (٤)

---

۱) السعاية ج ۱ ص ۱۱۰
۲) شرح عقود رسم المفتى ص ۱۲۶، مطلب : المحقق ابن الهمام وتلميذه العلامة قاسم من اهل الاجتهاد لا صاحب البحر
۳) قوله عن ابن عباس : الحديث اخرجه البخارى ايضا فى صحيحه ج ۱ ص ٤٦٣ و ٤٦٤، كتاب بدء الخلق، باب صفة ابليس وجنوده، رقم ۳۲۷۱ و ۳۲۸۳، و ج ۲ ص ۷۷۶، كتاب النكاح، باب ما يقول الرجل اذا اتى اهله، رقم ۵۱۶۵، و ج ۲ ص ۹٤۵، كتاب الدعوات، باب ما يقول اذا اتى اهله رقم ۶۳۸۸، و ج ۲ ص ۱۱۰۰، كتاب التوحيد، باب السؤال باسماء الله تعالى، والاستعاذة بها، رقم ۷۳۹۶، ومسلم فى صحيحه، كتاب النكاح، باب ما يستحب ان يقوله عند الجماع، رقم ۳۵۳۳، ۳۵۳٤، وابوداؤد فى سننه، فى كتاب النكاح، باب فى جامع النكاح، رقم ۲۱۶۱، والترمذى فى جامعه، فى كتاب النكاح، باب فى جامع النكاح، رقم ۲۱۶۱، والترمذى فى جامعه، فى كتاب النكاح، باب ما يقول اذا دخل على اهله، رقم ۱۰۹۲، وابن ماجة فى سننه، فى كتاب النكاح، باب ما يقول الرجل اذا دخلت عليه اهله، رقم ۱۹۱۹.
٤) كشف البارى ج ۳ ص ۲۹۷

۲ **جرير** : دا جرير بن عبدالحميد بن قرط ضبى رازى رحمه الله دي. د هغوى حالات په كتاب العلم. "باب من جعل لاهل العلم ايامامعلومة" د لاندې تير شوي دى. (۱)

۳ **منصور** : دا مشهور محدث منصور بن المعتمر السملى الكوفى رحمه الله دي. د هغوى حالات په كتاب العلم "باب من جعل لاهل العلم ايامامعلومة" د لاندې تير شوي دى. (۲)

۴ **سالم بن ابى الجعد** : دا سالم بن ابى الجعد كوفى رحمه الله دي، ولاء اشجعى بللې شى، د ابو الجعد نوم رافع دې. (۳)

دې د سيدنا ثوبان رضي الله عنه مولى رسول الله ﷺ، سيدنا جابر، سيدنا ابن عباس، سيدنا نعمان بن بشير، سيدنا عبدالله بن عمرو، سيدنا عبدالله بن عمر او سيدنا انس بن مالك رضي الله عنهم وغيره نه روايت كوى.

د هغه نه په روايت كونكو كښې د هغه ځوئې حسن، حكم بن عتيبه، عمرو بن دينار، عمرو بن مرة، ابو اسحاق السبيعى، امام اعمش، منصور بن المعتمر او موسى بن المسيب رحمهم الله وغيره حضرات دى. (٤)

دې د سيدنا عمر، سيدنا عثمان، سيدنا على رضي الله عنه نه روايت كوى خو هغه مراسيل دى، هم دغه شان د سيدنا ابن مسعود او سيده عائشه صديقه رضي الله عنها سره هم د هغوى ملاقات نه دې شوې، د هغوى ملاقات د سيدنا ابو الدرداء او سيدنا ثوبان رضي الله عنهما سره هم نه دې شوې. (۵)

امام يحيى بن معين، امام ابوزرغه او امام نسائى رحمهم الله فرمائى : ﴿ثقة﴾(۶)

ابن سعد رحمه الله فرمائى : ﴿كان ثقة كثير الحديث﴾(۷)

امام عجلى رحمه الله فرمائى : ﴿كوفى تابعى ثقة﴾(۸)

ابن خلفون رحمه الله هغه په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې. (۹)

ابن حبان رحمه الله هم هغه په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې. (۱۰)

---

۱) كشف البارى ج ۳ ص ۲۶۸
۲) كشف البارى ج ۳ ص ۲۷۰
۳) تهذيب الكمال ج ۱۰ ص ۱۳۰
٤) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ : تهذيب الكمال ج ۱۰ ص ۱۳۱، ۱۳۲، وسير اعلام النبلاء ج ۵ ص ۱۰۸، ۱۰۹
۵) اوګورئ : اكمال تهذيب الكمال لمغلطائى ج ۵ ص ۱۸۰، ۱۸۱
۶) تهذيب الكمال ج ۱۰ ص ۱۳۲، والجرح والتعديل ج ٤ ص ۱۷۶، رقم (۷۹۵/۵۹۱٤)
۷) الطبقات لابن سعد ج ۶ ص ۲۹۱
۸) معرفة الثقات للعجلى ج ۱ ص ۳۸۲، رقم ۵۳۸، واكمال تهذيب الكمال ج ۵ ص ۱۸۱
۹) اكمال تهذيب الكمال ج ۵ ص ۱۸۲
۱۰) الثقات لابن حبان ج ٤ ص ۳۰۵

حافظ ذهبی رحمه الله د هغوی په باره کښې لیکلي دی: ﴿الفقیه، احد الثقات﴾(۱)

هم دغه شان امام ذهبی رحمه الله فرمائی: ﴿من ثقات التابعین﴾(۲)

ابراهیم الحربی رحمه الله فرمائی: ﴿مجمع علی ثقته﴾(۳) خو هغه به د خپل ثقاهت او امام باوجود تدلیس او ارسال کولو، پس حافظ ذهبی رحمه الله فرمائي: ﴿فهوصاحب تدلیس﴾(٤)

هم دغه شان امام ذهبی رحمه الله دا هم فرمائی چه: ﴿من ثقات التابعین، لکنه یدلس ویرسل﴾(۵) حافظ ابن حجر رحمه الله هغه په طبقات المدلسین کښې په دویمه طبقه کښې ذکر کړې دې، دا د هغه حضراتو طبقه ده چه د هغوی تدلیس هم کم وی او هغه چه کله تدلیس کوی نو هغه د ثقه نه کوی، پس د داسې حضراتو د امامت او جلالت شان باوجود ائمه کرامو د هغوی احادیث سره د هغوی د تدلیس نه په خپل صحاح کښې قبول کړې دی. (۶)

د هغوی وفات په ۱۰۰ هجری کښې یا د هغې نه مخکښې یا روستو شوې دې. (۷) رحمه الله تعالی رحمة واسعة

⑤ **کریب**: دا ابو رشدین کریب بن ابی مسلم قرشی هاشمی مولی عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دې. د هغوی حالات هم په دې جلد کښې د باب التخفیف فی الوضوء د لاندې تیر شوې دی.

⑥ **سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما**: د سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما حالات په بدء الوحی کښې د څلورم حدیث د لاندې، او هم دغه شان په کتاب الایمان کښې د باب کفران العشیر وکفر دون کفر د لاندې تیر شوې دی. (۸)

قوله: یَبْلُغُ النَّبِیَّ بِهٖ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما به دا حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسولو سره بیانولو!

مطلب دا چه دا حدیث مرفوع دې، په ابن عباس رضی الله عنهما باندې موقوف نه دې، خو ابن عباس رضی الله عنهما دا حدیث د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه براه راست اوریدلې وو که د بل چا په واسطه؟ چونکه د دې تصریح نشته، په دې وجه په دې صیغې سره بیان کړې شو. (۹)

---

۱) سیر اعلام النبلاء ج ۵ ص ۱۰۸
۲) میزان الاعتدال ج ۲ ص ۱۰۹
۳) اکمال تهذیب الکمال ج ۵ ص ۱۸۲
٤) سیر اعلام النبلاء ج ۵ ص ۱۰۸
۵) میزان الاعتدال ج ۲ ص ۱۰۹
٦) اوګورئ: تعریف اهل التقدیس بمراتب الموصوفین بالتدلیس ص ۳۱، رقم ٤۸
۷) اوګورئ: تقریب التهذیب ص ۲۲۶، رقم ۲۱۷۰
۸) اوګورئ: کشف الباری ج ۱ ص ٤٤۵، و ج ۲ ص ۲۰۵
۹) اوګورئ: شرح الکرمانی ج ۲ ص ۸۳، وعمدة القاری ج ۲ ص ۲۶۷

دلته د دې صيغې ﴿يبلغ به﴾ په شان نورې هم ډير صيغې استعماليږی ﴿يرفع الحديث، يرويه، ينميه، رواية، رواه﴾ که دا الفاظ تابعی يا د هغه نه لاندې څوك نقل کړی نو دا د مرفوع حکمی په درجه کښ دې او که يو صحابی دا الفاظ ذکر کړی نو بيا خو بالکل د صريح په حکم کښ دې. (١)

قوله: قَالَ لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا أَتَى أَهْلَهُ قَالَ بِاسْمِ اللَّهِ اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا فَقُضِيَ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ لَمْ يَضُرَّهُ: يعنی: په تاسو کښ که څوك خپلې بيبی ته راشی نو دا دعا اوائی: بسم الله! د الله پاك په نوم سره دا عمل کوم، اې الله! شيطان زمونږ نه لرې کړه او څه چه ته مونږ ته راکوې د هغه (اولاد) نه شيطان لرې کړه.

امام غزالی رحمه الله فرمائی چه مستحب دا ده چه ﴿بسم الله﴾ اولولی بيا سورة اخلاص اولولی، بيا تکبير او تهليل اوائی او ﴿بسم الله العلی العظيم، اللهم اجعلها ذرية طيبة ان كنت قدرت ان تخرج ذلك من صلبی﴾ دې اولولی. (٢)

يعنی اې الله! که تا زما د شا نه د ذريت پيدا کولو فيصله کړې وی نو دا پاك ذريت جوړ کړه

د دعا لوستلو وخت: دا دعا به څه وخت لولی؟ د حديث الباب د اطلاق نه فهم کښ راځی چه د جماع په شروع کښ به ئې د کشف عورت نه پس لولی، د دې تائيد د سيدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د اثر نه کيږی!

﴿عَنْ عَلْقَمَةَ أَنَّ ابْنَ مَسْعُودٍ كَانَ إِذَا غَشِيَ أَهْلَهُ فَأَنْزَلَ قَالَ: اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْ لِلشَّيْطَانِ فِيمَا رَزَقْتَنَا نَصِيبًا﴾ (٣)

يعنی کله چه به هغه د خپلې بيبی سره جماع کوله او انزال به ئې اوشو نو وئيل به ئې: اې الله! څه چه ته مونږ ته راکوې په هغې کښ د شيطان حصه مه کوه.

خو نور علماء کرام فرمائی چه د جماع په وخت دې د عورت ښکاره کولو نه مخکښ مخکښ دا دعا اولوستلې شی. (٤) پس په صحيحين کښ په يو بل طريق کښ د ﴿اذا اتى اهله﴾ په ځائې د ﴿اذا اراد ان ياتى اهله﴾ (٥) الفاظ راغلې دی.

---

١) اوګورئ: نزهة النظر فی توضيح نخبة الفكر ص ١٠٥، وعلوم الحديث لابن الصلاح ص ٤٦، وفتح المغيث ج ١ ص ٢١٨، ٢٢٠، الفرع الرابع من الفروع السبعة بعد بحث المقطوع.

٢) احياء علوم الدين ص ٥٠٦، كتاب اداب النكاح، العاشر: فی اداب الجماع

٣) مصنف ابن ابی شيبة ج ٩ ص ٣٣٥، كتاب النكاح، باب ما يومر به الرجل اذا دخل على اهله، رقم ١٧٤٣٩، و ج ١٥ ص ٣٥١، كتاب الدعاء، باب ما يدعو به الرجل اذا دخل على اهله، رقم ٣٠٣٥٣

٤) اوګورئ: اتحاف السادة المتقين ج ٦ ص ١٧٣، كتاب اداب النكاح

٥) صحيح البخاری ج ٢ ص ٩٤٥، كتاب الدعوات، باب ما يقول اذا اتى اهله، رقم (٦٣٨٨)، وصحيح مسلم، كتاب النكاح، باب ما يستحب ان يقوله عند الجماع رقم ٣٥٣٣.

او هر چه د ابن مسعود رضی الله عنه د اثر تعلق دې نو هغه د انزال نه پس د جامو د اغوستلو نه پس حالت باندې محمول کيدلې شي. والله اعلم

قوله: فَقُضِيَ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ لَمْ يَضُرُّهُ: بيا د هغوی دواړو ترمينځه اولاد مقدر شي نو هغه ته شيطان ضرر نه شي رسولې.

د ﴿قضی﴾ ډير معانی دی. دلته د ټولو نه غوره د تقدير معنی ده، ځکه چه د صحيح مسلم په حديث کښې ﴿فانه ان يقدر بينهما ولد فی ذلك﴾(۱) الفاظ راغلې دی.

د دې نه علاوه د حکم په معنی کښې هم کيدلې شي. (۲)

بيا دلته ﴿فقضی بينهما﴾ د اکثر حضراتو په نزد د تثنيه په ضمير سره دې، او د حموی او مستملی په نسخو کښې ﴿فقضی بينهم﴾ د جمع صيغې سره راغلې دې، د تثنيه والا نسخه راجحه ده، خو جمع هم په تثنيه باندې محمول کيدلې شي، ځکه چه اقل د جمع دوه دی. (۳)

د لم يضره څه مطلب دې ؟ : د عدم اضرار شيطان يو مطلب خو دا دې چه د شيطان به په هغه باندې تسلط نه حاصليږي. يعنی د الله پاك د نوم د اخستلو د وجې نه به هغه ماشوم د الله پاك په محفوظ بندګانو کښې شي چه په هغه باندې د انسان وس نه چليږي، لکه د الله پاك ارشاد دې ﴿إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ﴾(۴) يعنی زما په په بندګانو باندې ستا تسلط نشته، دا امکان هم ذکر کړې شوې دې چه د دې نه دې عموم مراد واخستلې شی، يعنی شيطان به هغه ته هيڅ قسم ضرر او نه رسوی. خو په دې صورت کښې به د هغه ماشوم د هميشه دپاره معصوم کيدل لازم شي، ظاهره ده چه دا خبره صحيح نه ده.

په دې وجه علماء کرام فرمائی چه د دې عموم نه مراد اخستلو په ځائې خصوص مراد کړې شي. يعنی شيطان هغه ته ضرر عقلی يا بدنی کښې نه شي اخته کولې چه شيطان په هغه باندې اثر انداز شي چه هغه مخبوط العقل جوړ کړی، يا هغه ته بدنی طور نقصان اورسوی.

يو احتمال دا هم بيان کړې شوې دې چه د پيدائش په وخت به هغه ماشوم ته د شيطان د مس نه حفاظت حاصل شي.

خو دا خبره دهغه حديث منافی ده چه په هغې کښې ذکر دی چه د شيطان د مس نه سوا د مريم او د هغه د ځوئی سيدنا عيسی عليه السلام نه بل چاته هم استثناء نشته. (۵)

---

۱) صحيح مسلم. کتاب النکاح. باب ما يستحب ان يقوله عند الجماع رقم ۳۵۳۳.

۲) اوګورئ: شرح الکرمانی ج ۲ ص ۱۸۳، وعمدة القاری ج ۲ ص ۲۶۸.

۳) فتح الباری ج ۱ ص ۲۴۲

۴) سورة الحجر : ۴۲

۵) قال ابوهريرة رضی الله عنه : سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول : ما من بنی ادم مولود الا يمسه الشيطان حين يولد، فيستهل صارخا من مس الشيطان، غير مريم وابنها. صحيح البخاری ج ۱ ص ۴۸۸، کتاب احاديث الانبياء، باب قول الله تعالی : ﴿ واذکر فی الکتاب مريم ﴾ رقم ۳۴۳۱

داؤدی رحمه الله فرمائی چه د دې ضرر نه د کفر په فتنه کښې اخته کول مقصود دی، یعنی که د جماع په وخت ئې دعا اولوستلې نو هغه ماشوم به د شیطان د اغوا او تضلیل کښې اخته کیدو سره په کفر کښې د واقع کیدو نه بچ شی.
ګویا د دې دعا د لوستلو دپاره دا ډیر لوئې بشارت دې چه دا ماشوم توحید او ایمان باندې مری. یو مطلب دا هم بیان کړې شوې دې چه که سړې د جماع په وخت تسمیه اونه لولی نو شیطان به دهغه ذکر سره یوځائې کیدو باندې په جماع کښې شریك شی. (۱)
د دې نه معلومه شوه چه که بسم الله اولولی نو د شیطان د مشارکت نه به ئې حفاظت اوشی او د شیطان د عدم مشارکت فائده ظاهره ده چه د ماشوم طرف ته به عائد وی. (۲)
فائده : علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه هغوی یوه نسخه لیدلې دې چه د فربری رحمه الله مخکښې لوستلې شوې وو، په دې کښې دا اضافه ده:
﴿ قیل لابی عبدالله : فان لم یعرف بالعربیة ایقول بالفارسیة؟ قال نعم ﴾(۳)
یعنی د امام بخاری رحمه الله نه تپوس اوشو چه یو سړی له عربی نه ورځی نو ایا هغه ته به دا دعا په فارسئ کښې د وئیلو اجازت وی؟ وې فرمائیل : او! والله سبحانه وتعالی اعلم

⑨ باب: مَا يَقُولُ عِنْدَ الْخَلَاءِ

قوله: خلاء: خالی فضاء ته وئیلې شی، روستو ئې د قضاء حاجت او اودس په ځائې اطلاق شروع شو (٤)
دلته عبارت مقدر دې، د عبارت تقدیر داسې دې چه : ﴿ مایقول عند ارادة الدخول فی الخلاء ﴾ دا په هغه صورت کښې دې چه کله بیت الخلاء جوړه وی او که بیت الخلاء جوړه نه وی نو بیا هیڅ تقدیر ته ضرورت نشته. (۵)
د مخکښې باب سره مناسبت : د دې باب د مخکښې باب سره مناسبت بالکل واضح دې، ځکه چه په دواړو بابونو کښې د دعا د لوستلو ذکر دې. (۶)
د ترجمة الباب مقصد : په ترجمة الباب سره د امام بخاری رحمه الله مقصد دعا لره بیانول دی

---

۱) كما اورد الطبرى بسنده عن مجاهد قال : اذا جامع الرجل ولم يسم انطوى الجان على احليله فجامع معه. جامع البيان للطبرى ٢٤٨/٢٢، تحت قوله تعالى فى سورة الرحمن : ﴿ لم يطمثهن انس قبلهم ولا جآن ﴾
۲) اوګورئ. عمدة القارى ج ۲ ص ۲۶۹، واتحاف السادة المتقين ج ۶ ص ۱۷۴، وسبل السلام ج ۳ ص ۳۹۰. كتاب النكاح. باب عشرة النساء رقم ۹۶۰.
۳) فتح البارى ج ۱ ص ۲٤۲، وشرح الكرمانى ج ۲ ص ۱۸۳، وفيه قيل لابى عبيد بدل ابى عبيد الله فانتبه.
٤) اوګورئ : تاج العروس ج ۳۸ ص ۱۳، ۱٤، مادة : خلو
۵) فتح البارى ج ۱ ص ۲٤۲
۶) اوګورئ : عمدة القارى ج ۲ ص ۲۷۰

كومه چه بيت الخلاء ته د تلو نه مخكښ لوستلې شي، دا دعا بالاتفاق مستحب ده. (۱)

۱۴۲: ﴿حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا (۲) يَقُولُ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ قَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ. تَابَعَهُ ابْنُ عَرْعَرَةَ عَنْ شُعْبَةَ وَقَالَ غُنْدَرٌ عَنْ شُعْبَةَ إِذَا أَتَى الْخَلَاءَ وَقَالَ مُوسَى عَنْ حَمَّادٍ إِذَا دَخَلَ وَقَالَ سَعِيدُ بْنُ زَيْدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَدْخُلَ﴾ [۵۹۲۳]

رجال الحديث

① **ادم**: دا ابو الحسن آدم بن ابى اياس عبد الرحمن العسقلانى رحمه الله دې، د هغوى حالات په كتاب الايمان، باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده د لاندې تير شوې دى. (۳)

② **شعبة**: دا امير المومنين فى الحديث امام شعبه بن الحجاج عتكى بصرى رحمه الله دې. د هغوى حالات هم په مذكوره كتاب او باب كښ تير شوې دى. (٤)

③ **عبدالعزيز بن صهيب**: دا عبد العزيز بن صهيب بنانى بصرى رحمه الله دې. د هغوى حالات په كتاب الايمان، باب حب الرسول صلى الله عليه وسلم من الايمان د لاندې تير شوې دى. (۵)

④ **سيدنا انس رضي الله عنه**: د سيدنا انس رضي الله عنه حالات هم په كتاب الايمان باب من الايمان ان يحب لاخيه مايحب لنفسه د لاندې تير شوې دى. (۶)

قوله: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ قَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ: رسول الله صلى الله عليه وسلم چه به كله بيت الخلاء ته داخليدو نو دا دعا به ئې لوستله.

---

۱) اوګورئ: حاشية ابن عابدين ج ۱ ص ۸۱. سنن الوضوء، ومواهب الجليل ج ۱ ص ۳۹۲، كتاب الطهارة، فصل فى اداب قضاء الحاجة، وحاشية الدسوقى على الشرح الكبير ج ۱ ص ۱۷۷، فصل فى ندب لقضاء الحاجة، والمجموع ج ۲ ص ۷۳، ۷٤ و ۷۹، باب الاستطابة، والمغنى ج ۱ ص ۱۰۹، فصول فى اداب التخلى.

۲) قوله : انسا رضى الله تعالى عنه الحديث اخرجه البخاري ايضا فى صحيحه ج ۲ ص ۹۳۶، كتاب الدعواتو باب الدعاء عند الخلاء رقم ۶۳۲۲، ومسلم فى صحيحه، فى كتاب الحيض، باب ما يقول اذا اراد دخول الخلاء، رقم ۸۳۱، ۸۳۲، والنسائى فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب القول عند دخول الخلاء رقم ۱۹، وابو داؤد فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب ما يقول الرجل اذا دخل الخلاء، رقم ٤، ۵، والترمذى فى جامعه، فى كتاب الطهارة، باب ما يقول اذا دخل الخلاء رقم ۵، ۶، وابن ماجة فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب ما يقول الرجل اذا دخل الخلاء رقم ۲۹۸.

۳) كشف البارى ج ۱ ص ۶۷۸

٤) پورته حواله

۵) كشف البارى ج ۲ ص ۱۲

۶) كشف البارى ج ۲ ص ٤

دا دعا به په هر هغه ځائې کښې لوستلې شی چرته چه قضاء حاجت کولې شی برابره خبره ده که هغه ځائې د قضاء حاجت دپاره باقاعده جوړ کړې شوې وی یا خالی ځائې وی.
امام ابوداؤد رحمه الله د سیدنا زید بن ارقم رضي الله عنه نه یو مرفوع حدیث نقل کړې دې!

﴿ ان هذه الحشوش محتضرة، فاذا اتى احدكم الخلاء فليقل : اعوذ بالله من الخبث والخبائث ﴾(١)
یعنی د قضاء حاجت دپاره جوړ شوی دا ځایونه داسې دی چه په دې کښې جنات او شیطانان حاضر وی. لهذا کله چه په تاسو کښې څوك هلته ځی نو دا دعا دې اولولی.
د دې حدیث نه معلومه شوه چه دا دعا به صرف په هغه مواضع او ځایونو کښې وئیلې شی کوم چه د قضاء حاجت دپاره جوړ کړې شوې دی.
خو راجحه دا ده چه چرته هم انسان د قضاء حاجت دپاره کینی برابره خبره ده که هغه ځایونه د قضاء حاجت دپاره وی یا میدان او ځنګل وی، په هر صورت کښې به دا دعا لوستلې شی، ځکه چه د دې مقصد تعوذ من شر الشیطان دې، او شیطانان چه ځنګه په بیوت الخلاء کښې نقصان رسوی دغه شان بهر هم رسوی، پس د سیدنا ابوهریره رضي الله عنه په یو حدیث کښې دی!

﴿ ومن اتى الغائط فليستتر، فان لم يجد الا ان يجمع كثيبا من رمل، فليستدبره، فان الشيطان يلعب بمقاعد بنى ادم ﴾(٢) یعنی څوك چه د قضاء حاجت دپاره ځی هغه له پکار دی چه ښه پرده اوکړی، که د شړو د ډهیرکی د جمع کولو نه علاوه بل څه صورت او نه مومی نو دغه شان کولو سره دې هغې ته شا کړی، ځکه چه شیطان د انسان د مقعد سره لوبې کوی.
معلومه شوه چه د شیطان اثرات هر ځائې کښې وی، په دې وجه دعا به هم په هره موقع باندې کولې شی.
دا دعا به کله لوستلې شی؟ : د جمهور علماء کرامو او ائمه اربعه په نزد چرته چه بیت الخلاء جوړه وی هلته هغې ته د داخلیدو نه مخکښې مخکښې او چرته چه جوړه نه وی هلته د کیناستلو نه مخکښې، یعنی د کپړو د اوچتولو نه مخکښې به دا دعا لوستلې شی، بیت الخلاء ته د داخلیدو نه پس، هم دغه شان د جامو د ویستلو نه پس به په ژبې سره دا الفاظ نه شی ادا کولې، په داسې صورت کښې به ئې د جمهورو په نزد په زړه کښې لولی، په ژبې سره به تلفظ نه شی کولې.
او امام ابن سیرین او امام ابراهیم نخعی رحمهما الله فرمائی چه په بیت الخلاء کښې دننه، یا د کشف عورت نه پس د دعا په لوستلو کښې هیڅ باك نشته. (٣)

١) سنن ابی داؤد فی کتاب الطهارة، باب ما یقول الرجل اذا دخل الخلاء، رقم ٦
٢) سنن ابی داؤد، کتاب الطهارة، باب الاستتار فی الخلاء رقم ٣٥
٣) قال ابن عابدين : الظاهر انه يسمى قبل رفع ثيابه ان كان فى غير المكان المعد لقضاء الحاجة، والا فقبل دخوله، فلو نسى فيهما سمى قلبه، ولا يحرك لسانه، تعظيما لاسم الله تعالى، رد المحتار ج ١ ص ٨١، سنن الوضوء. وانظر المواهب الجليل ج ١ ص ٣٩٢، كتاب الطهارة، فصل فى اداب قضاء الحاجة، وحاشية الدسوقى على الشرح الكبير، ج ١ ص ١٧٧، فصل فى ندب لقضاء الحاجة، والمجموع ج ٢ ص ٧٣، ٧٤ و ٧٩، باب الاستطابة، والمغنى ج ١ ص ١٠٩، فصول فى اداب التخلى.

د مجوزینو دلائل او د مانعینو جواب: مجوزین فرمائی چه دالله پاك ارشاد دې ﴿إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ﴾(۱)
د دې آیت کریمه په رنړا کښې هره کلمه او هره دعا د الله پاك طرف ته خیژی، لهذا بیت الخلاء کښې دننه په لوستلو کښې هیڅ باك نشته.

هم دغه شان سیده عائشه ﷺ فرمائی چه: ﴿کان النبی ﷺ یذکر الله علی کل احیانه﴾(۲)
یعنی رسول الله ﷺ به په هر حال کښې د الله پاك ذکر کولو.

په دې حدیث کښې د ﴿علی کل حال﴾ په عموم کښې قضاء حاجت هم داخل دې، لهذا د قضاء حاجت په موقع باندې هم دا دعا لوستلې کیدې شی.

جمهور علماء کرام فرمائی چه په آیت کریمه کښې د ﴿صعود﴾ نه مراد قبولیت دې.(۳)

هم دغه شان په روایت کښې د ﴿احیان﴾ نه مراد هغه عموم نه دې کوم چه تاسو اخلئ، بلکه د ﴿احیانه﴾ ضمیر د ذکر طرف ته راجع دې د رسول الله ﷺ طرف ته نه، مطلب دا دې چه رسول الله ﷺ به په هغه ټولو احیان او اوقات کښې ذکر کولو په کومو کښې چه ذکر مناسب دې.
یا د دې نه مراد عموم احوال دې، یعنی رسول الله ﷺ به طاهرا، محدثا، قائما، قاعدا، مضجعا او ماشیا په هر حالت کښې د الله پاك ذکر کولو.
یا د دې ذکر نه مراد ذکر قلبی هم کیدې شی، یعنی رسول الله ﷺ به هر وخت په ذکر لسانی کښې مشغول وو، یو وخت به هم ترې غافل نه وو، خو چرته چه به ذکر لسانی نه شو کیدې هلته به ئې صرف ذکر قلبی کولو او د ذکر قلبی په صورت کښې هیڅ حال او وخت مستثنی نه وی. هر وخت کم از کم ذکر قلبی ضرور کیږی. (٤)

قوله: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ: اې الله! زه د مذکر شیطانانو او مؤنث شیطانانو د شر نه ستا پناه غواړم.

قوله: الخبث: د باء په ضمې سره دې، په باء باندې سکون هم لوستلې شوې دې، پس دواړو

---

۱) فاطر ص ۱۰
۲) صحیح مسلم، کتاب الطهارة، باب ذکر الله تعالی فی حال الجنابة وغیرها، رقم ۸۲۶، وسنن ابی داؤدو کتاب الطهارة، باب فی الرجل یذکر الله تعالی علی غیر طهر، رقم ۱۸
۳) انظر الجامع لأحکام القرآن للقرطبی: ۱۴ \ ۳۲۹، سورة فاطر، وقال المحلی: الیه یصعد الکلم الطیب: یعلمه، وقال الصاوی: أشار بذلک الی أن فی الکلام مجازا، فالصعود مجاز عن العلم، کما یقال: ارتفع الأمر الی القاضی. یعنی علمه. عبر عنه بالصعود. اشارة لقبوله، لأن موضع الثوب فوق، وموضع العذاب أسفل..... انظر تفسیر الجلالین مع حاشیة الصاوی: ۳ \ ۲۷۶.
٤) اوګورئ: شرح النووی علی صحیح مسلم ج ٤ ص ۲۹۱، کتاب الطهارة، باب ذکر الله تعالی فی حال الجنابة وغیرها، وبذل المجهود ج ۱ ص ۲۲۷، ۲۲۸

طريقو سره روايةً لوستل ثابت دی. (۱)
البته امام خطابی رحمه الله د باء سکون ته د محدثينو غلطی وئيلې ده. (۲)
خو امام نووی رحمه الله وغيره مختلف حضراتو د هغوی ترديد کړې دې او فرمائی چه د سکون انکار صحيح نه دې، ځکه چه په داسې کلماتو کښې اهل عرب تخفيفا سکون هم لولی، پس ﴿کتب، رسل، عنق، اذن﴾ او په داسې الفاظو کښې اهل عربيت تصريح کړې ده چه په دواړو طريقو سره لوستل ئې صحيح دی (۳)
امام نووی رحمه الله فرمائی چه کيدې شی امام خطابی رحمه الله د هغه خلقو تغليط کړې وی کوم چه په دې لفظ کښې سکون ته اصل وائی، که دا خبره وی نو د هغوی خبره به صحيح وی، خو عبارت به مبهم او موهم وی. (٤)
علامه فيومی رحمه الله فرمائی چه دا لفظ به د باء په ضمې سره لوستلې شی او د باء په سکون سره د قبيله بنو تميم لغت دې، لهذا دغه شان ئې هم لوستلې شی. (۵)
امام ابوعبيد رحمه الله هم دا په سکون د باء سره روايت کړې دې. (٦)
﴿خبائث﴾ د ﴿خبيثة﴾ جمع ده.
د ﴿ الخبث ﴾ او ﴿ الخبائث ﴾ نه څه مراد دې؟: امام خطابی رحمه الله فرمائی چه د دې نه مراد ﴿ذکران الشياطين واناثهم﴾ مراد دی. (۷)
اصل کښې د ﴿خبث﴾ معنی د شر او کفر ده، بعض حضرات فرمائی چه د ﴿خبث﴾ نه مراد شياطين او د ﴿خبائث﴾ نه مراد معاصی دی.
د ﴿خبث﴾ بالضم نه مذکر شياطين او د ﴿خبائث﴾ نه مونث شياطين مراد کړې شوې دی او که ﴿خبث﴾ په سکون سره وی نو په دې کښې په د شر او کفر معنی وی او د خبائث نه به ټول خبيث څيزونه او احوال خبيثه مراد وی، په دې وجه د بالضم په مقابله کښې په بالسکون کښې عموم زيات دې، مذکر او مؤنث شياطين هم په ذې کښې داخليږی او نور خبائث هم
ابن الاعرابی رحمه الله فرمائی چه د عربو په کلام کښې ﴿خبث﴾ هر ناخوښه او مکروه څيز ته وئيلې شی، که په کلام کښې دننه خبث وی نو کنځل مراد دی، که ملل په دې متصف کړې

---

۱) شرح النووی علی صحيح مسلم ج ٤ ص ۲۹۳، کتاب الطهارة، باب ما يقول اذا اراد دخول الخلاء
۲) اصلاح غلط المحدثين ص ٤۸، ٤۹، ومعالم السنن ج ۱ ص ۱٦، کتاب الطهارة، باب ما يقول اذا دخل الخلاء.
۳) شرح النووی علی صحيح مسلم ج ٤ ص ۲۹۳، کتاب الطهارة، باب ما يقول اذا اراد دخول الخلاء
٤) پورته حواله
۵) المصباح المنير للفيومی ج ۱ ص ۱٦۲، مادة : خبث
٦) انظر غريب الحديث لابی عبيد القاسم بن سلام ج ۱ ص ٤۱٦، واصلاح غلط المحدثين ص ٤۸، ٤۹
۷) معالم السنن ج ۱ ص ۱٦، کتاب الطهارة، باب ما يقول اذا دخل الخلاء.

شي نو مراد به تري کفر وي، که مطعومات پرې متصف کړې شي نو مراد به ترې حرام وي، که د مشروبات دپاره استعمال کړې شي نو د دې نه به ضار يعنى نقصان ورکونکې معنى اخستلې شي. (۱) والله اعلم

دا دعا بالاتفاق مستحب ده او بيت الخلاء ته د تلو په مجمع عليه ادابو کښې ده. (۲) رسول الله ﷺ به د تعبد په طور لوستله، ځکه چه هغه د شيطان د شر نه محفوظ وو، د امت د تعليم دپاره به ئې ځائې په ځائې لوستله. صلى الله عليه وسلم

فائده د ابن عساکر رحمه الله په نسخه کښې دلته دا عبارت هم دې: ﴿ قال ابوعبدالله يعنى البخارى ويقال الخبث ﴾ يعنى امام بخارى رحمه الله فرمائى چه دا لفظ د باء په سکون سره هم لوستلې شوې دې. اوس که د باء سکون د ضمې نه تخفيف کولو سره لوستلې شوې وى نو د هغې معنى تفصيلا تيرې شوې او که د دې نه مخفف نه وى نو بيا دا د شر او کفر په معنى کښې دې، لکه چه د ابن الاعرابى رحمه الله په جوالې سره تفصيل بيان کړې شوې دې. (۳)

﴿ تَابَعَهُ ابْنُ عَرْعَرَةَ عَنْ شُعْبَةَ وَقَالَ غُنْدَرٌ عَنْ شُعْبَةَ إِذَا أَتَى الْخَلَاءَ وَقَالَ مُوسَى عَنْ حَمَّادٍ إِذَا دَخَلَ وَقَالَ سَعِيدُ بْنُ زَيْدٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَدْخُلَ ﴾

د ذکر شوې تعليقاتو د ذکر کولو مقصد: دلته امام بخارى رحمه الله په درې قسمه رواياتو کښې فرق او تطبيق کول غواړى.

په يو روايت کښې د ﴿ اذا دخل ﴾ الفاظ دى، په بل روايت کښې د ﴿ اذا اتى الخلاء ﴾ الفاظ دى او په دريم روايت کښې د ﴿ اذا اراد ان يدخل ﴾ الفاظ دى.

د ادم عن شعبة په طريق کښې د ﴿ اذا دخل الخلاء ﴾ الفاظ راغلې دى، محمد بن عرعره د ادم متابعت تامه کړې دې او بعينه هم دا الفاظ ئې نقل کړې دى.

او د موسى بن حماد عن عبد العزيز بن صهيب په طريق سره هم دا الفاظ نقل دى، خو دا متابعت قاصره دې.

د دې طرق په مقابله کښې د غندر عن شعبة په طريق کښې د ﴿ اذا دخل الخلاء ﴾ په ځائې ﴿ اذا اتى الخلاء ﴾ الفاظ دى. په دواړو کښې فرق واضح دې چه ﴿ دخل ﴾ په ظاهره کښې د هغه مواضع سره خاص دې کوم چه د قضاء حاجت دپاره جوړ کړې شوې وى او ﴿ اتى ﴾ د خپل عموم د وجې نه بيوت الخلاء او ميدان ټولو ته شامل دې.

بيا روايت ﴿ اذا دخل ﴾ يا ﴿ اذا اتى ﴾ دواړه قسمه روايتونو نه واضح نه دې چه آيا دا دعا به د داخليدو نه پس لوستلې شي يا د هغې نه مخکښې.

---

۱) پورته حواله اوګورئ

۲) شرح النووى على صحيح مسلم ج ٤ ص ٢٩٤، کتاب الطهارة، باب ما يقول اذا اراد دخول الخلاء

۳) اوګورئ فتح البارى ج ۱ ص ۲۴۳

خو ﴿ سعيد بن زيد عن عبد العزيز ﴾ په طريق سره الفاظو دا هم واضحه کړه چه دلته د دخول اراده مراد ده، ځکه چه الفاظ دی : ﴿ اذا اراد ان يدخل ﴾ والله اعلم

د مذکوره متابعات او تعليقات تخريج

① **ابن عرعره عن شعبه** : دا روايت امام بخاری رحمه الله وړاندې په کتاب الدعوات باب الدعاء عند الخلاء کښې تخريج کړې دې. (۱)

② **وقال غندر عن شعبه** : حافظ او علامه عينی رحمهما الله فرمائی چه دا روايت ﴿ غندر عن شعبة عن عبد العزيز ﴾ په طريق سره په مسند بزار کښې بعينه هم په دې الفاظو سره مروی دی او په مسند احمد کښې د ﴿ اذا اتى الخلاء ﴾ په ځائې ﴿ اذا دخل ﴾ الفاظ دی. (۲)

خو سره د تتبع او تلاش نه مونږ ته په مسند بزار کښې دا روايت ملاؤ نه شو، او په مسند احمد کښې بعينه هم دا الفاظ يعنی ﴿ اذا اتى الخلاء ﴾ الفاظ په ذکر شوی سند سره موجود دی(۳)

③ **موسى عن حماد** : ﴿ موسى بن اسماعيل التبوذکی عن حماد، عبد العزيز بن صهيب عن انس ﴾ په طريق سره دا روايت امام بيهقی رحمه الله په السنن الكبرى کښې موصولا نقل کړې دې. (٤)

④ **سعيد بن زيد، حدثنا عبدالعزيز** : دا روايت امام بخاری رحمه الله په الادب المفرد کښې موصولا تخريج کړې دې، پس فرمائی : ﴿ حدثنا ابو النعمان، حدثنا سعيد بن زيد، حدثنا عبد العزيز بن صهيب قال حدثنی انس قال : کان النبی ﷺ اذا اراد ان يدخل الخلاء قال.. ﴾(۵)

دا سعيد بن زيد د مشهور محدث حماد بن زيد بن درهم رور دې، په هغه باندې اګر چه بعض حضرانو کلام کړې دې او حافظ ابن حجر رحمه الله هغه ته ﴿ صدوق له اوهام ﴾(۶) وئيلې دی خو د امام بخاری رحمه الله سره سره ډير محدثينو د هغه تعديل او توثيق کړې دې. (۷) کما سيأتی ترجمته ان شاء الله تعالى

د دې نه علاوه په سنن کبری کښې د دې متابع روايت هم موجود دې. (۸)

---

۱) اوګورئ : صحيح البخاری ج ۲ ص ۹۳۶، رقم ۶۳۲۲

۲) اوګورئ : فتح الباری ج ۱ ص ۲٤٤، وعمدة القاری ج ۲ ص ۲۷۲

۳) اوګورئ : مسند احمد ج ۳ ص ۲۸۲، رقم ۱٤٠٤٤، مسند انس بن مالک رضي الله عنه

٤) اوګورئ : السنن الكبرى للبيهقی ج ۱ص ۹۵، طبع قديم و ج ۱ ص ۱۵٤ طبع جديد، رقم ٤۵۲

۵) الادب المفرد ص ۲٤٠، کتاب الاذکار، باب دعوات النبی ﷺ رقم ۶۹۲

۶) تقريب التهذيب ص ۲۳۶، رقم ۲۳۱۲

۷) اوګورئ . تحرير تقريب التهذيب ج ۲ ص ۲۹ و ۳۰، رقم ۲۳۱۲

۸)قال البيهقی رحمه الله:ثنا مسدد،ثنا عبدالوارث، عن عبدالعزيز، عن انس ان رسول الله صلى الله عليه وسلم کان اذا اراد الخلاء قال...السنن الكبرى للبيهقی ج۱ ص ۹۵، طبع قديم ج ۱ ص۱۵٤، طبع جديد رقم ٤۵۳

رجال الحديث

① **محمد بن عرعره** : دا محمد بن عرعره بن البرند القرشی السامی رحمه الله دې، د هغه حالات په کتاب الایمان، باب خوف المؤمن من ان يحبط عمله وهولا يشعرد لاندې تير شوي دي. (۱)

② **شعبة** : دا امیر المومنین فی الحدیث امام شعبه بن الحجاج عتکی بصری رحمه الله دې. د هغوی حالات هم په مذکوره کتاب او باب کښې تير شوي دي. (۲)

③ **غندر** : دا ابو عبدالله محمد بن جعفر المعروف بغندر الهذلی رحمه الله دې، د هغه حالات په کتاب الايمان د باب ظلم دون ظلم د لاندې تير شوي دي. (۳)

④ **موسی** : دا ابو سلمه موسی بن اسماعیل تبوذکی بصری رحمه الله دې. د هغوی حالات په کتاب بدء الوحی کښې د څلورم حديث د لاندې مختصر او په کتاب العلم کښې د باب من اجاب الفتيا باشارة اليد والراس د لاندې تفصيلا ذکر شوي دي. (٤)

⑤ **حماد** دا امام ابو سلمه حماد بن سلمه بن دينار الربعی البصری رحمه الله دې. (۵)

هغه د ايوب سختيانی، ثابت بنانی، حماد بن ابی سليمان، حميد الطويل، خالد الحذاء، ربيعه بن ابی عبدالرحمن، زيد بن اسلم، د خپل والد سلمه بن دينار، سليمان التيمی، سهيل بن ابی صالح، عبدالعزيز بن صهيب، عمرو بن دينار المکی، محمد بن اسحاق، هشام بن حسان او ابو التياح يزيد بن حميد الضبعی رحمهم الله وغيره روايت کوی.

دهغه نه په روايت کونکو کښې ادم بن ابی اياس، روح بن عباده، سفيان الثوری، (وهومن اقرانه)، سليمان بن حرب، ابوداؤد طيالسی، امام شعبه، (وهو اکبر منه) امام عبدالله بن مبارک، عبدالله بن مسلمه القعنبی، امام عبدالرحمن بن مهدی، عبد الصمد بن عبدالوارث، عبد الملک بن عبدالعزيز بن جريج، عفان بن مسلم، امام ابو نعيم، امام مالک بن انس (وهومن اقرانه)، ابو النعمان بن الفضل عارم، ابو سلمه موسی بن اسماعيل تبوذکی، نضر بن شميل، امام وکيع، امام يحيی بن سعيد القطان او يزيد بن هارون رحمهم الله په شان ډير اساطين حديث شامل دی. (۶) دې د حميد الطويل رحمه الله خورئې دې. (۷)

---

۱) کشف الباری ج ۲ص ۵۵۷
۲) کشف الباری ج ۱ ص ۶۷۸
۳) کشف الباری ج ۲ ص ۲۵۰
٤) کشف الباری ج ۱ ص ٤۳۳، ج ۳ ص ٤۷۷
۵) اوګورئ: تهذيب الکمال ج ۷ ص ۲۵۳، رقم ۱٤۸۲
۶) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الکمال ج ۷ ص ۲۵٤ تا ۲۵۹
۷) تهذيب الکمال ج ۷ ص ۲۵۹

امام احمد رحمه الله فرمائی : ﴿حماد بن سلمة اثبت الناس فی حميد الطويل، سمع منه قديما﴾(۱)
یعنی حماد بن سلمه د خپل ماما حمید الطویل په راویانو کښې د ټولو نه مضبوط دې، د هغوی نه د هغه سماع قدیم ده.

امام یحیی بن معین رحمه الله فرمائی : ﴿حماد بن سلمة ثقة﴾(۲)

هم دغه شان هغه فرمائی : ﴿اثبت الناس فی ثابت البنانی حماد بن سلمة﴾(۳)

امام ابن المدینی رحمه الله فرمائی : ﴿لم یکن فی اصحاب ثابت اثبت من حماد بن سلمة﴾(٤)

هم دغه شان فرمائی : ﴿هو عندی حجة فی الرجال، وهو اعلم الناس بثابت البنانی وعمار بن ابی عمار، ومن تکلم فی حماد فاتهموه فی الدین﴾(۵) یعنی هغه زما په نزد په (علم) رجال کښې حجت دې، د ثابت بنانی او عمار بن ابی عمار نه په روایت کونکو کښې د ټولو نه زیات علم والا دې، څوک چه په هغه باندې کلام کوی هغه دینی اعتبار سره متهم اوګنړئ.

حجاج بن منهال رحمه الله فرمائی : ﴿حدثنا حماد بن سلمة، وکان من ائمة الدین﴾(٦)

امام عبد الرحمن بن مهدی رحمه الله فرمائی : ﴿حماد بن سلمة صحیح السماع، حسن اللقی، ادرک الناس، لم یتهم بلون من الالوان، ولم یلتبس بشیئ، احسن ملکة نفسه ولسانه، ولم یطلقه علی احد، ولا ذکر خلقا بسوء، فسلم، حتی مات﴾(۷)
یعنی حماد بن سلمه صحیح السماع دې، د مشائخو سره د هغه ښه ملاقاتونه دی، لوئې لوئې خلق ئې موندلې دی، په هیڅ قسم عیب سره متهم شوې نه دې، نه په یو څیز کښې ملوث شوې دې، په خپل نفس او ژبه باندې ئې ښه قابو بیا موندلې دې، د چا په باره کښې ئې خپله ژبه بې ځایه نه ده سپړدلې، د چا ئې په عیب سره ذکر نه دې کړې، پس د هر عیب نه صحیح سلامت پاتې کیدو سره رخصت شو.

امام عبد الله بن المبارک رحمه الله فرمائی : ﴿دخلت البصرة، فما رایت احدا اشبه بمسالك الاول من حماد بن سلمة﴾(۸) یعنی زه بصرې ته داخل شوم نو د حماد بن سلمه نه مې زیات د سلفو په لاره باندې روان څوک بیا نه موندل

---

۱) پورته حواله
۲) تهذیب الکمال ج ۷ ص ۲٦۲
۳) پورته حواله
٤) تهذیب الکمال ج ۷ ص ۲٦۳
۵) سیر اعلام النبلا ج ۷ ص ٤٤٦
٦) تهذیب الکمال ج ۷ ص ۲٦۳
۷) تهذیب الکمال ج ۷ ص ۲٦۳، ۲٦٤
۸) تهذیب الکمال ج ۷ ص ۲٦٤

ابن سعد رحمه الله فرمائي ﴿وكان حماد بن سلمة ثقة كثير الحديث﴾(۱)

وهيب رحمه الله فرمائي: ﴿كان حماد بن سلمة سيدنا، وكان حماد اعلمنا﴾(۲)

امام ابن القطان رحمه الله فرمائي: ﴿هو احد الاثبات في الحديث، ومتحقق بالفقه، ومن اصحاب العربية الاول﴾(۳) يعنى هغه په علم حديث كښې د اثبات نه وو، په فقه كښې محقق او په اولين اصحاب عربيت كښې وو.

ابو الفتح ازدي رحمه الله فرمائي: ﴿هو امام في الحديث وفي السنة، صدوق، حجة، من ذكره بشيء وانه يريد شينه، وهو مبراعنه﴾(٤) يعنى هغه په حديث او سنت كښې امام، صدوق او حجت دې، څوك چه په هغه باندې طعن كولو سره څۀ كلام كوي هغه د هغې نه برى دې.

ساجي رحمه الله فرمائي: ﴿كان رجلا حافظا، ثقة، مامونا، لايطعن عليه الاضال مضل﴾(۵)
يعنى هغه حافظ. ثقه او مامون وو. په هغه باندې صرف ګمراه يا ګمراه كونكې انسان طعن كولې شي.

امام عجلي رحمه الله فرمائي: ﴿ثقة، رجل صالح، حسن الحديث﴾(٦)

ابن عيينه رحمه الله فرمائي: ﴿عالم بالله، عالم بالعلم﴾(۷)
حماد بن سلمه د علم حديث سره سره د فقه او عربيت هم امام وو.

امام يونس رحمه الله فرمائي: ﴿من حماد بن سلمة تعلمت العربية﴾(۸)
يحيى يزيدي په خپله مرثيه كښې وائي:

الطالب النحو الا فابكه بعد ابي عمرو وحماد (۹)

يعنى اې د نحو طالب علمه! د ابو عمرو او حماد نه پس اوس په نحو باندې اوژاړه.
د نحو امام سيبويه د عربيت د علم د حاصلولو نه مخكښې د حماد مجلس ته تللو، يو كرت ئې د هغه د مستملي په حيثيت سره خلقو ته د هغه حديث رسولو چه شيخ اوفرمائيل: ﴿قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما احد من اصحابي الا وقد اخذت عليه الا ابا الدرداء﴾ امام سيبويه املاء

---

۱) طبقات ابن سعد ج ۷ ص ۲۸۲
۲) الجرح والتعديل ج ۳ ص ۱۵۵، رقم ۲۶۳/۲۹۱۶
۳) اكمال تهذيب الكمال ج ٤ ص ۱٤٤
٤) پورته حواله
۵) پورته حواله
٦) معرفة الثقات للعجلي ج ۱ ص ۳۱۹، ۳۲۰، رقم ۳۵٤، واكمال تهذيب الكمال ج ٤ ص ۱٤۵
۷) اكمال تهذيب الكمال ج ٤ ص ۱٤۷
۸) سير اعلام النبلاء ج ۷ ص ٤۵۰
۹) اكمال تهذيب الكمال ج ٤ ص ۱٤۳

کولو سره اوئیل : ﴿لیس ابوالدرداء﴾ شیخ ورته فورا لقمه ورکړه چه سیبویه! تا غلطی اوکړه، دا ﴿لیس ابا الدرداء﴾ دې، سیبویه اووې دا علم حاصلول ضروری دی، چه د هغې د حصول نه پس ځوك غلطی نه شی راویستلې. پس د هغې نه روستو هغه د نحو په طلب کښې اولګیدو او د امام خلیل نحوی رحمه الله شاګردی ئې اختیار کړه. (۱)

د ابن القطان رحمه الله قول مخکښې تیر شوې شوې دې!

﴿هو احد الاثبات في الحديث، ومتحقق بالفقه، ومن اصحاب العربية الاول﴾

د علم او فن د دومره اوچت مقام سره سره امام حماد بن سلمه رحمه الله د اعلی درجې عبادت ګزار او د ورع او تقوی سره هم متصف وو.

د هغه د عبادت اندازه تاسو د دې نه اولګوئ چه امام عبدالرحمن بن مهدی رحمه الله فرمائی که حماد بن سلمه رحمه الله ته اوئیلې شی چه ستاسو مرګ به صبا له واقع کیږی نو هغوی سره به په عبادت کښې د مزید اضافې د پاره هیڅ نه وی. (۲)

عفان رحمه الله فرمائی : د حماد بن سلمه نه زیات عبادت ګزار خو ما لیدلې دې خو د هغه په شان د خیر کارونو لره په پابندئ سره کونکې، د قران کریم تلاوت کونکې او اخلاص سره هر کار انجام ته رسونکې ما بل ځوك نه دې لیدلې. (۳)

د وخت قدر څنګه کولې شی؟ د دې خبرې اندازه د دې نه اولګوئ چه موسی بن اسماعیل تبوذکی رحمه الله فرمائی چه که زه اوایم چه ما کله هم حماد په خندا باندې نه دې لیدلې نو زه به په خپله خبره کښې رشتینې یم ځکه چه هغه به همیشه په څه نه څه کار کښې مشغول وو، یا خو به ئې حدیث اورولو یا به ئې تلاوت کولو، یا به په تسبیح او تهلیل کښې مشغول شو، یا به په مانځه کښې وو، خپله ټوله ورځ هغوی دغه شان تقسیم کړې وه. (٤)

ابن حبان رحمه الله فرمائی : ﴿وكان من العباد المجابين الدعوة﴾ (٥)

یعنی د هغوی شمیر په مستجاب الدعوات عبادت کونکو کښې کیدو.

د امام حماد بن سلمه رحمه الله په حفظ او اتقان او جلالت شان باندې اتفاق دې، شاته چه کوم د ائمه جرح وتعدیل اقوال نقل کړې شوې دی، د هغې ټولو نه دا خبره واضحه کیږی.

خو د هغوی په احادیثو کښې څه غرائب او اوهام موندلې شی، چه د هغې نه ډیر امام ابن عدی رحمه الله په خپل کتاب کښې نقل کړې دی. (٦)

---

۱) اوګورئ : اکمال تهذیب الکمال ج ٤ ص ۱٤۳، والجامع لاخلاق الراوی واداب السامع : ج ۲ ص ۸٤، اتباع المستملی لفظ الحدیث رقم ۱۲۲٤

۲) سیر اعلام النبلاء ج ۷ ص٤٤۷

۳) پورته حواله

٤) سیر اعلام النبلاء ج ۷ ص٤٤۷، ٤٤۸

٥) الثقات لابن حبان ج ٦ ص ۲۱٦

٦) اوګورئ : الکامل لابن عدی ج ۲ ص ۲٥۹ تا ۲٦٦

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی : ﴿ وكان ثقة له اوهام ﴾ (۱)

هم دغه شان هغه فرمائی : ﴿ وله اوهام فی سعة ما روی ﴾ (۲)

بل ځائې کښې فرمائی : ﴿ امام ثقة، له اوهام وغرائب ﴾ (۳)

ابن سعد فرمائي: ﴿ وربما حدث بالحديث المنكر ﴾ (۴)

د حماد بن سلمه رحمه الله په باره کښې محدثینو دا هم تصریح کړې ده چه په اخر عمر کښې د هغوی په حافظه کښې معمولی بدلون راغلې وو، خو دا تغير د اختلاط حد ته نه وو رسيدلې.

هم دا وجه ده چه هغه لره ابن الكيال په خپل كتاب الكواكب النيرات کښې، حافظ علائی رحمه الله په خپل کتاب کتاب المختلطين کښې، او هم دغه شان برهان حلبی رحمه الله په خپل کتاب الاغتباط بمن رمی بالاختلاط کښې نه دي ذکر کړي.

خو د دې کتابونو محققينو د تتمه او محلق په طور د هغوی تذکره کړې ده. (۵)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : ﴿ احد الائمة الاثبات، الا انه ساء حفظه فی الاخر ﴾ (۶)

يعنی هغه د ثبت ائمه کرامو نه يو دې خو په اخره کښې د هغوی حافظه خرابه شوې وه.

امام بيهقی رحمه الله په خلافيات کښې ليکلې دی!

﴿ هو احد الائمة المسلمين، الا انه لما طعن فی السن، ساء حفظه، فلذلك ترك البخاری الاحتجاج بحديثه، واما مسلم فانه اجتهد واخرج من حديثه عن ثابت ما سمع منه قبل تغيره، وما سوى حديثه عن ثابت لايبلغ اكثر من اثنی عشر حديثا، اخرجها فی الشواهد دون الاحتجاج، واذا كان الامر على هذا فالاحتياط لمن راقب الله تعالی، لايحتج بحديثه بما يجد فی حديثه مما يخالف الثقات ﴾ (۷)

يعنی حماد بن سلمه د ائمة المسلمين يو امام دې، خو چه عمر ئې زيات شو نو حافظه ئې خرابه شوه، هم په دې وجه امام بخاری رحمه الله د هغه په حديث سره احتجاج نه دې کړې، او امام مسلم رحمه الله د هغه صرف هغه احاديث تخريج کړې دی کوم چه هغه د ثابت رحمه الله نه د تغير نه مخکښې روايت کولو د هغه احاديثو نه علاوه ئې د نورو نه څو احاديث په طور د استشهاد تخريج کړې دی بغير د احتجاج کولو نه، د داسې احاديثو تعداد په د دولسو نه زيات نه

---

۱) ميزان الاعتدال ج ۱ ص ۵۹۰

۲) سير اعلام النبلاء ج ۷ ص ٤٤٦

۳) المغنی فی الضعفاء ج ۱ ص ۱۷۱۱

٤) الطبقات لابن سعد : ۷/ ۲۸۲.

۵) اوګورئ : الكواكب النيرات ص ٤٦٠، ٤٦١، محلق اولو ونهاية الاغتباط ص ۹۶، وکتاب المختلطين للعلائی ص ۲۵، ۲۶

۶) هدی الساری ص ۵۶۷

۷) اكمال لتهذيب الكمال لمغلطائی ج ۵ ص ۱٤۵

وی، چه کله د هغه دا حال دې نو څوك چه د الله پاك نه ویره کوی د هغه دپاره احتیاط دا دې چه د هغوی د داسې احادیثو نه استدلال او احتجاج اونکړې شی چه په کومو کښې هغه د ثقات راویانو مخالفت کوی

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : ﴿ استشهد به البخاری تعلیقا، ولم یخرج له احتجاجا، ولا مقرونا، ولا متابعة الافی موضع واحد، قال فیه : قال لنا ابو الولید، حدثنا حماد بن سلمة فذکره، وهو فی کتاب الرقاق، وهذه الصیغة یستعملها البخاری فی الاحادیث الموقوفة وفی المرفوعة أیضا إذا کان فی إسنادها من لا یحتج به عنده واحتج به مسلم والأربعة لکن قال الحاکم لم یحتج به مسلم إلا فی حدیث ثابت عن أنس وأما باقی ما أخرج له فمتابعة زاد البیهقی أن ماعدا حدیث ثابت لایبلغ عند مسلم اثنی عشر حدیثا والله أعلم ﴾(۱)

یعنی امام بخاری رحمه الله د حماد بن سلمه رحمه الله روایت تعلیقا په طور د استشهاد ذکر کړې دې، هغه هم صرف په یو مقام باندې، د هغه نه علاوه ئې په یو ځائې کښې هم د هغه روایات احتجاجا، یا متابعة، یا مقرونا نه دی ذکر کړی، چرته چه ئې د هغه روایات نقل کړی دی په هغې کښې ئې هم د ﴿ قال لنا ﴾ الفاظ سره نقل کړې دې او دا صیغه امام بخاری رحمه الله د احادیث موقوفه په باره کښې ذکر کوی، یا بیا د داسې مرفوع احادیثو دپاره چه د هغې په سندونو کښې یو سړې د هغه په نزد د احتجاج قابل نه وی.

او د امام حماد بن سلمه رحمه الله نه امام مسلم او اصحابه سنن اربعه احتجاج کړې دې، خو امام حاکم رحمه الله فرمائی چه امام مسلم رحمه الله هم د حماد د صرف هغه روایاتو انتخاب کړې دې کوم چه هغه د ﴿ ثابت عن انس ﴾ په طریق سره نقل کوی، باقی روایات ئې متابعة تخریج کړې دی، امام بیهقی رحمه الله په دې باندې زیاتی دا خبره ارشاد فرمائیلې ده چه د داسې زائد روایاتو تعداد د دولسو نه زیات نه دې.

حافظ رحمه الله په کتاب الرقاق کښې د ذکر شوې مقام معلق کیدل نه بلکه موصول کیدو ته راجح وئیلې دی، ځکه چه دلته د ﴿ قال لنا ﴾ په صیغې سره دې او په دې سره مقصود دا دې چه حافظ مزی رحمه الله چه د هغوی په ترجمه کښې کوم د ﴿ خت ﴾ یعنی ﴿ البخاری تعلیقا ﴾ علامت لیکلې دې (۲) هغه صحیح کیدل نه دی پکار، بلکه دا حدیث موصول دې. (۳)

حاصل دا چه حماد بن سلمه رحمه الله د کتب خمسه د رجال نه دې، د صحیح بخاری د رجال نه نهٔ دې.

امام ابن حبان رحمه الله په دې باندې د سختې ناراضګئ اظهار کړې دې، پس هغه فرمائی!

﴿ ولم ینصف من جانب حدیثه واحتج بأبی بکر بن عیاش فی کتابه وبابن اخی الزهری وبعبد الرحمن بن عبد الله

---

۱) هدی الساری ص ۵٦٧، ۵٦۸

۲) اوګورئ : تهذیب الکمال ج ٧ ص ۲۵۳، رقم ۱۴۸۲

۳) قال الحافظ رحمه الله: قوله : قال لنا ظاهر فی الوصل وان کان بعضهم قال انها للاجازة أو للمناولة أو للمذاکرة فکل ذلک فی حکم الموصول.فتح الباری ج ۱۱ ص ۲۵٦، کتاب الرقاق، باب ما یتقی من فتنة المال

بن دینار فان کان ترکه إیاه لما کان یخطئ فغیره من أقرانه مثل الثوری وشعبة ودونهما وکانوا یخطئون فان زعم أن خطأه قد کثر من تغیر حفظه فقد کان ذلك فی أبی بکر بن عیاش موجودا وأنی یبلغ أبوبکر حماد بن سلمة ولم یکن من أقران حماد مثله بالبصرة فی الفضل والدین والعلم والنسك والجمع والکتبة والصلابة فی السنة والقمع لأهل البدعة ولم یکن یثلبه فی أیامه إلا قدری أو مبتدع جهمی لما کان یظهر من السنن الصحیحة التی ینکرها المعتزلة وأنی یبلغ أبوبکر بن عیاش حماد بن سلمة فی إتقانه أو فی جمعه أم فی علمه أم فی ضبطه ﴾ (۱)

یعنی د هغه د احادیثو نه چه چا احتراز کړې دې هغه د انصاف نه کار نه دې اخستلې، حال دا چه هغوی د ابوبکر بن عیاش، ابن اخی الزهری، عبدالرحمن بن عبدالله بن دینار نه احتجاج کړې دې.

که حماد بن سلمه لره هغوی د هغه د خطاګانو د وجې نه پریخودلې دې نو د امام سفیان ثوری، امام شعبه او د هغوی نه علاوه د هغه د نورو همزولو نه هم خطاء واقع شوې ده.

او که دا دعوی ده چه د هغه غلطیانې د حافظې د تغیر د وجې نه دی نو دا خبره په ابوبکر بن عیاش کښې هم ده، او حال دا چه ابوبکر بن عیاش د حماد بن سلمه درجې ته نه شی رسیدلې، د حماد بن سلمه اقران په بصره کښې د فضل، دین، علم، عبادت، جمع حدیث، کتابت حدیث او په سنت کښې تصلب او د اهل بدعت د بیخ ویستلو په اعتبار سره څوك هم د هغوی برابر نه وو. د هغوی په زمانه کښې چونکه هغوی د صحیح عقائد او سنتو اظهار کولو، چه د هغې نه به معتزله انکار کولو، په دې وجه په هغوی باندې عیب لګونکې به څوك قدری یا جهمی مبتدع وو. ابوبکر بن عیاش د حماد بن سلمه ضبط او اتقان، جمع حدیث او د علم پوخ والی ته نه شی رسیدلې.

تنبیه : د حماد بن سلمه رحمه الله د ورع، تقوی او تدین وعبادت په باره کښې تاسو په مخکښې صفحاتو کښې لوستلې دی!

د دې ټولې تقوی او تدین او تورع باوجود د هغوی نه د امام الائمه، سراج الامة ابو حنیفة النعمان علیه الرحمة والرضوان په شان کښې داسې اقوال منقول دی کوم چه د هغه د شان عالی سره هرګز شایان نه دی، بلکه د هغوی اقوالو لره به په اول کرت لوستلو سره سلیم العقل انسان وائی چه دا اقوال د هغه بالکل نه شی کیدې!!! خو دا هم حقیقت دې چه مؤرخین خاص طور سره په امام ابوحنیفه رحمه الله باندې خاص کرم کونکې، امام خطیب بغدادی رحمه الله دا اقوال نقل کړی دی. (۲)

د دې قسم ټولو اقوالو په باره کښې اول خو زمونږ ګمان هم دا دې چه د هغه په شان بزرګانو ته د هغې نسبت صحیح نه دې، او که ثابت هم شی نو د امام صاحب رحمه الله د شان او درجې د الله پاك په نزد د اوچتیدو سبب دې.

۱) الثقات لابن حبان ج ۶ ص ۲۱۶، ۲۱۷، وانظر الاحسان بترتیب صحیح ابن حبان ج ۱ ص ۱۴۱ تا ۱۴۳
۲) اوګورئ : تاریخ بغداد ج ۱۳ ص ۳۹۰، ۳۹۱، ۴۰۶، ۴۰۷

كفرائر الحسناء قلن لوجهها حسدا وبغضا انه لدميم

د ښکلې او ډولې ښځې بنې د حسد او بغض د وجې نه د هغې صورت بدرنګ بيانوي.
د دې اقوالو او د دې په شان نورو هفواتو دندان شکن جواب د دې دوران محقق، علامه محمد زاهدی الکوثری رحمه الله ورکړې دې، د هغه د کتاب تانيب الخطيب على ما ساقه في ترجمة ابي حنيفة من الاكاذيب.... مطالعه دې ضرور اوکړې شي. (۱)
علامه قاسم بن قطلوبغا رحمه الله د هم داسې خلقو په باره کښې فرمائيلې دي!

كذب الذى نسب المائم للذى قاس المسائل بالكتاب وبالاثر

ان الكتاب وسنة المختار قد دلاعليه فدع مقالة من فشر(۲)

هغه سړې دروغ وائي کوم چه د هغه سړي طرف ته د ګناه نسبت کوي چا چه د کتاب او سنت په بنياد باندې د قياس نه کار اخستلې دې، بيشکه د کتاب الله او سنت رسول ﷺ د داسې قياس په صحت باندې دال دی، لهذا د بکواس کونکی اقوال پريږده.
يو اهم فائده : حماد بن سلمه او حماد بن زيد رحمهما الله د شيوخ او تلامذه په اعتبار سره کافي اشتراك لري، په داسې صورت کښې که څوك د حماد نه روايت کوی او د والد وغيره نوم ذکر نه کړی نو هلته د قرائن ضرورت راځي چه دلته کوم حماد مراد دې.
په دې سلسله کښې حافظ مزی رحمه الله څه منضبط کلام کړې دې. (۳) کوم چه حافظ ذهبی رحمه الله لږ په تفصيل سره ليکلې دې.
حاصل د هغې دا دې چه ددې دواړو په مشترك شيوخ کښې انس بن سيرين، ايوب سختيانی، الازرق بن قيس، اسحاق بن سويد، برد بن سنان، بشر بن حرب، بهز بن حکيم ثابت بنانی، الجعد ابو عثمان، حميد الطويل، خالد الحذاء، داؤد بن ابی هند، سعيد بن اياس الجريری، شعيب بن الحجاب، عاصم بن ابی النجود، عبدالله بن عون، عبيدالله بن ابی بکر بن انس، عبيدالله بن عمر، عطاء بن السائب، علی بن زيد، عمرو بن دينار، محمد بن زياد، محمد بن واسع، مطر الوراق، ابو جمره الضبعی، هشام بن عروه، هشام بن حسان، يحيی بن سعيد الانصاری، يحيی بن عتيق او يونس بن عبيد رحمهم الله شامل دی.
او د هغوی په مشترك شاګردانو کښې عبدالرحمن بن مهدی، وکيع بن الجراح، عفان بن مسلم، حجاج بن منهال، سليمان بن حرب، شيبان بن فروخ، عبدالله بن مسلمة القعنبی،

---

۱) په امام ابوحنيفه رحمه الله باندې د لګيدلي بهتانونو او الزاماتو د ترديد دپاره زمونږ د شيخ محدث شهير. مدقق کبير. شيخ عبدالفتاح ابو غده رحمه الله جامع کلام دې ضرور مطالعه کړې شي، کوم چه هغه د امام ابن عبدالبر د کتاب "الانتقاء فی فضائل الائمة الثلاثة الفقهاء" په حاشيه باندې ليکلې دې، دا کلام د کتاب د صفحه ۲۳۰ نه تر ۲۵۵ پورې خور شوې دې.
۲) اوګورئ: تأنيب الخطيب، ص: ۱۹۰، قال الزبيدی فی تاج العروس (۱۱۳\۳۲٤: الفشار: كغراب، (الذى تستعمله العامة بمعنى الهذيان)، وكذا التفشير، (ليس من كلام العرب)، وانما هو من استعمال العامة....
۳) تهذيب الكمال ج ۷ ص ۲۶۹

عبد الله بن معاويه جهمي، عبد الاعلى بن حماد، ابو النعمان محمد بن الفضل عارم، موسى بن اسماعيل (دې د حماد بن زيد نه صرف يو حديث روايت كوى) مؤمل بن اسماعيل، هدبة بن خالد، يحيى بن حسان، يونس بن محمد المؤدب رحمهم الله وغيره دى.

هغه حفاظ چه د حماد بن سلمه سره مختص دى او د هغه نه په كثرت سره روايت كوى هغه بهز بن اسد، حبان بن هلال، حسن بن اشيب او عمرو بن عاصم دى.

او كوم چه د حماد بن زيد سره مختص دى، حماد بن سلمه ته نه دى رسيدلى هغه امام على بن المدينى، احمد بن عبده، احمد بن المقدام، بشر بن معاذ العقدى، خالد بن خداش، خلف بن هشام، زكريا بن عدى، سعيد بن منصور، ابو الربيع الزهرانى القواريرى، عمرو بن عون، قتيبه بن سعيد، محمد بن ابى بكر المقدمى، لوين، محمد بن عيسى بن الطباع، محمد بن عبيد بن حساب، مسدد، يحيى بن حبيب او يحيى بن يحيى تميمى نه علاوه نور د هغوى څه اقران دى.

كه د دې حضراتو نه څوك يا د هغوى د طبقې يو سړې د حماد نه مبهمًا روايت كوى نو حماد بن زيد به مراد وى ځكه چه د دې طبقې حماد بن سلمه نه دې موندلې.

هم دغه شان كه په مشترك شاګردانو كښې چا په ابهام سره ﴿حدثنا حماد﴾ اووې او د والد وغيره نوم ئې وانخستلو نو د حماد شيخ ته به كتلې شى چه هغه څوك دې؟ كه شيخ ئې هم مشترك وى نو په دې كښې به تردد او توقف كولې شى او كه شيخ د يو سره مختص وى نو په هغې سره به د حماد تعيين كولې شى.

بيا د عفان بن مسلم عادت دې چه كله هم هغه د حماد بن زيد نه روايت كوى نو د پلار نوم ئې ذكر كوى او حماد بن زيد وائى، خو ډيره كرته د حماد بن سلمه نه روايت كولو سره مطلقا حماد وائى. د پلار نوم ئې نه ذكر كوى، بعينه هم دغه شان حجاج بن منهال او هدبه بن خالد هم كوى. او د سليمان بن حرب او عارم حال د دې برعكس دې چه كله هم هغه ﴿حدثنا حماد﴾ وائى نو په دې سره حماد بن زيد مقصود وى، نه حماد بن سلمة.

بيا موسى بن اسماعيل تبوذكى خو د حماد بن سلمه خصوصى راوى دې، لهذا كه هغه ﴿حدثنا حماد﴾ اووائى نو په دې سره به د هغوى مراد صرف او صرف ﴿حماد بن سلمه﴾ وى.

او كه سند د هر قسم قرينې نه خالى وى (او داسې ډير كم كيږى) نو په دې صورت كښې څه قطعى خبره نه شى كيدې چه دلته حماد بن زيد مراد دې يا حماد بن سلمه، بلكه تردد او توقف به كولې شى، يا به وئيلې شى چه دا حديث على الاقل د امام مسلم د شرط مطابق دې، ځكه چه امام مسلم رحمه الله د دواړو نه احتجاج كړې دې.

هم دغه شان اشتباه د سفيانين يعنى سفيان ثورى او سفيان بن عيينه ترمينځه هم كيږى.

دلته هم دغه شان ځان پوهه كول پكار دى چه د امام سفيان ثورى رحمه الله اصحاب قدماء او مشران دى او د ابن عيينه اصحاب كشران دى.

لهذا كه په قدماء او مشرانو كښې يو سړې مثلا امام وكيع، عبدالرحمن بن مهدى، فريابى او ابو نعيم رحمهم الله ﴿حدثنا سفيان﴾ اووائى نو مراد به سفيان ثورى وى، د دې طبقې حضرت كه د

ابن عيينه نه حديث روايت كوى نو هغوى وضاحت كولو سره بيانوى.
او پاتې شو هغه چه د هغوى د سفيان ثورى سره لقاء نه ده ثابت نو په داسې صورت كښ ظاهره ده چه د ﴿ حدثنا سفيان ﴾ نه به ابن عيينه مراد وى، په دې كښ هيڅ اشتباه نه پاتې كيږى. (۱) والله اعلم وعلمه اتم واحكم

يوه بله فائده : امام احمد بن حنبل او عبدالله بن معاويه رحمهما الله نه منقول دى چه د حماد بن سلمه بن دينار او حماد بن زيد بن درهم ترمينځه هم هغه تفاضل دې كوم چه د دينار په درهم باندې دې. يعنى جماد بن سلمه د حماد بن زيد نه افضل دې.
خو حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى چه دا افضليت په تدين او جلالت شان كښ خو ممكن دې، او هر چه د اتقان او ضبط تعلق دې، نو په دې كښ حماد بن زيد د حماد بن سلمه نه فائق دې، حماد بن زيد د تثبت په اعتبار سره د امام مالك رحمه الله برابر دې. (۲)
د حماد بن سلمه رحمه الله وفات په ۱۶۷ هجرى كښ شوې دې. (۳) رحمه الله رحمة واسعة

⑥ **سعيد بن زيد** : دا ابو الحسن سعيد بن زيدبن درهم ازدى بصرى رحمه الله دې. (٤)
دا د مشهور محدث حماد بن زيد بن درهم رحمه الله رور دې. (۵)
هغه د ايوب سختيانى، الجعد بن ابى عثمان، سنان بن ربيعه، عبدالعزيز بن صهيب، على بن زيد بن جدعان، عمرو بن خالد النكرى، ليث بن ابى سليم او هشام بن حسان رحمهم الله وغيره نه روايت كوى.
د هغوى نه په روايت كونكو كښ اسد بن موسى، حبان بن هلال، حسن بن موسى الاشيب، عبدالله بن المبارك، سليمان بن حرب، ابو عاصم النبيل، عفان بن مسلم، محمد بن الفضل عارم، ابو سلمه موسى بن اسماعيل او يزيد بن هارون رحمهم الله وغيره دى. (۶)
امام احمد رحمه الله فرمائى : ﴿ ليس به بأس ﴾ (۷)
امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى : ﴿ ثقة ﴾ (۸)
مسلم بن ابراهيم رحمه الله فرمائى : ﴿ سعيد بن زيد ابوالحسن صدوق حافظ ﴾ (۹)

---

۱) اوګورئ : سير اعلام النبلاء ج ۷ ص ٤٦٤ تا ٤٦٦، نهاية ترجمة حماد بن زيد
۲) اوګورئ : ميزان الاعتدال ج ۱ ص ۴۹۲، وسير اعلام النبلاء ج ۷ ص ٤٤٧
۳) سير اعلام النبلاء ج ۷ ص ٤٥٣
٤) تهذيب الكمال ج ۱۰ ص ٤٤١، ٤٤٢، رقم ۲۲۷۶
۵) پورته حواله
۶) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ : تهذيب الكمال ج ۱۰ ص ٤٤٢، ٤٤٣
۷) تهذيب الكمال ج ۱۰ ص ٤٤٣
۸) پورته حواله
۹) پورته حواله

سليمان بن حرب رحمه الله فرمائى : ﴿ كان ثقة ﴾ (۱)

ابن سعد رحمه الله فرمائى : ﴿ كان ثقة ﴾(۲)

حبان بن بلال رحمه الله فرمائى : ﴿ وكان حافظا صدوقا ﴾(۳)

امام عجلى رحمه الله فرمائي : ﴿ ثقة ... بصرى ﴾(٤)

ابن السكرى رحمه الله فرمائى : ﴿ بصرى ثقة ﴾(٥)

على بن المدينى رحمه الله فرمائى : ﴿ سمعت يحيى بن سعيد يضعفه جدا فى الحديث ﴾(٦)

امام نسائى رحمه الله فرمائى ﴿ ليس بالقوى ﴾(۷)

عباس دورى د امام يحيى بن معين رحمه الله نه نقل كوى!

﴿ سعيد بن زيد اخو حماد بن زيد ليس بقوى، قلت يحتج بحديثه ؟ قال يكتب حديثه ﴾(۸)

يعنى د هغوى احاديث د احتجاج په طور نه شى پيش كيدې، خو د هغوى احاديث د اعتبار دپاره ليكلې كيدې شى.

امام دارقطنى رحمه الله فرمائى : ﴿ ضعيف ﴾(۹)

امام جوزجانى رحمه الله فرمائى : ﴿ يضعفون حديثه، وليس بحجة ﴾(۱۰)

امام ابوبكر رحمه الله فرمائى : ﴿ لين ﴾(۱۱) هم دغه شان هغه فرمائى : ﴿ لم يكن له حفظ ﴾(۱۲)

امام ابن عدى رحمه الله فرمائى : ﴿ لسعيد بن زيد غير ما ذكرت احاديث حسان، وليس له متن منكر لايأتى به غيره، وهو عندى فى جملة من ينسب الى الصدق ﴾(۱۳)

---

۱) الجرح والتعديل ج ٤ ص ۲۱، رقم ۸۷/۵۶۰۶

۲) الطبقات لابن سعد ج ۷ ص ۲۸۷

۳) اكمال تهذيب الكمال ج ۵ ص ۲۹۶

٤) معرفة الثقات للعلجلى ج ۱ ص ۳۹۹، رقم ۵۹۰

۵) ا اكمال تهذيب الكمال ج ۵ ص ۲۹۶

٦) تهذيب التهذيب ج ٤ ص ۳۲

۷) تهذيب الكمال ج ۱۰ ص ٤٤٤

۸) الجرح والتعيدل ج ٤ ص ۲۱، رقم (۸۷/۵۲۰۶)

۹) اكمال تهذيب الكمال ج ۵ ص ۲۹۶

۱۰) تهذيب الكمال ج ۱۰ ص ٤٤۳

۱۱) اكمال تهذيب الكمال ج ۵ ص ۲۹۵

۱۲) تهذيب التهذيب ج ٤ ص ۳۳

۱۳) الكامل لابن عدى ج ۳ ص ۳۷۸

یعنی سعید بن زید د ذکر شوي روایاتو نه علاوه نور احادیث هم دی، کوم چه حسان دی، هغوی سره داسې څه منکر متن نشته کوم چه بل څوك نه روایت کوی، هغه زما په نزد د صدق طرف ته منسوب خلقو کښې دې.

ابن حبان رحمه الله فرمائی : ﴿وکان صدوقا حافظا ممن کان یخطئ فی الاخبار، ویهم فی الآثار، حتی لایحتج به اذا انفرد﴾ (۱) یعنی دا صدوق او حافظ دې، خو په روایات او اثار کښې پرې وهم راځی او غلطی کوی، لهذا که منفرد وی نه بیا به ترې احتجاج نه شی کولې.

د هغه روایات امام بخاری رحمه الله اشتشهادا اخستلې دی، او د نسائی نه علاوه ئې باقی ټولو حضراتو روایات تخریج کړې دی، امام بخاری رحمه الله هم د هغه روایات په الادب المفرد کښې قبول کړې دی. (۲) په ۱۶۷ هجری کښې دحمادبن سلمه رحمه الله نه مخکښې هغه وفات شوې دې (۳) رحمه الله رحمة واسعة

⑩ بَاب وَضعِ الْمَاءِ عِنْدَ الْخَلَاءِ

د مخکښې باب سره مناسبت : د دې باب د مخکښې باب سره مناسبت واضح دې، اولنې باب ﴿باب مایقول عند الخلاء﴾ دې او دا دویم ﴿باب وضع الماء عند الخلاء﴾ دې، ددواړو تعلق د خلاء سره دې. (٤)

د ترجمة الباب مقصد : د امام بخاری رحمه الله د ترجمة الباب نه مقصد دا دې چه د بیت الخلاء سره دې اوبه کیخودلې شی.

خو سوال دا دې چه اوبه به د څه دپاره کیخودلې شی؟

عام شراح کرام حافظ ابن حجر او علامه عینی رحمهما الله وغیره خو فرمائی چه د بیت الخلاء نه د راوتلو نه پس ئې انسان د اودس دپاره استعمال کړې شی. (۵)

خو ابن بطال او شیخ الحدیث رحمهما الله فرمائی چه د دې مقصد دا دې چه انسان د بیت الخلاء نه راوتلو سره فورا د استنجاء دپاره هغه استعمال کړی. (۶)

ددې حضراتو وینا دا ده چه که دا اوبه د اودس دپاره وې نو بیت الخلاء سره ئې د ږدلو ضرورت څه وو؟ (۷)

خو د فریق اول د طرف نه دا وئیلې کیدې شی چه د اوبو لټون ته حاجت رانشی، او فورا ئې

---

۱) کتاب المجروحین لابن حبان ج ۱ ص ۴۰۱، ۴۰۲، رقم (۳۸۸)
۲) تهذیب الکمال ج ۱۰ ص ٤٤٤
۳) کتاب المجروحین: ۱/ ۴۰۲، رقم (۳۸۸)
٤) اوګورئ: عمدة القاری ج ۲ ص ۲۷۳
۵) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ٢٤٤، و عمدة القاری ج ۲ ص ۲۷۳
۶) شرح صحیح البخاری لابن بطال ج ۱ ص ۲۳۵، والکنز المتواری ج ۳ ص ۲۳
۷) اوګورئ: الکنز المتواری ج ۳ ص ۲۳

واخلى او د اودس دپاره ئي استعمال كړى او كه په دې سره مقصود استنجاء بالماء وى نو بيا به اشكال وى چه د استنجاء بالماء باب وړاندې راروان دې.
حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله د دې جواب كړې دې چه دلته ترجمه شارحه ده، مستقلا نه ده، ځكه چه استنجاء بالماء مسئله د سلف ترمينځه مختلف فيه پاتې شوې ده، په دې وجه ئې هغه وړاندې مستقلا ذكر كړې ده. (۱)
د احتمال په درجه كښې دا هم وئيلې كيدې شى چه امام بخارى رحمه الله دې خبرې طرف ته اشاره كړې وى چه كه په اوبو سره استنجاء كوى نو چه هم هلته اونكړې شى چرته چه انسان قضاء حاجت كړې دې، بلكه بهر دې اوكړې شى چه ګندګى نه خوريږى، پس شافعيه په خپلو كتابونو كښې ليكلې دى چه د قضاء حاجت په محل كښې د اوبو استعمالول مكروه دى. (۲)
خو دا كراهت په هغه صورت كښې دې چرته چه د اوبو د استعمالولو مستقل ځائې نه وى جوړ شوې، كه ځائله په بيوت الخلاء كښې د اوبو د استعمال ځائې جوړ شوې وى نو بيا په استعمال كښې هيڅ باك نشته، دا خو نه شى وئيلې كيدې چه هم دا د امام بخارى رحمه الله مقصد دې. خو دا وئيلې كيدې شى چه د دې نه اشاره كيدې شى.

۱۴۳ : (حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ الْقَاسِمِ قَالَ حَدَّثَنَا وَرْقَاءُ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي يَزِيدَ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ (۳) أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْخَلَاءَ فَوَضَعْتُ لَهُ وَضُوءًا قَالَ مَنْ وَضَعَ هَذَا فَأُخْبِرَ فَقَالَ اللَّهُمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّينِ) [ر : ۷۵]

رجال الحديث

① **عبد الله بن محمد** : دا ابو جعفر عبد الله بن محمد بن عبد الله بن جعفر بن اليمان بن اخنس الجعفى البخارى المسندى رحمه الله دې. د هغه مختصر حالات په كتاب الايمان كښې د باب امور الايمان د لاندې تير شوې دى. (٤)
② **هاشم بن القاسم** : دا ابو النضر هاشم بن القاسم اللّيثى البغدادى رحمه الله دې، اصل كښې د خراسان دې. لقب ئې قيصر دې.(۵)
هغه د ابن ابى ذئب، شعبة، حريز بن عثمان، عكرمة بن عمار، عبد العزيز بن ماجشون، شيبان نحوى، سليمان بن مغيرة، ليث بن سعد او ابو معشر سندى عبيد الله الاشجعى رحمهم الله

---

۱) پورته حواله
۲) قال النووى رحمه الله : ويويد هذا قولهم إذا اخرج أحدنا من الغائط أحب أن يستنجى بالماء فهذا يدل على أن استنجاءهم بالماء كان بعد خروجهم من الخلاء والعادة جارية بانه لا يخرج من الخلاء الا بعد التمسح بماء أو حجر: وهكذا المستحب أن يستنجى بالحجر فى موضع قضاء الحاجة ويؤخر الماء إلى أن ينتقل إلى موضع آخر والله أعلم. المجموع شرح المهذب ج ۲ ص ۱۰۰
۳) قدسبق تخريجه فى كشف البارى ج ۳ ص ۲۵۶، كتاب العلم، باب قول النبى ﷺ ... اللهم علمه الكتاب
٤) كشف البارى ج ۱ ص ۶۵۷
۵) اوګورئ: تهذيب الكمال: ۳۰ ۱۳۰ و ۱۳۱، رقم (۶۵۴۰)

وغيره نه روايت حديث كوى
سفيان ثورى رحمه الله ئې په مکه کښې ليدلې دې خو د هغه نه ئې سماع نشته.
د هغه نه په روايت کونکو کښې امام احمد بن حنبل، على بن المدينى، يحيى بن معين، اسحاق بن راهويه، ابن ابى شيبة، عمرو بن محمد الناقد، يعقوب بن شيبه، عباس الدورى رحمهم الله وغيره ډير حضرات دى. (۱)

امام احمدبن حنبل رحمه الله به فرمائيل: ﴿ ابو النضر شيخنا، من الامرين بالمعروف والناهين عن المنكر ﴾(۲) هم دغه شان هغه فرمائى : ﴿ ابوالنضر من مشهتى بغداد ﴾(۳)

امام يحيى بن معين، على بن المدينى او ابن سعد رحمهم الله فرمائى : ﴿ ثقة ﴾(٤)

امام عجلى رحمه الله فرمائى : ﴿ صاحب سنة، ثقة، وكان اهل بغداد يفخرون به ﴾(۵)

ابو حاتم رحمه الله فرمائى ﴿ صدوق ﴾(۶)

ابن قانع رحمه الله فرمائى : ﴿ ثقة ﴾(۷)

حافظ ابن عبد البر رحمه الله فرمائى : ﴿ اثنى عليه على، واحمد، واتفقوا على انه صدوق ثقة ﴾(۸)

امام نسائى رحمه الله فرمائى : ﴿ لا باس به ﴾(۹)

امام حاكم رحمه الله فرمائى : ﴿ حافظ ثبت فى الحديث ﴾(۱۰)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى : ﴿ ثقة ثبت ﴾(۱۱)

په ۲۰۷ هجرى کښې ئې د درې اويا کالو په عمر کښې وفات موندلې دې (۱۲) رحمه الله رحمة واسعة

...

---

۱) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ : تهذيب الكمال ج ۳۰ ص ۱۳۱، ۱۳۳، وسير اعلام النبلاء ج ۹ ص ۵٤۶
۲) تهذيب الكمال ج ۳۰ ص ۱۳۳
۳) تهذيب الكمال ج ۳۰ ص ۱۳٤
٤) اوګورئ تاريخ عثمان الدارمى ص ۲۲۵، رقم ۸۵۸، والجرح والتعديل ج ۹ ص ۱۳۰، رقم (۱۶۱۰۱ ٤٤۶) وطبقات ابن سعد ج ۷ ص ۳۳۵
۵) معرفة الثقات للعجلى ج ۲ ص ۳۲۳، رقم ۱۸۷۹، وتهذيب الكمال ج ۳۰ ص ۱۳۵
۶) الجرح والتعديل ج ۹ ص ۱۳۰، رقم (٤٤۶/۱۶۱۰۱)
۷) اكمال تهذيب الكمال ج ۱۲ ص ۱۲۱، رقم ٤۹۱۶
۸) پورته حواله
۹) كمال تهذيب الكمال ج ۱۲ ص ۱۲۲، رقم ٤۹۱۶
۱۰) پورته حواله
۱۱) تقريب التهذيب ص ۵۷۰، رقم ۷۲۵۶
۱۲) پورته حواله

④ ورقاء : دا ابو بشر ورقاء بن عمر بن کلیب یشکری، شیبانی، کوفی رحمه الله دی. (۱)
هغه د زید بن اسلم. سماك بن حرب، سمی مولی ابی بکر بن عبدالرحمن، شعبه بن الحجاج، (وهومن اقرانه)، عاصم بن ابی النجود، عبد الله بن دینار، عبید الله بن ابی یزید، عطاء بن السائب، عمرو بن دینار، منصور بن المعتمر، ابو اسحاق السبیعی، ابو الزبیر مکی، ابو الزناد او ابو طواله انصاری رحمهم الله وغیره نه روایت حدیث کوی.
د هغه نه په روایت کونکو کښې ادم بن ابی ایاس، بقیه بن الولید، شعبه بن الحجاج، عبدالله بن المبارك، شبابه بن سوار، ابو نعیم الفضل بن دکین، معاذ بن معاذ العنبری، وکیع بن الجراح، یزید بن هارون او ابوداؤد طیالسی رحمهم الله وغیره حضرات دی. (۲)
محمود بن غیلان د ابوداؤد طیالسی نه نقل کوی چه ماته امام شعبه رحمه الله اوفرمائیل :

《علیك بورقاء، فانك لاتلقی بعده مثله حتی ترجع، قال محمود : قلت لابی داؤد : ای شیء یعنی بقوله؟ قال: افضل واورع وخیر منه》(۳)

یعنی ته ورقاء لازم اونیسه؛ ځکه چه که ته تول سفر کولو سره راواپس شې نو بیا به هم تاته د هغه په شان شخصیت ملاؤ نه شی. محمود بن غیلان د ابوداؤد طیالسی نه تپوس اوکړو چه د دې مطلب څه دې؟ وې فرمائیل : چه د هغه په شان افضل، متقی او غوره انسان به درته ملاؤ نه شی.

امام احمد رحمه الله فرمائی : 《ثقة، صاحب سنة》(٤)

امام یحیی بن معین هغه ته 《ثقة》او 《صالح》وئیلې دې. (۵)

امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی : 《ورقاء صاحب سنة، الاان فیه ارجاءا》(٦)

ابن ابی حاتم رحمه الله چه کله د خپل پلار نه د هغه په باره کښې تپوس اوکړو نو وې فرمائیل :

《شعبة یثنی علیه، وکان صالح الحدیث》(۷)

ابن شاهین رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې او فرمائی چه امام وکیع رحمه الله هغه ته 《ثقة》وئیلې دې. (۸) امام عقیلی رحمه الله فرمائی : 《تکلموا فی حدیثه عن منصور》(۹)

---

۱) اوګورئ : تهذیب الکمال ج ۳۰ ص ٤۳۳، رقم ٦٦٨٤
۲) د شیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ : تهذیب الکمال ج ۳۰ ص ٤۳۳، ٤۳٤
۳) تهذیب الکمال ج ۳۰ ص ٤۳٤
٤) تهذیب الکمال ج ۳۰ ص ٤۳۵
۵) پورته حواله
٦) سؤالات ابی عبید الاجری ج ۱ ص ۲۰۰، رقم ۱٦٦
۷) الجرح والتعدیل ج ۹ ص ٦٦، رقم ۲۱٦/۱۵۸۷۱
۸) اکمال تهذیب الکمال ج ۱۲ ص ۲۱۲، رقم ۵۰۱۸
۹) تهذیب التهذیب ج ۲ ص ۲۱۲، رقم ۵۰۱۸.

یعنی هغه چه کوم احادیث د منصور بن المعتمر نه نقل کړې دی په هغې کښې محدثینو کلام کړې دې.
امام ابن عدی رحمه الله فرمائی چه: ﴿ روی احادیث غلط فی اسانیدها، وباقی احادیثه لاباس به ﴾(۱)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه امام یحیی بن معین رحمه الله هغه مطلقا ثقه ګنړلې دې. (۲)
بیا حضرات شیخین رحمهما الله د هغه نه داسې څه روایت نه دې اخستلې کوم چه هغه د منصور بن المعتمر نه نقل کوی. (۳)
هغه د ټولو اصحاب ستة په نزد محتج به دې. (٤) رحمه الله رحمة واسعة
④ **عبید الله بن ابی یزید**: دا عبید الله بن ابی یزید مکی رحمه الله دې. (۵)
دې د سیدنا ابن عباس، ابن عمر، ابن الزبیر او حسین بن علی رضی الله عنهم نه علاوه د سباع بن ثابت، نافع بن جبیر، مجاهد بن جبر، عبید بن عمیر او د خپل پلار ابو یزید رحمهم الله وغیره نه روایت کوی.
د هغه نه په روایت کونکو کښې ابن جریج، شعبه بن الحجاج، ورقاء بن عمر، حماد بن زید او سفیان بن عیینه رحمهم الله وغیره دی. (۶)
امام یحیی بن معین، علی بن المدینی، عجلی، ابوزرعه او نسائی رحمهم الله فرمائی: ﴿ثقة﴾(۷)
ابن سعد رحمه الله فرمائی ﴿وکان ثقة، کثیر الحدیث﴾(۸)
ابن خلفون رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې. (۹)
ابن حبان رحمه الله هم هغه په خپل کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې. (۱۰)
اصحاب اصول ستة د هغه احادیث اخستلې دی. (۱۱) په ۱۲۰ هجری کښې هغه وفات شوې دې، د شپږ اتیا کالو په عمر کښې. (۱۲) رحمه الله رحمة واسعة

---

۱) الکامل فی ضعفاء الرجال ج ۷ ص ۹۲
۲) هدی الساری ص ٤٤٩
۳) هدی الساری ص ٤٥٠
٤) پورته حواله
۵) اوګورئ: تهذیب الکمال ج ۱۹ ص ۱۷۸، رقم ۳۶۹۷
۶) د شیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ: تهذیب الکمال ج ۱۹ ص ۱۷۸، ۱۷۹
۷) اوګورئ: الجرح والتعدیل ج ۵ ص ۳۹۹، رقم ۱۵۹٤/۸۹۲۸، وتهذیب الکمال ج ۱۹ ص ۱۷۹
۸) الطبقات لابن سعد ج ۵ ص ٤٨١
۹) اکمال تهذیب الکمال ج ۹ ص ۷۷، رقم ۳۵۰۳
۱۰) الثقات لابن حبان ج ۵ ص ۷۳
۱۱) تهذیب الکمال ج ۱۹ ص ۱۷۹
۱۲) پورته حواله، وسیر اعلام النبلاء ج ۵ ص ۲٤۲

فائده : د عبیدالله بن ابی یزید د پلار ابو یزید کنیت معروف دې، د نوم علم ئې نشته، د کشمهینی په روایت کښې د ابویزید په ځائې ابو زائده راغلې دې، دا غلط دې. (۱)

⑤ سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما : د سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما حالات په بدء الوحی کښې د خلورم حدیث د لاندې، او هم دغه شان په کتاب الایمان، باب کفران العشیر و کفر دون کفر د لاندې تیر شوې دی. (۲)

قوله: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْخَلَاءَ فَوَضَعْتُ لَهُ وَضُوءًا : رسول الله ﷺ بیت الخلاء ته داخل شو، ما ورله د استنجاء یا اودس د پاره اوبه کیخودلې.

قوله: قَالَ مَنْ وَضَعَ هَذَا: رسول الله ﷺ تپوس اوکړو دا اوبه چا کیخودلې دی؟

قوله: فَأُخْبِرَ: رسول الله ﷺ ته خبر ورکړې شو.

یعنی ورته اوئیلې شو چه ابن عباس رضی الله عنهما کیخودلې دی. دا خبر ورکونکې ام المومنین سیده میمونه رضی الله عنها وه، لکه چه د مسند احمد او صحیح ابن حبان په روایت کښې د دې تصریح موجود ده. (۳)

قوله: فَقَالَ اللَّهُمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّينِ : رسول الله ﷺ په دعا کښې اوفرمائیل : اې الله! هغه ته د دین پوهه او پوخ والې ورکړه.

سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ډیر په عقلمندئ سره دا خدمت کړې وو، چه کله هغه بالکل ماشوم وو. رسول الله ﷺ د هغه د هوښیارتیا او عقلمندئ په مناسبت سره هغه ته دعا اوکړه، شاته په کتاب العلم، باب قول النبی ﷺ اللهم علمه الکتاب ... د لاندې د حدیث الباب مکمل تشریح تیره شوې ده. (٤)

⑪ بَابُ لَا تُسْتَقْبَلُ الْقِبْلَةُ بِغَائِطٍ أَوْ بَوْلٍ إِلَّا عِنْدَ الْبِنَاءِ جِدَارٍ أَوْ نَحْوِهِ

د مخکښې باب سره مناسبت : په مخکښې باب کښې د وضع الماء عند الخلاء ذکر وو، په دې باب کښې د خلاء د آدابو نه د یو ادب ذکر دې، په دواړو بابونو کښې مناسبت واضح دې.

د ترجمة الباب مقصد : په ترجمة الباب سره د امام بخاری رحمه الله مقصد هم واضح دې چه د غائط او بول په موقع دې استقبال قبله اونکړې شی.

---

۱) فتح الباری ج ۱ ص ۲٤۳

۲) اوګورئ کشف الباری ج ۱ ص ٤٤٥، و ج ۲ ص ۲۰۵

۳) اوګورئ : مسند احمد ج ۱ ص ۳۲۸، رقم (۳۰۳۳)، و ج ۱ ص ۳۳۵، رقم ۳۱۰۲، مسند عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنهما، والاحسان بترتیب صحیح ابن حبان ج ۱۰ ص ۹۸، ذکر وصفه الفقه والحکمة اللذین دعا المصطفی ﷺ لابن عباس بهما، رقم (۷۰۱۵)

٤) اوګورئ : کشف الباری ج ۳ ص ۳۷۰ تا ۳۷۳، فراجعه ان شئت

په ترجمة الباب کښې د الا عند البناء استثناء : امام بخاری رحمه الله چه دلته کوم ترجمة الباب قائم کړې دې هغه ئې د «الا عند البناء، جدار او نحوه» د استثناء سره مقید کړې دې، او حال دا چه حدیث الباب مطلق دې، په دې کښې داسې هیڅ قید نشته، سوال دا دې چه امام بخاری رحمه الله دا قید ولې اولګولو؟

امام اسماعیلی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله لفظ «غائط» کوم چه اګر چه په مجازی معنی کښې مستعمل دې، خو دلته ئې د هغې د حقیقی معنی لحاظ ساتلو سره قید لګولې دې، ځکه چه د غائط لغوی معنی د «المکان المطمئن من الارض فی الفضاء» ده، یعنی په خالی ځائې کښې چه کوم هوار ځائې وی هغې ته غائط وائی، چونکه د غائط په معنی حقیقی کښې «فضاء» او خالی ځائې کیدل ملحوظ دې، په دې وجه حدیث الباب، چه مطلق دې، په دې کښې به هم د دې معنی لحاظ ساتلې شی، او مطلب به دا وی چه کله خالی ځائې وی نو هلته دې استقبال قبله اونکړې شی، د دې مفهوم مخالف هم دا راوځی چه که آبادی وی یا یو دیوال وغیره حائل وی نو هلته استقبال قبله کیدلې شی. (۱)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دا د ټولو نه قوی جواب دې. (۲)

خو علامه عینی رحمه الله فرمائی چه هرکله د «غائط» لغوی معنی مهجورشوه اودا د «نجس خارج» په معنی کښې استعمالیدل شروع شو نو دا حقیقت عرفیه دې، د دې په مقابله کښې حقیقت لغویه مهجور شوې دې، لهذا د دې حقیقت لغویه د معنی لحاظ څنګه اوساتلې شی؟ (۳)

دویم جواب علامه ابن بطال رحمه الله ورکړې دې، هغه فرمائی چه دا استثناء د حدیث الباب د الفاظو نه نۀ ده بلکه په وړاندې باب کښې د سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما د حدیث نه ماخوذ ده. (۴)

خو علامه عینی رحمه الله فرمائی چه که هم دا خبره وه نو د سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما دا حدیث د وړاندې باب په ځائې هم په دې باب کښې د سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه د حدیث نه پس ذکر کول پکار وو. (۵)

دریم جواب دا کړې شوې دې چه د استقبال قبله تحقق په فضاء او خالی ځایونو کښې ممکن دې، د آبادئ او کورونو ترمینځه استقبال قبله نه متحقق کیږی، ځکه چه د آبادئ ترمینځه چه کوم څیز حائل جوړیږی، استقبال به هم د هغې طرف ته منسوب کولې شی، مثلا وئیلې به شی چه استقبل الجدار، واستقبل البناء، وغیره. (۶)

---

۱) فتح الباری ج ۱ ص ۲۴۵
۲) پورته حواله
۳) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۷۵
۴) شرح صحیح البخاری لابن بطال ج ۱ ص ۲۳۸
۵) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۷۵
۶) فتح الباری ج ۱ ص ۲۴۵

خو دا جواب هم بکمزوري دي، ځکه چه کله هم یو سړي د کعبې طرف ته متوجه کيږي نو هغه ته مستقبل الکعبة وئيلي شي، که په ابادئ کښې دننه وی یا په صحرا کښې وی، اګر چه په ابادو او کورونو کښې ابادی د هغه او د قبلې ترمينځه حائل وی او په صحراګانو کښې د غرونو او ډهيرکو وغيره حائل وی. (۱)
علامه عینی رحمه الله فرمائی چه بهتر جواب دا دې چه داسې اوئيلې شي چه حدیث الباب د امام بخاری رحمه الله په نزد عام مخصوص منه البعض دې، په دې وجه دا استثناء ذکر کړې شوه. (۲)
والله اعلم

۱۴۴ : ﴿حَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا الزُّهْرِيُّ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ (۳) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الْغَائِطَ فَلَا يَسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ وَلَا يُوَلِّهَا ظَهْرَهُ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا﴾ [۳۸۲]

رجال الحديث

① **ادم** : دا ابو الحسن ادم بن ابی ایاس عبد الرحمن العسقلانی رحمه الله دې، د هغوی حالات په کتاب الایمان، باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده د لاندې تیر شوې دی. (٤)
② **ابن ابی ذئب** : دا امام محمد بن عبد الرحمن بن المغیرة بن الحارث بن ابی ذئب قرشی عامری مدنی رحمه الله دې. د هغه حالات په کتاب العلم کښې د باب حفظ العلم د لاندې تیر شوې دی (۵)
③ **الزهری** : دا امام محمد بن مسلم بن عبید الله بن عبد الله بن شهاب زهری مدنی رحمه الله دې، د هغوی حالات په (بدء الوحی) کښې د دريم حدیث د لاندې تیر شوې دی. (۶)

---

۱) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۷۶
۲) پورته حواله
۳) قوله : عن ابی ایوب الانصاری رضی الله عنه الحدیث اخرجه البخاری ایضا فی صحیحه ج ۱ ص ۵۷ کتاب الصلاة، باب قبلة اهل المدینة، واهل الشام والمشرق ..... رقم ۳۹۴، ومسلم فی صحیحه، فی کتاب الطهارة، باب الاستطابة رقم ۶۰۹، والنسائی فی سننه فی کتاب الطهارة، باب النهی عن استقبال القبلة عند الحاجة رقم (۲۰)، وباب النهی عن استدبار القبلة عند الحاجة رقم ۲۱، وباب الامر باستقبال المشرق او المغرب عند الحاجة. رقم ۲۲. وابوداؤد فی سننه، فی کتاب الطهارة، باب کراهیة استقبال القبلة عند قضاء الحاجة. رقم ۹. والترمذی فی جامعه فی کتاب الطهارة، باب فی النهی عن استقبال القبلة بغائط او بول رقم ۸. وابن ماجة فی سننه، فی کتاب الطهارة، باب النهی عن استقبال القبلة بالغائط والبول، رقم ۳۱۸.
٤) کشف الباری ج ۱ ص ۶۷۸
۵) کشف الباری ج ٤ ص ٤٤۲
۶) کشف الباری ج ۱ ص ۳۲۶

④ **عطاء بن يزيد الليثي**: دا ابو محمد يا ابو يزيد عطاء بن يزيد الليثي، ثم الجندعي المدني، ثم الشامي رحمه الله دي (۱)

هغه د سيدنا تميم الداري، ابوهريره، ابو سعيد خدري، ابو ايوب انصاري، ابو ثعلبه الخشني رضي الله عنهم نه علاوه د حمران بن ابان مولی عثمان بن عفان او عبيد الله بن عدي رحمهم الله نه روايت حديث کوی

د هغه نه په روايت کونکو کښې امام زهري، د هغه خپل ځوئې سليمان بن عطاء بن يزيد، ابو عبيد حاجب سليمان بن عبد الملك، ابو صالح السمان، سهيل بن ابی صالح، جميل بن ابی ميمونه او هلال بن ميمون الرملي رحمهم الله نه روايت کوی. (۲)

امام علی بن المديني رحمه الله فرمائی: ﴿ وكان ثقة ﴾(۳)

امام نسائی رحمه الله فرمائی: ﴿ شامي ثقة ﴾(٤)

امام ابن معين رحمه الله فرمائی: ﴿ ثقة ﴾(۵)

امام عجلی رحمه الله فرمائی: ﴿ تابعي، ثقة ﴾(۶)

ابن سعد رحمه الله فرمائی: ﴿ وهو كثير الحديث ﴾(۷)

ابن حبان رحمه الله هغه په كتاب الثقات کښې ذکر کړې دې. (۸)

د اتيا کالو په عمر کښې ئې په ۱۰۵ هجری کښې وفات شوې دې. (۹) رحمه الله رحمة واسعة

⑤ **سيدنا ابو ايوب انصاري** رضي الله عنه: دا د رسول الله ﷺ کوربه (ميلمستيا کونکې)، سيدنا ابو ايوب خالد بن زيد بن کليب بن ثعلبه بن عبد عوف بن غنم الانصاري النجاري الخزرجي رضي الله عنه دې (۱۰)

سيدنا ابو ايوب انصاري رضي الله عنه په بيعت عقبه ثانيه کښې شريك وو، د غزوه بدر سره سره په ټولو غزواتو کښې هم شريك وو. (۱۱) د رسول الله ﷺ د استوګنې ځائې چه ترڅو پورې جوړ

---

۱) تهذيب الكمال ج ۲۰ ص ۱۲۳
۲) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال ج ۲۰ ص ۱۲۳، ۱۲٤
۳) الجرح والتعديل ج ۶ ص ٤۳۸، رقم (۱۸۶۶/۱۱۱۱۶)
٤) تهذيب الكمال ج ۲۰ ص ۱۲٤
۵) تعليقات تهذيب الكمال ج ۲۰ ص ۱۲٤
۶) معرفة الثقات للعجلي ج ۲ ص ۱۳۷، رقم ۱۲٤٤
۷) الطبقات لابن سعد ج ۵ ص ۲٤۹
۸) الثقات لابن حبان ج ۵ ص ۲۰۰
۹) پورته حواله
۱۰) تهذيب الكمال ج ۸ ص ۶۶
۱۱) پورته حواله

شوې نه وو ، د رسول الله ﷺ د میلمستیا شرف سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه ته حاصل وو.(۱)

هغه د رسول الله ﷺ نه علاوه د سیدنا ابی بن کعب رضی الله عنه حدیث روایت کوی، د هغوی نه په روایت کونکو کښې سیدنا براء بن عازب، سیدنا جابر بن سمرة، سیدنا مقدام بن معدیکرب، سیدنا ابو امامه الباهلی، سیدنا زید بن خالد الجهنی، سیدنا عبدالله بن عباس او سیدنا عبدالله بن یزید خطمی رضی الله عنهم دی.

او په تابعینو کښې ترې سعید بن المسیب، سالم بن عبدالله بن عمر، عروة بن الزبیر، عطاء بن یزید اللیثی رحمهم الله وغیره یو ګڼ تعداد روایت کوی. (۲) رسول الله ﷺ د هغه او د سیدنا مصعب بن عمیر رضی الله عنهما ترمینځه د مواخات رشته قائم کړې وه.(۳)

سیدنا علي رضی الله عنه هغه په مدینه منوره باندې خپل نائب جوړ کړې وو ، روستو سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه هم عراق ته لاړو او د سیدنا علی رضی الله عنه په ملګرتیا کښې ئې د خوارجو خلاف په قتال کښې شرکت اوکړو. (٤)

د رسول الله ﷺ په ګیره مبارکه کښې هغه څه څیز اولیدو ، هغه ئې ترې راویستلو، رسول الله ﷺ هغه ته دعا اوکړه : ﴿لایصیبك السوء یا ابا ایوب﴾ اې ابو ایوب! تاته به هیڅ قسمه بدی نه رسیږی. (۵)

تول ژوند ئې جهاد کړې دې، فرمائیل به ئې چه الله پاك فرمائی : ﴿انفروا خفافا وثقالا﴾(٦) (یعنی که خفیف یئ که ثقیل، په هر حال کښې د جهاد دپاره اوځئ) زه د دې دواړو احوالو نه خالی نه یم لهذا جهاد به کوم. (۷)

چه کله ئې د وفات وخت نزدې راغلو نو هغه وخت هم هغه د یزید بن معاویه په مشرئ کښې په قسطنطنیه کښې په جهاد کښې مصروف وو، په دې موقع باندې هغوی وصیت اوکړو چه کله زه مړ شم نو زما بدن د کوم ځائې پورې چه اوړلې شئ یوسئ او چه کله د دشمنانو په مقابله کښې صفونه جوړ کړئ نو په خپلو خپو کښې مې دفن کړئ.

پس د هغوی د وصیت مطابق هغه عمل اوکړې شو ، نن هم د هغوی مزار شریف ته هر عام او خاص راځی، چه خلق د هغوی په برکت او توسل سره د الله پاك نه باران طلب کوی نو باران کیږی. (۸)

---

۱) پورته حواله
۲) د شیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ : تهذیب الکمال ج ۸ ص ۶۷، ۶۸
۳) الاصابة ج ۱ ص ٤٠۵
٤) پورته حواله
۵) پورته حواله
٦) التوبة : ٤١
۷) سیر اعلام النبلاء ج ۲ ص ٤٠٤، ٤٠۵
۸) اوګورئ : سیر اعلام النبلاء ج ۲ ص ٤١٠، والاصابة ج ۱ ص ٤٠۵

د رسول الله ﷺ سره د هغوى معامله څنګه وه او د هغوى دعزت او ناموس به ئې څومره لحاظ ساتلو د دې خبرې اندازه د دې نه اولګوئ چه يو کرت د هغوى بيبى هغه ته اووې چه خلق د سيده عائشه رضي الله عنها په باره کښې خبرې کوې، د دې تاسو ته علم شته؟ سيدنا ابو ايوب رضي الله عنه زر جواب ورکړو! او ولې راته نشته! دا ټول دروغ دى، بيا ئې ترې تپوس اوکړو اې ام ايوب! که د عائشې رضي الله عنها په ځائې ته وې نو آيا دا فعل ستا نه کيدې شى؟ بى بى ورته اووې: ﴿لاوالله﴾ کله هم نه! وې فرمائيل: قسم په الله! عائشه ستا نه ډيره غوره ده! د هغې نه دا حرکت څنګه کيدې شى! پس الله پاك د ابوايوب رضي الله عنه په شان حضراتو په باره کښې فرمائى: ﴿ لَوْلَاۤ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُبِينٌ ﴾ (١) (يعنى مومنانو سړو او مومنانو ښځو په دې اوريدلو سره په خپلو ځانونو باندې د خير ګمان ولې اونکړو او دا ئې ولې او نه وئيل چه دا ښکاره بهتان دې. (٢)

د سيدنا ابو ايوب انصارى رضي الله عنه نه يو نيم سل احاديث روايت شوې دى، د هغې نه اووۀ احاديث متفق عليه دى، او امام بخارى رحمه الله په يو حديث سره او امام مسلم رحمه الله په پنځه احاديثو سره متفرد دى. (٣)

په ٥٠ هجرى، ٥١ هجرى يا ٥٢ هجرى کښې د جهاد په حالت کښې وفات شو، د اکثر حضراتو په نزد دا اخرى قول راجح دې. (٤) والله اعلم... رضى الله عنه وارضاه، واجزل مثوبته

په ذکر شوې مسئله کښې د امام بخارى رحمه الله رجحان: د استقبال او استدبار مسئله مختلف فيه ده، وړاندې به ان شاء الله تفصيل راشى.

خو دلته په يوه خبره باندې ځان پوهه کول پکار دى چه د امام بخارى رحمه الله په دې سلسله کښې رجحان کوم طرف ته دې؟

د ترجمة الباب د الفاظو نه معلوميږى چه د هغوى په نزد دلته د قضاء حاجت په وخت استقبال فى الفضاء ممنوع دې، او استقبال فى البناء وعند الساتر جائز دې. د استدبار سره بخارى هيڅ تعرض نه دې کړې.

او! که د مفهوم مخالف اعتبار اوکړې شى، لکه چه د جمهورو رائې ده، نو دا به وائى چه امام بخارى رحمه الله استدبار ته هم جائز وائى. والله اعلم

مسئله استقبال واستدبار قبله: په دې مسئله کښې علماء د علماء کرامو اته اقوال دى، د دې نه مشهور درې اقوال دى، اول هغه څلور مشهور اقوال بيانولې شى.

---

١) النور: ١٢

٢) تهذيب الکمال ج ٨ ص ٦٨، ٦٩

٣) اوګورئ: تهذيب الاسماء واللغات ج ٢ ص ١٧٧، وعمدة القارى ج ٢ ص ٢٧٦، وخلاصة الخزرجى ص ١٠٠، وسير اعلام النبلاء ج ٢ ص ٤٠٣، خو په سير اعلام النبلاء کښې د ټولو احاديثو تعداد د يو نيم سلو په ځائې يو سل پنځه پنځوس ذکر دې. والله اعلم

٤) اوګورئ: الاصابة ج ١ ص ٤٠٥

① **المنع مطلقا** : يعنى استقبال قبله او استدبار قبله، كه په بنيان كښې وى يا په صحرا كښې وى، بهر صورت ممنوع او ناجائز دى.
سيدنا ابو ايوب انصارى، سيدنا ابوهريره، سيدنا عبدالله بن مسعود، سيدنا سراقة بن مالك رضي الله عنهم نه علاوه عطاء، مجاهد، ابراهيم نخعى او امام اوزاعى رحمهم الله هم د دې قائل دى.
د امام ابوحنيفه، سفيان الثورى او د يو روايت مطابق د امام احمد رحمه الله هم مذهب دا دې!
په شافعيه كښې ابوثور، په مالكيانو كښې ابن العربى، په حنابله كښې ابن القيم او په ظاهريه كښې ابن حزم رحمه الله هم دا مذهب راجح كړې دې او هم دا ئې اختيار كړې دې. (١)
② **الجواز مطلقا** : يعنى استقبال او استدبار قبله، كه په صحرا كښې وى يا په بنيان كښې، مطلقا جائز دې. د عروه بن الزبير، ربيعه الرائى او داؤد ظاهرى هم دا مسلك دې. (٢)
③ **التفرقة بين الصحارى والبنيان** : يعنى په ښكاره فضاء كښې چرته چه يو څيز ساتر او حائل نه وى، ممنوع دې او چرته چه ابادى وى، يا يو څيز ساتر او حائل وى نو ممنوع نه دې.
د امام شافعى، امام مالك او د يو روايت مطابق امام احمد بن حنبل رحمه الله هم دا مذهب دې، د ابن عباس. ابن عمر رضي الله عنهم، امام شعبى او امام اسحاق بن راهويه رحمهما الله تعالى نه هم دا مذهب روايت شوې دې. (٣)
بيا د ساتر او حائل په باره كښې د شوافع په نزد باندې تفصيل دا دې چه قضاء حاجت كونكې سرې ساتر وغيره سره دومره نزدې كيناستلو چه د هغه او د ديوال ترمينځه ذراع يا د دې نه كمه فاصله وى او د هغې اوچت والې كم از كم د موخرة الرحل برابر وى.
كه قضاء حاجت كونكې او حائل د ديوال ترمينځه د درې ذراع نه زياته فاصله وى، يا د حائل اوچتوالې ﴿ موخرة الرحل ﴾ نه كم وى نو په دې صورت كښې استقبال او استدبار قبله حرام دې، خو كه يو ځائې د قضاء حاجت دپاره مستقلا جوړكړې شوې وى نو په دې كښې هيڅ شرط نشته، فقهاء شافعيه وائى چه كه قضاء حاجت صحرا كښې وى او دې سړى يو څيز ساتر جوړ كړې وى نو د ذكر شوې شرطونو (يعنى ساتر او قضاء حاجت كونكې ترمينځه د

---

١) اوګورئ: البحر الرائق ج ٢ ص ٥٩، كتاب الصلاة، فصل كره استقبال القبلة بالفرج، والبناية ج ٢ ص ٤٦٦ - ٤٦٨، والدر المختار مع رد المحتار ج ١ ص ٢٥١، والمغنى لابن قدامة ج ١ ص ١٠٧، فصول فى اداب التخلى، والانصاف للمرداوى ج ١ ص ١٠٠، ١٠١، وعمدة القارى ج ٢ ص ٢٧٧، وعارضة الاحوذى ج ١ ص ٢٧، كتاب الطهارة، باب الرخصة، فى ذلك، وزاد المعاد ج ٢ ص ٣٨٤ – ٣٨٦، فصل فى هديه صلى الله عليه وسلم فى الذكر عند دخوله الخلاء، والمحلى لابن حزم ج ١ ص ١٩٣ – ١٩٩، كتاب الطهارة رقم ١٤٦.
٢) اوګورئ: المحلى ج ١ ص ١٩٤، والمجموع شرح المهذب ج ٢ ص ٨١، فرع فى المذاهب العلماء فى استقبال القبلة واستدبارها، والمغنى لابن قدامة ج ١ ص ١٠٧
٣) اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ٢ ص ٨١، والمغنى ج ١ ص ١٠٧، ومواهب الجليل ج ١ ص ٤٠٤، فصل : اداب قضاء الحاجة، وبداية المجتهد ج ٢ ص ٩٥- ٩٩، الباب السادس فى اداب الاستنجاء (اخر كتاب الطهارة قبيل كتاب الصلاة.

دري ذراع نه زياته فاصله نه وي او اوچتوالې د ﴿موخرة الرحل﴾ سره برابر وي، موندلې كيدو په صورت كښې به حرمت نه وي.
ګويا اصل مدار ساتر باندې دې، چرته چه د دواړو شرطونو سره ساتر اوموندلې شو، كه ابادي وي او كه صحرا، حرمت به نه وي او چرته چه په دې دواړو شرطونو كښې يو شرط فوت كيږي نو حرمت به وي، كه صحرا وي يا بنيان.
البته په شافعيه كښې علامه ماوردي او رویاني دوه وجوه ذكر كړې دې، يو خو هم دا وجه ده، كومه چه مونږ ذكر كړې ده، دويمه وجه دا ده چه په بنيان كښې مطلقا بغير د شرط نه جائز دې، او په صحرا كښې اګر چه ساتر ته نزدې ولې نه كيني، مطلقا حرام دې.
امام نووي رحمه الله فرمائي چه اوله وجه صحيح ده. (۱)
د ساتر په باره كښې چه كوم تفصيل شوافع ذكر كړې دې، د مالكيانو او حنابله په نزد دلته هم في الجمله ملحوظ دې، خو څومره په تفصيل سره چه امام نووي رحمه الله ذكر كړې دې، دومره تفصيل د هغوي په نزد نه ملاويږي. (۲)

④ **عدم جواز الاستقبال مطلقا وجواز الاستدبار مطلقا**: يعني استقبال قبله صحرا كښې وي يا په آبادۍ كښې، مطلقا ناجائز دې او استدبار مطلقا يعني په دواړو ځايونو كښې جائز دې. دا د امام ابوحنيفه او امام احمد رحمهما الله يو روايت دې. (۳)

⑤ **النهي للتنزيه**: يعني د استقبال او استدبار قبله نه ممانعت تنزيها دې، تحريما نه دې، دا دامام ابوحنيفه، امام احمد او د ابو ثور يو روايت دې. (٤)

⑥ **جواز الاستدبار في البنيان فقط**: يعني په آبادۍ كښې دننه صرف استدبار جائز دې، استقبال جائز نه دې، هم دغه شان په صحرا كښې نه استقبال جائز دې او نه استدبار، دا د امام ابويوسف رحمه الله نه روايت دې. (۵)

⑦ **التحريم مطلقا حتى في القبلة المنسوخة**: يعني استقبال او استدبار نه صرف د كعبې طرف ته جائز نه دې، بلكه دقبله منسوخه بيت المقدس استقبال او استدبار هم ناجائز دې.

دا دابراهيم نخعي او ابن سيرين رحمهما الله تعالى نه منقول دې. (۶)

---

۱) د ټولو تفصيلاتو دپاره اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ۲ ص ۷۸، ۷۹
۲) اوګورئ: الشرح الكبير للدردير ج ۱ ص ۱۰۸، ۱۰۹، وحاشية الدسوقي على الشرح الكبير ج ۱ ص ۱۸۰، ۱۸۱، ومواهب الجليل ج ۱ ص ۴۰۳، ٤٠٤، والانصاف للمرداوي ج ۱ ص ۱۰۱، ۱۰۲، هم دغه شان اوګورئ: اوجز المسالک ج ٤ ص ۱۶۳، كتاب القبلة، باب النهي عن استقبال القبلة والانسان على حاجته.
۳) اوګورئ: البناية للعيني ج ۲ ص ٤۶۶، والانصاف للمرداوي ج ۱ ص ۱۰۱
٤) اوګورئ: البناية للعيني ج ۲ ص ٤۶۸، والانصاف للمرداوي ج ۱ ص ۱۰۱، واوجز المسالک ج ٤ ص ۱۶۲، ونيل الاوطار ج ۱ ص ۸۹، باب نهي المتخلي عن استقبال القبلة واستدبارها.
۵) اوګورئ: نيل الاوطار ج ۱ ص ۸۹، باب نهي المتخلي عن استقبال القبلة واستدبارها، واجز المسالک ج ٤ ص ۱۶۲
۶) پورته حواله جات

⑧ **اختصاص التحریم باهل المدینة** : یعنی دا حکم چه استقبال او استدبار د کعبې دې اونکړې شي، د اهل مدینه او په دې جهت کښې د اوسیدونکو سره مختص دې، د کومو خلقو قبله چه د مشرق یا مغرب طرف ته وی د هغوی دپاره استقبال او استدبار جائز دې، دا د ابو عوانه رحمه الله قول دې (۱)

د احنافو وغیره استدلال : د اول مذهب والو د سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه د روایت الباب وغیره نه استدلال کړې دې.

② په صحیح مسلم کښې د ابوهریره رضی الله عنه نه مرفوعا روایت دې ﴿ اذا جلس احدکم علی حاجته، فلا یستقبل القبلة ولا یستدبرها ﴾ (۲)

یعنی چه کله په تاسو کښې څوك د قضاء حاجت دپاره کینی نو نهٔ دې قبلې ته مخ کوی او نه دې ورته شا کوی.

③ هم دغه شان احنافو وغیره په خپل مذهب باندې د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه په روایت مرفوعه باندې هم استدلال کړې دې، کوم چه امام نسائی، امام ابوداؤد، امام ابن ماجه او امام احمد رحمهم الله وغیره تخریج کړې دې.

﴿ انما انا لکم مثل الوالد، اعلمکم اذا ذهب احدکم الی الخلاء فلا یستقبل القبلة ولا یستدبرها ﴾ (۳)

یعنی زهٔ ستاسو د پلار په شان یم، د پلار په شان درته ښودنه کوم، چه کله په تاسو کښې څوك د قضاء حاجت دپاره ځی نو نه دې قبلې ته مخ کوی او نه د ورته شا کوی.

④ دې حضراتو د سیدنا سهل بن حنیف رضی الله عنه د روایت نه هم استدلال کړې دې، کوم چه امام دارمی، امام احمد او امام حاکم رحمهم الله تخریج کړې دې.

﴿ قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَنْتَ رَسُولِي إِلَى مَكَّةَ فَأْتِهِمْ مِنِّي السَّلَامَ، وَقُلْ لَهُمْ : إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُكُمْ بِثَلَاثٍ : لَا تَحْلِفُوا بِآبَائِكُمْ، وَإِذَا خَلَوْتُمْ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ، وَلَا تَسْتَدْبِرُوهَا، وَلَا تَسْتَنْجُوا بِعَظْمٍ وَلَا بِبَعْرٍ ﴾ (اللفظ للحاکم) (٤)

یعنی : ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ته د مکې والو طرف ته زما استاذې ئې، هغوی ته

---

۱) پورته حواله جات

۲) صحیح مسلم، کتاب الطهارة، باب الاستطابة رقم ۶۱۰

۳) سنن النسائی، کتاب الطهارة، باب النهی عن الاستطابة بالروث، رقم ٤٠، وسنن ابی داؤد، کتاب الطهارة، باب کراهیة استقبال القبلة عندقضاء الحاجة، رقم ۸، وسنن ابن ماجة، کتاب الطهارة، باب الاستنجاء بالحجارة، والنهی عن الروث والرمة، رقم ۳۱۳، ومسند احمد: ۱۲/۲٤۷، رقم (۷۳۶۲، و: ۱۲/ ۲۵۰، رقم (۷٤۰۳)

٤) المستدرک للحاکم ج ۳ ص ٤۱۲، طبع قدیم ج ۳ ص ٤۶۶، طبع جدید، کتاب معرفة الصحابة، باب ذکر مناقب سهل بن حنیف الانصاری، وکنیته ابو ثابت رضی الله عنه، رقم ۵۷٤۳، وسنن الدارمی ج ۱ ص ۱۷۸، کتاب الطهارة، باب النهی عن استقبال القبلة بغائط او بول، رقم ۶۶٤، ومسند احمد ج ۳ ص ٤۸۷، رقم ۱۶۰۸۰.

زما سلام اورسوه او ورته اوايه چه رسول الله ﷺ تاسو ته د دري خبرو حكم دركوى، په خپلو پلارانو نيكونو قسمونه مه خورئ، چه كله د حاجت دپاره ځائي نو د قبلې طرف ته استقبال او استدبار مه كوئ او په هډوكي يا خشنرو سره استنجاء مه كوئ.
د دې روايت په سند كښې عبدالكريم بن ابي المخارق دې، كوم چه متفق عليه ضعيف دې. (١) اګرچه امام مالك (رح) دهغوى نه په مؤطا كښې روايت كړې دې. (٢)
خو چونكه دا د حديث ابى ايوب رضي الله عنه دپاره د شاهد په درجه كښې دې په دې وجه دا ضعف قابل تحمل دې، هم دا وجه ده چه حافظ ذهبى رحمه الله په دې حديث باندې سكوت اختيار كړې دې. (٣)
⑤ امام طبرانى رحمه الله په المعجم الكبير كښې د سيدنا سهل بن سعد رضي الله عنه مرفوع حديث نقل كړې دې : «إِذَا ذَهَبَ أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ، فَلَا يَسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ وَلَا يَسْتَدْبِرْهَا» (٤)
يعنى په تاسو كښې چه څوك د خپل حاجت دپاره ځى نو نه دې د قبلې طرف ته مخ كوى او نه دې ورته شا كوى.
په دې روايت كښې د واقدى واسطه ده، چه ضعيف دې، خو د شاهد جوړيدو دپاره كافى دې. (٥)
د مجوزينو دلائل او د هغې جوابات : د مجوزينو د ټولو نه اهم دليل د سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت دې. هغه فرمائى : «لَقَدِ ارْتَقَيْتُ يَوْمًا عَلَى ظَهْرِ بَيْتٍ لَنَا فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَلَى لَبِنَتَيْنِ مُسْتَقْبِلًا بَيْتَ الْمَقْدِسِ لِحَاجَتِهِ» اللفظ للبخارى (٦)
يعنى زه يوه ورځ د خپل كور چهت باندې اوختلم، ما رسول الله ﷺ په دوه ښختو باندې د حاجت دپاره د بيت المقدس طرف ته مخ كولو سره ناست اوليدو.

---

١) اوګورئ : تقريب التهذيب ص ٣٦١، رقم ٤١٥٦
٢) قال يحى بن معين: كل من روى عنه مالك بن أنس فهو ثقة، الا عبدالكريم البصرى أبو أمية، اوګورئ اسعاف المبطأ، ص:٩، وانظر التعليق الممجد : ١٣١/٢، باب تأخير الوتر.
٣) اوګورئ : تلخيص المستدرك المطبوع مع المستدرك للحاكم ج ٣ ص ٤١٢، كتاب معرفة الصحابة، باب ذكر مناقب سهل بن حنيف الانصارى رضي الله عنه
٤) المعجم الكبير للطبرانى ج ٦ ص ١٢٨، رقم ٥٧٣٥
٥) اوګورئ مجمع الزوائد ج ١ ص ٢٥٤، رقم ١٠١١
٦) صحيح البخارى ج ١ ص ٢٦، كتاب الوضوء باب من تبرز على لبنتين، رقم ١٤٥، و ج ١ ص ٢٧، كتاب الوضوء، باب التبرز فى البيوت رقم ١٤٨، وباب بدون ترجمة (بعد الباب المذكور) رقم ١٤٩، و ج ١ ص ٤٣٧، كتاب فرض الخمس، باب ما جاء فى بيوت ازواج النبى ﷺ، وما نسب من البيوت اليهن، رقم ٣١٠٢، وصحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب الاستطابة، رقم ٦١١، ٦١٢، وسنن النسائى، كتاب الطهارة، باب الرخصة فى ذلك فى البيوت، رقم ٢٣، وسنن ابى داؤد، كتاب الطهارة، باب الرخصة فى ذلك، رقم ١٢، وجامع الترمذى، كتاب الطهارة، باب ما جاء من الرخصة فى ذلك، رقم ١١، وسنن ابن ماجة، كتاب الطهارة، باب الرخصة فى ذلك فى الكنيف، واباحته، دون الصحارى، رقم ٣٢٢، ٣٢٣

ددې روايت نه قائلين جواز استقبال واستدبار مطلقا، قائلين جواز فى البنيان، قائلين جواز استدبار مطلقا، قائلين جواز استدبار فى البنيان او قائلين كراهت تنزيهيه استدلال كوى.
خو د دې روايت نه استدلال د سيدنا ابو ايوب انصارى رضي الله عنه د روايت په مقابله كښې كمزورې دې. د دې وجه دا ده چه په دې حديث كښې باوجود د صحيح كيدو نه د مختلفو احتمالاتو گنجائش دې.
يو احتمال خو دا دې چه رسول الله ﷺ په اصل كښې مستدبر قبله نه وى، خو د ابن عمر رضي الله عنهما په ليدو باندې د حياء د تقاضه د وجې نه ئې خپل هيئت بدل كړې وى، د دې هنگامى بدلون د وجې نه معمولى استدبار متحقق شو
دويم احتمال دادې چه رسول الله ﷺ مكمل طور باندې مستدبر الى القبله نه وى، بلكه د كعبې نه ئې معمولى انحراف كړې وى چه دغه انحراف حضرت ابن عمر رضى الله عنهما د لرې نه معلوم نه كړې شو.
دريم احتمال دادې چه دا د رسول الله ﷺ خصوصيت وى، د دې خبرې تائيد د دې نه كيږى چه د علماء كرامو يو جماعت تصريح كړې ده چه د رسول الله ﷺ فضلات پاك وو. (۱) لهذا بعيده نه ده چه رسول الله ﷺ د دې حكم نه مستثنى وى.
دلته دا خبره هم قابل غور ده چه كه په دې عمل سره د رسول الله ﷺ مقصود د استدبار اجازت وركول وې نو د يو پټ عمل په ذريعه د هغې د تعليم په ځائې به ئې په واضح الفاظو كښې د ټول امت مخكښې دا حكم بيان فرمائيلې وې لكه چه د سيدنا ابو أيوب انصارى رضي الله عنه وغيره نورو حضراتو صحابؤ رضي الله عنهم په روايت كړې شوې دې.
د دې نه معلومه شوه چه د حديث ابن عمر نه د سيدنا ابو ايوب انصارى رضي الله عنه د روايت خلاف څه تشريعى حكم مستنبط كول صحيح نه دى. (۲)
بيا دابن عمر رضي الله عنهما په حديث كښې صرف دومره خبره ده چه ما رسول الله ﷺ د بيت المقدس طرف ته رخ كولو سره ناست اوليدو، په دې كښې د بنيان او صحرا تفريق نه معلوميږى، لهذا كوم حضرات چه د بنيان او صحرا په بنياد باندې فرق كوى دهغوى استدلال ددې نه نه تام كيږى.

---

۱) اوگورئ: اعانة الطالبين ج ۱ ص ۹۹

۲) قال ابن العربى فى عارضة الاحوذى ج ۱ ص ۲۷، ابواب الطهارة، باب الرخصة فى ذلك، وحديث ابن عمر لا يعارضه، ولا حديث جابر لاربعة اوجه : احدها : انه قول وهذان فعلان ولا معارضة بين القول والفعل، الثانى : ان الفعل لا صيغة له، وانما هو حكاية حال، وحكايات الاحوال معرضة للاعذار والاسباب، والاقوال لا محتمل فيها من ذلك، الثالث: ان القول شرع مبتدا، وفعله عادة، والشرع مقدم على العادة، الرابع ان هذا الفعل لو كان شرعا لما تستر به.

وقال ابن القيم فى زاد المعاد ج ۲ ص ۳۸۶، فصل في هديه ﷺ في الذكر عند دخول الخلاء : وهذا يحتملُ وجوهاً ستة: نسخُ النهى به، وعكسه، وتخصيصه به صَلّى اللّٰه عَلَيْه وَسَلَّمَ، وتخصيصه بالبنيان، وأن يكونَ لعذْر اقتضاه لمكان أو غيره، وأن يكون بياناً، لأن النهى ليس على التحريم، ولا سبيلَ إلى الجزم بواحد من هذه الوجوه على التعيين.

د دې په جواب كښې شوافع وغيره، كوم چه د تفريق قائل دى د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما يو اثر پيش كوى. ﴿عَنِ الْحَسَنِ بْنِ ذَكْوَانَ، عَنْ مَرْوَانَ الْأَصْفَرِ، قَالَ: رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ أَنَاخَ رَاحِلَتَهُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ، ثُمَّ جَلَسَ يَبُولُ إِلَيْهَا، فَقُلْتُ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَلَيْسَ قَدْ نُهِيَ عَنْ هَذَا؟ قَالَ: بَلَى إِنَّمَا نُهِيَ عَنْ ذَلِكَ فِي الْفَضَاءِ، فَإِذَا كَانَ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ شَيْءٌ يَسْتُرُكَ فَلَا بَأْسَ﴾ (۱)

يعنى ما سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما اوليدو چه هغه خپله سورلئ قبلې ته مخامخ كينوله او بيا ئې د هغې طرف ته متيازې اوكړې، ما عرض اوكړو اې ابو عبدالرحمن! ايا دا كار منع كړې شوى نه دې؟ هغوى اوفرمائيل: ولې نه! خو دا ممانعت په ښكاره فضاء كښې دې، كه ستا او د قبلې ترمينځه يو څيز وى نو بيا هيڅ باك نشته.

د مانعين د طرف نه د دې مختلف جوابات كړې شوې دى.

خليل احمد سهارنپورى رحمه الله د دې دا جواب كړې دې چه دا روايت ضعيف دې، څكه چه د دې راوى حسن بن ذكوان دې، چاته چه محدثينو ضعيف وئيلې دې. (۲) لهذا دا روايت قابل استدلال نه دې. (۳)

خو دا جواب تسلى بخش نه دې څكه چه حسن بن ذكوان يو مختلف فيه راوى دې، د هغه چه يو طرف ته علماء كرامو تضعيف كړې دې نو بل طرف ته ئې توثيق هم كړې دې، هم ددې اقوالو د وجې نه حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى: ﴿وهوصالح الحديث﴾(٤)

ابن عدى رحمه الله فرمائى: ﴿يروى أحاديث لا يرويها غيره، على أن يحيى بن سعيد وابن المبارك قد رويا عنه كما ذكرته، وناهيك للحسن بن ذكوان من الجلالة أن يرويا عنه، وأرجوأنه لا بأس به﴾(۵)

يعنى حسن بن ذكوان داسې روايتونه نقل كوى كوم چه بل څوك نه روايت كوى، د دې باوجود د يحيى بن سيعد او عبد الله بن مبارك رحمهما الله په شان بزرګانو د هغه نه حديث روايت كړې دې، هم دا د هغه د جلالت شان دپاره كافى دہ، زما اميد دې چه هغه ﴿ لا بأس به﴾ دې.

علامه ابن حبان رحمه الله هغه په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې. (۶)

---

۱) السنن لابى داؤد، كتاب الطهارة، باب كراهية استقبال القبلة عند قضاء الحاجة، رقم ۱۱، والمستدرک للحاكم ج ۱ ص ۱۵٤، طبع قديم ج ۱ ص ۲۵۶، طبع جديد، كتاب الطهارة، رقم ۵۵۱، والسنن الكبرى للبيهقى ج ۱ ص ۹۲، طبع قديم و ج ۱ ص ۱٤۹، كتاب الطهارة، باب الرخصة فى ذلک فى الابنية رقم ٤۳۸، وسنن الدارمى ج ۱ ص ۵۸، كتاب الطهارة، باب استقبال القبلة فى الخلاء.

۲) د حسن بن ذكوان په باره كښې د محدثينو د اقوالو دپاره اوګورئ: تهذيب التهذيب ج ۲ ص ۲٤۱

۳) اوګورئ: بذل المجهود ج ۱ ص ۲۰۱، كتاب الطهارة، باب كراهية استقبال القبلة عند قضاء الحاجة.

٤) ميزان الاعتدال ج ۱ ص ٤۸۹، رقم ۱۸٤٤

۵) الكامل لابن عدى ج ۲ ص ۳۱۷

۶) الثقات لابن حبان ج ۶ ص ۱۶۳، رقم ۷۱۶۹

هم په دې وجه باندې حافظ ابن حجر رحمه الله په التلخیص الحبیر کښې په دې باندې سکوت فرمائیلې دې، کوم چه د دې د حسن کیدو دلیل دې، (۱) امام دارقطنی رحمه الله فرمائی : ﴿ هذا صحیح کلهم ثقات ﴾ یعنی دا روایت صحیح دې، او د دې ټول راویان ثقه دی، فرمائیلې دی.
(۲) امام ابن الجارود رحمه الله دا په المنتقی کښې تخریج کړې دې. (۳) او دا خبره معروف ده چه ابن الجارود رحمه الله په دې خپل کتاب کښې صحیح احادیث نقل کوی.
د دې صحیح جواب هم دا دې چه دا د ابن عمر رضی الله عنهما خپل عمل دې، کوم چه د احادیث مرفوعه په مقابله کښې حجت نه دې، په احادیث مرفوعه کښې د دې تفریق هیڅ بنیاد نه دې ذکر شوې.
البته د ابن عمر رضی الله عنهما د حدیث ﴿ لَقَدِ ارْتَقَیْتُ یَوْمًا عَلَی ظَهْرِ بَیْتٍ لَنَا ... ﴾ د معروف طرق نه خو تفریق نه مفهوم کیږی، خو هم د دې حدیث د طحاوی او ابن خزیمه په روایت کړې شوې طرق کښې د ﴿ بناء ﴾ او ﴿ ساتر ﴾ کیدل په فهم کښې راځی، پس د امام طحاوی رحمه الله الفاظ دی چه ﴿یقضی حاجته محجوبا علیه بلبن﴾ (۴) یعنی رسول الله ﷺ په خښتو سره کړې شوې حجاب کښې قضاء حاجت فرمائیلو، او د ابن خزیمه الفاظ داسې دی : ﴿ فاشرفت علی النبی ﷺ وهو علی خلائه ﴾ یعنی ما رسول الله ﷺ په بیت الخلاء کښې اولیدو. که تفریق بین البنیان والصحاری ثابت هم شی نو بیا هم د دې احتمالاتو د وجې نه کوم چه مونږ مخکښې ذکر کړې دی، د سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما دا حدیث د سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه د حدیث په مقابله کښې مرجوح دې. په وړاندې باب کښې د دې څه تفصیل راروان دې
د دې نه علاوه که په دې جهت کښې غور اوکړې شی چه د سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما د اجتهاد مطابق که د استقبال قبله ممانعت په دې خبره باندې موقوف وی چه د متخلی او کعبې ترمینځه څوك حائل موجود نه وی نو دا قسم استقبال خو صرف په حرم شریف کښې ناست ممکن دې، ځکه چه څه نه څه آبادی یا غر وغیره خو په مینځ کښې ضرور حائل کیږی، لهذا د دې تقاضه دا ده چه په صحرا وغیره کښې هم استقبال جائز وی، او حال دا چه دا خبره خپله د شوافع وغیره د مسلك خلاف ده.
د دې په جواب کښې بعض شوافع وائی چه دا دې حکم علت احترام کعبه نه دې بلکه احترام مصلین دې، پس ابو اسحاق شیرازی په ابادئ کښې جواز ثابتولو سره فرمائی : ﴿ ولان فی

---

۱) التلخیص الحبیر ج ۱ ص ۱۰۴، کتاب الطهارة، باب الاستنجاء رقم ۱۲۹
۲) سنن الدارقطنی ج ۱ ص ۵۸، کتاب الطهارة، باب استقبال القبلة فی الخلاء.
۳) المنتقی ج ۱ ص ۲۱، کتاب الطهارة، باب استقبال القبلة للغائط والبول والاستنجاء. رقم ۳۲
۴) شرح معانی الاثار للطحاوی: ۲/۳۷۰، کتاب الکراهة، باب استقبال القبلة ۳۰۱ بالفروج للغائط والبول.

الصحراء خلقا من الملائكة والجن يصلون، فيستقبلهم بفرجه وليس ذلك في البنيان ﴾(١) يعني چونکه په صحرا کښې د ملائکو او جناتو نه ډير مخلوق وي او هغوی مونځ کوی، د هغوی طرف ته به د شرم ګاه رخ کول لازم شي او دا خبره په بنيان کښې نشته.
خو دا خبره صحيح نه ده او دا علت محل نظر دې، ځکه چه د ممانعت په ټولو احاديثو کښې د قبله لفظ راغلې دې، چه د هغې نه ظاهره هم دا ده چه دا حکم د احترام قبله په بنياد باندې ورکولې شي.
دويم که د احترام مصلين اعتبار اوکړې شي نو په يو طرف کښې به هم د قضاء حاجت اجازت نه وی ځکه چه په هر طرف کښې د مصلين د وجود امکان شته.
دريم که دا حکم صحيح اومنلې شي نو بيا هم د امام شافعي رحمه الله په مسلك باندې د دې علت تطبيق نه کيږي. ځکه چه په آبادئ کښې د مصلين موجودګی د صحرا په نسبت زياته محتمل ده. لهذا په آبادئ کښې هم استدبار او استقبال جائز کيدل نه دی پکار.
هم دا وجه ده چه امام نووی رحمه الله دا علت ضعيف کولو سره رد کړې دې، پس هغه فرمائی؛

﴿ قول المصنف ولان في الصحراء خلقا من الملائكة والجن يصلون هكذا قاله اصحابنا واعتمدوه ورواه البيهقي باسناد ضعيف عن الشعبي التابعي من قوله وهو تعليل ضعيف فانه لو تعد قريبا من حائط واستقبله ووراءه فضاء واسع جاز بلا شك صرح به امام الحرمين والبغوي وغيرهما ويدل عليه ما قدمناه عن ابن عمر انه أناخ راحلته وبال إليها فهذا يبطل هذا التعليل فانه لو كان صحيحا لم يجز في هذه الصورة فانه مستدبر الفضاء الذي فيه المصلون ولكن التعليل الصحيح أن جهة القبلة معظمة فوجب صيانتها في الصحراء ورخص فيها في البناء للمشقة وهذا التعليل، اعتمده القاضي حسين والبغوي والروياني وغيرهم والله أعلم ﴾(٢)

يعني دمصنف دا وينا چه په صحرا کښې ملائك او جنات وی، کوم چه مونځ کوی، پس هم دا خبره زمونږ نورو اصحابو کړې ده او په دې باندې هغوی اعتماد کړې دې، بيهقی هم د امام شعبی رحمه الله نه د هغه قول په ضعيف سند سره نقل کړې دی، خو دا علت ضعيف دې، ځکه چه امام الحرمين او امام بغوی تصريح کړې ده چه که څوك يو ديوال ته نزدې د هغې طرف ته رخ کولو سره کينی او په هغه ديوال پسې وسيع فضاء وی نو دا صورت بيشکه جائز دې، د ابن عمر رضي الله عنهما واقعه هم په دې باندې دلالت کوی چه هغه خپله سورلئ کينوله او د هغې طرف ته مخ کولو سره ئې متيازې اوکړې، په دې سره مذکوره علت بالکل باطل کيږی، ځکه چه که دا علت صحيح وې نو ذکر شوې صورت اختيارول به صحيح نه وې، ځکه چه هغه د فضاء طرف ته شا کړې وه، چرته چه يقينا مصلين موجود وو.
په دې سلسله کښې صحيح او برابر تعليل دا کيدې شی چه خپله جهت د قبلې معظم او محترم دې. په دې وجه په صحرا کښې د هغې خيال ساتل واجب شو، خو په بنيان او ابادئ

---

١) اوګورئ المهذب مع شرح المجموع ج ٢ ص ٧٨
٢) المهذب ج ٢ ص ٨٣

کښې چونکه د دې اهتمام ساتل د مشقت باعث دی په دې وجه هلته رخصت ورکړې شو، په دې علت باندې قاضی حسین، بغوی او رویانی وغیره اعتماد کړې دې. والله اعلم

② د مجوزینو دویم دلیل د سیدنا جابر رضي الله عنه حدیث دې!

﴿سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْحَاقَ يُحَدِّثُ عَنْ أَبَانَ بْنِ صَالِحٍ عَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ نَهَى نَبِيُّ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ بِبَوْلٍ فَرَأَيْتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْبَضَ بِعَامٍ يَسْتَقْبِلُهَا ... اللفظ لابى داود﴾(۱)

یعنی: رسول الله ﷺ مونږ د دې خبرې نه منع اوفرمائیلو چه مونږ د متیازو په موقع باندې قبلې ته مخ کولو سره کینو، بیا ما هغوی د وفات نه یو کال مخکښې اولیدل چه رسول الله ﷺ قبلې ته مخ کولو سره ناست وو.

د دې روایت نه مطلقا اجازت ورکونکو حضراتو استدلال کړې دې، هم دغه شان هغه حضراتو هم کوم چه صرف په بنیان کښې د جواز قائل دی.

بعض حضراتو دا روایت هم سندا کلام کولو سره د رد کولو کوشش کړې دې، پس حافظ ابن عبدالبر او ابن حزم رحمهما الله تعالى فرمائی چه په دې روایت کښې ابان بن صالح نومې راوی دې او هغه ضعیف دې. (۲)

هم دغه شان په دې روایت کښې محمد بن اسحاق هم دې، په چا چه امام مالک رحمه الله کلام کړې دې! (۳)

خو دا دواړه خبرې صحیح نه دی! هر چه د ابان بن صالح تعلق دې، نو د ابن حزم او ابن عبدالبر نه مخکښې چا هم په هغه باندې کلام نه دې کړې بلکه ټولو د هغه توثیق کړې دې.(۴) پس یحیی بن معین، امام عجلی، یعقوب بن شیبه سدوسی، ابو زرعه رازی، ابو حاتم رازی او امام نسائی رحمهم الله هغه ته ثقه وئیلې دې. (۵)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: ﴿وثقه الائمة، ووهم ابن حزم فجهله، وابن عبد البر فضعفه﴾(۶)

یعنی ائمه کرامو د هغه توثیق کړې دې، ابن حزم ته وهم راغلې دې چه هغه ورته مجهول

---

۱) سنن ابی داؤد، کتاب الطهارة، باب الرخصة فی ذلک، رقم ۱۳، وجامع الترمذی، ابواب الطهارة، باب ما جاء من الرخصة فی ذلک، رقم ۹، وسنن ابن ماجة، کتاب الطهارة، باب الرخصة فی ذلک فی الکنیف، واباحته دون الصحاری رقم ۲۲۵

۲) ابن عبدالبر په التمهید ج ۱ ص ۳۱۲ کښې فرمائی: لان ابان بن صالح الذی یرویه ضعیف. هم دغه شان ابن حزم رحمه الله په المحلی ج ۱ ص ۱۹۸، مسالة: ولا یجوز استقبال القبلة ولا استدبارها للغائط والبول کښې فرمائی: واما حدیث جابر فانه من روایة ابان بن صالح ولیس بالمشهور.

۳) قال ابن حبان: وقد تکلم فی ابن اسحاق رجلان هشام بن عروة و مالک بن انس، واما مالک فال هذا دجال من الدجاجلة، یروی عن الیهود. الثقات لابن حبان ج ۷ ص ۳۸۲

٤) اوګورئ: تعلیقات الشیخ احمد شاکر رحمه الله تعالی علی المحلی ج ۱ ص ۱۹۸

۵) اوګورئ: تهذیب الکمال ج ۲ ص ۱۰، ۱۱

٦) تقریب التهذیب ص ۸۷ رقم ۱۳۷

وئیلې دې او د ابن عبدالبر نه غلطی شوې ده چه هغه ورته ضعیف وئیلې دې.
هر چه د محمد بن اسحاق تعلق دې نو اول خو د امام مالک رحمه الله قول علماءکرامو په معاصرتی اختلاف باندې محمول کړې دې او چا هم نه دې قبول کړې، د دې نه علاوه روستو د دواړو خپل مینځ کښې منافرت هم ختم شوې وو. (۱)
خو په هغه باندې چه کوم کلام کړې شوې دې د هغې حاصل دا راوځی چه هغه کم از کم په حسان راویانو کښې دې، چونکه هغه به تدلیس هم کولو په دې وجه د هغه عنعنه قبول نه ده.(۲)
دلته اګر چه حدیث په عنعنه سره راغلې دې خو د بیهقی په بعض طرق کښې د تحدیث په صیغې سره راغلې دې. په دې وجه د تدلیس احتمال هم باقی نه پاتې کیږی. (۳)
هم دا وجه ده چه امام ترمذی رحمه الله د امام بخاری رحمه الله نه د دې حدیث په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائیل : «حدیث صحیح»(٤)

---

۱) اوګورئ : الثقات لابن حبان ج ۷ ص ۳۸۲، وقال الذهبی فی تذکرة الحفاظ ج ۱ ص ۷۳ : وکان احد اوعیة العلم، حبرا فی معرفة المغازی والسیر، ولیس بذاک المتقن، فانحط حدیثه عن رتبة الصحة، وهو صدوق فی نفسه، مرضی، وقال احمد بن حنبل : حسن الحدیث.
وقال الخطیب فی تاریخ بغداد ج ۲ ص ۲۱ : وقد امسک عن الاحتجاج بروایات ابن اسحاق غیر واحد من العلماء لاسباب منها : انه کان یتشیع وینسب الی القدر، ویدلس فی حدیثه، فاما الصدق فلیس بمدفوع عنه.
۲) قال صاحبا التحریر : اما التشیع والقدر فلا یؤثر فی عدالته، واما التدلیس فیؤثر فما رواه بالعنعنة ضعیف، وما صرح فیه بالتحدیث فقوی. تحریر تقریب التهذیب ج ۳ ص ۲۱۲.
۳) السن الکبری للبیهقی ج ۱ ص ۹۲، قال الزیعلی فی نصب الرایة ج ۲ ص ۱۰۵ : وأخرجه ابن حبان فی "صحیحه" فی القسم الثانی، والحاکم فی "المستدرک". والدارقطنی، ثم البیهقی فی "سننهما"، وعندهم الأربعة: حدثنی أبان بن صالح، فزالت تهمة التدلیس، وانظر المستدرک للحاکم ج ۱ ص ۲۵۷، کتاب الطهارة، والمنتقی لابن الجارود ج ۱ ص ۲۰، باب القول عند دخول الخلاء رقم ۳۱، وصحیح ابن حبان ج ٤ ص ۲۶۹، ذکر الخبر الدال علی ان الزجر من استقبال القبلة واستدبارها ... رقم ۱٤۲۰، وسنن الدارقطنی ج ۱ ص ۵۸، باب استقبال القبلة فی الخلاء رقم ۲، مسند احمد ج ۳ ص ۳۶۰، رقم ۱٤۹۱۵
٤) کذا فی نصب الرایة ج ۲ ص ۱۰۵، رقم ۲۳۰٤، وفی علل الترمذی ج ۱ ص ۲۳ : حدثنا قتیبة ، حدثنا ابن لهیعة ، عن أبی الزبیر ، عن جابر ، عن أبی قتادة ، أنه رأی النبی صلی الله علیه وسلم یبول مستقبل القبلة، حدثنا محمد بن بشار ، حدثنا وهب بن جریر ، حدثنا أبی ، عن محمد بن إسحاق ، عن أبان بن صالح ، عن مجاهد ، عن جابر ، قال : نهی النبی صلی الله علیه وسلم أن نستقبل القبلة ببول ، فرأیته قبل أن یقبض بعام یستقبلها.سألت محمدا عن هذا الحدیث،فقال:رواه غیر واحد،عن محمدبن إسحاق، قال أبو عیسی : والحدیث الأول حدیث جابر ، عن أبی قتادة لیس بمحفوظ، قلت : لم ینقل عن البخاری تصحیح حدیث جابر صریحا، وانما قال : رواه غیر واحد عن محمد بن اسحاق، وکذلک الترمذی انما رجح حدیث محمد بن اسحاق علی حدیث ابن لهیعة، ولم یصحح الحدیث، بل قال فی جامعه : حسن غریب ... وقال ایضا : حدیث جابر عن النبی صلی الله علیه وسلم اصح من حدیث ابن لهیعة، انظر جامعه، ابواب الطهارة، باب من الرخصة فی ذلک رقم ۹، ۱۰

هم دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى د سيدنا جابر رضى الله عنه دا روايت امام احمد، بزار، ابوداؤد، ترمذى، ابن ماجه، ابن الجارود، ابن خزيمه، ابن حبان، حاكم او دارقطنى رحمهم الله تخريج کړې دې، امام بخاري رحمه الله ورته صحيح وئيلې دې لکه امام ترمذي رحمه الله د هغه نه نقل کړل، خپله امام ترمذي او امام بزار د دې تحسين کړې دې، ابن السکن دې ته صحيح وئيلې دې، خو د محمد بن اسحاق د عنعنه د وجې نه امام نووى رحمه الله توقف کړې دې، حال دا چه د امام احمد رحمه الله وغيره په رواياتونو کښې د تحديث صراحت موجود دې، ابن عبدالبر د ابان بن صالح د وجې نه دې حديث ته ضعيف وئيلې دې، دا د هغه وهم دې، ځکه چه ابان بالاتفاق ثقه دې او ابن حزم د ابان د مجهول کيدو دعوى کړې ده چه غلطه ده. (١)

د پورته تولو تفصيلاتو نه دا خبره معلومه شوه چه د سند په بنياد باندې دا حديث رد کول صحيح نه دى.

خو د دې په راويانو باندې د کلام کيدو د وجې نه په سند کښې د يوې درجې ضعف پيدا شوې دې. او د ناسخ دپاره دا ضرورى ده چه هغه د قوت په اعتبار سره د منسوخ برابر وى يا د هغه نه زيات وى، دلته د سيدنا ابو ايوب انصارى رضى الله عنه حديث د هغې په مقابله کښې ډير اوچت دې، لهذا حديث جابر د حديث ايوب دپاره ناسخ نه شى جوړيدې.

د دې نه علاوه دلته هم هغه تول احتمالات موجود دى، کوم چه د سيدنا ابن عمر رضى الله عنهما د روايت د لاندې بيان شوې دى!

هم دا وجه ده چه خپله حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى : «فى الاحتجاج به نظر، لانها حكاية فعل لا عموم لها، فيحتمل ان يكون لعذر، ويحتمل ان يكون فى بنيان ونحوه» (٢)

يعنى د دې حديث نه دليل نيول محل نظر دى، ځکه چه دا يوه واقعه جزئيه ده چه د هغې څه عام حکم نه وى، په دې کښې دا احتمال هم کيدې شى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د څه عذر د وجې نه داسې کړې وى او دا احتمال هم ممکن دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم په آبادئ کښې دننه وو.

حافظ ابن القيم رحمه الله د دې حديث په احتمالاتو باندې هم ډير په تفصيل سره کلام کړې دې او په دې خبره ئې جزم کړې دى چه د داسې محتمل رواياتو په بنياد باندې د نهى صحيح او صريح احاديث نه شى پريخودلې کيدې. (٣)

③ د مجوزينو دريم دليل د سيده عائشه رضى الله عنها روايت دې!

«قَالَتْ : ذُكِرَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْمٌ يَكْرَهُونَ أَنْ يَسْتَقْبِلُوا بِفُرُوجِهِمُ الْقِبْلَةَ، فَقَالَ : أُرَاهُمْ قَدْ فَعَلُوهَا، اسْتَقْبِلُوا بِمَقْعَدَتِي الْقِبْلَةَ» (٤)

يعنى: د رسول الله صلى الله عليه وسلم وړاندې د څه خلقو تذکره اوکړې شوه چه هغوى په خپلو شرمگاهونو

---

١) التلخيص الحبير ج ١ ص ١٠٤، كتاب الطهارة، باب الاستنجاء رقم ١٢٨

٢) التلخيص الحبير ج ١ ص ١٠٤، كتاب الطهارة، باب الاستنجاء رقم ١٢٨

٣) اوگورئ: زادالمعاد فى هدى خير العباد ج ٢ ص ٣٥٨، فصل فى هديه صلى الله عليه وسلم فى الذكر عند دخوله الخلاء

٤) سنن ابن ماجة، كتاب الطهارة، باب الرخصة فى ذلك فى الكنيف واباحته، دون الصحارى رقم ٣٢٤

سره قبلې ته مخامخ کیناستل مکروه ګڼړل، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : بنهه چه هغه خلقو داسې کړي دي؟ زما مقعد قبلې ته مخامخ کړئ.

د دې حدیث نه د استقبال او استدبار مطلقا مجوزین استدلا ل کوی، هم دغه شان صرف په بنیان کښې د جواز قائلین هم ترې استدلال کوی.

خو د دې په سند او متن دواړو کښې کلام کړې شوې دې، پس علماء کرامو دا روایت معلول کړې دې او وئیلې ئې دی چه په دې کښې اضطراب، وقف، ضعف راوی، نکارت او د انقطاع علتونه موندلې شی، بیا د دې ټولو نه علاوه د نسخ هم احتمال دې.

هر چه د اضطراب تعلق دې نو امام ترمذی رحمه الله فرمائی!

﴿ فسألت محمدا عن هذا الحدیث فقال : هذا حدیث فیه اضطراب .... ﴾

یعنی ما د امام بخاری رحمه الله نه د دې حدیث په باره کښې تپوس اوکړو نو هغه اوفرمائیل چه دا داسې حدیث دې چه په دې کښې اضطراب دې.

د دې لړ شان تفصیل دا دې چه دا روایت په لاندې ذکر شوې طریقو سره روایت دې!

① ﴿ عن خالد الحذاء، عن عراك، عن عائشة موقوفا ﴾

② ﴿ عن خالد الحذاء، عن خالد بن ابی الصلت، عن عراك، عن عائشة ﴾

③ ﴿ عن خالد الخذاء، عن خالد بن ابی الصلت عن عراك، عن عمر بن عبد العزیز، عن عائشة ﴾

④ په بعض طرق کښې د دې برعکس ﴿ عن عمر بن عبد العزیز عن عراك عن عائشة ﴾ ذکر دې.

⑤ ﴿ عن عراك، عن عروة، عن عائشة ﴾

⑥ ﴿ عن عراك، عن عمرة، عن عائشة ﴾(۱)

وقف : بیا په دې طرق کښې بعض طرق مرفوع دی او بعض پکښې موقوف دی.

بیا د وقف په باره کښې امام بخاری رحمه الله فرمائی : ﴿ والصحیح عن عائشة من قولها ﴾(۲) یعنی د دې حدیث موقوف کیدل صحیح دی.

هم دغه شان امام ابن ابی حاتم رحمه الله په کتاب العلل کښې فرمائی : ﴿ عراك بن مالك عن عروة عن عائشة موقوف وهذا اشبه ﴾(۳)

یعنی د دې روایت موقوف کیدل اشبه او اقرب الی الصواب دې.

ضعف راوی : په دې روایت کښې خالد بن ابی الصلت راوی دې، د هغه په باره کښې عبد الحق رحمه الله فرمائی : ﴿ ضعیف ﴾(٤)

---

۱) د دې ټولو طرقو د تفصیل دپاره اوګورئ: تعلیقات نصب الرایة ج ۲ ص ۱۰۶
۲) علل الترمذی ج ۱ ص ۲٤، الرخصة فی استقبال القبلة بغائط او بول
۳) کتاب العلل لابن ابی حاتم ج ۱ ص ۲۲۷، علل اخبار رویت فی الطهارة
٤) اوګورئ : تعلیقات نصب الرایة ج ۲ ص ۱۰۶

ابن القیم رحمه الله هم هغه ته ضعیف وئیلې دې. (۱)

ابن حزم رحمه الله فرمائی : ﴿ مجهول لایدری من هو ﴾ (۲)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی : ﴿ لایکادیعرف ﴾ (۳)

نکارت : حافظ ذهبی رحمه الله دې حدیث ته منکر وئیلې دې. (٤)

انقطاع : د دې حدیث سند منقطع دې، پس د امام احمد رحمه الله مخکښې چه کله دا بیان کړې شو چه عراك بن مالك دا حدیث ﴿ سمعت عائشة ﴾ وئیلو سره اوروی نو هغوی په دې نکیر اوفرمائیلو او وې فرمائیل : ﴿ من این سمع عراك من عائشة؟ انما یروی عن عروة عنها ﴾ یعنی عراك د عائشې رضی الله عنها نه چرته واوریدو؟ هغه خو د عروة رحمه الله په واسطې د عائشې رضی الله عنها نه روایت کوی. (۵)

هم دغه شان د ابن القیم رحمه الله تحقیق هم دا دې چه د عراك او د عائشې رضی الله عنها ترمینځه سند انقطاع ده. (۶)

موسی بن هارون رحمه الله فرمائی : ﴿ لانعلم لعراك سماعا من عائشة ﴾ (۷)

نسخ : هر چه د نسخ د احتمال تعلق دې، پس ابن حزم رحمه الله فرمائی چه د دې حدیث د سیاق نه صفا معلومیږی چه دا حدیث د سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه د حدیث نه مقدم دې، ځکه چه په دې حدیث کښې دا منقول دی چه کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ذکر کړې شو چه صحابه کرام استقبال قبله بالفرج مکروه ګڼړی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې د تعجب اظهار اوفرمائیلو، که د ممانعت حکم مخکښې راغلې وې نو د اظهار تعجب هیڅ معنی نه وه، لهذا دا حدیث منسوخ خو کیدې شی ناسخ هر ګز نه شی کیدې. (۸)

بعض حضراتو د دې ټولو اعتراضاتو د جواب ورکولو کوشش کړې دې او د دې ثابتولو کوشش ئې کړې دې چه د دې حدیث نه احتجاج کیدلې شی. (۹)

خو حقیقت دا دې چه په دې حدیث کښې څومره کلام شوې دې، که هغه ټول کلام مرتفع هم شی نو بیا هم د دهٔ مقام د سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه د مرفوع، صحیح او صریح حدیث په مقابله کښې کم وی، لهذا په دې حدیث باندې به عمل کول صحیح نه وی.

---

۱) قال ابن القیم : وله علة اخری وهی ضعف خالد بن ابی الصلت. زاد المعاد ج ۲ ص ۳۵۱

۲) المحلی لابن حزم ج ۱ ص ۱۹۶

۳) میزان الاعتدال ج ۱ ص ۶۳۲، رقم ۲٤۳۲

٤) پورته حواله

۵) نصب الرایة ج ۲ ص ۱۰۶

۶) زاد المعاد ج ۲ ص ۳۵۱

۷) تعلیقات نصب الرایه ج ۲ ص ۱۰۶

۸) اوګورئ : المحلی لابن حزم ج ۱ ص ۱۹۷، ۱۹۸

۹) د تفصیل دپاره اوګورئ : تعلیقات الشیخ احمد شاکر علی المحلی لابن حزم ج ۱ ص ۱۹۷

تنبیه : د سیدنا معقل بن ابی معقل اسدی رضی الله عنه نه روایت دي!

﴿ نهی رسول الله ﷺ ان نستقبل القبلتین ببول او غائط ﴾ (۱) یعنی رسول الله ﷺ د بول او غائط په موقع باندې د دواړو قبلو طرف ته د مخ کولو نه منع فرمائیلي ده.
د دې حدیث نه محمد بن سیرین رحمه الله استدلال کوی چه د کعبې نه علاوه د بیت المقدس طرف استدبار او استقبال هم مکروه دي. (۲)
جمهور د دې یو جواب دا ورکوی چه د دواړو استقبال او استدبار په یو وخت ناجائز نه دې، بلکه په طریقه د بدایة دې، چه کله بیت المقدس قبله وه نو د هغه د استدبار او استقبال ممانعت وو او چه کله کعبه شریفه قبله شوه نو د هغې د استدبار او استقبال ممانعت شو، هم د دې نه راوی په ﴿ قبلتین ﴾ سره تعبیر کړې دې.
دویم جواب دا ورکوی چه دا روایت د اهل مدینه سره خاص دې، ځکه چه د اهل مدینه دپاره د بیت المقدس استقبال د کعبې استدبار لره او د هغې استدبار د کعبې استقبال لره مستلزم وو، ځکه چه د مدینې منورې نه بیت المقدس په شمال کښې دې او کعبه ترې په جنوب کښې ده. که د مدینې منورې اوسیدونکو ته د بیت المقدس طرف ته د مخ کولو او شا کولو اجازت ورکړې شوې وې نو د کعبې استدبار او استقبال به ضرور لازمیدو. (۳)
د دې نه علاوه د سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه روایت د سیدنا معقل رضی الله عنه د روایت په مقابله کښې اصح دې، بل هغه صریح او معلوم السبب هم دې، په دې وجه به ترجیح د سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه روایت ته وی. والله اعلم
هر چه د ابو عوانه اسفرائنی رحمه الله تعلق دې، چه وائی چه د استقبال او استدبار قبله دا حکم د اهل مدینه او د هغې په جهت کښې د اوسیدونکو سره خاص دې، د باقی خلقو چه د هغوی قبله مشرق یا مغرب طرف ته وی د هغوی دپاره استقبال او استدبار جائز دې، پس د هغوی د سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه د حدیث الباب د یو طریق نه دې چه په هغې کښې ارشاد دې:

﴿ اذا اتی احدکم الغائط فلا یستقبل القبلة، ولا یولها ظهره، شرقوا او غربوا ﴾ (٤)

---

۱) الحدیث، اخرجه ابوداؤد، فی کتاب الطهارة، باب کراهیة استقبال القبلة عند قضاء الحاجة رقم ۱۰، وابن ماجة، فی کتاب الطهارة، باب النهی عن استقبال القبلة بالغائط والبول رقم ۳۱۹.
۲) اوګورئ : بذل المجهود ج ۱ ص ۱۹۹، کتاب الطهارة، باب کراهیة استقبال القبلة عند قضاء الحاجة
۳) پورته حواله
٤) صحیح البخاری، کتاب الوضوء، باب لا تستقبل القبلة بغائط ولا بول الا عند البناء ... رقم ۱٤٤، وکتاب الصلاة، باب قبلة اهل المدینة واهل الشام والمشرق .... رقم ۳۹٤، وصحیح مسلم، کتاب الطهارة، باب الاستطابة رقم ۶۰۹، وسنن النسائی، کتاب الطهارة، باب النهی عن استدبار القبلة عند الحاجة، رقم ۲۱، وسنن ابی داؤد، کتاب الطهارة، باب کراهیة استقبال القبلة عند قضاء الحاجة رقم ۹، وجامع الترمذی ابواب الطهارة، باب فی النهی عن استقبال القبلة بغائط او بول، رقم ۸، وسنن ابن ماجة کتاب الطهارة وسننها، باب النهی عن استقبال القبلة بالغائط والبول رقم ۳۱۸.

خو جمهور د حدیث بنیادی حکم د استقبال او استدبار قبله ممانعت عام گنړی او ﴿شرقوا او غربوا﴾ لره د اهل مدینه سره خاص کوی، ځکه چه د اهل مدینه قبله په جنوب کښ ده، د مشرق او مغرب طرف ته نه ده.

قوله: قال رسول الله ﷺ اذا اتی احدکم الغائط، فلا یستقبل القبلة ولا یولها ظهره: رسول الله ﷺ فرمائی: چه کله په تاسو کښ څوك د قضاء حاجت دپاره راشی نو هغه دې د قبلې طرف ته رخ نه کوی او نه دې د هغې طرف ته خپله شا راړوی.

﴿ولایستقبل﴾ کښ ﴿لا﴾ ناهیه ده او ﴿القبلة﴾ کښ الف لام عهدی دې، د دې منه مراد کعبه ده. (۱)

په ﴿لایولها﴾ کښ ﴿لایول﴾... ولی یولی تولیة د نهی صیغه ده، چه د هغې معنی د شا اړولو ده.

په مسلم شریف کښ د ﴿ولایولها ظهره﴾ په ځائې ﴿ولاتستدبروها﴾ الفاظ دی. (۲)

په مسلم شریف کښ د دې نه روستو د ﴿ببول ولاغائط﴾ اضافه هم ده. (۳) د دې ﴿غائط﴾ نه به نجاست خارجه مراد کولې شی او د ﴿اذا اتی احدکم الغائط﴾ نه مراد به بیت الخلاء او د قضاء حاجت ځائې وی. (٤)

بیا د ﴿ببول او غائط﴾ د قید نه د سبب نهی پته لگی چه د دې علت احترام قبله ده، گویا د قبلې اکرام دا دې چه د هغې طرف ته په نجاست سره مواجهت او نه موندلې شی، د دې تائید دسیدنا جابر ﷺ دحدیث نه هم کیږی چه د هغې الفاظ داسې دی: ﴿اذا اهرقنا الماء﴾(۵)
بعض حضراتو د نهی علت کشف عورت وئیلې دې، که دا علت اومنلې شی نو بیا به په یو حال کښ هم د قبلې طرف ته کشف عورت جائز نه وی، پس د بیبی سره د وطی په صورت کښ به هم قبلې ته مخ کول جائز نه وی. (۶)
د کشف عورت د علت کیدو یو قول د مالکیانو دې، کوم چه ابن شاش مالکی رحمه الله نقل کړې دې. (۷) کیدې شی چه د دې حضراتو دلیل هغه روایت وی په کوم کښ چه ارشاد دې!

---

۱) اوگورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲٤۶
۲) اوگورئ: صحیح مسلم، کتاب الطهارة، باب الاستطابة رقم ۶۰۹
۳) پورته حواله
٤) فتح الباری ج ۱ص ۲٤۶
۵) پوره حدیث داسې دی: ﴿عن جابر بن عبد الله الأنصاری قال: کان رسول الله صلی الله علیه و سلم قد نهانا عن أن نستدبر القبلة أو نستقبلها بفروجنا إذا أهرقنا الماء قال ثم رأیته قبل موته بعام یبول مستقبل القبلة. مسند احمد ج ۳ ص ۳۶۰، رقم ۱٤۹۳۳
۶) فتح الباری ج ۱ص ۲٤۶
۷) پورته حواله

﴿لا تستقبلوا القبلة بفروجكم، ولا تستدبروها﴾(۱)
يعنى په خپلو شرمګانو سره نه د قبلې طرف ته مه مخ کوئ او مه ورته شا کوئ.
خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دا حديث هم د قضاء حاجت په حال باندې محمول کول پکار دى، چه په دواړو روايتونو کښ تطبيق پيدا شى. (۲) والله اعلم

⑫ بَابُ مَنْ تَبَرَّزَ عَلَى لَبِنَتَيْنِ

په دوه ښختو باندې د قضاء حاجت کولو حکم: ﴿تبرز﴾ د باب تفعل نه د ﴿تغوط﴾ يعنى قضاء حاجت کولو په معنى کښ دې. اصل کښ ﴿تبرز﴾ خروج الى البزار يعنى د وسيع فضاء طرف ته وتلو ته وئيلې شى، بيا مجازا د قضاء حاجت دپاره استعمال شو. (۳)

﴿لبنتين﴾ د ﴿لبنة﴾ تثنيه ده. ﴿لبنة﴾ د لام په فتحې او د باء په کسرې سره لوستلې شى. دا د لام په فتحې او د باء په سکون سره هم لوستل جائز دى، هم دغه شان ئې د لام په کسرې او د باء په سکون سره هم لوستل صحيح دى. (٤)
علامه عينى رحمه الله فرمائى چه کوم لفظ هم مفتوح الاول او مکسور الثانى وى په هغې کښ دا درې واړه لغات صحيح دى، هم دغه شان که د هغه دويم يا دريم حرف د حروف حلقى نه وى نو هغه د اول او ثانى په کسرې سره هم لوستلې شو لکه: ﴿فَخِذ﴾ لره ﴿فَخْذ﴾، ﴿فِخْذ﴾ او ﴿فِخِذ﴾ هم لوستلې شى. (۵) ﴿لبنة﴾ کچه ښختې ته وئيلې شى چه په اور کښ نه وى پخ کړې شوې، په اور کښ د پخولو نه پس ورته ﴿آجُر﴾ وئيلې شى. (۶)
د مخکښ باب سره مناسبت په مخکښ باب کښ د استقبال او استدبار قبله مطلقا ممانعت ذکر وو، په دې باب کښ د هغې تخصيص ذکر دې، دغه شان په دواړو کښ مناسبت واضح دې. (۷)

د ترجمة الباب مقصد: شاه ولى الله رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله د ﴿تبرز على لبنتين﴾ جواز بيانول غواړى. (۸)

---

۱) اخرجه احمد فى مسنده من حديث ابى ايوب الانصارى رضى الله عنه ج ۵ ص ٤۱۹، رقم ۲۳۹۵۵، والطبرانى فى معجمه ج ٤ ص ۱٤۱، احاديث رافع بن اسحاق بن طلحة مولى الشفاء، رقم ۳۹۳۲
۲) فتح البارى ج ۱ص ۲٤۶
۳) عمدة القارى ج ۲ ص ۲۷۹
٤) اوګورئ: النهاية ج ۲ ص ۵۸۵، وتاج العروس ج ۳۶ ص ۸۷
۵) عمدة القارى ج ۲ ص ۲۷۹، وتاج العروس ج ۹ ص ٤٤۹، ٤۵۰، مادة : فخذ
۶) عمدة القارى ج ۲ ص ۲۷۹
۷) عمدة القارى ج ۲ ص ۲۷۹
۸) رسالة تراجم ابواب البخارى ص ۱۶

حضرت گنگوهي رحمه الله فرمائي چه د دې باب د لاندې چه كوم روايت راوړلې شوې دې دا په اصل كښې د باب سابق سره متعلق روايت دې، خو چونكه دا روايت يوې مستقل مسئلې لره هم متضمن دې هغه دا چه د قضاء حاجت په وخت په څه اوچت ځائې باندې كيناستل پكار دى، چه د نجاست د لګيدلو نه بچ شى، په دې مسئله باندې د تنبيه كولو دپاره ئې د ﴿باب من تبرز على لبنتين﴾ باب قائم كړې دې، ګويا امام بخارى رحمه الله دا بيانول غواړى چه ذكر شوې روايت د مخكښې باب په مضمون او مقصود باندې د مشتمل كيدو نه علاوه د قضاء حاجت دپاره د كيناستلو په ادب باندې هم مشتمل دې، دا يوه لويه فائده ده او دغه شان امام بخارى رحمه الله اكثر كوى. (۱)

حاصل دا دې چه امام بخارى رحمه الله په اصل كښې د مخكښې باب تخصيص كول غواړى، هم دغه شان د هغې سره په يوه فائده جديده باندې متنبه كول غواړى.

خو حضرت گنگوهي رحمه الله دا د باب فى باب د قبيل نه منى او دا فرمائي چه لا د مخكښې باب مضمون نه دې ختم شوې، په اول باب كښې چه كوم تعميم مقصود وو د هغې تخصيص د امام بخارى رحمه الله مقصود دې، خو چونكه دا حديث يوې نوې فائدې لره هم متضمن دې، په دې وجه ئې په دې باندې نوې عنوان قائم كړو. والله اعلم

په مخكښې باب كښې دا خبره هم ذكر شوې ده چه ابن بطال رحمه الله فرمائي چه د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما حديث، هم دغه شان د دې قسم نور آثار مخكې ته رد لو سره امام بخارى رحمه الله د ﴿باب لاتستقبل القبلة بغائط اوبول الاعند البناء جدار اونحوه﴾ استثناء كړې ده. (۲)

خو په دې باندې اشكال دا وو چه بيا د ځانله ځانله ترجمه قائمولو څه فائده نشته، ځكه چه دا تراجم خو دعاوى وى. د دې د لاندې چه كوم روايتونه راوړلې شى هغه د هغې دليلونه وى، نو مطلب دا راوتلو چه دا ځانله ځانله مسائل دى، د دې ځانله ځانله دلائل ذكر كوى، حال دا چه د دې دليل تعلق د مخكښې باب سره پيدا شو.

د دې جواب شاته ذكر شو چه ﴿باب من تبرز على لبنتين﴾ مستقل ترجمه نه ده، بلكه د تنبيه على الفائدة په طور ترجمه قائم كړې شوې ده او د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما دا روايت د ﴿لا تستقبل القبلة...﴾ سره متعلق دې. والله اعلم

•••

۱) لامع الدرارى مع الكنز المتوارى ج ۳ ص ۲۴، ۲۵

۲) شرح صحيح البخارى لابن بطال ج ۱ ص ۲۳۸

۱۴۵ : ﴿ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ عَنْ عَمِّهِ وَاسِعِ بْنِ حَبَّانَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ (۱) أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ إِنَّ نَاسًا يَقُولُونَ إِذَا قَعَدْتَ عَلَى حَاجَتِكَ فَلَا تَسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ وَلَا بَيْتَ الْمَقْدِسِ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ لَقَدِ ارْتَقَيْتُ يَوْمًا عَلَى ظَهْرِ بَيْتٍ لَنَا فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى لَبِنَتَيْنِ مُسْتَقْبِلًا بَيْتَ الْمَقْدِسِ لِحَاجَتِهِ وَقَالَ لَعَلَّكَ مِنَ الَّذِينَ يُصَلُّونَ عَلَى أَوْرَاكِهِمْ فَقُلْتُ لَا أَدْرِي وَاللّٰهِ قَالَ مَالِكٌ يَعْنِي الَّذِي يُصَلِّي وَلَا يَرْتَفِعُ عَنِ الْأَرْضِ يَسْجُدُ وَهُوَ لَاصِقٌ بِالْأَرْضِ ﴾
[۱۴۷ ، ۱۴۸ ، ۲۹۳۵]

رجال الحديث

① **عبد الله بن يوسف** : دا مشهور امام او محدث ابو محمد عبدالله بن يوسف تنيسى كلاعى دمشقى رحمه الله دي. د هغه حالات په كتاب بدء الوحى كښ د دويم حديث د لاندې مختصرا او په كتاب العلم كښ د باب ليبلغ العلم الشاهد الغائب د لاندې تفصيلا تير شوې دى. (۲)

② **مالک** : دا امام دار الهجرة مالک بن انس اصبحى مدنى رحمه الله دي، د هغوى حالات د كتاب بدء الوحى په دويم حديث كښ او په كتاب الايمان، باب من الدين الفرار من الفتن د لاندې تير شوې دى. (۳)

③ **يحيى بن سعيد** : دا مشهور تابعى محدث امام يحيى بن سعيد انصارى مدنى رحمه الله دي. د هغه حالات هم د بدء الوحى د اولنى حديث د لاندې مختصرا او په كتاب الايمان كښ د باب صوم رمضان احتسابا من الايمان د لاندې لږ په تفصيل سره ذكر شوې دى. (٤)

④ **محمد بن يحيى بن حبان** : دا محمد بن يحيى بن حبان (بفتح الحاء والباء الموحدة المشددة، وبعدها الف ونون) بن منقذ انصارى نجارى مدنى رحمه الله دي، ابو عبدالله ئې كنيت دې. (۵)
دا د سيدنا حبان بن منقذ رضى الله عنه نمسي دې، د چا په باره كښ چه راځى چه هغه به په بيوع كښ

---

۱) قوله عن عبد الله بن عمر : الحديث اخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب الطهارة، باب الاستطابة رقم ۶۱۲ والنسائى فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب الرخصة فى البيوت رقم ۲۳، وابوداؤد فى سننه فى كتاب الطهارة باب الرخصة من ذلک رقم ۱۲، والترمذى فى جامعه فى ابواب الطهارة باب ما جاء من الرخصة فى ذلک رقم ۱۱، وابن ماجة فى سننه، فى كتاب الطهارة باب الرخصة فى ذلک فى الكنيف واباحته دون الصحارى، رقم ۳۲۲، ۳۲۳.

۲) اوګورئ : كشف البارى ج ۱ ص ۲۸۹، و ج ٤ ص ۱۱۳

۳) اوګورئ : كشف البارى ج ۱ ص ۲۹۰، ج ۲ ص ۸۰

٤) اوګورئ : كشف البارى ج ۱ ص ۲۳۸، و ج ۲ ص ۳۲۱

۵) اوګورئ : تهذيب الكمال ج ۲۶ ص ۶۰۵و ۶۰۶

نقصان کولو، رسول اللهﷺ هغه ته تلقین اوکړو چه کله هم یو څیز اخلې نو ﴿لاخلابة﴾(۱) وایه. (۲) په ۴۷ هجری کښې وفات شوې دې. (۳)

دې د سیدنا ابن عمر، رافع بن خدیج، انس بن مالك، عبدالله بن محیریز او دخپل تره واسع بن حبان رضی الله عنهم نه علاوه دا ډیرو حضراتو نه روایت حدیث کوی.

د هغه نه په روایت کونکو کښې امام ربیعة الرائی، لیث بن سعد، محمد بن عجلان، عمرو بن یحیی المازنی، ابن اسحاق او امام مالك رحمهم الله وغیره دی. (٤)

امام ابن معین. امام ابو حاتم او امام نسائی رحمهم الله هغه ته ﴿ثقة﴾ وئیلې دې. (۵)

امام ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې. (۶)

امام عجلی رحمه الله فرمائی: ﴿مدنی ثقة﴾(۷)

امام واقدی رحمه الله فرمائی: ﴿کانت له حلقة فی مسجد المدینة، وکان یفتی، وکان ثقة کثیر الحدیث﴾(۸)

یعنی په مسجد نبوی ﷺ کښې به د هغه باقاعده حلقه وه، هغه به فتوې ورکولې او ثقه وو، د هغه احادیث ډیر زیات دی.

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی: ﴿الامام الفقیه الحجة....﴾ هم دغه شان هغه فرمائی: ﴿وهو امام مجمع علی ثقته﴾(۹) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی ﴿ثقة فقیه﴾(۱۰)

په ۱۲۱ هجری کښې د ۷۴ کالو په عمر کښې وفات شوې دې. (۱۱) رحمه الله رحمة واسعة

⑤ واسع بن حبان: دا واسع بن حبان بن منقذ انصاری نجاری مدنی رحمه الله دې.

امام بغوی رحمه الله هغه په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې شمارکولو سره لیکلې دی:

---

۱) انظر صحیح البخاری ج ۱ ص ۲۸٤، کتاب البیوع، باب ما یکره، من الخداع فی البیع رقم ۲۱۱۷، وصحیح مسلم، کتاب البیوع، باب من یخدع فی البیع رقم ۳۸۶۰

۲) سیر اعلام النبلاء ج ۵ ص ۱۸۶

۳) پورته حواله

٤) د شیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ، تهذیب الکمال ج ۲۶ ص ۶۰۶، ۶۰۷، وسیر اعلام النبلاء ج ۵ ص ۱۸۶، ۱۸۷

۵) الجرح والتعدیل ج ۸ ص ۱٤۲، رقم (۵۳۹/۱۳۸۵۶)، وتهذیب الاسماء واللغات ج ۱ ص ۹٤، ۹۵، تهذیب الکمال ج ۲۶ ص ۶۰۷

٦) الثقات لابن حبان ج ۵ ص ۳۷۶، ۳۷۷

۷) معرفة الثقات للعجلی ج ۲ ص ۲۵۶، رقم ۱۶۵۹، وتعلیقات تهذیب الکمال ج ۲۶ ص ۶۰۷

۸) تهذیب الکمال ج ۲۶ ص ۶۰۷

۹) سیر اعلام النبلاء ج ۵ ص ۱۸۶، ۱۸۷

۱۰) تقریب التهذیب ص ۵۱۲، رقم ۶۳۸۱

۱۱) هذیب الکمال ج ۲۶ ص ۶۰۷

﴿فی صحبته مقال﴾(۱) یعنی د هغه په صحابی کیدو کښې کلام دې.

او عدوی رحمه الله فرمائی: ﴿شهد بیعت الرضوان والمشاهد بعدها، وقتل یوم الحرة﴾(۲)
یعنی د بیعت الرضوان (صلح حدیبیه) په موقع باندې حاضر وو.
ابو موسی مدائنی رحمه الله هم هغه په صحابه کرامو کښې شمار کړې دې. (۳)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله په تقریب التهذیب کښې اول جزما ﴿صحابی ابن صحابی﴾ فرمائیلې دی، بیا فرمائی: ﴿بل ثقة﴾(٤)

او خپله په الاصابة کښې د عدوی تردید کولو سره لیکی: ﴿قلت: وهذا غیر الراوی فیما اظن، لانه مشهور فی التابعین، وحدیثه فی صحیح مسلم وقد فرق بینهما ابن فتحون فی ذیل الاستیعاب﴾(۵)
یعنی عدوی چه د کوم سړی په باره کښې فرمائی هغه زما د خیال مطابق د دې راوی نه علاوه بل سړې دې، ځکه چه د هغه سړی په تابعینو کښې شمار کیدل مشهور دی، د هغه احادیث په صحیح مسلم کښې دی، ابن فتحون په ﴿ذیل الاستیعاب﴾ کښې د دواړو ترمینځه تفریق کړې دې.

هم دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله د واسع بن حبان رحمه الله تذکره په خپل کتاب الاصابة کښې په القسم الرابع کښې هم کړې ده، په دې کښې هغه په امام بغوی رحمه الله باندې رد کړې دې، هغوی چه کوم واسع بن حبان ته صحابی وئیلې دې، د هغه وهم ئې هلته بیان کړې دې. (۶)

علائی رحمه الله فرمائی: ﴿ذکره الصغانی فیمن فی صحبته نظر، ولا وجه لذلك، فانه تابعی قطعا، قاله ابوزرعة والجماعة﴾(۷)
یعنی هغه لره صغانی په هغه خلقو کښې شمار کړې دې چه د هغه په صحابی کیدو کښې کلام دې. او حال دا دې چه د دې هیڅ بنیاد نشته، ځکه چه هغه قطعی طور سره تابعی دې، ابوزرعه او هم دغه شان یو جماعت دغه شان وئیلې دی.
دې د سیدنا جابر، سیدنا رافع بن خدیج، سعد بن المنذر، عبدالله بن زید بن عاصم مازنی، عبدالله بن عمر، قیس بن اقی صعصعه انصاری، وهب بن حذیفه غفاری او ابو سعید خدری رضی الله عنهم نه روایت کوی.

---

۱) اوګورئ: تهذیب التهذیب ج ۱۱ ص ۱۰۲
۲) الاصابة ج ۳ ص ۶۲۷، القسم الاول
۳) اکمال تهذیب الکمال لمغلطائی ج ۱۲ ص ۱۹۸، رقم ۵۰۰۰
٤) تقریب التهذیب ص ۵۷۹، رقم ۷۳۸۰
۵) الاصابة ج ۳ ص ۶۲۷، القسم الاول
۶) الاصابة ج ۳ ص ۶٤۶، القسم الرابع
۷) جامع التحصیل فی احکام المراسیل ص ۲۹۵، رقم ۸۵٤

د هغه نه د هغه خوئي حبان بن واسع بن حبان او ورارهٔ محمد بن يحيى بن حبان ﷺ روايت كوى (۱)

امام ابو زرعه رحمه الله فرمائي: «مدنى ثقة»(۲)

امام عجلى رحمه الله فرمائي: «مدنى، تابعى، ثقة»(۳)

حافظ ابن حبان رحمه الله هغه په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې. (٤)

حافظ ذهبى رحمه الله هم هغه ثقه شمار كړې دې. (۵)

د هغه احاديث د اصول ستهٔ تولو حضراتو اخستلې دى. (۶) رحمه الله رحمة واسعة

⑨ **عبدالله بن عمر**: د سيدنا عبدالله بن عمر رضى الله عنهما حالات په كتاب الايمان كښې د باب الايمان وقول النبى ﷺ بنى الاسلام على خمس د لاندې تير شوى دى. (۷)

قوله: عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: د سيدنا عبدالله بن عمر رضى الله عنهما نه روايت دې چه هغه فرمائي!

د «يقول» ضمير د عبدالله بن عمر رضى الله عنهما طرف ته راجع دې نه د واسع بن حبان رحمه الله طرف ته، (۸) علامه كرمانى رحمه الله دا د واسع بن حبان رحمه الله طرف ته راجع كړې دې. (۹)

په صحيح مسلم كښې دى: «عَنْ عَمِّهِ وَاسِعِ بْنِ حَبَّانَ قَالَ كُنْتُ أُصَلِّي فِي الْمَسْجِدِ وَعَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ مُسْنِدٌ ظَهْرَهُ إِلَى الْقِبْلَةِ فَلَمَّا قَضَيْتُ صَلَاتِي انْصَرَفْتُ إِلَيْهِ مِنْ شِقِّي فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ يَقُولُ نَاسٌ»(۱۰)

يعنې واسع بن حبان رحمه الله فرمائي چه ما په مسجد كښې مونځ كولو، او سيدنا عبدالله بن عمر رضى الله عنهما د قبلې طرف ته شا كولو سره ناست وو، چه كله ما مونځ پوره كړو نو زه د خپل طرف نه پاسيدم او دهغوى خواته ورغلم، سيدنا عبدالله بن عمر رضى الله عنهما اوفرمائيل چه څه خلق وائى..

د دې نه صراحة معلومه شوه چه د بخارى په روايت كښې د «انه كان يقول» ضمير سيدنا عبدالله بن عمر رضى الله عنهما طرف ته راجع دې، د واسع طرف ته نه دې، د دې نه روستو چه په «فقال

---

۱) د شيوخ او تلاميذ دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال ج ۳۰ ص ۳۹۷
۲) تهذيب الكمال ج ۳۰ ص ۳۹۷
۳) معرفة الثقات للعجلى ج ۲ ص ۳۳۸، رقم ۱۹۲۵
٤) الثقات لابن حبان ج ۵ ص ٤۹۸
۵) الكاشف ج ۲ ص ۳٤۶، رقم ۶۰۲۶
۶) اوګورئ: تهذيب الكمال ج ۳۰ ص ۳۹۷
۷) كشف البارى ج ۱ ص ۶۳۷
۸) فتح البارى ج ۱ ص ۲٤۷
۹) شرح الكرمانى ج ۲ ص ۱۹۰
۱۰) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب الاستطابة رقم ۶۱۱

عبدالله بن عمر لقد ارتقيت ﴾ كښ كومه فاء ده هغه د جواب دپاره نه ده بلكه سببيه ده، ګويا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د هغه حضراتو قول د انكار په طور نقل كړو، بيا ئې د انكار د سبب دپاره د ﴿ فقال عبدالله بن عمر: لقد ارتقيت... ﴾ ذكر كړو.

قوله: إِنَّ نَاسًا يَقُولُونَ إِذَا قَعَدْتَ عَلَى حَاجَتِكَ فَلَا تَسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ وَلَا بَيْتَ الْمَقْدِسِ: څه خلق وائى چه كله تاسو د خپل حاجت دپاره كينئ نو نۀ د قبلې طرف ته مخ كوئ او نه د بيت المقدس طرف ته.

سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په دې سره هغه خلق مراد كړې دى كوم چه د عموم نهى قائل دى، لكه سيدنا ابو ايوب انصارى، سيدنا ابوهريره او سيدنا معقل اسدى رضي الله عنهم وغيره. (۱)

دې حضراتو به وئيل چه د قضاء حاجت په وخت كښ د كعبې استدبار او استقبال مطلقا ناجائز دې، سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما د هغوى په مطلق دعوى باندې نكير اوكړو او دليل ئې دا پيش كړو چه ما خپله رسول الله ﷺ په كور كښ ناست د كعبې طرف ته شا كولو سره په قضاء حاجت كولو باندې ليدلې دې. معلومه شوه چه ممانعت مطلق او عام نه دې بلكه په دې كښ خصوصيت او قيد دې، پس د ابن عمر رضي الله عنهما شمير د تفصيل مذهب په قائلينو كښ كيږى، لكه چه په مخكښ باب كښ تفصيل تير شو.

قوله: لَقَدِ ارْتَقَيْتُ يَوْمًا عَلَى ظَهْرِ بَيْتٍ لَنَا: زه يوه ورځ د خپل كور په چهت باندې اوختلم

د دې نه معلومه شوه چه ابن عمر رضي الله عنهما د خپل كور چهت ته ختلې وو، او وړاندې په حديث ﴿باب التبرز فى البيوت ﴾ كښ هم دا حديث راروان دې، په هغې كښ دى ﴿ ارتقيت فوق ظهر بيت حفصة ﴾(۲) يعنى زه د سيده حفصه رضي الله عنها د كور په چهت باندې اوختلم، د دې نه معلومه شوه چه كور د سيده حفصه رضي الله عنها وو، نه د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما.

حافظ ابن حجر او د هغه په اتباع كښ شيخ الاسلام زكريا انصارى او قسطلانى رحمهم الله فرمائى چه كيدې شي چه د مختلف زمانو په اعتبار سره دا نسبت كړې شوې وى، اول دا كور د سيده حفصه رضي الله عنها په قبضه كښ وو، روستو د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما په قبضه كښ راغلې وو، ځكه چه هغه د سيده حفصه رضي الله عنها حقيقى رور وو، د څه حاجب د نه كيدو د وجې نه به د سيده حفصه رضي الله عنها ميراث د هغه طرف ته منتقل شوې وو، ګويا د ماضى په نسبت سره د سيده حفصه رضي الله عنها طرف ته نسبت اوكړې شو او د مآل په اعتبار سره ئې خپل ځان طرف ته نسبت اوكړو. (۳)

---

۱) فتح البارى ج ۱ ص ۲۴۷

۲) صحيح البخارى ج ۱ ص ۲۷، رقم ۱۴۸

۳) اوګورئ: فتح البارى ج ۱ ص ۲۴۷، وتحفة البارى ج ۱ ص ۱۵۸، كتاب الوضوء، باب التبرز فى البيوت، وارشاد السارى ج ۱ ص ۲۳۸، كتاب الوضوء، باب التبرز فى البيوت.

خو په دې کښې اشکال دا دې چه دې ټولو شارحينو په ابواب الخمس کښې تلو سره دا تصريح کړې ده چه رسول الله ﷺ چه ازواج مطهرات ته کوم کورونه ورکړې وو هغه ئې د سکنې په طور ورکړې وو، هم دا وجه ده چه د هغوی د وفات نه پس دا کورونه د هغوی د وارثانو طرف ته منتقل نه شو. (۱)

لهذا صحيح جواب دا دې چه سيدنا ابن عمر رضی الله عنهما چه د بيت اضافت سيده حفصه رضی الله عنها ته کړې دې هغه په حقيقت باندې حمل دې او چه خپل طرف ته ئې کړې دې نو هغه په مجاز باندې محمول دې، ګويا خپل طرف ته ئې نسبت په دې وجه اوکړو چه د خپلو خپلوانو څيز مجازا خپل طرف ته منسوب کولې شی. والله سبحانه وتعالى اعلم

قوله: فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى لَبِنَتَيْنِ مُسْتَقْبِلًا بَيْتَ الْمَقْدِسِ لِحَاجَتِهِ: ما رسول الله ﷺ اوليدو چه هغه د خپل حاجت دپاره په دوه ښختو باندې د بيت المقدس طرف ته مخ کړې ناست دې.

بعض حضرات د دې حديث نه د استقبال او استدبار قبله په مطلقا جواز باندې استدلال کړې دې، پس د هغوی وينا ده چه په دې حديث کښې دا حتمال دې چه هغه رسول الله ﷺ په ښکاره فضاء کښې ليدلې وی، او هر چه په «لبنتين» باندې د ليدلو تعلق دې، پس دا د «بناء» په موجود کيدو باندې دال نه دې، ځکه چه عين ممکنه ده چه رسول الله ﷺ په «لبنتين» باندې د زمکې نه د مرتفع کيدو دپاره ناست وی. (۲)

خو دا استدلال د څو وجو نه کمزورې دې اول په دې وجه د شرح معانی الاثار په يو روايت کښې «يقضی حاجته محجوبا عليه بلبن» (۳) (يعنی ما رسول الله ﷺ اوليدو چه قضاء حاجت ئې فرمائيلو په داسې طريقه چه په ښختو سره ئې پرده کړې وه) الفاظ راغلې دی.

هم دغه شان حکيم ترمذی رحمه الله په صحيح سند سره هم دا حديث نقل کړې دې، چه د هغې الفاظ داسې دی: «فرأيته فی كنيف» (٤) ما رسول الله ﷺ په بيت الخلاء کښې اوليدو.

---

۱) اوګورئ: فتح الباری ج ٦ ص ۲۱۱، کتاب فرض الخمس، باب ما جاء فی بيوت ازواج النبی ﷺ وما نسب من البيوت اليهن، وتحفة الباری ج ۳ ص ۵۳۷، وارشاد الساری ج ۷ ص ۱۷، طبعة دار الکتب العلمية

۲) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲٤۷

۳) شرح معانی الاثار ج ۲ ص ۳۷۰، کتاب الکراهة، باب استقبال القبلة بالفروج للغائط والبول

تنبيه: حافظ رحمه الله دا حديث د ابن خزيمه په حوالې سره نقل کړې دې، ليکن احقر ته د تتبع او تلاش باوجود په صحيح ابن خزيمه کښې دا حديث ملاؤ نه شو اوګورئ: فتح الباری: ۱/ ۲٤۷.

٤) نقله الحافظ عنه فی الفتح ج ۱ ص ۲٤۷، ولکنی لم اجده فی نوادر الاصول له، الا ان البيهقی اخرج عن ابن عمر: دخلت بيت حفصة، فحانت منی التفاتة، فرايت كنيف رسول الله ﷺ مستقبلا القبلة .... انظر السنن الکبری ج ۱ ص ۱۵۱، من الطبعة الجديدة، و ج ۱ ص ۹۳، من الطبعة القديمة، کتاب الطهارة، باب الرخصة فی ذلک فی الابنية، رقم ٤٤۲.

د ابن خزیمه په روایت کښې دی ﴿ فاشرفت علی النبی ﷺ وهو علی خلائه ﴾(۱)
د دې روایاتو نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ بالکل په ښکاره فضاء کښې نه وو ناست بلکه په ابادئ کښې دننه ناست وو.
دویم : سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما خپله په ښکاره فضاء د استقبال قبله د ممانعت قائل دې، مګر دا چه څۀ ساتر وی، لکه چه د ابوداؤد وغیره په روایت کښې تصریح ده. (۲) لهذا که رسول الله ﷺ په ښکاره فضاء کښې وې نو عبدالله بن عمر رضی الله عنهما به هم د مطلقا جواز قائل وې، د استقبال د ممانعت قول به ئې نه اختیارولې. (۳)
ابن القصار رحمه الله فرمائی چه دلته دا سوال پیدا کیدې شی چه سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما قصدا رسول الله ﷺ ته څنګه اوکتل؟ د دې د جواز څه صورت دې؟
خو د دې جواب دا دې چه ابن عمر رضی الله عنهما قصدا رسول الله ﷺ ته نه دی کتلی، بلکه ناڅاپی ئې پرې نظر پریوتلې دې، لکه چه د بیهقی په روایت کښې دی : ﴿ فحانت منی التفاتة ﴾(٤) یعنی زما توجه اتفاقی هغه طرف ته لاړه. خو چه کله ئې بغیر د قصد نه په دې حال کښې اولیدو نو هغوی اوغوښتل چه دا کتل هم د شرعی فائدې نه خالی نه وی، دغه شان هغه دا حکم شرعی مستنبط کولو سره بیان کړو او دغه شان کتل په دې وجه ممکن شو چه هغه د رسول الله ﷺ شا ته کتل، د دې نه د هغه د اتباع سنت سخت شوق معلومیږی. (۵)
د ائمه ثلاثه استدلال او د احنافو جواب : د سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما د دې حدیث نه ائمه ثلاثه په دې خبره باندې استدلال کړې دې چه که یو سړې په آبادئ کښې قضاء حاجت کوی نو د هغه دپاره د استقبال او استدبار ګنجائش شته، که په ښکاره فضاء کښې وی نو بیا ورله ګنجائش نشته.
په مخکښې باب کښې په دې حدیث باندې کافی کلام تیر شوې دې، خو دلته د خلاصې په طور د احنافو د ترجیح وجوه ذکر کولې شی
① د سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما دا روایت مبیح دې، او د سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه روایت محرم دې، د مبیح او محرم د تعارض په صورت کښې محرم ته ترجیح حاصله وی.

---

۱) صحیح ابن خزیمة ج ۱ ص ٤٦، کتاب الوضوء، باب ذکر الخبر المفسر للخبرین، انما نهی عن إستقبال القبلة رقم ٥٩
۲) عَنْ مَرْوَانَ الْأَصْفَرِ ، قَالَ : رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ أَنَاخَ رَاحِلَتَهُ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ ، ثُمَّ جَلَسَ يَبُولُ إِلَيْهَا ، فَقُلْتُ : يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ ، أَلَيْسَ قَدْ نُهِيَ عَنْ هَذَا ؟ قَالَ : بَلَى إِنَّمَا نُهِيَ عَنْ ذَلِكَ فِي الْفَضَاءِ ، فَإِذَا كَانَ بَيْنَكَ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ شَيْءٌ يَسْتُرُكَ فَلَا بَأْسَ. السنن لابی داؤد، کتاب الطهارة، باب کراهیة استقبال القبلة عند قضاء الحاجة، رقم ۱۱، وانظر المستدرک للحاکم ج ۱ ص ۲٥٦، کتاب الطهارة، رقم ٥٥۱
۳) فتح الباری ج ۱ ص ۲٤۷
٤) السنن الکبری ج ۱ ص ۱٥۱، من الطبعة الجدیدة، و ج ۱ ص ۹۳، من الطبعة القدیمة، کتاب الطهارة، باب الرخصة فی ذلک فی الابنیة، رقم ٤٤۲
٥) اوګورئ : شرح ابن بطال ج ۱ ص ۲۳۸، فتح الباری ج ۱ ص ۲٤۷، ۲٤۸

② د ابن عمر رضی الله عنهما دا روایت فعلي دې، د ابو ایوب انصاري رضی الله عنه روایت قولي دې، د قولي او فعلي روایتونو په تعارض کښې قولي ته ترجیح حاصله وي.

③ د ابن عمر رضی الله عنهما په نقل کړې روایت کښې د رسول الله ﷺ د یو فعل خاص ذکر دې، او قول عام دې، په فعل خاص کښې احتمالات کیدې شي، لهذا د هغې په مقابله کښې قول عام ته چه حیثیت ئې د قاعده کلیه په شان دې، هغې ته به ترجیح ورکولې شي.

④ حجت افعال تشریعیه دي، نه عمومي افعال، افعال تشریعیه د ستر او خفاء سره نه شي ادا کیدلې، د ابن عمر رضی الله عنهما د بیان مطابق د رسول الله ﷺ دا فعل د ستر سره وو، معلومه شوه چه دا تشریعي فعل نه دې.

⑤ په دغه شان روایت کولو کښې سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما متفرد دې، او د هغوی په مقابله کښې تقریبا د ټولو صحابه کرامو عمل هم هغه وو کوم چه سیدنا ابو ایوب انصاري رضی الله عنه بیان فرمائي، پس دهغوی په یو روایت کښې دي!

﴿ فوجدنا مراحیض قد بنیت قبل الکعبة، فکنا نتحرف عنها ونستغفر الله ﴾(۱)

یعني مونږ داسې بیوت الخلاء بیا موندلې کومې چه قبله رخ جوړې شوې وې، پس مونږ به په هغې کښې کاږه کیناستلو او په دې به مو هم استغفار کولو.

⑥ د رسول الله ﷺ په فعل کښې دا هم احتمال دې چه د کشف په طور ئې بیت الله شریف مخې ته وي، په دې وجه هغه عین د جهت کعبه نه منحرف کیدو سره ناست وي، د کوم چه سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما ادراك اونکړې شو.

⑦ کیدې شي چه د استقبال او استدبار قبله جواز د رسول الله ﷺ خصوصیت وي، چه د هغې دلیل دا دې چه په ﴿ اذا اتیتم الغائط فلا تستقبلوا القبلة ولا تستدبروها ﴾ کښې خطاب امت ته دې، لهذا امت له په دې باندې عمل پکار دې، پاتې شو د رسول الله ﷺ فعل نو هغه د دې نه مستثنی دې.

⑧ حدیث د ابو ایوب انصاري رضی الله عنه معلوم السبب دې، د ممانعت وجه احترام قبله ده، ﴿ فلا تستقبلوا القبلة ولا تستدبروها ﴾ په دې باندې دال دې، او د ابن عمر رضی الله عنهما حدیث غیر معلوم السبب دې، نو اعتبار به د معلوم السبب وي نه د غیر معلوم السبب.

⑨ د رسول الله ﷺ فضلات طاهر دي، په داسې صورت کښې به احترام کعبه نه متاثر کیږي او اصل مناط هم دا احترام قبله ده.

⑩ د سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما نظر پرې ناڅاپه پریوتلې وو او د لږ وخت دپاره وو، ځکه چه په دې صورت کښې څوك په غور سره نه شي کتلې، نو په دې کتلو کښې غلطي ممکن ده، بلکه دا چه

۱) سنن ابی داؤد، کتاب الطهارة، باب کراهیة استقبال القبلة عند قضاء الحاجة، رقم ۹، والاحسان بترتیب صحیح ابن حبان، بتحقیق الارنؤوط ج ٤ ص۲۶۳، کتاب الطهارة، باب الاستطابة رقم ۱٤۱۶، والسنن الکبری للبیهقی ج ۱ ص ۹۱، کتاب الطهارة، باب النهی عن استقبال القبلة واستدبارها لغائط او بول، رقم ٤۳۳

په داسې حالت کښې یقینا چه کوم کس ته کتلې کیږی هغه په خپل وخت باندې برقرار نه شی پاتې کیدې، په دې وجه وئیلې کیدې شی چه رسول الله ﷺ به هم خپل هیئت بدل کړې وی، چه د هغې نه ابن عمر رضی الله عنهما مخصوص جهت فهم کړلو.(۱) والله اعلم

قوله: وَقَالَ لَعَلَّكَ مِنَ الَّذِينَ يُصَلُّونَ عَلَى أَوْرَاكِهِمْ؟: کیدې شی چه ته د هغه خلقو نه ئې چه په خپلو کوناټو سره مونځ کوی.

د ﴿قال﴾ ضمیر د ابن عمر رضی الله عنهما طرف ته راجع دې او د ﴿لعلك﴾ خطاب د واسع بن حبان سره دې. (۲).

﴿اوراك﴾ د ﴿ورك﴾ جمع ده کوناټی ته وئیلې شی. (۳)

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه د ابن عمر رضی الله عنهما مقصد دا دې چه کوم سړې په خپل اوراك باندې مونځ کوی یعنی په سجده کښې خپل کوناټی د زمکې نه نۀ اوچتوی. لکه چه هغه د سنت نه ناخبره دې هم دغه شان هغه سړې هم د سنت نه نۀ دې خبر کوم چه مطلقا د استدبار او استقبال نه منع کوی هغه هم د سنت نه ناخبره دې، حاصل دا شو چه آیا ته د هغه خلقو نه ئې کوم چه د سنت صلاة نه د ناخبرئ سره سره د سنت استنجاء نه هم ناخبره دی؟

خو حافظ ابن حجر رحمه الله د دې معنی تردید کړې دې، فرمائی چه اول خو په دې کښې تکلف دې، بیا واسع د ابن عمر رضی الله عنهما نه څۀ تپوس نه دې کړې چه د هغه طرف ته د ناخبرئ څه نسبت اوکړې شی، د دې نه علاوه دا څه ضروری ده چه کوم سړې د سنت صلاة نه ناخبره وی هغه دې د سنت خلاء نه هم ناخبره وی. (٤)

په دې وجه حافظ رحمه الله فرمائی چه په اصل کښې د دې یوه بله معنی ده، کومه چه د مسلم شریف د روایت نه په فهم کښې راځی، امام مسلم رحمه الله روایت نقل کړې دې، واسع بن حبان رحمه الله فرمائی ﴿كُنْتُ أُصَلِّي فِي الْمَسْجِدِ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ مُسْنِدٌ ظَهْرَهُ إِلَى الْقِبْلَةِ فَلَمَّا قَضَيْتُ صَلَاتِي انْصَرَفْتُ إِلَيْهِ مِنْ شِقِّي فَقَالَ عَبْدُ اللهِ يَقُولُ نَاسٌ﴾(۵)

یعنی: ما په مسجد کښې مونځ کولو، او سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د قبلې طرف ته شا کولو سره ناست وو، چه کله ما مونځ پوره کړو نو زه د خپل طرف نه پاسیدم او د هغوی خوا ته ورغلم، سیدنا عبدالله بن عمر رضی الله عنهما اوفرمائیل چه څه خلق وائی..

گویا ابن عمر رضی الله عنهما په هغه کښې د سجدې په حالت کښې څه خبره اولیده، کومه چه ئې صحیح

---

۱) دټول تفصیل دپاره اوګورئ: الکنز المتواری: ۲۷/۳ و ۲۸
۲) فتح الباری ج ۱ ص ۲٤۸
۳) قال المطرزی فی المغرب ج ۲ ص ۳۵۱ : الورکان ... هما فوق الفخذین کالکتفین فوق العضدین .... وکذلک فی المصابیح المنیر للفیومی ج ۲ ص ۲۵۶
٤) فتح الباری ج ۱ ص ۲٤۸
۵) صحیح مسلم، کتاب الطهارة، باب الاستطابة رقم ۶۱۱

طريقې سره په فهم کښې نه وه راغلې، ﴿لعلك﴾ وئيلو سره ترې ابن عمر رضي الله عنهما د دې په باره کښې تپوس اوکړو.

حاصل د دې دا دې چه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د خلقو نه د استدبار او استقبال قبله مسئله تازه تازه اوريدلې وه، د هغې په باره کښې هغوی اوغوښتله چه خپلو شاګردانو ته صحيح مسئله بيان کړي، خو هغوی واسع ته د بيانولو نه مخکښې اول د هغه د يو عمل اصلاح اوکړه، د هغې نه روستو ئې ورته دا مسئله بيان کړه، او واسع ورته بيانولو سره د مسئلې خبره کومه چه مرفوعا ثابته ده، اول بيان کړه او خپله خبره کومه چه مظنون ده هغه ئې روستو بيان کړه.(۱)

يا داسې وئيلې کيدې شي چه ابن عمر رضي الله عنهما د واسع په مانځه کښې څه محسوس کړل او په هغې باندې ئې د تنبيه کولو اراده اوفرمائيله، خو اول ئې ورته مرفوع حديث واورولو او د هغې نه روستو ئې چه په کومه خبره تنبيه کول غوښتل د هغې طرف ته ئې اشاره اوفرمائيله.

﴿لَعَلَّكَ مِنَ الَّذِينَ يُصَلُّونَ عَلَى أَوْرَاكِهِمْ﴾ والله اعلم

په مذکوره جمله او حديث مرفوع کښې مناسبت: په دې جمله او حديث مرفوع کښې مناسبت هم پيدا کيدې شي. د دې صورت دا دې چه په اصل کښې چه کوم خلق على الاطلاق د استدبار او استقبال نه منع کوی غالبا په هغې کښې بعض غلاة د حد نه تجاوز کوی، داسې چه هغوی په مانځه کښې په سجده کښې خپله شا او کوناتې نه اوچتوی، په دې ويرې سره چه که سجده کوناتو لره اوچتولو سره اوکړې شوه نو د قبلې استدبار به لازم شي، ځکه چه په مانځه کښې څلور حالتونه دی، قيام، رکوع، سجود او قعود په دې کښې په درې حالتونو کښې خو استدبار نه راځي، خو په سجده کښې د استدبار امکان وی، لهذا د دې نه د بچ کيدو د پاره به ئې په اوراك باندې سجده کوله.

اوس مطلب دا دې چه ايا ته هم د هغه غلاة نه ئې کوم چه مطلقا د استقبال او استدبار نه منع کوی، تردې چه په خپلو اوراك باندې سجده کوی.(۲) والله اعلم

قوله: فَقُلْتُ لَا أَدْرِي وَاللَّهِ: ما عرض اوکړو قسم په الله! ما ته هيڅ علم نشته.

د واسع خيال چونکه د دې قسم څه خيز طرف ته نه وو. په دې وجه هغه اووې چه ما ته خو هيڅ علم نشته چه زه به د هغوی نه يم يا نه. (۳)

قوله: قَالَ مَالِكٌ يَعْنِي الَّذِي يُصَلِّي وَلَا يَرْتَفِعُ عَنِ الْأَرْضِ يَسْجُدُ وَهُوَ لَاصِقٌ بِالْأَرْضِ: امام مالك رحمه الله فرمائی چه د دې نه مراد هغه سړی دې، کوم چه مونځ داسې کوی چه د زمکې نه بالکل پاسيږی نه، يعنی سجده په داسې حال کښې کوی چه کوناتې ئې په زمکه پورې لګيدلې وی.

---

۱) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲۴۸

۲) پورته حواله

۳) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۸۱

دا امام مالک رحمه الله د ﴿ الذين يصلون على اوراكهم ﴾ تفسير بيان اوفرمائيلو.

حاصل دا دې چه امام مالک رحمه الله فرمائى چه د ﴿ الذين يصلون على اوراكهم ﴾ نه مراد هغه خلق دى كوم چه مونځ كوى او د سجدې په حالت كښې كوناتې نه اوچتوى، په زمكه پورې لګيدلې سجده كوى. (۱)

د امام مالک رحمه الله دا قول كه د امام بخارى رحمه الله نقل كړې شوې وى نو تعليق دې او كه د عبدالله بن يوسف تنيسى شيخ بخارى نقل كړې شوې وى نو د ذكر شوې سند د لاندې داخل دې. (۲) والله اعلم

⑬ بَاب خُرُوجِ النِّسَاءِ إِلَى الْبَرَازِ

دا باب د زنانو د فضاء واسع طرف ته د وتلو په بيان كښې دې.

د لفظ براز تحقيق : ﴿ البراز ﴾ په باء موحده سره لوستلې شى، فضاء واسع ته وئيلې شى، د دې نه كناية قضاء حاجت مراد اخستلې شى، لكه خلأ وئيلو سره كناية قضاء حاجت مراد اخستلې شى. (۳)

امام خطابى رحمه الله فرمائى چه دا لفظ اكثر راويان د باء په كسرې سره لولى، چه غلط دې، ﴿براز ﴾ د باء په كسرې سره خو د ﴿ مبارزت فى الحرب ﴾ (په جنګ كښې د مقابلې) دپاره استعماليږى. (٤) خو نورو لغويانو دا تخطئه نه ده قبوله كړې، پس جوهرى فرمائى چه !

﴿ والبراز ايضا كناية عن ثفل الغذا وهو الغائط ﴾ (۵) يعنى براز چه څنګه د مبارزت فى الحرب دپاره استعماليږى هم دغه شان د قضاء حاجت دپاره هم استعماليږى.

حافظ رحمه الله فرمائى چه د ﴿ براز ﴾ بفتح الباء اطلاق په واسع فضاء باندې كيږى، كه د دې نه خارج كيدونكې څيز مراد واخستلې شى نو دا به ﴿ اطلاق اسم المحل على الحال ﴾ د قبيل نه وى او كه ﴿ براز ﴾ په كسرې د باء سره وى نو نفس خارجه به ترې مراد اخلو. (۶) والله اعلم

د مخكښې باب سره مناسبت : د دې باب د مخكښې سره مناسبت ښكاره دې چه په مخكښې باب كښې د تبرز حكم راغلې دې او په دې باب كښې د براز حكم مذكور دې. (۷)

---

۱) اوګوره . فتح البارى ج ۱ ص ۲٤۸، وعمدة القارى ج ۲ ص ۲۸۱

۲) عمدة القارى ج ۲ ص ۲۸۱

۳) اوګورئ : فتح البارى ج ۱ ص ۲٤۹

٤) معالم السنن ج ۱ ص ١٤، كتاب الطهارة، باب التخلى عند قضاء الحاجة

۵) الصحاح ج ۳ ص ۶۸٤، قال الزبيدى : هكذا صرح به النووى فى تهذيبه، وابن دريد، تاج العروس ج ۱۵ ص ۲۵، ۲۶

٦) فتح البارى ج ۱ ص ۲٤۹

۷) عمدة القارى ج ۲ ص ۲۸۲

د ترجمة الباب مقصد : علامه عینی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله په دې ذکر شوې ترجمې سره دې خبرې طرف ته اشاره کوی چه زنانه به په شروع شروع کښې چه په کورونو کښې د بیت الخلاء انتظام نه وو بهر وتلې، دغه شان هغوی ته د وتلو اجازت ورکړې شوې وو، روستو چه کله په کورونو کښې انتظام پیدا شو نو د زنانو د هغې دپاره وتل ممنوع شو، کوم چه په وړاندې باب کښې بیان کړې شوې دې. (۱)

شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی چه د زنانو دپاره چونکه ستر او حجاب مطلوب دې، پس په قران کریم کښې دی : ﴿ وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ ﴾(۲)

یعنی په خپلو کورونو کښې ایسارې اوسیږئ، په جاهلیت اولی کښې چه به څنګه زنانه وتلې هغه شان بې پردې مه اوځئ.

د دې تقاضه دا وه چه زنانه مطلقا د کورونو نه نۀ اوځی، نه د قضاء حاجت دپاره او نه د بل څه کار دپاره، لکه چه د وړاندې باب د حدیث الفاظ دا بیانوی : ﴿ قد اذن ان تخرجن لی حاجتکن﴾ یعنی تاسو ته اجازت درکړې شوې دې چه د خپل حاجت دپاره وتلې شې، د دې حدیث د ظاهر نه معلومیږی چه زنانه مطلقا منع کړې شوې وې، د کوم چه اوس اجازت ورکولې شی. اوس د ترجمة الباب په ذریعه امام بخاری رحمه الله د هغې جواز بیانول غواړی.

د دې تقریر په صورت کښې به د باب د اولنی حدیث د ترجمة الباب سره مناسبت نه وی، خو په طور د تمهید او مقدمه دا حدیث دلته راوړلې شوې دې، د ترجمة الباب سره مناسب دویم حدیث دې، ځکه چه په حدیث کښې د آیت حجاب د نزول ذکر دې، غالبا د آیت کریمه نه مراد هم دا ﴿ وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ ... ﴾ والا آیت دې، د دې ایت کریمه نه مخکښې د حجاب حکم نازل شوې وو، ګویا د دې آیت کریمه د نازلیدو نه پس د زنانو وتل مطلقا منع شو او ظاهره دا ده چه د رسول الله ﷺ ازواج هم د دې تکلیف او حرج عظیم اظهار اوکړو، په دې باندې د هغوی د حاجات ضروریه دپاره د وتلو اجازت ورکړې شو، چه د هغې ذکر د باب په دویم حدیث کښې دې (۳)

.....

---

۱) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۸۲
۲) الاحزاب : ۳۳
۳) اوګورئ: الکنز المتواری ج ۳ ص ۲۹

۱۴۶: ﴿حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ قَالَ حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُرْوَةَ عَنْ عَائِشَةَ (۱) أَنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنَّ يَخْرُجْنَ بِاللَّيْلِ إِذَا تَبَرَّزْنَ إِلَى الْمَنَاصِعِ وَهُوَ صَعِيدٌ أَفْيَحُ فَكَانَ عُمَرُ يَقُولُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْجُبْ نِسَاءَكَ فَلَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ فَخَرَجَتْ سَوْدَةُ بِنْتُ زَمْعَةَ زَوْجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً مِنَ اللَّيَالِي عِشَاءً وَكَانَتِ امْرَأَةً طَوِيلَةً فَنَادَاهَا عُمَرُ أَلَا قَدْ عَرَفْنَاكِ يَا سَوْدَةُ حِرْصًا عَلَى أَنْ يَنْزِلَ الْحِجَابُ فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ الْحِجَابِ﴾

رجال الحديث

① **يحيى بن بكير** : دا ابو زكريا يحيى بن عبد الله بن بكير قرشي مخزومي مصري رحمه الله دي، د هغوی تذکره په ﴿بدء الوحی﴾ د دريم حديث د لاندې تيره شوې ده. (۲)

② **الليث بن سعد** : دا امام ابو الحارث ليث بن سعد بن عبد الرحمن فهمي مصري رحمه الله دي. د هغه حالات په بدء الوحی کښې د دريم حديث د لاندې تير شوې دی. (۳)

③ **عقيل** : دا عقيل بن خالد بن عقيل ايلي رحمه الله دي، د هغه حالات په بدء الوحی کښې د دريم حديث د لاندې ډير مختصر او په کتاب العلم کښې د باب فضل العلم د لاندې لږ په تفصيل سره تير شوي دی. (٤)

④ **ابن شهاب** : دا امام محمد بن مسلم بن عبيد الله بن عبد الله بن شهاب زهري مدني رحمه الله دي، د هغوی حالات په (بدء الوحی) کښې د دريم حديث د لاندې تير شوې دی. (۵)

⑤ **عروة** : دا د عائشې رضي الله عنها خورئې عروه بن الزبير رحمه الله دي، د هغه حالات مختصرا په بدء الوحی کښې د دويم حديث د لاندې او په تفصيل سره په کتاب الايمان کښې د باب احب الدين الى الله ادومه د لاندې تير شوې دی. (۶)

---

۱) قوله عن عائشة رضى الله تعالى عنها الحديث اخرجه البخارى ايضا فى صحيحه ج ۱ ص ۲۶ فى نفس الكتاب والباب رقم ۱٤۷، وفى ج ۲ ص ۷۰۷، كتاب التفسير، سورة الاحزاب، باب قوله : ﴿ يا ايها الذين امنوا لا تدخلوا بيوت النبى ﴾ رقم ٤۷۹۵، وفى ج ۲ ص ۷۸۸، كتاب النكاح، باب خروج النساء لحوائجهن رقم ۵۲۳۷، وفى ج ۲ ص ۹۲۲، كتاب الاستيذان، باب اية الحجاب رقم ۶۲٤۰، ومسلم فى صحيحه فى كتاب السلام، باب اباحة الخروج للنساء لقضاء الحاجة الانسان رقم ۵۶۶۸- ۵۶۷۲

۲) كشف البارى ج ۱ ص ۳۲۳

۳) كشف البارى ج ۱ ص ۳۲٤

٤) كشف البارى ج ۱ ص ۳۲۵، و ج ۳ ص ٤۵۵

۵) كشف البارى ج ۱ ص ۳۲۶

۶) كشف البارى ج ۱ ص ۲۹۱، و ج ۲ ص ٤۳۶

⑥ **عائشة** : د ام المومنين سيده عائشه رضي الله عنها حالات په بدء الوحی کښې د دويم حديث د لاندې تير شوې دی (۱)

قوله: أَنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنَّ يَخْرُجْنَ بِاللَّيْلِ إِذَا تَبَرَّزْنَ إِلَى الْمَنَاصِعِ وَهُوَ صَعِيدٌ أَفْيَحُ: د رسول الله ﷺ بيبياني به د شپې د مناصع طرف ته وتلې او هغه فراخه ميدان وو.

د مناصع، صعيد او افيح لغوی تحقيق : مناصع د منصع (بروزن مقعد) جمع ده، نصوع وئيلې شی خالص کيدو ته، وئيلې شی : ﴿ ابيض ناصع ﴾ هم دغه شان وئيلې شی ﴿ اصفر ناصع ﴾ يعنی خالص سپين او خالص زير.

﴿ مناصع ﴾ د قضاء حاجت ځايونو ته وئيلې شی، ازهری لغوی فرمائی : ﴿ اری المناصع موضعا بعينه خارج المدينة، وكن النساء يتبرزن اليه بالليل ﴾ (۲)

يعنی زما په خيال مناصع د مدينې منورې نه بهر مخصوص ځائې دې، هلته به زنانه د شپې د قضاء حاجت دپاره وتلې.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دا د بقيع په طرفونو کښې معروف ځايونه دی، داؤدی رحمه الله فرمائی چه دې مقاماتو ته مناصع په دې وجه اوئيلې شو چه دلته انسان خالص يعنی يواځې کيږی (۳) والله اعلم

﴿ صعيد ﴾ زمکی ته وئيلې شی. (٤) ﴿ افيح ﴾ دا د ﴿ فيح ﴾ نه د صفت صيغه ده، ﴿ الفَيْحُ والفَيَحُ : السعة والانتشار، والافيح والفياح : كل موضع واسع، يقال بحر افيح ﴾ (۵)

د ﴿ صعيد افيح ﴾ معنی شوه وسيع زمکه او فراخه ميدان.

قوله: وهو صعيد افيح: يعنی مناصع يو فراخه زمکه وه، دا ممکنه ده چه عائشې رضي الله عنها تفسير بيان کړې وی، او دا هم کيدې شی چه دا تفسير د عروه رحمه الله يا په لاندې راويانو کښې د چا طرف نه وی. (۶) امام زهری رحمه الله عام طور سره دغه شان تفسير بيانوی، په دې وجه عين ممکنه ده چه د هغوی د طرف نه وی

---

۱) کشف الباری ج ۱ ص ۲۹۱
۲) د دې ټولو تفصيلاتو دپاره اوګورئ : عمدة القاری ج ۲ ص ۲۸۳، وتاج العروس ج ۲۲ ص ۲۵۹
۳) فتح الباری ج ۱ ص ۲٤۹
٤) اوګورئ : تاج العروس ج ۸ ص ۲۸۳
۵) اوګورئ : تاج العروس ج ۷ ص ۳۲
٦) فتح الباری ج ۱ ص ۲٤۹

قوله: فَکَانَ عُمَرُ يَقُولُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احْجُبْ نِسَاءَكَ فَلَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ: سيدنا عمر ﷺ به رسول الله ﷺ ته وئيل چه يا رسول الله ﷺ خپلي بيبياني په پرده كښ كړه، خو رسول الله ﷺ به داسي نه كول اصل كښ رسول الله ﷺ د خپل طرف نه داسي كول نه غوښتل، په دې وجه ئې د وحى انتظار كولو

قوله: فَخَرَجَتْ سَوْدَةُ بِنْتُ زَمْعَةَ زَوْجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً مِنَ اللَّيَالِي عِشَاءً وَكَانَتِ امْرَأَةً طَوِيلَةً: پس سوده بنت زمعه ﷺ د رسول الله ﷺ زوجه مطهره يوه شپه د ماسخوتن په وخت اووتله، او هغه لوړه زنانه وه.

قوله: فَنَادَاهَا عُمَرُ أَلَا قَدْ عَرَفْنَاكِ يَا سَوْدَةُ حِرْصًا عَلَى أَنْ يَنْزِلَ الْحِجَابُ فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ الْحِجَابِ: سيدنا عمر ﷺ هغې ته آواز اوكړو چه اې سوده! مونږ ته اوپيژندلې! په دې اميد ئې اووې چه حجاب نازل شي.

مقصد دا وو چه په سيده سوده ﷺ باندې بده اولګی، هغه به رسول الله ﷺ ته عرض اوكړي او الله پاك به د حجاب حكم نازل كړى، ځكه چه د رسول الله ﷺ په ذهن كښ خو به دا خبره راشي چه عمر خو هم دغه شان وئيلې وو، خو ممكنه ده چه نور خلق ورته په بد نظر اوګوري.

قوله: فَأَنْزَلَ اللَّهُ آيَةَ الْحِجَابِ: الله پاك د حجاب آيت نازل كړو.

د ايت حجاب نه كوم ايت كريمه مراد دې: علامه كرماني ﷺ فرمائی چه د حجاب په آيت كښ درې احتمالات دی.

① كيدې شی چه دا آيت كريمه : ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ لَكُمْ إِلَى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ وَلَكِنْ إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنْكُمْ وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ﴾(١) مراد وی.

ترجمه : اې ايمان والو! د نبی ﷺ كور ته مه ورځئ، مګر هغه وخت چه تاسو ته د خوراك اجازت اوكړې شی، په داسې طريقه چه د هغې د تيارئ انتظار نه كوئ، خو چه كله تاسو اوغوښتلې شئ نو بيا ځئ، بيا چه كله خوراك اوكړئ نو پاسيږئ او ځئ او په خبرو كښ د كيناستلو شوق مه كوئ، دا خبره په رسول الله ﷺ باندې بده لګی، پس هغه ستاسو نه حياء كوی او الله پاك د حق د بيانولو نه حياء نه كوی، (د اوس نه تاسو ته دا حكم كولې شی چه د رسول الله ﷺ بيبيانې به ستاسو نه پرده كوی)، نو چه كله تاسو د هغوی نه څه څيز غواړئ نو

---

(١) الاحزاب : ٥٣

د پردې نه بهر غواړئ دا ستاسو او د هغوى د زړونو دپاره ډيره پاكه خبره ده.

④ دويم احتمال دا دې چه د دې نه مراد د الله پاك ارشاد: ﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا﴾(۱) وى.

يعنى اې نبى ﷺ! خپلو بيبيانو، لونړو او د مومنانو زنانو ته اووايه چه راښكته كړى په خپل ځان باندې خپلې څادرې، د دې نه به ئې زر پيژندګلو كيږى پس هغوى ته به تكليف نه شى وركولې.

③ دريم احتمال دا دې چه كيدې شى چه آيت كريمه: ﴿وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا ۖ وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ﴾(۲) مراد وى.

يعنى تاسو مسلمانانو زنانو ته اوايئ چه خپلې سترګې ښكته ساتى او د خپلو شرمګاهونو حفاظت كوى او خپل ډول نه ښكاره كوى، مګر هغه چه د هغې نه ښكاره وى او خپلې لوپټې دې په خپلو سينو باندې دپاسه اچوى.

علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه د آيت الحجاب نه يا خو جنس مراد واخلئ نو دا ذكر شوې درې واړه آيتونه به كښ داخل وى او كه عهد اومنلې شى نو د دې نه به يو آيت كريمه مراد وى. (۳)

خو صحيح دا ده چه د دې نه اولنې آيت كريمه مراد دې، ځكه چه د ابوعوانه په يو روايت كښ د دې تصريح موجود ده: ﴿فانزل الله الحجاب: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ﴾(٤)

حافظ ابن كثير رحمه الله هم دا حديث د دې آيت كريمه د لاندې ذكر كړې دې. (۵)

د سيده سودة رضى الله عنها واقعه د حجاب د نزول نه مخكښ شوې وه يا روستو؟: د دې نه پس دلته په دې ځان پوهه كړئ چه دا روايت امام بخارى رحمه الله په دوه طريقو سره نقل كړې دې!

يو په طريق د ﴿ابن شهاب، عروة عن عائشة﴾

دويم طريق ﴿هشام بن عروة عن عروة عن عائشة﴾

د ابن شهاب په طريق كښ خو دا دى چه سيده سوده رضى الله عنها اووتله او عمر رضى الله عنه پرې آواز اوكړو د دې نه روستو الله پاك د حجاب آيت نازل كړو. (۶)

---

۱) الاحزاب: ۵۹

۲) النور: ۳۱

۳) اوګورئ: شرح الكرمانى ج ۲ ص ۱۹۲، ۱۹۳

٤) پورته حواله

۵) اوګورئ: فتح البارى ج ۱ ص ۲٤۹، وعمدة القارى ج ۲ ص ۲۸٤

احقر ته په مستخرج د ابو عوانه كښ د تتبع او تلاش باوجود دا روايت ملاؤ نه شو، خو د سيدنا انس رضى الله عنه حديث موجود دې، كوم چه د سيده زينب رضى الله عنها د وليمې سره متعلق دې، اوګورئ: ج ۳ ص ۵۸، كتاب النكاح، باب الخبر الموجب اتخاذ الوليمة اذا بنى الرجل باهله ... رقم ٤۱۸۰.

٦) اوګورئ حديث الباب او هم دغه شان: كتاب الاستيذان باب آيت الحجاب رقم ٦۲٤۰

او د هشام په طریق کښې دی چه ﴿ خرجت سودة بعد ما ضرب الحجاب ﴾(۱) یعنی سوده رضی الله عنها د حجاب د نازلیدو نه روستو اوتله دغه شان په دواړو طریقو کښې تعارض راځی.

حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی! ﴿ هکذا وقع فی هذه الروایة، والمشهور ان هذا کان بعد نزول الحجاب، کما رواه الامام احمد، والبخاری ومسلم ﴾(۲)

یعنی اګر چه د ابن شهاب په روایت کښې داسې راغلی دی، خو مشهوره دا ده چه دا د نزول حجاب نه روستو واقعه ده، لکه چه د امام احمد، بخاری او مسلم په روایت کښې دی.

ګویا ابن کثیر رحمه الله د هشام روایت ته د زهری په مقابله کښې ارجح وئیلې دې ځکه چه هغه زیات مشهور دې.

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه کیدې شی دا واقعه دوه کرته پیښه شوې وی. (۳)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په دواړو ځایونو کښې د حجاب نه مراد جدا جدا معنی ده، دلته چه کوم ﴿ احجب نساءك ﴾ راغلې دې د دې معنی ده : ﴿ امنعهن من الخروج من بیوتهن ﴾ یعنی تاسو هغوی د کور د وتلو نه منع کړئ، ځکه چه سیدنا عمر رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا درخواست د نزول حجاب نه پس کوی، مطلب دا دې چه د حجاب الوجوه د نازلیدو نه پس د سیدنا عمر رضی الله عنه خواهش وو چه نره پابندی پرې اولګولې شی چه د هغوی په جوثه هم د چا نظر نه پریوځی. په دې وجه هغه عرض اوکړو ﴿ احجب نسائك ﴾ چه حضور صلی الله علیه وسلم تاسو بیبیانې په پرده کښې اوساتئ!

دویم احتمال دا دې چه ﴿ احجب نسائك ﴾ کښې د ﴿ حجاب ﴾ نه ﴿ ستر الوجوه ﴾ مراد وی او مطلب دا وی چه سیدنا عمر رضی الله عنه اول دا درخواست پیش کړو چه د ستر الوجوه حکم اوکړې شی، چه کله دا منظور شو نو د هغې نه روستو د سیدنا عمر رضی الله عنه دا خواهش وو چه د ازواج مطهرات په بدن باندې او د هغوی په جوثه باندې هم د چا نظر او نه لګی، په دې وجه هغوی عرض اوکړو چه دا اشخاص دې مستور کړې شی، خو د دې حکم نازل نه شو. (٤)

خو په دې کښې اشکال دا دې چه که دې ترتیب ته اوکتلې شی نو بیا به دا هم منو چه د سیده سودة رضی الله عنها دا واقعه دوه کرته پیښه شوې ده، لکه چه علامه کرمانی رحمه الله احتمالا ذکر کړې دی، چه یو کرت اووتله نو د مخ حجاب ئې نازل شو، په دویم کرت اوتله نو سیدنا عمر رضی الله عنه : حجاب الاشخاص په غرض سره هغې ته دوباره آواز ورکړو، خو حجاب الاشخاص نازل نه شو. خو په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې د ﴿ قد اذن ان تخرجن لحاجتکن ﴾(۵) وحی غیر متلو نازله شوه.

---

۱) اوګورئ : کتاب التفسیر، سورة الاحزاب باب قوله ﴿ لَا تَدْخُلُوا بُیوتَ النَّبِیِّ ﴾ رقم ٤٧٩٥

۲) تفسیر ابن کثیر ج ٦ ص ٤٥٤

۳) شرح الکرمانی ج ١٧، ص ٥٤، کتاب التفسیر، سورة الاحزاب باب قوله ﴿ لَا تَدْخُلُوا بُیوتَ النَّبِیِّ ﴾

٤) اوګورئ : فتح الباری ج ١ ص ٢٤٩

٥) د باب دویم حدیث

د تعدد دا قصه بعيده معلوميږي چه د سيده سوده رضي الله عنها سره دي يو شان قصه دوه كرته پيښه شوې وى، پس وئيلې كيدې شى چه سيدنا عمر رضي الله عنه د ستر الوجوه خواهش ظاهرولو او رسول الله ﷺ ته به ئي ﴿احجب نسائك﴾ وئيلو، رسول الله ﷺ به د الله پاك د حكم په انتظار كښې نه منلو. خو بيا الله پاك د دې حكم نازل كړو، د سيدنا عمر رضي الله عنه خواهش نور هم زيات شو چه د هغې جوثې هم ظاهرې نه شى او د جوثو د حجاب حكم هم اوشى، رسول الله ﷺ به د وحى په انتظار كښې هغه هم نه منله، تردې چه د سيده سوده رضي الله عنها د وتلو قصه پيښه شوه.

په دې صورت كښې اګر چه تعدد د قصې لازم نه شو، خو په دې كښې اشكال دا دې چه په دې طريق كښې د سيده سوده رضي الله عنها د وتلو نه پس ﴿فانزل الله الحجاب﴾ ذكر دې، د دې معنى خو دا شوه چه روستو د حجاب الاشخاص حكم هم راغلو، لهذا د حافظ دا خبره به څنګه صحيح وى چه د حجاب الاشخاص حكم نازل نه شو بلكه د ﴿قد اذن...﴾ حكم راغلو؟

شيخ الحديث رحمه الله فرمائى چه په ﴿بعد ما ضرب الحجاب﴾ كښې د حجاب نه مراد حجاب الوجوه دې او په حديث الباب كښې د ﴿فانزل الله الحجاب﴾ نه مراد ﴿وقرن فى بيوتكن﴾ والا آيت دې.

ګويا سيدنا عمر رضي الله عنه اول د حجاب الوجوه درخواست كړې وو، چه كله دا حكم اوشو او د هغې نه روستو سيده سوده اوتله نو د سيدنا عمر رضي الله عنه خواهش وو چه حجاب الاشخاص نازل شى، د هغې نه روستو د ﴿وقرن فى بيوتكن﴾ والا آيت كريمه نازل شو(۱) والله سبحانه وتعالى اعلم

﴿وحَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ(۲) عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَدْ أُذِنَ أَنْ تَخْرُجْنَ فِي حَاجَتِكُنَّ قَالَ هِشَامٌ يَعْنِي الْبَرَازَ﴾ [۴۵۱۷، ۴۹۳۹، ۵۸۸۲]

رجال الحديث

① **زكريا** دلته زكريا مبهم دې، د دې نه مراد څوك دې؟ د دې د تعيين دپاره ځان پوهه كړئ چه زكريا نومې د امام بخارى رحمه الله براه راست څلور استاذان دى.

يو زكريا بن عدى التيمى الكوفى دې، دا د امام بخارى رحمه الله براه راست استاذ خو دې، خو په صحيح بخارى كښې ئې د هغه نه بغير د واسطې نه روايت نه دې اخستلې، بلكه بالواسطه روايات ئې ترې اخستلې دې. (۳)

---

۱) الكنز المتوارى ج ۳ ص ۳۰

۲) د دې حديث د تخريج دپاره د مذكوره باب اولنې حديث اوګورئ.

۳) قال الذهبى : وعنه (اى روى عنه) الدارمى، وابو اميه والبخارى لكن فى صحيحه بواسطة (والواسطة هو محمد بن عبدالرحيم المعروف بصاعقة. انظر صحيح البخارى ج ۱ ص ۳۸۳، كتاب الوصايا، باب الوصية بالثلث، رقم ۲۷۴۴، و ج ۲ ص ۵۷۸، كتاب المغازى، باب غزوة احد، رقم ۴۰۴۲، الكاشف للذهبى ج ۱ ص ۴۰۵، رقم ۱۶۴۵.

حافظ ابن حجر رحمه الله زكريا بن يحيى بن زكريا بن ابى زائده هم د بخاري په رجال كښ شمار كړې دې (١) خو په صحيح بخاري كښ د هغه روايت ثبوت ته نه دې رسيدلې، په دې وجه امام مزي رحمه الله د هغه تذكره نه ده كړې. (٢)
دريم زكريا بن يحيى بن صالح البلخي اللؤلؤي رحمه الله دې. (٣)
څلورم زكريا بن يحيى ابو السكين الطائى رحمه الله دې. (٤)
علامه عيني رحمه الله د حديث الباب په تذكره رجال كښ زكريا بن يحيى بن صالح البلخي تذكره كولو سره متعين كړې دى چه دلته بلخي مراد دې. (٥)
او حافظ رحمه الله په فتح البارى كښ په دې مقام باندې مبهمه شان خبره كړې ده چه دلته زكريا بن يحيى مراد دې، د بلخي يا طائى يا بل چا تعيين ئې نه دې كړې (٦) خو په هدى السارى كښ هغوى لږ شان تفصيل ذكر كړې دې، چه د هغې حاصل دا دې چه امام بخاري رحمه الله په باب العيدين كښ ﴿ حدثنا زكريا بن يحيى ابو السكين، حدثنا المحاربي ﴾ په طريق سره حديث نقل كړې دې. (٧) او په ﴿ خروج النساء البراز ﴾ كښ ئې ﴿ حدثنا زكريا قال حدثنا ابو اسامة ﴾ په طريق سره روايت راوړې دې (٨) دلته په طائى او بلخي كښ هر يو مراد كيدلې شى.
هم دغه شان امام بخاري رحمه الله په ﴿ باب اذا لم يجد ماء ولا ترابا ﴾، و﴿ باب الجمعة ﴾، او ﴿ باب الخيمة فى المسجد ﴾ او ﴿ باب مرجع النبى ﷺ من الاحزاب ﴾ كښ د ﴿ حدثنا زكريا بن يحيى، حدثنا عبد الله بن نمير ﴾ طرق ذكر كړې دى. (٩)
كلاباذى رحمه الله فرمائى چه په دې مقاماتو كښ بلخي مراد دې او ابو احمد بن عدى رحمه الله فرمائى چه زكريا بن يحيى بن زكريا بن ابى زائده كوفى مراد دې، امام دارقطنى رحمه الله هم زكريا بن يحيى بن زكريا بن ابى زائده كوفى د بخاري په رجال كښ شمار كړې دې.

---

١) تقريب التهذيب ص ٢١٦، رقم ٢٠٣٠، وتهذيب التهذيب ج ٣ ص ٢٣٥
٢) انظر تعليقات تحرير تقريب التهذيب ج ١ ص ٤١٧، رقم ٢٠٣٠
٣) اوګورئ: الكاشف ج ١ ص ٤٠٦، رقم ١٦٤٩
٤) اوګورئ: الكاشف ج ١ ص ٤٠٦، رقم ١٦٥٢
٥) عمدة القارى ج ٢ ص ٢٨٥
٦) فتح البارى ج ١ ص ٢٥٠
٧) اوګورئ: صحيح البخارى ج ١ ص ١٣٢، كتاب العيدين، باب ما يكره من حمل السلاح فى العيد والحرم رقم ٩٦٦
٨) صحيح البخارى ج ١ ص ٢٦، كتاب الوضوء، باب خروج النساء الى البراز رقم ١٤٧
٩) صحيح البخارى ج ١ ٤٨، كتاب التيمم، باب اذا لم يجد ماء ولا ترابا رقم ٣٣٦، و ج ١ ص ٦٦، كتاب الصلاة، باب الخيمة فى المسجد للمرضى وغيرهم رقم ٤٦٣، و ج ١ ص ٩٤، كتاب الاذان باب من قام الى جنب الامام لعلة، رقم ٦٨٣، و ج ١ ص ٥٥٢، كتاب المناقب، باب هجرة النبى ﷺ واصحابه الى المدينة، رقم ٣٩٠١، و ج ٢ ص ٢٩١، كتاب المغازى، باب مرجع النبى ﷺ من الاحزاب .... رقم ٤١٢٢.

حافظ رحمه الله فرمائي چه يو امكان دا هم دي چه په دې ټولو مقاماتو كښ د بلخى په ځائې طائى مراد وى، (۱) ځكه چه هغه هم د ابن نمير نه روايت كوى.

خود امام بخارى رحمه الله د عيدين په ابواب كښ زكريا بن يحيى ته ﴿ ابوالسكين الطائى ﴾ وئيلو سره متعين اومتميز كول ددې خبرې قرينه ده چه په نورو مقاماتو كښ مراد طائى نه دې.(۲)
په ظاهره كښ دلته طائى مراد نه دې ځكه چه محققينو تصريح كړې ده چه د طائى په صحيح بخارى كښ د عيدين والا حديث نه علاوه بل يو روايت هم نشته. (۳)
هم دغه شان حافظ رحمه الله په هدى السارى كښ په يو مقام كښ تصريح كړې ده چه د ابو السكين طائى نه امام بخارى رحمه الله صرف يو حديث اخستلې دې. (٤)
بهرحال دلته په بلخى او طائى كښ راجح بلخى دې طائى نه دې، د طائى تذكره خو به ان شاء الله په خپل مقام كښې راشى، دلته د بلخى تذكره كولې شى.
دا زكريا بن يحي بن صالح بن سليمان بن مطر البلخى اللؤلؤى دې، هغه ته زكريا بن ابى زكريا هم وئيلې شى، د هغه كنيت ابو يحيى دې،(۵) ابن منده د هغه كنيت ابو محمد بيان كړې دې. (۶) دې د ابو مطيع بلخى، الحكم بن المبارك، ابو اسامه حماد بن اسامه، خلف بن ايوب، سعيد بن سليمان، عبد الله بن نمير، القاسم بن الحكم العرنى، ابوبكر محمد بن ابى عتاب الاعين او وكيع بن الجرح رحمهم الله نه روايت حديث كوى.
د هغه نه امام بخارى، احمد بن سيار مروزى، اسماعيل بن محمد بن ابى كثير القاضى، جعفر بن محمد بن الحسن الفريابى، عبد الصمد بن سليمان بلخى او ابو سعد يحيى بن منصور هروى رحمهم الله حديث نقل كوى.(۷)

قتيبه بن سعيد رحمه الله د خپلو شاگردانو په باره كښ فرمائى : ﴿ فتيان خراسان اربعة، زكريا بن يحيى اللؤلؤى، والحسن بن شجاع، وعبد الله بن عبدالرحمن السمرقندى، ومحمد بن اسماعيل البخارى ﴾(۸)

---

۱) جزم بذلك صاحب الزهرة، ومال الى ذلك الباجى فى رجال البخارى، قاله الحافظ فى فتح البارى ج ۱ ص ٤٤۱، كتاب التيمم، باب اذا لم يجد ماء ولا ترابا
۲) اوگورئ: هدى السارى ص ۲۳۱، الفصل السابع فى تبيين الاسماء المهملة التى يكثر اشتراكها
۳) قال ابن رجب : زكريا بن يحيى أبو السكين الطائى الكوفى ، روى عنه البخارى هذا الحديث ، ولم يرد عنه فى ((كتابه)) ، ولم يخرج له أحد من أهل الكتب الستة سواه. فتح البارى لابن رجب ج ۸ ص ٤۵۵، ابواب العيدين، باب ما يكره من حمل السلاح فى العيد والحرم، رقم ۹۶۷
٤) هدى السارى ص ٤۰۳، الفصل التاسع فى سياق اسماء من طعن فيه من رجال هذا الكتاب
۵) تهذيب الكمال ج ۹ ص ۳۷۸
۶) اكمال تهذيب الكمال ج ۵ ص ۷۰، رقم ۱۶۷۶
۷) تهذيب الكمال ج ۹ ص ۳۷۸، ۳۷۹
۸) اوگورئ تذكرة الحفاظ ج ۲ ص ۵۱۷، ۵۱۸، وتهذيب الكمال ج ۹ ص ۳۷۹

یعنی د خراسان باکماله شخصیات څلور دی، دهغوی نه یو زکریا بن یحیی لؤلؤی دې.

حافظ ذهبی رحمه الله د هغه په باره کښې فرمائی : ﴿ الحافظ، الفقیه، الحجة، ابویحیی البلخی، احد الاعلام ﴾(۱)

هم دغه شان فرمائی : ﴿ امام مصنف فی السنة ﴾(۲)

مسلمه بن قاسم اندلسی رحمه الله فرمائی : ﴿ ثقة ﴾(۳)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : ﴿ ثقة حافظ ﴾(٤)

ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې او لیکلې ئې دی

﴿ وکان صاحب سنة وفضل، ممن یرد علی اهل البدع ﴾(۵)

یعنی د سنت پابند وو، صاحب فضیلت وو او په اهل بدعت به ئې رد کولو

په ذی الحجة یا محرم ۲۳۰ یا ۲۳۲ هجری کښې وفات شوې دې. (۶) مغلطائی رحمه الله د ابن حبان رحمه الله نه د ۲۳۵ هجری قول هم نقل کړې دې. (۷) رحمه الله رحمة واسعة

② **ابو اسامة** : دا ابو اسامه حماد بن اسامه بن زید قرشی کوفی رحمه الله دې. د هغه حالات په کتاب العلم باب فضل من علم وعلم د لاندې تیر شوې دی. (۸)

③ **هشام بن عروه** : دا هشام بن عروه بن الزبیر بن العوام قرشی اسدی مدنی رحمه الله دې، د هغه حالات په کتاب بدء الوحی کښې د دویم حدیث د لاندې مختصرا او په کتاب الایمان کښې د باب احب الدین الی الله ادومه د لاندې تفصیلاً تیر شوې دی. (۹)

④ **عروة** دا مشهور تابعی عروه بن الزبیر بن العوام قرشی اسدی مدنی رحمه الله دې. د هغه حالات مختصرا په بدء الوحی کښې د دویم حدیث د لاندې او په تفصیل سره په کتاب الایمان کښې د باب احب الدین الی الله ادومه د لاندې تیر شوې دی. (۱۰)

---

۱) اوګورئ: تذکرة الحفاظ ج ۲ ص ۵۱۷
۲) الکاشف ج ۱ ص ٤۰۶
۳) اکمال تهذیب الکمال ج ۵ ص ۷۰
٤) تقریب التهذیب ص ۲۱۶، رقم ۲۰۳۱
۵) الثقات لابن حبان ج ۸ ص ۲۵٤، رقم ۱۳۲۹۹
۶) تهذیب الکمال ج ۹ ص ۳۷۹
۷) اکمال تهذیب الکمال ج ۵ ص ۷۰
۸) کشف الباری ج ۳ ص ٤۱٤
۹) کشف الباری ج ۱ ص ۲۹۱، و ج ۲ ص ٤۳۲
۱۰) کشف الباری ج ۱ ص ۲۹۱، و ج ۲ ص ٤۳۶

⑤ **عائشة** : د ام المومنین سیده عائشه رضي الله عنها حالات په بدء الوحی کښې د دویم حدیث د لاندې تیر شوي دي. (۱)

قوله: قَدْ أُذِنَ أَنْ تَخْرُجْنَ فِي حَاجَتِكُنَّ: تاسو ته د خپل حاجت د پوره کولو اجازت درکړې شو.

دا حدیث په کتاب التفسیر کښې په تفصیل سره را روان دې. (۲)

حاصل دا دې چه د حجاب د حکم د نازلیدو نه پس سیده سوده رضي الله عنها د حاجت دپاره اووتله، سیدنا عمر رضي الله عنه د هغې په لیدو باندې آواز ورکړو چه ته پیژندلې کیږې، پټیدې نه شې، هغه واپس راغله او رسول الله ﷺ ته ئې شکایت اوکړو، هغه وخت دا حکم نازل شو چه زنانو ته د خپل حاجت دپاره د وتلو گنجائش دې.

د احادیثو نه مستنبط شو فوائد : د دې ذکر شوی باب د احادیثو نه علماء کرامو ډیر فوائد مستنبط کړې دی چه د هغې نه څو دا دی!

① یوه دا چه د سیدنا عمر رضي الله عنه د مقام او مرتبې نه ظاهرېږی چه د هغه په موافقت کښې آیتونه نازل شو، علامه عینی رحمه الله په دې مقام باندې د سیدنا عمر رضي الله عنه موافقات ذکر کړې دی. (۳)

② د دې نه یوه خبره دا مستنبط کړې شوې ده چه ضرورة د سړو د زنانو سره په لاره کښې خبرې اترې جائز دی

③ دریمه فائده دا بیان کړې شوې ده چه انسان خپلې مور ته هم وعظ او نصیحت کولې شی، سیده سوده رضي الله عنها ام المومنین ده، سیدنا عمر رضي الله عنه هغې ته نصیحت اوکړو.

④ څلورمه فائده ئې دا ذکر کړې ده چه که د خیر خواهئ اراده وی نو په نصیحت کښې لږه شان سختی هم جائز ده.

⑤ د دې حدیث نه معلومه شوه چه عمر رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته درخواست اوکړو چه ﴿ احجب نساءك ﴾ چه تاسو امهات المومنین ته د حجاب حکم اوکړئ. رسول الله ﷺ باوجود د دې چه خیر په حجاب کښې دې د وحی انتظار اوکړو، چه کله وحی نازله شوه نو رسول الله ﷺ بیا حکم ورکړو، معلومه شوه چه رسول الله ﷺ به په امور شرعیه کښې د وحی انتظار کولو.

⑥ یوه فائده تردې دا مستنبط کړې شوې ده چه زنانو دپاره څنگه چه د بول براز د حاجت دپاره د وتلو اجازت ورکړې شوې دې، هم دغه شان د بل څه ضرورت دپاره هم ورله د وتلو گنجائش دې، پس د رسول الله ﷺ په زمانه کښې به په عیدین وغیره کښې زنانه وتلې، خو نن

---

۱) کشف الباری ج ۱ ص ۲۹۱ تا ۲۹۵

۲) اوگورئ: صحیح البخاری ج ۲ ص ۷۰۷، کتاب التفسیر، سورة الاحزاب، باب قوله : ﴿ یا ایها الذین امنوا لا تدخلوا بیوت النبی ﴾ رقم ٤٧٩٥

۳) اوگورئ: عمدة القاری ج ۲ ص ۲۸٤، ۲۸۵

صبا چونکه د سختي فتنې دور دې، فساد عام دې، په دې وجه د ضرورت شدیده شرعیه نه بغیر د وتلو اجازت نه شي ورکولې کیدې. (۱) والله اعلم

قوله: قال هشام: یعني البراز: هشام رحمه الله فرمائي (چه حاجت دپاره د وتلو نه مراد) د قضاء حاجت دپاره وتل مراد دي.

دا ﴿قال هشام﴾ یا خو د امام بخاري رحمه الله د طرف نه تعلیق دې، یا د امام بخاري رحمه الله د شیخ ابو اسامه مقوله ده. (۲) والله اعلم وعلمه اتم واحکم

⑭ بَابُ التَّبَرُّزِ فِي الْبُيُوتِ

د مخکښې باب سره مناسبت: د دې باب د مخکښې باب سره مناسبت ښکاره دې، په مخکښې باب کښې ﴿خروج الی البراز﴾ ذکر شوې دې او په دې باب کښې ﴿تبرز فی البیوت﴾ (۳)

د ترجمة الباب مقصد: حافظ ابن حجر رحمه الله د دې باب مقصد بیان کړې دې چه امام بخاري رحمه الله په دې ترجمة الباب سره دې خبرې طرف ته اشاره کړې ده چه په خروج النساء الی البراز کښې استمرار پاتې نه شو، بلکه په کورونو کښې چه کله بیوت الخلاء جوړې کړې شوې نو بهر ته د وتلو د ضرورت نه کیدو د وجې ازواج مطهرات رضی الله عنهن ته استغناء حاصله شوه، خاص ضرورت که پیښ شي نو هغه جدا خبره ده. (٤)

علامه عیني رحمه الله فرمائي چه په شروع کښې چه کله په کورونو کښې بیت الخلاء نه وې جوړې شوې. ازواج مطهرات او نورې زنانه به د قضاء حاجت دپاره بهر وتلې او چه کله بیت الخلاء جوړه شوه نو ممانعت اوکړې شو، الا لضرورة شرعیة.(۵)

شیخ الحدیث رحمه الله هم د دې حضراتو بیان کړې غرض لره راجح کولو سره فرمائیلې دی چه د دې حضراتو د بیان حاصل دا راوځي چه تبرز فی البیوت مندوب دې، ځکه چه په دې سره په تستر کښې زیات مدد ملاویږي، زما په نزد د ترجمې غرض هم دا راجح دې، امام بخاري رحمه الله د دې اولویت طرف ته اشاره کولو دپاره دا باب ﴿باب خروج النساء الی البراز﴾ نه پس راوړې دې، هر چه د خروج د جواز تعلق دې، پس هغه د مخکښې حدیث ﴿قد اذن﴾ نه معلوم شوې دې. (۶)

---

۱) د دې تولو فوائدو دپاره اوګورئ: عمدة القاری ج ۲ ص ۲۸٤، ۲۸۵. وفتح الباری ج ۱ ص ۲۵۰،
۲) شرح الکرمانی ج ۲ ص ۱۹۳، وعمدة القاری ج ۲ ص ۲۸۵
۳) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۸۵
٤) فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۰
۵) عمدة القاری ج ۲ ص ۱۸۵
٦) اوګورئ: الکنز المتواری ج ۳ ص ۳۳

شيخ الحديث رحمه الله مزيد فرمائی چه امام بخاری رحمه الله د ﴿ فانزل الله اية الحجاب ﴾ والا روايت نه پس دا باب متصلا راوړي دي، په دې كښې دې طرف ته اشاره ده چه په كورونو كښې د بيوت الخلاء تيارى د آيت حجاب د نزول نه پس شوې ده. والله اعلم

حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائی چه چونكه په كورونو كښې د قضاء حاجت كولو په صورت كښې د نجاست سره قرب او ملابست دې، كيدې شي چه څوك د دې وجې نه د كراهت په توهم كښې پريوځي، په دې وجه د داسې توهم د ترديد دپاره امام بخاری دا باب قائم فرمائيلو سره د دې جواز بيان فرمائيلې دې، خو چونكه نظافت او طهارت شرعا مطلوب دې، په دې وجه د كور نه دا نجاست زر تر زره د لرې كولو فكر كيدل پكار دى، داسې چه په دې كښې تكثير ته هم خبره او نه رسيږى، د دې اهتمام كول پكار دى. (۱)

د دې وجوهاتو نه علاوه زما خيال دا دې چه امام بخاری رحمه الله دلته دوه ترجمې قائم كړې دى، يو باب خروج النساء الى البراز او دويم باب التبرز فى البيوت... په دې دواړو كښې امام بخاری رحمه الله د دواړو صورتونو جواز بيان كړې دې، يعنى د قضاء حاجت دپاره بهر هم تلې شى او په كورونو كښې ئې هم كولې شى

خو امام بخاری رحمه الله په باب خروج النساء الى البراز كښې خاص طور د زنانو ذكر كړې دې، په دې وجه د هغوى معامله په ستر باندې مبنى ده او د هغوى دپاره په ﴿ وقرن فى بيوتكن ﴾(۲) كښې د قرار فى البيوت حكم دې، نو كيدې شى چه څوك دا خيال اوكړى چه هغوى قضاء حاجات دپاره د بهر تلو اجازت نشته، په دې وجه ئې خاص طور د زنانو خروج الى البراز ثابت فرمائيلې دې او چه كله د زنانو دپاره د وتلو جواز راوتلو نو د سړو دپاره په طريق اولى ثابت شو

او امام بخاری رحمه الله په دې ترجمه كښې باب التبرز فى البيوت فرمائيلې دې، په دې كښې ئې د يو صنف قيد نه دې لګولې، بلكه د دې الفاظ ئې عام ساتلې دى، چه دا معلومه شى چه تبرز فى البيوت صرف د زنانو دپاره نه دې، بلكه سړى هم په كور كښې قضاء حاجت كولې شى، پس په حديث الباب كښې هم دا روايت دې او چه كله په كور كښې قضاء حاجت كولې شى نو زنانه، چه د چا معامله په ستر باندې مبنى ده، په درجه اولى كولې شى، امام بخاری رحمه الله ترجمه عام ساتلو سره د سړو دپاره په كور كښې قضاء حاجت لره نصاً او د زنانو دپاره قضاء حاجت اولوية ثابت كړې دې. والله اعلم

---

۱) اوګورئ: لامع الدرارى مع الكنز المتوارى ج ۳ ص ۳۳، ۳٤
۲) الاحزاب: ۳۳

۱۴۷/۱۴۸: ﴿حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ قَالَ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ عِيَاضٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ عَنْ وَاسِعِ بْنِ حَبَّانَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ(۱) قَالَ ارْتَقَيْتُ فَوْقَ ظَهْرِ بَيْتِ حَفْصَةَ لِبَعْضِ حَاجَتِي فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْضِي حَاجَتَهُ مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ مُسْتَقْبِلَ الشَّامِ﴾

رجال الحديث

① **ابراهيم بن المنذر**: دا ابراهيم بن المنذر بن المغيرة قرشي اسدی حزامی مدنی رحمه الله دي. د هغه حالات په كتاب العلم ﴿باب من سئل علما وهو مشتغل فی حديثه﴾ د لاندې تير شوي دی. (۲)

② **انس بن عياض**: دا انس بن عياض بن ضمرة الليثی المدنی رحمه الله دي. (۳) د هغه د نيكه نوم بعض حضراتو هم دا ضمره وئيلي دي او بعض ﴿جعدبة﴾ او بعض ﴿عبدالرحمن﴾ وئيلي دي. (٤) ابو ضمره د هغه كنيت دي. (۵)

دا د شريك بن ابی نمر، ابو حازم، ربيعه، هشام بن عروه، موسی بن عقبه، سهيل بن ابی صالح، صالح بن كيسان، صفوان بن سليم، عبيد الله بن عمر رحمهم الله وغيره ډيرو حضراتو نه روايت كوی

د هغه نه په روايت كونكو كښ امام احمد، امام شافعی، عبدالله بن وهب، عبدالله بن مسلمه قعنبی، علی بن المدينی، قتيبه بن سعيد، ابراهيم بن المنذر، امام حميدی، عبدالله بن نمير، يونس بن عبد الاعلی او زبير بن بكار رحمهم الله وغيره دی. (۶)

ابن سعد رحمه الله فرمائی: ﴿وكان ثقة كثير الحديث﴾(۷)

امام يحيی بن معين رحمه الله فرمائی: ﴿ثقة﴾(۸)

هم دغه شان هغه فرمائی: ﴿صويلح﴾(۹)

امام ابو زرعه او امام نسائی رحمهما الله فرمائی: ﴿لاباس به﴾(۱۰).

---

۱) قد مر تخريج هذا الحديث قبل باب فی باب من تبرز علی لبنتين. فعد اليه ان شئت
۲) كشف الباری ج ۳ ص ۵۸
۳) عمدة القاری ج ۲ ص ۲۸۶
٤) اوګورئ: تهذيب الكمال ج ۳ ص ۳٤۹
۵) پورته حواله
۶) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال ج ۳ ص ۳٤۹ تا ۳۵۱
۷) الطبقات لابن سعد ج ۵ ص ٤۳۶
۸) وذلک فيما رواه الدوری عنه، انظر تهذيب الكمال ج ۳ ص ۳۵۱
۹) وذلک فيما رواه اسحاق بن منصور عنه، انظر تهذيب الكمال ج ۳ ص ۳۵۱
۱۰) تهذيب الكمال ج ۳ ص ۳۵۱

علامه باجي رحمه الله د امام ابو زرعه رحمه الله نه ﴿ثقة﴾ نقل کړې دې. (۱)
مسلمه بن قاسم رحمه الله فرمائي: ﴿بصري، ثقة﴾(۲)
ابن شاهين رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې. (۳)
ابن عدي رحمه الله فرمائي: ﴿ابوضمرة ثقة﴾(٤)
امام مالک رحمه الله د هغه ډير تعريف کړې دې! (۵)
يونس بن عبد الاعلى رحمه الله فرمائي: ﴿ما رايت احدا لقينا احسن خلقا ولا اسمح بعلمه من انس بن عياض، ولقد قال لنا مرة: والله! لوتهيألي ان احدثكم بكل ماعندي في مجلس واحد لحدثتكموه﴾(٦)
يعنې ما چه د څومره خلقو نه علم حاصل کړې دې، په هغوی کښې ما د انس بن عياض رحمه الله نه زيات خوش اخلاقه او خپل علم لره ډير زيات خورونکې نه دې ليدلې، يو کرت هغه اوفرمائيل: قسم په الله! که زما په وس کښې دا خبره وه چه څه ما سره دی هغه په يو مجلس کښې زه تاسو ته درکړم نو دا به مې هم کړې وو.
ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې. (۷)
د هغه وفات امام ابن حبان رحمه الله ۱۸۰ هجری بيان کړې دې. (۸) ابن منجويه هم يو قول دا نقل کړې دې. (۹) او عبد الرحمن بن ابراهيم دحيم وائي چه په ۱۹۹ هجری کښې هغه وفات شوې دې. (۱۰)
امام بخاري رحمه الله او نور محققين فرمائي چه په ۲۰۰ هجری کښې هغه وفات شوې دې. (۱۱) رحمه الله رحمة واسعة
③ **عبيد الله**: دا امام عبيد الله بن عمرو بن حفص بن عاصم بن عمر بن الخطاب رضي الله عنه دې. (۱۲) دا ام خالد بنت خالد صحابيه رضي الله عنها نه روايت کوي، د هغې نه علاوه د سالم بن عبد الله بن

---

۱) التعديل والتجريح ج ۱ ص ۳۹۱، رقم ۱۰۰
۲) اکمال تهذيب الکمال ج ۲ ص ۲۷۸، رقم ۶۰۲
۳ اکمال تهذيب الکمال ج ۲ ص ۲۷۹، رقم ۶۰۲
٤) تاريخ مدينة دمشق ج ۹ ص ۳۳۱
۵) نقله مغلطائي عن کتاب الثقات لابن شاهين، انظر اکمال تهذيب الکمال ج ۲ ص ۲۷۹
٦) تاريخ مدينة دمشق ج ۹ ص ۳۳۱
۷) اوګورئ: الثقات لابن حبان ج ۶ ص ۷۶، رقم ۶۷۹۸
۸) اوګورئ: الثقات لابن حبان ج ۶ ص ۷۶، ومشاهير علماء الامصار ج ۱ ص ٤۲
۹) اوګورئ: رجال مسلم لابن منجويه ج ۱ ص ۶۷
۱۰) تاريخ مدينه دمشق ج ۹ ص ۲۳۲
۱۱) اوګورئ: التاريخ الکبير ج ۲ ص ۳۲
۱۲) اوګورئ: عمدة القاري ج ۲ ص ۲۸۶، وتهذيب الکمال ج ۱۹ ص ۱۲٤

عمر، قاسم بن محمد و نافع، سعید مقبری، حبیب بن عبدالرحمن، عطاء بن ابی رباح، عمرو بن شعیب، زهری، وهب بن کیسان، عبدالله بن دینار، عبدالرحمن بن القاسم، ثابت البنانی، ابو الزناد، سهیل بن ابی صالح او عمرو بن دینار رحمهم الله وغیره نه روایت کوی
د هغه نه په روایت کونکو کښې ابن جریج، معمر، سفیان ثوری، سفیان بن عیینه، شعبه، عبدالله بن نمیر، علی بن مسهر، عبدالله بن المبارك، ابن الماجشون، معتمر بن سلیمان، یحیی بن سعید انصاری، یحیی القطان او ابو اسحاق فرازی رحمهم الله وغیره ډیر حضرات دی.(۱)

د یحیی بن سعید مخکښې چه کله دا اوئیلې شو چه ﴿ مالك اثبت فی نافع من عبیدالله بن عمر ﴾ نو هغه خفه شو او وې فرمائیل: ﴿ هو اثبت من عبیدالله؟ ﴾
آیا مالك د عبدالله په مقابله کښې اثبت دې؟ داسې نه ده! (۲)
امام احمد رحمه الله عبید الله بن عمر ته په امام مالك او ایوب (سختیانی) رحمهما الله باندې ترجیح ورکولو سره فرمائی: ﴿ عبیدالله اثبتهم، واحفظهم، واکثرهم روایة ﴾(۳)
امام ابن معین رحمه الله فرمائی: ﴿ عبیدالله بن عمر من الثقات ﴾(٤)
امام ابو زرعه او امام ابو حاتم رحمهما الله فرمائی: ﴿ ثقة ﴾(۵)
امام نسائی رحمه الله فرمائی ﴿ ثقة، ثبت ﴾(۶)
ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې او فرمائی:
﴿ وکان من سادات اهل المدینة، واشراف قریش، فضلا، وعلما، وعبادة، وشرفا، وحفظا واتقانا ﴾(۷)
ابن منجویه رحمه الله هم بعینه هم دا الفاظ ذکر کړې دی. (۸)
احمد بن صالح رحمه الله فرمائی: ﴿ ثقة، ثبت، مامون، لیس احد اثبت فی حدیث نافع منه ﴾(۹)
ابن خلفون رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې او ابن النمیر، ابن عبدالرحیم او ابو جعفر السبتی رحمهم الله وغیره نه ئې هم د هغه توثیق نقل کړې دې. (۱۰)
ابن شاهین رحمه الله په خپل کتاب الثقات کښې فرمائی: ﴿ عبیدالله بن عمر، عن القاسم بن محمد،

---

۱) د شیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ: تهذیب الکمال ج ۱۹ ص ۱۲٤ تا ۱۲۷
۲) تهذیب الکمال ج ۱۹ ص ۱۲۷
۳) پورته حواله
٤) پورته حواله
۵) الجرح والتعدیل ج ۶ ص ۳۲۶، رقم ۱۵٤۵
۶) تهذیب الکمال ۱۹ ص ۱۲۸
۷) الثقات لابن حبان ج ۷ ص ۱٤۹
۸) رجال صحیح مسلم ج ۲ ص ۱۲، ۱۳، رقم ۱۰۲۶
۹) اکمال تهذیب الکمال ج ۹ ص ۵٤
۱۰) پورته حواله

والقاسم بن محمد عن عائشة مشبك بالذهب ﴾(۱) دا سند پيللي شوې سرۀ زر دی.

امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائي : ﴿ عبيد الله بن عمر عن القاسم بن محمد عن عائشة، الذهب المشبك بالدر ﴾(۲)

امام عجلی رحمه الله فرمائي : ﴿ مدنی، ثقة، ثبت ﴾(۳)

حافظ خليلی رحمه الله فرمائي : ﴿ حافظ، متقن، متفق عليه، روی عنه الائمة الكبار ﴾(٤)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي : ﴿ ثقة، ثبت، قدمه احمد بن صالح على مالك فی نافع، وقدمه ابن معين فی القاسم عن عائشة، على الزهری عن عروة عنها ﴾(۵)

يعنی هغه ثقه اوثبت دي، احمد بن صالح دنافع په روایاتو کښې هغه ته په امام مالك رحمه الله باندې فوقيت ورکړې دې، او امام ابن معين د قاسم عن عائشه په سند سره روايت شوې احاديثو ته د زهری عن عروه عن عائشه په سند سره نقل شوې احاديثو باندې ترجيح ورکړې ده.

تنبيه : صاحب ترجمه عبيد الله بن عمر بن حفص بن عاصم بن عمر بن الخطاب قرشی مدنی عمری دې، او د هغه مشر رور عبدالله بن عمر بن حفص بن عمری دې، دې هم د صحيح مسلم او د سنن اربعه په راويانو کښې دې، دواړو ته عمری وئيلې شی، په دوی کښې عبيد الله مصغرا ثقه او متقن دې، او عبدالله مكبرا ضعيف دې (۶)

په ۱۴۵ يا ۱۴۷ هجری کښې وفات شوې دې. (۷) رحمه الله رحمة واسعة

④ **محمد بن يحيى بن حبان** : دا محمد بن يحيى بن حبان بن منقذ نجاری مدنی رحمه الله دې. د هغه حالات په کتاب الوضوء باب من تبرز على لبنتين کښې تير شوي دی.

⑤ **واسع بن حبان** : دا واسع بن حبان بن منقذ نجاری مدنی رحمه الله دې. د هغه حالات هم په کتاب الوضوء باب من تبرز على لبنتين کښې تير شوې دی.

⑥ **عبد الله بن عمر رضی الله عنهما** : د سيدنا عبد الله بن عمر رضی الله عنهما حالات په کتاب الايمان کښې د باب الايمان وقول النبی صلى الله عليه وسلم بنی الاسلام على خمس د لاندې تير شوې دی. (۸)

---

۱) تاريخ اسماء الثقات لابن شاهين ص ۱۶۳، رقم ۹۴۶
۲) تهذيب الكمال ج ۱۹ ص ۱۲۸
۳) الثقات للعجلی ج ۲ ص ۱۱۲، رقم ۱۱۶۶
٤) الارشاد فی معرفة علماء الحديث : ج ۱ ص ۲۹۳، رقم ۱۳۸
۵) تقريب التهذيب ص ۳۷۳، رقم ۴۳۲۴
۶) تقريب التهذيب ص ۳۱۴، رقم ۳۴۸۹
۷) تهذيب الكمال ج ۱۹ ص ۱۲۹
۸) کشف الباری ج ۱ ص ۶۳۷

قوله: ارْتَقَيْتُ فَوْقَ ظَهْرِ بَيْتِ حَفْصَةَ لِبَعْضِ حَاجَتِي فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْضِي حَاجَتَهُ مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ مُسْتَقْبِلَ الشَّأْمِ: سيدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائى چه زه د خپلو بعض كارونو دپاره د سيده حفصه رضي الله عنها د كور په چهت باندې اوختلم. ما رسول الله ﷺ اوليدو چه هغه د قبلې طرف ته شا كړې او د شام طرف ته مخ كړې قضاء حاجت فرمائى

په دې روايت كښې د «فوق ظهر بيت حفصة» تصريح ده، هم د دې باب په وړاندې روايت كښې «على ظهر بيتنا» الفاظ راغلې دى. د داسې تعارض دفيعه مونږ په تير شوى باب «باب من تبرز على لبنتين» كښې د «لقد ارتقيت يوما على ظهر بيت لنا» په تشريح كښې كړې ده چه د هغې حاصل دادې چه د سيده حفصه رضي الله عنها طرف ته نسبت حقيقى دې او خپل طرف ته نسبت ئې مجازى دې.

د حديث پوره تشريح شاته په باب من تبرز على لبنتين د لاندې تير شوې دې.

۱۴۸ : «حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ قَالَ أَخْبَرَنَا يَحْيَى عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ أَنَّ عَمَّهُ وَاسِعَ بْنَ حَبَّانَ أَخْبَرَهُ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ أَخْبَرَهُ (۱) قَالَ لَقَدْ ظَهَرْتُ ذَاتَ يَوْمٍ عَلَى ظَهْرِ بَيْتِنَا فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدًا عَلَى لَبِنَتَيْنِ مُسْتَقْبِلَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ» [ر : ۱۴۵]

رجال الحديث

① **يعقوب بن ابراهيم** : دا ابويوسف يعقوب بن ابراهيم بن كثير بن زيد بن افلح العبدى الدورقى رحمه الله دې. د هغه حالات په كتاب الايمان كښې د باب حب الرسول ﷺ من الايمان د لاندې تير شوې دى (۲)

② **يزيد بن هارون** : دا يزيد بن هارون بن زاذى يا زاذان بن ثابت سلمى واسطى رحمه الله دې. ابو خالد د هغه كنيت دې. د هغه نيكهٔ زاذان د ام عاصم د زوجه عتبه بن فرقد مولى وو، هغې هغه لره ازاد كړې وو. دې د عاصم الاحول، يحيى بن سعيد الانصارى، سليمان التيمى، حميد الطويل، عمرو بن علقمه، عبدالله بن عون، شعبه بن الحجاج، سعيد بن ابى عروبه، محمد بن اسحاق او قيس بن الربيع رحمهم الله وغيره ډيرو حضراتو نه روايت كوى.

د هغه نه په روايت كونكو كښې امام على بن المدينى، امام احمد، ابوبكر بن ابى شيبه، زهير بن حرب، محمد بن عبدالله بن نمير، عباس الدورى، يعقوب الدورقى، امام دارمى، احمد بن الفرات، او ابو قلابه الرقاشى رحمهم الله وغيره حضرات دى. (۳)

---

۱) قد مر تخريج هذا الحديث تحت باب من تبرز على لبنتين ببسط وتفصيل.

۲ كشف البارى : ۲/ ۱۱.

۳) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ : تهذيب الكمال ج ۳۲ ص ۲۶۲ تا ۲۶۶، وسير اعلام النبلاء ج ۹ ص ۳۵۹

امام احمد رحمه الله فرمائی : ﴿ كان حافظا متقنا للحديث، صحيح الحديث عن حجاج بن ارطاة، تاهرا لها، حافظا ﴾(۱) امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائی : ﴿ ثقة ﴾ (۲)

امام علی بن المدينی رحمه الله فرمائی : ﴿ هو من الثقات ﴾(۳)

هم دغه شان هغه فرمائی : ﴿ ما رايت رجلا قط احفظ من يزيد بن هارون ﴾(٤)

امام عجلی رحمه الله فرمائی : ﴿ ثقة، ثبت في الحديث، وكان متعبدا متنسكا، حسن الصلاة جدا، كان قد عمی ﴾(۵)

امام ابو زرعه رحمه الله د ابن ابی شیبه رحمه الله نه نقل کوی : ﴿ ما رايت اتقن حفظا من يزيد بن هارون ﴾(۶)

امام ابو زرعه رحمه الله فرمائی : ﴿ والاتقان اكثر من حفظ السرد ﴾(۷) يعنی هغه ته چه سردا د حفظ حديث ملکه حاصله وه د دې نه هم زيات د هغه اتقان وو.

امام ابو حاتم رحمه الله فرمائی : ﴿ ثقة، امام، صدوق، لا يسال عن مثله ﴾(۸)

هشيم رحمه الله فرمائی : ﴿ ما بالمصرين مثل يزيد بن هارون ﴾(۹)

ابن سعد رحمه الله فرمائی : ﴿ كان ثقة، كثير الحديث ﴾(۱۰)

امام نووی رحمه الله فرمائی : ﴿ وهو احد الائمة المشهورين بالحديث والفقه والصلاح ﴾(۱۱)

هم دغه شان هغه فرمائی ﴿ واجمعوا على توثيقه وجلالته وحفظه وامامته ﴾(۱۲)

امام ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښ ذکر کړې دې او ليکلې ئې دی!

﴿ كان من خيار عباد الله تعالى ممن يحفظ حديثه ﴾(۱۳)

---

۱) تهذيب الكمال ج ۳۲ ص ۲۶۶
۲) پورته حواله
۳) تهذيب الكمال ج ۳۲ ص ۲۶۷
٤) پورته حواله
۵) الثقات للعجلی ج ۲ ص ۳۶۸، رقم ۲۰۳۹
۶) تهذيب الكمال ج ۳۲ ص ۲۶۷
۷) پورته حواله
۸) الجرح والتعديل ج ۹ ص ۳۵۹، رقم ۱۲۵۷
۹) تهذيب الكمال ج ۳۲ ص ۲۶۷، والمراد بالمصرين الكوفة والبصرة... كما قال المحقق "السير" ج ۹ ص ۳۶۰
۱۰) الطبقات لابن سعد ج ۷ ص ۳۱٤
۱۱) تهذيب الاسماء واللغات ج ۲ ص ۱۶۳، رقم ۲۶۰
۱۲) پورته حواله
۱۳) الثقات لابن حبان ج ۷ ص ۶۳۲، رقم ۱۱۸۲۳

زكريا بن يحيى رحمه الله فرمائى : كنا نسمع ان يزيد من احسن اصحابنا صلاة، واعلمهم بالسنة﴾(١)

د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه تپوس اوكړې شو ﴿يزيد بن هارون له فقه؟﴾ يعنى آيا يزيد بن هارون رحمه الله فقيه وو؟ وې فرمائيل : ﴿نعم! ماكان افطنه، واذكاه وافهمه﴾(٢)

زعفرانى رحمه الله فرمائى : ﴿ما رايت خيرا من يزيد﴾(٣)

زياد بن ايوب رحمه الله فرمائى : ﴿ما رايت له كتابا قط ولا حديثا الاحفظا﴾(٤)
يعنى هغه به هميشه حديث په يادو اورولو، كتاب به ئې مخې ته نه كيخودلو.

يعقوب بن شيبه رحمه الله فرمائى : ﴿ثقة، وكان يعد من الامرين بالمعروف والناهين عن المنكر﴾(٥)
يعنى هغه ثقه دې او شمير ئې په امر بالمعروف او نهى عن المنكر والو كښې كيږى.

ابن قانع رحمه الله فرمائى : ﴿ثقة﴾(٦)
يزيد بن هارون رحمه الله به عبادت ډير زيات كولو، عفان رحمه الله فرمائى!

﴿ما رايت عالما احسن صلاة من يزيد بن هارون، يقوم كانه اسطوانة، يصلى بين الظهر والعصر، وبين المغرب والعشاء، لم يكن يفتر عن صلاة الليل والنهار، هو وهشيم معروفان بطول صلاة الليل والنهار﴾(٧)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى : ﴿الامام، القدوة، شيخ الاسلام..... الحافظ﴾ هم دغه شان هغه فرمائى:
﴿وكان راسا في العلم والعمل، ثقة، حجة، كبير الشان﴾(٨)

د يزيد بن هارون د حفظ او اتقان په باره كښې په ذكر شوې اقوالو باندې تاسو خبر شوئ، د دې باوجود چونكه هغه په اخرى عمر كښې نابينا شوې وو، په دې موقع باندې به چه يو سړى د هغه نه داسې حديث تپوسلو كوم چه به هغه ته معلوم نه وو نو خپلې وينځې ته به ئې فرمائيل، چه هغه ئې د كتاب نه راوباسى او وورياد ئې كړى، په دې وجه بعض دا عيب شمار كولو سره كلام كوى، پس يحيى بن معين رحمه الله تردې وئيلې دى چه
﴿يزيد ليس من اصحاب الحديث، لانه لايميز، ولايبالى عمن روى﴾(٩)

---

١) تهذيب التهذيب ج ١١ ص ٣٦٨
٢) پورته حواله
٣) پورته حواله
٤) پورته حواله
٥) پورته حواله
٦) پورته حواله
٧) تهذيب الكمال ج [illegible] ٢٦٨
٨) سير اعلام النبلاء ج [illegible] ص ٣٥٨
٩) تهذيب التهذيب ج ١١ ص ٣٦٨

يعنى په يزيد كښې د علماء حديث خصوصيت نشته، ځكه چه هغه به تميز نه كولو او د هغه به پرواه نه وه چه د چا نه روايت كوى.
د دې وجه دا ده چه متقدمينو به د معمولى تساهل نه هم احتراز كولو، چونكه د دې واقعې نه لازميږي چه هغه به په خپله وينزه باندې اعتماد كولو او ظاهره ده چه په هغې كښې هغه اتقان او پوخ والې نه شى كيدې چه د اجزاء ترمينځه تميز كولو سره حديث راوباسى او وريادئې كړى، په دې وجه په دې عمل باندې تنقيد شوې دې.
خو حقيقت دا دې چه دا عمل هيڅ قابل تليين وتضعيف نه دې، د هغه د دې عمل د وجې نه د هغه يو حديث ته متكلم فيه نه دې وئيلې شوې.(۱) د دې نه علاوه په دې امت كښې د زنانو او وينزو نه څومره داسې تيرې شوې دى د چا صلاحيتونه چه د پسخيدو قابل وو، كه هغه خپله وينزه د دې قابله ګنړلې وى نو په دې كښې د كلام او نقد كولو څه معنى؟
پس حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى: ﴿ مابهذا العمل باس مع امانة من يلقنه، ويزيد حجة بلا مثنوية ﴾(۲)
يعنى په دې عمل كښې هيڅ باك نشته، چه كله تلقين كونكې د امانت په صفت سره متصف وى، يزيد بغير د استثناء نه على الاطلاق حجت دې.
هم دغه شان د امام يحيى بن معين رحمه الله نه نقل دى: ﴿ سماع يزيد من ابن ابى عروبة ضعيف ﴾(۳)
يعنى د يزيد د سعيد بن ابى عروبة نه سماع ضعيف ده.
حافظ ذهبى رحمه الله په دې سلسله كښې فرمائى!
﴿ انما الضعف فيها من قبل سعيد بن ابى عروبة، لانه سمع منه بعد التغير ﴾(٤)
يعنى په يزيد كښې هيڅ ضعف نشته، دا ضعف د سعيد بن ابى عروبه د تغير او اختلاط د وجې نه دې، ځكه چه د يزيد سماع د سعيد بن ابى عروبه نه د ابن ابى عروبه د تغير نه پس شوې ده.
۲۰۶ هجرى كښې په واسط كښې وفات شوې دې. (۵) رحمه الله رحمة واسعة
③ **يحيى**: دا امام يحيى بن سعيد الانصارى رحمه الله دې. د هغه حالات هم د بدء الوحى د اولنى حديث د لاندې مختصرا او په كتاب الايمان كښې د باب صوم رمضان احتسابا من الايمان د لاندې لږ په تفصيل سره ذكر شوې دى (۶)

---

۱) پس خپله د ابن معين رحمه الله نه د هغوى په باره كښې توثيقات منقول دى، اوګورئ: معرفة الرجال عن يحيى بن معين لابن محرز ج ۱ ص ۱۰٤، رقم ٤٨٤
۲) سير اعلام النبلاء ج ۹ ص ۳۶۳
۳) سير اعلام النبلاء ج ۹ ص ۳۶۲
٤) سير اعلام النبلاء ج ۹ ص ۳۶۳
۵) سير اعلام النبلاء ج ۹ ص ۳۶۹
۶) اوګورئ: كشف البارى ج ۱ ص ۲۳۸، و ج ۲ ص ۳۲۱

④ **محمد بن يحيى بن حبان** : د هغه حالات اوس شاته په کتاب الوضو کښې د باب من تبرز على لبنتين د لاندې تير شوي دى

⑤ **واسع بن حبان** : د هغه حالات هم په کتاب الوضو کښې د باب من تبرز على لبنتين د لاندې تير شوي دى.

⑥ **عبد الله بن عمر** : د سيدنا عبد الله بن عمر رضي الله عنهما حالات په کتاب الايمان کښې د باب الايمان وقول النبى ﷺ بنى الاسلام على خمس د لاندې تير شوي دى. (۱)

قوله: لَقَدْ ظَهَرْتُ ذَاتَ يَوْمٍ عَلَى ظَهْرِ بَيْتِنَا: سيدنا عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فرمائى چه زه يوه ورځ د خپل کور چهت ته اوختلم.

قوله: فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدًا عَلَى لَبِنَتَيْنِ مُسْتَقْبِلَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ: ما رسول الله ﷺ اوليدو په دوه ښختو باندې د بيت المقدس طرف ته رخ کولو سره په ناسته اوليدو.

په دې روايت کښې صرف د ﴿مستقبل بيت المقدس﴾ الفاظ دى، او د دې نه په مخکښې روايت کښې د ﴿مستدبر القبلة﴾ الفاظ هم وو، په اولنى روايت کښې هغه تاکيدا ذکر کړې شوې دې، په دويم روايت کښې صرف په يوه جمله باندې اکتفاء کړې شوې ده، ځکه چه کوم سړې د بيت المقدس طرف ته مخ کولو سره کينى هغه به لازما د قبلې طرف ته شا کوى .

په اول روايت کښې د ﴿مستقبل الشام﴾ الفاظ دى، اوپه دې روايت کښې د ﴿مستقبل بيت المقدس﴾ الفاظ دى، دا روايت بالمعنى دې، دواړه په يو جهت کښې دى. (۲) والله اعلم وعلمه اتم واحكم

⑮ بَابُ الِاسْتِنْجَاءِ بِالْمَاءِ

د مخکښې باب سره مناسبت : د دې باب د مخکښې باب سره مناسبت بالکل واضح دې، ځکه چه په مخکښې باب کښې باب د ﴿تبرز﴾ يعنى د ﴿قضاء حاجت﴾ ذکر دې او په دې باب کښې د استنجاء ذکر دې. (۳)

د ترجمة الباب مقصد : حافظ ابن حجر، علامه عينى او نورو شارحينو رحمهم الله ليکلي دى چه امام بخارى رحمه الله په دې باب کښې په هغه خلقو باندې رد کړې دې، چا چه به استنجاء بالماء ته مکروه وئيله. هم دغه شان په هغه خلقو باندې هم رد دې چا چه به دا دعوىٰ کوله چه د

---

۱) کشف البارى ج ۱ ص ۶۳۷
۲) اوګورئ: فتح البارى ج ۱ ص ۲۵۰، وعمدة القارى ج ۲ ص ۲۸۶، ۲۸۷
۳) عمدة القارى ج ۲ ص ۲۸۷

رسول الله ﷺ نه په اوبو سره استنجاء كول ثابت نه دى.(١)

د استنجاء بالماء په حكم كښې د علماء كرامو اختلاف: ائمه اربعه او جمهور په دې متفق دى چه د استنجاء دپاره د اوبو استعمال نه صرف جائز بلكه مستحب دې. (٢)

خو د بعض حضرات صحابه او تابعين رضي الله عنهم نه د دې قولا يا فعلا انكار منقول دې.

پس امام ابن ابى شيبه رحمه الله د سيدنا حذيفه رضي الله عنه په باره كښې نقل كړې دى چه كله د هغه نه د استنجاء بالماء په باره كښې تپوس اوكړې شو نو وې فرمائيل: ﴿ **اذن لا تزال يدى فى نتن** ﴾(٣) يعنى بيا خو به زما لاس هميشه بدبويه وى.

هم دغه شان د ابن عمر رضي الله عنهما په باره كښې امام نافع رحمه الله فرمائى!

﴿ **وكان ابن عمر لا يستنجى بالماء** ﴾(٤) يعنى ابن عمر رضي الله عنهما به په اوبو باندې استنجاء نه كوله.

سيدنا عبدالله بن الزبير رضي الله عنه يو سړې اوليدو چه د استنجاء دپاره ئې اوبه استعمالولې نو وې فرمائيل: ﴿ **ماكنا نفعله** ﴾(٥)

د سلمه بن الاكوع رضي الله عنه په باره كښې د هغه مولى يزيد فرمائى: ﴿ **ان سلمة كان لا يستنجى بالماء** ﴾(٦)

د اسود او عبدالرحمن بن يزيد رحمهما الله په باره كښې نقل دى!

﴿ **كان الاسود وعبدالرحمن بن يزيد يدخلان الخلاء، فيستنجيان باحجار، ولا يزيدان عليها، ولا يمسان ماء** ﴾(٧) يعنى اسود او عبدالرحمن بن يزيد به بيت الخلاء ته لاړل، په كاڼړو سره به ئې استنجاء اوكړه او د بل څيز اضافه به ئې نه كوله او نه به ئې اوبه استعمالولې.

---

١ ، اوګورئ فتح البارى: ٢٥١١١، وعمدة القارى: ٢٨٧١٢، وتحفة البارى: ١٥٩١١، وارشاد السارى: ٢٣٨١١، والكنز المتوارى: ٣٤١٣.

٢) اوګورئ: بدائع الصنائع ج ١ ص ١٨٣، فصل فى سنن الوضوء، ومواهب الجليل ج ١ ص ٦٩، كتاب الطهارة، باب ما يرفع الحديث وما حكم الخبث المطلق، والمجموع شرح المذهب ج ١ ص ١٠٠، والانصاف ج ١ ص ١٠٤، ١٠٥

٣) المصنف لابن ابى شيبة ج ٢ ص ١٧١، كتاب الطهارة، باب من كان لا يستنجى بالماء ويجتزئ بالحجارة، رقم ١٦٤٦

٤) المصنف لابن ابى شيبة ج ٢ ص ١٧٥، كتاب الطهارة، باب من كان لا يستنجى بالماء ويجتزئ بالحجارة، رقم ١٦٥٩

٥) المصنف لابن ابى شيبة ج ١ ص ٤١٩، كتاب الطهارة، باب من كان اذا بال لم يمس ذكره بالماء، رقم ٥٩٦، و ج ٢ ص ١٧٢، كتاب الطهارة، باب من كان لا يستنجى بالماء ويجترئ بالحجارة، رقم ١٦٥٣

٦) المصنف لابن ابى شيبة ج ٢ ص ١٧٥، كتاب الطهارة، باب من كان لا يستنجى بالماء ويجتزئ بالحجارة، ١٦٥٧

[٧) الم]صنف لابن ابى شيبة ج ٢ ص ١٧١، كتاب الطهارة، باب من كان لا يستنجى بالماء ويجتزئ بالحجارة، ١٦٤٧

د امام سعيد بن المسيب رحمه الله مخکښ چه کله د استنجاء بالماء ذکر اوکړې شو نو هغه اوفرمائيل: ﴿ذلك طهور النساء﴾(۱)

هم دغه شان هغه به فرمائيل: ﴿انما ذلك وضوء النساء﴾(۲) يعنى دا خو د زنانو د طهارت طريقه ده، د سړو نه ده.

حافظ ابن حجر رحمه الله د ابن التين رحمه الله په حوالې سره نقل کړې دى چه امام مالك رحمه الله د دې خبرې نه انکار کړې دې چه رسول الله ﷺ د استنجاء دپاره د اوبو استعمال کړې وى. (۳)

دغه شان ئې د ابن حبيب مالکى نه نقل کړې دى چه هغوى به د استنجاء بالماء نه منع کوله، ځکه چه اوبه د مطعوماتو ځنې دى. (۴)

د دې دواړو نقلونو څه حيثيت دې؟ د دې جائزه به مونږ روستو اخلو!

د جمهور علماء کرامو دلائل: خو حقيقت دا دې چه استنجاء بالماء نه صرف د جمهور صحابه کرام او تابعين، بلکه خپله د رسول الله ﷺ نه هم ثابته ده.

① سنن النسائى، جامع ترمذى، مسند احمد، او په صحيح ابن حبان وغيره کښې د سيده عائشه رضي الله عنها نه روايت دې: ﴿مُرْنَ أَزْوَاجَكُنَّ أَنْ يَسْتَطِيبُوا بِالْمَاءِ، فَإِنِّي أَسْتَحْيِيهِمْ مِنْهُ، إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُهُ﴾(اللفظ للنسائى)(۵)

يعنى عائشې رضي الله عنها څه زنانو ته اوفرمائيل چه خپلو خاوندانو ته په اوبو سره د استنجاء کولو او پاکى حاصلولو حکم کوئ، ماله براه راست د وئيلو نه حياء راځى، او رسول الله ﷺ به خپله دا سې کول

② سيدنا انس رضي الله عنه په حديث الباب کښې د رسول الله ﷺ د استنجاء دپاره د اوبو استعمالول بيان کړې دى، پس په دې روايت کښې ډير طرق دى، په دې د الفاظو د فرق سره قدر مشترك هم دا دې چه رسول الله ﷺ د استنجاء نه پس اوبه استعمال کړې.

---

۱) المصنف لابن ابى شيبة ج ۲ ص ۱۷۱، کتاب الطهارة، باب من كان لا يستنجى بالماء ويجتزئ بالحجارة، رقم ۱۶۴۸

۲) الموطاء، کتاب الطهارة، باب جامع الوضوء رقم ۶۴

۳) فتح البارى ج ۱ ص ۲۵۱

۴) حواله بالا.

۵) سنن النسائى، كتاب الطهارة، باب الاستنجاء بالماء، رقم ۴۶، وجامع الترمذى، ابواب الطهارة، باب الاستنجاء بالماء، رقم ۱۹، ومسند احمد ج ۶ ص ۹۵، رقم ۲۵۱۴۶، و ج ۶ ص ۱۱۳، رقم ۲۵۳۳۲، و ج ۶ ص ۱۱۴، رقم ۲۵۳۴۷، و ج ۶ ص ۱۲۰، رقم ۲۵۴۰۲، و ج ۶ ص ۱۳۰، رقم ۲۵۴۹۸، و ج ۶ ص ۱۷۱، رقم ۲۵۸۹۲، و ج ۶ ص ۲۳۶ رقم ۲۶۵۲۲، وصحيح ابن حبان ج ۴ ص ۲۹۰، رقم ۱۴۴۳، بتحقيق الارنؤوط، ومسند ابى يعلى، ج ۸ ص ۱۲، رقم ۴۵۱۴، و ج ۸ ص ۲۷۲، رقم ۴۸۵۹، بتحقيق حسين سليم اسد، والمصنف لابن ابى شيبة و ج ۲ ص ۱۶۵، کتاب الطهارة، باب من كان يقول اذا خرج من الغائط فليستنج بالماء، رقم ۱۶۲۹، و ۱۶۳۰

پس په صحیح بخاری کښې صراحت دی!

﴿ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْخَلَاءَ فَأَحْمِلُ أَنَا وَغُلَامٌ إِدَاوَةً مِنْ مَاءٍ وَعَنَزَةً يَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ ﴾(۱)
یعنې رسول الله ﷺ به د حاجت دپاره تشریف اوړلو، ما او یو هلك به د اوبو لوښې او همسا راواخستله، رسول الله ﷺ به په اوبو سره استنجاء کوله.

③ په صحیح ابن خزیمه کښې د سیدنا جریر رضی الله عنه نه روایت دی! ﴿ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْغَيْضَةَ فَقَضَى حَاجَتَهُ، فَأَتَاهُ جَرِيرٌ بِإِدَاوَةٍ مِنْ مَاءٍ فَاسْتَنْجَى بِهَا قَالَ: وَمَسَحَ يَدَهُ بِالتُّرَابِ ﴾(۲)
یعنې رسول الله ﷺ ځنګل ته داخل شو. قضاء حاجت ئې اوکړو. جریر ورله د اوبو لوښې راوړلو. په هغې باندې استنجاء اوفرمائیله. جریر رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ خپل لاس په خاوره باندې اومږلو

④ په سنن ابن ماجة او صحیح ابن حبان کښې د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی!
﴿ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى حَاجَتَهُ ثُمَّ اسْتَنْجَى مِنْ تَوْرٍ، ثُمَّ دَلَكَ يَدَهُ بِالْأَرْضِ ﴾(۳)
یعنې رسول الله ﷺ قضاء حاجت نه پس په یو لوښی سره استنجاء اوکړه، بیا ئې خپل لاس مبارك په زمکه باندې اومږلو.

⑤ هم دغه شان په سنن ابن ماجة او صحیح ابن حبان کښې د سیده عائشه رضی الله عنها نه روایت دی!
﴿ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَرَجَ مِنْ غَائِطٍ قَطُّ إِلَّا مَسَّ مَاءً ﴾ (۴) یعنې ما رسول الله ﷺ همیشه د قضاء حاجت نه پس د اوبو په استعمالولو باندې لیدلې دی.

⑥ په سنن ابی داؤد او جامع ترمذی کښې د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی:
﴿ عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: "نزلت هذه الآية فی أهل قباء { فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا } [التوبة: ۱۰۸] قال: كانوا يستنجون بالماء، فنزلت فيهم هذه الآية ﴾(۵)

---

۱) اوګورئ: صحیح البخاری ج ۱ ص ۲۷، کتاب الوضوء، باب حمل العنزة مع الماء فی الاستنجاء رقم ۱۵۲

۲) صحیح ابن خزیمة ج ۱ ص ۴۷، کتاب الوضوء باب دلک الید بالارض وغسلهما بعد الفراغ من الاستنجاء بالماء، رقم ۸۹، والسنن لابن ماجة، کتاب الطهارة وسننها، باب من دلک یده بالارض بعد الاستنجاء، رقم ۳۵۹، هم دغه شان اوګورئ: سنن النسائی، کتاب الطهارة، باب دلک الید بالارض بعد الاستنجاء رقم ۵۱

۳) سنن ابن ماجة، کتاب الطهارة، باب من دلک یده بالارض بعد الاستنجاء، رقم ۳۵۸، وصحیح ابن حبان، بترتیب ابن بلبان ج ۴ ص ۲۵۱، کتاب الطهارة، بالاستطابة رقم ۱۴۰۵

۴) سنن ابن ماجة، کتاب الطهارة، باب الاستنجاء بالماء، رقم ۳۵۴، وصحیح ابن حبان بترتیب ابن بلبان ج ۴ ص ۲۸۸، رقم ۱۴۴۱

۵) سنن ابی داؤد، کتاب الطهارة، باب فی الاستنجاء بالماء رقم ۴۴، وجامع الترمذی، ابواب التفسیر، سورة التوبة رقم ۳۱۰۰

یعنی دا آیت مبارکه ﴿ فیه رجال ..... الخ ﴾ په هغه مسجد کښې داسې خلق دی چه طهارت خوښوی، دا د اهل قباء په باره کښې نازل شوې دې، رسول الله ﷺ فرمائی هغوی به په اوبو باندې استنجاء کوله نو د هغوی په باره کښې دا آیت کریمه نازل شو.

⑥ په سنن ابن ماجة، په المنتقی لابن الجارود او "المختارة" کښې د سیدنا ابو ایوب، سیدنا جابر او سیدنا انس رضی الله عنهم نه روایت دې چه رسول الله ﷺ تپوس اوکړو!

﴿ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ، إِنَّ اللهَ قَدْ أَثْنَى عَلَيْكُمْ فِي الطُّهُورِ، فَمَا طُهُورُكُمْ؟ قَالُوا: نَتَوَضَّأُ لِلصَّلَاةِ، وَنَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ، وَنَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ. قَالَ: "فَهُوَ ذَاكَ، فَعَلَيْكُمُوهُ ﴾ (۱)

یعنی اې د انصارو ډلې! الله پاك د طهارت په سلسله کښې ستاسو تعریف کړې دې، اخر هغه ستاسو طهارت څنګه وی؟ هغوی عرض اوکړو چه مونږ د مانځه دپاره اودس کوو، د جنابت نه غسل کوو او په اوبو سره استنجاء کوو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل: بالکل هم دا اصل سبب دې، پس دا لازم اونیسئ.

د صحابه کرام رضی الله عنهم آثار هم په دې باندې په کثرت سره شاهد دی!

پس د سیدنا حذیفه، سیدنا رافع بن خدیج، ابو اسید، ابو ذر غفاری، عمر بن الخطاب او انس بن مالك رضی الله عنهم نه استنجاء بالماء منقول ده. (۲)

د منکرینو د دلائلو جائزه : هر چه د بعض صحابه کرام رضی الله عنهم د قولا یا فعلا انکار تعلق دې، پس د هغوی په مقابله کښې بل طرف ته د صحابه کرام رضی الله عنهم یو لوئې تعداد موجود دې.

دویمه خبره دا ده چه د دې حضراتو قولی یا فعل انکار په دې باندې محمول کیدې شی چه د دې حضراتو د متیازو نه پس فورا په اوبو سره د استنجاء کولو څۀ باقاعده معمول نه وو، خو هغوی مطلقا د استنجاء بالماء انکار نه کولو.

بیا په دې حضراتو کښې د څو کسانو نه د انکار سره سره اثبات، یعنی استنجاء بالماء هم ثابته ده، لکه چه د سیدنا حذیفه رضی الله عنه نه نقل دی، د هغه بیبی سیده فریعه رضی الله عنها فرمائی :

﴿ کان حذیفة یستنجی بالماء ﴾ (۳) یعنی سیدنا حذیفه رضی الله عنه به په اوبو سره استنجاء کوله هم دغه شان ابن عمر رضی الله عنهما چه د هغه نه انکار منقول دې. هغه نافع رحمه الله نه فرمائی!

﴿ جربناه، فوجدناه صالحا ﴾ (٤)

---

۱) سنن ابن ماجة، کتاب الطهارة، باب الاستنجاء بالماء رقم ۳۵۵، والمنتقی لابن الجارود ج ۱ ص ٤۷، ٤۸، کتاب الطهارة باب الاستنجاء بالماء رقم ٤۰، والمختارة للضياء المقدسی ج ٦ ص ۲۱۹، مسند أنس بن مالک رقم ۲۲۳۱

۲) د دې ټولو آثار دپاره اوګورئ المصنف لابن ابی شیبة ج ۲ ص ۱٦۵، ۱٦۷، کتاب الطهارة، باب من کان یقول اذا خرج من الغائط فلیستنج بالماء رقم ۱٦۳۱، ۱٦۳٦، ۱٦۳۷، ۱٦۳۸ او ۱٦۳۹.

۳) المصنف لابن ابی شیبة ج ۲ ص ۱٦۵، کتاب الطهارة باب من کان یقول اذا خرج من الغائط فلیستنج بالماء رقم ۱٦۳۱، هم دغه شان اوګورئ، الاوسط لابن المنذر ج ۱ ص ۳٤۹، جماع ابواب الاستنجاء

٤) الاوسط لابن المنذر ج ۱ ص ۳٤۸، کتاب الطهارة، جماع ابواب الاستنجاء

يعنى مونږ د اوبو د استعمالولو تجربه اوكړه نو ډيره فائده منده مو بيا موندله.
هر چه د سعيد بن المسيب رحمه الله د انكار تعلق دې پس په هغې كښې يو احتمال خو دا دې چه هغه په هغه حضراتو باندې نكير كړې دې كوم چه د استنجاء بالاحجار نه انكار كوى، ګويا د غلو نه د منع كولو دپاره ئې دا تعبير اختيار كړې دې.
ابن نافع رحمه الله فرمائى چه د سعيد بن المسيب رحمه الله مقصود دا دې چه صرف د اوبو استعمال د زنانو عمل دې، او سړى اوبه او كاڼړى څنګه چه دواړه جمع كولې شى، هم دغه شان صرف په كاڼړو باندې اكتفاء هم جائز ده.(۱)
قاضى فرمائى چه د هغه په نزد د زنانو په حق كښې د كاڼړو استعمال متعذر دې، په دې وجه به هغوى اوبه استعمالوى، د سړو دپاره چونكه د لوټو استعمال متعذر نه دې، په دې وجه هغوى په دې باندې اكتفاء كولې شى. (۲)
هر چه د امام مالك رحمه الله او د ابن حبيب مالكى رحمه الله د قول تعلق دې، پس د مالكيانو مشهور عالم علامه حطاب رعينى مالكى رحمه الله فرمائى! ﴿ وهذان النقلان غريبان، والمنقول عن ابن حبيب انه منع الاستجمار مع وجود الماء بل لا اعرفهما فى المذهب ﴾(۳)
يعنى دا دواړه خبرې كومې چه حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح البارى كښې نقل كړې دى، دا غريب اقوال دى، بلكه د ابن حبيب رحمه الله نه د دې برعكس منقول دى چه د اوبو په موجودګئ كښې د كاڼړو استعمال ممنوع دې.
خو علامه جزولى غالبا د قاضى عياض په حوالې سره بعض علماء كرامو رحمهم الله طرف ته نسبت كولو سره دا خبره نقل كړې ده چه:
﴿ لايجوز الوضوء، ولا الاستجمار بالماء العذب، لانه طعام، كما لاتزال النجاسة بالطعام ﴾(٤)
يعنى په خوږو اوبو سره اودس او استنجاء جائز نه ده، ځكه چه دا اوبه مطعوم څيز دې، دا بعينه هم داسې ده لكه چه په يو مطعوم څيز سره نجاست لره نه شى زائل كولې
خو علامه حطاب مالكى رحمه الله فرمائى چه دا قول د غريب كيدو سره سره د اجماع هم مخالف دې. (۵) حاصل دا دې چه!
① د كومو صحابه كرامو او تابعينو رضي الله عنهم نه چه انكار ثابت دې، دهغوى تعداد ډير كم او د مجوزينو تعداد ډير زيات دې.
② د كومو حضراتو نه چه انكار منقول دې، هغوى د څه مصلحت په بنياد د دې نه انكار كړې دې، مثلا خلقو لره د غلو نه بچ كول، مطلقا انكار مقصود نه دې.

۱) المنتقى ج ۱ ص ۳۵۰، جامع الوضوء
۲) اوګورئ: عمدة القارى ج ۲ ص ۲۹۰
۳) مواهب الجليل ج ۱ ص ٤۱۱، كتاب الطهارة، فصل فى اداب قضاء الحاجة
٤) پورته حواله
۵) پورته حواله

③ په هغوی کښې د ډيرو حضراتو نه رجوع ثابت ده.

④ په هغوی کښې د بعض طرف نه دا نسبت غلط دې. والله اعلم

د اوبو او کاڼړو جمع کولو حکم: په دې خبره باندې د ائمه اربعه اتفاق دې چه کاڼړی او اوبه جمع کول افضل دی! (۱)

پس په يو روايت کښې راغلې دی چه کله آيت کريمه ﴿ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَنْ يَتَطَهَّرُوا ﴾ (۲) نازل شو نو رسول الله ﷺ د هغوی نه د دې تعريف د سبب په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی جواب ورکړو: ﴿ انا نتبع الحجارة بالماء ﴾ (۳) يعنی مونږ د کاڼړو نه پس اوبه استعمالوو. والله اعلم

۱۴۹: ﴿ حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ هِشَامُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي مُعَاذٍ وَاسْمُهُ عَطَاءُ بْنُ أَبِي مَيْمُونَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ (۴) يَقُولُ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ لِحَاجَتِهِ أَجِيءُ أَنَا وَغُلَامٌ مَعَنَا إِدَاوَةٌ مِنْ مَاءٍ يَعْنِي يَسْتَنْجِي بِهِ ﴾ [۱۵۰، ۱۵۱، ۲۱۴، ۲۷۸]

---

۱) قال ابن عابدين : ثم اعلم أن الجمع بين الماء والحجر أفضل ويليه فى الفضل الاقتصار على الماء ويليه الاقتصار على الحجر وتحصل السنة بالكل وإن تفاوت الفضل. رد المحتار ج ۱ ص ۲٤۸، كتاب الطهارة، مطلب : اذا دخل المستنجي فى ماء قليل.

وقال الحطاب الرعينى المالكي: ومعنى الكلام المصنف (وندب جمع ماء وحجر، ثم ماء) أن الجمع بين الماء والحجر مستحب فإن لم يجمع ولا بد فالاقتصار على الماء أفضل من الاقتصار على الأحجار... مواهب الجليل ج ۱ ص ٤۱۱، كتاب الطهارة، فصل فى اداب قضاء الحاجة.

وقال النووى : أما حكم المسألة فقال أصحابنا يجوز الاقتصار فى الاستنجاء على الماء ويجوز الاقتصار على الاحجار والافضل أن يجمع بينهما. المجموع ج ۲ ص ۱۰۰، كتاب الطهارة قال المرداوى : الصحيح من المذهب: أن جمعهما مطلقا أفضل وعليه الأصحاب. (الانصاف ج ۱ ص ۱۰٤، باب الاستنجاء.

۲) التوبة : ۱۰۸

۳) رواه البزار فى مسنده، انظر مجمع الزوائد ج ۱ ص ۲۱۲، كتاب الطهارة، باب الجمع بين الماء والحجر، رقم ۱۰۵۳. ونصب الرايه ج ۱ ص ۲۱۸، كتاب الطهارة، فصل فى الاستنجاء، رقم ۹۱۵، والتلخيص الحبير ج ۱ ص ۳۲۳، كتاب الطهارة، باب الاستنجاء رقم ۱۵۱.

امام نووی رحمه الله وغيره د دې حديث نه انکار کړې دې او وئيلې ئې دی چه د جمع بين الماء والحجارة په باره کښې هيڅ حديث نه دې موجود. اوګورئ: المجموع ج ۲ ص ۱۰۰، خو علامه زيلعی او حافظ ابن حجر رحمهما الله فرمائی چه يا خو دا د امام نووی رحمه الله خطائی ده يا هغه په دې وجه انکار کړې دې چه دا حديث ضعيف دې. اوګورئ: نصب الراية ج ۱ ص ۲۱۸، والتلخيص الحبير ج ۱ ص ۲۱۲

٤) قوله انس بن مالک رضی الله عنه : الحديث اخرجه البخارى ايضا فى صحيحه ج ۱ ص ۲۷، كتاب الوضوء، باب من حمل معه الماء لطهوره، رقم ۱۵۱، وباب حمل العنزة مع الماء فى الاستنجاء، رقم ۱۵۲، و ج ۱ ص ۳۵، كتاب الوضوء باب ما جاء فى غسل البول، رقم ۲۱۷، و ج ۱ ص ۷۱، كتاب الصلاة، باب الصلاة الى العنزة، رقم ۵۰۰، و مسلم فى صحيحه فى كتاب الطهارة، باب الاستنجاء بالماء من التبرز، رقم ٦۲۰، ٦۲۱، والنسائى فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب الاستنجاء بالماء رقم ٤۵و وابوداؤد فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب فى الاستنجاء بالماء رقم ٤۳.

رجال الحديث

① **ابو الوليد هشام بن عبد الملک** : دا ابو الوليد هشام بن عبد الملك طيالسى باهلى بصرى رحمه الله دي. د هغه حالات مختصر په كتاب الايمان باب علامة الايمان حب الانصار د لاندې او تفصيلا كتاب العلم باب اثم من كذب على النبى ﷺ د لاندې تير شوي دي. (١)

② **شعبة** : دا امام شعبه بن الحجاج عتكى بصرى رحمه الله دي. د هغه حالات په كتاب الايمان باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده د لاندې تير شوي دى. (٢)

③ **ابو معاذ عطاء بن ابى ميمونه** : دا ابو معاذ عطاء بن ابى ميمونه بصرى رحمه الله دي، د ابو ميمونه نوم منيع دي، دا ابو معاذ د سيدنا انس يا سيدنا عمران بن حصين رضي الله عنهما مولى وو.(٣) دې د سيدنا انس، سيدنا جابر بن سمره او سيدنا عمران بن حصين رضي الله عنهم نه روايت كوى، حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى چه د هغه حديثونه كوم چه د عمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت شوې دى، غالبا هغه مرسل دى، د دوى نه علاوه د حسن بصرى، وهب بن عمير، ابو برده بن ابى موسى اشعرى، ابورافع الصائغ او ابو سلمه بن عبد الرحمن بن عوف رحمهم الله نه هم روايت كوى.
د هغه نه په روايت كونكو كښې خالد الحذاء، روح بن القاسم، شعبه، حماد بن سلمه، عبد الله بن بكر مزنى او د هغه خپل ځوئې ابراهيم بن عطاء بن ابى ميمونه او روح بن عطاء بن ابى ميمونه رحمهم الله دى. (٤)

امام يحيى بن معين، امام ابو زرعه او امام نسائى رحمهم الله فرمائى : ﴿ثقة﴾(٥)

امام عجلى رحمه الله فرمائى : ﴿ثقة﴾(٦)

ابن حبان رحمه الله هغه په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې. (٧)

يعقوب بن سفيان رحمه الله هم د هغه توثيق كړې دې. (٨)

خو امام ابو حاتم رحمه الله فرمائى : ﴿صالح، لايحتج بحديثه﴾(٩)

امام ابو حاتم رحمه الله غالبا د هغه د قدرى كيدو د وجې نه ﴿لايحتج بحديثه﴾ فرمائيلې دى.

---

١) اوګورئ : كشف البارى ج ٢ ص ٣٨، و ج ٤ ص ١٥٩
٢) كشف البارى ج ١ ص ٦٧٨
٣) تهذيب الكمال ج ٢٠ ص ١١٧، ١١٨
٤) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ : تهذيب الكمال ج ٢٠ ص ١١٨، وسير اعلام النبلاء ج ٦ ص ٤٧
٥) تهذيب الكمال ج ٢٠ ص ١١٨، والجرح والتعديل لابن ابى حاتم ج ٦ ص ٣٣٧، رقم ١٨٦٢
٦) معرفة الثقات للعجلى ج ٢ ص ١٣٧، رقم ١٢٤٢
٧) الثقات لابن حبان ج ٥ ص ٢٠٣
٨) تهذيب التهذيب ج ٧ ص ٢١٦
٩) الجرح والتعديل ج ٦ ص ٣٣٧، رقم ١٨٦٢

د هغه د قدری کیدو تصریح ډیرو خلقو کړې ده، پس حماد بن زید، امام بخاری، ابن سعد او جوزجانی رحمهم الله وغیره تصریح کړې ده ﴿کان یری القدر﴾(۱) یعنی هغه به د قدریه رائې لرله، بلکه جوزجانی رحمه الله خو تردې فرمائیلې دی چه ﴿کان راساً فی القدر﴾(۲) یعنی دا د قدریه د مشرانو نه وو، خو حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی: ﴿بل قدری صغیر﴾(۳)
دا فی نفسه ثقه دې، لکه چه علماء کرامو د دې تصریح کړې دې، خو په هغوی کښې د قدری کیدو عیب وو، پس په دې وجه مضر نه دې چه نه دا داعیه وه او نه د هغه د مشرانو نه.
بیا په صحیح بخاری کښې خو صرف د هغه هم دا یو حدیث د استنجاء راغلې دې، بل حدیث نشته. (٤) لهذا دا د هغه د مذهب د تائید والا حدیث هم نه دې، هم دا وجه ده چه اصحاب سته کښې د امام ترمذی نه علاوه ټولو د هغه احادیث اخستلې دی. (۵) والله اعلم، رحمه الله تعالی رحمة واسعة

④ **سیدنا انس** رضی الله عنه: د سیدنا انس رضی الله عنه حالات په کتاب الإیمان، **باب من الایمان ان یحب لاخیه مایحب لنفسه**....د لاندې تیر شوې دی. (۶)

قوله: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ لِحَاجَتِهِ أَجِيءُ أَنَا وَغُلَامٌ مَعَنَا إِدَاوَةٌ مِنْ مَاءٍ: رسول الله صلی الله علیه وسلم چه به کله د حاجت دپاره وتلو نو زه او یو هلك به راغلو او مونږ سره به د اوبو یو لوښې وو.

﴿اداوة﴾: د څرمنې وړوکی لوښی ته وئیلې شی، چه په هغې کښې اوبه اخستلې شی. (۷)

﴿اجیء انا وغلام﴾: دلته د غلام نه څوك مراد دې؟
د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کونکو کښې سیدنا عبدالله بن مسعود، ابوهریره او جابر رضی الله عنهم مخکښې مخکښې وو، لهذا په دې کښې د هر یو احتمال دې.

خو په عبدالله بن مسعود رضی الله عنه مراد کولو کښې خو دا استبعاد دې چه دلته د ﴿غلام﴾ لفظ وئیلې شوې دې کوم چه د کم عمره هلك دپاره استعمالیږی، او ابن مسعود رضی الله عنه خو مشرانو صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې دې.

---

۱) اوګورئ: تهذیب التهذیب ج ۷ ص ۲۱۶
۲) میزان الاعتدال ج ۳ ص ۷۶، رقم ۵۶۵۰
۳) پورته حواله
٤) هدی الساری ص ٤۲٤
۵) پورته حواله
۶) کشف الباری ج ۲ ص ٤
۷) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۱

او؛ که په هغه باندې مجازا د غلام اطلاق کړې شوې وی نو دا ممکنه ده چه غلام د خادم په معنی کښې واخستلې شی. (۱) خو په دې کښې اشکال دا دې چه د دې روایت په دویم طریق کښې ﴿وغلام منا﴾(۲) الفاظ راغلې دی، د دې نه معلومیږی چه هغه انصاری وو، او سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه مهاجر وو، مګر دا چه دلته هم دا تاویل اوکړې شی چه د ﴿منا﴾نه مراد د ﴿من الانصار﴾په ځائې ﴿من المسلمين﴾واخستلې شی.

خو ﴿منا﴾لره د ﴿من الانصار﴾په ځائې د ﴿من المسلمين﴾په معنی باندې محمول کولو کښې دا خرابی ده چه د اسماعیلی په روایت کښې د ﴿منا﴾په ځائې کښې د ﴿من الانصار﴾تصریح راغلې ده. (۳) که د اسماعیلی دا روایت په تصرف باندې محمول نه کړې شی (چه راوی ﴿منا﴾اوریدلې وو هغه د دې معنی ﴿انصار﴾اوګڼړله، په دې وجه د ﴿منا﴾په ځائې ﴿من الانصار﴾روایت کړې دې نو د ﴿من المسلمين﴾تاویل نه چلیږی.

بهر حال د سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه باوجود د دې چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خادم او صاحب الوساده والمطهرة والنعلین کیدو، د سیدنا انس رضی الله عنه په دې روایت کښې د هغه مراد کیدل بعید دی.

د امام ابوداؤد رحمه الله په یو روایت کښې د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې؛

﴿كان النبي صلى الله عليه وسلم اذا اتى الخلاء اتيته بماء في تور او ركوة، فاستنجى﴾(٤)

یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه به کله بیت الخلاء ته تشریف یوړلو نو ما به هغه ته په لوښی کښې اوبه یوړلې، رسول الله صلی الله علیه وسلم به پرې استنجاء کوله.

د دې حدیث په بناء باندې د سیدنا انس رضی الله عنه په روایت کښې د سیدنا ابوهریره رضی الله عنه هم مراد کیدې شی، په داسې صورت کښې د ﴿منا﴾نه مراد ﴿من خدم النبي صلى الله عليه وسلم﴾مراد اخلی.

سیدنا ابوهریره رضی الله عنه لره د مراد کیدو تائید د بخاری شریف د هغه حدیث نه کیږی چه په هغې کښې سیدنا ابوهریره رضی الله عنه فرمائی : ﴿انه كان يحمل مع النبي صلى الله عليه وسلم اداوة لوضوئه وحاجته﴾(۵)

یعنی هغه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د اودس اوبه او د استنجاء اوبه اوړلې. او د غلام اطلاق به په معنی د خادم وی.

هم دغه شان په مسلم شریف کښې د سیدنا جابر رضی الله عنه اوږد حدیث ذکر شوې دې، په هغې کښې دی؛ ﴿سرنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم حتى نزلنا واديا افيح، فذهب رسول الله صلى الله عليه وسلم يقضي حاجته، فاتبعته باداوة

---

۱) فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۱
۲) صحیح البخاری ج ۱ ص ۲۷، کتاب الوضوء، باب من حمل معه الماء لطهوره، رقم ۱۵۱
۳) فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۱
٤) سنن ابی داؤد، کتاب الطهارة، باب الرجل یدلک یده بالارض اذا استنجی، رقم ٤۵
۵) صحیح البخاری ج ۱ ص ۵٤٤، کتاب مناقب الانصار، باب ذکر الجن، رقم ۳۸٦۰

من ماء﴾(۱)

یعنی مونږ د رسول الله ﷺ سره روان شو، تردې چه یو فراخه میدان ته تلو سره مونږ پراؤ اوکړو، رسول الله ﷺ د قضاء حاجت دپاره تشریف یوړلو، زه د اوبو یو لوښي اخستلو سره په هغه پسې روان شوم.

د دې روایت په بنیاد وئیلې کیدې شي چه د سیدنا انس رضی الله عنه په روایت کښې د غلام نه مراد سیدنا جابر رضی الله عنه وی، خصوصا د دې وجې نه چه سیدنا جابر رضی الله عنه انصاری دې. والله اعلم

قوله: یعنی یستنجی به: یعنی رسول الله ﷺ به په هغه اوبو سره استنجاء کوله. د ترجمة الباب صراحة اثبات هم د دې جملې نه دې.

مهلب رحمه الله د ابو محمد اصیلی رحمه الله نه نقل کړی دی چه د دې حدیث نه په استنجاء بالماء باندې استدلال کول واضح نه دی، ځکه چه ﴿یعنی یستنجی به﴾ د سیدنا انس رضی الله عنه قول نه دې، بلکه دا د ابو الولید طیالسی قول دې، د دې قرینه دا ده چه په راروان باب کښې د ﴿سلیمان بن حرب عن شعبة﴾ په طریق سره هم دا روایت راروان دې، په هغې کښې د ﴿یستنجی به﴾ الفاظ نشته، لهذا په دې حدیث کښې چه کوم د اوبو اوړلو ذکر دې، ممکنه ده چه هغه د اودس دپاره وی. (۲)

هم دغه شان عبد الملک البونی رحمه الله دا وئیلې دی چه ﴿یستنجی به﴾ د عطاء بن ابی میمونه ادراج دې، د سیدنا انس رضی الله عنه قول نه دې، لهذا دا مرسل دې، چه حجت نه دې. (۳)

خو حقیقت دا دې چه د استنجاء دا قول د سیدنا انس رضی الله عنه دې او د هغې فاعل رسول الله ﷺ دې، گویا انس رضی الله عنه دا تصریح فرمائی چه رسول الله ﷺ د استنجاء دپاره اوبه اخستلې وې.

د دې خبرې صراحت په ډیرو روایتونو کښې شته!

پس په صحیح بخاری کښې د ﴿محمد بن جعفر عن شعبة﴾ په طریق کښې د ﴿یستنجی بالماء﴾ تصریح موجود ده. (٤)

هم دغه شان د ﴿روح بن القاسم، عن عطاء بن ابی میمونة عن انس﴾ په طریق کښې د ﴿کان النبی ﷺ اذا تبرز لحاجته اتیته بماء فیغسل به﴾(۵) یعنی رسول الله ﷺ به چه کله د قضاء حاجت دپاره

---

۱) صحیح مسلم، کتاب الزهد والرقائق، باب حدیث جابر الطویل، وقصة ابی الیسر، رقم ۷۵۱۸

۲) شرح صحیح البخاری لابن بطال ج ۱ ص ۲٤۰، ۲٤۱، کتاب الوضوء، باب الاستنجاء بالماء

۳) اوگورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۱، وعمدة القاری ج ۲ ص ۲۸۷

٤) اوگورئ: صحیح البخاری ج ۱ ص ۲۷، کتاب الوضوء، باب حمل العنزة مع الماء فی الاستنجاء رقم ۱۵۲، هم دغه شان اوگورئ: صحیح مسلم، کتاب الطهارة، باب الاستنجاء بالماء من التبرز، ٦۲۰

۵) صحیح بخاری ج ۱ ص ۳۵، کتاب الوضوء، باب ما جاء فی غسل البول، رقم ۲۱۷، هم دغه شان اوگورئ صحیح مسلم، کتاب الطهارة، باب الاستنجاء بالماء من التبرز، رقم ٦۲۱

تشریف اوړلو نوما به هغه ته اوبه راوړلې، رسول اللهﷺ به هغه استعمالولې، الفاظ راغلې دي.

اسماعیلی د ﴿ابن مرزوق عن شعبة﴾ په طریق سره ﴿فانطلق انا وغلام من الانصار، معنا اداوة فیها ماء، یستنجی به منها النبیﷺ﴾(۱) (یعنی زه او د انصارو یو هلك روان شو، مونږ سره به لوښی وو، چه په هغې کښې به اوبه وې، رسول اللهﷺ به په هغې سره استنجاء کوله) الفاظ نقل کړې دی.

په مسلم شریف کښې د ﴿خالد الحذاء، عن عطاء، عن انس﴾ په طریق سره د ﴿فخرج علینا، وقد استنجی بالماء﴾ الفاظ راغلې دی. (۲)

د دې روایاتو د صراحت نه د اصیلی او د ابو عبدالملك البونی د خبرو مکمل تردید کیږی او ثابتیږی چه استنجاء بالماء د رسول اللهﷺ نه ثابته ده او دا چه دا د انسؓ قول دې، کوم چه هغه د رسول اللهﷺ عمل ته کتلو سره نقل فرمائیلې دې. والله اعلم

حاصل دا چه دلته صرف د لفظ ﴿یعنی﴾ اضافه خو د ابو الولید هشام ده، باقی د استنجاء حکایت د سیدنا انسؓ دې چه هغه د رسول اللهﷺ د استنجاء کولو عمل نقل فرمائیلې دې. والله اعلم

⑯ بَاب مَنْ حُمِلَ مَعَهُ الْمَاءُ لِطُهُورِهِ

د مخکښې باب سره مناسبت : د دې باب د مخکښې باب سره مناسبت بالکل واضح دې، په اول باب کښې د استنجاء بالماء ذکر دې، په دې باب کښې د حمل الماء للاستنجاء والطهور تذکره ده

د ترجمة الباب مقصد د امام بخاریؒ د ترجمة الباب نه غرض دا دې چه که د چا د طهارت اوبه یو سړې د ځان سره یوسی نو په دې کښې هیڅ باك نشته، دغه شان اعانت او استعانت دواړه جائز دی.

کیدې شی چه امام بخاریؒ دا وئیل غواړی چه که یو سړې د استنجاء دپاره لاړ شی نو ځان سره دې لږې اوبه یوسی، چه د استنجاء نه پس لاس وغیره وینځی.

حضرت شیخ الحدیثؒ فرمائی چه امام بخاریؒ دلته دا بیان کړی دی چه انسان دې د ځان سره اوبه یوسی چه زر طهارت حاصل کړی.

خو په دې باندې اشکال دا دې چه امام بخاریؒ خو دا خبره په ﴿باب وضع الماء عند الخلاء﴾ کښې بیان کړې ده چه انسان دې په اوبو سره استنجاء اوکړی، دغه شان به ترجمه مکرر شی؟
حضرت شیخ الحدیثؒ فرمائی چه دا ترقی ده د ادنی نه اعلی ته، ځکه چه امام بخاریؒ خو اول دا بیان کړې وو چه که یو سړې د قضاء حاجت دپاره لاړشی نو د بیت

---

۱) فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۱
۲) صحیح مسلم، کتاب الطهارة، باب الاستنجاء بالماء من التبرز، رقم ۶۱۹

الخلاء نه بهر دي اوبه كيږدى، چه زر تر زره فراغت حاصل كړى، د دې نه روستو ترقى كوى او وائى چه غوره دا ده چه انسان د خپل ځان سره اوبه يوسى، چه هم هلته طهارت حاصل كړى. (١) والله اعلم

قوله: وَقَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ: سيدنا ابو الدرداء رضي الله عنه فرمائى!

سيدنا ابو الدرداء رضي الله عنه : د هغه نوم عويمر يا عامر دې، د پلار په نوم كښې ئې اختلاف دې، مالك، عامر، ثعلبه، عبدالله، زيد، دا مختلف اقوال دى. (٢)

امام اصمعى رحمه الله فرمائى چه د سيدنا ابو الدرداء رضي الله عنه نوم عامر بن مالك دې، خلقو به هغه ته عويمر وئيلو. (٣)

عمرو بن على رحمه الله فرمائى چه ما د سيدنا ابو الدرداء رضي الله عنه په اولاد كښې د چا نه تپوس اوكړو نو هغوى اووې چه د هغه نوم عامر بن مالك دې، عويمر ئې لقب دې. (٤)

هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه علاوه د سيدنا زيد بن ثابت او ام المومنين سيده عائشه صديقه رضي الله عنها نه روايت كوى.

د هغه نه په روايت كونكو كښې سيدنا انس، سيدنا فضاله بن عبيد، سيدنا ابن عباس، سيدنا ابو امامه، سيدنا عبدالله بن عمرو رضي الله عنهم وغيره لوئې لوئې صحابه كرام دى. د هغوى نه علامه ترې په تابعينو كښې جبير بن نفير، زيد بن وهب، ابو ادريس خولانى، علقمه بن قيس، قبيصه بن ذؤيب، سعيد بن المسيب، عطاء بن يسار، معدان بن ابى طلحه د ابو الدرداء رضي الله عنه بيبى ام الدرداء او ځوئې بلال بن ابى الدرداء رحمه الله دى. (٥)

د سيدنا عثمان رضي الله عنه په دور كښې د دمشق قاضى وو. (٦)

سيدنا ابو الدرداء رضي الله عنه د بدر په موقع باندې اسلام قبول كړو، د احد په موقع باندې جهاد كښې شريك وو، د احد په موقع ئې په ځانله ډير زبردست كردار ادا كړو، رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې موقع اوفرمائيل : ﴿نعم الفارس عويمر﴾ (٧)

د رسول الله صلى الله عليه وسلم په دور كښې د قران كريم په جمع كونكو كښې سيدنا ابو الدرداء رضي الله عنه هم وو (٨)

---

١) اوګورئ : الكنز المتوارى فى معادن لامع الدرارى ج ٣ ص ٣٥
٢) اوګورئ : تهذيب الكمال ج ٢٢ ص ٤٦٩، ٤٧٠، وسير اعلام النبلاء ج ٢ ص ٣٣٥
٣) تهذيب الكمال ج ٢٢ ص ٤٧٠،
٤) پورته حواله
٥) د شيوخ او تلامذه دپاره اوګورئ : تهذيب الكمال ج ٢٢ ص ٤٧٠ تا ٤٧٢، وسير اعلام النبلاء ج ٢ ص ٣٣٦
٦) سير اعلام النبلاء ج ٢ ص ٣٣٦
٧) تهذيب الكمال ج ٢٢ ص ٤٧٢، ٤٧٣، وسير اعلام النبلاء ج ٢ ص ٢٣٨، ٢٣٩
٨) سير اعلام النبلاء ج ٢ ص ٢٣٩

د هغه د اسلام قبلولو واقعه اصحاب سير ليكلې ده چه هغه به په خپل كور كښې د يو بت عبادت كولو، سيدنا عبد الله بن رواحه او سيدنا محمد بن مسلمه رضي الله عنهما د هغه كور ته لاړل او هغه بت ئې مات كړو.

چه كله ابوالدرداء رضي الله عنه كور ته راغلو نو د بت ټكړې به ئې راجمع كولې او وئيل به ئې اې بته! تا خپله دفاع ولې اونكړه؟ ام الدرداء رضي الله عنها اوئيل كه دې بت چاته ضرر يا فائده رسولې شوې يا ئې د بل چا دفاع كولې شوې نو د ځان دفاع به ئې هم كړې وې.

ابوالدرداء رضي الله عنه خپلې بيبى ته د غسل د اوبو تيارولو حكم اوكړو، غسل كولو نه پس ئې جامې واغوستلې او رسول الله ﷺ ته راغلو، سيدنا عبدالله بن رواحه رضي الله عنه د هغه په ليدو باندې رسول الله ﷺ ته عرض اوكړو چه يا رسول الله! دې زمونږ په تلاش كښې راروان دې.

رسول الله ﷺ اوفرمائيل: نه! دې د مسلمانيدو دپاره راغلې دې، زما رب ماسره د هغه د مسلمانيدو وعده كړې ده، پس هغه مسلمان شو. (١)

ابن اسحاق رحمه الله فرمائى چه صحابه كرام رضي الله عنهم به فرمائيل: ﴿ اتبعنا للعلم والعمل ابو الدرداء ﴾ يعنى په مونږ كښې د علم او عمل زياته تابعدارى كونكې سيدنا ابوالدرداء رضي الله عنه دې. (٢)

سيدنا معاذ بن جبل رضي الله عنه فرمائى چه علم د څلور كسانو نه حاصل كړئ، يو د عويمر ابوالدرداء، دويم د سلمان نه، دريم د عبدالله بن مسعود نه او څلورم د عبدالله بن سلام رضي الله عنهم نه. (٣)

سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائى چه په خلقو كښې درې كسان علماء دى، يو په عراق كښې دې او يو په شام كښې دې او يو په مدينه كښې؛ د عراق والا عالم نه مراد خپله عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دې او د شام د عالم نه مراد سيدنا ابو الدرداء رضي الله عنه دې، فرمائى چه د شام والا عالم د عراق والا عالم محتاج دى او بيا دا دواړه علماء د مدينې د عالم سيدنا على رضي الله عنه د علم محتاج دى. (٤)

سيدنا ابو ذر رضي الله عنه به سيدنا ابو الدرداء رضي الله عنه ته فرمائيل: ﴿ ماحملت ورقاء ولا اظلت خضراء اعلم منك يا ابا الدرداء ﴾ يعنى اې ابو الدرداء! ستا نه لوئې عالم نه زمكې اوچت كړې دې او نه پرې اسمان سورې كړې دې. (٥)

مسروق رحمه الله فرمائى چه ما د صحابه كرامو رضي الله عنهم علمونه په شپږو كسانو كښې منحصر بيا موندل؛ سيدنا عمر، سيدنا على، سيدنا ابى، سيدنا زيد، سيدنا ابو الدرداء او سيدنا ابن مسعود رضي الله عنهم، بيا د دې شپږو واړو علمونه په دوه كسانو يعنى سيدنا على او سيدنا ابن

---

١) سير اعلام النبلاء ج ٢ ص ٢٤٠، ٢٤١
٢) پورته حواله
٣) سير اعلام النبلاء ج ٢ ص ٣٤٢، ٣٤٣
٤) سير اعلام النبلاء ج ٢ ص ٣٤٣
٥) پورته حواله

مسعود رضي الله عنهما كښې راجمع شوې دی. (۱)
سیدنا عبدالله بن عمر رضي الله عنه به فرمائیل : ﴿ حدثونا من العاقلين ﴾ یعنی د دوه عقل مندو نه روایت بیانوئ! تپوس اوشو چه د دوه عقل مندو نه څوك مراد دی؟ وې فرمائیل : سیدنا معاذ او سیدنا ابو الدرداء رضي الله عنهما. (۲) رسول الله ﷺ د هغه په باره کښې فرمائی : ﴿حکیم امتی عویمر﴾(۳) یعنی زما د امت حکیم عویمر دې.
د سیدنا ابو الدرداء رضي الله عنه نه د حکمت او نصیحت ډیر اقوال منقول دی، د هغې د تفصیلاتو دپاره دې تاریخ د ابن عساکر او سیر اعلام النبلاء طرف ته رجوع اوکړې شی. (٤)
د سیدنا ابو الدرداء رضي الله عنه نه یو سل یو کم اتیا (۱۷۹) احادیث روایت شوې دی، چه په هغې کښې دوه احادیث متفق علیه دی، په درې احادیثو کښې امام بخاری او په اته احادیثو کښې امام مسلم متفرد دی. (۵)
سیدنا ابو الدرداء رضي الله عنه په ۳۲ هجری کښې وفات شوې دې. (۶) رضی الله عنه وارضاه
قوله: أَلَيْسَ فِيكُمْ صَاحِبُ النَّعْلَيْنِ وَالطَّهُورِ وَالْوِسَادِ؟: آیا په تاسو کښې د نعلین، اوبو او تکیه والا نشته؟
دا جمله سیدنا ابو الدرداء رضي الله عنه علقمه بن قیس رحمه الله ته فرمائیلې وه، علقمه د کوفې نه شام ته لاړو، هلته ئې د سیدنا ابو الدرداء رضي الله عنه سره ملاقات اوشو، هغه ترې تپوس اوکړو چرته نه راغلې ئې؟ عرض ئې اوکړو زه د کوفې یم، په دې موقع باندې هغوی دا ارشاد اوفرمائیلو! (۷) د دې نه مراد سیدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دې.
ابن مسعود رضي الله عنه ته صاحب النعلین په دې وجه وئیلې شی چه هغه به د رسول الله ﷺ سره وو، چه کله به ئې نعلین شریفین ویستلې، هغه به ئې اوچتولو نه پس کیخودلې او چه کله به روان شو نو ورته به ئې واچولې، هم دغه شان به ئې د رسول الله ﷺ د اودس اوبه راوړلې او اودس به ئې ورته کولو او د رسول الله ﷺ تکیه به ئې ځان سره ساتله، هم په دې وجه ورته صاحب الطهور والوساد هم وئیلې شی. (۸)

---

۱) پورته حواله
۲) پورته حواله
۳) رواه الطبرانی فی المعجم الاوسط، کذا فی جامع الاحادیث للسیوطی ج ٤ ص ۲۳٤، رقم ۱۱۳۰۲، ورواه الطبرانی فی مسند الشامیین ج ۲ ص ۸۸، رقم ۹۶۷
٤) اوګورئ: تاریخ دمشق لابن عساکر، ۴۷/ ۹۳ تا ۲۰۱، رقم ۵٤۶٤، وسیر اعلام النبلاء ج ۲ ص ۳۳۵، ۳۵۳
۵) سیر اعلام النبلاء ج ۲ ص ۳۳۷، وخلاصة الخزرجی ص ۲۹۹، وتهذیب الاسماء واللغات ج ۲ ص ۲۲۸
۶) الکاشف ج ۲ ص ۱۰۳، رقم ٤۳۲۲
۷) اوګورئ : صحیح البخاری ج ۱ ص ۵۲۹ و ۵۳۱، کتاب فضائل اصحاب النبی ﷺ (المناقب) باب مناقب عمار وحذیفه رضي الله عنهما، رقم ۳۷٤۲، ۳۷٤۳، وباب مناقب عبدالله بن مسعود رضي الله عنه رقم ۳۷۶۱
۸) اوګورئ : فتح الباری ج ۷ ص ۹۱، کتاب المناقب، باب مناقب عمار وحذیفه رضي الله عنهما.

په بعض نسخو کښې د ﴿ الوساد ﴾ په ځائې ﴿ السواد ﴾ په تقدیم د سین سره راغلې دې. (۱) د دې معنی د راز ده، هغه ته صاحب السواد په دې وجه وئیلې شی چه هغه د رسول الله ﷺ یو قسم راز دار وو، رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلې وو! ﴿ اذنك علی ان یرفع الحجاب، وان تسمع سوادی، حتی انهاك ﴾ (۲)
یعنی ماته ستا د راتلو د اجازت علامت دا دې چه پرده اوچته وی او ته زما د راز خبرې واورې، تردې چه زه تا منع کړم.
امام بخاری رحمه الله د لفظ ﴿ الطهور ﴾ نه خپله مدعا اخذ کړې ده او دې خبرې طرف ته ئې اشاره کړې ده چه رسول الله ﷺ به د استنجاء دپاره د خپل ځان سره اوبه اوړلې. والله اعلم

۱۵۰: ﴿حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي مُعَاذٍ هُوَ عَطَاءُ بْنُ أَبِي مَيْمُونَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا (۳) يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ لِحَاجَتِهِ تَبِعْتُهُ أَنَا وَغُلَامٌ مِنَّا مَعَنَا إِدَاوَةٌ مِنْ مَاءٍ﴾ [ر: ۱۴۹]

رجال الحدیث

① **سلیمان بن حرب**: دا ابو ایوب سلیمان بن حرب بن بجیل ازدی بصری رحمه الله دې، د هغه حالات په کتاب الایمان کښې د باب من کره ان یعود فی الکفر کما یکره ان یلقی فی النار من الایمان ... د لاندې تیر شوې دی. (٤)

② **شعبه**: دا امام شعبه بن الحجاج عتکی بصری رحمه الله دې. د هغه حالات په کتاب الایمان کښې د باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده د لاندې تیر شوې دی. (٥)

③ **سیدنا ابو معاذ عطاء بن ابی میمونه**: د هغه حالات هم په مخکښې باب باب الاستنجاء بالماء کښې تیر شوې دی.

④ **سیدنا انس رضی الله عنه**: د سیدنا انس رضی الله عنه حالات هم په کتاب الایمان باب من الایمان ان یحب لاخیه مایحب لنفسه د لاندې تیر شوې دی. (٦)

قوله: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ لِحَاجَتِهِ تَبِعْتُهُ أَنَا وَغُلَامٌ مِنَّا

۱) پورته حواله
۲) صحیح مسلم، کتاب السلام، باب جواز جعل الاذن رفع الحجاب، او غیره من العلامات، رقم ۵۶۶۶
۳) قد مر تخریجه هذا الحدیث فی الباب السابق
٤) کشف الباری ج ۲ ص ۱۰۵
٥) کشف الباری ج ۱ ص ۶۷۸
٦) کشف الباری ج ۲ ص ٤

مَعَنَا إِدَاوَةٌ مِنْ مَاءٍ: رسول اللهﷺ چه به كله د خپل قضاء حاجت دپاره تشريف اوړلو نو ږه او زمونږ په انصار كښې يو هلك به هغه پسې شو. مونږ سره به د اوبو لوښې وو. مقصود د استنجاء او طهارت اوبه دى. چه مونږ به هغه اوړلې او رسول اللهﷺ به هغه استعمالولې، چه د هغې تصريح په وړاندې روايت كښې موجود ده، په شاته روايت كښې هم تفصيل تير شوې دې.

دلته دا خبره هم ياد ساتئ چه د اسماعيلى په يو طريق كښې د ﴿تبعته وانا غلام﴾ الفاظ راغلې دى، خو خپله اسماعيلى دې ته غلط وئيلې دى او فرمائى چه صحيح ﴿ تبعته انا وغلام ﴾ الفاظ دى. (۱)

⑰ بَاب حَمْلِ الْعَنَزَةِ مَعَ الْمَاءِ فِي الِاسْتِنْجَاءِ

د مخكښې باب سره مناسبت : د دې باب د مخكښې باب سره مناسبت بالكل واضح دې. په دواړو بابونو كښې د استنجاء بالماء ذكر دې.

مقصد د ترجمة الباب : امام بخارىؒ دا بيانول غواړى چه څوك د استنجاء دپاره ځى او د اوبو سره سره همسا يا نيزه ځان سره يوسى نو دا د سنت نه ثابت دى، ځكه چه رسول اللهﷺ به چه كله د قضاء حاجت دپاره تشريف اوړلو نو سيدنا انسؓ او د هغه سره يو بل هلك به د اوبو لوښې او نيزه د ځان سره اوړله.

د لفظ "عنزة" تحقيق : ﴿عنزة﴾ د عين او نون په فتحې سره دې، وړې نيزې ته وئيلې شى، هم دغه شان هرهغه همسا ته وائى چه په هغې باندې د اوسپنې وغيره سوكه جوړه شوې وى.(۲)

خوارزمىؒ ليكلې دى چه دا نيزه نجاشىؒ رسول اللهﷺ ته د هديه په طور راليږلې وه، رسول اللهﷺ چه به كله بهر مونځ كولو نو دا به ئې مخې ته ښخه كړه، د رسول اللهﷺ نه روستو د خلفاء طرف ته دا منتقل كيده. (۳)

ابن سعدؒ ليكلې دى چه د رسول اللهﷺ په خدمت كښې نجاشىؒ درې نيزې ليږلې وې، يوه رسول اللهﷺ خپل ځان سره اوساتله، يوه ئې سيدنا على او بله ئې سيدنا عمرؓ ته وركړې وه (٤)

---

۱) فتح البارى ج ۱ ص ۲۵۲
۲) فتح البارى ج ۱ ص ۲۵۲، وعمدة القارى ج ۲ ص ۲۹۲
۳) مفاتيح العلوم للخوارزمى ص ۷۲، ۷۳، الفصل السابع فى الفاظ يكثر ذكرها فى الفتوح
٤) الطبقات لابن سعد ج ۳ ص ۲۳۵

١٥١ : ﴿حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي مَيْمُونَةَ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ (١) يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْخَلَاءَ فَأَحْمِلُ أَنَا وَغُلَامٌ إِدَاوَةً مِنْ مَاءٍ وَعَنَزَةً يَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ... تَابَعَهُ النَّضْرُ وَشَاذَانُ عَنْ شُعْبَةَ الْعَنَزَةُ عَصًا عَلَيْهِ زُجٌّ﴾ [ر : ١٤٩]

— رجال الحديث

① **محمد بن بشار** : دا مشهور محدث محمد بن بشار بن عثمان عبدی بصری رحمه الله دي، د هغه لقب بندار دي، د هغه حالات په كتاب العلم كښ د **باب ماكان النبی ﷺ يتخولهم بالموعظة والعلم كيلاينفروا** د لاندې تير شوي دی. (٢)

② **محمد بن جعفر** : دا هم مشهور محدث ابو عبدالله محمد بن جعفر هذلی رحمه الله دي، د غندر په لقب سره معروف دي، د هغه حالات په كتاب الايمان د **باب ظلم دون ظلم** د لاندې تير شوي دی. (٣)

③ **شعبه**: د امام شعبه بن الحجاج رحمه الله حالات په كتاب الايمان **باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده** د لاندې تير شوي دی. (٤)

④ **عطاء بن ابی ميمونه** : د هغه حالات اوس تير باب سره پيوست باب **باب الاستنجاء بالماء** كښ تير شوي دی.

⑤ **سيدنا انس بن مالک** رضي الله عنه : د سيدنا انس رضي الله عنه حالات هم په كتاب الايمان **باب من الايمان ان يحب لاخيه مايحب لنفسه** د لاندې تير شوي دی. (٥)

قوله: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْخَلَاءَ فَأَحْمِلُ أَنَا وَغُلَامٌ إِدَاوَةً مِنْ مَاءٍ وَعَنَزَةً يَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ﴾: رسول الله ﷺ به بيت الخلاء ته تلو، ما او يو هلك به د اوبو لوښي او نيزه واخستله او ورپسې به تلو، په اوبو سره به رسول الله ﷺ استنجاء كوله.

د خلاء يا بيت الخلاء نه مراد دلته فراخه ميدان دي. (٦)

د نيزې اخستلو حكمتونه : د نيزې اخستلو ډير مقاصد كيدې شی!

---

١) د دې حديث تخريج د مخكښ باب سره پيوست د باب الاستنجاء بالماء د لاندې تير شوي دي.
٢) كشف البارى ج ٣ ص ٢٥٨
٣) كشف البارى ج ٢ ص ٢٥٠
٤) كشف البارى ج ١ ص ٦٧٨
٥) كشف البارى ج ٢ ص ٤
٦) فتح البارى ج ١ ص ٢٥٢

① كيدې چه په دې وجه ئې اوړې چه دا ښخه کړې شي او په دې باندې کپړه اچولو سره پرده اوکړې شي.
② کيدې شي چه که د کاڼړې وغيره د ماتولو ضرورت پيښ شي يا زمکه کنستلو سره نرمول وې نو دا عمل اوکړې شي.
③ دا هم ممکنه ده چه مدينه منوره كثير الهوام والحشرات وه، کيدې شي چه د مارږ، لړم وغيره نه د تحفظ په غرض سره ئې ځان سره ساتله.
④ دا هم امکان دې چه د رسول الله ﷺ عادت مبارکه د استنجاء نه پس اودس کولو سره د تحية الوضوء کولو وو، ممکنه ده چه د سترې د جوړولو دپاره ئې اوړله. (۱) والله سبحانه وتعالى اعلم

قوله: تَابَعَهُ النَّضْرُ وَشَاذَانُ عَنْ شُعْبَةَ: نضر بن شميل او شاذان اسود بن عامر د شعبه نه روايت کولو سره د محمد بن جعفر متابعت کړې دې.

د دې دواړو متابعتونو نه په ظاهره کښې تائيد او تقويت مطلوب دې. (۲) په ﴿تابعه﴾ کښې د مفعول ضمير د محمد بن جعفر رحمه الله طرف ته راجع دې. (۳)

د دواړو متابعتونو تخريج : په دې دواړو متابعتونو کښې د اولنې متابعت تخريج امام نسائي رحمه الله کړې دې! ﴿أَخْبَرَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا النَّضْرُ، قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي مَيْمُونَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ أَحْمِلُ أَنَا وَغُلَامٌ مَعِي نَحْوِي إِدَاوَةً مِنْ مَاءٍ فَيَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ﴾ (٤)

يعنى چه کله به رسول الله ﷺ خلا ته داخليدو نو زه او زما په شان يو هلك په د اوبو لوښې ځان سره اوړلو، رسول الله ﷺ به په اوبو سره استنجاء فرمائيله.

د دويم متابعت تخريج خپله امام بخاري رحمه الله په صحيح بخاري کښې کړې دې!

﴿حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمِ بْنِ بَزِيعٍ قَالَ حَدَّثَنَا شَاذَانُ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي مَيْمُونَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ لِحَاجَتِهِ تَبِعْتُهُ أَنَا وَغُلَامٌ وَمَعَنَا عُكَّازَةٌ أَوْ عَصًا أَوْ عَنَزَةٌ وَمَعَنَا إِدَاوَةٌ فَإِذَا فَرَغَ مِنْ حَاجَتِهِ نَاوَلْنَاهُ الْإِدَاوَةَ﴾ (۵)

يعنى رسول الله ﷺ به چه کله د قضاء حاجت دپاره تشريف يوړلو نو زه او يو هلك به په رسول الله ﷺ پسې شاته تلو، مونږ سره به لخته، همسا يا نيزه وه او مونږ سره به د اوبو

---

۱) اوګورئ: فتح البارى ج ۱ ص ۲۵۲، وعمدة القارى ج ۲ ص ۲۹۳
۲) اوګورئ: شرح الكرمانى ج ۲ ص ۱۹۸
۳) اوګورئ: فتح البارى ج ۱ ص ۲۵۲، وعمدة القارى ج ۲ ص ۲۹۳
٤) سنن النسائى، كتاب الطهارة، باب الاستنجاء بالماء، رقم ٤۵
۵) صحيح البخارى ج ۱ ص ۷۱، كتاب الصلاة، باب الصلاة الى العنزة، رقم ۵۰۰

لوښې وو، چه كله به د حاجت نه فارغ شو نو مونږ به رسول الله ﷺ ته لوښې وركړو.

نضر بن شميل : دا مشهور محدث او نحوى نضر بن شميل بصرى رحمه الله دې، ابو الحسن ئې كنيت دې. (١)

هغه د حميد الطويل، عبدالله بن عون، هشام بن عروه، هشام بن يونس، يونس بن ابى اسحاق، ابن جريج، اسرائيل، شعبه، حماد بن سلمه، سعيد بن ابى عروبه رحمهم الله وغيره حضراتو نه روايت كوى

د هغه نه په روايت كونكو كښې يحيى بن يحيى نيشاپورى، اسحاق بن راهويه، يحيى بن معين، على بن المدينى، بيان بن عمرو، عبدالله بن عبدالرحمن الدارمى، محمود بن غيلان رحمهم الله وغيره حضرات دى. (٢)

امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى : ﴿ثقة﴾ (٣)

امام على بن المدينى رحمه الله فرمائى : ﴿من الثقات﴾ (٤)

امام ابو حاتم رحمه الله فرمائى : ﴿ثقة صاحب سنة﴾ (٥)

ابن المبارك رحمه الله فرمائى : ﴿ذاك احد الاحدين، لم يكن احد من اصحاب الخليل يدانيه﴾ (٦)

يعنى هغه په ناياب خلقو كښې دې؛ د خليل بن احمد په شاګردانو كښې څوك د هغه په خوا هم نه دى تير شوى.

عباس بن مصعب رحمه الله فرمائى : ﴿كان النضر بن شميل إماما فى العربية و الحديث و هو أول من أظهر السنة بمرو و جميع خراسان، وكان أروى الناس عن شعبة، و أخرج كتبا كثيرة لم يسبقه إليها أحد، وكان ولى قضاء مرو﴾ (٧)

يعنى نضر بن شميل د عربيت او حديث امام وو، صرف هم هغه د ټولو نه اول د مرو او خراسان په ټولو علاقو كښې د صحيح عقائد اظهار اوكړو، د امام شعبه رحمه الله نه په روايت كونكو كښې د ټولو نه مخكښې وو، هغه ډير داسې كتابونه ليكلې دى كوم چه د هغه نه مخكښې چا هم نه دى ليكلې، هغه د مرو قاضى هم پاتې شوې دې.

ابوبكر بن منجويه رحمه الله فرمائى : ﴿وكان من فصحاء الناس وعلمائهم بالأدب وأيام الناس﴾ (٨)

---

١) اوګورئ : تهذيب الكمال ج ٢٩ ص ٣٧٩، ٣٨٠
٢) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ : تهذيب الكمال ج ٢٩ ص ٣٨٠ تا ٣٨٢
٣) تهذيب الكمال ج ٢٩ ص ٣٨٢
٤) پورته حواله
٥) پورته حواله
٦) تهذيب الكمال ج ٢٩ ص ٣٨٣
٧) پورته حواله
٨) تهذيب الكمال ج ٢٩ ص ٣٨٤

يعنى په خلقو كښې فصيح او د ادب او تاريخ د علماء نه وو.

ابن سعد رحمه الله فرمائى ﴿كان ثقة، ان شاء الله، صاحب حديث﴾(١)

ابن حبان هغه په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې. (٢)

خو امام عقيلى رحمه الله هغه په كتاب الضعفاء كښې ذكر كړې دې. (٣)

خو حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى: ﴿ثقة، حجة، محتج به فى الصحاح، ولولا ان العقيلى ذكره ما ذكرته﴾(٤) يعنى دې ثقه او حجت دې، په صحاح كښې د هغه نه احتجاج كړې شوې دې، كه هغه عقيلى د هغه تذكره په خپل كتاب الضعفاء كښې نه وې كړې نو ما به د هغه ذكر په دې خپل كتاب كښې نه كولو.

د هغه نه اصحاب د اصول سته احاديث اخستلې دى. (٥) د هغه وفات د ذوالحجه په اخرى ورځ په ٢٠٣ هجرى كښې شوې دې او د محرم په اولنى تاريخ باندې دفن كړې شو. (٦) رحمه الله رحمة واسعة

شاذان: دا اسود بن عامر نزيل بغداد دې، ابو عبدالرحمن ئې كنيت دې، شاذان ئې لقب دې.(٧) هغه د شعبه، حماد بن سلمه، حماد بن زيد، سفيان ثورى، حسن بن صالح او جرير بن حازم رحمهم الله وغيره ډيرو حضراتو نه روايت حديث كوى.

د هغه نه په روايت كونكو كښې امام احمد بن حنبل، ابوبكر بن شيبه، عثمان بن ابى شيبه، على بن المدينى، ابوثور، عمرو الناقد، ابو كريب، امام دارمى او حارث بن ابى اسامه رحمهم الله وغيره حضرات دى (٨)

امام ابن معين رحمه الله فرمائى: ﴿لاباس به﴾(٩)

امام ابن المدينى رحمه الله فرمائى: ﴿ثقة﴾(١٠)

امام ابو حاتم رحمه الله فرمائى: ﴿صدوق، صالح﴾(١١)

---

١) الطبقات لابن سعد ج ٧ ص ٣٧٣

٢) كتاب الثقات ج ٩ ص ٢١٢

٣) الضعفاء الكبير للعقيلى ج ٤ ص ٢٩٣، رقم الترجمة ١٨٨٨

٤) ميزان الاعتدال ج ٤ ص ٢٥٨، رقم ٩٠٦٧

٥) تهذيب الكمال ج ٢٩ ص ٣٨٤

٦) پورته حواله

٧) تهذيب الكمال وتعليقاته ج ٣ ص ٢٢٦، رقم ٥٠٣، والجرح والتعديل ج ٢ ص ٢٢٠، رقم ١٠٧٩

٨) د شيوخ او تلامده د تفصيل د پاره اوګورئ: تهذيب الكمال ج ٣ ص ٢٢٦، ٢٢٧

٩) تاريخ الدارمى ص ١٣١، رقم ٤١٥

١٠) الجرح والتعديل ج ٢ ص ت ٢٢١، رقم ١٠٧٩

١١) الجرح والتعديل ج ٢ ص ٢٢٠، رقم ١٠٧٩

ابن سعد رحمه الله فرمائی: ﴿صالح الحديث﴾(۱)
ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې. (۲)
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی: ﴿شامي، ثقة﴾(۳)
د هغه وفات په ۲۰۸ هجری کښې شوې دې (٤) رحمه الله رحمة واسعة

قوله: الْعَنَزَةُ عَصًا عَلَيْهِ زُجٌّ: عنزه هغه همساء ده، چه د هغې په سر باندې د اوسپنې نوکه لګیدلې وی. (۵)
دا عبارت په اکثر نسخو کښې نشته صرف د کریمه په نسخه کښې دې. (۶)

⑱ بَابُ النَّهْيِ عَنِ الِاسْتِنْجَاءِ بِالْيَمِينِ

د مخکښې باب سره مناسبت: د دې باب د مخکښې باب سره مناسبت بالکل واضح دې چه دا ټول ابواب د امور استنجاء سره متعلق دی. (۷)
د ترجمة الباب مقصد: د ترجمة الباب مقصد واضح دې چه په ښی لاس سره د استنجاء ممانعت بیانول مقصود دی.

د امام بخاری رحمه الله تعبیر: امام بخاری رحمه الله ﴿النهي عن الاستنجاء﴾ اوفرمائیل، دا ئې او نه وئیل چه دا استنجاء تحریمی ده یا تنزیهی ده، ځکه چه د امام بخاری رحمه الله مخکښې دا خبره نه ده واضحه شوې. یا ئې په دې وجه نه ده متعین کړې چه د نهی نه مراد خو تحریم دې، پس فرمائی: ﴿باب نهي النبي ﷺ على التحريم، وكذلك امره﴾(۸)
خو د دې نه د نهی تنزیهی مراد کولو دپاره قرینه صارفه ضرورت دې، او هغه نشته، په دې وجه هغوی مطلقا د نهی تعبیر اوفرمائیلو، په تحریم یا تنزیه کښې ئې د څه تعیین نه دې کړې. (۹) والله اعلم
د استنجاء بالیمین په باره کښې د فقهاء کرامو مذاهب: په دې باندې خو د ټولو اتفاق دې چه استنجاء بالیمین مکروه ده!

---

۱) الطبقات لابن سعد ج ۷ ص ۳۳۶
۲) کتاب الثقات ج ۸ ص ۱۳۰، رقم ۱۲۵۷۸
۳) تاریخ الاسلام ج ۵ ص ۳۶۵، رقم ۵۲۵۱، الطبقة الحادية والعشرون
٤) پورته حواله
۵) الزج بالضم الحديدة التی فی اسفل الرمح، مختار الصحاح ص ۱۱۳، مادة: زجج
۶) فتح الباری ج ۲ ص ۲۵۲
۷ ، عمدة القاری: ۲/۱ ۲۹٤.
۸) قاله البخاری فی صحيحه ج ۲ ص ۱۰۹٤، کتاب الاعتصام، باب نهی النبی ﷺ علی التحریم، وکذلک امره
۹) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۳

بيا شوافع او حنابله وائی چه دا کراهت تنزیهی دی. (۱) په احنافو کښې صاحب د در مختار وائی چه مکروه تحریمی دی. (۲) ظاهریه وائی چه دا کار حرام دی. (۳) په شوافعو کښې ورته هم څه حضراتو حرام وئیلې دی، خو امام نووی رحمه الله فرمائی چه د هغه حضراتو اقوالو او اشاراتو لره اعتبار نشته

دا ټوله خبره په هغه وخت کښې ده چه کله انسان بغیر د عذر نه ښې لاس استعمالوی، که عذر وی نو د ښی لاس استعمال بغیر د کراهت نه جائز دی. (٤)

په ښی لاس باندې استنجاء کولو سره به استنجاء کیږی یا نه؟ : که یو سړی په ښی لاس باندې استنجاء اوکړه نو جمهور علماء فرمائی چه استنجاء خو ئې اوشوه، او بعض ظاهریه وائی چه استنجاء ئې هم نه کیږی. (۵)

حافظ ابن حجر رحمه الله هم دا قول د بعض حنابله نه نقل کړې دی. (٦) خو د هغه شیخ المذهب موفق او د هغه شاګرد شمس الدین مقدسی د دې هیڅ تصریح نه ده کړې، خو مرداوی یو قول د حنابله دا هم نقل کړې دی. (۷)

هم دغه شان علامه عینی رحمه الله د حنابله سره سره د شوافع هم د یو جماعت طرف ته د عدم جواز او عدم صحت نسبت کړې دی. (۸)

خو امام نووی رحمه الله او حافظ رحمه الله د دې نسبت نه دې کړې، او دا خبره خو معلومه ده «واصحاب الامام اعرف بمذهب الامام» یعنی د یو امام خپل اصحاب د خپل امام مذهب لره د نورو نه ښه پیژنی والله اعلم

۱۵۲: «حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ فَضَالَةَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ هُوَ الدَّسْتَوَائِيُّ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ(۹) قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

۱) اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ۲ ص ۱۰۹، قبیل باب الغسل، والانصاف ج ۱ ص ۱۰۳

۲) الدر المختار مع رد المحتار ج ۱ ص ۲۵۰، وانظر البحر الرائق ج ۱ ص ٤۲۰، ٤۲۱

۳) نیل الاوطار ج ۱ ص ۹۱، کتاب الطهارة، باب نهی المتخلی عن استقبال القبلة واستدبارها

٤) اوګورئ: البحر الرائق ج ۱ ص ٤۲۱، والمجموع ج ۲ ص ۱۱۰، والمغنی لابن قدامة ج ۱ ص ۱۰۳

۵) اوګورئ: المغنی لابن قدامة ج ۱ ص ۱۰۳

٦) فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۳

۷) الانصاف ج ۱ ص ۱۰۳

۸) اوګورئ: عمدة القاری ج ۲ ص ۲۹٦

۹) قوله (عن ابیه) ای ابی قتادة رضی الله عنه، والحدیث اخرجه البخاری ایضا فی صحیحه ج ۱ ص ۲۷، فی کتاب الوضوء، باب لا یمسک ذکره بیمینه اذا بال، رقم ۱۵٤، و ج ۲ ص ۸٤۱، کتاب الاشربة، باب التنفس فی الاناء رقم ۵٦۳۰ ومسلم فی صحیحه، فی کتاب الطهارة، باب النهی عن الاستنجاء بالیمین، رقم ٦۱۵-٦۱۳، وفی کتاب الاشربة، باب کراهة التنفس فی نفس الاناء، واستحباب التنفس ثلاثا خارج الاناء رقم ۵۲۸۵، والنسائی فی سننه، فی کتاب الطهارة، باب النهی عن الاستنجاء ... (بقیه برصفحه آئنده

إذا شرب أحدكم فلا يتنفس في الإناء وإذا أتى الخلاء فلا يمس ذكره بيمينه ولا يتمسح بيمينه ﴾ [١٥٣، ٥٣٠٧]

رجال الحديث

① معاذ بن فضاله : دا معاذ بن فضاله (بفتح الفاء) (١) الزهرانی البصری رحمه الله دې. بعض حضراتو ورته د ﴿ زهرانی ﴾ په ځائې ﴿ طفاوی ﴾ وئيلې دي، او بعض حضراتو ورته ﴿ قرشی ﴾ وئيلې دي. ابو زيد د هغه كنيت دې. (٢)

هغه د هشام دستوائی، حفص بن ميسره صنعانی، خالد بن حميد، خليل بن مرة، ربيع بن صبيح، سفيان ثوری، عبدالله بن لهيعة، ابو شريح، عمر بن قيس مكی او يحيی بن ايوب مصری رحمهم الله نه احاديث روايت كوی.

د هغه نه په روايت كونكو كښې عبد الله بن وهب (وهو اكبر منه) امام بخاری، احمد بن منصور رمادی، ابو قلابه عبد الملك بن محمد الرقاشی، عبيد الله بن جرير بن جبله، ابو حاتم الرازی، محمد بن يحيی ذهلی، يعقوب بن شيبه، يعقوب بن سفيان او محمد بن سنان رحمهم الله وغيره دی (٣)

امام ابو حاتم رحمه الله فرمائی : ﴿ ثقة، صدوق ﴾ (٤)

امام عجلی رحمه الله فرمائی : ﴿ بصری، ثقة ﴾ (٥)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : ﴿ ثقة ﴾ (٦)

ابن حبان رحمه الله هغه په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې. (٧)

د ٢١٠ هجری نه پس هغه وفات شوې دې. (٨) رحمه الله رحمة واسعة

.....بقيه ازصفحه گذشته) باليمين رقم ٤٧، ٤٨، وابوداؤد فی سننه، فی كتاب الطهارة، باب كراهية مس الذكر باليمين فی الاستبراء رقم ٣١، والترمذی فی جامعه، فی كتاب الطهارة، باب ما جاء فی كراهة الاستنجاء باليمين رقم ١٥، وابن ماجة فی سننه، فی كتاب الطهارة، باب كراهة مس الذكر باليمين والاستنجاء باليمين. رقم ٣١٠، واحمد فی مسنده ج ٤ ص ٣٨٣، رقم ١٩٦٣٩

١) فتح الباری ج ١ ص ٢٥٣

٢) اوګورئ : تهذيب الكمال ج ٢٨ ص ١٢٩، رقم ٦٠٣٤

٣) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ، تهذيب الكمال ج ٢٨ ص ١٢٩، ١٣٠

٤) الجرح والتعديل ج ٨ ص ٢٨٧، رقم ١١٣٩/١٤٤٤٦

٥) الثقات للعجلی ج ٢ ص ٢٨٣، رقم ١٧٤٠

٦) تقريب التهذيب ص ٥٣٦، رقم ٦٧٣٨

٧) الثقات لابن حبان ج ٩ ص ١٧٧

٨) تقريب التهذيب ص ٥٣٦، رقم ٦٧٣٨

④ **هشام** : دا ابوبكر هشام بن ابو عبدالله سنبرصرى دستوائى رحمه الله دي. د هغه حالات په كتاب الايمان **باب زيادة الايمان ونقصانه** د لاندې تير شوې دى. (١)

④ **يحيٰ بن ابى كثير** : دا مشهور امام يحيٰ بن ابى كثير طائى يمامى (رح) دي. ددوى حالات په "**كتاب العلم**" كښې د "**باب كتابة العلم**" لاندې تير شوى دى.(٢)

④ **عبدالله بن ابى قتادة** : دا د مشهور صحابى سيدنا ابو قتاده رضي الله عنه خوئي عبدالله بن ابى قتاده انصارى سلمى مدنى رحمه الله دي، د هغه كنيت ابو ابراهيم يا ابو يحيى بيانولې شى. (٣)
هغه د سيدنا جابر او خپل والد محترم سيدنا ابو قتاده رضي الله عنه نه روايت حديث كوى.
د هغه نه په روايت كونكو كښې د هغه دوه ځامن ثابت بن عبدالله بن ابى قتاده، يحيى بن عبدالله بن ابى قتاده، امام يحيى بن ابى كثير، حصين بن عبد الرحمن سلمى، زيد بن اسلم، ابو حازم سلمه بن دينار، عثمان بن عبدالله بن مواهب او محمد بن قيس مدنى رحمهم الله وغيره حضرات دى. (٤)

ابن سعد رحمه الله فرمائى : ﴿ **وكان ثقة، قليل الحديث** ﴾(٥)

امام نسائى رحمه الله فرمائى : ﴿ **ثقة** ﴾(٦)

امام عجلى رحمه الله فرمائى : ﴿ **تابعى ثقة** ﴾(٧)

د وليد بن عبدالملك په دور خلافت كښې په ٩٥ هجرى كښې هغه وفات شوې دي. (٨) **رحمه الله رحمة واسعة**

⑤ **ابيه** :(**سيدنا ابو قتاده** رضي الله عنه) : دا صحابى رسول، فارس رسول صلى الله عليه وسلم سيدنا ابوقتاده انصارى رضي الله عنه دي. (٩)
د هغه نوم حارث بن ربعى دي، صحيح قول هم دا دي، بعض حضراتو نعمان او بعض عمرو وئيلي دي. (١٠)
هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه علاوه د سيدنا عمر او سيدنا معاذ رضي الله عنهما نه هم روايت كوى.

---

١) كشف البارى ج ٢ ص ٤٥٦
٢) كشف البارى: ١٤\ ٢٦٧.
٣) اوګورئ: تهذيب الكمال ج ١٥ ص ٤٤٠، ٤٤١
٤) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ. تهذيب الكمال ج ١٥ ص ٤٤١
٥) طبقات ابن سعد ج ٥ ص ٢٧٤
٦) تهذيب الكمال ج ١٥ ص ٤٤١
٧) الثقات للعجلى ج ٢ ص ٥١، رقم ٩٤٩
٨) اوګورئ: طبقات ابن سعد ج ٥ ص ٢٧٤، وتهذيب الكمال ج ١٥ ص ٤٤٢
٩) فتح البارى ج ١ ص ٢٥٣
١٠) سير اعلام النبلاء ج ٢ ص ٤٤٩، وطبقات ابن سعد ج ٦ ص ١٥

د هغه نه په روايت كونكو كښې سيدنا انس رضي الله عنه، د هغه خوئې عبدالله بن ابى قتاده. د هغه مولى نافع، سعيد بن المسيب، عطاء بن يسار، ابو سلمه بن عبد الرحمن، على بن رباح، عبدالله بن رباح، عبدالله بن معبد الزمانى، عمرو بن سليم الزرقى او معبد بن مالك رحمهم الله وغيره حضرات روايت كوى. (۱)

سيدنا ابوقتاده رضي الله عنه لره بعض حضراتو د اهل بدر نه شمار كړې دې. (۲) خو محققين فرمائى چه هغه په بدر كښې نه دې شريك شوې، (۳) خو په احد، خندق او نورو جنګونو كښې شريك شوې دې (٤)

رسول الله ﷺ فرمائى: ﴿ خير فرساننا اليوم ابوقتادة، وخير رجالتنا سلمة ﴾(۵)
يعنى زمونږ په شهسوارانو كښې د تولو نه بهترين ابوقتاده دې او په پياده كسانو كښې سلمه رضي الله عنه دې

يو كرت مسعده نومې يو سړى څه فساد اوكړو، سيدنا ابو قتاده رضي الله عنه په هغه پسې شو او مقابله كولو سره ئې هغه مړ كړو. چه كله واپس راغلو نو رسول الله ﷺ ورته دعا اوكړه: ﴿ اللهم بارك له في شعره وبشره ﴾ او هم دغه شان ئې اوفرمائيل: ﴿ افلح وجهك ﴾(٦)
يعنى اې الله! د هغه په ويښتو او بدن كښې بركت واچوه، ته دې هميشه كامياب ئې

سيدنا ابو سعيد خدرى رضي الله عنه فرمائى: ﴿ اخبرني من هو خير مني ابوقتادة ... ﴾(۷)
يعنى ماته حديث واورولو هغه چا چه زما نه غوره دې يعنى ابو قتاده رضي الله عنه ....

يو كرت رسول الله ﷺ سيدنا ابوقتاده رضي الله عنه ته دعا اوكړه: ﴿ حفظك الله بما حفظت نبيه ﴾(۸)
يعنى الله تعالى دې ستا حفاظت اوكړى، لكه څنګه چه تا د الله د نبى حفاظت اوكړو.

د سيدنا ابوقتاده رضي الله عنه د وفات په باره كښې اختلاف دې چه په كوم كال شوې دې امام ابو الحجاج مزى رحمه الله دوه اقوال نقل كړې دى. يو د ۳۸ هجرى دې، دويم د ۵٤ هجرى دې. (۹)
امام واقدى رحمه الله فرمائى چه د هغه وفات په كوفه كښې په ۵٤ هجرى كښې شوې دې. هغه

---

۱) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال ج ۳٤ ص ۱۹٤، ۱۹۵، وسير اعلام النبلاء ج ۲ ص ٤٤۹

۲) قاله الحاكم ابو احمد، تهذيب الكمال ج ۳٤ ص ۱۹۵

۳) اوګورئ: الاصابة ج ٤ ص ۱۵۸

٤) تهذيب الكمال ج ۳٤ ص ۱۹۵، وسير اعلام النبلاء ج ۲ ص ٤۵٤

۵) صحيح مسلم، كتاب الجهاد، باب غزوة ذى قرد وغيرها رقم ٤٦۷۸

٦) المستدرك على الصحيحين ج ۳ ص ٤۸۰، رقم ٦۰۳۲

۷) صحيح مسلم، كتاب الفتن، باب لا تقوم الساعة حتى يمر الرجل بقبر الرجل، فيتمنى ان يكون مكان الميت، رقم ۷۳۲۱

۸) صحيح مسلم، كتاب المساجد، باب قضاء الصلاة الفائتة، واستحباب تعجيل قضائها، رقم ۱۵٦۲

۹) تهذيب الكمال ج ۳٤ ص ۱۹٦

وخت د هغه عمر اويا كاله وو. په دي سلسله كښې زمونږ د اهل علم ترمينځه هيڅ اختلاف نشته. خو د كوفې والا وائي چه په كوفه كښې كله د هغه وفات اوشو نو سيدنا على رضي الله عنه په هغه باندې جنازه اوكړه
خو د ۳۸هـ والا قول نه شاذ وئيلې شوې دې، ځكه چه د اكثر حضراتو قول دا دې چه د هغه وفات په ۵۴ هجرى كښې شوې دې. د دې تائيد د دې خبرې نه هم كيږي چه امام بخاري رحمه الله د هغه تذكره په تاريخ اوسط كښې د هغه حضراتو ترمينځه كړې ده څوك چه د ۵۰ او ۶۰ هجري ترمينځه وفات شوي دى او هغه په خپل سند سره دا هم نقل كړي دى چه مروان چه د سيدنا معاويه رضي الله عنه گورنر وو. سيدنا ابوقتاده رضي الله عنه راوغوښتلو او ابو قتاده رضي الله عنه ته ئي هغه ځايونه په نخښنه كړل چرته چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم جنګونه شوي وو. (۱) والله اعلم
د سيدنا ابو قتاده رضي الله عنه نه تقريبا يو سل اويا (۱۷۰) احاديث روايت شوي دى. د هغې نه يولس احاديث متفق عليه دى. په دوه احاديثو كښې امام بخاري او په اته احاديثو كښې امام مسلم رحمه الله متفرد دي. (۲) رضي الله عنه وارضاه

قوله: إِذَا شَرِبَ أَحَدُكُمْ فَلَا يَتَنَفَّسْ فِي الْإِنَاءِ: رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: چه كله په تاسو كښې څوك څكل كوى نو په لوښى كښې دې ساه نه اخلى.

(فلايتنفس) په جزم سره لوستلې شوې دې او په رفع سره هم. كه په جزم سره وى نو نهى ده، كه رفع سره وى نو نفى ده، كومه چه د نهى په معنى كښې ده. (۳)
رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې د اوبو څكلو نه منع فرمائيلې ده چه په هم هغه لوښى كښې ساه واخستلې شى او هغه د خولې نه جدا نه كړې شى. د دې ممانعت وجه يا خو دا ده چه دا د حيواناتو يا ښاروو طريقه ده، يا د دې وجه دا ده چه په اوبو كښې د ساه اخستلو نه دا خطره ده چه د ساه د ګندګئ د وجې نه د اوبو لطافت ختم نه شى. دا هم كيدې شى چه د ساه اخستلو سره د پوزې نه څه څيز راوځى او په اوبو كښې پريوځى. (٤)

د دوه روايتونو ترمينځه تعارض او د هغې دفعيه: د بخاري په دې روايت كښې **(فلايتنفس فى الاناء)** راغلى دې. په صحيح مسلم كښې هم دغه شان دى (۵) او په ابوداؤد كښې **(فلايشرب نفسا واحدا)** (۶) راغلى دې.
سوال دا دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحيحينو د روايت مطابق فرمائيلې دى يا د ابوداؤد

---

۱) د تفصيل د پاره اوګورئ: تهذيب التهذيب ج ۱۲ ص ۲۰٤. ۲۰۵
۲) عمدة القاري ج ۲ ص ۲۹٤، وخلاصة الخزرجي ص ٤۵۷
۳) عمدة القاري ج ۲ ص ۲۹۵
٤) اوګورئ: عمدة القاري ج ۲ ص ۲۹۵
۵) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب النهى عن الاستنجاء باليمين. رقم ۶۱۳، و ۶۱۵
۶) سنن ابى داؤد. كتاب الطهارة. باب كراهية مس الذكر باليمين فى الاستبراء. رقم ۳۱

الفاظ صحيح دی؟

په دواړو روايتونو كښ داسې تطبيق كيدې شی چه رسول الله ﷺ دواړه جملې ارشاد فرمائيلې وې، صحابه كرام رضی الله عنهم دواړه جملې نقل اوفرمائيلې، خو روستو تلو سره بعض راويانو يوه جمله نقل اوفرمائيله او نورو بعض راويانو بله جمله، ﴿كل روی مالم يروه الآخر﴾

دويم جواب دا دې چه د يحيی بن ابی كثير رحمه الله ټول شاګردان ﴿فلايتنفس فی الاناء﴾ نقل كوی، او د هغه صرف يو شاګرد ابان العطار ﴿فلايشرب نفسا واحدا﴾ نقل كوی، لهذا د ابان روايت د اكثريت د مخالفت د وجې نه شاذ او مرجوح دې.

دريم جواب دا وركړې كيدې شی چه د دواړو روايتونو ترمينځه تطبيق وركړې كيدې شی، په داسې طريقه چه د ابان روايت بالمعنی دې، د ﴿فلايشرب نفسا واحدا﴾ مطلب دا دې چه داسې دې نه څكی چه ګويا په يو ساه ئې څكل غواړی چه لوښې د خولې نه بالكل نه جدا كوی او لوښې ئې په خولې پورې نيولې دې او اوبه څكی او ساه هم پكښې اخلی. والله اعلم

په يوه ساه باندې د څكلو حكم : پاتې شوه په يوه ساه باندې د څكلو حكم، پس ابن عباس، طاؤس او عكرمه رضی الله عنهم فرمائی چه په يوه ساه څكل جائز نه دی مكروه دی.

ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : ﴿هو شرب الشيطان﴾(١)

او سعيد بن المسيب او عطاء بن ابی رباح رحمهما الله په يوه ساه باندې د څكلو اجازت وركړې دې. (٢)

امام ترمذی رحمه الله د سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت نقل كړې دې! ﴿لا تشربوا واحدا كشرب البعير، ولكن اشربوا مثنی وثلاث، وسموا اذا انتم شربتم، واحمدوا اذا انتم رفعتم﴾(٣)

يعنی د اوښ په شان په يوه ساه څكل مه كوئ، بلكه په دوه دوه درې درې ساه ګانو كښ څكئ، چه كله څكئ نو د الله پاك نوم اخلئ او بسم الله وايئ او چه كله ئې اوڅكئ نو د الله پاك شكر ادا كوئ او الحمد لله وايئ.

سعيد بن المسيب او عطاء د سيدنا ابو سعيد خدری رضی الله عنه د يو روايت نه استدلال كوی!

﴿ان النبی صلی الله عليه وسلم نهی عن النفخ فی الشراب، فقال رجل القذاة اراها فی الاناء، فقال : اهرقها، فقال : فانی لا اروی من نفس واحد! فابن القدح اذن عن فيك﴾(٤)

يعنی نبی كريم ﷺ په څكلو كښې د پوكی وهلو نه منع اوفرمائيله، يو سړی عرض اوكړو

١) التمهيد لابن عبد البر ج ص ٣٩٣، هم دغه شان اوګورئ : عمدة القاری ج ٢١ ص ٢٠١، كتاب الاشربة، باب الشرب بنفسين او ثلاثة

٢) پورته حواله جات

٣) جامع الترمذی، كتاب الاشربة، باب ما جاء فی التنفس فی الاناء، رقم ١٨٨٥

٤) جامع الترمذی، كتاب الاشربة، باب ما جاء فی كراهية التنفس فی الشراب رقم ١٨٨٧

چه که په اوبو کښې څه بخرې اووينم نو هغه په پوکۍ وهلو سره نه اخوا کوم؟ رسول الله ﷺ اوفرمائيل: پوکې مه وهئ دا توئي کړه، هغه سړي عرض اوکړو چه زه په يوه ساه کښې نه مړيږم. رسول الله ﷺ اوفرمائيل بيا لوښې د خپلې خولې نه جدا کړه، يعنی ساه بهر واخله او بيا پياله خولې سره اولګوه او دوباره اوڅکه.
دا حديث د دې خبرې دليل دې چه په يوه ساه باندې څکل جائز دی، ځکه چه رسول الله ﷺ په ﴿فانی لاأروی من نفس واحد﴾ باندې نکير او نه فرمائيلو! که دا ناجائز وې نو رسول الله ﷺ به صفا فرمائيلي وو چه په يوه ساه باندې څکل بالکل جائز نه دی.
عمر بن عبدالعزيز رحمه الله فرمائی چه! په يوه ساه باندې د څکلو چه کوم ممانعت دې د هغې مطلب دا دې چه انسان په لوښی کښې خوله اولګوی، په لوښی کښې ساه اخلی او اوبه څکی، لکه چه څاروی او درندګان څکی او که د لوښی نه بهر ساه واخستلې شی نو بيا هيڅ باك نشته او که څوك ساه نه اخلی، په يوه ساه ئې اوڅکی نو هيڅ باك پکښې نشته. (۱)

قوله: وَإِذَا أَتَى الْخَلَاءَ فَلَا يَمَسَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ: او چه کله بيت الخلاء ته ځی نو خپله شرمګاه دې په خپل ښی لاس سره نه مس کوی.
د ﴿ذکر﴾ په حکم کښې ﴿دبر﴾ او ﴿فرج امراة﴾ هم دې، رسول الله ﷺ يو ذکر کړو د دې نه د بل حکم په خپله معلوم شو. (۲)

د مس الذکر باليمين حکم: مس ذکر باليمين بالاتفاق مکروه دې، خو ظاهريه وائی چه ممانعت تحريمی دې او شافعيه وائی چه تنزيهی دې، علامه عينی رحمه الله د جمهورو طرف ته د کراهت تنزيهی نسبت کړې دې. (۳)

قوله: وَلَا يَتَمَسَّحْ بِيَمِينِهِ: او نه دې په خپل ښی لاس باندې استنجاء کوی.
د غائط په صورت کښې دې په ګس لاس سره په لوټه باندې صفا کړی.
د استنجاء فی البول طريقه: که متيازې کوی نو د استنجاء به څه صورت وی؟
دلته يو صورت دا دې په يو لوړ ديوال يا کاڼړی سره دې په ګس لاس باندې ذکر اونيسی او صفا دې کړی.
دويم صورت دا دې چه د پوندې يا خپې يا د دواړو ګوتو ترمينځه دې کاڼړې ږدلو سره په ګس لاس باندې صفا کړی.
دريم صورت دا دې چه په ښی لاس کښې دې کاڼړې اونيسی او په ګس لاس کښې نيولو سره دې په کاڼړی باندې صفا کړی او ښې لاس دې حرکت نه کوی بلکه په خپل ځائې دې وی.

---

۱) عن ميمون بن مهران، قال: رآنی عمر بن عبد العزيز وأنا أشرب، فجعلت أقطع شرابی وأتنفس، فقال: إنما نهی أن يتنفس فی الإناء، فإذا لم تتنفس فی الإناء، فاشربه إن شئت بنفس واحد. المصنف لابن ابی شيبة ج ۱۲ ص ۲۹۳، کتاب الاشربة، باب من رخص فی الشرب بالنفس الواحد رقم ۲۴۶۴۴
۲) فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۴
۳) اوګورئ: عمدة القاری ج ۲ ص ۲۹۶، وشرح النووی علی صحيح مسلم ج ۳ ص ۱۵۱

امام نووی رحمه الله فرمائی چه هم دا صحیح دا:
یو ځلورم صورت دا هم دي چه په ګس لاس سره دي کانړي اونیسی او په ښی لاس سره دي ذکر اونیسی او ګس لاس ته دي حرکت ورکړی خو دا صحیح نه دي. ځکه چه په دي کښ مس الذکر بالیمین بلا عذر لازمیږی. حال دا چه په حدیث شریف کښ چه څنګه د استنجاء بالیمین ممانعت راغلي دي، دغه شان پکښ د مس ذکر بالیمین ممانعت هم راغلي دي (۱)
د امام خطابی رحمه الله اشکال او د هغې جواب: امام خطابی رحمه الله فرمائی چه په دي حدیث کښ دوه حکمونه دی، یو د مس ذکر ممانعت او دویم د استنجاء بالیمین ممانعت او په دي دواړو کښ تعارض دي، ځکه چه که یو سړي په ښی لاس سره استنجاء نه کوی نو د مس الذکر بالیمین ارتکاب لازمیږی او که څوك مس الذکر بالیمین نه کوی نو تمسح بالیمین لازمیږی. ځکه چه که په ګس لاس سره کانړي نیسی نو په ښی لاس سره به ذکر نیول وی او که په ښی لاس سره کانړي نیسی نو په دي صورت کښ به مسح بالیمین لازمیږی. حاصل دا چه په دواړو کښ د یو ارتکاب ضرور لازمیږی!
امام خطابی رحمه الله د دي اشکال جواب دا ورکوی چه د استنجاء دپاره دي د یو لوئي کانړی، چه د هغې د خوزیدو احتمال نه وی، دیوال یا د لوړي زمکي استعمال اوکړی چه ذکر نیولو سره په هغې باندي اوچ کړی او که په عامه لوټه یا کانړی وغیره سره د استنجاء ضرورت راشی نو د هغې صورت به دا وی چه خپل مقعد د زمکي سره یو ځائي کړی او ممسوح لره به دواړو پوندو سره اونیسی. خپل اندام دي په ګس لاس سره اونیسی او په هغې سره دي اوچ کړی. دغه شان دي ښی لاس بچ کړی
امام خطابی رحمه الله خپله د فقیه ابو علی بن ابی هریره نه نقل کړی دی چه هغه د علامه محاملی مجلس ته حاضر شو. هلته د اصفهان یو لوئي عالم راغلي وو. ابن ابی هریره ورته هم دا اشکال پیش کړو، خو هغه عالم په حیرت کښ پریوتلو او هغه بیان نه کړي شوه، تردي چه ما هغوی ته طریقه اوخودله (۲)
خو دا صورت اګر چه لوئي لوئي علماء کرامو لیکلي دي خو مستبعد شان صورت معلومیږی!
خلیل احمد سهارنپوری رحمه الله په دي باندي دا اشکال کړي دي چه دي حضراتو ته معلومه نه ده چه څه اشکال پیښ شوي دي. زمونږه خو بوداګان. ځوانان تردي چه ماشومان هم په استنجاء کولو باندي پوهیږی چه په ګس لاس باندي لوټه اونیسی او د حشفه نه لاندي حصه به ګوته باندي دباؤ کړی د متیازو قطره راوځی او هغه اوچه شی (۳)
غالبا دي حضراتو ته به په دي وجه اشکال پیښ شوي وی چه اصل کښ زمونږ په علاقه کښ چه د استنجاء کولو کومه طریقه ده هغه د هغوی په نزد نه وه، هغوی به موضع استنجاء لره

---

۱) اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ۲ ص ۱۱۰، و شرح النووی علی صحیح مسلم ج ۳ ص ۱۴۷
۲) اوګورئ: معالم السنن ج ۱ ص ۳۳، ۳۴، مطبوعة مع مختصر المنذری وتهذیب ابن القیم
۳) بذل المجهود ج ۱ ص ۲۶۹

په كانړو سره اوچولو په دې اوچولو كښې امرار الحجر على الذكر لازميږي او دا اوچول په يو لاس سره ناممكن دي.
هم دغه شان كه څوك كانړي سره استنجاء كوي نو هلته دباؤ كولو سره ئې اوچول ناممكن دي. ځكه چه كانړې فوري طريقې سره متيازې نه جذب كوي. هلته خو اوچول لازمي وي
والله سبحانه وتعالى اعلم

⑲ بَاب لَا يُمْسِكُ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ إِذَا بَالَ

د تير باب سره مناسبت: مخكښې باب د استنجاء باليمين سره متعلق وو. په دې باب كښې د ﴿ امساك ذكر باليمين عند الاستنجاء ﴾ ذكر دې. په دواړو بابونو كښې مناسبت بالكل ښكاره دې.
د ترجمة الباب مقصد: حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې فرمائى چه انسان دې د متيازو كولو په وخت خپل ذكر نه نيسى. ځكه چه په حديث كښې د مس الذكر باليمين ممانعت دې. بيا د مس الذكر باليمين د ممانعت په باره كښې دوه قسم روايتونه دي:
په بعض كښې خو د ﴿ اذا بال ﴾ قيد دې او په بعض كښې نشته. پس په مخكښې باب كښې د ﴿ واذا اتى الخلاء فلا يمس ذكره بيمينه ﴾ الفاظ دي، په هغې كښې د ﴿ اذا بال ﴾ قيد نشته. او د دې باب په روايت كښې دى ﴿ اذا بال احدكم فلا يأخذن ذكره بيمينه ﴾ په دې روايت كښې تاسو وينئ چه د ﴿ اذا بال ﴾ قيد موجود دې
امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې قيد لګولو سره دې خبرې طرف ته اشاره اوكړه چه روايت مطلقه به په روايت مقيده باندې محمول كولې شى. لهذا د مس ذكر باليمين دا حكم به د بول د وخت سره مقيد وى. نه مطلقا (١)
بعض علماء كرام فرمائى چه مطلق لره په مقيد باندې هغه وخت حمل كولې شى چه كله قيد احترازى او كه قيد اغلبى وى. يعنى د كثير الوقوع ګيدو د وجې نه هغه ذكر كړې شوې وى لكه چه دلته هم دغه شان دى نو بيا مطلق په مقيد باندې نه شى محمول كولې. بلكه په داسې صورت كښې د روايات مقيده نه د مطلق حكم راوځى، ځكه چه د متيازو حالت د ضرورت حالت دې او د حاجت وخت دې، چه كله د حاجت په وخت د د مس ذكر نه منع كړې شوې ده نو بغير د ضرورت نه به د مس ذكر باليمين اجازت څنګه وركولې شى. (٢)
ابن ابى جمره دلته دا اشكال كړې دې چه حاجت د بول سره خاص نه دې. ځكه چه د حاجت مواقع نورې هم دى. د بول تخصيص په دې وجه كړې شوې دې چه په حديث كښې د استنجاء باليمين نه منع كړې شوې ده او قاعده دا ده چه بعض وخت چه كله د يو څيز نه منع كولې شى

---

١) فتح البارى ج ١ ص ٢٥٤
٢) پورته حواله

نو کوم ځیز چه د هغه سره نزدې وی د هغې نه هم منع کوی، یعنی په لاس سره د ذکر نیول هغه هم ممنوع دی، په ښی لاس سره د نیولو اجازت نشته، د دې نه علاوه باقی حالات په اصل اباحت باندې دی. (۱)

پس د سیدنا طلق بن علی رضی الله عنه په حدیث کښې دی چه د رسول الله ﷺ نه د مس ذکر په باره کښې تپوس اوکړې شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ﴿هل هو الا مضغة منك او بضعة منك﴾(۲)

یعنی دا هم ستا یوه ټکړه ده. والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۵۳: ﴿حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ(۳) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا بَالَ أَحَدُكُمْ فَلَا يَأْخُذَنَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ وَلَا يَسْتَنْجِي بِيَمِينِهِ وَلَا يَتَنَفَّسْ فِي الْإِنَاءِ﴾[ر: ۱۵۲]

رجال الحدیث

① **محمد بن یوسف**: دا محمد بن یوسف بن واقد ضبی فریابی رحمه الله دې. د هغه حالات په کتاب العلم باب ماکان النبی ﷺ یتخولهم بالموعظة والعلم کیلا ینفروا د لاندې تیر شوې دی. (٤)

② **الاوزاعی**: دا امام مجتهد عبدالرحمن بن عمرو اوزاعی رحمه الله دې. د هغه حالات په کتاب العلم کښې د باب الخروج فی طلب العلم د لاندې تیر شوې دی. (۵)

③ **یحیی بن ابی کثیر**: دا مشهور محدث امام یحیی بن ابی کثیر طائی یمامی رحمه الله دې. د هغه حالات په کتاب العلم کښې د باب کتابة العلم د لاندې تیر شوې دی. (۶)

④ **عبدالله بن ابی قتاده** رحمه الله: د هغه حالات اوس د مخکښې باب د لاندې تیر شوې دی.

⑤ **سیدنا ابو قتاده** رضی الله عنه: د هغه حالات هم د مخکښې باب د لاندې تیر شوې دی!

قوله: عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ: امام یحیی بن ابی کثیر ته مدلس وئیلې شوې دې، خو مونږ مخکښې د هغه د حالات بیانولو د لاندې واضحه کړې ده چه د هغه تدلیس مضر نه دې. (۷)

---

۱) پورته حواله
۲) اخرجه النسائی فی کتاب الطهارة، باب ترک الوضوء من ذلک، رقم ۱۶۵، وانظر السنن لابی داؤد، کتاب الطهارة، باب الرخصة من ذلک، رقم ۱۸۲، والصحیح لابن حبان، کتاب الطهارة، باب نواقض الوضوء وصححه ابن حزم فی المحلی ج ۱ ص ۲۳۸
۳) الحدیث مر تخریجه فی الباب السابق
٤) کشف الباری ج ۳ ص ۲۵۲
۵) کشف الباری ج ۳ ص ٤۰۸
٦) کشف الباری ج ٤ ص ۲٦۷
۷) اوګورئ: کشف الباری ج ٤ ص ۲٦۸/۲٦۹

په دې حدیث کښې دلته اګر چه عنعنه ده، خو ابن خزیمه رحمه الله په خپل صحیح کښې یو روایت د تحدیث سره نقل کړې دې. (۱)

هم دغه شان ابن المنذر رحمه الله هم په الاوسط کښې د تحدیث صراحت کړې دې. (۲)

لهذا که د هغه تدلیس مضر هم وی نو دلته به په اتصال باندې محمول وی. والله اعلم

قوله: إِذَا بَالَ أَحَدُكُمْ فَلَا يَأْخُذَنَّ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ: چه کله په تاسو کښې څوک متیازې کوی نو خپل ذکر دې په ښی لاس باندې نه نیسی.

د ﴿فلايأخذن﴾ په نون تاکید سره صرف د ابو ذر رحمه الله په نسخه کښې دې. (۳) د هغه نه علاوه په باقی نسخو کښې ﴿فلايأخذ﴾ بغیر د نون تاکید نه دې او هم دا په ترجمة الباب کښې د راغلی لفظ ﴿لايمسك﴾ عین مطابق دې. (٤)

د مسلم په یو روایت کښې د ﴿لايمسكن احدكم ذكره بيمينه﴾ الفاظ راغلې دی. (۵)

خو د اسماعیلی په روایت کښې د ﴿لايمس﴾ لفظ راغلې دې، پس هغه په امام بخاری رحمه الله باندې اعتراض کړې دې چه لفظ د ﴿مس﴾ عام دې او امساك خاص دې، د عام لفظ مطابق ترجمه پکار وه.

خو دا اشکال خپله په اسماعیلی باندې کیږی په امام بخاری باندې نه، ځکه چه د امام بخاری رحمه الله روایت د هغه د ترجمې عین مطابق دې. (٦) والله سبحانه وتعالى اعلم

قوله: وَلَا يَسْتَنْجِي بِيَمِينِهِ: او په ښی لاس سره دې استنجاء نه کوی.

قوله: وَلَا يَتَنَفَّسْ فِي الْإِنَاءِ: او په لوښی کښې دې ساه نه اخلی.

دا ﴿لا﴾ نافیه ده او د ماقبل نه جدا یوه مستقل جمله ده. او که ﴿لا﴾ ناهیه وی نو بیا هم دا نه لازمیږی چه د معطوف علیه قید هم په هغې کښې ملحوظ وی اوداسې اوئیلې شی چه د بول کولو په حالت کښې په لوښی کښې ساه وانخستلې شی، بلکه دا یو مستقل حکم دې، چه د هغې د حالت بول سره هیڅ تعلق نشته. (۷)

د دې جملې د ماقبل جملو سره مناسبت: دلته د استنجاء د آدابو بیان شروع دې، په ظاهره

---

۱) صحیح ابن خزیمه ج ۱ ص ٤۳، کتاب الطهارة، باب النهی عن الاستطابة بالیمین، رقم ۷۹
۲) الاوسط لابن المنذر ج ۱ ص ۳۳۹، کتاب اداب الوضوء، باب مس الذکر بالیمین رقم ۲۸۹
۳) اوګورئ: الجامع الصحیح للبخاری بروایة ابی ذر الهروی ج ۱ ص ۹۳
٤) فتح الباری ج ۱ ص ۲٥٤
۵) صحیح مسلم، کتاب الطهارة، باب النهی عن الاستنجاء بالیمین رقم ٦۱۳
٦) فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۵
۷) پورته حواله

کښې ئې د شرب او تنفس فی الاناء سره هيڅ تعلق نشته!

خو وئيلې کيدې شی چه د اهل ايمان په باره کښې غالبه دا ده چه هغه د رسول اللهﷺ په هر عمل کښې اقتدا کول غواړی او د رسول اللهﷺ معمول وو چه کله به ئې متيازې کولې نو اودس به ئې کولو. بيا دا هم ثابته ده چه رسول اللهﷺ د اودس نه پس بچ شوې اوبه ښکلې دی. صاحب ايمان به د رسول اللهﷺ په اقتداء کښې هم دغه شان کوی. نو رسول اللهﷺ ددې معاملې په ذهن کښې ساتلو سره د شرب ادب هم بيان کړو چه په لوښی کښې دې ساه وانخستلې شی. (۱) والله اعلم

⑳ بَابُ الِاسْتِنْجَاءِ بِالْحِجَارَةِ

د مخکښې باب سره مناسبت : د دې باب د ماقبل سره مناسبت د ابواب استنجاء په اعتبار سره بالکل ظاهر دی.

د ترجمة الباب مقصد : د ترجمة الباب په مقصد باندې د ځان پوهه کولو نه مخکښې په دې ځان پوهه کړه چه د جمهور علماء کرامو مسلك دا دې چه په استنجاء کښې افضل خو دا ده چه حجر . ماء (کانړی او اوبه) دواړه جمع کړی. د دې نه روستو افضل اکتفاء بالماء ده. بيا د دې نه روستو د اکتفاء بالحجر درجه ده. (۲)

په شيعه ګ نو کښې د فرقه زيديه او قاسميه وينا ده چه د اوبو په موجودګئ کښې اکتفاء بالاحجار صحيح نه دې. (۳)

امام بخاری رحمه الله ترجمه مطلق ذکر کولو سره د دويم قول ترديد کړې دې او دا ئې ثابته کړې ده چه رسول اللهﷺ په کانړو باندې اکتفاء کړې ده او په دې روايت کښې هيڅ تعرض نشته چه اوبه وې يا نه وې، لهذا چه کله د اوبو د نيشت والی قيد په روايت کښې نشته نو استنجاء بالاحجار به مطلقا جائز وی. (٤)

حضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائی چه زما په نزد زياته غوره دا ده چه امام بخاری رحمه الله دا بيانول غواړی چه استنجاء په حقيقت کښې مطهر او امر تعبدی دې لکه چه شوافع او جنابله وائی. يا مقلل نجاست او امر معقول دې. لکه چه احناف او مالکيان وائی. (۵)

...

---

۱) فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۵
۲) اوګورئ : رد المحتار ج ۱ ص ۲٤۸
۳) المجموع شرح المهذب ج ۲ ص ۱۰۱
٤) فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۵، وعمدة القاری ج ۲ ص ۲۹۸
۵) الکنز المتواری ج ۳ ص ۳۸

۱۵۴ : ﴿ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَكِّيُّ قَالَ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدِ بْنِ عَمْرٍو الْمَكِّيُّ عَنْ جَدِّهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (۱) قَالَ اتَّبَعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَخَرَجَ لِحَاجَتِهِ فَكَانَ لَا يَلْتَفِتُ فَدَنَوْتُ مِنْهُ فَقَالَ ابْغِنِي أَحْجَارًا أَسْتَنْفِضْ بِهَا أَوْ نَحْوَهُ وَلَا تَأْتِنِي بِعَظْمٍ وَلَا رَوْثٍ فَأَتَيْتُهُ بِأَحْجَارٍ بِطَرَفِ ثِيَابِي فَوَضَعْتُهَا إِلَى جَنْبِهِ وَأَعْرَضْتُ عَنْهُ فَلَمَّا قَضَى أَتْبَعَهُ بِهِنَّ ﴾ [۳٦٤٧]

رجال الحديث

① **احمد بن محمد المكى** : دا احمد بن محمد بن الوليد بن عقبه مكى ازرقى رحمه الله دي، د هغه كنيت ابو الوليد يا ابو محمد دي، دا د صاحب اخبار مكه علامه ابو الوليد محمد بن عبدالله ازرقى رحمه الله نيكه دي. (۲)

هغه د امام مالك، سفيان بن عيينه، عمرو بن يحيى سعدى او امام شافعى رحمهم الله نه روايت حديث كوي.

د هغه نه په روايت كونكو كښې امام بخارى، امام ابو حاتم رازى، يعقوب فسوى، عبدالله بن احمد بن ابى ميسره، او د هغه نمسي ابو الوليد ازرقى رحمهم الله وغيره حضرات دي. (۳)

امام ابن سعد رحمه الله فرمائي : ﴿ثقة، كثير الحديث﴾ (٤)

امام ابو حاتم رازى، ابو عوانه اسفرائينى، حافظ ذهبى او حافظ ابن حجر رحمهم الله فرمائي ﴿ثقة﴾ (۵)

امام ابن حبان رحمه الله هغه په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دي؛ (٦)

په ۲۱۷ هجرى يا ۲۲۲ هجرى كښې وفات شوې دې، بعض حضراتو ۲۱۲ هجرى ته د وفات كال وئيلې دې، كوم چه په ظاهره كښې صحيح نه دې. (۷) **والله اعلم**

تنبيه : هم د هغه په نوم كښې شريك يو بل راوى دې، د هغه نوم احمد بن محمد بن عون القواس دې، هغه د بقى بن مخلد، مطين او محمد بن على الصائغ وغيره استاذ دې.

---

۱) قوله : عن ابى هريرة الحديث اخرجه البخارى فى صحيحه ج ۱ ص ۵٤٤ كتاب المناقب. باب ذكر الجن رقم ۳۸٦۰

۲) اوګورئ تهذيب الكمال ج ۱ ص ٤۸۰

۳) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ تهذيب الكمال ج ۱ ص ٤۸۰، ٤۸۱

٤) الطبقات لابن سعد ج ۵ ص ۵۰۲

۵) الجرح والتعديل ج ۲ ص ٢٦، رقم ۱۲۸، وتهذيب الكمال ج ۱ ص ٤۸۱، والكاشف ج ۱ ص ۲۰۳، رقم ۸٤ وتهذيب التهذيب ج ۱ ص ۷۹، رقم ۱۳٤، وتقريب التهذيب ص ۸٤، رقم ۱۰٤

٦) الثقات لابن حبان ج ۸ ص ۷، رقم ۱۲۰۳۵

۷) اوګورئ : الكاشف ج ۱ ص ۲۰۳، رقم ۸٤، وتقريب التهذيب ص ۸٤، رقم ۱۰٤، و الثقات لابن حبان ج ۸ ص ۷، رقم ۱۲۰۳۵، وطبقات الشافعية الكبرى ج ۲ ص ٦٤، رقم ۹

بعض حضراتو دا دواړه شخصیات یو کړې دی، خو حقیقت دا دې چه دا دواړه جدا جدا شخصیات دی. (۱) والله اعلم

② **عمرو بن یحیی بن سعید بن عمرو المکی** : دا عمرو بن یحیی بن سعید بن عمرو بن سعید بن العاص بن امیه قرشی اموی مکی رحمه الله دې، د هغه کنیت ابو امیه دې. (۲)

هغه د خپل پلار یحیی بن سعید بن عمرو او د خپل نیکه سعید بن عمرو رحمهما الله نه روایت کوی.

د هغه نه په روایت کونکو کښې سفیان بن عیینه، روح بن عباده، ابو النضر هاشم بن القاسم، احمد بن محمد ازرقی، موسی بن اسماعیل رحمهم الله وغیره دی. (۳)

امام ابن معین رحمه الله فرمائی : ﴿صالح﴾(٤)

هم دغه شان فرمائی : ﴿لاباس به﴾(۵)

امام دارقطنی رحمه الله فرمائی : ﴿ثقة﴾(۶)

ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې. (۷)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی : ﴿صالح﴾(۸)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : ﴿ثقة﴾(۹)

ابن عدی رحمه الله د هغه تذکره په خپل کتاب الکامل کښې کړې ده، خو د هغه په حق کښې ئې د ضعف څه خبره نه ده کړې، بلکه صرف دوه احادیث ئې ذکر کړې دی، چه په هغې کښې هغه متفرد دې، ظاهره ده چه دومره خبره د ضعف باعث نه شی کیدې، او حال دا چه توثیق ئې ثابت شده دې. (۱۰) رحمه الله رحمة واسعة

③ **عن جده** : دا سعید بن عمرو بن سعید بن العاص بن امیه قرشی اموی رحمه الله دې، ابو عثمان ئې کنیت دې، ابو عنبسه هم ورته وئیلې شی، په اصل کښې د مدینې منورې دې، د

---

۱) د تفصیل د پاره اوګورئ : تهذیب الکمال ج ۱ ص ۷۹، ۸۰، رقم ۱۳۵
۲) تهذیب الکمال ج ۲۲ ص ۲۹٤، رقم ٤٤٧٤
۳) د شیوخ او تلامذه د تفصیل د پاره اوګورئ : تهذیب الکمال ج ۲۲ ص ۲۹۵
٤) الجرح والتعدیل ج ۳ ص ۹۸۵، رقم ۱۱۱۹
۵) تهذیب التهذیب ج ۸ ص ۱۰٤، رقم ۱۹۹
۶) پورته حواله
۷) الثقات لابن حبان ج ۸ ص ٤۸۱، رقم ۱٤۵٤۹
۸) الکاشف ج ۲ ص ۹۱، رقم ٤۲۵۱
۹) تقریب التهذیب ص ٤۲۸، رقم ۵۱۳۸
۱۰) الکامل لابن عدی ج ۵ ص ۱۲۲، رقم ۱۲۸۸، وهدی الساری ص ٤۳۲، وتهذیب التهذیب ج ۸ ص ۱۰٤، رقم ۱۹۹

خپل پلار سره په دمشق کښې اوسیدو، د والد د قتل کیدو نه پس هغه د خپل کور والو سره عبدالملك بن مروان حجاز ته لیږلې وو، روستو دې په کوفه کښې اوسیدو. (۱)
هغه د رسول الله ﷺ نه مرسلاً روایت کوی، په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې د سیدنا عبدالله بن الزبیر، عبدالله بن عباس، عبدالله بن عمر، عبدالله بن عمرو، د خپل والد محترم عمرو بن العاص، معاویه، ابوهریره او عائشه رضی الله عنهم وغیره نه روایت حدیث کوی.
د هغه نه په روایت کونکو کښې د هغه ځامن اسحاق بن سعید، خالد بن سعید، عمرو بن سعید او نمسي عمرو بن یحیی بن سعید شامل دی، د هغوی نه علاوه پکښې اسود بن قیس، بکر بن الأسود، خالد بن سلمه، السائب او امام شعبه رحمهم الله وغیره حضرات شامل دی.(۲)

امام ابو زرعه او امام نسائی رحمهما الله فرمائی: «ثقة»(۳)
امام ابو حاتم رحمه الله فرمائی: «صدوق»(٤)
کنانی د ابو حاتم نه د هغه په باره کښې «ثقة» نقل کړې دی. (۵)
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی: «وكان ثقة، نبيلا، من كبار الأشراف»(٦)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: «ثقة»(۷)
ابن حبان رحمه الله هغه په "كتاب الثقات" کښې ذکر کړې دې. (۸) رحمه الله تعالى رحمة واسعة

④ **حضرت ابوهریره رضی الله عنه:** د حضرت ابوهریره (رض) حالات په "كتاب الایمان" کښې د "باب أمور الایمان" لاندې تیر شوی دی. (۹)

قوله: اتَّبَعتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَخَرَجَ لِحَاجَتِهِ فَكَانَ لَا يَلتَفِتُ: سیدنا ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه زه په رسول الله ﷺ پسې روان شوم، رسول الله ﷺ د خپل حاجت دپاره وتلې وو، رسول الله ﷺ به یو خوا بل خوا نه متوجه کیدو.
د نبی کریم ﷺ عادت شریف دا وو چه په تلو کښې به ئې اخوا دیخوا نه کتل، دا د حیا او وقار په وجه وو.

---

۱) اوګورئ: تهذيب الكمال ج ١١ ص ١٨، ١٩، رقم ٢٣٣٢
۲) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ: تهذيب الكمال ج ١١ ص ١٩
۳) پورته حواله
٤) الجرح والتعديل ج ٤ ص ٤٨، رقم ٢٠٩
۵) تهذيب التهذيب ج ٤ ص ٦٨، رقم ١١٥، والتعديل والتجريح للباجى ج ٣ ص ١٠٩١، رقم ١٢٨٥
٦) تاريخ الاسلام ج ٨ ص ١١٦
۷) تقريب التهذيب ص ٢٣٩، رقم ٢٣٧٠
۸) الثقات لابن حبان ج ٦ ص ٣٥٣، رقم ٨٠٦٩
۹) كشف البارى: ١١ 659

قوله: فَدَنَوْتُ مِنْهُ : زه رسول الله ﷺ ته نزدې شوم!

قوله: فَقَالَ ابْغِنِي أَحْجَارًا: رسول الله ﷺ اوفرمائیل زما دپاره کانړي راوړه یا د کانړو په لټون کښې زما مدد اوکړه!

﴿ابغنی﴾ یا خو مجرد دې او همزه وصلیه ده، د ﴿بغی یبغی﴾ معنی د طلب کولو ده او د تلاش کولو ده. وئیلې شی ﴿بغیتك الشئ، ای طلبته لك﴾ او یا دا مزید فیه یعنی د باب افعال نه دې. په دې صورت کښې به همزه قطعی وی، د دې معنی به وی: په طلب کښې مدد کول او اعانت کول. پس وئیلې شی: ﴿ابغیته الشئ: ای اعنته علی طلبه﴾ یعنی ما د هغه په طلب کښې معاونت اوکړو. (۱)

دلته اګر چه په دواړه طریقو لوستلې شوې دی، خو په مجرد سره لوستل ئې اولی دی، ځکه چه د اسماعیلی په روایت کښې د ﴿ائتنی﴾ الفاظ راغلې دی. (۲)

قوله: أَسْتَنْفِضْ بِهَا: چه زه په هغه کانړو او لوټو باندې استنجاء اوکړم.

قزاز رحمه الله فرمائی چه ﴿استنفاض﴾ د ﴿نفض﴾ نه اخستلې شوې دې. د دې معنی یو څیز ته د حرکت ورکولو او سنډلو ده، چه د هغې دپاسه نه دوړه پاسیږی. دلته د ﴿استنفض﴾ په ځائې ﴿استنظف﴾ کیدل پکار دی، خو روایت ﴿استنفض﴾ دې. (۳)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ﴿استنفض﴾ چه کوم په روایت کښې راغلې دې هغه بالکل صحیح دې، پس په قاموس کښې دی ﴿استنفضه: استخرجه وبالحجر استنجی﴾ (٤) او په حقیقت کښې د مطرزی د کلام نه اخستلې شوې دې پس هغه فرمائی!

﴿الاستنفاض: الاستخراج، ویکنی به عن الاستنجاء، ومنه حدیث ابن مسعود: ائتنی بثلاثة احجار استنفض بها، والقاف والصاد غیر المعجمة تصحیف﴾ (۵)

یعنی د استنفاض معنی د یو څیز ویستل دی او په دې سره د استنجاء طرف ته اشاره ده، دا په استنقص قاف او صاد مهمله سره لوستل تصحیف او غلطی ده. (۶)

قوله: أَوْ نَحْوَهُ: یا ئې د دې په شان اوفرمائیل!

---

۱) اوګورئ: تاج العروس ج ۳۷ ص ۱۸۱
۲) فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۶
۳) پورته حواله
٤) القاموس المحیط ص ٤۸۶، مادهٔ نقض
۵) المغرب ج ۲ ص ۳۱۹
۶) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۶

د اسماعیلی په روایت کښې د ﴿ استنجی ﴾ الفاظ دی، په دې وجه کیدې شی چه د ﴿ نحوه ﴾ نه هم دا مراد وی. او یو راوی دا په تردد سره روایت کړې وی. (۱)

قوله: وَلَا تَأْتِنِي بِعَظْمٍ وَلَا رَوْثٍ: او هډوکې او غوشیان مه راوړه!
رسول الله ﷺ چه کله دا اوفرمائیل چه زما دپاره کانړی راوړه نو فورا ئې ورسره دا هم اووې چه هډوکې او غوشیان مه راوړه! کیدې شی چه ابوهریره رضی الله عنه دا خیال کړې وو چه د کانړی ذکر هسې د مثال دپاره کړې شوې دې، کینې هر اوچ څیز مراد دې، رسول الله ﷺ د دې وهم د دفع کولو دپاره ﴿ ولاتاتنی بعظم ولا روث ﴾ اوفرمائیل.
د دې نه په طور د مفهوم معلومه شوه چه د دې نه علاوه په باقی ټولو څیزونو سره استنجاء کیدې شی، په دې کښې د اهل ظواهر تردید کیږی چه وائی چه د استنجاء بالجامد جواز صرف د حجر سره مخصوص دې، د دې نه علاوه په باقی جامدات سره استنجاء جائز نه ده.
سیدنا ابوهریره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کړی دی!
﴿ نهی ان یستنجی بروث او عظم، وقال انهما لا یطهران ﴾ (۲)
یعنی رسول الله ﷺ په غوشیانو یا هډوکی سره د استنجاء کولو نه منع فرمائیلې ده، او فرمائیلې ئې دی چه دا دواړه څیزونه پاکول نه کوی.
امام دارقطنی رحمه الله د دې حدیث د نقل کولو نه پس فرمائی: ﴿ اسناده صحیح ﴾ (۳)
محقق ابن الهمام رحمه الله دې روایت ته کتلو سره دا خبره لیکلې ده چه د دې نه معلومیږی چه په کومو څیزونو سره استنجاء کولې شی، مثلا کانړی هغه مطهر دی، څکه چه که مطهر نه وې. نو په دې سره به د استنجاء اجازت نه شو ورکولې. (٤)
خو د دې په سند کښې سلمه بن رجاء راوی دې. (۵)
امام ابن عدی رحمه الله په الکامل کښې هم د هغه د ترجمې د لاندې دا روایت ذکر کړې دې او لیکلې ئې دی: ﴿ ولسلمه بن رجاء غیر ما ذکرت من الحدیث، واحادیثه افراد وغرائب، ویحدث عن قوم باحادیث لا یتابع علیه ﴾ (۶)
یعنی د سلمه بن رجاء د ذکر شوې احادیثو نه علاوه هم څه روایتونه دی، د هغه احادیث غریب او د افرادو د قبیل نه دی، دې د مختلف خلقو نه داسې احادیث راوړی چه د هغوی متابعت نه شی کولې

---

۱) پورته حواله
۲) سنن الدارقطنی ج ۱ ص ۸۸، کتاب الطهارة، باب الاستنجاء رقم ۱۵۲ .
۳) پورته حواله
٤) فتح القدیر ج ۱ ص ۲۱٤، فصل فی الاستنجاء
۵) اوګورئ: سنن الدارقطنی ج ۱ ص ۸۸، کتاب الطهارة، باب الاستنجاء رقم ۱۵۲
۶) الکامل لابن عدی ج ۳ ص ۳۳۲

امام یحیی بن معین رحمه الله فرمائی: ﴿لیس بشیء﴾(۱)
امام نسائی رحمه الله فرمائی: ﴿ضعیف﴾(۲)
امام دارقطنی رحمه الله فرمائی: ﴿ینفرد عن الثقات باحادیث﴾(۳)
خو امام ابو زرعه رحمه الله فرمائی: ﴿صدوق﴾(٤)
امام ابو حاتم رحمه الله فرمائی: ﴿مابحدیثه باس﴾(۵)
ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښ ذکر کړې دې. (۶)
حافظ ذهبی رحمه الله هغه په خپل کتاب من تکلم فیه وهو موثق کښ ذکر کړې دې. (۷)
دې ټولو اقوالو باندې نظر کولو نه پس وئیلې کیدې شی چه د هغه دا حدیث د حسن درجې نه ښکته نه دې.

صرف په کاڼړی سره استنجاء کولې شی یا هر نجاست لرې کونکی باندې استنجاء صحیح ده؟: دلته یوه مسئله واورئ، ایا کوم څیزونه چه جامد وی او نجاست لرې کونکې وی ایا په هغې ټولو سره استنجاء کیدې شی یا که صرف په کاڼړی سره به کولې شی؟
د داؤد ظاهری طرف ته نسبت کولې شی چه صرف په حجر سره جائز ده، ځکه چه په حدیث کښ صرف په حجر سره استنجاء کول مذکور دی.
جمهور علماء کرام فرمائی چه د عظم او روث نه علاوه چه کوم څیزونه طاهر او قالع للنجاسة وی، په هغه ټولو سره استنجاء جائز ده، خو روث او عظام یا د هغې نه علاوه چه کوم څیزونه د هغې په حکم کښ وی، په هغې سره استنجاء جائز نه ده. (۸)
د جمهورو دلیل حدیث الباب دې چه په هغې کښ رسول الله ﷺ اول اوفرمائیل: ﴿ابغنی احجارا، استنفض بها﴾ یعنی زما دپاره د استنجاء دپاره کاڼړی راوړه. بیا ئې د دې نه روستو اوفرمائیل: ﴿ولاتاتنی بعظم ولا روث﴾ یعنی هډوکې او غوشیان مه راوړه!
هم دغه شان په بل حدیث کښ دی! ﴿کان یامر بثلاثة احجار، ونهی عن الروث والرمة﴾ (۹)

---

۱) الجرح والتعدیل ج ٤ ص ۱۶۰، رقم ۷۰۵
۲) الضعفاء للنسائی ص ٤۷، رقم ۲٤۲، تهذیب السنن ج ٤ ص ۱۲۷، رقم ۲٤۸
۳) پورته حواله
٤) الجرح والتعدیل ج ٤ ص ۱۶۰، رقم ۷۰۵
۵) پورته حواله
۶) الثقات لابن حبان ج ۸ ص ۲۸۶، رقم ۱۳٤۷۳
۷) ذکر من تکلم فیه وهو موثق ص ۹۲ رقم ۱٤۲
۸) اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ۲ ص ۱۱۳
۹) سنن النسائی، کتاب الطهارة، باب النهی عن الاستطابة رقم ٤۰

يعنى رسول اللهﷺ اوفرمائيل چه په دې کانړو باندې استنجاء کول پکار دی او په غوشيانو او زړو هډوکو باندې ئې د استنجاء نه منع اوفرمائيله.
د دې احاديثو نه صفا معلوميږی چه د حجر نه علاوه په نورو جامد څيزونو باندې استنجاء کيدلې شی، ګينې د روث او عظام نه د منع کولو هيڅ معنی نه پاتې کيږی.
هم دغه شان ابن مسعودؓ چه د رسول اللهﷺ دپاره کله دوه کانړی او د سپياکې ټکړه راوړه نو رسول اللهﷺ کانړی واخستل او سپياکه ئې ګزار کړه او وې فرمائيل: ﴿ هذا ركس ﴾(۱) چه دا ناپاکه ده.
د دې نه معلومه شوه چه د دې د رد کولو وجه د دې ناپاکی ده، نه غير حجر کيدل. (۲)
په کومو څيزونو سره چه استنجاء جائز نه ده د هغې علت : روث او عظام او کوم څيزونه چه د دې په حکم کښې دی په هغې سره استنجاء جائز نه ده د دې علت دا بيان کړې شوې دې چه دا طعام الجن دې، په احاديثو باندې د نظر کولو نه معلوميږی چه عظم طعام الجن دې او روث د هغوی د څاروو خوراك دې، هم دغه شان د ابو نعيمؒ د روايت نه معلوميږی چه بعض روثات خو طعام الجن دې او بعض د هغوی د څاروو دپاره دی.
د دې نه معلومه شوه چه څنګه انسان په يو مطعوم څيز سره استنجاء نه کوی، هم دغه شان د جنات او حيوانات په مطعوماتو سره هم استنجاء کول ممنوع دی.
هم دغه شان چه کوم څيز مطعوم وی هغه قيمتی وی، لهذا د دې ځائې نه دا نتيجه راوتله چه کوم قيمتی څيز وی په هغې سره به استنجاء نه شی کولې.
بله دا چه په هډوکی سره بعض وخت د زخمی کيدو خطره وی، د دې نه معلومه شوه چه کوم څيزونه مضر دی په هغې سره استنجاء کول جائز نه دی.
بيا بعض وخت په هډوکی کښې غوړوالې وی، په هغې کښې د نجاست د جذب کولو يا ختمولو خاصيت نه وی، لهذا داسې څيز چه په هغې سره نجاست نه ختميږی په هغې سره استنجاء صحيح نه ده.
هم دغه شان "روث" د جمهور علماء کرامو په نزد ناپاك دې نو د دې نه معلومه شوه چه کوم څيز ناپاك وی په هغې سره استنجاء کول جائز نه دی. (۳)
د عظم او روث د جناتو د خوراک کيدو تحقيق : اوس شاته ذکر راغلې دې چه د عظم او روث د راوړلو نه چه رسول اللهﷺ منع فرمائيلې ده، د دې علت د هغه څيزونو د د جناتو خوراك کيدل دی، پس په دې کښې په بعض طرق کښې منقول دی چه کله رسول اللهﷺ ﴿ ابغنى احجارا استنفض بها، ولا تاتنى بعظم ولا روث ﴾ اوفرمائيل نو سيدنا ابوهريرهؓ تپوس اوکړو ﴿ ما بال العظم والروثة ﴾ يعنى د عظم او د روث د ممانعت څه وجه ده؟ رسول اللهﷺ ارشاد اوفرمائيلو:

---

۱) صحيح البخاری ج ۱ ص ۲۷، کتاب الوضوء، باب لا يستنجى بروث رقم ۱۵۶
۲) اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ۲ ص ۱۱۳
۳) د تفصيل دپاره اوګورئ: فتح البارى ج ۱ ص ۲۵۶

﴿ هما من طعام الجن، وانه اتانى وفد جن نصيبين، ونعم الجن، فسالونى الزاد، فدعوت الله لهم لا يمروا بعظم ولا بروثة الا وجدوا عليها طعاما ﴾ (١)
يعنى دا دواړه څيزونه د جناتو خوراك دي، ماته د مقام نصيبين د جناتو وفد راغلو او دا ډېر ښه جنات دي! هغوى زما د خپل خوراك په باره كښې تپوس اوكړو نو ما د الله پاك نه دعا اوكړه چه دا خلق چه كله هم په يو هډوكى يا روث باندې تيريږى نو په هغې دې هغوى ته خوراك ملاويږى.
خلاصه دا ده چه جناتو د رسول الله ﷺ نه د خوراك سوال كړې وو، رسول الله ﷺ د هغوى دپاره دعا كړې وه چه په كوم عظم او روث باندې چه دوى تيريږى په هغې باندې دې خوراك بيا مومي، يعنى په هډوكى باندې غوښه او په روث كښې دې ورته غله يا ګيا ملاويږى، حاصل دا چه عظم او روث د جناتو خوراك دې.
په دې روايت كښې خو اجمال دې، چه د هغې نه په ظاهره دا معلوميږى چه عظم او روث دواړه د جناتو خوراك دې، خو كيدې شى چه عظم طعام جن وى او روثه د دواب جن خوراك وى.
امام مسلم رحمه الله د سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه يو روايت نقل كړې دې، چه په هغې كښې د جناتو د وفد سره د ملاقات ذكر دې، په هغې كښې دا هم دى چه!
﴿ لكم كل عظم ذكر اسم الله عليه، يقع فى ايديكم اوفر مايكون لحما، وكل بعرة علف لدوابكم ﴾ (٢)
يعنى هر هغه هډوكې چه په هغه باندې د الله پاك نوم اخستلې شوې وى هغه به ستاسو لاسونه ته د غوښې نه ډك راځى او هره سوټه به ستاسو د څاروو دپاره ګيا جوړيږى. والله اعلم
د مسلم شريف اود ترمذى شريف د روايت تعارض اود هغې دفعيه : اوس چه مونږ د مسلم كوم روايت ذكر كړې دې په دې كښې الفاظ داسې دى چه ﴿ لكل عظم ذكر اسم الله عليه ﴾ (٣) خو دا روايت امام ترمذى رحمه الله راوړې دې، په هغې كښې ﴿ كل عظم لم يذكر اسم الله عليه ﴾ (٤) الفاظ راغلى دى.
د اول حديث نه معلوميږى چه د جناتو خوراك هغه هډوكى دى چه په هغې باندې بسم الله لوستلې شوې وى، يعنى مذبوحه څاروى وى او د دويم حديث نه معلوميږى چه هغه هډوكى به خوراك جوړيږى چه په هغې باندې بسم الله نه وى لوستلې شوې، يعنى غير مذبوحه مردار څاروې وى، دغه شان د يو روايت په الفاظو كښې اختلاف راغلو.
اصل خبره دا ده چه د دې روايت مدار په داؤد بن ابى هند باندې دې، هغه د شعبى نه نقل

١) صحيح البخارى ج ١ ص ٥٤٤، كتاب المناقب، باب ذكر الجن رقم ٣٨٦٠
٢) صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب الجهر بالقراءة فى الصبح والقراءة على الجن، رقم ١٠٠٧
٣) پورته حواله
٤) جامع الترمذى، ابواب التفسير باب ومن سورة الاحقاف ٣٥٦٧

كوى، هغه د علقمه نه او هغه د ابن مسعود رضی الله عنه نه.

بيا د داؤد بن ابى هند نه روايت كونكي عبد الاعلى بن عبد الاعلى، ابن ابى زائده، وهيب بن خالد، يزيد بن زريع، اسماعيل بن ابراهيم، ابن ابى عدى او بشر بن المفضل دي.

د دوى نه ابن ابى زائده خو صرف ﴿كل عظم ذكر اسم الله عليه﴾ نقل كوى، نور الفاظ نه نقل كوى.(۱)

او د عبد الاعلى نه محمد بن مثنى جدا جدا روايتونو كښې دواړو طريقو سره نقل كوى. (۲) هم دغه شان د اسماعيل بن ابراهيم نه هم دواړه قسم الفاظ منقول دى. (۳)

د هغه نه علاوه وهيب بن خالد. يزيد بن زريع، ابن ابى عدى او بشر بن مفضل صرف د ﴿كل عظم لم يذكر اسم الله عليه﴾ الفاظ نقل كوى. (٤) نور الفاظ نه نقل كوى.

د امام مسلم رحمه الله د طرز نه معلوميږى چه هغه صرف د ﴿كل عظم ذكر اسم الله عليه﴾ الفاظ راجح ګڼړى، په دې وجه هغه دټولو نه اول دا حديث د ﴿محمد بن المثنى، عن عبد الاعلى بن عبد الاعلى، عن داؤد بن ابى هند، عن الشعبى، عن علقمة، عن ابن مسعود﴾ په طريق سره مفصلا نقل كړې دې.

د دې نه روستو ئې د ﴿عن على بن حجر، عن اسماعيل بن ابراهيم، عن داؤد﴾ په طريق سره هم دا روايت نقل كړې دې نو د دې الفاظ ئې مختصرا ذكر كړل او په اول سند ئې احاله اوكړه، خو په دواړو كښې ئې لږ شان فرق اوكړو چه په اول روايت كښې پوره حديث مرفوع وو، او په دويم روايت كښې ئې يوه حصه موقوف منقول ده، كومه چه امام مسلم رحمه الله ﴿وقال الشعبى﴾

---

۱) د ابن ابى زائده روايت ابن خزيمه په خپل صحيح كښې ج ۱ ص ٤٤، كتاب الوضوء، باب ذكر العلة التى من اجلها زجر عن الاستنجاء بالعظام والروث، رقم ۸۲ كښې، بيهقى په دلائل النبوة كښې ج ۲ ص ۲۲۹، جماع ابواب المبعث، باب ذكر اسلام الجن كښې، ابن حبان په خپل صحيح ج ٤ ص ۲۸۰، كتاب الطهارة، باب الاستطابة رقم ۱٤۳۲ كښې او امام احمد په خپل مسند ج ۱ ص ٤۳٦، رقم ٤١٤٩ كښې تخريج كړې دې.

۲) د عبد الاعلى ﴿كل عظم ذكر اسم الله عليه﴾ روايت په صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب الجهر بالقراءة فى الصبح والقراءة على الجن، رقم ۱۰۰۷ كښې او د هغوى روايت ﴿كل عظم لم يذكر اسم الله عليه﴾ په مستخرج ابى نعيم على صحيح مسلم ج ۲ ص ٦۹، كتاب الصلاة، باب كيف كان سبب النزول ﴿قل اوحى الى ...﴾ رقم ۹۹٦ كښې كتلې كيدې شى.

۳) د اسماعيل بن ابراهيم روايت ﴿كل عظم ذكر اسم الله عليه﴾ په صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب الجهر بالقراءة فى الصبح والقراءة على الجن، رقم ۱۰۰۸، مسند احمد ج ۱ ص ٤۳٦، رقم ٤١٤٩، او په دلائل النبوة ج ۲ ص ۲۲۹ كښې كتلې كيدې شى، او د هغه بل روايت ﴿كل عظم لم يذكر اسم الله عليه﴾ سنن الترمذى (ابواب التفسير، باب ومن سورة الاحقاف رقم ۳۵٦۷، كښې تخريج كړې شوې دې.

٤) د وهيب. يزيد. ابن ابى عدى او بشر بن المفضل روايتونه په مستخرج ابى نعيم ج ۲ ص ٦۹ كښې تخريج كړې شوې دى.

وئيلو سره واضحه كړې ده. (۱)

اوس که په ﴿ ذكر اسم الله عليه ﴾ او ﴿ لم يذكر اسم الله عليه ﴾ كښې د هغوى په نزد اختلاف معتبر وې نو هغوى چه څنګه د نورو اختلافاتو طرف ته اشاره كړې ده، دې اختلاف طرف ته به ئې هم اشاره كړې وې، د دې نه معلومه شوه چه هغوى صرف ﴿ كل عظم ذكر اسم الله عليه ﴾ اوريدلې دې او هم دا د هغوى په نزد راجح دې.

د دې دواړو روايتونو دتعارض په سلسله كښې د ټولو نه اول ابن العربى رحمه الله كلام فرمائيلې دې پس هغه فرمائى : ﴿ فاما المومن منهم فطعامه ماذكر اسم الله عليه والروث علف دوابهم، واما الكافر فطعامه مالم يذكر اسم الله عليه ﴾ (۲)

يعنى د جناتو نه د اهل ايمان طعام هغه دې چه په هغې باندې د الله پاك نوم اخستلې شوې وى او روث د هغوى د څاروو ګيا ده، او په هغوى كښې د كفارو طعام هغه دې چه په هغه باندې د الله پاك نوم اخستلې شوې وى.

د ابن العربى تلميذ ابو القاسم سهيلى رحمه الله دا قول نقل كولو سره فرمائى!

﴿ وهذا قول صحيح، تعضده الاحاديث ﴾ (۳)

يعنى دا قول صحيح دې، احاديث د دې تائيد كوى.

علامه بدر الدين شبلى صاحب په اكام المرجان او امام نووى رحمه الله وغيره هم دغه شان جمع كړې ده. (٤)

صاحب د سيرت حلبيه هم دا تعارض هم دغه شان لرې كړې دې. (۵)

خو حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائى چه دا جمع او تطبيق مفيد نه دې، ځكه چه دا حديث يو دې او د الفاظو اختلاف د راويانو په اختلاف باندې بناء دې، لهذا يا خو به داسې وئيلې شى چه د مسلم شريف روايت د ترمذى په روايت باندې ارجح دې، يا دې بيا د محدثينو په يو بل اوصول باندې عمل اوكړې شى. چه د هغې نه په داسې مواقع باندې د تطبيق كار اخستلې شى او هغه اصول دې : ﴿ حفظ كل مالم يحفظه الاخر ﴾ يعنى بعض وخت داسې كيږى چه رسول الله ﷺ دوه خبرې ارشاد فرمائيلې وى، يو راوى ته يوه خبره ياد پاتې شوې وى، هغه هغه روايت كړې وى، بل راوى ته بله خبره ياده پاتې شوې وى نو هغه ئې روايت كړې وى، په حقيقت كښې دواړه خبرې په خپل خپل ځائې صحيح وى.

دلته به هم رسول الله ﷺ دا ارشاد فرمائيلې وى چه په هډوكى باندې كه د الله پاك نوم

---

۱) صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب الجهر بالقراءة فى الصبح والقراءة على الجن، رقم ۱۰۰۷، ۱۰۰۸

۲) عارضة الاخوذى ج ۱۲ ص ۱٤۳، ۱٤٤، ابواب التفسير، تفسير سورة الاحقاف

۳) الروض الانف ج ۱ ص ۲٦۳، خروج النبى ﷺ الى الطائف، فصل فى ذكر وفد جن نصيبين

٤) اوګوره : اكام المرجان ص ۵٦، وشرح النووى على صحيح مسلم ج ٤ ص ۱۷۰

۵) السيرة الحلبيه ج ۱ ص ۳٦۱، و ۳٦۲، باب ذكر خروج النبى ﷺ الى الطائف

واخستلې شي يا نه؛ په دواړو صورتونو كښې به هغه د جناتو خوراك وی، يو راوی اوله خبره روايت كړه او بل راوی بله خبره.

حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائی چه د تطبيق بين الروايات په سلسله كښې د ﴿حفظ كل مالم يحفظه الآخر﴾ دا اصول ډير مفيد دي، خو محدثينو دا د اصول حديث په كتابونو كښې نه دي ذكر كړي، خو حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح البارى كښې په مختلف مقاماتو كښې د دې ذكر كړيدې او د دې نه ئې كار اخستلې دې. (۱)

په ممنوع څيزونو باندې د استنجاء حكم : په كومو څيزونو مثلا عظم او روثه باندې د استنجاء نه منع راغلې ده، آيا په هغې باندې به د استنجاء كولو په صورت كښې استنجاء اوشى يا نه؟

د احنافو، مالكيانو او په حنابله كښې به د ابن تيميه رحمه الله په نز د تحريم باوجود استنجاء اوشى. او د شوافعو او حنابله په نزد به استنجاء نه كيږى.

شوافع او حنابله په حديث شريف كښې وارد نهى د تحريم دپاره منى.

احناف وائى چه هغه ټول څيزونه كوم چه جامد وى او نجاست ختمونكې وى، په هغې سره به د استنجاء سنت ادا شى، خو د كومو څيزونه چه په احاديثو كښې ممانعت راغلې دې په هغې سره استنجاء مكروه تحريمى ده، ځكه چه د هغې په استعمال كښې د حديث مخالفت دې، خو چونكه د استنجاء حقيقت قلع نجاست دې او هغه په دې سره حاصليږى په دې وجه استنجاء خو ادا شوه، خو د نهى د مخالفت د وجې نه د كراهت تحريمى ارتكاب لازم شو.

(۲) والله اعلم بالصواب

قوله: فَأَتَيْتُهُ بِأَحْجَارٍ بِطَرَفِ ثِيَابِي فَوَضَعْتُهَا إِلَى جَنْبِهِ وَأَعْرَضْتُ عَنْهُ: پس ما هغوى ته په خپله لمن كښې كاڼړى راوړل او د هغوى خواته مې كيخودل او د هغه ځائې نه مې خپل مخ واړولو!

قوله: فَلَمَّا قَضَى أَتْبَعَهُ بِهِنَّ: چه كله رسول الله صلى الله عليه وسلم فارغ شو نو هغه ئې استعمال كړل.

قوله: قضى : اى قضى حاجته: ﴿اتبعه﴾ : د باب افعال نه دې، همزه قطعى ده، دا د استنجاء نه كنايه ده. والله اعلم

بَابُ لَا يُسْتَنْجَى بِرَوْثٍ

د مخكښې باب سره مناسبت : په دواړو بابونو كښې مناسبت بالكل واضح دې، په مخكښې باب كښې دا بيان كړې شوې وه چه په كومو كومو څيزونو سره استنجاء كول پكار دى او په

---

۱) معارف السنن ج۱ ص ۱۲۶، ابواب الطهارة، باب كراهية ما يستنجى به

۲) د تفصيل دپاره اوګورئ: البحر الرائق ج ۱ ص ۲۵۵، وحاشية الدسوقى ج ۱ ص ۱۱۴، والمغنى ج ۱ ص ۱۱۶

كومو څيزونه سره نه، په دغه ممنوعه څيزونو كښې د روث ذكر هم كړې شوې وو، اوس امام بخاري رحمه الله صراحة په دې باندې باب منعقد كړو. (۱)

مقصد ترجمة الباب : د امام بخاری رحمه الله مقصد غالبا هم دا دې چه ﴿ روث ﴾ باندې استنجاء كول صحيح نه ده.

مونږ شاته په دې سلسله كښې د مذاهبو تفصيل بيان كړې دې، د هغې حاصل دا دې چه حنابله او شافعيه په دې باندې د استنجاء د عدم صحت قائل دی، او احناف او مالكيان په كراهت تحريمى سره د دې خبرې قائل دی چه استنجاء به ئې صحيح شى.

۱۵۵: ﴿ حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ لَيْسَ أَبُو عُبَيْدَةَ ذَكَرَهُ وَلَكِنْ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْأَسْوَدِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ (۲) يَقُولُ أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغَائِطَ فَأَمَرَنِي أَنْ آتِيَهُ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ فَوَجَدْتُ حَجَرَيْنِ وَالْتَمَسْتُ الثَّالِثَ فَلَمْ أَجِدْهُ فَأَخَذْتُ رَوْثَةً فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَأَخَذَ الْحَجَرَيْنِ وَأَلْقَى الرَّوْثَةَ وَقَالَ هَذَا رِكْسٌ ﴾

رجال الحديث

① **ابو نعيم** : دا مشهور محدث امام ابو نعيم الفضل بن دكين الملائى الكوفى الاحول رحمه الله دې. د هغه حالات په كتاب الايمان كښې د باب فضل من استبراء لدينه د لاندې تير شوې دی.(۳)

② **زهير** : دا زهير بن معاويه بن حديج بن الرحيل بن زهير بن خيثمه جعفى كوفى رحمه الله دې، د هغه حالات هم په كتاب الايمان كښې د باب الصلاة من الايمان د لاندې تير شوې دی. (٤)

③ **ابى اسحاق** : دا ابو اسحاق عمرو بن عبدالله بن عبيد سبيعى كوفى رحمه الله دې، د هغه حالات هم د ذكر شوې كتاب او باب د لاندې تير شوې دی. (۵)

④ **عبدالرحمن بن الاسود** : دا عبد الرحمن بن الاسود بن يزيد بن قيس نخعى كوفى رحمه الله دې. د هغه كنيت ابو حفص دې، بعض حضراتو ئې ابوبكر كنيت بيان كړې دې. (۶)

هغه د سيدنا عمر رضي الله عنه زمانه موندلې ده، هغه د سيدنا انس، ابو الشعثاء، عبدالله بن الزبير، عائشه رضي الله عنهم، علقمه بن قيس او محمد بن زيد رحمهم الله وغيره نه روايت حديث كوى.

---

۱) عمدة القارى ج ۲ ص ۳۰۱

۲) قوله عبدالله الحديث اخرجه النسائى فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب الرخصة فى الاستطابة بحجرين، رقم ٤۲. والترمذى فى جامعه، فى ابواب الطهارة، باب الاستنجاء بالحجرين، رقم ۱۷، وباب الرخصة فى الاستطابة بحجرين رقم ٤۲، وابن ماجة فى سننه فى كتاب الطهارة وسننها، باب الاستنجاء بالحجارة والنهى عن الروث والرمة، رقم ۳۱٤

۳) كشف البارى ج ۲ ص ۶۶۹

٤) كشف البارى ج ۲ ص ۳۶۷، ۳۷۰

۵) كشف البارى ج ۲ ص ۳۷۰ تا ۳۷۵

۶) اوګورئ: تهذيب الكمال ج ۱۶ ص ۵۳۰

هغه نه په روایت کونکو کښ امام اعمش، ابو اسحاق السبیعی، ابو اسحاق شیبانی، اسماعیل بن ابی خالد، کلیب بن شهاب، عاصم بن کلیب، مالك بن مغول او محمد بن اسحاق رحمهم الله وغیره ډیر حضرات شامل دی. (۱)
ابن سعد رحمه الله هغه د کوفې په فقهاء کښ شمار کړې دې. (۲)

امام یحیی بن معین. امام عجلی او امام نسائی رحمهم الله فرمائی: ﴿ثقة﴾ (۳)

ابن خراش هغه ته ثقه وئیلې دې او فرمائی: ﴿من خیار الناس﴾ (٤)
ابن حبان رحمه الله په کتاب الثقات کښ ذکر کړې دې. (۵)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی: ﴿من العلماء العاملین﴾ (۶)

هم دغه شان هغه فرمائی: ﴿الفقیه الامام ابن الامام﴾ (۷)
د عبد الرحمن بن الاسود رحمه الله د عبادت مخصوص ذوق وو. مالك بن مغول د یو سړی نه نقل کړی دی چه هغه اولیدل چه عبد الرحمن بن الاسود د جمعې د مانځه نه مخکښ شپږ پنځوس رکعتونه اوکړل. (۸)
د حج دپاره لاړو، د هغه په یوه خپه کښ تکلیف پیدا شو، د بلې خپې په اسره ئې تر سحره پورې مونځ کولو او د ماسخوتن په اودس ئې د سحر مونځ اوکړو. (۹)
روژې به ئې دومره په کثرت سره نیولې چه وئیلې شی چه د هغه ژبه توره شوې وه. (۱۰)
په رمضان کښ به ئې دولس ترویحې ورکولې او د هرې ترویحې ترمینځه به ئې ځانله دولس دولس رکعتونه کول. روزانه به ئې هره شپه دریمه حصه قران لوستلو، د اختر په شپه ئې هم د جماعت کولو معمول وو او فرمائیل به ئې چه دا د اختر شپه ده. (۱۱)
د حج او د عمرې شوق او ذوق ئې دومره وو چه اتیا حجونه او عمرې ئې کړې وې او د هر یو دپاره به ئې مستقل سفر کولو. (۱۲)

---

۱) د شیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ: تهذیب الکمال ج ۱۶ ص ۵۳۰، ۵۳۱
۲) طبقات ابن سعد ج ۶ ص ۲۸۹
۳) تهذیب الکمال ج ۱۶ ص ۵۳۲
٤) پورته حواله
۵) الثقات لابن حبان ج ۵ ص ۷۸، رقم ۳۹۳۶
۶) الکاشف ج ۱ ص ۶۲۱، ۳۱٤۱
۷) سیر اعلام النبلاء ج ۵ ص ۱۱
۸) پورته حواله
۹) تهذیب الکمال ج ۱۶ ص ۵۳۲
۱۰) سیر اعلام النبلاء ج ۵ ص ۱۱
۱۱) تهذیب الکمال ج ۱۶ ص ۵۳۲
۱۲) پورته حواله

د مرګ په وخت ئې ژړل، تپوس ترې اوشو د څه د وجې نه ژاړئ؟ وې فرمائيل د قران او د مونځ په باره کښې مې افسوس دې چه حق ئې ادا نه شو، پس د تلاوت کولو دوران کښې وفات شو. (۱)

امام شعبي رحمه الله فرمائي چه علقمه، اسود او عبدالرحمن د داسې کورنئ سره تعلق ساتي کومه چه الله پاك د جنت دپاره پيدا کړې ده. (۲)

په ۹۹ هجری کښې وفات شوې دې. (۳) رحمه الله رحمة واسعة

⑤ **ابيه** : دا مشهور تابعي اسود بن يزيد بن قيس نخعي کوفي رحمه الله دې، د هغه حالات په کتاب العلم کښې د **باب من ترك بعض الاختيار مخافة ان يقصر فهم بعض الناس عنه، فيقعوا فى اشد منه** د لاندې تير شوې دی. (٤)

ابن التين رحمه الله هغه د اسود بن يزيد په ځائې الاسود بن عبد يغوث الزهری منلې دې، کوم چه صريح غلطي ده، ځکه چه اسود زهری خو مسلمان شوې هم نه وو، پاتې لا دا چه د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت اوکړی. (۵)

⑥ **عبد الله** : د سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حالات په کتاب الايمان کښې د **باب ظلم دون ظلم** د لاندې تير شوې دی. (۶)

قوله: <u>ليس ابو عبيدة ذكره، ولكن عبد الرحمن بن الاسود عن ابيه</u> : يعنی ابو عبيده دا نه دې ذکر کړې، خو عبدالرحمن بن الاسود د خپل پلار نه نقل کوی.

د ابو اسحاق د دې کلام مطلب ابن دقيق العيد رحمه الله خو دا بيان کړې دې چه هغه د ابو عبيده نه دا روايت نقل کوی. بلکه د عبدالرحمن بن الاسود نه ئې نقل کوی.

د حافظ ابن حجر رحمه الله وغيره شراح بخاری رائې دا ده چه د ابو اسحاق مطلب دا دې چه! زه اګر چه دا روايت د ابو عبيده نه هم نقل کوم، خو اوس فی الحال ئې د ابو عبيده نه نۀ روايت کوم بلکه د عبدالرحمن بن الاسود نه ئې نقل کوم.

او غالبا د دې وجه دا ده چه ابو عبيده علی الصحيح د خپل پلار سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه سمع نه ده کړې، لهذا د هغه روايت منقطع دې، د هغه انقطاع د وجې نه ئې هغه پريخودلو او په بل طريق سره، چه موصول وو روايت ئې ذکر کړو.

دا حديث د هغه رواياتو نه دې په کوم باندې چه دارقطنی وغيره ناقدين فن اعتراض کړې دې او دې ته ئې منتقد وئيلې دې.

---

۱) پورته حواله
۲) سير اعلام النبلاء ج ۵ ص ۱۲
۳) تقريب التهذيب ص ۳۶۹، رقم ۳۸۰۳
٤) کشف الباری ج ٤ ص ۵۵۳
۵) فتح الباری: ۱/۲۵۷.
٦) کشف الباری ج ۲ ص ۲۵۷

په دې حديث باندې محدثانه حيثيت سره دوه اعتراضات کړې شوې دي؛

اول اعتراض : دا دې چه د دې په سند کښې اضطراب دې؛

د دې حديث د اضطراب خلاصه دا ده چه په دې کښې مدار اسناد ابو اسحاق السبيعی دې او دا حديث د هغه ډير شاګردان روايت کوی.

① شريك، ② سفيان ثوری، ③ زهير، ④ يوسف بن ابی اسحاق، ⑤ ابو مريم، ⑥ يزيد بن ابی عطاء، ⑦ معمر، ⑧ ابو شيبه، ⑨ شعبه، ⑩ ورقاء، ⑪ سليمان بن قرم، ⑫ عمار بن رزيق. ⑬ ابراهيم الصائغ، ⑭ اسرائيل، ⑮ عبدالرحمن بن دينار، ⑯ محمد بن جابر، ⑰ صباح بن المزنی، ⑱ روح بن مسافر، ⑲ زکريا بن ابی زائده. ⑳ ابو الاحوص، ㉑ سفيان بن عيينه، ㉒ ابو سنان، ㉓ مالك بن مغول، ㉔ جريج، ㉕ علی بن صالح.

په دې حديث کښې په دوه طريقو سره اضطراب دې: يو دا چه د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه او د ابو اسحاق ترمينځه يوه واسطه ده يا دوه واسطې دي؟

زهير او شريك (په يو طريق کښې) د يوسف بن ابی اسحاق، ابو مريم، ابو حماد الحنفی او يزيد بن عطاء دوه واسطې نقل کوی، په دوی کښې د يزيد بن ابی عطاء نه سوا باقی حضرات د ابو اسحاق نه ﴿عن عبدالرحمن بن الاسود، عن ابيه، عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه﴾ نقل کوی،

او يزيد بن عطاء ﴿عن عبدالرحمن بن الاسود عن ابيه وعلقمة عن عبدالله﴾ روايت کوی.

د ذکر شوې پنځو شاګردانو نه علاوه ئې باقی ټول شاګردان يوه واسطه نقل کوی.

بيا په دې کښې اختلاف دې چه هغه يوه واسطه څوك دې؟

شريك (په بل طريق کښې) سفيان ثوری او اسرائيل (د يو طريق مطابق) دا واسطه ابو عبيده بيانوی.

معمر، ابو شيبه، شعبه، ورقاء، سليمان بن قرم، عمار بن رزيق، ابراهيم الصائغ، عبدالرحمن بن دينار، محمد بن جابر، صباح المزنی، روح بن مسافر، شريك (د دريم طريق مطابق) او اسرائيل (د دويم طريق مطابق) دا واسطه علقمه بن قيس ګڼړی.

ابو الاحوص، سفيان بن عيينه، زکريا بن ابی زائده (د يو طريق مطابق) او اسرائيل (د دريم طريق مطابق) دا واسطه عبدالرحمن بن يزيد بيانوی.

ابوسنان دا واسطه هبيره بن مريم بيانوی، او مالك بن مغول، جريج، زکريا بن ابی زائده (د دويم طريق مطابق) يوسف بن ابی اسحاق (د دويم طريق مطابق)، شريك (د څلورم طريق مطابق) او علی بن صالح دا واسطه اسود بيانوی. (۱) د لاندې نقشې نه دا خبره نوره هم ذهن ته راتلې شی؛

...

---

۱) د دې حديث د ټولو طرقو او اضطراباتو د تفصيل دپاره اوګورئ : الالزامات والتتبع علی الصحيحين للدارقطنی ۲۲۷ تا ۲۳۰، مسند عبدالله بن مسعود رضي الله عنه رقم ۹۴، والعلل الواردة فی الاحاديث للدارقطنی ج ۵ ص ۲۳ تا ۳۹

سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه

ابوعبیدة بن عبدالله بن مسعود	الاسود	الاسود وعلقمة	علقمة بن قیس	عبدالرحمن بن یزید	هبیرة بن مریم	الاسود
	عبدالرحمن بن الاسوَد	عبدالرحمن بن الاسود				
ابواسحاق	ابواسحاق	ابواسحاق	ابواسحاق	ابواسحاق	ابواسحاق	ابواسحاق
① شریك	زهیر	یزید بن عطاء	معمر	زکریا بن ابی زائده	ابوسنان	مالك بن مغول
سفیان ثوری	ابومریم		ابوشیبه	ابوالاحوص		② زکریا بن ابی زائده
① اسرائیل	② شریك		ورقاء	سفیان بن عیینه		② یوسف بن ابی اسحاق
	① یوسف بن ابی اسحاق		سلیمان بن قرم	③ اسرائیل		③ شریك
	ابوحماد الحنفی		عمار بن رزیق			علی بن صالح
			ابراهیم الصائغ			
			عبدالرحمن بن دینار			
			محمد بن جابر			
			صباح بن المزنی			
			روح بن مسافر			
			③ شریك			
			② اسرائیل			
			شعبة			

امام ترمذی رحمه الله د دې روایت د لاندې فرمائی چه د دې حدیث په باره کښې چه ما د امام بخاری رحمه الله نه تپوس اوکړو نو هغوی په خوله هیڅ جواب رانکړو، خو غالبا د هغوی په نزد د زهیر روایت اصح وو، هم په دې وجه هغوی په خپل صحیح کښې دا روایت نقل کړې دې.

هم دغه شان هغه فرمائي چه ما د امام دارمي رحمه الله نه هم تپوس اوکړو هغوی هم څه فیصله اونکړه.
امام نسائي رحمه الله هم غالبا د زهیر روایت راجح ګڼړي، هم په دې وجه هغوی هم د هغه د طریق اخراج کړې دې. (۱)
امام ترمذي رحمه الله فرمائي چه د زهیر په مقابله کښې د اسرائیل روایت زما په نزد اشبه او اصح دې، څکه چه یو خو اسرائیل د ابو اسحاق په احادیثو کښې د ټولو نه اثبت دې، بیا قیس بن الربیع د هغه متابعت هم کړې دې، د اسرائیل اثبت کیدل د دې نه هم ښکاره دی چه عبدالرحمن بن مهدي رحمه الله فرمائي چه ما د سفیان ثوري نه د ابو اسحاق په طریق سره نقل کړې شوې روایات په دې وجه پریخودل چه دا روایات ماته د اسرائیل عن ابی اسحاق په طریق سره ملاؤ شوې دی، اسرائیل هغه احادیث د سفیان په مقابله کښې اتم روایت کوی.
هم دغه شان امام ترمذي رحمه الله فرمائي چه د ابو اسحاق په روایاتو کښې زهیر زیات مضبوط راوی نه دې څکه چه د هغه سماع د ابو اسحاق نه بالکل په اخری عمر کښې شوې وه، او د ابو اسحاق حافظه په اخری عمر کښې متغیر شوې وه.
امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چه کله تاسو د زائده او زهیر نه احادیث واورئ نو بیا د بل چا نه د اوریدلو پرواه مه کوئ، خو که زهیر د ابو اسحاق نه روایت کوی نو د هغې هغه مقام نه دې. (۲)
د امام دارقطني رحمه الله په شان امام علل د دې حدیث د طرق نقل کولو نه پس لیکی !
﴿ وفی النفس منه شئ لکثرة الاختلاف عن ابی اسحاق ﴾(۳) یعنی په دې حدیث کښې کثرت اختلاف ته کتلو سره په زړه کښې یو بې اطمینانی او تردد شان دې.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه د دې حدیث څومره طرق هم دی، په هغې کښې د ائمه کرامو کلام ته کتلو سره معلومیږی چه په دې کښې راجح دوه طرق دی، یو د اسرائیل روایت، کوم چه د ﴿ اسرائیل عن ابی اسحاق عن ابی عبیدة عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ﴾ روایت دې او دویم طریق د زهیر دې کوم چه ﴿ زهیر عن ابی اسحاق عن عبدالرحمن بن الاسود عن ابیه الاسود عن عبدالله ﴾ روایت دې.
بیا د دې دواړو طرقو ترمینځه د اضطراب معامله پاتې کیږی، پس د تحقیق نه پس دا هم منتفی کیږی، څکه چه اضطراب هلته متحقق کیږی چرته چه وجوه اضطراب مساوی وی چه په هغې کښې یو ته په بل باندې ترجیح ورکول ممکن نه وی، که یو ته پکښې ترجیح ورکړې شی پس هم هغه مقدم دې، د مرجوح د وجې نه صحیح معلول کیدې نه شی.
هم د دې اضطراب د متحقق او مضر کیدو دپاره دا هم ضروری ده چه د وجوه اختلاف د

---

۱) سنن النسائي، کتاب الطهارة، باب الرخصة فی الاستطابة بحجرین، رقم (۴۲).
۲) اوګورئ : جامع الترمذي، ابواب الطهارة، باب الاستنجاء بالحجرین. رقم ۱۷، وعلل الترمذي الکبیر ص ۲۸، ۲۹، ابواب الطهارة، باب الاستنجاء بالحجرین، رقم ۱۱
۳) الالزامات والتتبع ص ۲۲۹

مساوی کیدو سره سره د قواعد محدثین مطابق جمع او تطبیق هم متعذر وی.
دلته چه څومره هم روایتونه دی په هغې کښې سوا د دې دوه طرقو نه د ټولو په سندونو کښې کلام دې، چه هر کله هم دا دوه طرق پاتې شو نو اوس مونږ د زهیر طریق ته ترجیح ورکوو، د ترجیح وجوه لاندې لیکلې شی!

① یوسف بن اسحاق بن ابی اسحاق په دې روایت کښې د زهیر متابعت کړې دې.

② هم دا روایت په معجم طبرانی کښې د «یحیی بن ابی زائده، عن ابیه عن ابی اسحاق» په سند سره نقل دې، چه په هغې کښې د زهیر متابعت موندلې شی.

③ هم دغه شان د زهیر په شان امام ابن ابی شیبه رحمه الله د «لیث بن ابی سلیم، عن عبدالرحمن بن الاسود عن ابیه عن ابن مسعود» روایت نقل کړې دې، په دې طریق کښې لیث بن ابی سلیم اګر چه ضعیف الحفظ دې، خو په استشهاد کښې د هغه روایات معتبر دی.

④ بیا که د زهیر د روایت په سیاق باندې غور اوکړې شی نو معلومیږی چه ابو اسحاق به اول «ابوعبیدة عن عبدالله» روایت کولو، بیا ئې روستو د دې نه عدول اوکړو او د «عبدالرحمن بن الاسود عن ابیه عن عبدالله» په طریق سره ئې نقل کوی، دا د دې خبرې صراحت دې چه هغه ته دواړه سندونه په ذهن کښې دی، د دې باوجود د یو سند نه اعراض کولو سره بل سند ذکر کوی، د دې مطلب دا شو چه یا خو هغه ته محسوس شوې ده چه ماته د ابو عبیده نه د دې حدیث سماع نه ده حاصله، یا ورته دا وریاد شو چه د ابوعبیده د خپل والد محترم نه سماع حاصله نه ده، یا په دې وجه هغه د ابوعبیده د سند نه اعراض اوکړو چه ابو اسحاق په هغې کښې د تدلیس نه کار اخستلې وو او په زهیر والا طریق کښې تدلیس نه وو. (د تدلیس متعلق تفصیل به وړاندې راشی) بهر حال د هغه سند نه ئې اعراض کولو سره داسې سند ذکر کړو چه په هغې کښې سند هم متصل دې او تدلیس هم پکښې نشته.

هرچه د ابوحاتم، ابو زرعه (۱) او د هغوی په اتباع کښې د امام ترمذی رحمه الله د اسرائیل روایت لره د راجح کولو تعلق دی، پس امام ترمذی رحمه الله د هغې په وجوه ترجیح کښې یوه خو دا خبره کړې ده چه د اسرائیل متابعت قیس بن الربیع کړې دې.
د دې جواب دا دې چه د زهیر متابعت قاضی شریک کړې دې او قاضی شریک د قیس بن الربیع نه اوثق دې
د دې نه علاوه مونږ دلته د اسرائیل روایت ته غیر ثابت نه وایو بلکه د زهیر روایت لره ارجح ثابتول مقصود دی.

هر چه د اسرائیل د «زهیرعن ابی اسحاق» په مقابله کښې د اثبت کیدو تعلق دې، نو که دا خبره تسلیم هم کړې شی نو بیا هم د اسرائیل په دې روایت کښې د ابو عبیده او د هغه د والد محترم سیدنا عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ترمینځه انقطاع خو مسلم ده، او حال دا چه د زهیر په

---

۱) اوګورئ: العلل لابن ابی حاتم ج ۱ ص ۵۳٤، ۵۳۵ رقم ۹۰

طريق كښې اتصال سند دې، انقطاع نشته.
خو د امام ترمذی رحمه الله يو اعتراض پاتې کيږي او هغه دا چه زهير د ابو اسحاق نه په اخرى عمر کښې سماع کړې وه، تر هغه وخته پورې د هغه په حافظه کښې تغير راغلې وو.
پس د دې جواب دا دې چه دا خبره په خپل ځائې د مسلم کيدو باوجود مونږ ته د قرائنو نه معلومه شوه چه په دې روايت کښې د ابو اسحاق نه په ﴿عن عبدالرحمن بن الاسود، عن ابيه عن عبدالله﴾ وئيلو کښې هيڅ غلطى نه ده شوې، ځکه چه متابعات او شواهد په دې گواه دى.
دلته دويم اعتراض دا کولې شى چه د ابو اسحاق سبيعى رحمه الله شمار په مدلسينو کښې دې، شاته مونږ ذکر کړل چه دا ممکنه ده چه ابو اسحاق د ابوعبيده په طريق کښې د تدليس نه کار اخستلې وى، څنګه چه هلته د تدليس امکان دې، د زهيرپه طريق کښې هم دتدليس امکان شته.
پس امام حاکم رحمه الله په خپل کتاب معرفة علوم الحديث کښې د ابو ايوب سليمان بن داؤد شاذکونى رحمه الله په حوالې سره نقل کوى، هغه فرمائى چه د زهير په طريق کښې د ابو اسحاق تعبير ﴿ليس ابوعبيدة ذکره ولکن عبدالرحمن بن الاسود عن ابيه﴾ کښې يو مخفى تدليس دې، چه هغه داسې او نه وئيل چه ﴿ولکن عبدالرحمن بن الاسود ذکره لى عن ابيه﴾ هغه فرمائى: ﴿ما سمعت بتدليس اعجب من هذا ولا اخفى﴾ ما ددې نه زيات د تعجب نه ډك اوپټ تدليس نه دې اوريدلې.(۱)
د دې جواب دا دې چه د ابو اسحاق د مدلس کيدو د وجې نه دا احتمال ضرور وو چه په دې کښې تدليس وى، خو امام بخارى رحمه الله د متابع ذکر کولو سره د دې تدليس احتمال بالکل ختم کړو، ځکه چه په هغې کښې د تحديث صراحت موجود دې پس فرمائى ﴿وقال ابراهيم بن يوسف عن ابيه، عن ابى اسحاق حدثنى عبدالرحمن﴾ د دې تحديث د صراحت نه پس د زهير د طريق نه د تدليس شبه ختميږى.
په دې باندې دا وئيلې کيدې شى چه د ابراهيم بن يوسف په باره کښې د علماء کرامو ډير کلام دې پس!

امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى! ﴿ليس بشىء﴾

امام نسائى رحمه الله فرمائى: ﴿ليس بالقوى﴾

امام جوزجانى رحمه الله فرمائى ﴿ضعيف الحديث﴾

خو څنګه چه يو طرف ته په هغه باندې کلام دې نو بل طرف ته د هغه توثيق هم کړې شوې دې پس! امام ابو حاتم رحمه الله فرمائى: ﴿حسن الحديث، يکتب حديثه﴾
امام دارقطنى رحمه الله هغه ته ثقه وئيلې دې، ابن عدى رحمه الله فرمائى:

﴿له احاديث صالحة، وليس بمنکر الحديث، يکتب حديثه﴾

---

۱) معرفة علوم الحديث ص ۱۰۹، النوع السادس والعشرون فى التدليس، معرفة المدلسين

ابن المدینی رحمه الله فرمائی: ﴿لیس کالتوی مایکون﴾(۱)
هم دا فیصله کن خبره ده چه دا د ډیر اعلی درجه قوی خو نه دې، خو د هغه د احادیثو اعتبار کیدلې شی او په متابعات او شواهد کښې هغه راوړلې کیدې شی، هم دا وجه ده چه امام بخاری رحمه الله په دې مقام کښې د هغه طریق راوړې دې، ګویا دا د دې خبرې صراحت دې چه هغه د هغه په نزد داسې دې چه د هغه د تحدیث صراحت قابل اعتبار او مقبول دې.
دلته د تدلیس د منتفی کیدو دویم دلیل دا دې چه امام اسماعیلی رحمه الله په خپل مستخرج کښې چه کله دا حدیث ذکر کړو نو د ﴿امام یحیی القطان عن زهیر﴾ په طریق سره ئې نقل کړو، په دې سره هغه د ابو اسحاق په دې حدیث کښې په تدلیس نه کولو باندې استدلال کړې دې پس هغه فرمائی: ﴿لان یحیی بن سعید لا یرضی ان یاخذ عن زهیر ما لیس بسماع لشیخه﴾ یعنی یحیی بن سعید القطان رحمه الله د زهیر نه صرف هم هغه روایت قبلوی کوم چه هغه د خپل شیخ ابو اسحاق نه اوریدلې وی، تدلیس لره نه قبلوی. (۲)
اوس سوال دا دې چه یحیی القطان داسې روایات نه اخلی د دې علم څنګه اوشو؟
د دې جواب دا دې چه یا خو به یحیی القطان په څه موقع باندې د دې تصریح کړې وی، او یا د امام اسماعیلی خپله استقراء او تتبع ده، چه د هغې په نتیجه کښې هغه دې خبرې ته اورسیدو چه هغه د تدلیس والا روایات نه قبلوی. (۳) والله اعلم

قوله: أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ يَقُولُ أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغَائِطَ: اسود بن یزید رحمه الله د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه واوریدل چه رسول الله ﷺ د قضاء حاجت دپاره تشریف یوړلو!

قوله: فَأَمَرَنِي أَنْ آتِيَهُ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ فَوَجَدْتُ حَجَرَيْنِ وَالْتَمَسْتُ الثَّالِثَ فَلَمْ أَجِدْهُ: رسول الله ﷺ ماته حکم اوکړو چه زه هغوی دپاره درې کانړی راوړم، ما دوه کانړی اومندل، دریم مې اولټولو خو او مې نه موندلو.

قوله: فلم اجده: ضمیر سره د کشمهینی په روایت کښې دې په باقی روایاتو کښې بغیر د ضمیر نه دې. (٤)

قوله: فَأَخَذْتُ رَوْثَةً فَأَتَيْتُهُ بِهَا: ما د خاشنړو یوه ټکړه واخستله او هغه مې رسول الله ﷺ ته راوړه.

---

۱) دا ټول اقوال د تهذیب التهذیب ج ۱ ص ۱۸۳ نه اخستلې شوې دی.
۲) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۸
۳) د پوره بحث دپاره اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۸، وهدی الساری ص ۳٤٦ تا ۳٤۸، الفصل الثامن من سیاق الحدیث التی انتقدها علیه حافظ عصره ابو الحسن الدارقطنی وغیره من النقاد، الحدیث الاول، من کتاب الطهارة.
٤) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۷

د ابن خزيمه په يو روايت كښې دې سره د ﴿ روثة حمار ﴾ اضافه هم ده، يعنى دا خاشنړۀ د خر وو.(۱)

تيمى رحمه الله فرمائى چه روث د اس، خچر او خر سره مختص دې. (۲)

قوله: فَأَخَذَ الْحَجَرَيْنِ وَأَلْقَى الرَّوْثَةَ: رسول الله ﷺ دواړه كانړى واخستل او خاشنړۀ ئې ګزار كړل.

قوله: وَقَالَ هٰذَا رِكْسٌ: رسول الله ﷺ اوفرمائيل: دا ركس دې.

﴿ ركس ﴾ كيدې شى د ﴿ رجس ﴾ په معنى كښې وى، پس د امام ابن ماجه و امام ابن خزيمه په روايت كښې ﴿ رجس ﴾ راغلې دې. (۳)

كيدې شى چه د ﴿ رجيع ﴾ په معنى وى، دې ته ركس ګويا په دې وجه اوئيلې شو چه دا د مطعوم كيدو د حالت نه ګويا د غير مطعوم طرف ته واپس شو، يا د طهارت نه د نجاست طرف ته واپس شو، يا د مطعوم كيدو نه د روثه طرف ته واپس شو. (٤)

امام نسائى رحمه الله فرمائى: ﴿ الركس طعام الجن ﴾(۵) يعنى ركس د جناتو خوراك ته وائى.
د امام نسائى رحمه الله دا تفسير د هيڅ لغت نه نۀ دې ثابت، كه دا معنى د لغت نه ثابته شوې و نو ټول اشكال به ختم شوې وې.

خو حضرت ګنګوهى رحمه الله فرمائى چه د امام نسائى رحمه الله د دې ارشاد ﴿ الركس طعام الجن ﴾ مطلب دا نه دې چه د ركس هم دا معنى ده، بلكه مطلب دا دې چه په روث سره چه د استنجاء نه كوم ممانعت راغلې دې د هغې دوه وجې دى، يو د هغه ركس يعنى نجس كيدل او دويم د هغې سبب دهغې طعام الجن كيدل دى، لكه چه په روايت كښې راغلې دى!

﴿ لا تستنجوا بالروث ولا بالعظام فانه زاد اخوانكم من الجن ﴾ (۶) يعنى په روث او هډوكى سره استنجاء مه كوئ، ځكه چه دا ستاسو د رونړو جناتو خوراك دې.
په دې صورت كښې په امام نسائى رحمه الله باندې هيڅ اشكال نۀ راځى چه هغه د ركس تفسير

---

۱) د حديث شريف پوره الفاظ دى: أراد النبى صلى الله عليه وسلم أن يتبرز فقال: ائتنى بثلاثة أحجار فوجدت له حجرين وروثة حمار، فأمسک الحجرين وطرح الروثة، وقال: هى رجس، صحيح ابن خزيمة ج ۱ ص ۳۹ و جماع ابواب الاداب المحتاج اليها فى اتيان الغائط والبول الى الى الفراغ منها، باب اعداد الاحجار للاستنجاء عند اتيان الغائط رقم ۷۰

۲) فتح البارى ج ۱ ص ۲۵۷

۳) سنن ابن ماجة، كتاب الطهارة وسننها، باب الاستنجاء بالحجارة والنهى عن الروث والرمة، رقم ۳۱٤، وصحيح ابن خزيمة ج ۱ ص ۳۹، رقم ۷۰

٤) اوګورئ: فتح البارى ج ۱ ص ۲۵۸، وعمدة القارى ج ۲ ص ۳۰۳

۵) سنن النسائى، كتاب الطهارة، باب الرخصة فى الاستطابة بحجرين، رقم ٤۲

٦) جامع الترمذى، ابواب الطهارة، باب كراهية ما يستنجى به رقم ۱۸

داسي څنګه بيان کړو چه په لغت کښې ئې څه اصل نشته، د جواب حاصل دا دې چه امام نسائي رحمه الله د رکس لغوي معنى نه ده بيان کړې او نه ئې د هغې د رجس او نجس په معنى کښې د کيدو نه انکار کړې دې بلکه د هغه مطلب خو صرف دا دې چه په هغې کښې دننه رکسيت يعنى دنجاست کيدو سره د طعام الجن کيدو صفت هم موجود دې. (۱) والله اعلم

د استنجاء دپاره څومره (کانړي، لوټې اخستل پکار دي: يوه مسئله خو دا ده چه استنجاء واجب ده يا نه؟ دا مسئله وړاندې په ﴿باب الاستجمار وترا﴾ د لاندې راروانه ده.

دويمه مسئله دا ده چه د استنجاء دپاره کم از کم څومره کانړي يا لوټې اخستل پکار دي؟

دا مسئله مختلف فيه ده!

امام شافعي، امام احمد بن حنبل، امام اسحاق بن راهويه، ابوثور او ابن المنذر رحمهم الله فرمائي چه کم از کم درې کانړي کيدل پکار دي.

بيا امام شافعي، اسحاق او ابوثور رحمهم الله فرمائي چه درې مسحات کافي دي، هم دا د امام احمد رحمه الله هم مشهور مذهب دې.

ابن المنذر او ابن حزم رحمهما الله فرمائي چه درې کانړي ضروري دي، هم دا د امام احمد رحمه الله يو روايت دې. (۲)

امام ابن حزم د امام سعيد بن المسيب او حسن بصري رحمهم الله نه هم دا نقل کړې دي. (۳) خو د امام حسن بصري رحمه الله نه نقل کول ئې صحيح نه دي، ځکه چه په مصنف کښې د حسن بصري رحمه الله نه نقل دي چه!

﴿لا بأس اذا كان الحجر عظيما له حروف ان تحرفه وتقلبه فتستنجي به﴾ (٤)

يعنى په دې خبره کښې هيڅ باك نشته چه که لوئې کانړې وي، او د هغې څو مخونه وي نو هغه اړولو سره استنجاء اوکړه.

امام ابوحنيفه، امام مالك او داؤد ظاهري رحمهم الله فرمائي چه مقصود انقاء ده او هم دا واجب ده!(۵)

امام ابوحنيفه رحمه الله چه ترڅو پورې نجاست د مخرج نه متجاوز شوې نه وي نو استنجاء ته

---

۱) اوګورئ : الفيض السمائي على سنن النسائي مع حاشيه ص ۷۸، ۷۹

۲) د مذاهب د تفصيل دپاره اوګورئ : المجموع شرح المهذب ج ۲ ص ۱۰٤، مذاهب العلماء فى عدد الاحجار، والانصاف للمرداوي ج ۱ ص ۱۱۲، والمحلى ج ۱ ص ۹۵ تا ۹۸

۳) اوګورئ : المحلى ج ۱ ص ۹۹

٤) المصنف لابن ابى شيبة ج ۱ ص ۱۵٦، كتاب الطهارة، باب ما كره ان يستنجى به، ولم يرخص فيه، رقم ۱٦٦۸

۵) اوګورئ : الدر المختار مع رد المحتار ج ۱ ص ۲٤٦، فصل الاستنجاء والتلقين فى الفقه المالكى ج ۱ ص ۲۷، باب فى الاستنجاء وآداب الاحداث، وحاشية الدسوقى ج ۱ ص ۱۷٦، فصل ندب لقاضى الحاجة، والمغنى لابن قدامة ج ۱ ص ۱۰۲، باب الاستطابة والحدث، مسالة رقم ۲۰۷

واجب نه، سنت وائى او چه كله نجاست د مخرج نه د درهم په مقدار متجاوز شى نو واجب ورته وائى او چه كله د دې نه زائد شى نو بيا ورته فرض وائى.
په كوم صورت كښې چه استنجاء فرض يا واجب كيږى په هغه صورت كښې د امام صاحب په نزد د احجار يا مسحات نه هيڅ تحديد واجبى نشته، بلكه مقصود انقاء ده. (۱)

خو په كومو رواياتو كښې چه د ﴿ ثلاث ﴾ وغيره عدد راغلې دې، امام صاحب رحمه الله هغه په استحباب باندې محمول كوى.

د قائلين ايجاب تثليث دلائل : د ايجاب تثليث قائلينو په خپل مذهب باندې ډير دلائل پيش كړى دى. كوم چه په كتب حديث كښې مشهور او معروف دى.

① : د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه امام نسائى، امام ابوداؤد، امام احمد، امام بزار او امام ابن حبان رحمهم الله د استنجاء په باره كښې حديث نقل كړې دې.

﴿ وكان يامربثلاثة احجار ﴾(۲) يعنى رسول الله صلى الله عليه وسلم به د درې كانړو اخستلو حكم فرمائيلو.

د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه دا روايت په سنن ابن ماجه كښې ﴿ وامربثلاثة احجار ﴾ په صحيح ابن خزيمه كښې په ﴿ ولا يستنجى بدون ثلاثة احجار ﴾ او په سنن كبرى د بيهقى كښې په ﴿ وليستنج بثلاثة احجار ﴾ الفاظو سره راغلي دې. (۳)

② د سيدنا سلمان فارسى رضي الله عنه روايت چه په صحيح مسلم او سنن اربعه كښې دې!

﴿ نهانا ان نستقبل القبلة لغائط او بول، او ان نستنجى بيمين، او ان نستنجى باقل من ثلاثة احجار ﴾ اللفظ لمسلم...(٤)

---

۱) قال ابن عابدين نقلا عن الاختيار : أن الاستنجاء على خمسة أوجه اثنان واجبان أحدهما غسل نجاسة المخرج فى الغسل من الجنابة والحيض والنفاس كى لا تشيع فى بدنه والثانى إذا تجاوزت مخرجها يجب عند محمد قل أو كثر وهو الأحوط لأنه يزيد على قدر الدرهم وعندهما يجب إذا جاوزت قدر الدرهم لأن ما على المخرج سقط اعتباره والمعتبر ما وراءه والثالث سنة وهو إذا لم تتجاوز النجاسة مخرجها. والرابع مستحب وهو ما إذا بال ولم يتغوط فيغسل قبله. والخامس بدعة وهو الاستنجاء من الريح. رد المحتار ج ۱ ص ۲٤٦

۲) سنن النسائى، كتاب الطهارة، باب النهى عن الاستطابة بالروث، رقم ٤٠، وسنن ابى داؤد، كتاب الطهارة، باب كراهية استقبال القبلة عند قضاء الحاجة، رقم ۸، ومسند احمد ج ۲ ص ۲۵۰، رقم ۷٤۰۳، مسند ابى هريرة ومسند البزار ج ۱۵ ص ۳۵۶، وصحيح ابن حبان ج ٤ ص ۲۸۸، ذكر الاستطابة بثلاثة احجار لمن اراده، رقم ۱٤٤۰

۳) اوګورئ : سنن ابن ماجة، كتاب الطهارة وسننها، باب الاستنجاء بالحجارة والنهى عن الروث والرمة، رقم ۳۱۳، وصحيح ابن خزيمة ج ۱ ص ٤۳، كتاب الوضوء، باب النهى عن الاستطابة بدون ثلاثة احجار، رقم ۸۰، والسنن الكبرى للبيهقى ج ۱ ص ۹۱، كتاب الطهارة، باب النهى عن استقبال القبلة رقم ٤٤۱، و ج ۱ ص ۱۰۲، باب وجوب الاستنجاء بثلاثة احجار رقم ۵۰۹

٤) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب الاستطابة رقم ۶۰۶، وسنن النسائى، ... (بقيه برصفحه آئنده

دا مضمون د نورو صحابه كرامو رضي الله عنهم نه هم ثابت دي چه رسول الله ﷺ د درې كاڼړو حكم فرمائيلې دې او د درې نه كم استعمالولو نه ئې منع فرمائيلې ده، د دې نه معلومه شوه چه د درې عدد واجب دې.

د فريق مخالف دلائل : كوم حضرات چه وائي چه مقصود انقاء ده او د درې عدد واجب نه دې بلكه مستحب دې د هغوى دلائل دا دى :

① د سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حديث الباب، كوم چه امام بخارى رحمه الله دلته ليكلې دې، سيدنا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ته رسول الله ﷺ د درې كاڼړو د راوړلو حكم اوكړو، هغه دوه كاڼړى او يو روثه راوړه، رسول الله ﷺ روثه اوغورځوله او كاڼړى ئې واخستل. ددې نه معلومه شوه چه په دوه كاڼړو باندې اكتفاء جائز ده.

امام طحاوى، امام ترمذى او امام نسائى رحمهم الله هم په دې بنياد د دې نه استدلال كړې دې.

امام ترمذى رحمه الله په دې باندې ترجمه قائم كړې ده : ﴿باب ما جاء فى الاستنجاء بالحجرين﴾ او امام نسائى رحمه الله ترجمه منعقد كړې ده ﴿باب الرخصة فى الاستطابة بحجرين﴾ (۱)

امام خطابى رحمه الله فرمائى چه د دې نه استدلا ل صحيح نه دې، ځكه چه كيدې شى رسول الله ﷺ سره دريم كاڼړې موجود وو. (۲)

امام طحاوى رحمه الله فرمائى چه كه د رسول الله ﷺ سره دريم كاڼړې موجود وو نو ابن مسعود رضي الله عنه ته به ئې د لټولو دپاره ولې وئيل؟ د لټون حكم وركول د دې خبرې دليل دې چه چرته رسول الله ﷺ وو هلته كاڼړى نه وو او دوه كاڼړى ئې واخستل، د دريم امر ئې ورته او نه فرمائيلو، معلومه شوه چه د درې عدد واجب نه دې. (۳)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه امام طحاوى رحمه الله غافل پاتې شو او دا دعوى ئې اوكړه چه رسول الله ﷺ د دريم كاڼړى مطالبه اونكړه، ځكه چه امام احمد، دارقطنى او بيهقى رحمهم الله په طريق د ﴿معمر عن ابى اسحاق، عن علقمة عن ابن مسعود﴾ هم دا حديث نقل كړې دې په دې كښې دى چه ﴿فالقى الروثة وقال انها ركس ائتنى بحجر﴾ (٤)

.....بقيه ازصفحه گذشته) كتاب الطهارة، باب النهى عن الاكتفاء فى الاستطابة، رقم ٤١، وباب النهى عن الاستنجاء باليمين، رقم ٤٩، وسنن ابى داؤد، كتاب الطهارة، باب كراهية استقبال القبلة عند قضاء الحاجة، رقم ٧، وجامع الترمذى، ابواب الطهارة، باب الاستنجاء بالحجارة، رقم ١٦، وسنن ابن ماجة، كتاب الطهارة وسننها، باب الاستنجاء بالحجارة والنهى عن الروث والرمة، رقم ٣١٦

۱) اوګورئ: شرح معانى الاثار، كتاب الطهارة، باب الاستجمار، سنن النسائى، كتاب الطهارة، باب الرخصة فى الاستطابة بحجرين رقم ٤٢، وجامع الترمذى، ابواب الطهارة، باب ماجاء فى الاستنجاء بالحجرين، رقم ١٧

۲) اعلام الحديث للخطابى ج ١ ص ٢٤٨، ٢٤٩

۳) شرح معانى الاثار، كتاب الطهارة، باب الاستجمار

٤) مسند احمد ج ١ ص ٤٥٠، مسند عبدالله بن مسعود رضى الله عنه، رقم ٤٢٩٩، وسنن الدارقطنى ج ١ ص ٨٥، كتاب الطهارة، باب الاستنجاء رقم ١ ص ١٤٨، والسنن الكبرى... (بقيه برصفحه آئنده

يعني رسول الله ﷺ روثه ګزار کړه او وې فرمائيل دا رکس دې، يو کانړې راوړه.
حافظ رحمه الله فرمائي چه د معمر متابعت ابو شيبه واسطي کړې دې، دارقطني هغه روايت کړې دې. (۱)
هم دغه شان د دوی دواړو متابعت عمار بن رزيق کړې دې، کوم چه احد الثقات دې. (۲)
خو د ابو شيبه د متابعت هيڅ فائده نشته، هغه خو د امام ابوبکر بن ابي شيبه نيکه دې، د هغه نوم ابراهيم بن عثمان دې، کوم چه سخت ضعيف بلکه منکر الحديث دې. (۳)
هر چه د عمار بن رزيق د متابعت تعلق دې، پس د هغه متابعت بالسند ذکر خو په جامع الترمذی کښې موجود دې، خو متابعت مذکوره په متن کښې هم شته يا نه؟ حافظ صاحب صرف دعوي کړې ده، پيش ئې نه کړې شوه، که د دې لفظ په ذکر کولو کښې متابعت وې نو امام ترمذی رحمه الله به پرې ضرورت تنبيه فرمائيلې وې او حافظ ابن حجر رحمه الله به د دې مخرج ضرور پيش کړې وې او دا به ئې بيان کړې وې چه د عمار روايت چرته دې؟ اصل کښې حافظ صاحب دا اوليدل چه کله امام ترمذی رحمه الله د دې روايت سندونه بيان کړل او اضطراب ئې ذکر کړو نو دا ئې اوفرمائيل: ﴿وروی معمر وعمار بن رزيق عن ابي اسحاق عن علقمة عن عبدالله﴾(٤)
د دې نه حافظ صاحب رحمه الله دا خيال اوکړو چه کله د معمر په الفاظ کښې ﴿انها رکس، ائتني بحجر﴾ دې نو د عمار په الفاظو کښې به هم دا وی، حالانکه دا ضروری نه ده.
هر چه د معمر د روايت تعلق دې نو اګر چه هغه د ثقات نه دې، خو بعض وخت هغه د خپلو ملګرو خلاف بعض داسې خبرې اوکړی چه په هغې باندې محدثين نقد کوی، بلکه علامه ابن تيميه رحمه الله په خپله فتاوی کښې په يو ځائې کښې تردې پورې ليکلې دی چه!
﴿فَلَوْ لَمْ يَكُنْ فِي الْحَدِيثِ إِلَّا نِسْيَانُ الزُّهْرِيِّ، أَوْ مَعْمَرٍ، لَكَانَ نِسْبَةُ النِّسْيَانِ إِلَى مَعْمَرٍ أَوْلَى بِاتِّفَاقِ أَهْلِ الْعِلْمِ بِالرِّجَالِ، مَعَ كَثْرَةِ الدَّلَائِلِ عَلَى نِسْيَانِ مَعْمَرٍ، وَقَدْ اتَّفَقَ أَهْلُ الْمَعْرِفَةِ بِالْحَدِيثِ عَلَى أَنَّ مَعْمَرًا كَثِيرُ الْغَلَطِ عَلَى الزُّهْرِيِّ﴾(۵)
يعني په حديث کښې که په زهری يا معمر کښې دچا د نسيان معامله وی نو د معمر طرف ته د نسيان نسبت کول زيات غوره دی، د ټولو اهل علم په دې اتفاق دې، د دې نه علاوه د معمر

.....بقيه ازصفحه گذشته) للبيهقي ج ۱ ص ۱۰۸، كتاب الطهارة، باب الاستنجاء بما يقوم مقام الحجارة في الانقاء دون ما نهي عن الاستنجاء به، رقم ۵۳۸
۱) سنن الدارقطني ج ۱ ص ۸۶، كتاب الطهارة، باب الاستنجاء رقم ۲/۱۴۸
۲) اوګورئ: فتح الباري ج ۱ ص ۲۵۷
۳) اوګورئ: الجرح والتعديل ج ۱ ص ۱۱۵، رقم ۳۴۷
٤) اوګورئ: جامع الترمذي، ابواب الطهارة، باب الاستنجاء بحجرين رقم ۱۷
۵) مجموع فتاوی شيخ الاسلام ابن تيمية ج ۲۱ ص ٤٨٤، ٤٩٥، باب اذا وقعت الفارة في السمن الجامد او الذئب، والفتاوى الكبرى ج ۱ ص ۲۴۷، كتاب الطهارة، باب اذا وقعت الفارة في السمن الجامد او الذئب.

په نسیان باندې ډیر دلائل موجود دی، د علم حدیث د علماء کرامو په دې اتفاق دې چه معمر د زهری په احادیثو کښې ډیره زیاته غلطی کوی.
د دې نه پس ځان پوهه کړئ چه دا روایت د ابو اسحاق باقی شاګردان مثلاً زهیر، اسرائیل، مالك بن مغول، زکریا بن ابی زائده او یونس بن ابی اسحاق وغیره نقل کوی، څوك دا زیادت نه نقل کوی، صرف یواځې معمر ئې نقل کوی یا ابو شیبه د هغه متابعت کوی، نو دا روایت به شاذ وی، کوم چه د محدثینو په نزد مقبول نه دې، لهذا دې لره به اعتبار نه وی.
غالبا هم په دې وجه ابو الحسن بن القصار مالکی رحمه الله دا فرمائیلې دی چه په بعض احادیثو کښې د دریم کانړی راوړلو ذکر شته خو دا ثابت شوې احادیث نه دی. (۱)
علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه رسول الله ﷺ په دوه کانړو باندې اکتفاء نه ده فرمائیلې بلکه د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه ئې د دریم کانړی مطالبه اوکړه، یا داسې اوایئ چه رسول الله ﷺ چه په اول کرت د درې کانړو مطالبه اوکړه نو هم دا د درې کانړو د وجوب دپاره کافی ده، په دې وجه ئې دوباره حکم ورنکړو، یا ئې په دې وجه مکرر حکم ورنکړو چه رسول الله ﷺ د حجرین په اطراف باندې اکتفاء اوفرمائیله، ځکه چه د حجر واحد په اطراف سره که درې کرته مسح اوکړې شی نو دا د درې کانړو قائم مقام دې. (۲)
اصل کښې دا ټوله خبره هغه وخت تسلیم کیدې شی چه کله دا خبره ثابته شی چه د درې کانړو د استعمال حکم ایجابی دې، حال دا چه په دلیل سره دا ثابته ده چه دا ایجابی نه دې، بلکه استحبابی دې، د دې دلیل وړاندې راروان دې.
② امام نسائی، امام ابوداؤد او امام احمد رحمهم الله د سیده عائشه رضی الله عنها نه مرفوع روایت کړې دې چه: «اذا ذهب احدکم الی الغائط فلیذهب معه بثلاثة احجار، فلیستطب بها، فانها تجزئ عنه» (۳)
یعنی چه کله په تاسو کښې څوك د قضاء حاجت دپاره ځی نو خپل ځان سره دې درې کانړی یوسی، په هغې سره دې استنجاء اوکړی، ځکه چه دا درې کانړی به د استنجاء دپاره کافی شی.
③ په مسند الشاشی کښې د سیدنا ابو ایوب انصاری رضی الله عنه نه روایت دې:
«اذا تغوط احدکم فلیمسح بثلاثة احجار، فان ذلك طهوره» (٤)
یعنی چه کله په تاسو کښې څوك قضاء حاجت کوی نو په درې کانړو سره دې اوکړی، ځکه چه هم دا د هغه طهارت دې.

---

۱) اوګورئ: شرح الکرمانی ج ۲ ص ۲۰۵
۲) پورته حواله اوګورئ
۳) سنن النسائی، کتاب الطهارة، باب الاجتزاء فی الاستطابة بالحجارة دون غیرها، رقم ٤٤، وسنن ابی داؤد، کتاب الطهارة، باب الاستنجاء بالحجارة، رقم ٤٠، ومسند احمد، ج ۶ ص ۱۰۸، رقم ۲۵۲۸۰، و ج ۶ ص ۱۳۳، رقم ۲۵۵۲۶، مسند السیدة عائشة رضی الله عنها
٤) مسند الشاشی ج ۲ ص ۲۸ رقم ۱۱٤۱

د طبراني په روايت كښ د ﴿ فليتمسح بثلاثة احجار، فان ذلك كافيه ﴾(١) الفاظ راغلې دى، يعنى دا درې كانړى د استنجاء دپاره كافى دى.

د دې ټولو روايتونو په اخر كښ ﴿ فانها تجزئ عنه ﴾، ﴿ فان ذلك طهورة ﴾ او ﴿ فان ذلك كافيه ﴾ جملې دا بيانوى چه اصل مقصود انقاء ده او هيڅ عدد مخصوص بالذات نه دې، لهذا چرته چه د تثليث حكم كړې شوې دې هلته دا مقصد دې چه دا عدد د انقاء دپاره كافى دې.

④ امام ابوداؤد، امام دارمى، ابن ماجه، بيهقى او طحاوى رحمهم الله وغيره د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه مرفوع حديث نقل كړې دې! ﴿ ومن استجمر فليوتر، من فعل فقد احسن، ومن لا فلا حرج ﴾(٢)

يعنى څوك چه استنجاء كوى نو په طاق عدد كانړو دې اوكړى، چا چه په طاق عدد استنجاء اوكړه نو ښه ئې اوكړل، او كه په طاق عدد كښ ئې نه كوى نو هيڅ باك نشته.

خو په دې باندې اشكال دا كړې شوې دې چه په دې كښ حصين حبرانى دې كوم چه مجهول دې!

د دې جواب دا وركړې شوې دې چه د هغه په باره كښ امام ابوزرعه فرمائى: ﴿ شيخ ﴾(٣) ابن حبان رحمه الله هغه په كتاب الثقات كښ ذكر كړې دې. (٤)

په دې حديث باندې دويم اشكال دا كړې شوې دې چه د هغه استاذ ابو سعيد هم دغه شان دې. پس امام ابوزرعه فرمائى: ﴿ لا اعرفه ﴾(٥)

علامه عينى رحمه الله: دې جواب دا كړې دې چه دا ابوسعيد الخير دې كوم چه صحابى دې، (٦) امام ابوداؤد رحمه الله د دې تصريح كړې ده. (٧)

خو تحقيق دا دې چه ابو سعيد يو مستقل راوى دې او ابو سعيد الخير بل راوى دې، دواړه يو نه دى. (٨) خو ابوسعيد د چا نه چه حصين حبرانى روايت كوى هغه هم امام ابن حبان په كتاب الثقات كښ ذكر كړې دې. (٩)

---

١) المعجم الكبير للطبراني ج ٤ ص ١٧٤، رقم ٤٠٥٥، والمعجم الاوسط ج ٣ ص ٢٨٠، رقم ٣١٤٦

٢) سنن ابى داؤد، كتاب الطهارة، باب الاستتار فى الخلاء رقم ٣٥، وسنن ابن ماجة، كتاب الطهارة وسننها، باب الارتياد للغائط والبول، رقم ٣٣٧، ومسند احمد ج ٢ ص ٣٧١، مسند ابى هريرة رضى الله عنه، رقم ٨٨٢٥، والسنن الكبرى للبيهقى ج ١ ص ٩٤، كتاب الطهارة، باب الاستتار عند قضاء الحاجة، رقم ٤٥٨، وسنن الدارمى ج ١ ص ١٧٧، كتاب الطهارة، باب التستر عند الحاجة رقم ٦٦٢، وشرح مشكل الاثار للطحاوى ج ١ ص ١٢٧، رقم ١٣٨، وشرح معانى الاثار، كتاب الطهارة، باب الاستجمار برقم ٧٤٢

٣) كتاب الجرح والتعديل لابن ابى حاتم ج ٢ ص ٢٠٠، رقم ٨٦٧

٤) كتاب الثقات لابن حبان ج ٦ ص ٢١١، رقم ٧٤١١

٥) تهذيب الكمال ج ٣٣ ص ٥٥٣

٦) شرح سنن ابى داؤد للعينى ج ١ ص ١١٩، كتاب الطهارة، باب الاستتار فى الخلاء

٧) سنن ابى داؤد كتاب الطهارة و باب الاستتار فى الخلاء رقم ٣٥

٨) اوګورئ: التلخيص الحبير ج ١ ص ١٧٩، ١٨٠، كتاب الطهارة، باب الاستنجاء، رقم ١٢٣

٩) كتاب الثقات لابن حبان ج ٥ ص ٥٦٨، رقم ٦٢٨٨

واضحه دې وى چه هغه ابو سعيد هم وئيلې شوې دې او ابو سعد هم. (۱)

حافظ ابن حجر رحمه الله د هغه حديث ته التلخيص الحبير کښې معلول وئيلې دې، (۲) خو په فتح البارى کښې ئې ليکلې دى چه دا حديث حسن دې. (۳) امام نووى رحمه الله په شرح المهذب کښې هم دا خبره ليکلې ده. (٤) ابن حبان رحمه الله د دې تصحيح فرمائيلې ده. (۵)

امام بيهقى رحمه الله فرمائى ! ﴿ وهذا ان صح فانما اراد والله اعلم وترا يكون بعد الثلاث ﴾ (٦)

يعنى که دا حديث صحيح وى نو د ﴿ من فعل فقد احسن، ومن لا فلا حرج ﴾ تعلق د درې عدد نه روستو دې. د درې د عدد سره نه دې.

څکه چه د درې عدد خو بهر حال واجب دې او اختيار په ما فوق الثلاث کښې ورکولې شى که په درې کانړو سره طهارت حاصل نه شى بلکه د درې نه د زياتو ضرورت وى او اتفاقا په جفت عدد باندې طهارت حاصل شى نو طاق عدد استعمالول مخير فيه دى، که کوى يا نه کوى.

امام بيهقى رحمه الله د دې دليل دا پيش کوى چه سيدنا ابوهريره رضي الله عنه مرفوعا روايت کوى!

﴿ اذا استجمر احدكم فليوتر، فان الله وتر يحب الوتر اما ترى السماوات سبعا والارضين سبعا، والطواف، وذكر اشياء ﴾ (۷)

يعنى کله چه په تاسو کښې څوك استنجاء کوى نو په طاق عدد کښې دې کوى، څکه چه الله پاك يو دې، طاق عدد خوښوى، ګورې نه چه اسمانونه اووۀ دى، زمکې اووه دى، د طواف چکرې اووۀ دى، دغه شان ئې نور څيزونه هم ذکر کړل.

حافظ ابن الترکمانى رحمه الله فرمائى چه د امام بيهقى رحمه الله دې حديث لره په مافوق الثلاث باندې حمل کول بغير د دليل نه دى او که دا خبره اومنلې شى چه د دې دليل په رڼړا کښې دا لازميږى چه د درې د عدد نه پس دې ايتار مستحب وى، حال دا چه د شوافع په نزد که په درې کرتو کښې طهارت حاصل شى نو اضافه نه صرف دا چه مستحب نه ده بلکه بدعت ده او که په درې کرتو کښې صفائى حاصله نه شى نو اضافه واجب ده، هم دغه شان ذکر شوې حديث -برتقدير صحت- په دې خبره دال نه دې چه د وتر اطلاق په مافوق الثلاث باندې کيږى، بلکه په دې کښې د وتر په افرادو کښې د يو فرد ذکر کړې شوې دې، که په حديث کښې مذکور د ﴿ سبع ﴾ عدد ملحوظ وى نو بيا به وئيلې شى چه استنجاء په اووۀ کانړو سره کول

---

۱) اوګورئ : تحفة الاشراف ج ۱۰ ص ٤۵۵، رقم ۱٤۹۳۸

۲) التلخيص الحبير ج ۱ ص ۱۷۹، ۱۸۰، كتاب الطهارة، باب الاستنجاء، رقم ۱۲۳

۳) قال الحافظ لزيادة فى ابى داؤد حسنة الاسناد .... فتح البارى ج ۱ ص ۲۵۷

٤) شرح المهذب ج ۲ ص ۹۵

۵) اوګورئ : صحيح ابن حبان ج ٤ ص ۲۵۷، ۲۵۸، كتاب الطهارة، باب ذكر الامر بالاستتار لمن اراد البراز رقم ۱٤۱۰

٦) السنن الكبرى للبيهقى ج ۱ ص ۱۰٤، باب الايتار فى الاستجمار

۷) پورتنۍ حواله رقم ۵۱۹

واجب دی، ځکه چه په حديث کښې د اوۀ ذکر دې. (۱) والله اعلم وعلمه اتم واحکم

قوله: وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ يُوسُفَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَن: يعنی دا حديث څنګه چه د ابو اسحاق نه زهير روايت کوی هم دغه شان ئې يوسف بن اسحاق بن ابی اسحاق د خپل نيکه ابو اسحاق نه روايت کوی، په دې طريق کښې هغه د زهير په شان ﴿ليس ابوعبيدة ذكره، ولكن عبدالرحمن﴾ نه وائی، بلکه ﴿حدثني عبدالرحمن﴾ وائی.

د دې متابعت د ذکر کولو مقصد : د دې متابعت د ذکر کولو مقصد هم واضح دې چه ابو اسحاق سبيعی به تدليس کولو، امام بخاری رحمه الله دې متابع ذکر کولو سره دا خبره بيان کړه چه دلته تدليس نشته، بلکه د تحديث صراحت دې.

په دې سره دهغه خلقو ترديد اوشو چه هغوی وائی چه ابو اسحاق په دې حديث کښې د تدليس نه کار اخستلې دې. (۲) په دې حديث کښې د تدليس متعلق بحث مونږ شاته ذکر کړې دې.

رجال الحديث

① **ابراهيم بن يوسف** : دا ابراهيم بن يوسف بن اسحاق بن ابی اسحاق السبيعی الکوفی رحمه الله دې. (۳)

هغه د خپل والد يوسف بن اسحاق بن ابی اسحاق، د خپل نيکه ابو اسحاق او عبدالجبار بن العباس شبابی نه روايت حديث کوی.

د هغه نه ابو کريب، محمد بن العلاء، شريح بن سلمه تنوخی، اسحاق بن منصور سلولی او ابو غسان مالك بن اسماعيل رحمهم الله وغيره روايت کوی. (٤)

امام يحيی بن معين رحمه الله فرمائی: ﴿ليس بشئ﴾(۵) امام نسائی رحمه الله فرمائی: ﴿ليس بالقوی﴾(۶)

امام جوزجانی رحمه الله فرمائی ﴿ضعيف الحديث﴾(۷)

امام ابو حاتم رحمه الله فرمائی : ﴿حسن الحديث، يكتب حديثه﴾(۸)

ابن عدی رحمه الله فرمائی : ﴿له احاديث صالحة، وليس بمنكر الحديث، يكتب حديثه﴾(۹)

---

۱) اوګورئ : الجوهر النقی فی الرد علی البيهقی بهامش السنن الكبری ج ۱ ص ۱۰٤
۲) اوګورئ : فتح الباری ج ۱ ص ۲۵۸
۳) تهذيب الكمال ج ۲ ص ۲٤۹
٤) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ : تهذيب الكمال ج ۲ ص ۲۵۰
۵) تاريخ ابن معين رواية الدوری ج ۱ ص ۲۳۰، رقم ۱٤۸۹
۶) تهذيب الكمال ج ۲ ص ۲۵۰
۷) المصدر السابق. ولم اجده فی احوال الرجال المطبوع
۸) الجرح والتعديل ج ۲ ص ۱٤۸ و رقم ٤۸۷
۹) الكامل فی ضعفاء الرجال ج ۱ ص ۲۳۷، رقم ۶۹

ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې. (۱)

امام دارقطنی رحمه الله: «ثقة»(۲) امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی: «ضعیف»(۳)

ابن المدینی رحمه الله فرمائی: «لیس کالقوی مایکون»(٤)

د ابراهیم بن یوسف په باره کښې د ائمه جرح والتعدیل اقوال ستاسو مخې ته دی، بعض حضراتو ورته مطلقا ثقه وئیلې دې او بعض ورته مطلقا ضعیف وئیلې دې، خو صحیح خبره هم هغه ده کومه چه ابن المدینی رحمه الله فرمائی: «لیس کالقوی مایکون» یعنی هغه ډیر مضبوط خو نه دې، خو فی الجمله د هغه روایات قابل قبول دی.

هر چه په بخاری کښې د هغه د زوایاتو د تخریج تعلق دې، پس دا احادیث ډیر کم دی او متابعةً دی. (۵)

⑦ ابیه: دا یوسف بن اسحاق بن ابی اسحاق السبیعی رحمه الله دې، کله ئې د نیکه طرف ته نسبت کولو سره نوم یوسف بن ابی اسحاق هم اخستلې شی. (۶)

هغه د خپل والد اسحاق بن ابی اسحاق، د خپل نیکهٔ ابو اسحاق سبیعی، امام شعبی، محمد بن المنکدر، عبدالله بن محمد بن عقیل او عمار الدهنی رحمهم الله نه روایت حدیث کوی.

د هغه نه په روایت کونکو کښې د هغه ځوئې ابراهیم بن یوسف، د هغه د ترهٔ ځامن اسرائیل بن یونس بن ابی اسحاق، عیسی بن یونس بن ابی اسحاق او سفیان بن عیینه رحمهم الله وغیره حضرات روایت کوی. (۷)

سفیان بن عیینه رحمه الله فرمائی: د ابو اسحاق په اولاد کښې د هغه نه زیات احفظ نشته. (۸)

ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې او فرمائی: «کان احفظ ولد ابی اسحاق، مستقیم الحدیث علی قلته»(۹)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی: «یکتب حدیثه»(۱۰) امام دارقطنی رحمه الله فرمائی: «ثقة»(۱۱)

---

۱) الثقات لابن حبان ج ۸ ص ۶۱، رقم ۱۲۲۵۲
۲) تهذیب التهذیب ج ۱ ص ۱۶۰، رقم ۳۳۳
۳) پورته حواله
٤) پورته حواله
۵) اوګورئ: هدی الساری ص ۲٤۹
٦) تهذیب الکمال ج ۳۲ ص ٤۱۱
۷) د شیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ: تهذیب الکمال ج ۳۲ ص ٤۱۱، ٤۱۲
۸) تهذیب الکمال ج ۳۲ ص ٤۱۲
۹) الثقات لابن حبان ج ۷ ص ۶۳۶، رقم ۱۱۸٤۱
۱۰) الجرح والتعدیل ج ۹ ص ۲۱۸، رقم ۹۰۹
۱۱) تهذیب التهذیب ج ۱۱ ص ۳۵۹، رقم ۶۹۶

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی : ﴿حافظ﴾(۱)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی : ﴿ثقة﴾(۲)

خو عقیلی رحمه الله وئیلې دی چه ﴿یخالف فی حدیثه﴾(۳) یعنی هغه په خپلو احادیثو کښې مخالفت کوی خو هغه خپله د دې جواب کړې دې چه ﴿لعله اتی من منصور بن وردان﴾(٤) یعنی دا مخالفت کیدې شی چه د یوسف بن ابی اسحاق د طرف نه نه وی، بلکه د هغه د شاګرد منصور بن وردان د طرف نه دې

حافظ ابن حجر رحمه الله دامام عقیلی رحمه الله ددې جرح نقل کولونه پس لیکی ﴿وهذا جرح مردود﴾(۵) د هغه نه اصحاب د اصول سته احادیث اخستلې دی. (۶) په ۱۵۷هجری کښې هغه وفات شوې دې. (۷) رحمه الله رحمة واسعة

③ **ابو اسحاق** : دا ابو اسحاق السبیعی رحمه الله حالات په کتاب الایمان کښې د باب الصلاة من الایمان د لاندې تیر شوې دی. (۸)

④ **عبدالرحمن** : دا عبدالرحمن بن الاسود رحمه الله دې. د هغه حالات هم شاته هم په دې باب کښې تیر شوې دی.

(۲۱) بَابُ الوُضُوءِ مَرَّةً مَرَّةً

د مخکښې باب سره مناسبت : امام بخاری رحمه الله د استنجاء د ابواب نه فارغ شو، د دې نه روستو د اودس بیان شروع کوی. (۹)

د ترجمة الباب مقصد : د ترجمة الباب مقصد د اودس د فرضیت مقدار بیانول دی چه په اودس کښې اندمونه کم از کم یو کرت وینځل فرض دی.

حضرت شیخ الحدیث رحمه الله فرمائی چه د رسول الله ﷺ نه یو یو کرت، دوه دوه کرته او درې درې کرته وینځل ثابت دی، امام بخاری رحمه الله په دې کښې د هر یو په جواز باندې باب قائم کړې دې او دا تنبیه ئې هم کړې ده چه درې درې کرته وینځل اکمل او اعلی درجه ده، او په

---

۱) الکاشف للذهبی ج ۲ ص ۳۹۸، رقم ۶۴۲۶
۲) تقریب التهذیب ص ۶۱۰، رقم ۷۸۵۶
۳) کتاب الضعفاء للعقیلی ج ۲ ص ۱۵۵۳، رقم ۲۰۸۴
٤) پورته حواله
۵) هدی الساری ص ۶۳۳
۶) پورته حواله
۷) تقریب التهذیب ص ۶۱۰، رقم ۷۸۵۶
۸) کشف الباری ج ۲ ص ۳۷۰ تا ۳۷۵
۹) اوګورئ : عمدة القاری ج ۳ ص ۲

دوه يا يو كرت باندې اكتفاء كول جائز دى. (۱)

واضحه دې وى چه دا حديث دلته مجمل دې، شاته په باب غسل الوجه باليدين من غرفة واحدة د لاندې دا حديث د ابن عباس رضي الله عنهما په تفصيل سره تير شوې دې. (۲)

۱۵۶: ﴿حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ (۳) قَالَ تَوَضَّأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً مَرَّةً﴾

رجال الحديث

① **محمد بن يوسف** دا محمد بن يوسف فريابى دې يا بيكندى دې؟ حافظ ابن حجر رحمه الله په فريابى باندې جزم كړې دې او د بيكندى كيدو نفى ئې كړې ده، هم دغه شان ئې د هغه په شيخ كښې په سفيان ثورى كيدو باندې جزم كړې دې او فرمائى چه ابوداؤد او اسماعيلى په خپل روايت كښې تصريح كړې ده چه سفيان ثورى رحمه الله د زيد بن اسلم نه سماع كړې ده. (٤)

خوعلامه كرمانى رحمه الله دلته دواړه احتمالات ذكركړې دى چه دمحمدبن يوسف نه مراد فريابى هم كيدې شى اوبيكندى هم، هم دغه شان سفيان ثورى هم كيدې شى او ابن عيينه هم.

هم دغه شان هغه فرمائى كه فريابى وى نو شيخ به سفيان ثورى وى، ځكه چه فريابى اكثر د ثورى نه روايت كوى، اگر چه سفيان بن عيينه هم د هغه شيخ دې او كه بيكندى وى نو د سفيان نه به عيينه مراد وى ځكه چه بيكندى هم د هغه نه روايت كوى، او زيد بن اسلم د دواړو سفيانين شيخ دې. (۵)

علامه عينى رحمه الله د كرمانى تائيد كولو سره فرمائى چه جزم كول صحيح نه دى، كرمانى چه كوم احتمالات ذكر كړې دى هغه عين ممكن دى. (۶)

د محمد بن يوسف فريابى رحمه الله حالات په كشف البارى كښې په كتاب العلم كښې د باب ما كان النبى صلى الله عليه وسلم يتخولهم بالموعظة والعلم كيلا ينفروا د لاندې تير شوې دى. (۷)

د محمد بن يوسف بيكندى رحمه الله حالات هم په كتاب العلم باب متى يصح سماع الصغير؟ د لاندې

۱) اوګورئ: الكنز المتوارى على لامع الدرارى ج ۳ ص ٤۳
۲) فتح البارى ج ۱ ص ۲۵۸، وعمدة القارى ج ۳ ص ۲
۳) قوله عن ابن عباس رضى الله عنهما، الحديث اخرجه النسائى فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب الوضوء مرة مرة، رقم ۸۰، وباب مسح الاذنين رقم ۱۰۱، وابوداؤد فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب الوضوء مرة مرة، رقم ۱۳۸، والترمذى فى جامعه، فى ابواب الطهارة، باب ما جاء فى الوضوء مرة مرة، رقم ٤۲، وابن ماجة فى سننه، فى كتاب الطهارة، وسننها، باب ما جاء فى الوضوء مرة مرة، رقم ٤۱۱
٤) فتح البارى ج ۱ ص ۲۵۸
۵) شرح الكرمانى ج ۲ ص ۲۰۶
٦) عمدة القارى ج ۳ ص ۲
۷) كشف البارى ج ۳ ص ۲۵۲

تیر شوي دي. (۱)

② **سفیان** : که دا امام سفیان ثوری رحمه الله وی نو د هغه حالات په **کتاب الایمان باب علامة المنافق** کښې تیر شوي دي. (۲)

او که سفیان بن عیینه رحمه الله وی نو د هغه حالات په **کتاب بدء الوحی** کښې د ړومبی حدیث د لاندې مختصرا او په **کتاب العلم** کښې د **باب قول المحدث حدثنا او اخبرنا او انبانا** د لاندې تفصیلا ذکر شوي دی (۳)

③ **زید بن اسلم** : دا مشهور مفسر او محدث تابعی زید بن اسلم قرشی مدنی رحمه الله دې، د هغه حالات په **کتاب الایمان** کښې د **باب کفران العشیر و کفر دون کفر** د لاندې تیر شوي دی. (٤)

④ **عطاء بن یسار** : دا امام عطاء بن یسار الهلالی المدنی رحمه الله دې. د هغه حالات په **کتاب الایمان** کښې د **باب کفران العشیر و کفر دون کفر** د لاندې تیر شوي دی. (۵)

⑤ **ابن عباس** : د سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما حالات په **بدء الوحی** کښې د څلورم حدیث د لاندې، او هم دغه شان په **کتاب الایمان** کښې د **باب کفران العشیر و کفر دون کفر** د لاندې تیر شوي دی. (۶)

قوله: قَالَ: تَوَضَّأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّةً مَرَّةً: سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه رسول الله ﷺ یو یو کرت اودس اوکړو (یعنی د اودس اندامونه ئې یو یو کرت وینځل) یو یو کرت اودس کول فرض دی او د دې په فرضیت د امت اجماع ده، بعض حضراتو تثلیث واجب کړې دې، صاحب د الابانة د ابن ابی لیلی رحمه الله نه دا نقل کړی دی، خو دا باطل مذهب دې، د هیڅ عالم نه دا په صحیح طریقې نه دې منقول، که وی نو هم قابل قبول نه دې، ځکه چه د اجماع او احادیث صحیحه خلاف دې. (۷)

امام بخاری رحمه الله په دې ترجمة الباب او بیا د دې حدیث شریف په ذریعه د داسې خلقو تردید کړې دې د چا طرف ته چه د تثلیث د وجوب نسبت کولې شی. دا حدیث د مصنف په مدعا باندې صراحة دلالت کوی.

---

۱) کشف الباری ج ۳ ص ۳۷۸
۲) کشف الباری ج ۲ ص ۲۷۸
۳) کشف الباری ج ۱ ص ۲۳۸، و ج ۳ ص ۱۰۲
٤) کشف الباری ج ۲ ص ۲۰۳
۵) کشف الباری ج ۲ ص ۲۰٤
۶) اوګورئ : کشف الباری ج ۱ ص ٤٤۵، و ج ۲ ص ۲۰۵
۷) اوګورئ : المجموع شرح المهذب ج ۱ ص ٤۳۷

قوله: مرة مرة: مفعول مطلق هم کيدې شي، يعنى ﴿توضاء وضوءًا مرة مرة﴾ او کيدې شي چه دا ظرف وى، يعنى ﴿توضاء فى وقت واحد﴾ (۱)

تفصيلى حديث شاته د ﴿باب غسل الوجه باليدين من غرفة واحدة﴾ د لاندې ذکر شوې دې.

(۲۲) بَابُ الْوُضُوءِ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ

دا باب د اودس په اندامونو كښې هر يو لره دوه دوه كرته د وينځلو په بيان كښې دې.

د شاته باب نه د دې مناسبت بالكل واضح دې، مخكښې يو يو كرت د اودس د اندامونو د وينځلو حكم وو او اوس ئې دا باب قائم اوفرمائيلو چه دوه دوه كرته هم وينځلې شى.

مقصود ترجمه د ترجمة الباب مقصد بالكل واضح دې چه په اودس كښې دوه دوه كرته وينځلو باندې اكتفاء كول جائز دى.

۱۵۷: ﴿حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عِيسَى قَالَ حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ(۲) أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ﴾

رجال الحديث

(۱) **حسين بن عيسٰى** : دا حسين بن عيسى بن حمران طائى بسطامى (۳) دامغانى رحمه الله دې، ابو على د هغه كنيت دې. (٤)

هغه د ازهر بن سعد بن السمان، ابو ضمره انس بن عياض، جعفر بن عون، ابو اسامه حماد بن اسامه، سفيان بن عيينه، عبدالله بن يزيد المقرئ، عبد الصمد بن عبدالوارث، عبيدالله بن موسى. عفان بن مسلم. د خپل پلار عيسى بن حمران، قبيصه بن عقبه، امام وكيع، يزيد

---

۱) اوګورئ: عمدة القارى ج ۳ ص ۳

۲) قوله: عن عبدالله بن زيد: الحديث، من أفراد البخارى، لم يخرجه غيره، انظر العمدة: ۳\ ٤، وتحفة الأشراف: ١٤\ ٣٤٠.

۳) بسطامى ضبطه ابن خلكان بفتح الباء الموحدة، انظر وفيات الاعيان ج ۲ ص ٥٣١، ترجمة ابى يزيد البسطامى. وكذلك ضبطه السمعانى اولا، وقال هذه النسبة الى بسطام، وهى بلدة بقومس مشهورة، ثم ضبطه بكسر الباء وقال هذه نسبة الى بسطام وهو اسم رجل ... انظر الانساب للسمعانى ج ۱ ص ٣٥١، ٣٥٣. قال محققه : وفى معجم البلدان ان اسم البلدة بسطام بالكسر، وكذا فى اللباب، وجزم بان الصواب : البسطامى بالكسر سواء اكان نسبة الى البلد ام الى الجد، وجرى فى المشتبه على التفرقة وتبعه التبصير اما التوضيح فتعقبه بانه تبع شيخه الفرضى التابع لابن السمعانى، وذكر تعقب اللباب .. انظر التعليقات على الانساب للسمعانى ج ۱ ص ٣٥٣

وقال بن الجزرى فى اللباب ص ١٥٣ بعد ذكر الضبطين : فيا ليت شعرى! اى فرق بين الاسمين، حتى يجعل احدهما مفتوحا والاخر مكسورا، انما الجميع المكسور، لانه اسم اعجمى، عرب بكسر الباء ....

٤) اوګورئ: عمدة القارى ج ٣ ص ٤، وتهذيب الكمال ج ٦ ص ٤٦٠

بن هارون او یونس المؤدب رحمهم الله وغیره حضرات نه روایت حدیث کوی
د هغه نه په روایت کونکو کښې امام بخاری، امام مسلم، امام ابوداؤد، امام نسائی، احمد بن سلمه، احمد بن محمد بن سریج، امام ابو حاتم الرازی، امام محمد بن اسحاق بن خزیمه او یحیی بن محمد بن یحیی الذهلی رحمهم الله وغیره ډیر حضرات دی. (۱)

امام ابو حاتم رحمه الله فرمائی: «صدوق» (۲)

امام حاکم رحمه الله فرمائی: «من کبار المحدثین وثقاتهم، من ائمه اصحاب العربیة» (۳)

امام نسائی او امام دارقطنی رحمهم الله فرمائی: «ثقة» (٤)

ادریسی رحمه الله فرمائی: «کان عالما فاضلا کثیر الحدیث» (۵)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی: «ثقة من ائمه العربیة» (۶)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: «صدوق، صاحب حدیث» (۷)

خو په دې باندې تعقب کړې شوې دې چه امام نسائی، دارقطنی، حاکم او ابن حبان رحمهم الله د هغه توثیق کړې دې او امام بخاری او مسلم رحمهما الله په خپل خپل صحیح کښې روایات اخستلې دی لهذا هغه ته «ثقة» وئیل پکار وو. (۸)

ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې. (۹)

په ۲۴۷ هجری کښې هغه وفات شوې دې. (۱۰) رحمه الله رحمة واسعة

② **یونس بن محمد**: دا یونس بن محمد بن مسلم البغدادی المؤدب رحمه الله دې، ابو محمد ئې کنیت دې، د حرمی په نسبت سره معروف دې. (۱۱)

دا د داؤد بن ابی الفرات، صالح المری، حماد بن زید، حماد بن سلمه، نافع بن عمر جمحی، فلیح بن سلیمان، لیث بن سعد، مفضل بن فضاله، معتمر بن سلیمان، او سلام بن ابی مطیع رحمهم الله وغیره نه روایت کوی.

---

۱) د شیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ: تهذیب الکمال ج ۶ ص ٤۶۰، ٤۶۲
۲) الجرح والتعدیل ج ۳ ص ۶۰، رقم ۲۷۱
۳) تهذیب الکمال ج ۶ ص ٤۶۲
٤) تهذیب التهذیب ج ۲ ص ۲۱۳، رقم ۶۶۱
۵) پورته حواله اوګورئ
۶) الکاشف ج ۱ ص ۳۳۵، رقم ۱۱۰۲
۷) تقریب التهذیب ص ۱۶۸، رقم ۱۳٤۰
۸) اوګورئ: تحریر تقریب التهذیب ج ۱ ص ۲۹۱، رقم ۱۳٤۰
۹) الثقات لابن حبان ج ۸ ص ۱۸۸، رقم ۱۲۹۰۵
۱۰) پورته حواله
۱۱) تهذیب الکمال ج ۳۲ ص ۵٤۰، ۵٤۱

د هغه نه په روایت کونکو کښې د هغه خوئي ابراهیم بن یونس او احمد بن یونس، علی بن المدینی، ابوبکر بن ابی شیبه، عثمان بن ابی شیبه، عبدالله المسندی، ابو خیثمه، حجاج بن الشاعر، حسین بن عیسی بسطامی، عبد بن حمید او عباس دوری رحمهم الله وغیره دی. (۱)

امام ابن معین رحمه الله فرمائی: ﴿ثقة﴾(۲)

یعقوب بن شیبه رحمه الله فرمائی: ﴿ثقة، ثقة﴾(۳)

امام ابو حاتم رحمه الله فرمائی: ﴿صدوق﴾(٤)

ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې. (۵)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی: ﴿الامام، الحافظ، الثقة﴾(۶)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: ﴿ثقة، ثبت﴾(۷)

هغه په ۲۰۷ هجری کښې وفات شوې دې. (۸) رحمه الله رحمة واسعة

③ **فلیح بن سلیمان**: دا فلیح بن سلیمان بن ابی المغیره خزاعی اسلمی مدنی رحمه الله دې. د هغه نوم عبدالملک دې، فلیح ئې لقب دې.

د هغه حالات په کتاب العلم کښې د **باب من سئل علما وهو مشتغل فی حدیثه** د لاندې تیر شوې دی.(۹)

④ **عبدالله بن ابی بکر بن عمرو بن حزم**: دا عبدالله بن ابی بکر بن عمرو بن حزم مدنی انصاری رحمه الله دې، ابو محمد ئې کنیت دې، ابوبکر ئې هم کنیت ذکر کړې شوې دې. (۱۰)

دې د سیدنا انس رضی الله عنه نه علاوه، د حمید بن نافع، سالم بن عبدالله بن عمر، عباد بن تمیم انصاری، ابو الزناد عبدالله بن ذکوان، امام زهری، د خپل پلار ابوبکر بن محمد بن عمرو بن حزم، د پلار د ترور عمرة بنت عبدالرحمن او ام عیسی الجزار رحمهم الله وغیره نه روایت کوی.

دهغه نه په روایت کونکو کښې اسماعیل بن علیه، سفیان ثوری، سفیان بن عیینه، ابو اویس مدنی، عبدالله بن لهیعه، عبدالملک بن جریج، فلیح بن سلیمان، امام مالک، امام

---

۱) د شیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوگورئ: تهذیب الکمال ج ۳۲ ص ۵٤۱، ۵٤۲
۲) تاریخ عثمان بن سعید الدارمی رحمه الله ص ۲۲۸، رقم ۸۷۶
۳) تاریخ بغداد ج ۱٤ ص ۳۵۱
٤) الجرح والتعدیل ج ۹ ص ۲٤۶، رقم ۱۰۳۳
۵) الثقات لابن حبان ج ۰ ص ۲۸۹، رقم ۱۶٤۸۹
۶) سیر اعلام النبلاء ج ۹ ص ٤۷۳
۷) تقریب التهذیب ص ۶۱٤، رقم ۷۹۱٤
۸) پورته حواله
۹) کشف الباری ج ۳ ص ۵۵
۱۰) تهذیب الکمال ج ۱٤ ص ۳٤۹

زهری (وهومن شیوخه ایضا) هشام بن عروه اویحیٰ بن ایوب مصری رحمهم الله وغیره حضرات دی.(۱)
امام مالک رحمه الله فرمائی : ﴿کان کثیر الحدیث، وکان رجل صدق﴾ (۲)
امام احمد رحمه الله فرمائی : ﴿حدیثه شفاء﴾ (۳)
امام یحیی بن معین او ابو حاتم رحمهما الله فرمائی : ﴿ثقة﴾ (٤)
امام نسائی رحمه الله فرمائی : ﴿ثقة، ثبت﴾ (۵)
ابن سعد رحمه الله فرمائی : ﴿کان ثقة، کثیر الحدیث، عالما﴾ (۶)
امام دارقطنی رحمه الله فرمائی : ﴿من الثقات الرفعاء﴾ (۷)
امام عجلی رحمه الله فرمائی : ﴿مدنی، تابعی، ثقة﴾ (۸)
ابن عبد البر رحمه الله فرمائی : ﴿کان من اهل العلم، ثقة، فقیها، محدثا، مامونا، حافظا، وهوحجة فیما نقل وحمل﴾ (۹)
ابن حبان رحمه الله هغه په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې. (۱۰)
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی : ﴿حجة﴾ (۱۱)
په ۱۳۵ هجری کښې د اویا کالو په عمر باندې وفات شوې دې. (۱۲) رحمه الله رحمة واسعة

⑤ **عباد بن تمیم** : دا عباد بن تمیم بن غزیه انصاری مدنی رحمه الله دې، د هغه حالات (هم په دې جلد کښې، په کتاب الوضوء کښې د باب لایتوضاء من الشك حتی یستقین د لاندې تیر شوې دی.

⑥ **عبدالله بن زید رضي الله عنه** : دا سیدنا عبدالله بن زید بن عاصم انصاری مازنی مدنی رضي الله عنه دې. د هغه حالات هم په کتاب الوضوء کښې د باب لایتوضاء من الشك حتی یستقین د لاندې تیرشوې دی.

---

۱) د شیوخ او تلامذه د تفصیل دپاره اوګورئ : تهذیب الکمال ج ١٤ ص ۳۵۰، ۳۵۱
۲) الجرح والتعدیل لابن ابی حاتم ج ۵ ص ۱۷، رقم ۷۷
۳) پورته حواله
٤) پورته حواله
۵) تهذیب الکمال ج ١٤ ص ۳۵۱
۶) تعلیقات تهذیب الکمال ج ١٤ ص ۳۵۱
۷) سنن الدارقطنی ج ۳ ص ۱۳۰، کتاب الصیام، باب النیة فی الصیام، رقم ۲۲۱۶
۸) الثقات للعجلی ج ۳ ص ۲۳، رقم ۸۶۱
۹) التمهید لابن عبدالبر ج ۱۷ ص ۱۵۵، حدیث مالک عن عبدالله بن ابی بکر بن حزم
۱۰) الثقات لابن حبان ج ۷ ص ۱۰، رقم ۸۷۷۹
۱۱) الکاشف ج ۱ ص ۵٤۱، رقم ۲۶۵٤
۱۲ الکاشف ج ۱ ص ۵٤۱، رقم ۲۶۵٤، وتقریب التهذیب ص ۲۹۷، رقم ۳۲۳۹

عبدالله بن ابى بكر بن عمرو بن حزم : دلته په بعض نسخو كښې هم دغه شان دى، پس د هروي په نسخه كښې پوره نوم دې، ﴿عبدالله بن ابى بكر بن محمد بن عمرو بن حزم﴾ پس د عمدة القارى په نسخه كښې پوره نوم موجود دې او علامه عينىؒ په شرح كښې تصريح كړې ده چه په بعض نسخو كښې لفظ ﴿محمد﴾ د مينځه نه ساقط شوې دې. (١) فتنبه

قوله: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ: رسول اللهﷺ دوه دوه كرته اودس اوكړو. يعنى په اودس كښې ئې هغه اندامونه چه وينځلې شى دوه دوه كرته وينځل.

په اودس كښې د تثليث غسل حيثيت: په اودس كښې يو كرت وينځل خو فرض دى، د هغې نه روستو سنت دى يا دواړه جدا جدا دى؟

په دې سلسله كښې مختلف اقوال منقول دى!

① يو قول دا دې چه اول كرت فرض دى، دويم كرت سنت دې او دريم كرت اكمال دې.

② دويم قول دا دې چه اول كرت فرض دې، باقى دواړه سنت دى.

③ دريم قول دا دې چه اول كرت وينځل خو فرض دى، دويم كرت سنت دى او دريم كرت نفل دى. ④ څلورم قول دا دې چه دويم كرت نفل دى او دريم كرت سنت دى.

⑤ ابوبكر الاسكافؒ فرمائى چه درې واړه كرته وينځل ئې فرض دى.

⑥ ابن الهمامؒ په فتح القدير كښې فرمائى چه حق خبره دا ده چه په دويم او دريم كرت وينځلو مرتبه مجموعه سنت واحده دې، صاحب د البحر الرائق هم دا قول اختيار كړې دې او د دې علت ئې دا بيان كړې دې چه دويم كرت يا دريم كرت وينځلو لره مستقل د سنيت سره نه شى موصوف كيدې، چه ترڅو پورې يو د بل سره ضم نه كړې شى.

⑦ صاحب د السراج الوهاج فرمائى چه اول كرت فرض دې او دويم او دريم كرت وينځل ئې د صحيح قول مطابق سنت مؤكده دى.

په النهر الفائق كښې د دې تائيد كړې شوې دې او فرمائى هم دا مناسب خبره ده، ځكه چه په سنيت باندې د رسول اللهﷺ عمل ﴿توضاء مرتين مرتين﴾ نه استدلال كولې شى، چه په هغې باندې دا ارشاد دې چه: ﴿هذا وضوء من يضاعف له الاجر مرتين﴾ (٢) يعنى دا هغه اودس دې په كوم چه دوچند اجر وركولې شى.

---

١) اوګورئ: صحيح البخارى ج ١ ص ٤٣، طبع طوق النجاة، تحقيق زهير بن ناصر الناصر، وعمدة القارى ج ٣ ص ٤

٢) وعن ابن عمر قال: توضأ النبى صلى الله عليه و سلم مرة مرة ثم قال هذا وضوء من لا تقبل له صلاة إلا به ثم توضأ مرتين مرتين ثم قال هذا وضوء من يضاعف له الأجر مرتين ثم توضأ ثلاثا ثلاثا ثم قال هذا وضونى ووضوء المرسلين من قبلى. السنن الكبرى للبيهقى ج ١ ص ٨٠، كتاب الطهارة، باب فضل التكرار فى الوضوء، رقم ٣٨٣، وسنن الدارقطنى ج ١ ص ٨٠، كتاب الطهارة، باب وضوء رسول الله صلى الله عليه وسلم رقم ٤

او په درې درې كرته وينځلو باندې ئې اوفرمائيل : ﴿ هذا وضوئى ووضوء الانبياء من قبلى ﴾ (۱) يعنى دا زما اودس دې او زما نه د مخكښې انبياء ﷺ اودس دې.

اوګورئ ! رسول الله ﷺ په دوه دوه كرته وينځلو باندې د مستقل جزاء زيرې وركړو، د دې نه معلومه شوه چه دا مستقل سنت دې، نه جزء دسنت، چه په دې باندې دې بالكل اجر مرتب نه شي. (۲) والله اعلم

د ترجمة الباب په ثبوت باندې اشكال او د هغې جواب : امام بخارى رحمه الله دلته ترجمه قائم كړې ده ﴿ باب الوضوء مرتين مرتين ﴾ او د هغې د لاندې ئې د عبدالله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه روايت ذكر كړې دې. ﴿ ان النبى ﷺ توضا مرتين مرتين ﴾ د دې نه د ترجمة الباب اثبات واضح دې، خو په دې باندې اشكال دا دې چه د سيدنا عبدالله بن زيد رضي الله عنه يو روايت وړاندې تفصيلى راروان دې په هغې كښې دى چه ! ﴿ فدعا بماء فافرغ على يديه، فغسل مرتين، ثم مضمض واستنثر ثلاثا، ثم غسل وجهه ثلاثا، ثم غسل يديه مرتين مرتين الى المرفقين ﴾ (۳)

يعنى عبدالله بن زيد بن عاصم رضي الله عنه ته چه كله دا خواهش ښكاره كړې شو چه هغه شان اودس اوښائى څنګه چه به رسول الله ﷺ كولو نو هغه اوبه راطلب كړې، په خپلو دواړو لاسونو باندې ئې اوبه واړولې، او هغه ئې دوه كرته وينځل، بيا ئې درې كرته خولهٔ كښې اوبه واچولې او پوزه ئې صفا كړه، بيا ئې خپله پوزه درې كرته وينځله، بيا ئې دوه دوه كرته د څنګلو پورې لاسونه وينځل.....

په دې روايت مفصله باندې د نظر اچولو نه دا معلوميږى چه په اندامونو كښې تفريق كړې شوې دې، بعض دوه كرته او بعض درې كرته وينځلې شوې دى، لهذا د مؤلف ترجمه نه ثابتيږى.

د دې جواب دا دې چه د مصنف رحمه الله دا عادت دې چه څنګه هغه د روايت بعض طرق ته اشاره كولو سره خپله مدعا اخذ كوى، هم دغه شان بعض وخت صرف د هم هغه الفاظو نه استدلال كولو سره خپله مدعا اخذ فرمائى كوم چه د هغه مخې ته وى.

داسې معلوميږى چه امام بخارى رحمه الله د سيدنا عبدالله بن زيد رضي الله عنه دا روايت مختصره د راتلونكى روايت مطوله نه جدا او مستقل ګنړى، پس په ابوداؤد او ترمذى كښې د سيدنا

---

۱) اوګورئ : السنن الكبرى للبيهقى ج ۱ ص ۸۰ كتاب الطهارة، باب فضل التكرار فى الوضوء، رقم ۳۸۴، ومسند الطيالسى ج ۳ ص ۴۳۴، رقم ۲۰۳۶

۲) دا ټول تفاصيل په : السعاية ج ۱ ص ۱۳۱، البحث السادس فى شرح قوله تثليث الغسل نه اخستلې شوې دې، هم دغه شان اوګورئ : فتح القدير ج ۱ ص ۳۱، ۳۲، والبحر الرائق ج ۱ ص ۲۴، ورد المحتار على الدر المختار ج ۱ ص ۸۷

۳) صحيح البخارى ج ۱ ص ۳۱، كتاب الوضوء، باب مسح الراس كله، رقم ۱۸۵

ابوهریره رضی الله عنه نه نقل دی ﴿ ان النبی ﷺ توضا مرتین مرتین ﴾ (۱) نو کیدې شی چه څنګه ابوهریره رضی الله عنه وضوء مرتین مرتین نقل کوی، هم دغه شان ئې عبدالله بن زید رضی الله عنه هم نقل کوی او دا واقعه جدا وی او په کوم حدیث کښې چه تفریق اعضاء مذکور دې هغه جداوی. والله اعلم

د سیدنا عبدالله بن زید رضی الله عنه په حدیث کښې تفریق اعضاء یعنی په یو اودس کښې بعض اندامونه دوه دوه کرته او بعض درې درې کرته وینځل مذکور دی، د دې نه علماء کرامو په دې خبره باندې دا استدلال کړې دې چه دغه شان په اندامونو کښې تفریق کیدلې شی، پس امام ترمذی، امام بیهقی او ابو اسحاق شیرازی رحمهم الله وغیره دا استدلال کړې دې، امام نووی رحمه الله لیکلې دی چه په دې باندې اجماع ده. (۲)

قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه په یو اودس کښې د رسول الله ﷺ نه یو شان یا ﴿ مرتین ﴾ یا ﴿ثلاث مرات ﴾ وینځل ثابت دی، خو په یو اودس کښې چه په داسې طریقه تفریق وی چه بعض اندامونه دوه دوه کرته وینځلې شی او بعض درې کرته وینځلې شوې وی دا د رسول الله ﷺ نه ثابت نه دی. دا د راوی د طرف نه څه نقصان راغلې دې او کله راوی هغه ذکر کړې دې او کله ئې ساقط کړې دې، یا دا د راوی په نسیان باندې محمول دې. (۳)

خو ابو عبدالله ابی رحمه الله فرمائی چه د راوی د طرف نه به دا ترک او نسیان هله منلې کیدې چه هغه څه عدد نه ذکر کولې، چه هر کله هغه باقاعده عدد ذکر کوی، نو بیا د راوی د طرف نه د اسقاط او نسیان څه احتمال پاتې کیږی، خصوصا چه کله د عبدالله بن زید رضی الله عنه د دې حدیث په راویانو کښې هیڅ اختلاف نشته. (٤) والله اعلم

(۲۳) بَابُ الْوُضُوءِ ثَلَاثًا ثَلَاثًا

د ترجمة سابقه سره مناسبت او د ترجمه مقصد : د دې باب د مخکښې باب سره مناسبت بالکل واضحه دې او د ترجمة الباب مقصد هم واضح دې چه د اودس اندامونه درې ځله وینځل د اودس کمال دې، د دې بیانول مقصود دی.

۱) سنن ابی داؤد، کتاب الطهارة، باب الوضوء مرتین، رقم ۱۳۶، وجامع الترمذی، ابواب الطهارة، باب الوضوء مرتین مرتین، رقم ٤٣

۲) اوګورئ : جامع الترمذی، ابواب الطهارة، باب فیمن یتوضاء بعض وضوئه مرتین وبعضه ثلاثا رقم ٤٧، والسنن الکبری للبیهقی ج ۱ ص ۸۰، کتاب الطهارة، باب توضوء بعض الاعضاء ثلاثا وبعضها اثنین وبعضها واحدة، رقم ۳۸۲، والمهذب مع شرح المجموع ج ۱ ص ٤۳۸.

۳) اکمال المعلم بفوائد مسلم ج ۲ ص ١٤، کتاب الطهارة، باب صفة الوضوء وکماله

٤) اکمال اکمال المعلم ج ۲ ص ۱۸

۱۵۸: ﴿حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْأُوَيْسِيُّ قَالَ حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ أَنَّ عَطَاءَ بْنَ يَزِيدَ أَخْبَرَهُ أَنَّ حُمْرَانَ مَوْلَى عُثْمَانَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ رَأَى عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ (۱) دَعَا بِإِنَاءٍ فَأَفْرَغَ عَلَى كَفَّيْهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ فَغَسَلَهُمَا ثُمَّ أَدْخَلَ يَمِينَهُ فِي الْإِنَاءِ فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا وَيَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ ثَلَاثَ مِرَارٍ ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ثُمَّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوئِي هَذَا ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ لَا يُحَدِّثُ فِيهِمَا نَفْسَهُ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ﴾

رجال الحديث

① **عبدالعزيز بن عبدالله الاويسى** : دا عبدالعزيز بن عبدالله بن يحيى بن عمرو بن اويس قرشى اويسى مدنى رحمه الله دي. د هغه حالات په كتاب العلم كښ د **باب الحرص على الحديث** د لاندې تير شوې دى. (۲)

② **ابراهيم بن سعد** : دا ابراهيم بن سعد بن عبد الرحمن بن عوف زهرى قرشى مدنى رحمه الله دي. د هغه حالات مختصرا په كتاب الايمان كښ د **باب تفاضل اهل الايمان فى الاعمال** د لاندې او په تفصيل سره په كتاب العلم كښ د **باب ما ذكر فى ذهاب موسى صلى الله عليه وسلم فى البحر الى الخضر** د لاندې تير شوې دى. (۳)

③ **ابن شهاب** : دا امام محمد بن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله بن شهاب زهرى مدنى رحمه الله دي. د هغوى حالات په (بدء الوحى) كښ د دريم حديث د لاندې تير شوې دى. (٤)

④ **عطاء بن يزيد** : دا ابو محمد يا ابو يزيد عطاء بن يزيد الليثى ثم الجندعى المدنى ثم الشامى رحمه الله دي. د هغه حالات په كتاب الوضوء كښ د **باب لا تستقبل القبلة بغائط او بول الا عند البناء جدار او نحوه**... د لاندې تير شوې دى.

---

۱) قوله : عثمان بن عفان الحديث اخرجه البخارى فى صحيحه ج ۱ ص ۲۸ فى نفس الكتاب والباب، رقم ۱۶۰، وفى ج ۱ ص ۲۸، كتاب الوضوء، باب المضمضة فى الوضوء، رقم ۱۶۴، وفى ج ۱ ص ۲۵۹، كتاب الصوم، باب السواك الرطب واليابس للصائم، رقم ۱۹۳۴، وفى ج ۲ ص ص ۹۵۲، كتاب الرقاق، باب قول الله تعالى ﴿ان وعد الله حق فلا تغرنكم الحياة الدنيا﴾ رقم: ۶۴۳۳، ومسلم فى صحيحه، كتاب الطهارة، باب صفة الوضوء وكماله، رقم ۵۵۰، ۵۵۱، والنسائى فى سننه، فى كتاب الطهارة، صفة الوضوء، باب المضمضة والاستنشاق رقم ۸۴، وباب باى اليدين يتمضمض؟ رقم ۸۵، وابوداؤد فى سننه، فى كتاب الطهارة، باب صفة وضوء النبى صلى الله عليه وسلم رقم ۱۰۶- ۱۱۰

۲) كشف البارى ج ٤ ص ٤٨

۳) كشف البارى ج ۲ ص ۱۲۰، و ج ۳ ص ۳۳۳

٤) كشف البارى ج ۱ ص ۳۲۶

⑤ **حمران مولى عثمان** : دا حمران بن ابان بن خالد بن عبد عمرو بن عقيل بن عامر نمرى (۱) تمرى رحمه الله دي. د پلار نوم ئي اُبي يا اَبًا هم بيان كړې شوې دې.
دې د عين التمر نه قيد كيدو سره د مسيب بن نجبه په حصه كښې راغلي وو، د هغه نه سيدنا عثمان رضي الله عنه اخستلو سره ازاد كړې وو، په دې وجه ورته حمران مولى عثمان وئيلې شى. (۲)
د هغه ملاقات د سيدنا ابوبكر او سيدنا عمر رضي الله عنهما سره هم شوې دې، خو هغه د خپل مولى سيدنا عثمان او سيدنا معاويه بن ابى سفيان رضي الله عنه نه روايت حديث كوى.

د هغه نه په روايت كونكو كښې ابو وائل شقيق بن سلمه (وهو من اقرانه)، ابو صخره جامع بن شداد محاربى، بكير بن عبدالله الاشج، حضرت حسن بصرى، عروه بن الزبير، معاذ بن عبدالرحمن التيمى، معبد جهنى، ابو التياح يزيد بن حميد ضبعى او ابو سلمه بن عبدالرحمن بن عوف رحمهم الله وغيره ډير حضرات دى. (۳)

حافظ ابن عبد البر رحمه الله فرمائى : ﴿ وكان حمران احد العلماء الجلة، اهل الوداعة والراى والشرف بولائه ونسبه ﴾(٤)
يعنى حمران د جليل القدر علماء كرامو نه دې، اهل وجاهت، صاحب رائې او د خپل ولاء او نسب په اعتبار سره د اوچتې درجې مالك وو.
حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى : ﴿ ثقة نبيل ﴾(۵)

هم دغه شان فرمائى : ﴿ حجة، ...قال الحاكم : تكلم فيه بما لايؤثر فيه، قلت : هو ثبت ﴾(۶)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى : ﴿ ثقة ﴾(۷)
ابن حبان رحمه الله هغه په خپل كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې. (۸)
خو امام بخارى رحمه الله هغه په خپل كتاب الضعفاء كښې ذكر كړې دې. (۹)

---

۱) قال ابن سعد : نزل البصرة، وادعى ولده انه من النمر بن قاسط، سير اعلام النبلاء ج ٤ ص ۱۸٤
۲) اوګورئ : تهذيب الكمال ج ۷ ص ۳۰۱
۳) د شيوخ او تلامذه د تفصيل دپاره اوګورئ : تهذيب الكمال ج ۷ ص ۳۰۱، ۳۰۲
٤) التمهيد لما فى الموطاء من المعانى والاسانيد ج ۲۲ ص ۲۱۱، قال محققه فى نسخة : الاجلة مكان الجلة والوجاهة مكان الوداعة. هذا، وان ابن عبدالبر قال : وحمران مولى عثمان هو حمران بن اعين بن خالد وهو خطاء، والصحيح حمران بن ابان، واما حمران بن اعين فهو راو اخر، اخو عبد الملك بن اعين، انظر التقريب ص ۱۷۹ وغيره.
۵) ذكر اسماء من تكلم فيه وهو موثق ص ۷۲، رقم ۹۵
۶) الرواة الثقات المتكلم فيهم بما لا يوجب ردهم، ص ۸۸، رقم ۳۱
۷) تقريب التهذيب ص ۱۷۹، رقم ۱۵۱۳
۸) الثقات لابن حبان ج ٤ ص ۱۷۹، رقم ۲۳۷۱
۹) ميزان الاعتدال ج ۱ ص ٤۰۶، رقم ۲۲۹۱

هم دغه شان ابن سعد رحمه الله فرمائی: ﴿وکان کثیر الحدیث، ولم ارهم یحتجون بحدیثه﴾(۱) یعنی هغه کافي احادیث روایت کوی. زه اهل علم نه وینم چه د هغه په احادیثو سره به احتجاج کوی.
حقیقت دا دې چه د هغه په احادیثو باندې د شیخین نه علاوه اصحاب سنن اربعه احتجاج کړې دې، امام بخاری رحمه الله اګر چه هغه په الضعفاء کښې ذکر کړې دې، خو د جرح څه وجه ئې نه ده ذکر کړې، هم دغه شان ابن سعد هم یوه مبهم خبره کړې ده، د جرح سبب ئې نه دې واضح کړې، او حال دا دې چه خپله د امام بخاری رحمه الله سره د اصول سته ټولو مصنفینو په هغه احتجاج کړې دې او د ابن عبدالبر، ابن حبان، حافظ ذهبی او حافظ ابن حجر رحمهم الله توثیقات او تعدیلات موجود دی، په دې وجه به هغه ثقه ګڼړلې شی. والله اعلم
غالبا هم دا وجه ده چه حافظ ابن حجر رحمه الله د هدی الساری په هغه فصل کښې د هغه بالکل ذکر نه دې کړې په کوم کښې چه هغه د صحیح بخاری په متکلم فیه راویانو باندې کلام کړې دې.(۲)
⑥ **عثمان رضی الله عنه** : دا امیر المومنین سیدنا عثمان بن عفان بن ابی العاص بن امیه بن عبد شمس بن عبد مناف قرشی (اموی) رضی الله عنه دې. ابوعمرو، ابو عبدالله او ابو لیلی ئې کنیتونه بیانولې شی. ذوالنورین ئې لقب دې.
د مور نوم ئې اروی بنت کریز بن ربیعه بن حبیب بن عبد شمس بن عبد مناف وه، دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ترور لور ده.
د عثمان رضی الله عنه نیا (د مور د طرف نه) ام حکیم البیضاء بنت عبد المطلب ده، کومه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم ترور ده. (۳)

---

۱) الطبقات لابن سعد ج ۵ ص ۲۸۳
۲) د تحریر تقریب التهذیب مصنفین د حافظ ابن حجر رحمه الله په کلام ﴿ثقة﴾ باندې تبصره کولو سره لیکی: بل صدوق فی احسن اقواله، فما وجدت احدا وثقه سوی ابن حبان والذهبی، وقال ابن سعد: لم اراهم یحتجون بحدیثه. و اورد البخاری فی الضعفاء. قلت (القائل صاحبا التحریر): ویظهر من جماع ترجمته ان الرجل لم یکن امینا، الامانة التی تؤدی الی توثیقه توثیقا مطلقا. فلعل هذا هو الذی تبین للبخاری، علی ان البخاری ومسلما قد احتجا به فی الصحیح. تحریر تقریب التهذیب ج ۱ ص ۳۲۱، ۳۲۲
خو د هغه حالات کوم چه اصحاب تراجم ذکر کړې دی د هغې د مطالعه کولو نه معلومیږی چه په هغه باندې یو محدث یا اصحاب جرح وتعدیل نه چا هم څه جرح نه ده کړې، هر چه د ﴿لم یکن رجلا امینا﴾ تعلق دې، پس غالبا د دې نه د هغه واقعې طرف ته اشاره ده کوم چه اصحاب سیر ذکر کړې ده چه سیدنا عثمان رضی الله عنه د خپل یو مرض په موقع باندې وصیت لیکلې وو او په هغې کښې ئې سیدنا عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه خپل خلیفه نامزد کړې وو. هغه وخت سیدنا عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه حج له تلې وو. روستو چه کله هغه راغلو نو حمران دا راز هغه ته بیان کړو، سیدنا عثمان رضی الله عنه ته چه کله دا معلومه شوه نو هغه ډیر ناراضه شو او هغه ئې جلا وطن کړو.
خو د دې واقعې په روایت حدیث کښې د عدالت او ضعف په اعتبار سره په ظاهره کښې هیڅ اثر نشته، که یقینی دا خبره مؤثر وې نو امام بخاری رحمه الله به د هغه نه خائې په خائې په خپل صحیح کښې ولې احتجاج کولې. والله اعلم
۳) اوګورئ: تهذیب الکمال ج ۱۹ ص ۴۴۵، ۴۴۶

سیدنا عثمان رضی الله عنه په شروع شروع کښې مسلمان شوې وو، د حبشي او مدینې منورې دواړه هجرتونه ئې کړي دی، رسول الله ﷺ اول خپله لور سیده رقیه رضی الله عنها د هغه په نکاح کښې ورکړه، د هغې د وفات کیدو نه پس ئې بله لور سیده ام کلثوم رضی الله عنها د هغه په نکاح کښې ورکړه. (۱)

هغه د رسول الله ﷺ، سیدنا ابوبکر او سیدنا عمر فاروق رضی الله عنهما نه د حدیث روایت کوی.

د سیدنا عثمان رضی الله عنه نه په روایت کونکو کښې د هغه په ځامنو کښې ابان، سعید، عمرو او په غلامانو کښې د حمران نه علاوه ابو صالح، ابو سهله، «دغه شان» مروان بن الحکم، عبدالله بن مسعود، زید بن ثابت، عمران بن حصین، ابو قتاده، ابوهریره، انس بن مالك، السائب بن یزید، سلمه بن الاکوع، ابو امامه الباهلی، ابو امامه سهل بن حنیف، طارق بن شهاب، عبدالله بن عباس، عبدالله بن عمر، عبدالله بن الزبیر او ابو سلمه بن عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنهم ورحمهم الله جمیعا.... وغیره ډیر حضرات شامل دی. [حواله بالا]

سیدنا عثمان رضی الله عنه د فیل د واقعې نه شپږ کاله روستو پیدا شوې دې، د حبشه طرف ته ئې د خپلې بی بی سیده رقیه رضی الله عنها سره د ټولو نه مخکښې هجرت اوکړو، روستو نور حضرات په هغوی پسې لاړل، بیا ئې د مدینې منورې طرف ته هجرت اوکړو، په بدر کښې د شریکیدو دپاره تیار وو چه د سیده رقیه رضی الله عنها د بیمارئ د وجې نه رسول الله ﷺ هغه پاتې کړو او د بدر د حصې نه ئې هم هغه ته ورکړه او هغه ئې د بدریانو نه هم شمار کړو.

د حدیبیه په موقع باندې ضرورت پیښ شو چه څوك مکې مکرمې ته اولیږلې شی، د عثمان رضی الله عنه نه موزون بل څوك نه وو، په دې وجه عثمان رضی الله عنه هلته اولیږلې شو، د هم هلته نه دا دروغژن خبر خور شو چه عثمان رضی الله عنه شهید کړې شو.

په دې موقع باندې رسول الله ﷺ د ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه په جهاد او قتال باندې بیعت واخستلو، رسول الله ﷺ خپل یو لاس په بل لاس باندې ږدلو سره اوفرمائیل چه دا د عثمان رضی الله عنه لاس دې، کوم چه زما په لاس باندې بیعت کوی.

رسول الله ﷺ پرله پسې خپلې دوه لونړه د هغه په نکاح کښې ورکړې او وې فرمائیل که زما بله لور وې نو هغه به مې هم ستا په نکاح کښې درکړې وې.

سیدنا عثمان رضی الله عنه په هغه لس خوش قسمته صحابه کرام رضی الله عنهم کښې شامل دې چاته چه رسول الله ﷺ په یو مجلس کښې د جنت زیرې ورکړې وو.

عثمان رضی الله عنه د هغه اصحاب الرائی خلقو نه یو وو چاته چه سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه د خلافت ذمه دارې سپارلې وه.

عثمان رضی الله عنه په خلفاء راشدینو کښې په دریم نمبر دې، د ټول اهل سنت والجماعت په نزد د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما نه پس عثمان رضی الله عنه «د ټول امت نه» افضل دې. (۲)

---

۱) تهذیب الکمال ج ۱۹ ص ۴۴۶، ۴۴۸

۲) دا ټول تفصیلات د تهذیب الکمال ج ۱۹ ص ۴۴۵ تا ۴۵۰ نه اخستلې شوې دی.

سيدنا عبد الله بن مسعود رضي الله عنه د بيعت عثمان رضي الله عنه په موقع باندې اوفرمائيل : ﴿ بايعنا خيرنا، ولم نال ﴾ (١)
يعنى مونږ په ټولو کښې د غوره انسان په لاس بيعت اوکړو او مونږ هيڅ کوتاهى نه ده کړې.
سيدنا على رضي الله عنه فرمائى چه سيدنا عثمان رضي الله عنه په مونږ کښې د ټولو نه زيات صله رحمى کونکې وو او هغه د داسې خلقو نه وو چه د هغوى په باره کښې راغلې دى ﴿ ثم اتقوا وامنوا ثم اتقوا واحسنوا .. والله يحب المحسنين ﴾ (٢)
سيده عائشه رضي الله عنها فرمائى : ﴿ ولقد قتلوه، وانه لمن اوصلهم للرحم، واتقاهم لربه ﴾ (٣) يعنى هغه باغيانو عثمان رضي الله عنه قتل کړو، حال دا چه هغه د ټولو نه زيات صله رحمى کونکې او د خپل رب نه زيات ويريدونکې وو.
بئر رومه په مدينه منوره کښې د يو يهودى کوهې وو، هغه به په مسلمانانو باندې اوبه خرڅولې، رسول الله ﷺ ترغيبا اوفرمائيل څوك دې چه دا کوهې واخلى او د مسلمانانو دپاره ئې وقف کړى او خپله ئې هم د عامو مسلمانانو په شان اوبه استعمالوى؟ د هغې په بدل کښې به الله پاك هغه ته په جنت کښې يو ګودر ورکړى. سيدنا عثمان رضي الله عنه يهودى ته ورغلو او هغه سره ئې سودا اوکړه او نيم کوهې ئې په دولس زره درهم باندې واخستلو او هغه سره دا مقرر شوه چه کوهې به يوه ورځ يهودى استعمالوى او يوه ورځ به ئې سيدنا عثمان رضي الله عنه. بيا داسې اوشوه چه د سيدنا عثمان رضي الله عنه د نمبر والا ورځ کښې به مسلمانانو دومره اوبه ډکې کړې چه د دوه ورځو دپاره به کافى شوى. يهودى چه کله دا اوليدل نو ډير غمژن شو. د دې نه پس ئې د کوهى باقى نيمه حصه په اته زره درهم باندې د عثمان رضي الله عنه په لاس باندې خرڅه کړه. (٤)
رسول الله ﷺ چه کله دا خواهش ظاهر کړو چه د مسجد نبوى توسيع کيدل پکار دى نو سيدنا عثمان رضي الله عنه د پنځه ستنو په مقدار ځائې اخستلو سره په مسجد کښې شامل کړو. (٥)
د غزوه تبوك په موقع باندې ئې نهه نيم سوه (٩٥٠) اوښان او پنځوس (٥٠) اسونه ورکړل، بلکه په يو روايت کښې زر اوښان او اويا اسونه منقول دى. (٦)
عبادت : د عبادت ئې دا حال وو چه په يو يو رکعت کښې به ئې پوره قران کريم ختمولو، تردې چه کله د هغوى د شهادت دپاره محاصره اوکړې شوه نو په هغه موقع باندې به هم هغه د شپې پاسيدلو سره عبادت کولو او په يو يو رکعت کښې به ئې يو يو قران کريم ختمولو.

---

١) الاصابة ج ٢ ص ٢٢٣
٢) پورته حواله
٣) پورته حواله
٤) تهذيب الكمال ج ١٩ ص ٤٥٠
٥) پورته حواله
٦) پورته حواله

د سیدنا عثمان رضی الله عنه په زمانه کښې مالونه دومره ډېر فراخه شو او برکت پیدا شو چه خلقو یوه یوه وینزه د هغې د وزن برابر چاندۍ باندې واخستله، یو یو اس ئې په یو یو لاکه درهم باندې او یوه یوه د کجهورې اونه ئې په زر درهم باندې واخستله. سیدنا عثمان رضی الله عنه به همیشه روژې نیولې. (۱)

شهادت : د سیدنا عثمان رضی الله عنه په اخری دور کښې څه اشرار داسې پیدا شو چا چه دا کلکه اراده کړې وه چه عثمان رضی الله عنه شهید کړی، بل طرف ته رسول الله صلی الله علیه وسلم سیدنا عثمان رضی الله عنه ته د ابتلاء او ازمینښت پیش ګوئی کړې وه، او د شهادت پیش ګوئی ورته کړې وه او په دې موقع ئې ورته د صبر تلقین هم کړې وو. (۲)

پس په دې موقع باندې نه صرف دا چه هغه د صبر لمن پرې نه خودله بلکه د صحابه کرام رضی الله عنهم د اجازت باوجود ئې چاته هم د تورې د راویستلو اجازت ورنکړو. (۳)

په داسې حال کښې چه سیدنا عثمان رضی الله عنه د قران کریم تلاوت کولو او مصحف ئې پرانستلې وو، هغه ظالمانو شهید کړو، اکثر حضرات دا روایت کوی چه د وینې څو قطرې د قران کریم په آیت ﴿فسیکفیکهم الله﴾ باندې پریوتلې. (٤)

خلافت او د خلافت موده : د سیدنا عمر رضی الله عنه د شهادت او تدفین نه درې ورځې پس په یکم محرم ۲۴ هجری باندې ټولو خلقو په اتفاق سره د سیدنا عثمان رضی الله عنه په لاس باندې د خلافت بیعت اوکړو. په ۱۷ یا ۱۸ ذی الحجه ۳۵ هجری کښې د سیدنا عثمان رضی الله عنه د شهادت عظیم مصیبت راغلو، په تاریخ وفات کښې ئې نور اقوال هم دی. (۵)

فضائل او مناقب : د سیدنا عثمان رضی الله عنه مناقب او فضائل بیشماره دی؛

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی : ﴿الا استحیی من رجل تستحیی منه الملائکة﴾ (٦)

یعنی زه د هغه سړی نه حیاء اونکړم د چا نه چه ملائك هم حیاء کوی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلې وو : ﴿من یحفر بئر رومة فله الجنة﴾ (۷) او هم دغه شان ئې فرمائیلې وو : ﴿من جهز جیش العسرة فله الجنة﴾ (۸)

یعنی څوك چه بئر رومه اوکنی نو د هغه دپاره جنت دې او څوك چه جیش عسره (د غزوه

---

۱) تهذیب الکمال ج ۱۹ ص ٤٥٠، ٤٥١

۲) قال عثمان یوم الدار : ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قد عهد الی عهدا، فانا صابر علیه. جامع الترمذی ابواب المناقب، باب فی مناقب عثمان بن عفان رضی الله عنه، رقم ۳۷۱۱

۳) اوګورئ : تهذیب الکمال ج ۱۹ ص ٤٥٦

٤) پورته حواله

۵) اوګورئ : تهذیب الکمال ج ۱۹ ص ٤٥٤

٦) مسند احمد ج ٦ ص ۲۸۸، رقم ۲٦۹۹۹، ۲۷۰۰۰

۷) اخرجه البخاری تعلیقا، انظر صحیح البخاری، کتاب فضائل الصحابة، باب مناقب عثمان بن عفان

۸) پورته حواله

تبوك مجاهدين لره، زاد راه برابر کړی او سامان ورته ورکړی هغه جنتی دی. سیدنا عثمان رضی الله عنه دا دواړه کارونه اوکړل.

د سیدنا انس رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ د احد غر ته اوختلو، هغه سره سیدنا ابوبکر، سیدنا عمر او سیدنا عثمان رضی الله عنهم وو، د احد غر په خوزیدو شو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : اې احده! په قلار شه! او هغه ته ئې په خپه باندې ګزار هم ورکړو! او وې فرمائیل. په تا باندې یو نبی، یو صدیق او د دوه شهیدانو نه علاوه هیڅوك نشته! (۱)

د غزوه تبوك په موقع باندې چه سیدنا عثمان رضی الله عنه ښه ډیر سامان راوړلو نو رسول الله ﷺ د خوشحالئ نه اوفرمائیل : ﴿ ما علی عثمان ما عمل بعد هذه، ما علی عثمان ما عمل بعد هذه ﴾ (۲)
یعنی د دې نه روستو چه عثمان رضی الله عنه هر څه کوی هیڅ باك نشته.

دبیعت رضوان په موقع باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل: ﴿ان عثمان فی حاجة الله وحاجة رسوله﴾(۳)
یعنی عثمان رضی الله عنه دالله پاك او دهغه درسول ﷺ په کارکښې دی،د دې نه پس ئې خپل یو لاس په بل باندې ږدلو سره اوفرمائیل چه دا لاس د عثمان دې او د هغه د طرف نه بیعت دې.

د روایاتو تعداد : د سیدنا عثمان رضی الله عنه احادیث په اصول سته کښې ذکر دی، د عثمان رضی الله عنه نه ټول یو سل څلویښت احادیث نقل دی، په هغې کښې درې احادیث متفق علیه دی، او امام بخاری په اتۀ احادیثو کښې او امام مسلم رحمه الله په پنځو احادیثو کښې متفرد دی. (٤) والله اعلم، رضی الله عنه وارضاه

د اودس په سلسله کښې د امام بخاری رحمه الله ترتیب : امام بخاری رحمه الله د ټولو نه اول ﴿ باب الوضوء مرة مرة ﴾ قائم کړو ،بیائې ﴿ باب الوضوء مرتین مرتین ﴾ اوپه اخرکښې ئې ﴿ باب الوضوء ثلاثا ﴾ ذکر کړو.
امام ابوداؤد رحمه الله بالکل د دې عکس ذکر کړې دې، ځکه چه وضوء ثلاثا د ټولو نه اکمل او افضل دې، لهذا اول ئې هغه راوړې دې، د هغې نه روستو ئې وضوء مرتین، چه دا درمیانه دې او په اخرکښې ئې وضوء مرة ذکر کړې دې، کومه چه ادنی درجه ده.
امام بخاری رحمه الله دا خبره مخې ته کړه چه وضوء مرة خو فرض دې او اول هم دا وی، پس هغوی د ادنی نه اعلی طرف ته ترقی اوکړه، بله خبره دا د چه مرتین او ثلاثا دا په مرة باندې مرتب دی، اول به د مرة تحقق وی، بیا د مرتین او بیا د ثلاثا، نو د وجود په اعتبار سره هم مرتین او ثلاثا موخر دی. لهذا امام بخاری رحمه الله چه یو طرف ته د ادنی نه اعلی طرف ته ترقی کړې ده نو بل طرف ته ئې د ظاهری وجود په لحاظ چه کوم ضورت دې د هغې رعایت ئې هم کړې دې. والله اعلم

---

۱) صحیح البخاری، کتاب فضائل الصحابة، باب مناقب عثمان بن عفان رضی الله عنه رقم ۳۶۹۹
۲) جامع الترمذی، ابواب المناقب، باب فی مناقب عثمان بن عفان رضی الله عنه رقم ۳۷۰۰
۳) جامع الترمذی، ابواب المناقب، باب فی مناقب عثمان بن عفان رضی الله عنه رقم ۳۷۰۲
٤) اوګورئ : خلاصة الخزرجی، ص ۲۶۱، وتهذیب الاسماء واللغات ج ۱ ص ۳۲۲

د ائمه مجتهدين په نزد د تثليث غسل حيثيت : امام بخاري رحمه الله دلته د ﴿الوضوء ثلاثا ثلاثا﴾ باب قائم كړې دې، دا د ټولونه اكمل اودس دې، د دې په حيثيت كښې د علماء كرامو اختلاف دې
جمهور علماء كرام خو ورته سنت وائي، د ابن ابى ليلى نه نقل كړې شوې دى چه هغه درې واړه كرت وينځلو ته واجب وائي. (۱)
علامه موفق رحمه الله د امام مالك رحمه الله نه نقل كړې دى چه د يو كرت يا درې كرته هيڅ تحديد نشته، يعنى تثليث مباح دې، د سنت يا واجب تحديد نشته. (۲)
قاضي باجي مالكى رحمه الله فرمائي چه ابن القاسم رحمه الله د امام مالك رحمه الله نه نقل كړې دى چه په اودس كښې هيڅ تحديد نشته.
خو قاضي باجي فرمائي چه د دې مطلب دا نه دې چه په دې باندې كمې بيشې نه شى كيدلې، هسې خو د امام مالك رحمه الله نه بيشكه دا منقول دى چه يو كرت وينځل فرض دى. (۳)
مالكيان د اودس په ټولو اندامونو كښې د تثليث قائل دى، خو په رجلين كښې هم تثليث دې يا انقاء. په دې كښې دواړه اقوال دى، خو دا د اقوالو اختلاف په هغه صورت كښې دې چه كله په دواړو خپو باندې خيرى حائل شى، او كه دواړه خپې د خيرو نه پاكې وى نو بيا به تثليث وى ګينې انقاء به وى. (٤)
سعيد بن عبدالعزيز او امام اوزاعى رحمهما الله فرمائي چه په رجلين كښې تنقيه او په باقى اندامونو كښې تثليث مستحب او مندوب دې. (۵)
د شوافع په نزد هم د اودس اندامونه درې درې كرته وينځل مستحب دى. (٦)
د احنافو په نزد هم تثليث مسنون او مستحب دې، لكه چه په تير شوى باب كښې پوره تفصيل تير شوې دې. والله سبحانه وتعالى اعلم

قوله: أَنَّهُ رَأَى عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ دَعَا بِإِنَاءٍ فَأَفْرَغَ عَلَى كَفَّيْهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ فَغَسَلَهُمَا ثُمَّ أَدْخَلَ يَمِينَهُ فِي الْإِنَاءِ فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ : حمران رحمه الله فرمائي چه ما عثمان رضي الله عنه اوليدو چه هغه (د اوبو) يو لوښې راطلب كړو او په خپلو لاسونو باندې ئې درې كرته اوبه واچولې او هغه ئې وينځل، بيا ئې خپل ښې لاس په لوښى كښې داخل كړو او خوله كښې ئې اوبه واچولې او پوزه كښې ئې اوبه واچولې.

۱) المجموع شرح المهذب ج ۱ ص ٤۳۷
۲) المغنى لابن قدامة ج ۱ ص ٩٤
۳) المنتقى للباجى ج ۱ ص ۲۷۱، باب بيان غسل الوجه
٤) اوګورئ: حاشية الدسوقى ج ۱ ص ۱٦٩، فصل يذكر فيه احكام الوضوء
۵) المغنى لابن قدامة ج ۱ ص ٩٤
٦) المجموع شرح المهذب ج ۱ ص ٤۳۱

دلته د كشميهنى په روايت كښې ﴿اَستنشق﴾ دي، او د اكثر راويانو په نزد ﴿استنثر﴾ دي. (١) وړاندې د شعيب روايت راروان دې، په هغې كښې د مضمضه استنشاق او استنثار درې وارو ذكر دې. (٢)
بيا په دې حديث كښې دا خبره چه مضمضه او استنشاق ئې څو كرته اوكړل، د دې ذكر په هيڅ طريق كښې نشته، خو ابن المنذر د ﴿يونس عن الزهرى﴾ په طريق سره د عدد ذكر كړې دې. (٣) هم دغه شان امام ابو داؤد رحمه الله د سيدنا عثمان رضي الله عنه په احاديثو كښې په دوه طريقو كښې هم د عدد ذكر كړې دې. (٤)
قوله: ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثًا وَيَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ ثَلَاثَ مِرَارٍ: بيا ئې خپل مخ درې كرته، او دواړه لاسونه د څنګلو سره درې درې كرته ووينځل.
د مضمضه او استنشاق په غسل وجه باندې د تقديم حمكت: په غسل وجه باندې د مضمضه او استنشاق د مقدم كولو وجه دا ده چه د اودس مقصود د اتباع حكم شريعت سره ظاهرى طور تطهير او تنظيف هم دې، تطهير او تنظيف په پاكو اوبو سره حاصليږى، اوبه كه ناپاكه وى نو په هغې سره تطهير او تنظيف نه حاصليږى. او ناپاكى كله خو د رنګ نه معلوميږى، كله د بوئى نه او كله د خوند نه، چه كله انسان په لاس كښې اوبه واخلى، چه نظر ته ئې لاړ شى نو رنګ به ئې ورته ښكاره شى، په خوله كنګالولو سره به ورته د خوند او په استنشاق او استنثار سره به ورته د بوئى پته لګى. كه اوبه ناپاكې وى نو باقى بدن به د ناپاك كيدو نه بچ شى، ځكه چه غسل وجه فرض دې، لهذا د دې دپاره په طور د احتياط او اهتمام اول مضمضه او استنشاق مقرر كړې شو، چه د اوبو پاكولې معلوم شى، د هغې نه روستو اوبو په فرض كښې استعمال كړې شى. والله اعلم(٥)
قوله: ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ: بيا ئې په خپل سر مسح اوكړه.
د دې روايت په يو طريق كښې هم عدد ذكر نه دې.
مسح به يو كرت كولې شى يا متعدد كرته!: جمهور علماء كرام فرمائى چه يو كرت به مسح كولې شى، امام شافعى رحمه الله د درې كرته مسح قائل دې. (٦)

---

١) اوګورئ: فتح البارى ج ١ ص ٢٥٩
٢) اوګورئ: صحيح البخارى ج ١ ص ٢٨، كتاب الوضوء باب المضمضة فى الوضوء رقم ١٦٤
٣) فتح البارى ج ١ ص ٢٥٩
٤) اوګورئ: سنن ابى داؤد، كتاب الطهارة، باب صفة وضوء النبى صلى الله عليه وسلم رقم ١٠٨، ١٠٩
٥) اوګورئ: فتح البارى ج ١ ص ٢٦٠
٦) قال النووى رحمه الله: مذهبنا المشهور الذى نص عليه الشافعى رضى الله عنه فى كتبه وقطع به جماهير الاصحاب انه يستحب مسح الراس ثلاثا كما يستحب تطهير باقى الاعضاء ثلاثا. المجموع شرح المهذب ج ١ ص ٤٣٢

د امام شافعي رحمه الله دليل د امام مسلم رحمه الله روايت كړې شوې د سيدنا عثمان رضي الله عنه د حديث ظاهري الفاظ دي: ﴿ الااريكم وضوء رسول الله ﷺ؟ثم توضاء ثلاثاثلاثا ﴾(١)
يعني رسول الله ﷺ درې درې كرته اودس اوكړو.
خو دا روايت مجمل دې، د سيدنا عثمان رضي الله عنه په تفصيلي رواياتو كښې په يو كښې هم مسح د څه قيد سره نه ده ذكر كړې شوې، او د اودس په باقي اندامونو كښې عدد ذكر دې، دا د دې خبرې دليل دې چه په مسح كښې عدد نشته. (٢)
د سيدنا عثمان رضي الله عنه په كومو رواياتو كښې چه تثليث راغلې دې، محدثين هغه غير ثابت ګڼړي. پس امام ابوداؤد رحمه الله فرمائي ﴿ احاديث عثمان الصحاح كلها تدل على مسح الراس انه مرة، فانهم ذكروا الوضوء ثلاثا، وقالوا فيها: ومسح راسه، لم يذكروا عددا، كماذكروا في غيره ﴾(٣)
يعني د سيدنا عثمان رضي الله عنه ټول صحيح احاديث په دې باندې دلالت كوي چه د سر مسح به يو كرت وي، ځكه چه راويانو چه څنګه د وضوء ثلاثا ذكر كړې دې هم هغه شان ئې ﴿ ومسح راسه ﴾ هم فرمائيلې دي، د اودس په مغسولاتو كښې چه ئې څنګه د عدد ذكر كړې دې، دلته ئې په مسح كښې د هيڅ عدد ذكر نه دې كړې.
امام بخاري رحمه الله وړاندې تلو سره د ﴿ مسح الراس مرة ﴾ باب قائم كړې دې، هلته به انشاء الله تفصيل راشي.

قوله: ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ إِلَى الْكَعْبَيْنِ : بيا ئې درې درې كرته خپلې خپې د ګيټو سره وينځلې.

قوله: ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوئِي هَذَا:
بيا ئې اوفرمائيل چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه څوك زما د دې اودس په شان اودس اوكړي.
امام نووي رحمه الله فرمائي چه دلته رسول الله ﷺ ﴿ نحووضوئي ﴾ اوفرمائيل او ﴿ مثل وضوئي ﴾ ئې اونه فرمائيلو ځكه چه ﴿ مثل ﴾ كلي مماثلت غواړي او حقيقي كلي مماثلت ممكن نه دې.(٤)
خو په دې باندې اشكال دا دې چه هم دا روايت په كتاب الرقاق كښې را روان دې په هغې كښې ﴿ من توضاء مثل هذا الوضوء ﴾ الفاظ راغلي دي. (٥)

---

١) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب فضل الوضوء والصلاة عقبه، رقم ٥٤٥
٢) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب صفة الوضوء وكماله رقم ٥٣٨، ٥٣٩
٣) سنن ابى داؤد، كتاب الطهارة، باب فى صفة وضوء النبى ﷺ رقم ١٠٨
٤) شرح النووى على صحيح مسلم ج ٣ ص ١٠٨، كتاب الطهارة، باب صفة الوضوء وكماله
٥) صحيح البخارى، ج ٢ ص ص ٩٥٢، كتاب الرقاق، باب قول الله تعالى ﴿ ان وعد الله حق فلا تغرنكم الحياة الدنيا ﴾، رقم ٦٤٣٣

هم دغه شان په مسلم شریف کښې هم د ﴿زید بن اسلم عن حمران﴾ په طریق کښې د ﴿رایت رسول الله ﷺ توضاء مثل وضوئی هذا﴾ الفاظ راغلې دی. (۱)

په دې وجه دا به وئیلې شی چه د ﴿نحو وضوئی﴾ تعبیر د راوی تصرف دې، ځکه چه د دې لفظ اطلاق په ﴿مثلیت﴾ باندې مجازا کولې شی، او په دې وجه هم چه د ﴿مثل﴾ لفظ حقیقی مساوات لره مقتضی دې خو د دې اطلاق هلته هم کولې شی چرته چه کلی مساوات نه وی، بلکه اکثر اواغلب مساوات موجود وی. دغه شان به په دواړه قسم روایاتو کښې تطبیق راشی. (۲)

قوله: ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ لَا يُحَدِّثُ فِيهِمَا نَفْسَهُ: بیا دوه رکعته اوکړې، په داسې طریقه چه د خپل نفس سره خبرې نه کوی.

د حدیث نفس نه څه مراد دې؟ دلته د حدیث نفس نه څه مراد دې؟ حدیث اختیاری مراد دې یا اضطراری؟

اکثر علماء کرام مازری، قاضی عیاض او امام نووی ﷫ فرمائی چه د دې نه حدیث اختیاری مراد دې، ځکه چه وساوس اضطراریه خو د چا په قبضه کښې هم نه وی، خو په دې کښې هیڅ شك نشته چه په کوم مونځ کښې د وساوس اضطراریه نه هم حفاظت وی هغه د انتهائی اعلی درجې مونځ دې. (۳)

خو قاضی عیاض ﷫ د بعض علماء کرامو نه نقل کړې دی چه د وساوس اختیاریه سره سره وساوس غیراختیاریه هم مراد دی. (٤) د امام ابن دقیق العید رجحان هم دې طرف ته معلومیږی.

د هغه دلیل دا دې چه دا حدیث د اعمال تکلیفیه سره متعلق نه دې، بلکه د فضیلت سره متعلق دې، کیدې شی چه د څه اعلی درجې د فضیلت حاصلولو دپاره د انسان نه د یو زبردست مشقت مطالبه اوکړې شی

او دا هم بعیده نه ده چه یو سړې د دنیاوی مشاغلو نه مجرد شی او د الله پاك په ذکر باندې خپل زړه اباد کړی، نو هغه ته هیڅ قسم اختیاری او اضطراری خیال بالکل رانشی. (۵)

---

۱) صحیح مسلم، کتاب الطهارة، باب فضائل الوضوء، والصلاة عقبه، رقم ٥٤٤

۲) فتح الباری ج ۱ ص ۲۶۰

۳) اوګورئ: شرح النووی علی صحیح مسلم ج ۳ ص ۱۰۹، کتاب الطهارة، باب صفة الوضوء وکماله، واکمال المعلم بفوائد مسلم للقاضی عیاض ج ۲ ص ۱۹

٤) اوګورئ: اکمال المعلم بفوائد مسلم للقاضی عیاض ج ۲ ص ۱۹

٥) قال ابن دقیق العید: ویصح ان یحمل علی النوعین، لان الحدیث لیس فی التکلیف، حتی یرفع فیه العسر، وانما فیه ترتیب ثواب مخصوص علی عمل مخصوص، فمن حصل له ذلک العمل حصل له الثواب. قال وغیره بعید ان یحصل لمن تجرد عن شواغل الدنیا، وعمر قلبه بذکر الله عزوجل. اکمال اکمال المعلم لابی ج ۲ ص ۱۳

ايا په دې حديث كښې د حديث دنيوى سره حديث دينى هم داخل دى؟ د دې نه پس په دې هم ځان پوهه كړه چه په حديث شريف كښې چه كومه د حديث نفس نه نهى راغلې ده په هغې كښې حديث نبوى خو بالاتفاق منهى عنه دې، ځكه چه د امام ابن المبارك، ابن ابى شيبه او د حكيم ترمذى رحمهم الله په رواياتو كښې ﴿ لايحدث نفسه بشئ من الدنيا ﴾ الفاظ راغلې دى. (١)

خو هغه وساوس د كومو تعلق چه د دين سره دې هغه مطلقا غير مضر دى، يا كه په هغې كښې هم څه تفصيل شته؟

د علامه عينى رحمه الله رائې دا ده چه هغه غير مضر دى، كه د مانځه سره متعلق وى او كه د بل څه خيال وى، پس سيدنا عمر رضي الله عنه فرمائى ﴿ انى لاجهز جيشى وانا فى الصلاة ﴾(٢)

د حافظ ابن حجر عسقلانى رحمه الله رائې دا ده چه د كومو خيالاتو تعلق د مانځه سره دې، مثلا په قراءت كښې غور او فكر كول نو هغه مضر نه دې او كوم چه د بهر خيالات دى اګر چه د عبادت د جنس نه وى، هغه مضر دى. (٣)

د سيدنا عمر رضي الله عنه په باره كښې منقول دى چه هغه به د مانځه په حالت كښې د جيش تجهيز فرمائيلو، امام ابن تيميه رحمه الله فرمائى چه سيدنا عمر رضي الله عنه مامور بالجهاد وو، هغه يو طرف ته خو امير المومنين وو نو بل طرف ته ورسره امير الجهاد هم وو، پس هغه د بعض وجوه په بنياد د صلاة الخوف ادا كونكى مونځ ګزار په شان شو، كوم چه د دشمن مخې ته ولاړ وى، چونكه عين د قتال حالت وى يا داسې حالت نه وى، د هغه په حق كښې دواړه حكمونه دى چه مونځ هم اوكړى او جهاد هم اوكړى، لهذا د هغه په ذمه لازمه ده چه د امكان د حده پورې دواړه حكمونه پوره كړى.

او دا خبره مسلم ده چه په جهاد قلبى كښې د اطمينان هغه كيفيت نه وى كوم چه په حالت امن كښې وى نو كه دا خبره اومنلې شى چه د جهادى عمل د وجې نه د هغه په مانځه كښې څه نقص واقع شوې دې نو د بنده په كمال ايمان او كمال طاعت كښې به هيڅ كمې نه واقع كيږى، هم د دې وجې نه صلاة الخوف د صلاة الامن په مقابله كښې كم او خفيف ګڼړلې شى، پس الله پاك چه كله د صلاة الخوف ذكر اوفرمائيلو نو وې فرمائيل:

﴿ فَإِذَا اطْمَأْنَنتُمْ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا ﴾(٤)

بيا چه كله تاسو ته (د دشمن د طرف نه اطمينان حاصل شى) نو مونځ د قاعدې مطابق كوئ،

---

١) ذكره الحافظ فى الفتح ج ١ ص ٢٦٠، وانظر المصنف لابن ابى شيبة ج ٥ ص ٢٠٦، كتاب الصلاة، باب فى فضل الصلاة، رقم ٧٧١٣

٢) انظر صحيح البخارى ج ١ ص ١٦٣، باب يفكر الرجل الشئ فى الصلاة، والمصنف لابن ابى شيبة ج ٥ ص ٣٠٦، كتاب الصلاة، باب فى حديث النفس فى الصلاة، رقم ٨٠٣٤

٣) فتح البارى ج ١ ص ٢٦٠

٤) النساء : ١٠٣

بیشکه مونځ د مسلمانانو په ذمه یوه داسې فریضه ده کومه چه د وخت پابند ده.
معلومه شوه چه په حالت د اطمینان کښې کوم اقامت صلاة مطلوب دې هغه د ویرې په حالت کښې نه دی.
بیا په خلقو کښې هم ډیر تفاوت موندلې شی، که د بنده ایمان قوي وی نو په مانځه کښې د مختلف امورو د فکر کولو سره سره زړه حاضر وی او سیدنا عمر رضی الله عنه خو هغه شخصیت دې چه د چا په ژبه او زړه باندې الله پاك حق اچولې دې، هغه محدث او ملهم من الله دې، د هغه دپاره دا هیڅ بعیده نه ده چه هغه په مونځ کښې د حاضریدو سره سره په مانځه کښې تدبیر جیش هم کولو، او نورو ته دا خبره نه وی حاصله. (۱)
حافظ ابن القیم رحمه الله فرمائي چه رسول الله ﷺ په مانځه کښې التفات فرمائیلې وو، ځکه چه یو شهسوار ئې د دشمنانو په نقل او حرکت باندې د نظر ساتلو دپاره لیږلې وو، د سحر په مانځه کښې رسول الله ﷺ بار بار د هغه شهسوار د لیدلو کوشش کولو، دا په اصل کښې په مانځه کښې التفات **اشتغال بالجهاد في الصلاة** دې او دا **من باب مداخل العبادات** دې، یعنی په یو عبادت کښې ګویا بل عبادت داخل شی لکه چه صلاة الخوف دې چه په دې کښې د مانځه سره سره باقاعده د دشمنانو دفاع کولې شی. ګویا په مانځه کښې دننه عملا جهاد کیږي، هم دغه شان د سیدنا عمر رضی الله عنه دا ارشاد چه ﴿**اني لاجهز جيشي وانا في الصلاة**﴾ (یعنی زه د مانځه په حالت کښې لښکر تیاروم) هم د جمع بین الجهاد مظهر دې، د دې مثال هم داسې دې لکه د مانځه په حالت کښې د قران کریم په معانی کښې فکر کول، یا د علمی نکات او اسرارو استخراج، ګویا په دې کښې جمع بین الصلاة والعلم ده، دا هم یو قسم التفات دې.یو التفات د غافلانو دې، چه په هغې کښې هغوی په ظاهره خوپه مانځه کښې وی، لیکن په حقیقت کښې په عبادت کښې نه وی. (۲) **والله اعلم**
حضرت مولانا حاجی امداد الله مهاجر مکی رحمه الله فرمائي چه په اصل کښې دا د سیدنا عمر رضی الله عنه وسوسې او خیالات نه وو، په مانځه کښې هغه ته حضوری کیفیت حاصل وو، د الله پاك د طرف نه به په هغه باندې د علوم القاء کیدله.
حضرت مرزا مظهر جان جانان رحمه الله هم په خپلو مکتوباتو کښې هم دا لیکلې دی. **والله اعلم**
قوله: غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ: نو د هغه ټول ګناهونه کوم چه تیر شوې دی، هغه به معاف کولې شی.
امام نووی رحمه الله فرمائي چه د دې نه صغائر مراد دی، ځکه چه د کبائرو د معاف کیدو دپاره خو ضابطه توبه ده. (۳)

---

۱) الفتاوی الکبری ج ۲ ص ۲۲٤
۲) اوګورئ: زاد المعاد فی هدی خیر العباد ج ۱ ص ۲۵۰، فصل فی هدیه صلی الله علیه وسلم فی الصلاة.
۳) قال النووی : قال القاضی عیاض هذا المذکور فی الحدیث من غفران الذنوب ما لم تؤت کبیرة هو مذهب أهل السنة وأن الکبائر انما تکفرها التوبة أو ... (بقیه برصفحه آئنده

بعض علماء كرام فرمائي چه كيدې شي د كبائرو هم مغفرت اوشي. (۱) ځكه چه هر كله انسان په طريقه باندې اودس اوكړي، د اودس د ټولو اركانو، آداب او مستحباتو رعايت اوكړي د هغه په زړه كښې به انابت هم پيدا كيږي، كوم چه به داعي الى الندامة وي.
خو دا بعيده ده، ځكه چه په دې تقرير كښې د كبائرو مغفرت په توبه باندې مرتب شو نه په حديث كښې ذكر شوي عمل باندې. والله اعلم

د دوه احاديثو ترمينځه تعارض او د هغې دفعيه: په دې حديث كښې مغفرت لره د اودس او صلاة په مجموعه باندې معلق كړې شوې دې، او د مسلم په يو روايت كښې دي!

﴿ من توضاء هكذا غفرله ما تقدم من ذنبه، وكانت صلاته ومشيه الى المسجد نافلة ﴾ (۲)
يعني څوك چه داسې اودس اوكړي نو د هغه مخكښې ټول ګناهونه به معاف كړې شي، بيا به د هغه د مونځ او مسجد طرف ته تلل د زيات ثواب باعث وي.
ددې حديث نه معلوميږي چه مغفرت به صرف په اودس باندې مرتب وي.
په دې دواړو احاديثو كښې حقيقة هيڅ تعارض نشته، ځكه چه اودس كونكي يو شان نه وي، د بعض اخلاص د اعلى درجې وي، د هغوي مغفرت صرف په اودس سره كيږي او د بعض اخلاص د كمې درجې وي، د هغه مغفرت په دواړو څيزونو باندې مرتب وي.
دغه شان ذنوب هم يو شان نه وي، لهذا كيدې شي چه د يو سړي اودس صرف د ګناهونو د ختمولو دپاره كافي شي او د بل په اودس كښې صلاة هم شامل كړې. والله اعلم
حضرت شيخ الحديث رحمه الله فرمائي چه په دې قسم تعارض كښې قاعده دا ده چه په كوم روايت كښې د يو زائد څيز اثبات اوشي او يو فضيلت بيان كړې شوې وي، هغه واخستلې شي او د الله پاك نه اميد اوساتلې شي، دلته به داسې وئيلې شي چه اول د مغفرت ترتب په دواړو څيزونو باندې بيان كړې شوې وو، بيا الله پاك احسان او تفضل اوفرمائيلو او صرف په اودس ئې د مغفرت زيرې وركړو، لهذا اوس به هم دا وئيلې شي چه صرف په اودس باندې به ئې انشاء الله مغفرت اوشي. (۳)

.....بقيه ازصفحه گذشته) رحمة الله تعالى وفضله والله أعلم. شرح النووى على صحيح مسلم ج ۳ ص ۱۱۲، كتاب الطهارة، باب فضل الوضوء، والصلاة عقبه.

وقال ابن دقين العيد : ظاهره العموم فى جميع الذنوب، وقد خصوا مثله بالصغائر وقالوا: إن الكبائر إنما تكفر بالتوبة وكأن المستند فى ذلك: أنه ورد مقيدا فى مواضع كقوله صلى الله عليه وسلم: "الصلوات الخمس والجمعة إلى الجمعة ورمضان إلى رمضان: كفارات لما بينهن ما اجتنبت الكبائر" فجعلوا هذا القيد فى هذه الأمور مقيدا للمطلق فى غيرها. احكام الاحكام شرح عمدة الاحكام ج ۱ ص ۳۲

۱) پس علامه عينى رحمه الله په شرح سنن ابى داؤد ج ۵ ص ۲۷۵، باب فى قيام شهر رمضان د لاندې ليكى: اللفظ عام ينبغى ان يشمل الصغيرة والكبيرة، والتخصيص بلا مخصص باطل.

۲) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب فضل الوضوء والصلاة عقبه، رقم ٥٤٤

۳) ازګورئ: الكنز المتوارى تعليقات لامع الدرارى ج ۳ ص ٤٥

يو امكان دا هم دي چه د صحيح مسلم په روايت كښ چه په كوم كښ صرف د اودس ذكر دې، په هغې كښ مقصود د اودس فضيلت بيانول دى، او د بخارى په دې روايت كښ اصلا او قصدا د ركعتين ثواب او د هغې فضيلت بيانول مقصود دى، د اودس ذكر تبعا دې. (۱) والله اعلم

د يو اشكال دفعه كول : دلته يو اشكال دا كولې شى چه په دې حديث كښ په اودس او مونځ سره د ګناه د بخښلو زيرې وركړې شوې دې او د مسلم شريف په يو حديث كښ دى!

﴿ الصلوات الخمس، والجمعة الى الجمعة، ورمضان الى رمضان مكفرات ما بينهن اذا اجتنب الكبائر ﴾(۲)

يعنى پنځه واړهم مونځونه، د يوې جمعې نه بلې جمعې پورې، د يو رمضان نه بل رمضان پورې، كه د كبائرو نه اجتناب اوكړې شى نو دا اعمال د ګناهونو كفاره ده.

هم دغه شان په مسلم كښ يو روايت دې! ﴿ صيام يوم عرفة احتسب على الله ان يكفر السنة التى قبله، والسنة التى بعده، وصيام يوم عاشوراء احتسب على الله ان يكفر السنة التى قبله ﴾(۳)

يعنى د عرفې د ورځې روژه زه د الله پاك نه اميد لرم چه په هغې سره به د يو كال مخكښ او يو كال روستو دپاره كفاره جوړه شى او د عاشورې روژه زه د الله پاك نه اميد لرم چه هغه به د يو كال مخكښ ګناهونو دپاره كفاره شى.

اوس كه په صلوات خمسه سره د ګناهونو مغفرت اوشو نو په نورو طاعتونو سره به د څه مغفرت كيږى، كه په اودس سره مغفرت اوشو نو په باقى طاعاتو سره به د مغفرت رخ كوم طرف ته وى.؟

د دې جواب دا دې چه كه يو سړې د صغائرو مرتكب دې نو د هغه د معاصى دپاره به طاعات مكفر وى او كه صغائر نه وى نو د هغه د درجاتو د اوچتيدلو سبب به جوړيږى، ځكه چه قاعده ده! ﴿ ان المغفرة اذا تصادفت مع المحل المغفور، فانها تكون سببا لرفع الدرجات وعلو المراتب عند الله ﴾(٤)

يعنى كله چه مغفرت په بخښلې شوى محل باندې وارد شى نو مغفرت د رفع درجات او د مرتبې د اوچت والى سبب جوړيږى.

امام نووى رحمه الله فرمائى چه د دې اعمالو نه هر عمل د مكفر جوړيدو قابل دى، پس كه صغائر وى نو د هغوى به تكفير كولې شى او كه صغائر او كبائر هيڅ نه وى نو نيكئ ليكلې

---

۱) پورته حواله
۲) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب الصلوات الخمس، والجمعة الى الجمعة، ورمضان الى رمضان مكفرات لما بينهن ما اجتنبت الكبائر، رقم (۵۵۰).
۳) صحيح مسلم، كتاب الصيام، باب استحباب صيام ثلاثة ايام من كل شهر وصوم يوم عرفة وعاشوراء والاثنين والخميس رقم ۳۷۴۶.
٤) الكنز المتوارى تعليقات لامع الدرارى ج ۳ ص ٤۵.

شی او رفع درجات به وی او که صغائر نه وی، بلکه کبائر وی نو امید دې چه تخفیف به اوشی. والله اعلم(۱)

﴿وَعَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ قَالَ صَالِحُ بْنُ كَيْسَانَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَلَكِنْ عُرْوَةُ يُحَدِّثُ عَنْ حُمْرَانَ فَلَمَّا تَوَضَّأَ عُثْمَانُ قَالَ أَلاَ أُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا لَوْلاَ آيَةٌ مَا حَدَّثْتُكُمُوهُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لاَ يَتَوَضَّأُ رَجُلٌ يُحْسِنُ وُضُوءَهُ وَيُصَلِّي الصَّلاَةَ إِلاَّ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الصَّلاَةِ حَتَّى يُصَلِّيَهَا قَالَ عُرْوَةُ الآيَةَ: إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ﴾

[۱۲۲، ۱۸۳۲، ۲۰۷۹]

رجال الحدیث

① **ابراهیم**: دا هم هغه ابراهیم بن سعد بن ابراهیم بن عبدالرحمن بن عوف دې، چه د هغه په مخکښې حدیث کښې ذکر راغلې دې، د هغه تذکره په کتاب الایمان کښې د **باب تفاضل اهل الایمان فی الاعمال** او په کتاب العلم کښې د **باب ما ذکر فی ذهاب موسی صلی الله علیه وسلم فی البحر الی الخضر** د لاندې تیره شوې ده. (۲)

② **صالح بن کیسان**: دا صالح بن کیسان مدنی رحمه الله دې. د هغه حالات هم په کتاب الایمان کښې د **باب تفاضل اهل الایمان فی الاعمال** د لاندې تیر شوی دی. (۳)

③ **ابن شهاب**: د امام محمد بن مسلم بن عبیدالله بن عبدالله بن شهاب الزهری رحمه الله حالات هم په بدء الوحی کښې د ﴿بدء الوحی﴾ د دریم حدیث د لاندې تیر شوې دی. (٤)

④ **عروه**: د عروه بن عبدالله بن الزبیر رحمه الله حالات په بدء الوحی کښې د دویم حدیث د لاندې، او په کتاب الایمان کښې د **باب احب الدین الی الله ادومه** د لاندې تیر شوې دی. (۵)

⑤ **حمران**: د حمران بن ابان رحمه الله حالات اوس د مخکښې حدیث د لاندې تیر شو.

قوله: وَعَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ قَالَ صَالِحُ بْنُ كَيْسَانَ: علامه کرمانی او علامه مغلطائی رحمهما الله فرمائی چه دا تعلیق دې. (۶) خو صحیح دا ده چه دا موصول بالاسناد السابق دې او په ﴿حدثنی ابراهیم بن سعد﴾ باندې معطوف دې او مطلب دا دې چه څنګه اولنې

۱) شرح النووی علی صحیح مسلم ج ۳ ص ۱۳۳، کتاب الطهارة، باب فضل الوضوء والصلاة عقبه.
۲) کشف الباری ج ۲ ص ۱۲۰، ج ۳ ص ۳۳۳
۳) کشف الباری ج ۲ ص ۱۲۱
٤) کشف الباری ج ۱ ص ۳۲۶
۵) کشف الباری ج ۱ ص ۲۹۱، و ج ۲ ص ٤۳۶
٦) اوګورئ: شرح الکرمانی ج ۲ ص ۲۰۹، وفتح الباری ج ۱ ص ۲۶۱

حديث عبدالعزيز اويسى د ابراهيم بن سعد نه نقل كوى، هم دغه شان دا دويم حديث هم عبدالعزيز اويسى د ابراهيم نه نقل كوى.
د موصول بالاسناد السابق منلو قرينه دا ده چه دا دواړه احاديث امام مسلم او امام اسماعيلى رحمه الله د ﴿يعقوب بن ابراهيم﴾ په واسطې سره موصولا نقل كړې دى (۱) نو كيدې شى چه څنګه د يعقوب سره دواړه احاديث وى، د هغه دويم ملګرى عبدالعزيز اويسى سره هم دواړه احاديث وى. (۲)
بيا په صحيح ابى عوانه كښې دا حديث د عبدالعزيز اويسى نه روايت دې، (۳) لهذا دا خبره معلومه شوه چه دا حديث په صحيح بخارى كښې موصول بالاسناد السابق دې، معلق نه دې. والله اعلم

قوله: قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَلَكِنْ عُرْوَةُ يُحَدِّثُ عَنْ حُمْرَانَ: ابن شهاب زهرى رحمه الله فرمائى خو عروه د حمران نه داسې روايت كوى.
مطلب دا دې چه د ابن شهاب زهرى دوه استاذان دى، يو په مخكښې روايت كښې عطاء بن يزيد دې، يو په دې روايت كښې عروة بن الزبير دې. عطاء بن يزيد ئې بل شان نقل كوى او عروه بن الزبير ئې په بله طريقه باندې نقل كوى.
خو واضحه دې وى چه دا څه د روايتونو اختلاف نه دې بلكه په اصل كښې دوه احاديث دى، يو د عطاء سره او دويم د عروه سره، دا دواړه روايتونه معاذ بن عبدالرحمن روايت كړې دى. امام بخارى رحمه الله د هغه په طريق سره د عطاء د سياق مطابق روايت كړې دې. (۴) او امام مسلم رحمه الله هم د هغه په طريق سره د عروه د سياق مطابق روايت كړې دې. (۵) هم دغه شان امام مسلم رحمه الله د ﴿هشام بن عروه عن ابيه﴾ په طريق سره هم نقل كړې دې. (۶)

قوله: فَلَمَّا تَوَضَّأَ عُثْمَانُ قَالَ أَلَا أُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا لَوْلَا آيَةٌ مَا حَدَّثْتُكُمُوهُ: بيا چه كله سيدنا عثمان رضى الله عنه اودس اوكړو نو وې فرمائيل چه زه تاسو ته يو حديث واورم! كه آيت نه وې نو ما به تاسو ته كله هم نه وې اورولې.

---

۱) اوګورئ: صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب صفة الوضوء بكماله، رقم ۵۳۹، و ۵۴۲، وفتح البارى ج ۱ ص ۲۶۱
۲) فتح البارى ج ۱ ص ۲۶۱
۳) اوګورئ: مسند ابى عوانة ج ۱ ص ۱۹۳، كتاب الطهارة، باب بيان الترغيب فى الوضوء وثواب اسباغه، رقم ۶۱۱
۴) اوګورئ: صحيح البخارى ج ۲ ص ۹۵۲، كتاب الرقاق، باب قول الله تعالى: ان وعد الله حق فلا تغرنكم الحياة الدنيا ... رقم ۶۴۳۳
۵) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب فضل الوضوء، والصلاة عقبه، رقم ۵۴۹
۶) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب فضل الوضوء والصلاة عقبه، رقم ۵۴۰- ۵۴۲

د دې آيت كريمه نه مراد لكه چه د عروه رحمه الله د دې حديث په اخر كښې را روان دې ﴿ ان الذين يكتمون ما انزلنا الخ ﴾(١) دې.
مطلب دا دې كه د كتمان علم وعيد په قران كريم كښې نه وې نو ما به دا حديث نه بيانولو، ځكه چه په لږ شان عمل باندې د ډير ثواب وعده ده تاسو به په اعمالو باندې اتكال شروع كړئ او په زياتو اعمالو كښې به كوتاهى كوئ.
په موطاء امام مالك كښې دا روايت د ﴿ لولا اية ... ﴾ په ځائې د ﴿ لولا انه فى كتاب الله ﴾ الفاظو سره راغلي دې او امام مالك رحمه الله د دې مصداق آيت كريمه ﴿ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ ﴾(٢) مراد كړې دې. (٣)
اوس مطلب دا شو چه كه په قران كريم كښې دا مضمون نه وې راغلې نو ما به تاسو ته دا حديث نه اورولو، خو چونكه په قران كريم كښې دا مضمون موجود دې او تاسو ته دا معلوم دې نو اوس په حديث اورولو كښې هيڅ باك نشته، په دې وجه زه تاسو ته حديث اوروم. (٤)
حافظ ابن حجر رحمه الله وغيره شارحينو د ﴿ انه ﴾ روايت د ﴿ اية ﴾ نه تحريف ګڼړلې دې! (٥)
حقيقت دا دې چه د بخارى په روايت كښې عروه رحمه الله بالجزم د آيت كريمه تعيين اوكړو، او د موطاء په روايت كښې امام مالك رحمه الله ﴿ اراه يريد هذه الاية ﴾ وئيلو سره احتمالا يو آيت كريمه ذكر فرمائيلې دې، اګر چه د معنى او مضمون په اعتبار سره مطلب بالكل واضح دې، په دې كښې هيڅ خرابى نشته، خو د عروه رحمه الله جزما بيانول به د امام مالك رحمه الله د احتمالى مصداق په مقابله كښې راجح ګڼړلې شى. (٦) والله اعلم

﴿ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَتَوَضَّأُ رَجُلٌ يُحْسِنُ وُضُوءَهُ وَيُصَلِّي الصَّلَاةَ إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الصَّلَاةِ حَتَّى يُصَلِّيَهَا ﴾

ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل. وې فرمائيل چه څوك چه كله په ښه طريقه باندې اودس اوكړى او مونځ ادا كړى نو د هغه د دې مونځ او د راروان مونځ ترمينځه ګناهونه معاف كولې شى، تردې چه د هغه مونځ نه فارغ شى يا بل مونځ شروع كړى.

قوله: ويصلى الصلاة: او مونځ اوكړى.

---

١) البقرة ١٥٩
٢) هود : ١١٤
٣) اوګورئ: موطاء امام مالك، كتاب الطهارة، باب جامع الوضوء.. رقم ٥٩
٤) اوګورئ: شرح النووى على صحيح مسلم ج ٣ ص ١١١، كتاب الطهارة، باب فضل الوضوء والصلاة عقبه. هم دغه شان اوګورئ: مصفى شرح موطاء از شاه ولى الله رحمه الله : ج ١ ص ٦٩
٥) فتح البارى ج ١ ص ٢٦١
٦) شرح النووى على صحيح مسلم ج ٣ ص ١١١. وفتح البارى ج ١ ص ٢٦١

د مسلم په یو روایت کښې د ﴿ المكتوبة ﴾ قید موجود دې. (۱)
هم دغه شان د مسلم په یو روایت کښې ﴿ فيصلى هذه الصلوات الخمس ﴾ ذکر دې. (۲)

قوله: إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الصَّلَاةِ: مګر دا چه د هغه د هغه فرض مونځ چه اوس ئې کړې دې او د وړاندې مونځ ترمینځه کړې ټول ګناهونه به معاف شي.

حضرت ګنګوهی رحمه الله د ﴿ مابينه ﴾ ضمیر د ﴿ نفس ﴾ طرف ته راجع کړې دې یعنی د هغه سړي طرف ته ئې واپس کړې دې او مطلب ئې دا بیان کړې دې چه د هغه سړي د بالغ کیدو او مکلف کیدو نه تر مونځ کولو پورې به ټول ګناهونه معاف کړې شي، فرمائي چه دا معنی به په هغه صورت کښې وي چه کله ﴿ ما ﴾ د فعل مجهول مفعول اومنلې شي او که ﴿ ما ﴾ ظرفیه اومنلې شي نو مطلب به دا وي چه ﴿ غفر له ذنوبه في وقت من اوقات ابتدائه الوضوء الى وقت اتمامه الصلاة ﴾ یعنی د هغه د اودس د شروع کولو نه تر د اتمام صلاة پورې ټول ګناهونه به معاف کړې شي. (۳)

دویم احتمال دا دې چه د ﴿ مابينه ﴾ ضمیر د ﴿ مصلى ﴾ یا ﴿ متوضى ﴾ طرف ته راجع شي، په دې صورت کښې د دې ضمیر نه مخکښې به یو مضاف محذوف وي، د عبارت تقدیر به داسې وي: ﴿ غفر له ما بين صلاته وبين الصلاة التي تليها ﴾ یعنی هغه سړي چه کوم فرض مونځ ادا کړو، د هغې نه واخله تر د مونځ ادا کولو پورې به ټول ګناهونه معاف کړې شي.

بیا د صحیح مسلم په روایت کښې د ﴿ التي تليها ﴾ د قید اضافه ده. (٤)

اوس به د پوره جملې مطلب دا وي چه دا سړې هر کله په ښه طریقه اودس اوکړي د هغې نه روستو څه فرض مونځ اداکړي اودهغې نه روستو یوبل مونځ اداکړي نودهغه دواړو مونځونو ترمینځه چه ئې څومره ګناهونه (صغائر) کړې وي هغه به ټول معاف کړې شي. والله اعلم

قوله: حَتَّى يُصَلِّيَهَا: تردې چه د هغه دویم مونځ نه فارغ شي.

شاته چه کوم ﴿ غفر له مابينه وبين الصلاة ﴾ راغلې دې، په هغې کښې یو احتمال دا دې چه هغه چه کوم مخکښې مونځ ادا کړې دې، د هغې نه واخله تر د دوئم مونځ د شروع کولو پورې به ئې ټول ګناهونه معاف شي.

---

۱) وفي حديث ابي اسامة: فيحسن وضوءه ثم يصلي المكتوبة. صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب فضل الوضوء، والصلاة عقبه، رقم ٥٤١
۲) ما من مسلم يتطهر فيتم الطهور الذى كتب الله عليه، فيصلى هذه الصلوات الخمس الا كانت كفارات لما بينهن. (صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب فضل الوضوء والصلاة عقبه رقم ٥٤٦
۳) اوګورئ: لامع الدراري مع الكنز المتواري ج ۳ ص ٤٧ تا ٤٩
٤) اوګورئ: صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب فضل الوضوء والصلاة عقبه، رقم ٥٤٠، ٥٤٢

دویم احتمال دا دې چه د دې اولنی مونځ نه واخله تر د دویم مونځ د اختتام پورې او د هغې نه د فارغ کیدو پورې ټول گناهونه به معاف شي.

د ﴿حتی یصلیها﴾ جملې دا دویم احتمال متعین کړو چه دا مغفرت به د دویم مونځ د ختم پورې ممتد وي.

حافظ ابن حجر رحمه الله د ﴿حتی یصلیها﴾ معنی ﴿حتی یشرع فی الصلاة الثانیة﴾ کړې ده، او د اولنۍ معنی ‹کومې ته چه علامه عیني رحمه الله راجحه وئیلې ده› په رنړا کښې به د دې معنی وي ﴿حتی یفرغ من الصلاة الثانیة﴾(۱) والله اعلم

قوله: قَالَ عُرْوَةُ الْآيَة. إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ: عروه رحمه الله فرمائي چه په حدیث کښې د آیت کریمه نه مراد: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ....﴾ والا آیت دې. (۲)

د مسلم په روایت کښې د ﴿اللاعنون﴾ پورې تصریح ده. (۳)

★★★★★

۲۴ بَابُ الِاسْتِنْثَارِ فِي الْوُضُوءِ

د مخکښې باب سره مناسبت: په مخکښې باب د ﴿الوضوء ثلاثا ثلاثا﴾ ذکر وو، په دې باب کښې د ﴿الاستنثار فی الوضوء﴾، دا دویم باب د اول باب جزء دې. (٤)

د استنثار لغوی او اصطلاحی تحقیق: ﴿استنثار﴾ د باب استفعال نه د ﴿نثر﴾ نه اخستلې شوې دې، چه د هغې معنی ده: منتشر کول، خورول.

بعض حضرات فرمائي چه دا د ﴿نثرة﴾ نه اخستلې شوې دې، چه معنی ئې د طرف الانف ده، علامه خطابي رحمه الله فرمائي چه ﴿نثرة﴾ انف یعنی پوزې ته وائي، خو مشهوره اوله معنی یعنی طرف الانف ده.

امام فراء رحمه الله فرمائي ﴿نثر الرجل وانتثر واستنثر: استنشق وحرك النثرة، وهی طرف الانف﴾

په اصطلاح کښې انتثار وئیلې شي: ﴿ان یستنشق الماء ثم یستخرج ما فیه من اذی او مخاط﴾ یعنی اوبه د پوزې په ذریعه اوچتول او بیا سونړولو سره د گندگۍ بهر کول.

---

۱) اوگورئ: عمدة القاري ج ۳ ص ۱۳، وفتح الباري ج ۱ ص ۱۶۱

۲) پوره آیت کریمه داسې دې: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولَئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللَّهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ﴾ سورة البقرة: ۱۵۹

۳) اوگورئ: صحیح مسلم، کتاب الطهارة، باب فضل الوضوء والصلاة عقبه، رقم ۵٤۲

٤) اوگورئ: عمدة القاري ج ۳ ص ۱۳

علامه جوهری رحمه الله فرمائی ﴿الانتثار والاستنثار نثر ما في الانف بنفس﴾ یعنی پوزه کښې چه څه دی هغه د ساه په ذریعه بهر راویستل.
حاصل دا دې چه د ساه په ذریعه په پوزه کښې اچولې شوې اوبه د ساه په ذریعه راویستل، چه دننه ګندګی وغیره صفا شی، دې ته استنثار یا انتثار وئیلې شی. (۱)

مؤلف د استنشاق باب ولې منعقد نه کړو؟: امام بخاری رحمه الله دلته د ﴿استنثار﴾ باب خو قائم کړو خو د ﴿استنشاق﴾ باب ئې نه دې قائم کړې، د دې څه وجه ده؟
ابن الاعرابی او ابن قتیبه رحمهما الله فرمائی چه استنثار او استنشاق یو څیز دې. (۲)
که د امام بخاری رحمه الله هم دا رائې وی نو بیا خو هیڅ اشکال نشته، خو که هغه په دواړو کښې تفریق کوی لکه چه د عام اهل لغت رائې ده. (۳) او هم دا صحیح هم ده، د حدیث شریف نه ئې هم تفریق ثابت دې، (٤) نو په دې صورت کښې دا جواب دې چه د استنثار دپاره استنشاق لازم دې، مصنف رحمه الله ملزوم ذکر کړو، د دې نه د لازم خپله معلومات اوشو، ځکه چه ملزوم په لازم باندې دلالت کوی. (۵)
خو سوال دا دې چه امام بخاری رحمه الله د استنثار په ځائې د استنشاق ذکر ولې اونکړو؟
ددې جواب دادې چه که استنشاق ئې وئیلې وې نو د دې نه به د استنثار معلومات نه کیدو!
یوه بله وجه دا هم ذهن ته راځی چه اصل استنثار دې، ځکه چه مقصود د پوزې باطن صفا کول دی او دا صرف په استنشاق سره نه حاصلیږی، په استنثار سره حاصلیږی، ځکه چه کله انسان پوزه سونړوی او هغه صفا کوی نو هله دننه حصه صفا کیږی. والله اعلم

استنثار لره په مضمضه باندې د مقدم کولو وجه: دلته یو سوال دا هم پیدا کیږی چه امام بخاری رحمه الله د باب الاستنثار فی المضمضه ترجمه اول قائم کړې ده او باب المضمضه فی الوضوء ترجمه ئې روستو ذکر کړه، حال دا چه ترتیب وجودی د دې برعکس دې چه اول مضمضه وی او بیا استنشاق او استنثار، نو مصنف رحمه الله لره هم د دې ترتیب وجودی اتباع کول پکار وو، د دې ترتیب معهود خلاف ئې ولې اوکړل؟

---

۱) اوګورئ: المغرب فی ترتیب المعرب ج ۲ ص ۲۸۶، ۲۸۷، ومعالم السنن ج ۱ ص ٤۹، کتاب الطهارة، ومن باب صفة وضوء النبی صلی الله علیه وسلم
۲) اوګورئ: تاج العروس ج ١٤ ص ۱۷۳، مادة نثر، وشرح النووی علی صحیح مسلم ج ۳ ص ۱۰۵، کتاب الطهارة، باب صفة الوضوء وکماله
۳) اوګورئ: تاج العروس ج ١٤ ص ۱۷٤، ۱۷۵، مادة نثر
٤) پس وړاندې په بخاری ج ۱ ص ۲۸، کتاب الوضوء، باب المضمضة فی الوضوء رقم ۱٦٤، کښې د سیدنا عثمان رضی الله عنه په روایت کښې دی: ثم تمضمض، واستنشق واستنثر.
هم دغه شان په صحیح البخاری ج ۱ ص ۳۱، کتاب الوضوء، باب غسل الرجلین الی العقبین رقم ۱۸٦ کښې د سیدنا عبدالله بن زید بن عاصم رضی الله عنه په روایت کښې دی: فمضمض، واستنشق، واستنثر
۵) اوګورئ: لامع الدراری مع الکنز المتواری ج ۳ ص ٤۹

د دې جواب دا ورکړې کيدې شي چه په استنثار کښې چونکه د پوزې د باطن صفائی کيږی او د پوزې باطن د خولې په اعتبار سره باطن دې او خوله د پوزې د باطن په اعتبار سره ظاهر دې، ګويا دې خبرې طرف ته ئې اشاره اوکړه چه تنظيف بواطن په تنظيف ظواهر باندې مقدم دې.

او دا هم ممکنه ده چه په دې تقديم سره د استنثار اهميت طرف ته متوجه کول مقصود وی، د دې وجه دا ده چه د حکم په اعتبار سره استنثار د مضمضه نه ارجح دې او په دې ځان پوهه کول د مذاهب په پوهيدو باندې موقوف دی.

په اودس او غسل کښې د مضمضه او استنشاق په باب کښې د علماء کرامو څلور اقوال دی!

① امام مالك او امام شافعی رحمهما الله فرمائی چه دواړه په اودس او غسل کښې سنت دی.

② د امام احمد رحمه الله په نزد د هغه د مشهور روايت مطابق دواړه، په دواړو کښې واجب دی.

③ امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه دواړه په اودس کښې سنت او په غسل کښې واجب دی، هم دا د امام احمد رحمه الله يو روايت دې.

④ او امام احمد رحمه الله په يو روايت کښې فرمائی چه استنشاق په دواړو کښې واجب دې او مضمضه په دواړو کښې سنت ده. (۱)

اولنی درې واړه اقوال خو برابر دی، خو دا اخری څلورم قول استنشاق ته ترجيح ورکوی، ځکه چه د څلورم قول مطابق استنشاق په دواړو کښې واجب دې او مضمضه په دواړو کښې سنت ده او د واجب درجه د سنت نه زياته ده، لهذا هغه احق بالتقديم دې، نو کيدې شی چه امام بخاری رحمه الله د دې خبرې لحاظ ساتلې وی.

خو په دې باندې اشکال دا دې چه دا ټول اختلاف خو په مضمضه او استنشاق کښې دې او امام بخاری رحمه الله خو د استنثار او مضمضه ابواب قائم کړې دی او د استنثار د وجوب په قول د امام نووی رحمه الله څوك هم قائل نه دی. (۲)

د دې جواب دا دې چه دا د امام نووی رحمه الله خپله رائې ده، او ابن بطال رحمه الله د بعض علماء کرامو نه وجوب نقل کړې دې. (۳) او کوم حضرات چه د استنشاق د وجوب قائل دی لکه امام احمد بن حنبل، امام اسحاق بن راهويه، ابوثور او ابو عبيده رحمهم الله وغيره، د هغوی په

---

۱) د مذاهبو د تفصيلاتو دپاره اوګورئ : بدائع الصنائع ج ۱ ص ۲۱، مطلب فی کيفية الاستنجاء، ومواهب الجليل شرح مختصر الخليل ج ۱ ص ۴۵۸، والمجموع شرح المهذب ج ۱ ص ۳۶۲، ۳۶۳، والانصاف ج ۱ ص ۱۵۲

۲) قال النووی رحمه الله وأما قوله صلى الله عليه و سلم فليجعل فی أنفه ماء ثم لينثر ففيه دلالة ظاهرة على أن الاستنثار غير الاستنشاق ... وفيه دلالة لمذهب من يقول الاستنشاق واجب لمطلق الامر ومن لم يوجبه حمل الأمر على الندب بدليل أن المأمور به حقيقة وهو الانتثار ليس بواجب بالاتفاق. شرح النووی على صحيح مسلم ج ۳ ص ۱۲۶، کتاب الطهارة، باب الايتار فی الاستنثار والاستجمار

۳) قال ابن بطال : وقد اوجب بعض العلماء الاستنثار بظاهر الحديث ... شرح ابن بطال ج ۱ ص ۲۵۱

مسلك باندې استنثار هم واجب کيدل پکار دی، (۱) ځکه چه په حديث کښې ﴿ من توضأ فليستنثر﴾ د امر صيغه راغلې ده. کما فی الحديث
حافظ رحمه الله فرمائی چه د موفق د کلام نه هم دا معلوميږی چه دا خلق د استنثار د وجوب قائل دی. (۲)
او که بالفرض اومنلې شی چه استنشاق خو واجب دې، استنثار نه دې، نو بيا هم په پورته تقرير باندې هيڅ اشکال نشته. ځکه چه د استنثار دپاره استنشاق لازم دې نو ګويا استنشاق د استنثار په ضمن کښې راغلو. والله سبحانه وتعالی اعلم

﴿ذَكَرَهُ عُثْمَانُ وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدٍ [ر: ۱۵۸، ۱۸۳] وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ﴾

يعنی سيدنا عثمان، سيدنا عبدالله بن زيد او ابن عباس رضی الله عنهم د استنثار ذکر د رسول الله ﷺ نه نقل کړې دې.
د سيدنا عثمان رضی الله عنه حديث وړاندې راروان دې. (۳)
د سيدنا عبدالله بن زيد بن عاصم رضی الله عنه حديث هم وړاندې راروان دې. (٤)
د سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما د صفت وضوء په سلسله کښې حديث شاته په باب غسل الوجه باليدين من غرفة واحدة د لاندې تير شوې دې، خو په هغې کښې د استنثار ذکر نشته.
علامه عينی رحمه الله فرمائی چه د بخاری په بعض نسخو کښې د سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما په حديث کښې د ﴿واستنشق﴾ په ځائې ﴿واستنثر﴾ راغلې دې.
خو د دې نسخې ذکر نه خو حافظ ابن حجر رحمه الله کړې دې او نه علامه قسطلانی، او حال دا دې چه علامه قسطلانی رحمه الله د نسخې په نقل کښې ډير معتمد دې، هم دغه شان د يونينيه چه کومه نسخه د شيخ زهير ناصر په تحقيق سره چهاپ شوې ده، چه په هغې کښې د نسخو د ذکر ډير اهتمام دې، په هغې کښې هم د واستنثر د نسخې ذکر کولو نشته. (۵)

---

۱) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲۶۲
۲) پورته حواله
۳) صحيح البخاری ج ۱ ص ۲۸، کتاب الوضوء، باب المضمضة والاستنشاق رقم ۱۶٤، قال الحافظ: ذكره ای روی الاستنثار عثمان، وقد تقدم حديثه، فتح الباری ج ۱ ص ۲۶۲، قلت نعم قد تقدم حديث عثمان فی باب الوضوء ثلاثا ثلاثا الا انه لم يذكر فيه الاستنثار وانما ذكر الاستنثار فيما سياتی من حديث عثمان فی باب المضمضة فی الوضوء، كما نقلته انفا.
٤) انظر صحيح البخاری ج ۱ ص ۳۱، کتاب الوضوء، باب مسح الراس كله، رقم ۱۸۵، وباب غسل الرجلين الى الكعبين رقم ۱۸۶
۵) اوګورئ: فتح الباری ج ۱ ص ۲٤۱، ارشاد الساری ج ۱ ص ۲۳۲، والجامع الصحيح بتحقيق زهير الناصر ج ۱ ص ٤۰، رقم ۱٤۰

دا تول د دې خبرې قرينه ده چه دا نسخه ثابته نه ده. والله اعلم
حافظ رحمه الله فرمائي چه غالبا امام بخاري رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنهما د هغه احاديثو طرف ته اشاره كړې ده كوم چه امام احمد، امام ابوداؤد او امام حاكم رحمهم الله د ابن عباس رضي الله عنهما نه مرفوعا روايت كړې دي: ﴿واستنثروا مرتين بالغتين اوثلاثا﴾(۱)
هم دغه شان په مسند ابى داؤد طيالسى كښې د ابن عباس رضي الله عنهما مرفوع روايت دې!
﴿اذا مضمض احدكم واستنثر فليفعل ذلك مرتين بالغتين اوثلاثا﴾(۲) والله سبحانه وتعالى اعلم

۱۵۹: ﴿حَدَّثَنَا عَبْدَانُ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ قَالَ أَخْبَرَنَا يُونُسُ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو إِدْرِيسَ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ(۳) عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ تَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ وَمَنْ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ﴾[۱۶۰]

رجال الحديث

① **عبدان**: دا عبدالله بن عثمان رحمه الله دې چه معروف دې په عبدان سره، د هغه حالات په بدء الوحى كښې د پنځم حديث د لاندې تير شوې دى. (۴)
② **عبدالله**: دا امام عبدالله بن المبارك بن واضح المروزى الحنظلى رحمه الله دې. د هغه حالات هم په بدء الوحى كښې د پنځم حديث د لاندې تير شوې دى. (۵)
③ **يونس**: دا يونس بن يزيد ايلى رحمه الله دې، د هغه حالات هم د بدء الوحى د پنځم حديث د لاندې او په كتاب العلم كښې د باب من يرد الله به خيرا يفقهه فى الدين د لاندې تير شوې دى. (۶)
④ **الزهرى** دا امام محمد بن مسلم بن عبيد الله بن عبد الله بن شهاب زهرى مدنى رحمه الله دې، د هغوى حالات په (بدء الوحى) كښې د دريم حديث د لاندې تير شوې دى. (۷)

---

۱) اوګورئ: سنن ابى داؤد، كتاب الطهارة، باب الاستنثار رقم ۱۴۱، ومسند احمد ج ۱ ص ۲۲، رقم ۲۰۱۱، والمستدرک للحاکم ج ۱ ص ۱۴۸، رقم ۵۲۶
۲) مسند ابى داؤد الطيالسى ج ۴ ص ۴۴۵، حديث ابى غطفان عن ابن عباس، ۲۸۴۸
۳) قوله "ابا هريرة" الحديث اخرجه البخارى فى صحيحه ايضا ج ۱ ص ۲۸، كتاب الوضوء، باب الاستجمار وترا، رقم ۱۶۲، ومسلم فى صحيحه، فى كتاب الطهارة، باب الايتار فى الاستنثار والاستجمار، رقم ۵۷۲، ۵۷۵، والنسائى فى سننه، فى كتاب الطهارة، صفة الوضوء، باب ايتار الاستنشاق (وفى نسخة: اتخاذ الاستنشاق)، رقم ۸۶، وباب الامر بالاستنثار رقم ۸۸، وابن ماجة فى سننه، فى كتاب الطهارة وسننها، باب المبالغة فى الاستنشاق والاستنثار رقم ۴۰۹،
۴) كشف البارى ج ۱ ص ۴۶۱
۵) كشف البارى ج ۱ ص ۴۶۲
۶) كشف البارى ج ۱ ص ۴۶۳، و ج ۳ ص ۲۸۲
۷) كشف البارى ج ۱ ص ۳۲۶

⑤ **ابو ادريس** : دا عائذ الله بن عبد الله ابو ادريس الخولانى رحمه الله دې، د هغه حالات په كتاب الايمان كښې د باب بلا ترجمة، بعد باب علامة الايمان حب الانصار د لاندې تير شوې دى. (۱)

⑥ **سيدنا ابوهريره** رضي الله عنه : د ابوهريره رضي الله عنه حالات په كتاب الايمان ﴿ باب امور الايمان ﴾ د لاندې تير شوې دى. (۲)

قوله: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ تَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ: رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: څوك چه اودس كوى هغه لره پكار دى چه استنثار اوكړى.

اوس مونږ ذكر كړې دى چه كوم حضرات د استنشاق د وجوب قائل دى د هغوى په مسلك باندې استنثار هم واجب كيدل پكار دى، لكه امام احمد، امام اسحاق بن راهويه، امام ابو عبيده، ابو ثور او ابن المنذر وغيره.

خو جمهور علماء كرام د وجوب قائل نه دى، هغوى د امر صيغې لره په استحباب باندې حمل كوى، د دې دليل هغه حديث دې چه په هغې كښې رسول الله صلى الله عليه وسلم يو اعرابى ته اوفرمائيل: ﴿ فتوضاء كما امرك الله ﴾(۳)

په دې باندې دا اشكال كيدې شى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د ﴿ ما امرك الله ﴾ حواله وركړې ده او په ﴿ ما امر الله ﴾ يعنى قران كريم كښې د مضمضه او استنشاق هيڅ ذكر نشته.

د دې جواب داسې وركړې كيدې شى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د ﴿ ما امرك الله ﴾ حواله وركړې ده او د ﴿ ما امر الله ﴾ په عموم كښې امر قرانى او امر نبوى دواړه شامل كيدې شى، ځكه چه قران كريم د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اقتداء او اتباع حكم كړې دې، پس فرمائى: ﴿ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا ﴾(٤). يعنى رسول الله صلى الله عليه وسلم چه تاسو ته څه دركوى هغه واخلئ او د څه نه چه مو منع كړى د هغې نه منع شئ.

بلكه دا چه رسول الله صلى الله عليه وسلم د قران كريم شارح او مفسر دې، چا چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اودس تفصيلى تذكره كړې ده ټولو د مضمضه او استنشاق ذكر كړې دې، د دې تقاضه دا ده چه استنشاق دې هم واجب شى او د هغې سره مضمضه هم. (۵)

---

۱) كشف البارى ج ۱ ص ۴۸۱۲

۲) كشف البارى ج ۱ ص ۶۵۹

۳) اوګورئ: سنن ابى داؤد، كتاب الصلاة، باب صلاة من لا يقيم صلبه رقم ۸۶۱، وجامع الترمذى، ابواب الصلاة، باب وصف الصلاة، رقم ۳۰۲، والسنن الكبرى للنسائى، كتاب الصلاة، باب الاقامة لمن يصلى وحده، رقم ۱۶۴۳، وصحيح ابن خزيمه ج ۱ ص ۲۷٤، كتاب الصلاة، باب اجازة الصلاة بالتسبيح والتكبير والتحميد والتهليل لمن لا يحسن القران رقم ٥٤٥

٤) الحشر : ۷

٥) فتح البارى ج ۱ ص ۲۶۲

امام شافعى رحمه الله چه په عدم وجوب استنشاق باندې كوم استدلال كړې دې هغه ئې د دې خبرې نه كړې دې چه څوك هم په ترك استنشاق باندې د اودس د اعادې قائل نه دى. (۱)

قوله: وَمَنْ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ: او كه څوك كاڼړى استعمالوى نو پكار ده چه طاق عدد كښې استعمال كړى.

د دې نه بعض خلقو استدلال كړې دې چه استنجاء واجب نه ده، د دې وضاحت په وړاندې باب كښې راروان دې.

★★★★★★★★

۲۵ الاستجمار وترًا

د مخكښې باب سره مناسبت: علامه عينى رحمه الله فرمائى چه مخكښې باب ﴿باب الاستنثار فى الوضوء﴾ د لاندې چه ئې كوم حديث راوړې وو په هغې كښې د دوه څيزونو ذكر دې، يو استنثار او بل استجمار وترا، په اول باب كښې ئې اول څيز ذكر كړو او اوس ئې دا دويم باب قائم كړو، چه په هغې كښې دويم څيز يعنى ﴿استجمار وترا﴾ ذكر كړې شوې دې. (۲) والله اعلم

د ترجمة الباب د بې ترتيبه ذكر كولو اشكال او د هغې جواب: تاسو ګورئ چه دا ابواب د اودس شروع دى، پس د استنثار فى الوضوء ذكر اوشو وړاندې د ﴿غسل رجلين﴾ او مضمضه ذكر راروان دې، امام بخارى رحمه الله په مينځ كښې استجمار، كوم چه د استنجاء او استطابة د قبيل نه دې، دا څنګه داخل كړو؟

① حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله ابواب وضوء او ابواب استطابة جدا جدا نه دى ذكر كړى، بلكه په يو بل كښې ئې خلط ملط كولو سره ذكر كړې دى.

② هم دغه شان فرمائى چه دا هم ممكنه ده چه دا د امام بخارى رحمه الله د طرف نه نه وى بلكه د ناسخين د طرف نه وى، څكه چه قاضى باجى د ابوذر هروى نه او هغه د ابو اسحاق ابراهيم بن احمد مستملى نه نقل كړې دى، هغه فرمائى چه ما صحيح بخارى د محمد بن يوسف فربرى رحمه الله د نسخې نه نقل كړې دې، ما چه هغه اوليدو نو معلومه شوه راته چه په هغې كښې بعض څيزونه ناپوره دى، بعض مقامات پكښې داسې وو چه هلته صرف بياض وو، بعض ځايونو كښې تراجم خو شته خو د هغې د لاندې احاديث نشته، بعض ځايونه داسې دى چه هلته احاديث خو شته خو ترجمه نشته، پس مونږ هغه ټول د يو بل سره متصل كړل.

قاضى باجى رحمه الله فرمائى چه د دې قول دليل دا دې چه سرخسى، مستملى، كشميهنى او ابو زيد مروزى رحمهم الله د يو اصل نسخې نه نقل كړې دې، خو د هغوى په نسخو كښې د تقديم او تاخير اختلاف دې، د دې مقصد هم دا دې چه بعض احاديث امام بخارى رحمه الله په غاړه كښې

---

۱) پورته حواله
۲) عمدة القارى ج ۳ ص ۱۶

نقل كړې وو او بعض ئې په څه ځيز باندې ليكلې وو، اوس د نقل كولو په وخت تقديم او تاخير اوشو. (۱)

④ دريم جواب دا دې چه د مخكښې باب په حديث كښې دوه حكمونه وو، ﴿ من توضاء فليستنثر، ومن استجمر فليوتر ﴾ چونكه دواړه حكمونه يوځائې په يو حديث كښې موجود وو، لهذا چه كله په يو حكم باندې مصنف رحمه الله ترجمه قائم كړه نو د هغې سره ئې په بل باندې هم منعقد كړه، ځكه چه دويم د اولنى قرين دې (۲) او په دواړو كښې اشتراك دې چه د دواړو تعلق د تنظيف سره دې.

④ څلورم جواب دا دې چه په اصل كښې دا مستقل ترجمه نه ده، بلكه ﴿ باب فى باب ﴾ دې، په دې باب كښې چه كوم روايت مصنف رحمه الله ذكر كړې دې د هغې تعلق د تير شوى باب سره دې، خو چونكه د هغې نه د استجمار وترا مسئله ثابتيدله، په دې وجه امام بخارى رحمه الله د تنبيه على الفائدة په طور دا ترجمه دلته منعقد كړه. (۳)

⑤ پنځمه توجيه د حضرت شيخ الحديث رحمه الله ده هغه فرمائى چه اصل كښې امام بخارى رحمه الله دا ترجمه دلته په دې وجه ذكر كړه چه د وتر عدد د استجمار سره راغلې دې، د استنثار سره نه دې راغلې، نو امام بخارى رحمه الله دا ترجمه راوړلو سره اشاره اوكړه چه هر كله طاق عدد په استجمار كښې مطلوب دې نو په استنثار كښې به هم مطلوب وى، ځكه چه د دواړو مقصد تنظيف دې او چه كله په استنجاء كښې عدد وتر مستحب يا واجب دې نو هغه عدد په استنثار كښې بدرجه اولى مطلوب كيدل پكار دى. (۴)

⑥ يوه توجيه دا هم كيدې شى چه امام بخارى رحمه الله دا دواړه ترجمې يوځائې په دې وجه راوړلې چه دا دواړه ځيزونه په پورته حديث كښې مقرونا راغلى دى او په دې كښې معنوى مناسبت دې، د دې معنوى مناسبت د وجې رسول الله ﷺ دواړه يو ځائې ذكر كړل.
او معنوى مناسبت په احاديثو كښې د نظر كولو نه معلوميږى!

امام بخارى رحمه الله د سيدنا ابوهريره رضي الله عنه نه مرفوع حديث نقل فرمائيلې دې! ﴿ اذا استيقظ احدكم من منامه فتوضاء فليستنثر ثلاثا، فان الشيطان يبيت على خيشومه ﴾ (۵)

امام مسلم رحمه الله هم دا حديث روايت كړې دې او د هغه الفاظ داسې دى: ﴿ على خياشيمه ﴾ (۶)

۱) اوګورئ: التعديل والتجريح للباجى ج ۱ ص ۲۸۷، وهدى السارى ص ۸، الفصل الثانى فى بيان موضوعه والكشف عن مغزاه فيه.
۲) عمدة القارى ج ۳ ص ۱۶
۳) اوګورئ: لامع الدرارى مع الكنز المتوارى ج ۳ ص ۵۰
۴) الكنز المتوارى تعليقات لامع الدرارى: ۵۰،۱۳ و ۵۱.
۵) صحيح البخارى ج ۱ ص ۴۶۵، كتاب بدء الخلق، باب صفة ابليس وجنوده، رقم ۳۲۹۵
۶) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب الايتار فى الاستجمار والاستنثار رقم ۵۷۶

امام ابو داؤد رحمه الله او امام ابن ماجه رحمه الله د سیدنا زید بن ارقم رضی الله عنه نه مرفوعا نقل کړې دی!

﴿ان هذه الحشوش محتضرة، فاذا اتى احدكم الخلاء فليقل : اعوذ بالله من الخبث والخبائث﴾ (۱)

یعنی دې بیوت الخلاء ته شیطانان حاضریږی، لهذا په تاسو کښې چه څوك بیت الخلاء ته داخلیږی نو دا دعا دې اوائی چه اې الله! زه د خبیث مذکر جناتو او د خب۱یث مؤنث جناتو نه په تا پورې پناه نیسم.

هم دغه شان په ابو داؤد کښې یو حدیث دې!

﴿فان الشيطان يلعب بمقاعد بنى ادم﴾ (۲)

یعنی شیطان د انسان د مقعد سره لوبې کوی.

د دې روایاتو نه معلومیږی چه د شیطان: د موضع استنثار سره هم تعلق دې او د موضع استجمار سره هم، لهذا چه کله رسول الله ﷺ د یو د تنظیف حکم اوکړو نو د بل د تنظیف حکم ئې هم اوکړو، هم په دې وجه امام بخاری رحمه الله دواړه رایو ځائی کړل. والعلم عند الله سبحانه

۱۶۰: ﴿حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (۳) أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ فِي أَنْفِهِ ثُمَّ لِيَنْثُرْ وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ وَإِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلْيَغْسِلْ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَهَا فِي وَضُوئِهِ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ﴾ [ر: ۱۵۹]

رجال الحديث

① **عبدالله بن يوسف**: دا عبد الله بن یوسف تنیسی رحمه الله دې. د هغه حالات په کتاب بدء الوحی کښې د دویم حدیث د لاندې مختصرا او په کتاب العلم کښې د باب ليبلغ العلم الشاهد الغائب د لاندې تفصیلا تیر شوې دی. (۴)

② **مالك**: د مالك بن انس رحمه الله حالات د کتاب بدء الوحی په دویم حدیث کښې او په کتاب الایمان، باب من الدين الفرار من الفتن د لاندې تیر شوې دی. (۵)

---

۱) سنن ابى داؤد، كتاب الطهارة، باب ما يقول الرجل اذا دخل الخلاء، رقم ۶، وسنن ابن ماجة، كتاب الطهارة، باب ما يقول الرجل اذا دخل بيت الخلاء، رقم ۲۹۶، وصحيح ابن خزيمة ج ۱ ص ۳۸، كتاب الطهارة، باب الاستعاذة من الشيطان الرجيم عند دخول المتوضاء رقم ۶۹

۲) سنن ابى داؤد، كتاب الطهارة، باب الاستتار فى الخلاء رقم ۳۵، وسنن ابن ماجة، كتاب الطهارة، باب الارتياد للغائط والبول رقم ۳۳۷

۳) قد مر تخريجه فى الباب السابق.

۴) اوګورئ: کشف البارى ج ۱ ص ۲۸۹، و ج ۴ ص ۱۱۳

۵) اوګورئ: کشف البارى ج ۱ ص ۲۹۰، ج ۲ ص ۸۰

③ **ابو الزناد**: دا ابو الزناد عبدالله بن ذكوان رحمه الله دي، د هغه حالات په **كتاب الايمان** كښ د باب حب الرسول ﷺ من الايمان د لاندې تير شوې دى. (۱)

④ **الاعرج**: دا عبدالرحمن بن هرمز الاعرج مدنى رحمه الله دې. د هغه حالات هم په **كتاب الايمان** كښ د باب حب الرسول من الايمان د لاندې تير شوې دى. (۲)

⑤ **سيدنا ابوهريره** رضي الله عنه: د ابوهريره رضي الله عنه تفصيلى حالات په كتاب الايمان ﴿باب امور الايمان﴾ د لاندې تير شوې دى. (۳)

قوله: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ فِي أَنْفِهِ ثُمَّ لِيَنْثُرْ: رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه كله په تاسو كښ څوك اودس كوى نو په خپله پوزه كښ دې اوبه واچوى، بيا دې هغه سونړ كړى.

يعنى اول دې استنشاق اوكړى چه د ساه په ذريعه پوزه كښ اوبه واچوى او بيا دې استنثار اوكړى. يعنى هغه دې سونړ كړى.

قوله: وَمَنْ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ: او څوك چه استنجاء كوى هغه دې ايتار اوكړى.

د استجمار يو معنى ده د استنجاء دپاره واړۀ كانړى استعمالول. (٤)

په استنجاء كښې د ائمه كرامو اختلاف: د استنجاء په مسئله كښ اختلاف دې!

امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى چه استنجاء اصلا سنت ده، خو كه نجاست يو درهم وى نو واجب ده او كه د يو درهم نه زيات وى نو فرض ده. (۵)

د امام مالك رحمه الله نه هم يو روايت د سنيت دې. (۶)

او امام مالك، امام شافعى او امام احمد بن حنبل رحمهم الله استنجاء ته واجب وائى. (۷)

هر چه د عدد احجار تعلق دې، نو دا مسئله مونږ شاته په باب لايستنجى بروث د لاندې بيان كړې ده، امام ابوحنيفه رحمه الله د استنجاء په عدم وجوب باندې د ابوداؤد د دې حديث نه استدلال كوى چه په هغې كښ دى!

﴿ومن استجمر فليوتر، من فعل فقد احسن، ومن لا فلا حرج﴾ (۸)

---

۱) كشف البارى ج ۲ ص ۱۰
۲) كشف البارى ج ۲ ص ۱۱
۳) كشف البارى ج ۱ ص ۶۵۹
٤) الاستجمار التمسح بالجمار، وهى الاحجار الصغار، النهاية ج ۱ ص ۲۸۵
۵) اوګورئ: رد المحتار ج ۱ ص ۲۴۶
٦) اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ۲ ص ۹۵
۹) المغنى ج ۱ ص ۱۰۰، باب الاستطابة والحدث، والمجموع ج ۲ ص ۹۵
۸) سنن ابى داؤد، كتاب الطهارة، باب الاستتار فى الخلاء رقم: ۳۵

يعنى ځوك چه استنجاء كوى نو ايتار دې اوكړى، كه چا استنجاء اوكړه نو ښه ئې اوكړل او كه چا اونكړه نو هيڅ باك نشته.
اونور ائمه كرام هم دابوداؤد سيده عائشه رضي الله عنها د حديث نه استدلال كوى!

﴿ اذا ذهب احدكم الى الغائط فليذهب معه بثلاثة احجار، يستطيب بهن، فانها يجزئ عنهٗ ﴾

يعنى چه كله په تاسو كښې ځوك د قضاء حاجت دپاره ځى نو دځان سره دې درې كاڼړى يوسى او په هغې سره دې پاكى حاصله كړى، ځكه چه دا د پاكوالى د حاصلولو دپاره كافى دى.
خو احناف دا امر په سنيت او ندب باندې محمول كوى، ځكه چه د حديث شريف په اخره كښې دى ﴿ فانها تجزئ عنه ﴾ دلالت كوى چه دا حكم معلول بالعلة دې چه كه ناپاكى وى نو دا درې كاڼړى د ازالې دپاره كافى دى او كه نجاست د مخرج نه متجاوز نه وى نو ظاهره ده د وجوب محل نه دې. والله اعلم

د استجمار دويمه معنى: د استجمار يوه معنى اوس مونږ بيان كړې ده يعنى ﴿ التمسح بالجمار اى الاحجار الصغار ﴾ هم دا مشهوره معنى ده، اهل لغت او محدثين هم دا معنى بيانوى. (۱)
د استجمار دويمه معنى استعمال البخور هم ده، يعنى كه څه لوږې كول وى نو په كوم څيز سره چه لوږې وركولې شى د هغې درې ټكړې كولو سره استعمال كړې شى، يا درې كرته لوږې وركړې شى. (۲)
امام ابن خزيمه رحمه الله د امام مالك رحمه الله نه اوله معنى نقل كړې ده، يعنى په حديث كښې د استجمارنه مراد استنجاء او استطابة بالاحجار مراد دې. (۳)
قاضى عياض رحمه الله د امام مالك رحمه الله نه دويم قول هم نقل كړې دې، يعنى ﴿ استجمار بمعنى استعمال البخور ﴾ (٤)
حافظ سيوطى رحمه الله د قاضى عياض رحمه الله نه نقل كړى دى چه امام مالك رحمه الله د دويمې معنې قائل وو بيا ترې هغه رجوع اوكړه. (۵)
حافظ ولى الدين ابوزرعه عراقى رحمه الله فرمائى چه دلته د استجمار دواړه معنى استعماليدلې شى يعنى استنجاء او تبخر. (۶) پس د سيدنا ابن عمر رضي الله عنهما نه ابن عبد البر رحمه الله نقل كړى دى

---

۱) اوګورئ: طرح التثريب ج ۱ ص ۲۰۷، باب الوضوء، الحديث الثانى
۲) انظر اكمال المعلم بفوائد مسلم للقاضى عياض ج ۲ ص ۳۰، كتاب الطهارة، باب الايتار فى الاستنثار والاستجمار، وقال الزبيدى فى تاج العروس ج ۱۰ ص ٤٦۹، استجمر بالمحمر: اذا تبخر بالعود.
۳) صحيح ابن خزيمة ج ۱ ص ٤۱، كتاب الوضوء، باب الامر بالاستطابة بالاحجار وترا لا شفعا، رقم ۷۵
٤) اوګورئ: اكمال المعلم بفوائد مسلم للقاضى عياض ج ۲ ص ۳۰، كتاب الطهارة، باب الايتار فى الاستنثار والاستجمار
۵) اوګورئ: مرقاة الصعود ج ۱ ص ۱۱۶، كتاب الطهارة، باب الاستتار فى الخلاء
۶) پورته حواله

چه هغه به وترا استنجاء هم كوله او خپلو كپړو ته به ئې وترا د عود لوږې هم كولو. (۱)

ايا د دې حديث نه په عدم وجوب استنجاء باندې استدلال كيدې شي؟ : په دې حديث كښې ﴿من استجمر فليوتر﴾ نه بعض حضرات دا استدلال كوی چه استنجاء واجب نه ده، ځكه چه ﴿من استجمر فليوتر﴾ قضيه شرطيه ده ... ﴿والشرطية لا تقتضی الوجوب﴾ (۲)

خو د دې جواب دا دې چه رسول الله ﷺ دا شرط د تخيير بين الماء والاحجار اعتبار سره استعمال كړې دې، يعنې استنجاء كونكی ته اختيار دې كه استنجاء په اوبو سره كوی يا په كاڼړی سره، كه استنجاء په كاڼړو او لوټو سره كوی نو طاق عدد دې اختيار كړی، په دې كښې د نفس استنجاء د كولو او نه كولو اختيار وركول مقصود نه دی.

په ابوداؤد كښې: ﴿ومن استجمر فليوتر، من فعل فقد احسن، ومن لا فلا حرج﴾ (۳) راغلې دې، بعض احنافو وئيلې دی چه د دې نه معلومه شوه چه استنجاء واجب نه ده، ځكه چه رسول الله ﷺ اختيار وركړې دې چه كه كونكې ئې اوكړی نو ډيره ښه ده او كه وو ئې نه كړی نو هيڅ باك نشته. (٤)

خو دا استدلال په دې وجه صحيح نه معلوميږی چه د ﴿من فعل فقد احسن، ومن لا فلا حرج﴾ تعلق د استجمار سره نه دې بلكه د ايتار سره دې او مطلب دا دې چه كه څوك د طاق عدد لحاظ ساتی نو ښه به اوكړی او كه د ايتار لحاظ ئې او نه ساتلو نو واجب نه دې. (۵)

---

۱) قال ابن عبدالبر رحمه الله : وقد كان ابن عمر يستحب الوتر فی تجمير ثيابه وكان يستعمل العموم فی قوله صلى الله عليه وسلم: "ومن استجمر فليوتر" فكان يستجمر بالأحجار وترا وكان يجمر ثيابه وترا تأسيا بالنبی صلى الله عليه وسلم ومستعملا عموم الخطاب والله الموفق للصواب. التمهيد ج ۱۸ ص ۲۲۶

۲) قال الماوی فی فيض القدير شرح جامع الصغير ج ۵ ص ۳۲۱ : ان القضية الشرطية لا يلزم منها الوقوع. وقال القسطلانی فی ارشاد الساری ج ۲ ص ۱۵۶، كتاب الجمعة، باب فضل الغسل يوم الجمعة، وهل على الصبی شهود يوم الجمعة او على النساء : فان القضية الشرطية لا تدل على وقوع المجئ. وقال ايضا (فی كتاب الادب، باب من سمی باسماء الانبياء ﷺ ج ۹ ص ۱۱۳، ان القضية الشرطية لا تستلزم الوقوع.

۳) سنن ابی داؤد، كتاب الطهارة، باب الاستتار فی الخلاء رقم ۳۵

٤) قال الكاسانی فی البدائع : ثم ابتداء الدليل على أن الاستنجاء ليس بفرض ما روی عن النبی صلى الله عليه وسلم أنه قال { من استجمر فليوتر ، من فعل فقد أحسن ، ومن لا فلا حرج } ، والاستدلال به من وجهين : أحدهما أنه نفی الحرج فی تركه ، ولو كان فرضا لكان فی تركه حرج ، والثانی : أنه قال : " من فعل فقد أحسن ، ومن لا فلا حرج " ومثل هذا لا يقال فی المفروض ، وإنما يقال فی المندوب إليه ، والمستحب .... انظر بدائع الصنائع ج ۱ ص ۱۸ سنن الوضوء الكلام على الاستنجاء

۵) استدل بعض الحنفية بقوله { من استجمر فليوتر} أنه لا يجب الاستنجاء ؛ لأن ظاهره التخيير بين الاستنجاء وتركه. والجواب أن هذا اللفظ لا يدل على التخيير فقد قال فی رواية أبی إدريس المتفق عليها {من توضأ فليستنثر ومن استجمر فليوتر} وليس هومخيرا فی الوضوء فكذلک فی الاستجمارعلى أنا لانقول يتعين الاستجمار بل هو مخير بينه وبين الاستنجاء بالماء ، فإن اختار الاستجمار بالأحجار فهو حينئذ مأمور بالإيتار وليس فيه عدم وجوب الأمرين. طرح التثريب ج ۱ ص ۲۱۱، الحديث الثانی، الفائدة الثانية عشرة.

صاحب هدايه فرمائى چه د ايتار سره د متعلق كيدو په صورت كښ هم مدعى ثابتيدلې شى، په داسې طريقه چه عدد طاق يعنى ايتار كښ واحد هم داخل دې نو اوس مطلب دا شو چه انسان ته په استنجاء كولو كښ اختيار دې چه عدد طاق، اګر كه يو ولې نه وى، كه هغه استعمالوى نو غوره ده او كه نه استعمالوى نو هيڅ باك نشته. (۱)

خو د صاحب هدايه دا تقرير په ظاهر كښ صحيح نه دې ځكه چه رسول الله ﷺ خو د ايتار د اختيارولو او نه اختيارولو اختيار هغه سړى ته وركړې دې چه استنجاء كوى او دا هم هغه وخت كيدې شى چه د وتر نه مافوق الواحد مراد واخستلې شى.

علامه ابن الهام رحمه الله فرمائى چه د ﴿ من فعل فقد احسن، ومن لا فلا حرج ﴾ تعلق د ايتار او استجمار دواړو سره دې او مطلب دا دې چه د ايتار او استنجاء دواړو په فعل او ترك كښې ورله اختيار دى. (۲)

خو د ابن همام رحمه الله دا تقرير خلاف تبادر دې. د انصاف خبره دا ده چه دا حديث د احنافو په مدعى باندې دلالت نه كوى.

اصل كښ دلته فقهاء احنافو يو بل اصل ته كتلې دى او هغه دا دې چه عرب د ګرم ملك اوسيدونكى دى، هلته د اوبو قلت هم دې، عام طور به كانړى په استنجاء كښ استعماليدل او ظاهره ده چه په كانړو باندې پوره، مكمل او قطعى صفائى نه راځى، د دې نه معلومه شوه چه محل نجاست معفو عنه دې او چه كله معفو عنه دې نو استنجاء به واجب نه وى.

خو په دې باندې اشكال دا دې چه معفو عنه ما بقى دې او د ما بقى د معفو عنه كيدو نه دا څنګه معلومه شوه چه ټول معفو عنه دې، كيدې شى چه د استنجاء نه مخكښ كوم نجاست وى هغه واجب الازاله وى، او! د استنجاء نه پس چه كوم باقى پاتې شى هغه غير واجب الازاله دې

رسول الله ﷺ ټول عمر استنجاء كړې ده، چرته يو صحابى هم د رسول الله ﷺ نه د دې خلاف نه دى نقل كړى. (۳) او رسول الله ﷺ په استنجاء باندې حكم فرمائيلې دې، د دې

---

۱) قال المرغينانى : ولنا قوله عليه الصلاة والسلام من استجمر فليوتر، فمن فعل فحسن، ومن لا فلا حرج، والايتار يقع على الواحد. الهداية مع فتح القدير ج ۱ ص ۱۴۸، ۱۴۹، كتاب الطهارة فصل فى الاستنجاء

۲) قال ابن الهمام: وفيه نظر فإن المنفى على هذا التقدير إنما هو الإيتار ممن استنجى ، وذلك لا يتحقق إلا بنفى إيتار هو فوق الواحدة ، فإن بنفى الواحدة ينتفى الاستنجاء فلا يصدق نفى الإيتار مع وجود الاستنجاء فلا يتم الدليل إلا بصرف النفى إلى كل ما ذكر فيدخل فيه أصل الاستنجاء إن أحب ، ومجرد الإيتار فيه ، والمعنى : من فعل ما قلته كله فقد أحسن ومن لا فلا حرج... فتح القدير ج ۱ ص ۱۸۸، فصل فى الاستنجاء.

۳) قال ابن الهمام : وما عن أنس رضى الله عنه { كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يدخل الخلاء فأحمل أنا وغلام نحوى إداوة من ماء وعنزة فيستنجى بالماء } متفق عليه ظاهر فى المواظبة بالماء ، ومقتضاه كراهة تركه . وكذا ما روى ابن ماجه عن عائشة قالت { ما رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم خرج من غائط قط إلا مس ماء. فتح القدير ج ۱ ص ۱۸۷، فصل فى الاستنجاء

طریقه ئې بیان کړې ده.(۱) دا ټول ددې خبرې و ضح قرائن دی چه استنجاء واجب ده. والله اعلم

﴿وَإِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلْيَغْسِلْ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَهَا فِي وَضُوئِهِ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ﴾

او کله چه په تاسو کښې څوك د خپل خوب نه رابیدار شی نو هغه له پکار دی چه د خپل اودس په اوبو کښې د لاس داخلولو نه مخکښې هغه وینځی، ځکه چه په تاسو کښې څوك هم نه پوهیږی چه د هغه لاس چرته شپه تیره کړې ده.

په دې روایت کښې فرمائی: ﴿اذا استيقظ احدكم ...﴾ چه کله په تاسو کښې څوك راپاسی، ځکه چه دا د عام خلقو حکم دې. حضرات انبیاء کرام ﷺ د دې حکم نه مستثنی دی ځکه چه د هغوی په باره کښې معلومه ده چه د هغوی سترګې اوده کیږی خو زړونه ئې ویخ وی. (۲)

هم دغه شان استیقاظ له د ﴿من النوم﴾ سره مقید کړې شوې دې، ځکه چه د دې لفظ استعمال کله کله د خوب نه په علاوه باندې هم کیږی، لکه چه یوسړې د بې هوشئ نه پس رابیدار شی نو وئیلې شی: ﴿استيقظ من الاغماء او الغشى﴾ هم دغه شان چه په چا باندې غفلت راشی او هغه په څه خیال کښې غرق وی نو د دې کیفیت د زوال نه پس وئیلې شی ﴿استيقظ من الغفلة﴾ (۳) نو چونکه دا لفظ کله د بې هوشئ یا غفلت د لرې کولو دپاره هم استعمالیږی، په دې وجه دلته د ﴿من نومه﴾ قید اولګولې شو، چه دا معلومه شی چه د غفلت یا بې هوشئ زوال نه دې مراد. والله اعلم

قوله: فَلْيَغْسِلْ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَهَا فِي وَضُوئِهِ: خپل لاس دې د اودس په اوبو کښې د داخلولو نه مخکښې وینځی. په دې روایت کښې د اودس په لوښی کښې د لاس وینځلو نه مخکښې د هغې د وینځلو حکم کړې شوې دې.

د اودس په اوبو کښې لاس د وینځلو نه مخکښې د داخلولو حکم: حسن بصری، اسحاق بن راهویه. ابن جریر طبری او امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چه د بیداریدو نه پس په لوښی کښې د لاس داخلولو نه مخکښې لاس وینځل واجب دی.

---

۱) فإذا ذهب أحدكم إلى الغائط فلا يستقبل القبلة ولا يستدبرها لغائط ولا بول ، وليستنج بثلاثة أحجار». ونهى عن الروث والرمة.وان يستنجى الرجل بيمينه. السنن الكبرى للبيهقى ج ۱ ص ۱۰۲، كتاب الطهارة، باب وجوب الاستنجاء بثلاثة احجار، رقم ۵۰۹

۲) عن انس بن مالك .... جاءه ثلاثة نفر قبل أن يوحى إليه وهو نائم فى المسجد الحرام .... والنبى صلى الله عليه وسلم نائمة عيناه، ولا ينام قلبه وكذلك الأنبياء تنام أعينهم ولا تنام قلوبهم. صحيح البخارى، كتاب المناقب، باب كان النبى ﷺ تنام عينه، ولا ينام قلبه، رقم ۳۵۷۰

۳) يقظ من نومه ونحوه، ييقظ يقظا ويقاظة : صحا وانتبه، وتنبه للامور وفطن ... يقال استيقظ من نومه وغيره، المعجم الوسيط مادة : يقظ

جمهور علماء کرام فرمائی سنت دی، واجب نه دی، هم دا د امام احمد رحمه الله یو روایت دې.(۱)
د وجوب قائلین په حدیث شریف کښې د امر صیغې ﴿ فلیغسل ﴾ ته ګوری او کوم حضرات چه د سنیت او استحباب قائل دی، هغوی فرمائی چه رسول الله ﷺ د وینځلو حکم په یو علت موهومه باندې معلق کړې دې، هغه دا چه : په تاسو کښې چاته هم نه ده معلومه چه د هغه لاس چرته شپه تیره کړې ده. او د علت موهومه د وجې نه وجوب نه ثابتیږی.
پس امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د عربو خلق د ګرم ملك اوسیدونکی وو، په کاڼړو سره به ئې استنجاء کوله، په شپه کښې د خوب په وخت کښې کیدې شوه چه د هغوی لاسونه یو خوا بل خوا لاړ شی، په دې وجه هغوی ته د لاس وینځلو حکم اوکړې شو. (۲)
قاضی ابو الولید باجی رحمه الله فرمائی چه زمونږ د مشائخو رائې دا ده چه د لاس وینځلو حکم تنظیفی دې، انسان چه اوده شی نو کله ئې د لاس د لاندې کټمل راشی، کله یوه دانه ماته شی. کله په خوب کښې بدن ګروی نو په نوکونو کښې خیرې جمع شی، په دې وجه د نظافت په غرض سره د لاس وینځلو حکم ورکړې شو. (۳) والله اعلم
بغیر د وینځلو نه د لاس داخلولو په صورت کښې د اوبو حکم : کوم حضرات چه په اوبو کښې د لاس داخلولو نه مخکښې د هغې وینځل واجب وائی په هغوی کښې حسن بصری، اسحاق بن راهویه او ابن جریر رحمهم الله فرمائی چه که بغیر د وینځلو نه ئې لاس اوبه ته داخل کړو نو اوبه به ناپاکې شی.
خو جمهور علماء کرام فرمائی چه که په لاس باندې نجاست کیدل یقینی وی او اوبه لږې وی نو بیا به اوبه ناپاکې وی، ګینې اوبه صرف د شك په وجه باندې او د نجاست د وهم د وجې نه نه ناپاك کیږی. (٤) والله اعلم
ایا د شپې او د ورځې په خوب کښې به فرق کولې شی؟ : د جمهور علماء کرامو په نزد بغیر د لاس وینځلو نه په اوبو کښې د داخلولو دا ذکر شوې حکم عام دې که د ورځې وی یا د شپې.
او د امام احمد رحمه الله یو روایت خو د جمهورو مطابق دې او په بل روایت کښې ئې په دواړو کښې تفریق کړې دې چه که د ورځې د اوده کیدو نه پس راپاسی او په اوبو کښې لاس داخل

---

۱) د مذاهب تفصیل دپاره اوګورئ : المغنی لابن قدامة ج ۱ ص ۷۰، ۷۱، باب السواك وسنة الوضوء، والمجموع شرح المهذب ج ۱ ص ۳۵۰
۲) اوګورئ : المجموع شرح المهذب ج ۱ ص ۳۴۸
۳) قال الباجی : وروی عیسی بن دینار عن ابن القاسم أحب إلي أن یفرغ علی یدیه فیغسلهما کما جاء فی الحدیث... ووجه ما ذهب إلیه ابن القاسم أن غسل الید قبل إدخالها فی الإناء إنما هو علی معنی التنظیف بما عسی أن یکون علق بها من أوساخ البدن والعرق وغسل الیدین بعضهما ببعض أنظف لهما وأبلغ فی إزالة ما یقدر تعلقه بهما.المنتقی شرح الموطاء:ج۱ ص ۲۷۰
٤) اوګورئ : المغنی لابن قدامة ج ۱ ص ۷۱، والمجموع شرح المهذب ج ۱ ص ۳۴۸، ۳۴۹، وطرح التثریب ج ۱ ص ۱۹۶، ۱۹۷

کړې نو کراهت تنزیهي دې او که د شپې ـ اودهٔ کیدو نه پس پکښې لاس داخل کړې نو کراهت تحریمي دې، هم دا د داؤد ظاهري رحمه الله قول دې. (۱)

ددې حضراتو دلیل په بعض روایاتو کښې د ﴿من اللیل﴾ د قید راتلل دی.(۲)

هم دغه شان دا حضرات په دې حدیث کښې د موجود لفظ ﴿باتت﴾ نه هم استدلا ل کوی چه د ﴿مبیت﴾ معنی د شپې تیرولو ده.

جمهور وائی چه په ډیرو روایاتو کښې د ﴿من اللیل﴾ قید موجود نه دې. (۳) خو که ﴿من اللیل﴾ قید وی یا د ﴿مبیت﴾ قید وی نو دا د غالب اعتبار کولو سره تقیید دې چه عموما اوږد او ښځ خوب، دغه شان غفلت د شپې په خوب کښې وی. (٤) والله اعلم

قوله: فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لاَ يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ: ځکه چه په تاسو کښې څوك هم نه پوهیږی چه د هغه لاس چرته شپه تیره کړې ده.

ډا جمله تعلیلیه ده او په دې کښې اشاره ده چه د دې حکم منشا احتمال دنجاست دې، ځکه چه شارع کله حکم بیان کړی او روستو ترې علت ذکر کړې نو د دې مطلب دا وی چه دا حکم د هغه علت سره مقید او معلول دې. (۵)

قوله: این باتت یده: ای من جسده! یعني دا معلومه نه ده چه د هغه لاس د هغه د بدن کومې کومې حصې سره لګیدلې دې.

شاته مونږ د امام شافعي رحمه الله په حوالې سره نقل کړی دی چه د دې حکم سبب دا پیښ شوې وو چه عرب ګرم ملك دې، په لوټو او کاڼړو سره به د هغه ځائې خلقو استنجاء کوله، ظاهره ده چه په هغې سره پوره طریقې سره د نجاستونو ازاله نه کیږی، لهذا د شپې په خوب کښې چه کله خوله راشي او لاس په هغې کښې اولګی نو نجاست به خور شی، په دې وجه د بیداریدو نه پس په لوښی کښې د لاس داخلولو نه مخکښې د وینځلو حکم ورکړې شو.

په دې باندې قاضی ابوالولید باجي رحمه الله اعتراض کړې دې چه د دې نه خو به دا هم لازمه شی چه د جامې کوم ځائې د محل استنجاء سره اولګی د هغې وینځل هم ضروری دی.

پس هغه فرمائی چه په اصل کښې د لاس د وینځلو دا حکم په دې وجه نه دې چه په لاس کښې یقیني نجاست لګیدلې دې، بلکه دا حکم په تنظیف باندې محمول دې چه په خوب کښې

---

۱) اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ۱ ص ۳٤۹

۲) اوګورئ: جامع الترمذی، ابواب الطهارة، باب اذا استیقظ احدکم من منامه فلا یغمسن یده فی الاناء حتی یغسلها رقم ۲٤، ومسند احمد ج ۲ ص ۲۵۳، رقم ۷٤۳۲

۳) پس داصول سته، سنن دارمی، صحیح ابن خزیمه، صحیح ابن حبان او مسنداحمد په ډیرو روایتونو کښې په یو کښې هم د ﴿من اللیل﴾ قید موجود نه دې.

٤) اوګورئ: المجموع شرح المهذب ج ۱ ص ۳٤۹

۵) قاله البیضاوی، انظر فتح الباری ج ۱ ص ۲٦٤

لاس د پتونانو ترمينځه چرته چه خولې او خيرې جمع كيږي، يا څه دانه پولۍ وي او هغه اوچوي نو په داسې موقع باندې احتياطا لاسونه وينځلې شي او صفا كړې شي. (۱)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله وغيره د محل استنجاء سره د لګيدونكې كپړې اعتراض رد كړې دې او فرمائي چه ممكنه ده چه اصل خوله په لاسونه كښې وي، نه په پتونانو كښې، په داسې صورت كښې به متاثر اصل كښې لاس وي نه كپړې.

دويم جواب ئې دا وركړې دې چه دلته په اوبو كښې د كپړې اچول مسئله نه ده چه د كپړې د وينځلو حكم وركړې شي خو د لاس د وينځلو حكم كړې شوې دې، ځكه چه كه په هغه باندې د محل استنجاء اثر راغلو او بيا لاس اوبه ته لاړو نو دا عفو نه دې، ځكه چه ماء قليل ناپاك كيږي.(۲)

علامه خليل احمد سهارنپوري رحمه الله د شاه عبدالغني مجددي رحمه الله نه د سنن نسائي اولنې حديث لوستلو سره اجازت طلب كړو، په دې موقع باندې سهارنپوري رحمه الله د شاه عبدالغني صاحب نه د حديث مستيقيظ په باره كښې تپوس اوكړو چه په دې كښې صرف د احتمال په وجه باندې د لاس د وينځلو حكم كړې شوې دې چه لاس چرته يو خوا بل خوا نه وي رسيدلې نو د پاجامې ميانه ښختګ خو په بدرجه اولى پاكول پكار دي؟

شاه عبدالغني رحمه الله اوفرمائيل چه د لاس ضرر متعدى دې چه كه لاس ناپاك شو او هغه اوبو ته لاړ شي نو هغه اوبه به ناپاكې شي او څومره خلق چه په هغې سره اودس كوي د هغوى اودس به نه كيږي او نه به د هغوى مونځ كيږي، دغه شان چه د هغه اوبو څاڅكې كوم كوم ځائې ته ځي هغه ټولو ځايونه به ناپاك شي، په خلاف د ښختګ چه د هغې ناپاك كيدل كه متحقق شي نو دا خبره به د هم هغه حده پورې وي او د هغه په ذمه به د يو مونځ نيم قضاء لازم وي او بس! په دې وجه د لاس د وينځلو حكم دې، د ښختګ د وينځلو نه! (۳) والله اعلم

••••••••

هذا اخر ما اردنا ايراده من شرح كتاب الوضوء من الجامع الصحيح للامام البخاري رحمه الله تعالى وبه تم المجلد الخامس من كتاب كشف البارى عما فى صحيح البخاري ويليه باذن الله تعالى المجلد السادس، وأوله باب غسل الرجلين ولا يمسح على القدمين.

والحمد لله بنعمته تتم الصالحات، والصلاة والسلام الاتمان الاكملان على افضل الكائنات، وعلى اله واصحابه ومن تبعهم باحسان، ما دامت الارضون والسماوات.

•••

۱) اوګورئ: فتح البارى ج ۱ ص ۲٦٤، وطرح التثريب ج ۱ ص ۱۹۸

۲) پورته حواله جات

۳) اوګورئ: الكنز المتوارى على لامع الدرارى ج ۳ ص ۵۲

نوټ: د کتاب په مضمون کښې څه فرق نشته البته د صفحوپه شمار کښې غلطی وه ځکه مو دا صفحه په مینځ کښې داخله کړه.

فوز المبتدی

بشرح

مختصر القدوری

تالیف:- مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم،

خصوصیات

- داحادیثو تخریج
- د گرانو لغاتو حل
- د مختصر القدوری د متن حل
- دقندهاریٔ او پیښوریٔ پښتو گډون
- د ائمه ثلاثه فقط مذاهب بیانول (بدون الدلائل)
- د حنفیانو په خپل مینځ کښې مدلل اختلاف بیانول
- هره یوه مسئله او خبره په مستقل متن کښې بیانول
- د هرې مسئلې دپاره نقلی یا عقلی یا دواړه دلائل بیانول
- د فیما بین الحنفیه په مختلف فیها مسائلو کښې د قول راجح تعین

خورونکی
فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور

مصادر ومراجع

١ــ القرآن الكريم:
٢ــ إتحاف السادة المتقين بشرح إحياء علوم الدين، للعلامة السيد محمد بن محمد الحسيني، بيروت، الطبعة الثالثة: ١٤٢٢هـ/ ٢٠٠٢م.
٣ــ الأحاديث المختارة أو المستخرج من الأحاديث المختار ممالم يخرجه البخارى ومسلم في صحيحيهما، للإمام العلامة ضياء الدين أبي عبدالله محمد بن عبدالواحد بن أحمد الحنبلي المقدسي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٦٤٣هـ، تحقيق: الدكتور عبدالملك بن عبدالله بن دهيش، الطبعة الرابعة ١٤٢١هـ/ ٢٠٠١م، دار خضربيروت.
٤ــ الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان، للأميرعلى بن بلبان الفارسى، رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٣٩هـ، تحقيق: الشيخ شعيب الأرنؤوط، مؤسسة الرسالة، بيروت الطبعة الأولى: ١٩٨٨م.
٥ــ أحكام القرأن، للإمام أبي بكرأحمد بن علي الرازي الجصاص رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٧٠هـ، تحقيق: عبد السلام ومحمد شاهين، دار الكتب العلمية، بيروت الطبعة الثانية: ١٤٢٤هـ/ ٢٠٠٣م.
٦ــ الإحكام في أصول الأحكام، للإمام أبي الحسن علي بن أبي علي محمد بن سالم التغلبي الآمدي رحمه الله تعالى، المتوفى ٦٣١هـ، دار الصميعي الرياض، ١٤٢٤هـ/ ٢٠٠٣م.
٧ــ إحكام الأحكام شرح عمدة الأحكام للإمام تقي الدين أبي الفتح محمد بن علي بن وهب بن مطيع المعروف بابن دقيق العيد، رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٠٢هـ أملاه على الوزيرعماد الدين بن الأثير الحلبي، رحمه الله تعالي، المتوفى ٦٩٩هـ، تحقيق: محمد حامد الفقي ومراجعة: أحمد محمد شاكر، ١٣٧٢هـ/ ١٩٥٣م، مطبعة أنصار السنة المحمدية القاهرة.
٨ــ أحكام القرأن، للإمام أبي بكر محمد بن عبدالله المعروف بابن العربي رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٤٣هـ، دار الكتب العلمية، بيروت.
٩ــ إحياء علوم الدين، للإمام أبي حامد محمد بن محمد الغزالي رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٠٥هـ، تحقيق: أحمد عزوعناية، وأحمد زهوة، دار الكتاب العربي، بيروت.

١٠ـ أخبار مكة في قديم الدهر وحديثه، للإمام أبي عبد الله محمد بن إسحاق بن العباس الفاكهي المكي رحمه الله تعالى، من علماء القرن الثالث الهجري، تحقيق: عبد الملك بن عبد الله بن دهيش، الطبعة الثانية ١٤١٤ه/ ١٩٩٤م.

١١ـ أخبار مكة وما جاء فيها من الآثار، للإمام أبي الوليد محمد بن عبد الله بن أحمد الأزرقي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٥٠ه، تحقيق: رشدي الصالح ملحس، الطبعة الثالثة ١٤٠٣ه/ ١٩٨٣م.

١٢ـ الأدب المفرد، للإمام أبي عبدالله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم الجعفي البخاري، رحمه الله تعالى، المتوفى٢٥٦ه، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، الطبعة الثالثة، ١٤٠٩ه/ ١٩٨٩م، دار البشائر الإسلامية بيروت.

١٣ـ إرشاد الساري شرح صحيح البخاري، للإمام شهاب الدين أبي العباس أحمدبن محمد الشافعي القسطلاني رحمه الله تعالى، المتوفى ٩٢٣ه، المطبعة الكبرى الأميرية، ببولاق مصر، الطبعة السادسة: ١٣٠٤ه.

١٤ـ الإرشاد في معرفة علماء الحديث، للحافظ أبي يعلى الخليل بن عبدالله بن أحمد بن الخليل الخليلي القزويني، رحمه الله تعالى، المتوفى٤٤٦ه، تحقيق: الدكتور محمد سعيدبن عمر إدريس، مكتبة الرشدالرياض.

١٥ـ الاستذكار الجامع لمذاهب فقهاء الأمصار وعلماء الأقطار، فيما تضمنه الموطأ من معاني الرأي والآثار، وشرح ذلک كله بالإيجاز والاختصار، للإمام الحافظ أبي عمر يوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبربن عاصم النمري القرطبي المالكي رحمه الله تعالى، المتوفى ٤٦٣ه، تحقيق: سالم محمد عطا ومحمد علي معوض، الطبعة الثانية١٤٢٣ه/ ٢٠٠٢م، دار الكتب العلمية بيروت.

١٦ـ الاستيعاب في أسماء الأصحاب (بهامش الإصابة)، للإمام الحافظ أبي عمر يوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر المالكي رحمه الله تعالى، المتوفى ٤٦٣ه، دار الفكر، بيروت، الطبعة الأولى ١٣٩٨ه/ ١٩٧٨م.

١٧ـ أسد الغابة في معرفة الصاحبة، للإمام عزالدين أبي الحسن علي بن محمد الجزري المعروف بابن الأثير، رحمه الله تعالى، المتوفى٦٣٠ه، دار الكتب العلمية بيروت.

١٨ـ إسعاف المبطأ برجال الموطأ للإمام عبدالرحمن بن أبي بكرجلال الدين السيوطي رحمه الله تعالى، المتوفى ٩١١ه، تحقيق وتعلق: موفق فوزي جبر، الطبعة الأولى ١٤١٠ه/ ١٩٩٠م، دار الهجرة بيروت.

١٩ـ الإصابة في معرفة الصحابة، للإمام الحافظ أحمد بن علي بن حجرالعسقلاني رحمه الله تعالى، المتوفى٨٥٢ه، دار الفكر، بيروت، الطبعةالأولى: ١٣٩٨ه/١٩٧٨م.

٢٠ـ إصلاح غلط المحدثين، للإمام أبي سليمان حمد بن محمد الخطابي البستي رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٨٨ه، تحقيق: الدكتور حاتم صالح الضامن، الطبعة الثانية ١٤٠٥ه/ ١٩٨٥م، مؤسسة الرسالة.

٢١ـ أصول الفقه الإسلامي للدكتور وهبة الزحيلي حفظه الله تعالى، دار الفكردمشق، الطلبة الأولى ١٤٠٦ه/١٩٨٦م.

٢٢ـ إعانة الطالبين على حل ألفاظ فتح المعين، لأبي بكر بن محمد شطاالدمياطي المعروف بالبكري، رحمه الله تعالى، المتوفى بعد ١٣٠٢ه، الطبعة الأولى ١٤١٨ه/ ١٩٩٧م، دار الفكر بيروت.

٢٣ـ أعلام الحديث في شرح صحيح البخاري، للإمام المحدث أبي سليمان حمد بن محمد الخطابي رحمه الله تعالى، المتوفى٣٨٨ه، مركز إحياء التراث الإسلامي، جامعة أم القرى، مكة المكرمة.

٢٤ـ الاغتباط بمن رمي من الرواة بالاختلاط، للإمام برهان الدين إبراهيم بن محمد سبط ابن العجمي رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٤١ه تحقيق: علاء الدين علي رضا(باسم نهاية الاغتباط) الطبعة الدولى ١٤٠٨ه/ ١٩٨٨م، دار الحديث القاهرة.

٢٥ـ إكمال المعلم بفوائد مسلم، للإمام الحافظ أبي الفضل عياض بن موسى بن عياض اليحصبي رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٤٤ه، تحقيق: الدكتور يحيى إسماعيل،دار الوفاء للطباعة والنشر والتوزيع، ط: ١٤١٩ه/ ١٩٩٨م.

٢٦ـ إكمال تهذيب الكمال، للعلامة الحافظ علاء الدين مغلطاي بن قليج بن عبد الله الحنفي رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٦٢ه، الفاروق الحديثة للطباعة والنشر، القاهرة، الطبعة الأولى: ١٤٢٢ه/ ٢٠٠١م.

٢٧ـ آكام المرجان في أحكام الجان، للإمام أبي عبدالله بدرالدين محمد بن تقي الدين عبد الله الشلبي الدمشقي الحنفي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٦٩ه، مكتبة القوآن القاهرة.

٢٨ــ إكمال إكمال المعلم شرح صحيح مسلم، لأبي عبدالله محمد بن خلفة الوشتاني الأبي-المالكي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٢٧ھ أو ٨٢٨ھ، دار الكتب العلمية، بيروت.

٢٩ــ الإلزامات والتتبع على الصحيحين، للإمام أبي الحسن علي بن عمر بن أحمد المعروف بالدار قطني، رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٨٥ھ، تحقيق: أبي عبدالرحمن مقبل بن هادي الوادعي، الطبعة الثانية ١٤٠٥ھ/ ١٩٨٥م.

٣٠ــ الانتقاء في فضائل الأئمة الثلاثة الفقهاء: مالك بن أنس ومحمد بن إدريس الشافعي وأبي حنيفة، للإمام الحافظ أبي عمريوسف بن عبدالبر الأندلسي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٤٩٣ھ، اعتنى به الشيخ عبد الفتاح أبوغدة رحمه الله تعالى، الطبعة الأولى ١٤١٧ھ/ ١٩٩٧م، مكتب المطبوعات الإسلامية بحلب/ دار البشائر الإسلامية بيروت.

٣١ــ الأنساب، للإمام أبي سعد عبدالكريم بن محمد بن منصور التميمي السمعاني رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٦٢ھ، تعليق: عبدالله عمرالبارودي، ٥٦٢ھ، دار الجنان، بيروت الطبعة الأولى: ١٤٠٨ھ/ ١٩٨٨م.

٣٢ــ إنسان العيون في سيرة الأمين المامون، المعروف بالسيرة الحلبية، لأبي الفرج نور الدين علي بن إبراهيم بن أحمد الحلبي الشافعي رحمه الله تعالى، المتوفى: ١٠٤٤ھ، دار الكتب العلمية، بيروت،ط: ٢٠٠٨م.

٣٣ــ الإنصاب في معرفة الراجح من الخلاف على مذهب الإمام المبجل أحمد بن حنبل، لشيخ الإسلام علاء الدين أبي الحسن علي بن سليمان المرداوي، رحمه الله تعالى، التموفى ٨٨٥، تصحيح وتحقيق: محمد حامد الفقي، الطبعة الأولى ١٣٧٤ھ/ ١٩٥٥م.

٣٤ــ أوجزالمسالك إلى موطامالک، للإمام المحدث شيخ الحديث محمد زكريا الكاندهلوي المدني رحمه الله تعالى، التموفى ١٤٠٢ھ، تحقيق: الدكتور تقي الدين الندوي، دار القلم، دمشق، الطبعة الأولى: ١٤٢٤ھ/ ٢٠٠٣م.

٣٥ــ الأوسط في السنن والإجماع والاختلاف، للإمام أبي بكرمحمد بن إبراهيم بن المنذر النيسابوری رحمه الله تعالى، المتوفى سنة ٣١٩ھ، تحقيق: الدكتور أبوحماد صغيرأحمد بن محمد حنيف، دار طيبة، الرياض، ط: ١٤٠٥ھ/ ١٩٨٥م.

٣٦ــ البحرالرائق شرح كنز الدقائق، للإمام زين الدين بن إبراهيم بن نجيم رحمه الله تعالى، المتوفى ٩٦٩ھ أو ٩٧٠ھ، مكتبة رشيدية كوئتة.

البحرالزخار (انظر: مسند البزار).
٣٧ـ بداية المجتهد ونهاية المقتصد، للإمام القاضي أبي الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد المالكي القرطبي رحمه الله تعالى، التموفى ٥٥٩٥ تحقيق: علي محمد معوض وعادل أحمد عبد الموجود، الطبعة الثانية: ٥١٤٢٤/ ٢٠٠٣م. دار الكتب العلمية، بيروت.
٣٨ـ البداية والنهاية، للإمام الحافظ أبي الفداء إسماعيل بن كثير الدمشقي رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٧٧٤ الطبعة الثانية ١٩٧٧م، مكتبة المعرف، بيروت.
٣٩ـ بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع، للإمام علاء الدين أبي بكر بن مسعود الكاساني الحنفي رحمه الله تعالي، المتوفى ٥٥٨٧ ايج ايم سعيد كمبني كراتشي.
٤٠ـ بذل المجهود في حل سنن أبي داود، للإمام المحدث الكبيرالشيخ خليل أحمد السهار نفوري رحمه الله تعالى، المتوفى ٥١٣٤٦، تعليق: الدكتور تقي الدين الندوي، مركزالشيخ أبي الحسن الندوي للبحوث والدراسات الإسلامية، الهند، الطبعة الأولى:٥١٤٢٧/٢٠٠٣م.
٤١ـ بغية الألمعي في تخريج الزيلعي (تعليقات نصب الراية) للشيخ المحدث عبد العزيز السهالوي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٥١٣٥٩/ ١٩٤٠م، بعناية الشيخ محمد عوامة، دار القبلة جدة.
٤٢ـ البناية شرح الهداية، للإمام المحدث الفقيه العلامة محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن الحسين، المعروف ببدرالدين العيني الحنفي رحمه الله، المتوفى ٥٨٥٥، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ٥١٤٢٠/١٩٩٩م.
٤٣ـ تاج العروس من جواهر القاموس للعلامة اللغوي المحدث الفقيه أبي الفيض السيد محمد بن محمد المعروف بالمرتضى الزَّبيدي رحمه الله تعالى، المتوفى ٥١٢٠٥، دار مكتبة الحياة بيروت.
٤٤ـ تاريخ أسماء الثقات للإمام عمربن أحمد بن عثمان المعروف بابن شاهين رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٣٨٥، تحقيق: صبحي السامرائي الطبعة الأولى ٥١٤٠٤/ ١٩٨٤م، الدار السلفية، الكويت.
٤٥ـ تاريخ الإسلام ووفيات المشاهير والأعلام، للإمام شمس الدين أبي عبدالله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي الدمشقى رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٧٤٨، تحقيق: مصطفى عبدالقادر عطا، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الأولى: ٥١٤٢٦/٢٠٠٥م.

٤٦ــ التاريخ الكبير، للإمام محمد بن إسماعيل بن إبراهيم الجعفي البخارى رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٥٦ھ، دار الكتب العلمية بيروت.

٤٧ــ التاريخ الكبير لأمير المؤمنين في الحديث محمد بن إسماعيل بن إبراهيم الجعفي البخارى رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٥٦ھ، دار الكتب العلمية بيروت.

٤٨ــ تاريخ بغداد أو مدينة السلام، للإمام الحافظ أبي بكر أحمد بن علي بن ثابت المعروف بالخطيب البغدادي رحمه الله تعالى، المتوفى٤٦٣ھ، تحقيق: مصطفى عبدالقادرعطا، دارالكتب العلمية، بيروت، الطبع الثانية: ١٤٢٥ھ/ ٢٠٠٤م.

٤٩ــ تاريخ مدينة دمشق وذكر فظلها وتسمية من حلها من الأماثل، للإمام الحافظ أبي القاسم علي بن الحسن بن هبة الله بن عبدالله الشافعي، المعروف بابن عساكر، رحمه الله تعالى، المتوفى٥٧١ھ، تحقيق:محب الدين أبي سعيد العمري دارالفكر، بيروت، ١٤١٥ھ/ ١٩٩٥م.

٥٠ــ تاريخ يحيى بن معين للدارمي، للإمام يحيى بن معين بن عون المري، رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٣٣ھ، رواية عثمان بن سعيد الدارمي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٨٠ھ، تحقيق: الدكتور أحمد محمد نورسيف، دار المأمون للتراث.

٥١ــ تاريخ يحيى بن معين للدوري، للإمام يحيى بن معين بن عون المري، رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٣٣ھ، رواية أبي الفضل العباس بن محمد بن حاتم الدوري، رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٧١ھ، تحقيق: عبدالله أحمد حسن، دار القلم بيروت.

٥٢ــ تأنيب الخطيب على ماساقه في ترجمة أبي حنيفة من الأكاذيب، للإمام محمد زاهدبن الحسن الكوثري رحمه الله تعالى، المتوفى ١٣٧١ھ طبعة ١٤١٠ھ/ ١٩٩٠م.

٥٣ــ تجريد أسماء الصحابة، للحافظ شمس الدين أبي عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٤٨ھ، دار المعرفة بيروت.

٥٤ــ تحريرتقريب التهذيب، للدكتور بشارعواد معروف والشيخ شعيب الأرنؤوط، مؤسسة الرسالة، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤١٧ھ/١٩٩٧م.

٥٥ــ تحفة الأشراف بمعرفة الاطراف، للحافظ المتقين جمال الدين أبي الحجاج يوسف بن الزكي عبد الرحمن بن يوسف المزّي رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٤٢ھ، تحقيق: عبد الصمد شرف الدين، المكتب الإسلامي، بيروت الطبعة الثانية ١٤٠٣ھ/ ١٩٨٣م.

٥٦ــ تحفة الباري شرح صحيح البخاري، للإمام شيخ الإسلام أبي يحيى زكريا بن محمد الانصاري الشافعي رحمه الله تعالى، المتوفى ٩٢٦ه، الطبعة الأولى: ١٤٢٥ه/ ٢٠٠٤م. دار الكتب العلمية، بيروت/ دار ابن حزم، بيروت.

٥٧ــ الترغيب والترهيب للإمام عبد العظيم بن عبد القوي المنذري، رحمه الله تعالى، المتوفى ٦٥٦ه، الطبعة الثالثة ١٣٨٨ه/١٩٦٨م، دار إحياء التراث العربي بيروت.

٥٨ــ التعديل والتجريح لمن خرج له البخاري في الجامع الصحيح للإمام أبي الوليد سليمان بن خلف بن سعد الباجي رحمه الله تعالى، المتوفى ٤٧٤ه، تحقيق الدكتور أبي لبابة حسين، الطبعة الأولى ١٤٠٦ه/ ١٩٨٦م، دار اللواء، الرياض.

٥٩ــ تعريف أهل التقديس بمراتب الموصوفين بالتدليس، للحافظ أحمد بن علي بن حجر العسقلاني رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٥٢ه، تحقيق عاصم عبدالله القريوتي، الطبعة الأولى ١٤٠٣ه/ ١٩٨٣م، مكتبة المنار، عمان.

٦٠ــ التعليق الممجد على موطإ الإمام محمد، للعلامة الفقيه المحدث محمد عبد الحي اللكنوي رحمه الله تعالى ، المتوفى ١٣٠٤ه، نور محمد أصح المطابع كراتشي.

- التعليق الممجد، بتحقيق الدكتور تقي الدين الندوي، الطبعة الأولى ١٤١٢ه/١٩٩١م، دار السنة والسيرة بومبائي/ دارالقلم دمشق.

٦١ــ تعليقات الإمام المحدث محمد زكريا الكاندهلوي رحمه الله تعالى، المتوفى ١٤٠٢ه، على بذل المجهود في حل سنن أبي داود، للإمام المحدث الكبير الشيخ خليل أحمد السهارنفوري رحمه الله تعالى، المتوفى ١٣٤٦ه، تحقيق: الدكتور تقي الدين الندوي، مركز الشيخ أبي الحسن الندوي للبحوث والدراسات الإسلامية، الهند، الطبعة الأولى: ١٤٢٧ه/ ٢٠٠٦م.

٦٢ــ تعليقات تهذيب الكمال، الدكتوربشار عواد معروف، مؤسسةالرسالة، بيروت، ١٤١٣ه/ ١٩٩٢م

٦٣ــ تعليقات على الأنساب، عبدالله عمر البارودي، دار الجنان، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٠٨ه/ ١٩٨٨م.

١ــ تعليقات على المحلى، للشيخ المحقق أحمد محمد شاكر رحمه الله تعالى، المتوفى ١٣٧٧ه، إدارة الطباعة المنيرية بمصر ١٣٥٢ه.

٦٤ـ تعليقات على مسند أحمد، للشيخ شعيب الأرنؤوط وجماعة، مؤسسة الرسالة، بيروت الطبعة الأولى: ١٤٢١ه.
٦٥ـ تغليق التعليق على صحيح البخاري، للحافظ أبي الفضل شهاب الدين أحمد بن علي بن حجرالعسقلاني الشافعي رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٥٢ه، تحقيق: سعيد عبدالرحمن القزقي، المكتب الإسلامي/ دارعمار.
٦٦ـ تفسير البيضاوي (أنوار التنزيل وأسرار التأويل) للأمام ناصرالدين أبي سعيد عبدالله بن عمر البيضاوي الشافعي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٦٩٢ه، مكتبة يوسفي ديوبند.
٦٧ـ تفسير الجلالين (مع حاشية الصاوي) للعلامة جلال الدين محمد بن أحمد المحلي، المتوفى ٨٦٤ه، وجلال الدين عبدالرحمن بن أبي بكر السيوطي، المتوفى ٩١١ه، رحمهماالله تعالى، دار الفكربيروت ١٤٢٣ه/ ٢٠٠٣م.
٦٨ـ تفسيرالقرآن العظيم للحافظ أبي الفداء عماد الدين إسماعيل بن كثيرالدمشقي رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٧٤ه، دار إحياء الكتب العربية.
٦٩ـ تقريب التهذيب، للحافظ أبي الفضل شهاب الدين أحمد بن علي بن حجر العسقلاني الشافعي رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٥٢ه، تقديم ودراسة: الشيخ المحدث محمد عوامة، دار الرشيد/ دار البشائر الإسلامية، سوريا، حلب، الطبعة الأولى: ١٤٠٦ه/ ١٩٨٦م.
٧٠ـ التقرير والتحبيرعلى التحرير، للعلامة المحقق شمس الدين أبي عبدالله محمد بن محمد بن محمد بن أميرالحاج، رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٧٩ه، المطبعة الكبرى الأميرية بولاق مصر، ١٣١٧ه.
٧١ـ التلخيص الحبيرفي تخريج أحاديث الرافعي الكبير، للإمام الحافظ شهاب الدين أحمد بن علي بن حجر العسقلاني رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٥٢ه، تحقيق: عادل أحمد عبدالموجود وعلي محمد معوض، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٢٧ه/ ٢٠٠٦م.
٧٢ـ تلخيص المستدرك(المطبوع بذيل المستدرک) للإمام شمس الدين أبي عبدالله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي الدمشقي رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٤٨ه، دار الفكر بيروت.
٧٣ـ التلقين في الفقه المالكي للإمام القاضي أبي محمد عبدالوهاب بن على بن نصرالبغدادي، رحمه الله تعالى، المتوفى٤٢٢ه، الطبعة الأولى ٢٠٠٤م/ ١٤٢٥ه، دار الكتب العلمية بيروت.

٧٤ـ التمهيد لما في الموطأ من المعاني والأسانيد، للإمام الحافظ أبي عمريوسف بن عبدالله بن محمد بن عبدالبر المالكي رحمه الله تعالى، المتوفى٥٤٦٣، المكتبة التجارية، مكة المكرمة.

٧٥ـ تنوير الأبصار وجامع البحار(على هامش رد المحتار) للفقيه شمس الدين محمد بن عبدالله بن أحمد الخطيب العمري التمرتاشي الغزي الحنفي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٥١٠٠٤، مكتبة رشيدلية، كوئته.

٧٦ـ تهذيب الأسماء واللغات، للإمام العلامة الحافظ الفقيه أبي زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٦٧٦، دار الكتب العلمية، بيروت.

٧٧ـ تهذيب التهذيب، للحافظ أبي الفضل شهاب الدين أحمد بن علي بن حجرالعسقلاني الشافعي رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٨٥٢، دارصادر، بيروت، تصوير دائرة المعارف النظامية حيدر آباد الدكن، الهند، الطبعة الأولى: ٥١٣٢٥.

٧٨ـ تهذيب الكمال في أسماء الرجال، للحافظ المتقن جمال الدين أبي الحجاج يوسف بن الزكي عبدالرحمن بن يوسف المزي رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٧٤٢، تحقيق: الدكتور بشار عواد معروف، مؤسسة الرسالة، بيروت، ٥١٤١٣/ ١٩٩٢م.

٢ـ تهذيب سنن أبي داود وإيضاح مشكلاته (المطبوع ضمن معالم السنن ومختصرالمنذري)، للإمام أبي عبدالله محمد بن أبي بكر المعروف بابن القيم رحمه الله تعالى، المتوفى٥٧٥١، مطبعة أنصار السنة المحمدية، ٥١٣٦٧/ ١٩٤٨م.

٧٩ـ الثقات، للإمام الحافظ أبي حاتم محمدبن حبان أحمد التميمي البستي رحمه الله تعالى، المتوفى٥٣٥٤، ٥١٣٩٣/ ١٩٧٣م، مطبعة مجلس دائرة المعارف العثمانية، حيدرآباد الدكن، الهند.

٨٠ـ جامع الأحاديث، للإمام جلال الدين عبدالرحمن بن أبي بكر السيوطي، المتوفى ٥٩١١ رحمه الله تعالى، جمع وترتيب: عباس أحمد صقر، وأحمد عبدالجواد، دار الفكر بيروت.

٨١ـ جامع البيان عن تأويل آي القرآن المعروف بتفسيرالطبري، للإمام المفسرأبي جعفرمحمد بن جريرالطبري رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٣١٠/ مركزالبحوث والدراسات العربية والإسلامية بدارهجر، القاهرة، ٥١٤٢٢/ ٢٠٠١م.

٨٢ـ جامع التحصيل في أحكام المراسيل، للحافظ صلاح الدين بن أبي سعيد خليل بن كيكلدي العلائي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٦١هـ، تحقيق: حمدي عبد المجيد السفلي، الطبعة الثانية ١٤٠٧هـ/ ١٩٨٦م، عالم الكتب/ مكتبة النهضة العربية.

٨٣ـ جامع الترمذي، الجامع المختصرمن السنن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم ومعرفة الصحيح والمعلول وماعليه العمل، للإمام الحافظ أبي عيسى محمد بن عيسى بن سورة بن موسى الترمذي رحمه الله تعالى، المتوفي٢٧٩هـ، دار السلام للنشر والتوزيع، الطبعة الثالثة: محرم ١٤٢١هـ/ أبريل ٢٠٠٠م.

- جامع الترمذي، طبعة: ايج ايم سعيد كمبني كراتشي.
- جامع الترمذي، طبعة: دار إحياء التراث العربي، بيروت، تحقيق: الشيخ أحمد محمد شاكر والشيخ محمد فؤاد عبدالباقي وإبراهيم عطوة عوض.

٨٤ـ الجامع الصحيح (للإمام أبي عبدالله محمد بن إسماعيل البخاري) من رواية أبي ذر الهروي عن مشايخه الثلاثة الكشميهني والمستملي والسرخسي،تحقيق: عبد القادر شية الحمد، الطبعة الأولى ١٤٢٩هـ/ ٢٠٠٨م.

- الجامع الصحيح للبخاري، طبعة الدكتورمصطفى ديب البغا، دار ابن كثير، دمشق.

٨٥ الجامع في الجرح والتعديل، جمع وترتيب: السيد أبوالمعاطي النوري وأصحابه، الطبعة الأولى ١٤١٢هـ/ ١٩٩٢م، عالم الكتب.

٨٦ـ الجامع لأحكام القرآن، المعروف بتفسير الطبري، للأمام العلامة أبي عبدالله محمدبن أحمد الأنصاري القرطبي رحمه الله تعالى، المتوفى٦٧١هـ، دار الفكر بيروت.

٨٧ـ الجامع الأخلاق الراوي وآداب السامع، للأمام الحافظ أبي بكرأحمد بن علي بن ثابت المعروف بالخطيب البغدادي رحمه الله تعالى، المتوفى ٤٦٣هـ، الطبعة الأولى ١٤١٧هـ/ ١٩٩٦م، دار الكتب العلمية ببيروت.

٨٨ـ الجرح والتعديل، للإمام الحافظ شيخ الإسلام أبي محمد عبدالرحمن بن أبي حاتم محمد بن إدريس بن المنذرالتميمي الحنظلي الرازي رحمه الله تعالى، المتوفى: ٣٢٧هـ، تحقيق: مصطفى عبدالقادرعطا، دار الكتب العلمية، بيروت الطبعة الأولى: ١٤٢٢هـ/ ٢٠٠١م.

٨٩ـ الجوهرالنقي في الرد على السنن الكبرى للبيهقي، (بذيل السنن الكبرى) للعلامة علاء الدين علي بن عثمان المارديني الشهيرباين التركماني رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٤٥ه، مطبعة مجلس دائرة المعارف النظامية حيدر آباد، الدكن، ط: ١٣٤٤ه.
٩٠ـ حاشية ابن عابدين (رد المحتارحاشية الدر المختار) للفقيه العلامة خاتمة المحققين محمد أمين بن عمر، الشهير بابن عابدين رحمه الله تعالى، المتوفى ١٢٥٢ه، تحقيق: الدكتورحسام الدين بن محمد صالح فرفور، دار الثقافة والتراث، دمشق سورية، الطبعة الأولى: ١٤٢١ه/٢٠٠٠م.
٩١ـ حاشية الدسوقي على الشرح الكبير، للعالم العلامة شمس الدين محمد عرفة الدسوقي، رحمه الله تعالي، المتوفى ١٢٣٠ه، دار الفكربيروت.
٩٢ـ حاشية السندي على صحيح البخاري، للإمام أبي الحسن نور الدين محمد بن عبدالهادي السندي رحمه الله تعالى، المتوفي١١٣٨ه، (المطبوع على حاشية صحيح البخاري) قديمی كتب خانه، كراچی.
٩٣ـ حاشية الطحطاوي على الدر المختار، للعلامة الفقيه أحدبن محمد بن أسماعيل الطحطاوي الحنفي، رحمه الله تعالى، المتوفى١٢٣١ه، الطبعة الثالثة، ١٢٨٢ه، المطبعة العامرة ببولاق مصر.
● حلبي كبير(انظر: غنية المتملي).
٩٤ـ خلاصة الخزرجي (خلاصة تذهيب تهذيب الكمال)، للعلامة صفي الدين الخزرجى رحمه الله تعالى، المتوفى بعدسنة ٩٢٣ه، مكتب المطبوعات الإسلامية بحلب، الطبعة الثانية: ١٣٩١ه/١٩٧١م.
٩٥ـ الدر المختارشرح تنوير الأبصار وجامع البحار، للإمام العلامة الفقيه علاء الدين محمد بن علي بن محمد الحصكفي الحنفي رحمه الله تعالى، المتوفى ١٠٨٨ه، (المطبوع مع رد المحتار) تحقيق: الدكتور حسام الدين بن محمد صالح فرفور، دار الثقافة والتراث، دمشق سورية، الطبعة الأولى: ١٤٢١ه/٢٠٠٠م.
٩٦ـ الدر المنثورفي التفسيربالمأثور، للإمام عبدالرحمن بن أبي بكرجلال الدين السيوطي رحمه الله تعالى، المتوفي ٩١١ه، مؤسسة الرسالة.
٩٧ـ دلائل النبوة ومعرفة أحوال صاحب الشريعة، لأبي بكر أحمد بن الحسين البيهقي رحمه الله تعالى، المتوفى٤٥٨ه، تحقيق: الدكتور عبدالمعطي قلعجي، دار الكتب العلمية، بيروت.

٩٨ــ ذكر من تكلم فيه وهو موثق، للإمام شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي، رحمه الله تعالى، المتوفى٧٤٨ه، تحقيق محمد شكورالميادينى، الطبعة الأولى ١٤٠٦ه/ ١٩٨٦م، مكتبة المنار، الزرقاء الأردن.

٩٩ــ رجال صحيح مسلم، للإمام أحمد بن علي بن منجويه الأصبهاني، رحمه الله تعالى، المتوفى ٤٢٨ه، تحقيق: عبدالله الليثي. دار المعرفة بيروت.

- رد المحتار على الدرالمختار.(انظر حاشية ابن عابدين)
- رد المختار، طبعة: مكتبة رشيدية، كوئته، الطبعة الأولى: ١٤١٢ه.

١٠٠ــ رسالة شرح تراجم أبواب صحيح البخاري (المطبوع مع صحيح البخاري) للأمام المحدث العارف الرباني الشيخ أحمد بن عبدالرحيم المعروف بالشاه ولي الله رحمه الله تعالى، المتوفى ١١٧٦ه، قديمي كتب خانه، كراچى.

١٠١ــ الرواة الثقات المتكلم فيهم بما لايوجب ردهم، للإمام الحافظ أبي عبدالله شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٤٨ه، تحقيق: محمد إبراهيم الموصلي، الطبعة الأولى ١٤١٢ه/ ١٩٩٢م، دار البشائر الإسلامية بيروت.

١٠٢ــ روح المعاني في تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثاني، للإمام العلامة أبي الفضل شهاب الدين السيد محمود الآلوسي البغدادي رحمه الله تعالى، المتوفى ١٢٧٠ه، ضبطه وصححه علي عبدالباري عطية، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٢٦ه/ ٢٠٠٥م.

١٠٣ــ زادالمعاد في هدي خيرالعباد، للإمام العلامة المحدث شمس الدين أبي عبد الله محمد بن أبي بكرالدمشقي، المعروف بابن القيم رحمه الله تعالى، المتوفي٧٥١ه مؤسسة الرسالة.

١٠٤ــ سبل السلام شرح بلوغ المرام من جمع أدلة الأحكام، للسيد الإمام محمدبن إسماعيل الكحلاني ثم الصنعاني المعروف بالأمير، المتوفى١١٨٢ه، مكتبة إحياء التراث العربي بيروت لبنان، الطبعة الخامسة: ١٣٩١ه/ ١٩٧٩م.

١٠٥ــ سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد، وذكرفضائله وأعلام نبوته وأفعاله وأحواله في المبدإ والمعاد، المعروف بالسية الشامية، للعلامة محمدبن يوسف الصالحي الشامي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٩٤٢ه، تحقيق: عادل أحمد عبدالموجود وعلي محمد معوض، الطبعة الأولى ١٤١٤ه/ ١٩٩٣م، دار الكتب العلمية بيروت.

١٠٦ــ السعاية في كشف مافي شرح الوقاية، للعلامة الفقيه المحدث محمد عبدالحى الكنوي رحمه الله تعالى، المتوفى ١٣٠٤ھ، سهيل اكيدمي لاهور، الطبعة الأولى: ١٣٩٦ھ/ ١٩٧٦م.

١٠٧ــ سنن ابن ماجه، للإمام الحافظ أبي عبدالله محمد بن يزيد بن ماجه الربعي القزويني رحمه الله تعالى، المتوفى٢٧٣ھ، المطبوع ضمن موسوعة الكتب الستة، دار السلام للنشر والتوزيع، الطبعة الثالثة: محرم ١٤٢١ھ/ أبريل ٢٠٠٠م.

١٠٨ــ سنن أبي داود، للإمام الحافظ أبي داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق الأزدي السجستاني رحمه الله تعالى، المتوفى٢٧٥ھ، المطبوع ضمن موسوعة الكتب الستة، دار السلام للنشر والتوزيع، الطبعة الثالثة: محرم ١٤٢١ھ/أبريل ٢٠٠٠م.

١٠٩ــ سنن الدار قطني، للإمام المحدث الحافظ الكبيرعلي بن عمر الدارقطني رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٨٥ھ دار نشر الكتب الإسلامية لاهور.

١١٠ــ سنن الدارمي (مسند الدارمي) للإمام الحافظ عبدالله بن عبدالرحمن الدارمي السمرقندي رحمه الله تعالى، المتوفى٢٥٥ھ، تحقيق: فؤاد أحد زمرلي وخالد النسبع العلمي، قديمي كتب خانه، كراچى.

- السنن الصغرى(المجتبى) بتحقيق الشيخ عبدالفتاح أبوغدة، رحمه الله تعالى، الطبعة الثانية ١٤٠٦ھ/١٩٨٦م، مكتب المطبوعات الإسلامية بحلب.

١١ــ السنن الصغرى (المجتبى) للإمام أبي عبدالرحمن أحمد بن شعيب النسائي رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٠٣ھ، المطبوع ضمن موسوعة الكتب الستة، دار السلام.

- السنن الكبرى للإمام أبي بكربن أحمدبن الحسين بن علي البيهقي، بتحقيق: محمد عبدالقادر عطا، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٢٣ھ/ ٢٠٠٣م.

١١٢ــ السنن االكبرى، للإمام أبي بكربن أحمد بن الحسين بن علي البيهقي، مطبعة مجلس دائرة المعارف النظامية، حيدر آباد، الدكن، الطبعة الأولى،١٣٤٤ھ.

١١٣ــ السنن الكبرى، للإمام أبي عبدالرحمن أحمد بن شعيب النسائي رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٠٣ھ، إدارة التأليفات الأشرفية، ملتان.

١١٤ــ سؤالات ابن الجنيد (أبي إسحاق إبراهيم بن عبدالله الختلي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٦٠ھ تقريبا) لأبي زكريا يحيى بن معين رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٣٣ھ، تحقيق: الدكتور أحمد محمد نورسيف، الطبعة الأولى ١٤٠٨ھ/ ١٩٨٨م، مكتبة الدار بالمدينة المنورة.

١١٥ــ سؤالات أبي عبيد الآجري، (أبوعبيد محمد بن علي بن عثمان الآجري البصري، أحدعلماء القرن الثالث وأوائل القرن الرابع) للإمام أبي داود سليمان بن الأشعث السجستاني رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٧٥ﻫ، تحقيق: محمدعلي قاسم العمري، ١٣٩٩م، الجامعة الإسلامية بالمدينة المنورة.

١١٦ــ سؤالات البرذعي (الإمام الحافظ أبي عثمان سعيدبن عمروالأزدي البرذعي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٩٢ﻫ) لأبي زرعة الرازي (وهوكتاب الضعفاء والكذابين والمتروكين) للإمام الحافظ أبي زرعة عبيدالله بن عبدالكريم الرازي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٦٤ﻫ، تحقيق: أبي عمرمحمد بن علي الأزهري، الطبعة الأولى ١٤٣٠ﻫ/٢٠٠٩م، الفاروق الحديثة.

١١٧ــ سيرأعلام النبلاء للإمام شمس الدين أبي عبدالله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايمازالذهبي رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٤٨ﻫ إشراف وتحقيق: الشيخ شعيب الأرنؤوط، مؤسسة الرسالة، بيروت، الطبعة الرابعة: ١٤٠٦ﻫ/١٩٨٦م.

١١٨ــ شرح ابن بطال على صحيح البخاري، للإمام أبي الحسن علي بن خلف بن عبدالملك المعروف بابن بطال البكري القرطبي رحمه الله تعالى، المتوفى ٤٤٩ﻫ، الطبعة الثانية ١٤٢٣ﻫ/٢٠٠٣م، مكتبة الرشد، الرياض.

- شرح الأبي على صحيح مسلم (انظر: إكمال إكمال المعلم)

١١٩ــ شرح الزرقاني على المواهب اللدنية، للإمام العلامة محمد بن عبدالباقي بن يوسف الزرقاني المالكي رحمه الله تعالى، المتوفى ١١٢٢ﻫ، الطبعة الأولى ١٤١٧ﻫ/ ١٩٩٦م، دار الكتب العلمية بيروت.

- شرح السنوسي على صحيح مسلم (انظر: مكمل إكمال الإكمال)

١٢٠ــ الشرح الكبير(لشمس الدين أبي الفرج عبدالرحمن بن محمد بن أحمد بن قدامة المقدسي رحمه الله تعالى، المتوفى٦٨٢ﻫ) مع المقنع (لموفق الدين أبي محمد عبدالله بن احمد بن محمد بن قدامة المقدسي رحمه الله تعالى، المتوفى ٦٢٠ﻫ) والإنصاب في معرفة الراجح من الخلاف (لعلاء الدين علي بن سليمان بن أحمد المرداوي رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٨٥ﻫ) تحقيق: عبدالله عبدالمحسن التركي، والدكتورعبد الفتاح محمد الحلو، الطبعة الأولى ١٤١٤ﻫ/ ١٩٩٣م، هجرى للطباعة والنشر.

١٢١ــ شرح الكرماني على صحيح البخاري، المسمى بالكواكب الدراري، للإمام العلامة المحدث شمس الدين محمد بن يوسف بن علي الكرماني رحمه الله تعالى، المتوفى٧٨٦ھ، إحياء التراث العربي، بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٠١ھ/١٩٨١م.

١٢٢ــ الشرح الكبير على مختصر خليل، للعلامة الفقيه أبي البركات أحمد بن محمد بن أحمد العدوي الشهير بالدردير المالكي، رحمه الله تعالى، المتوفى١٢٠١ھ، الطبعة الثانية ١٤٢٤ھ/٢٠٠٣م، دار الكتب العلمية، بيروت.

● شرح النووي على صحيح الإمام مسلم، المسمى بالمنهاج، طبعة قديمى كتب خانه، كراچى، بذيل صحيح مسلم.

١٢٣ــ شرح النووي على صحيح الإمام مسلم، المسمى بالمنهاج، للإمام العلامة الفقيه الحافظ أبي زكريا محيي الدين يحي بن شرف النووي رحمه الله تعالى، المتوفى ٦٧٦ھ، الطبعة الأولى ١٣٤٧ھ/ ١٩٢٩م، المطبعة المصرية بالأزهر.

١٢٤ــ شرح الوقاية (المطبوع مع السعاية) لصدرالشريعة عبدالله بن مسعود بن تاج الشريعة رحمه الله تعالى المتوفى ٧٤٧ھ، سهيل اكيدمي لاهور.

١٢٥ــ شرح سنن أبي داود، للإمام بدر الدين أبي محمد محمودبن أحمدبن موسى العيني، المتوفى: ٨٥٥ھ، تحقيق:أبوالمنذر خالدبن إبراهيم المصري، الطبعة الأولى: ١٤٢٠ھ /١٩٩٩م. مكتبة الرشد، الرياض

١٢٦ــ شرح عقود رسم المفتي لفقيه الديار الشامية العلامة محمد أمين بن عمرعابدين الدمشقي، رحمه الله تعالى، المتوفى ١٢٥٢ھ، تعليق: المفتي مظفرحسين والشيخ أبو لبابة. الطبعة الرابعة ١٤٣٤ھ/ ٢٠١٣م مكتبة السعيد ناظم آباد كراتشي.

١٢٧ــ شرح علل الترمذي للإمام الحافظ زين الدين أبي الفرج عبد الرحمن بن أحمد البغدادي الشهير بابن رجب الحنبلي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٩٥ھ، تحقيق: الأستادالدكتور نور الدين عتر، الطبعة السادسة ١٤٣٣ھ/٢٠١٢م، دار السلام القاهرة.

١٢٨ــ شرح مشكل الآثار، للإمام المحدث الفقيه أبي جعفر أحمد بن محمد بن سلامة الطحاوي رحمه الله تعالى، المتوفى سنة ٢٣١ھ، تحقيق: الشيخ شعيب الأرنؤوط، الطبعة الأولى ١٤١٥ھ/ ١٩٩٤م، مؤسسة الرسالة، بيروت.

• شرح معاني الاثار، للإمام المحدث الفقيه أبي جعفر أحمدبن محمد بن سلامة الطحاوي رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٢١ه، طبعة: المكتبة الحقانية، ملتان.

١٢٩ــ شرح معاني الآثار، للإمام المحدث الفقيه أبي جعفر أحمد بن محمد بن سلامة الطحاوي رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٢١ه، تحقيق: محمد زهري النجار، عالم الكتاب، بيروت، الطبعة الأولى: ١٤١٤ه/ ١٩٩٤م.

١٣٠ــ الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية، للإمام أبي نصرإسماعيل بن حماد الجوهري الفارابي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٩٣ه، تحقيق: أحمد عبدالغفور عطار، الطبعة الرابعة ١٤٠٧ه/١٩٨٧م، دار العلم للملايين،بيروت.

• صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان (انظر: الإحسان)

١٣١ــ صحيح ابن خزيمة، للإمام أبي بكر محمدبن إسحاق بن خزيمة السلمي النيسابوري، رحمه الله تعالى، المتوفى ٣١١ه تحقيق: الدكتورمحمد مصطفى الأعظمي، المكتب الإسلامي، ١٤٠٠ه/ ١٩٨٠م.

١٣٢ــ صحيح الإمام مسلم(المسند الصحيح المختصر من السنن بنقل العدل عن العدل عن رسوالله صلى الله عليه وسلم) للإمام الحافظ أبي الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري النيسابوري رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٦١ه، (المطبوع ضمن موسوعة الكتب الستة) دار السلام للنشروالتوزيع، الطبعة الثالثة: محرم ١٤٢١ه/ أبريل ٢٠٠٠م.

١٣٣ــ صحيح البخاري(الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه) للإمام أبي عبدالله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الجعفي البخاري رحمه الله تعالى، المتوفى٢٥٦ه، بحاشية العلامة المحدث الشيخ أحمد علي السهارنفوري رحمه الله تعالى، المتوفى، قديمي كتب خانه كراتشي.

• صحيح البخاري، طبعة: دار السلام ضمن موسوعة الكتب الستة، الطلعة الثالثة: محرم ١٤٢١ه/ أبريل ٢٠٠٠م.

• صحيح البخاري، طبعة: شركة دار الأرقم بن دار الأرقم بيروت، بعناية: محمد نزار تميم وهيثم نزارتميم.

١٣٤ــ الضعفاء الكبير، للحافظ أبي جعفر محمد بن عمروبن موسى بن حمادالعقيلي المكي، رحمه الله تعالى، المتوفى٣٢٢ه، تحقيق: الدكتورعبد المعطي أمين قلعجي، دار الكتب العلمية بيروت.

١٣٥ــ الضعفاء والمتروكون، للإمام أبي عبدالرحمن أحمد بن علي بن شعيب النسائي رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٠٣هـ، تحقيق: محمود إبراهيم زايد، الطبعة الأولى ١٤٠٦هـ/ ١٩٨٦م، دار المعرفة.

● طبقات ابن سعيد (انظر: الطبقات الكبرى).

١٣٦ــ طبقات الشافعية الكبرى للامة تاج الدين أبي نصرعبدالوهاب بن الإمام تقي الدين السبكي رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٧١هـ، دار المعرفة بيروت.

١٣٧ــ الطبقات الكبرى، للإمام أبي عبدالله محمد بن سعد رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٣٠هـ، دار صادر بيروت.

١٣٨ــ طرح التريب في شرح التقريب للشيخ زين الدين أبي الفضل عبدالرحيم بن الحسين العراقي رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٠٦هـ، تحقيق: حمدي الدمرداش محمد، الناشر: مكتبة نزار مصطفى الباز، مكة المكرمة، الرياض، الأولى: ١٤٢٤هـ/ ٢٠٠٣م.

١٣٩ــ عارضة الأحوذي بشرح صحيح الترمذي، المعروف بشرح ابن العربي على صحيح الترمذي، للإمام أبي بكر محمد بن عبدالله المعروف بابن العربي المالكي رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٤٣، المطبعة المصرية بالأزهر.

١٤٠ــ علل الترمذي الكبير، للإمام أبي عيسى محمد بن عيسى بن سورة الترمذي رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٧٩هـ، ترتيب أبي طالب القاضي، تحقيق: السيد صبحي السامرائي، والسيد أبوالمعاطي النوري، ومحمود خليل الصعيدي، عالم الكتب/ مكتبة النهضة العربية ١٤٠٩هـ/١٩٨٩م الطبعة الأولى.

١٤١ــ علل الحديث لابن أبي حاتم، للحافظ أبي محمد عبدالرحمن بن أبي حاتم محمد بن إدريس الحنظلي الرازي رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٢٧هـ، الطبعة الأولى ١٤٢٧هـ/ ٢٠٠٦م، مكتبة الملك فهد.

١٤٢ــ العلل الصغير، للإمام أبي عيسى محمد بن عيسى بن الترمذي رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٧٩هـ(آخرجامع الترمذي، نسخة أحمد شاكر وصاحبيه) دار إحياء التراث العربي.

١٤٣ــ العلل الواردة في الأحاديث النبوية، للإمام الحافظ أبي الحسن علي بن عمر بن أحمد بن مهدي الدارقطني رحمه الله تعالى، المتوفى، ٣٨٥هـ، تحقيق: الدكتور محفوظ الرحمن زين الله السلفي، الطبعة الأولى ١٤٠٥هـ/ ١٩٨٥م، دار طيبة الرياض.

١٤٤ــ العلل ومعرفة الرجال(رواية عبدالله بن الإمام أحمد) للإمام أحمد بن محمدبن حنبل الشيباني، رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٤١هـ، تحقيق الدكتور وصي الله بن محمد عباس، الطبعة الثانية ١٤٢٢هـ/٢٠٠١م، دار الخاني الرياض.

١٤٥ــ علوم الحديث، للإمام الحافظ تقي الدين أبي عمروعثمان بن عبدالرحمن المعروف بابن الصلاح رحمه الله تعالى، المتوفى ٦٤٣هـ، تحقيق: نور الدين عتر، دار الفكر، تصوير١٤٠٦هـ/ ١٩٨٦م.

١٤٦ــ عمدة القاري شرح صحيح البخاري، للإمام العلامة الفقية المحدث بدرالدين أبومحمد محمود بن أحمد العيني رحمه الله، المتوفى ٨٥٥هـ، إدارة الطباعة المنيرية.

١٤٧ــ عون المعبود شرح سنن أبي داود، للعلامة المحدث شمس الحق بن أميرعلي البكري العظيم آبادي، رحمه الله تعالى، المتوفى ١٣٢٩هـ، الطبعة الأولى ١٤١٠هـ/ ١٩٩٠م، دار الكتب العلمية بيروت.

١٤٨ــ غريب الحديث للإمام أبي عبيد القاسم بن سلام الهروي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٢٤هـ، تحقيق: الدكتور حسين محمد محمد شرف، الهيئة العامة لشئون المطابع الأميرية، القاهرة،١٤٠٤هـ/ ١٩٨٤م.

١٤٩ــ غنية المتملي في شرح منية المصلي المعروف بالكبيري، وبحلبي كبير،للشيخ إبراهيم بن محمد الحلبي الحنفي، المتوفى ٩٥٦هـ، الطبعة الأولى: ١٣٩٩هـ/ ١٩٧٩م، سهيل الكيدمي لاهور باكستان،

١٥٠ــ الفتاوى التاتار خانية، للشيخ الدمام فريد الدين عالم بن العلاء الإندربتي الدهلوي الهندي، رحمه الله تعالى، المتوفى٧٨٦هـ، تحقيق شبيرأحمد القاسمي، الطبعة الأولى ١٤١٣هـ/ ٢٠١٠م، مكتبة زكريا بديوبندالهند.

١٥١ــ الفتاوى الكبرى، للإمام شيخ الإسلام تقي الدين ابن تيمية رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٢٨هـ، تحقيق: محمد عبدالقادر عطا ومصطفى عبدالقادر عطا، الطبعة الأولى ١٤٠٨هـ/ ١٩٨٧م، دار الكتب العلمية بيروت.

١٥٢ــ فتح الباري شرح صحيح البخاري للإمام الحافظ زين الدين أبي الفرج عبد الرحمن بن أحمد البغدادي الشهير بابن رجب الحنبلي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٩٥هـ، تحقيق: محمود بن شعبان وأصحابه، الطبعة الأولى ١٤١٧هـ/ ١٩٩٦م، مكتبة الغرباء الأثرية.

١٥٣ـ فتح الباري شرح صحيح البخاري، للإمام الحافظ أحمد بن علي بن حجر العسقلاني رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٥٢ھ، دار الفكر بيروت.
١٥٤ـ فتح القديرعلى الهداية، للشيخ الإمام كمال الدين محمد بن عبدالواحد، المعروف بابن الهمام الحنفي رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٦١ھ، المكتبة الرشيدية، كوئته.
١٥٥ـ فتح المغيث شرح ألفية الحديث، للإمام الحافظ شمس الدين محمد بن عبد الرحمن السخاوي، المتوفى ٩٠٢ھ، تحقيق: الشيخ علي حسين علي، الطبعة الثانية ١٤١٢ھ/ ١٩٩٢م، دار الإمام الطبري.
١٥٦ـ فتح الملهم شرح صحيح مسلم، للعلامة المحدث مولانا شبيرأحمد العثماني رحمه الله تعالى، المتوفى ١٣٦٩ھ، الطبعة الأولى: ١٤٢٧ھ/ ٢٠٠٦م، دار القلم، دمشق.
١٥٧ـ الفصول في الأصول للإمام أحمد علي الرازي الجصاص، رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٧٠ھ، تحقيق: الدكتور عجيل جاسم النشمي، وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية دولة الكويت، ١٤١٤ھ/ ١٩٩٤م.
١٥٨ـ فضل الباري شرح أردو صحيح البخاري، لشيخ الإسلام العلامة شبيرأحمد العثماني رحمه الله، المتوفى ١٣٦٩ھ، ترتيب ومراجعة: قاضى عبدالرحمن، إدارة العلوم الشرعية، كراتشي،ط: ١٣٩٥ھ/ ١٩٧٥م.
١٥٩ـ فواتح الرحموت بشرح مسلم الثبوت، للعلامة عبدالعلي بن نظام الدين بن قطب الدين بن عبدالحليم السهالوي الأنصاري اللكنوي رحمه الله تعالى، المتوفى ١٢٢٥ھ، الطبعة الأولى ١٤٢٣ھ/ ٢٠٠٢م.
١٦٠ـ الفيض السمائي على سنن النسائي، للإمام الفقيه المحدث الشيخ رشيد أحمد الكنكوهي رحمه الله تعالى، المتوفى ١٣٢٣ھ، تحقيق وتحشية: الشيخ محمد عاقل، مكتبة الشيخ كراتشي.
١٦١ـ فيض القدير شرح الجامع الصغير، للعلامة محمد عبدالرءوف بن تاج العارفين بن الحدادي المنادي رحمه الله تعالى، المتوفى ١٠٣١ھ، دار المعرفة بيروت.
١٦٢ـ القاموس المحيط للإمام اللغوي مجد الدين محمد بن يعقوب الفيروز آبادي رحمه الله تعالى، المتوفى ٨١٧ھ، مؤسسة الرسالة، الطبعة الثانية، ١٤٠٧ھ/ ١٩٨٧م.

١٦٣ـ الكامل في ضعفاء الرجال للإمام أبي أحمد عبدالله بن عدي الجرجاني، رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٦٥ھ، تحقيق: الدكتور سهيل زكار ويحيى مختار غزاوي، دار الفكر، بيروت، الطبعة الثالثة: ١٤٠٩ھ/١٩٨٨م.

- كبيري (انظر: غنية المتملي)

١٦٤ـ كتاب المختلطين للشيخ صلاح الدين أبي سعيد خليل بن الأميرسيف الدين بن كيكلدي بن عبدالله العلائي الدمشقي الشافعي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٦١ھ، تحقيق رفعت فوزي عبد المطلب وعلي عبدالباسط، مكتبة الخانجي بالقاهرة.

١٦٥ـ كشف الأستار عن زوائد الزارللإمام نورالدين علي بن أبي بكر الهيثمي رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٠٧ھ، الطبعة الأولى ١٤٠٥ھ، مؤسسة الرسالة.

١٦٦ـ كشف الباري عما في صحيح البخاري، لشيخ الحديث مولانا سليم الله خان حفظه الله تعالى، المكتبة الفاروقية، كراتشي،ط: ١٤٢٩ھ/٢٠٠٨م.

١٦٧ـ كترالدقائق للعلامة الفقيه حافظ الدين عبدالله بن أحمد بن محمود النسفي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٧١٠ھ، (المطبوع مع البحر الرائق شرح كتر الدقائق) مكتبة رشيدية كوئته.

١٦٨ـ كترالعمال في سنن الأقوال والأفعال، للعلامة علاء الدين علي المتقي بن حسام الدين الهندي، المتوفى: ٩٧٥ھ، تحقيق: محمود عمر الدمياطي، دار الكتب العلمية، بيروت، الطبعة الثانية: ١٤٢٤ھ/٢٠٠٤م.

١٦٩ـ الكترالمتواري في معادن لامع الدراري وصحيح البخاري، للشيخ العلامة المحدث محمد زكريا بن محمد يحيى الكاندهلوي رحمه الله تعالى، المتوفى سنة ١٤٠٢ھ، جمع وترتيب: لجنة من تلاميذ الإمام الكاندهلوي، مؤسسة الخليل الإسلامي، فيصل آباد،ط: ١٤٢٠ھ.

١٧٠ـ الكنى والأسماء، للإمام الحافظ أبي بشر محمد بن أحمد بن حمادالدولابي رحمه الله تعالى، المتوفى سنة ٣١٠ھ، المكتبة الأثرية، تصوير حيدرآباد الدكن.

١٧١ـ الكاشف في معرفة من له رواية في الكتب الستة، للإمام شمس الدين أبي عبدالله محمد بن أحمد الذهبي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٤٨ھ، تحقيق: محمد عوامة وأحمد محمد نمرالخطيب، الطبعة الأولى ١٤١٣ھ/١٩٩٢م، دار القبلة للثقافة الإسلامية/ مؤسسة علوم القرآن.

- كتاب الثقات (انظر: الثقات لابن حبان)
- كتاب الجرح والتعديل (انظر: الجرح والتعديل)

١٧٢ــ كتاب المجروحين من المحدثين والضعفاء والمتروكين، للإمام الحافظ أبي حاتم محمد بن حبان بن أحمد التميمي البستي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٥٤ھ تحقيق محمود إبراهيم زايد، الطبعة الأولى ١٣٩٦ھ، دار الوعي حلب.
١٧٣ــ الكاشف عن حقائق غوامض التتريل، لأبي القاسم جار الله محمود بن عمر الزمخشري، المتوفى ٥٣٨ھ، الطبعة الثالثة ١٤٠٧ھ، دار الكتاب العربي بيروت.
١٧٤ــ كشف الأسرار على أصول البزدوي، للعلامة عبدالعزيز بن أحمد بن محمد البخاري، رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٣٠ھ، الصدف ببلشرز كراتشي.
١٧٥ــ الكواكب النيّرات في معرفة من اختلط من الرواة الثقات، لأبي البركات محمد بن أحمد المعروف بابن الكيال رحمه الله تعالى المتوفى ٩٣٩ھ، تحقيق ودراسة: الدكتور عبدالقيوم بن عبدرب النبي، الطبعة الثانية ١٤٢٠ھ/ ١٩٩٩م. المكتبة الإمدادية، مكة المكرمة.
١٧٦ــ لامع الدراري على جامع البخاري، للإمام الفقيه المحدث الشيخ رشيدأحمد الكنكوهي رحمه الله، المتوفى سنة:١٣٢٣،ضبط: الإمام المحدث محمد يحيى الكاندهلوي المتوفى: ١٣٣٤ھ، المكتبة الإمدادية، مكة المكرمة،ط: ١٣٩٦ھ/ ١٩٧٦م.
١٧٧ــ اللباب في تهذيب الأنساب، للإمام عزالدين أبي الحسن علي بن محمد بن محمد الشيباني الجزري، رحمه الله تعالى، دار صادربيروت ١٤٠٠ھ/ ١٩٨٠م.
١٧٨ــ لسان العرب، للإمام العلامة اللغوي أبي الفضل جمال الدين محمد بن مكرم بن منظور الإفريقي المصري، المتوفى ٧١١ھ، نشرأدب الحوزة، قم، إيران ١٤٠٥.
١٧٩ــ لسان الميزان، للإمام الحافظ أحمد بن علي بن حجرالعسقلاني رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٥٢ھ، تحقيق: الشيخ عبدالفتاح أبوغدة، رحمه الله تعالى، دار البشائر الإسلامية، بيروت الطبعة الأولى: ١٤٢٣ھ/ ٢٠٠٢م
١٨٠ــ المبسوط، لشيخ الإسلام أبي بكر محمد بن أحمد بن أبي سهل السرخسي الحنفي رحمه الله تعالى، المتوفى ٤٨٣ھ، دارالمعرفة بيروت، ١٣٩٨ھ/ ١٩٧٨م.
١٨١ــ مجمع الزوائد ومنبع الفوائد لحافظ نورالدين علي بن أبي بكر الهيشمي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٠٧ھ، دار الفكر بيروت.

١٨٢ــ مجموع الفتاوى لشيخ الإسلام تقي الدين أبي العباس أحمد بن عبد الحليم بـن تيميـة الحراني رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٧٢٨، تحقيق: عبدالرحمن بن محمد بن قاسم، مجمع الملك فهـد بالمدينة المنورة.

١٨٣ــ المجموع شرح المهذب، للإمام العلامة الفقيه الحافظ أبي زكريا محيى الدين يحيى بـن شرف بن مري النووي الشافعي رحمه الله تعالى، المتوفى سنة ٥٦٧٦، شركة من علماء الأزهـر/ دار الفكربيروت.

١٨٤ــ المحلى، للإمام أبي محمد علي بن أحمد بن سعيد بن حزم، رحمه الله تعالى، المتوفى ٥٤٥٦، تحقيق: الشيخ المحقق أحمد محمد شاكررحمه الله تعالى، إدارة الطباعة المنيرية بمصر٥١٣٥٢.

١٨٥ــ مختار الصحاح، للإمام محمد بن أبي بكر بن عبدالقادر الرازي رحمه الله، المتـوفى بعـد سنة: ٥٦٦٦، دار المعارف مصر.

١٨٦ــ مختصر اختلاف العلماء (للإمام المحدث الفقيه أبي جعفرأحمد بـن محمـد بـن سـلامة الطحاوي رحمه الله، المتوفى ٥٣٢١) للإمام أبي بكر أحمد بن علي الجـصاص الـرازي المتـوفى ٥٣٧٠، تحقيق: الدكتور عبدالله نذير أحمد مزي، دار البشائر الإسلامية، بيروت، الطبعة الأولى: ٥١٤١٦/ ١٩٩٥م.

١٨٧ــ مختصرالكامل، للإمام تقي الدين أحمد بن علي المقريزي رحمه الله تعالى، المتـوفى ٥٨٤٥ تحقيق: أيمن بن عارف الدمشقي، مكتبة السنة بالقاهرة، الطبعة الأولى ٥١٤١٥/ ١٩٩٤م.

- مختصر سنن أبي داود للحافظ عبد العظيم بن عبدالقوي المنذري، رحمه الله تعـالى، المتـوفى ٥٦٥٦، المطبوع مع معالم السنن للخطابي، وتهذيب السنن لابن القيم، بمطبعة أنصار الـسنة المحمدية، ٥١٣٦٧.

١٨٨ــ مختصر سنن أبي داود للحافظ عبدالعظيم بن القوي المنذري، رحمه الله تعـالى، المتـوفى ٥٦٥٦، تحقيق وتعليق: محمد صبحي بن حسن حلاق، مكتبة المعارف الرياض.

١٨٩ــ المدونة الكبري، لإمام دار الهجرة مالك بن أنس الأصبحي رحمه الله تعـالى، المتـوفى ٥١٧٩، الطبعة الأولى ٥١٤١٥/ ١٩٩٤م، دار الكتب العلمية، بيروت.

١٩٠ــ المراسيل للإمام الحافظ المتقين أبي داود سليمان بن الأشـعث السجـستاني، رحمـه الله تعالى، المتوفى ٥٢٧٥، تحقيق: الشيخ شعيب الأرنووط، الطبعـة الأولـى ٥١٤٠٨/ ١٩٩٨م، مؤسسة الرسالة بيروت.

١٩١ـ مراقي الفلاح(مع حاشية للطحطاوي) للعلامة الفقيه حسن بن عمار الشرنبلالي المصري الحنفي، رحمه الله تعالى، المتوفى ١٠٦٩ه، نور محمد كارخانه تجارت آرام باغ، كراتشي.

١٩٢ـ مرقاة الصعود إلى سنن داود، للإمام جلال الدين عبدالرحمن بن أبي بكر السيوطي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٩١١ه، تحقيق: الدكتور محمد إسحاق محمد آل إبراهيم الطبعة الأولى ١٤٣٠ه/ ٢٠٠٩م، الرياض.

- مرقاة الصعود، بتحقيق محمد شايب شريف، الطبعة الأولى ١٤٣٣ه/ ٢٠١٢م، دار ابن حزم بيروت.

١٩٣ـ مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، للعلامة الفقيه المحدث الشيخ علي بن سلطان محمد القاري رحمه الله تعالى، المتوفى ١٠١٤ه، مكتبه إمداديه ملتان.

١٩٤ـ المستدرك على الصحيحين، (مع تلخيص المستدرك) للإمام الحافظ أبي عبدالله محمد بن عبدالله الحاكم النيسابوري رحمه الله تعالى، المتوفى ٤٠٥ه، دار الفكر بيروت.

- المستدرك للحاكم، بتحقيق: مصطفى عبدالقادرعطا، دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان، الطبعة الأولى: ١٤١١ه/ ١٩٩٠م.

١٩٥ـ المسلك المتقسط في المنسك المتوسط للعلامة علي بن سلطان محمد الهروي المعروف بالملا علي القارئ، رحمه الله تعالى، المتوفى١٠١٤ه، الطبعة الأولى ١٣٢٨ه، مطبعة الترقي الماجدية بمكة المحمية.

١٩٦ـ مسلم الثبوت بشرحه فواتح الرحموت للإمام القاضي محب الله بن عبد الشكور البهاري، رحمه الله تعالى، المتوفى ١١١٩ه، الطبعة الأولى ١٤٢٣ه/ ٢٠٠٢م، دار الكتب العلمية.

١٩٧ـ مسند أبي عوانة، للإمام الجليل أبي عوانة يعقوب بن إسحاق الإسفرائيني رحمه الله تعالى، المتوفى ٣١٦ه، تحقيق: أيمن بن عارف الدمشقي، الطبعة الدولى ١٤١٩ه/ ١٩٩٨م، دار المعرفة، بيروت، لبنان.

١٩٨ـ مسند أبي يعلى الموصلي، للإمام أبي يعلى أحمد بن علي بن المثنى الموصلي، رحمه الله تعالى، المتوفى:٣٠٧ه، تحقيق: حسين سليم أسد، الطبعة الأولى: ١٤٠٨ه/ ١٩٨٤م، دار المأمون للتراث، دمشق.

• مسند الإمام أحمد بن حنبل، للإمام أحمد بن محمد بن حنبل رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٤١ه، بتحقيق: الشيخ شعيب الأرنؤوط وجماعة، مؤسسة الرسالة، بيروت الطبعة الأولى: ١٤٢١ه/ ٢٠٠١م.

١٩٩ـ مسند الإمام أحمد بن حنبل، للإمام أحمد بن محمد بن حنبل رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٤١ه، المكتب الإسلامي/ دار صادر بيروت.

٢٠٠ـ مسند البزار(البحر الزخار) للإمام الحافظ أبي بكر أحمد بن عبدالخالق العتكي البزار، رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٩٢ه، تحقيق: محفوظ الرحمن زين الله وآخرين، الطبعة الأولى ١٤٠٩ه/ ١٩٨٨م، مؤسسة علوم القرآن/مكتبة العلوم والحكم بالمدينة المنورة.

٢٠١ـ مسند الحميدي، للإمام المحدث أبي بكر عبدالله بن الزبيرالقرشي المعروف بالحميدي رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٠٩ه، تحقيق: الشيخ المحدث حبيب الرحمن الأعظمي، دار الكتب العلمية/ مكتبة المتنبي، بيروت/ القاهرة.

٢٠٢ـ مسند الشاميين، للإمام أبي القاسم سليمان بن أحمد بن أيوب اللخمي الطبراني ٣٦٠ه، تحقيق: حمدي بن عبدالمجيد السلفي، الطبعةالأولى: ١٤٠٩ه/ ١٩٨٩م، مؤسسة الرسالة، بيروت.

٢٠٣ـ المسند المستخرج على صحيح الإمام مسلم، للإمام الحافظ أبي نعيم أحمدبن عبدالله بن أحمد بن إسحاق الأصبهاني، رحمه الله تعالى، المتوفى ٤٣٠ه، تحقيق محمد حسن إسماعيل الشافعي، الطبعة الأولى: ١٤١٧ه/ ١٩٩٦م، دار الكتب العلمية بيروت.

٢٠٤ـ مسند أبي داود الطيالسي، للإمام المحدث أبي داود سليمان بن داود بن الجارود رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٠٤ه، دار المعرفة بيروت.

٢٠٥ـ مشاهير علماء الأمصار، للإمام أبي حاتم محمد بن حبان أحمد التميمي البستي، رحمه الله تعلى، المتوفى ٣٥٤ه، تحقيق: المستشرق فلا يشمهر،ط: ١٩٥٩م، دار الكتب العلمية.

٢٠٦ـ المصباح المنيرفي غريب الشرح الكبير للرافعي، للعلامة أحمدبن محمد بن علي المقري الفيومي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٧٠ه، الطبعة الخامسة بالمطبعة الأميرية بالقاهرة.

٢٠٧ـ مصفّى شرح موطأ(مع المسوى) للإمام أحمد بن عبدالرحيم المعروف بالشاه ولي الله الدهلوي رحمه الله تعالى، المتوفى ١١٧٦ه، مطبع فاروقي دهلي، ١٢٩٣ه.

• المصنف لابن أبي شيبة، طبعة: شركة دار القبلة/ مؤسسة علوم القرآن.

٢٠٨ــ المصنف لابن أبي شيبة، للأمام أبي بكرعبدالله بن محمد بن أبي شيبة رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٣٥ه، تحقيق: الشيخ المحقق المحدث محمدعوامة، أدارة القرآن والعلوم الذسلامية كراتشي، الطبعة الأولى: ١٤٢٧ه/ ٢٠٠٦م.
٢٠٩ــ المصنف للأمام المحدث أبي بكرعبدالرزاق بن همام الصنعاني رحمه الله تعالى، المتوفى ٢١١ه، تحقيق: الشيخ المحدث حبيب الرحمن الأعظمي، المجلس العلمي، كراتشي، والهند، الطبعةالأولى: ١٣٩٠ه/ ١٩٧٠م.
٢١٠ــ المطالب العالية بزوائد المسانيد الثمانية، للحافظ أحمد بن علي المعروف بابن حجرالعسقلاني رحمه الله تعالى، المتوفى٨٥٢ه، تحقيق الشيخ المحدث المحقق حبيب الرحمن الأعظمي رحمه الله تعالى، دار البازمكة المكرمة.
٢١١ــ معارف السنن شرح سنن الترمذي، للإمام المحدث الشيخ السيد محمد يوسف بن السيدمحمد زكريا الحسيني البنوري رحمه الله تعالى، المتوفى ١٣٩٧، المكتبة البنورية كراچي.
٢١٢ــ معالم السنن شرح سنن الإمام أبي داود رحمه الله تعالى، للإمام أبي سليمان حمد بن محم الخطابي البستي رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٨٨ه، طبعه وصححه محمد راغب الطباخ في مطبعته العلمية بحلب.
- معالم السنن، المطبوع مع تهذيب السنن لابن القيم، ومختصر المنذري،بمطبعة أنصارالسنة المحمدية، ١٣٦٧ه/ ١٩٤٨م.
٢١٣ــ المعجم الأوسط للحافظ أبي القاسم سليمان بن أحمد الطبراني، رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٦٠ه، تحقيق: طارق بن غوض الله وعبدالمحسن بن إبراهيم، دار الحرمين القاهرة، ١٤١٥ه/ ١٩٨٥م.
٢١٤ــ معجم البلدان، للعلامة شهاب الدين أبي عبدالله ياقوت بن عبدالله الحموي الرومي البغدادي، رحمه الله تعالى،المتوفى ٦٢٦ه، دار إحياء التراث العربي بيروت.
٢١٥ــ المعجم الكبير، الإمام الحافظ أبي القاسم سليمان بن أحمد الطبراني رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٦٠ه، تحقيق: حمدي عبدالمجيد السلفي، دار إحياء التراث العربي، بيروت.
٢١٦ــ :المعجم الوسيط، للكتور إبراهيم أنيس والدكتور عبدالحليم منتصروعطية الصوالحي، ومحمد خلف الله أحمد، مجمع اللغة العربية بدمشق.

٢١٣ـ المعجم الأوسط للحافظ أبي القاسم سليمان بن أحمد الطبراني، رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٦٠هـ، تحقيق: طارق بن عوض الله وعبدالمحسن بن إبراهيم، دار الحرمين القاهرة، ١٤١٥هـ/ ١٩٨٥م.

٢١٤ـ معجم البلدان، للعلامة شهاب الدين أبي عبدالله ياقوت بن عبدالله الحموي الرومي البغدادي، رحمه الله تعالى،المتوفى ٦٢٦هـ، دار إحياء التراث العربي بيروت.

٢١٥ـ المعجم الكبير، الإمام الحافظ أبي القاسم سليمان بن أحمد الطبراني رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٦٠هـ، تحقيق: حمدي عبدالمجيد السلفي، دار إحياء التراث العربي، بيروت.

٢١٦ـ المعجم الوسيط، للكتور إبراهيم أنيس والدكتور عبدالحليم منتصروعطية الصوالحي، ومحمد خلف الله أحمد، مجمع اللغة العربية بدمشق.

٢١٧ـ معجم مقايس اللغة، لأبي الحسين أحمد بن فارس بن زكريا القزويني الرازي رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٩٥هـ تحقيق: عبدالسلام محمدهارون، دارالفكر، بيروت، الطبعة الأولى: ١٣٩٩هـ/ ١٩٧٩م.

٢١٨. معرفة الثقات من رجال أهل العلم والحديث ومن الضعفاء وذكرمذاهبهم وأخبارهم، للإمام أبي الحسن أحمد بن عبدالله بن صالح العجلي الكوفي رحمه الله تعالى، المتوفى ٢١٦هـ، تحقيق: عبدالعليم عبدالعظيم البستوي، مكتبة الدار، المدينة المنورة، الطبعة الأولى: ١٤٠٥هـ/ ١٩٨٥م.

٢١٩ـ معرفة الرجال، للإمام يحيى بن معين، رحمه الله تعالى، المتوفى ٢٣٣هـ، برواية أبي العباس أحمد بن محمد بن القاسم بن محرز، تحقيق: محمد كامل القصار، مجمع اللغة العربية دمشق ١٤٠٥هـ/ ١٩٨٥م.

٢٢٠. معرفة الصحابة لأبي نعيم، للإمام المحدث العلامة أحمد بن عبدالله بن أحمد بن إسحاق بن مهران، المعروف بأبي نعيم الأصبهاني رحمه الله تعالى، المتوفى ٤٣٠هـ، تحقيق: عادل بن يوسف العزازي، الطبعة الأولى ١٤١٩هـ/ ١٩٩٨م، دار الوطن للنشر، الرياض.

٢٢١ـ معرفة الصحابة، للإمام الحافظ أبي عبدالله محمد بن إسحاق بن يحيى بن منده الأصبهاني، رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٩٥هـ، تحقيق: الدكتور عامرحسن صبري، الطبعة الأولى ٢٠٠٥م/ ١٤٢٦هـ، مطبوعات جامعة الإمارات العربية المتحدة.

- معرفة أنواع علم الحديث(انظر: علوم الحديث)

محمود فاخوري وعبدالحميد مختار، الطبعة الأولى ١٣٩٩هـ/ ١٩٧٩م، مكتبة أسامة بن زيد، حلب سورية.

٢٢٥ـ المغني في الضعفاء، للإمام شمس الدين أبي عبدالله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي الدمشقي رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٤٨هـ، تحقيق:الدكتور نورالدين عتر، إدارة إحياء التراث الإسلامي بدولة قطر.

٢٢٦ـ المغني في ضبط أسماء الرجال ومعرفة كنى الرواة وألقابهم وأنسابهم، للعلامة المحدث الشيخ محمد طاهر بن علي الهندي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٩٨٦هـ، تحقيق وتعليق: الشيخ زين العابدين الأعظمي، الطبعة الأولى ١٤٢٦هـ، الرحيم إكادمي، كراتشي باكستان.

٢٢٧ـ المغني في فقه الإمام أحمد بن حنبل الشيباني رحمه الله تعالى، للإمام موفق الدين أبي محمد عبدالله بن أحمد بن قدامة رحمه الله تعالى، المتوفى ٦٢٠هـ، دار الفكر،بيروت، الطبعة الأولى: ١٤٠٥هـ/ ١٩٨٥م.

٢٢٨ـ مفاتيح العلوم، للعلامة أبي عبدالله محمد بن أحمد بن يوسف الكاتب البلخي الخوارزمي، رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٨٧هـ، تحقيق إبراهيم الأبياري، الطبعة الثانية ١٤٠٩هـ/ ١٩٨٩م، دار الكتاب العربي.

● مقدمة ابن الصلاح (انظر: علوم الحديث)

٢٢٩ـ مقدمة لامع الدراري (المطبوع باسم الكنزالمتواري) للشيخ العلامة المحدث محمد زكريا بن محمد يحيى الكاندهلوي رحمه الله تعالى، المتوفى سنة ١٤٠٢هـ، مؤسسة الخليل الإسلامي، فيصل آباد،ط: ١٤٢٠هـ.

● مناسک ملاعلي القاري (انظر: المسلک المتقسط في المنسک المتوسط)

٢٣٠ـ المنتقى شرح موطإ الإمام مالک، للإمام القاضي أبي الوليد سليمان بن خلف بن سعدبن أيوب الباجي رحمه الله تعالى، المتوفى ٤٩٤هـ، تحقيق: محمد عبدالقادر أحمد عطا، الطبعة الأولى: ١٤٢٠هـ/١٩٩٩م، دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان.

٢٣١ـ المنتقى من السنن المسندة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم، للإمام أبي محمد عبدالله بن علي بن الجارود النيسابوري رحمه الله تعالى، المتوفى ٣٠٧هـ، تعليق عبدالله عمرالبارودي، الطبعة الأولى: ١٤٠٨هـ/ ١٩٨٨م، مؤسسة الكتب الثقافية/ دارالجنان، بيروت.

٢٣٢ـ موارد الظمآن إلى زوائد ابن حبان للإمام نور الدين علي بن أبي بكر الهيثمي رحمه الله تعالى،المتوفى٨٠٧هـ، تحقيق محمد عبدالرزاق حمزة، دار الكتب العلمية بيروت.
٢٣٣ـ مواهب الجليل شرح مختصر خليل، لأبي عبدالله محمد بن محمد بن عبدالرحمن الطرابلسي المغربي المتوفى ٩٥٤هـ، دار عالم الكتب ١٤٢٣هـ/ ٢٠٠٣م.
٢٣٤ـ موسوعة أقوال الإمام أحمد في رجال الحديث وعلله، جمع وترتيب: السيد أبو المعاطي النوري وأحمد عبدالرزاق ومحمود محمد خليل، الطبعة الأولى، ١٤١٧هـ/ ١٩٩٧م، عالم الكتب.
٢٣٥ـ الموسوعة الفقهية الكويتية، وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية، الكويت، الطبعة الرابعة: ١٤١٤هـ/ ١٩٩٣م.
٢٣٦ـ الموطأ للإمام مالك بن أنس الأصبحي رحمه الله تعالى، المتوفى ١٧٩هـ، برواية يحيى بن يحيى الليثي رحمه الله تعالى، دار إحياء التراث العربي، بيروت.
٢٣٧ـ ميزان الاعتدال في نقد الرجال، للإمام شمس الدين أبي عبدالله محمد بن أحمد بن عثمان بن قايماز الذهبي رحمه الله تعالى، المتوفى ٧٤٨هـ، تحقيق: علي محمد البجاوي، دارإحياء الكتب العربية، عيسى البابي الحلبي وشركاه، الطبعة الأولى: ١٣٨٢هـ/ ١٩٦٣م.
٢٣٨ـ نتائج الأفكارفي تخرج أحاديث الأذكار للحافظ أحمد بن علي بن حجر العسقلاني رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٥٢هـ، تحقيق حمدي عبدالمجيد السلفي، الطبعة الثانية ١٤١٥هـ/ ١٩٩٥م، دار ابن كثيردمشق/ بيروت.
٢٣٩ـ نثر الأزهار شرح معاني الآثار، للعلامة محمدأمين الأوركزئي، رحمه الله تعالى، المتوفى شهيدا١٤٣٠هـ، الجامعة اليوسفية، بشاهووام، هنكو، كوهات باكستان.
٢٤٠ـ نزهة النظرفي توضيح نخبة الفكر، للحافظ أحمد بن علي بن حجر العسقلاني، رحمه الله تعالى، تحقيق: الدكتور نورالدين عتر، مكتبة البشرى، كراتشي.
٢٤١ـ نصب الراية في تخريج أحاديث الهداية للإمام الحافظ جمال الدين عبدالله بن يوسف الزيلعي رحمه الله تعالى، المتوفى٧٦٢هـ، تحقيق: الشيخ محمد عوامة، الطبعة الأولى ١٤١٨هـ/ ١٩٩٧م، مؤسسة الريان بيروت/ دار القبلة جدة.
٢٤٢ـ النهاية في غريب الحديث والأثر، للإمام مجد الدين أبي السعادات المبارك بن محمد الجزري، المعروف بابن الأثير رحمه الله تعالى، المتوفى ٦٠٦هـ، دار المعرفة، بيروت، الطبعة الثالثة: ١٤٣٠هـ/ ٢٠٠٩م.

٢٤٣ـ نيل الأوطار من أحاديث سيد الأبرار شرح منتقى الأخبار، للشيخ الإمام محمد بن علي الشوكاني رحمه الله تعالى، المتوفى ١٢٥٠هـ، شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي مصر.
٢٤٤ـ الهداية شرح بداية المبتدي، للإمام أبي الحسن برهان الدين علي بن أبي بكر المرغيناني، رحمه الله تعالى، ٥٩٣هـ، مكتبة البشرى، كراتشي، الطبعة الثانية: ١٤٢٨هـ/ ٢٠٠٧م.
٢٤٥ـ هدي الساري مقدمة فتح الباري، للحافظ أبي الفضل أحمد بن علي بن حجر شهاب الدين العسقلاني الشافعي رحمه الله تعالى، المتوفى ٨٥٢هـ، دار الفكر، بيروت.
٢٤٦ـ وفيات الأعيان وأنباء أبناء الزمان لأبي العباس شمس الدين أحمد بن محمد بن أبي بكر بن خلكان رحمه الله تعالى، المتوفى ٦٨١هـ، تحقيق: الدكتور إحسان عباس، دار صادر، بيروت،١٣٩٨هـ/ ١٩٧٨م.

تمت بالخير